7

دانش خپرندویه ټولنه

سینوهه

د فرعون د ځانګړي طبیب یادښتونه

له میلاد څخه ۱۳۵۰ کاله وړاندې

تاریخ

سیاست

فلسفه

دینپوهنه

اروپوهنه

ناول

میکاولتاري

ژباړن: ډاکټر محمد عیسی ستانکزی

www.sikaraam.com

لومړۍ برخه

سینوهه

د فرعون د ځانګړي طبیب یادښتونه

سیاست

فلسفه

دینپوهنه

اروا پوهنه

ناول

میکا ولتاري

ژباړن ډاکتر محمد عیسی ستانکزی

www.sikaraam.com

سینوهه

د فرعون د ځانګړي طبیب یادښتونه

ژباړن: ډاکټر محمد عیسی ستانکزی

www.sikaraam.com

بسم الله الرحمن الرحیم

دانش خپرندویه ټولنه

کتاب پیژندنه

لیکوال	Waltari, Mika Tommy (۱۹۰۸-۱۹۷۹):
د کتاب اصلي نوم	Waltari Mika Tomy :
فارسي ژباړن	: ذبیح الله منصوري
فارسي چاپ کال	: ۱۳۶۲ هجري شمسي
پښتو ژباړن	: ډاکټر محمد عیسی ستانکزی
چاپ نېټه	:۱۳۹۱ ل
د چاپ نوبت	: اول
چاپ شمېر	:۱۰۰۰ ټوکه

چاپځی

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي ځانګه

www.danishpress.com

د بیا چاپ ټول حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

www.sikaraam.com

ډالۍ

عصمت الله څاروال ته چې له ژباړې سره يې آشنا کړم او زما مېرمنې ته چې د کتاب ژباړې ته يې وهڅولم.

ډاکټر محمد عيسی ستانکزی

www.sikaraam.com

د خپرندویې ټولنې یادښت

دا کتاب د فراعنه و د نولسمې لړۍ کیسې کوي، خو دا کیسې ماضي او مستقبل دواړه په خپله غیږ کې رانغاړي. سینوهه د فرعون ځانګړی طبیب دی او د خپل مهال پیښې یې په داسې هنر لیکلې دي، چې سړی تري د خپلې زمانې د ټولنیزو ناخوالو د تحلیل لپاره ګټه اخیستلی شي. ځینې خلک د کتاب د لیکوال په اړه پوښتنې راپورته کوي، خو موږ یې له لیکوال سره څه کار نلرو، هغه خبرې چې پدې کتاب کې یې لولی، د فکر د ژورتیا او حقایقو ته د رسیدا لامل کیږي او دا تر هر څه لوی دلیل دی، چې موږ یې ددې کتاب خپراوي ته وهڅولو.

سره له دې، چې د کتاب حجم به زموږ د زړه تنګو لوستونکیو وار خطا کړي، خو موږ په داډ سره وایو، چې که یو ځل دا جالب اثر تر شلو صفحو ولولئ، نو تر پایه به ځان دریاندې لولې.

ددې کتاب په اړه د ایران په څیر په یو هیواد کې، چې مطالعه او فرهنګي هڅې پکې د خلکو عادت ګرځیدلي، ویل کیږي، چې ددې کتاب له لوستلو محروم سړی د مطالعې دعوه نشي کولی. دا کتاب پخپل ځان کې څو کتابونه لري او ځکه نو د تاریخ، ناول، فلسفې، دینپوهنې، ټولنپوهنې... ټولو مینه والو ته یو په زړه پورې اثر دی.

دانش خپرندویه ټولنه دا کتاب د خپل خپرنیز بهیر د لا ځلا او ښکلا په نمط پدې هیله خپروي، چې زموږ د خپلې ټولنې د مصر، ځپلی انسان به تري خوند او پند دواړه واخلي.

موږ له ګران او خواږه ملګري ډاکټر عیسی ستانکزي نه یوه نړۍ مننه کوو، چې دا کتاب یې په مینه او ډېره بیړه وژباړه او پر پښتنو لوستونکیو یې د یوه لوی اثر د پیرزوینې نیکي هیڅکله نه هیرو و.

له خپل ګران او خواخوږي دوست امین الله دریځ نه هم مننه کوو، چې موږ یې ددې کتاب پر ارزښت خبر کړو او د هغه خپراوي ته یې وهڅولو.

له ګرانو یارانو هر یوه، حفیظ همیم جلالزي، احسان الله درمل، نبي جان ساحل، حاجي محمد عمرخیل او محمد یار یار نه هم د زړه له تله مننه کوو، چې هر یوه د کتاب په پروف لوستنه کې زیار ایستی او د کتاب د چاپیدو تلوسې یې موږ ګړندي کړي یو.

او په پای کې له تاسو ټولو نه مننه، چې دا مهم اثر لولی.

درنښت

دانش خپرندویه ټولنه

یوه لنډه څرګندونه

لرغوني مصري تمدن ته د پاملرنې په ترڅ کې مې نېږدې درې کاله وړاندې د «مصري سینوهه» جرمنی ژباړه وموندله او بې ځنډه مې پرلپسې تر پایه ولوسته. دغه اثر د فنلنډي لیکوال (میکا والتاري) د هغو پایلو ده چې لومړی ځل پر ۱۹۴۵ کال خپور شوی او تر اوسه څه له پاسه څلوېښتو ژبو ته اړول شوی دی.

میکا والتاري د ۱۹۰۸ کال د سپټامبر پر نولسمه په هلسینکي کې زېږېدلی. پلار یې په پروتېستانت کلیسا کې د پاستور دنده درلوده او تر څنګ یې لیکوال هم وو. والتاري د خپلې مور په غوښتنه لومړی دینپوهنه ولوسته او ورپسې یې په فلسفه، ښکلاپوهنه او اقتصاد کې نورې زده کړې بشپړې کړې(۱) داسې ښکاري چې د پلار لیکنو به یې د میکا والتاري پام لیکوالۍ ته وراړولای وي. دی لا اووه لس کلن وو چې مذهبي لیکنې یې پیل کړې او وروسته یې د ژوند تر پایه هنري لیکوالي کوله.

د نړۍ په ادبیاتو کې د میکا والتاري نوم د «مصري سینوهه» له خپرېدلو سره وپېژندل شو او وځلېد. د دغه اثر نوم (سینوهه) په هغو پاپیروس لیکنو کې راغلی چې له نن نه نېږدې ۳۹۰۰ کاله وړاندې د منځنۍ فرعوني امپراتورۍ د دوولسمې واکمنۍ په پیل کې په هیروګلیف بڼه لیکل شوي. د دغو لیکنو ناڅرګند لیکوال د یوه سلطنتي کارمن کیسه لیکلې چې نوم یې سینوهه دی. سینوهه د فرعون (لومړي امینمېت) تر وژل کېدو وروسته د دې وژنې د تور له وېرې سره مخامخېږي او د خورا لانجمنې تېښتې په پای کې په پلستین کې مېشتېږي. د جلاوطنۍ تر اوږده ځور وروسته فرعون (لومړی سینوستریس) پوهېږي چې سینوهه یې د پلار په وژنه کې ګرم نه دی او له دې سره جوخت مصر ته د بېرته ورستنېدلو بلنه ورلېږي.

سېنوهه د بلنې له تر لاسه کولو سره سم، بېرته خپل ټاټوبي ته ور ستنېږي او هلته يې په ډېر درناوي سلطنتي هرکلی کېږي.
د سینوهه کيسه د لومړي سېسوستريس د ارګ سیاسي پروپاګند دی او د فرعون پروراندې د رعیت منندويي ځرګندوي.(۲) د پورتنۍ کیسې پاپیروس پاڼې د برلین په لرغوني مصري موزیم کې ساتل شوي دي. میکا والتاري د همدې کیسې د منځني کرکټر (سېنوهه) نوم او ورسره اړوند توکي اخیستي او د هغه د اوتوبیوګرافۍ په پېرېه يې دغه تاريخي اثر ليکلای دی.
«سېنوهه» چې د خپلې ژورې پوهې او پلار ملګري په مرسته سلطنتي کورنۍ ته لار مومي؛ له فرعون(اېخناتون) سره ملګری کېږي او پخپل ژوند کې له راز، راز پېښو او لوړو، ژورو سره مخامخېږي.
سره له دې چې والتاري اکاډيميک اېګيپتولوګ (مصرپوه) ندی، خو د لرغوني مصر او په ځانګړې توګه د څوارلسمې مخزېږدې سلېزې په اړه يې اېګيپتولوژي دومره ژوره لوستې چې ګردې پېښې، کرکټرونه او د منځني ختيځ او سهيلي يونان اقتصادي، ټولنيزې، سياسي، جغرافيايي،فکري او کلتوري ځانګړتياوې يې پر تاريخي بنسټ خورا کره انځور کړې دي همدا لامل دی چې د والتاري سېنوهه نومی اثر، تاريخي ناول ګڼل کېږي. ځکه چې ګردې پېښې يې په يوه تاريخي پړاو کې رامنځته شوي او ګڼشمېر کرکټرونه يې رېښتيا په همدغه پړاو کې اوسېدلي دي.
په کتاب کې سیاسي واک، اقتصادي ګټو او ايروټيک ته د لاسرسي د هڅو بېلابېلې بڼې انځور شوې چې ګڼشمېر يې په خورا تراژيدي ډولو پای ته رسېږي. د پاملرنې تر ټولو مهم ټکی يې دا دی چې سياسي او روحاني کړی په ګډه د خپلو ګټو او غوښتنو په لار کې پرلپسې دين د يوې وسيلې په توګه کاروي.
له هغې مودې راوروسته چې په مصري ټولنه کې «امون» د خدای په نامه ومنل شو، فرعوني دربار د اموني روحانيونو په مرسته په مصري ټولنه کې دا باور هم خپور کړ چې د دوی واکمني د ځمکې پر مخ د امون خدای واکمني ده او دوی يې مخامخ استازي دي. دوی د امون له احکامو سره سم واک چلوي او د هغه خدايي قانون پلی کوي. له دغه باور سره، فرعوني دولت اموني دولت بنودل کېده او له سپارښتنو څخه يې هر ډول سر غړونه د دولتي جرم تر څنګ ديني ګناه هم ګڼل کېده. پخوانيو

مصریو دا هر څه په پټو سترګو منل. دوی تر مرګ وروسته ژوند ته ژوره هیله او تلوسه درلوده او پرلپسې دا ورته ویل کېدل چې بلې نړۍ ته یوازې هغه څوک ورتلای شي چې د امون له احکامو سره سم ژوند یې کړی وي او دا چې د دغو احکامو ساتونکي او پلي کوونکي روحانیون او فرعونان ول، نو هر چا به هرومرو د دې کړۍ هر رنګه لارښوونو او سپارښتنو ته بې «ولې؟» او «څنګه؟» غاړه اېښوده. کنه، هم به دیني دولت سزا ورکوله او هم به د امون له کرکې سره مخامخېده او په بله نړۍ کې به له هوسا ژوندانه بې برخې پاتې کېده.

فراعنه پوهېدل چې د مصري ټولنې دیني باور ډېر کلک دی او د امون روحاني ډله اوچت پرستیژ پکې لري. همدا لامل وو چې دغو روحانیونو ته یې پراخ مالي او هر رنګه نور امتیازات منلي ول او د هغوی په مرسته یې خپله سیاسي واکمني ټولنې ته د اوچت دیني ارزښت په نامه وروپېژندلې وه. پر بله وینا، په لرغوني مصر کې دین داسې سیاسي او سیاست دومره دیني شوی وو چې یو تر بله نه بېلېدونکي ګڼل کېدل. دغه راز دیني سیاسي سیستم یوازې د مصري ټولنې ځانګړتیا نه وه. د منځنې ختیځ او یونان په سیمو کې «که څه هم چې نور خدایان یې نمانځل» دین و سیاست سره تړلي ول او په هره سیمه کې له دین څخه د سیاسي او اقتصادي ګټو د ساتلو لپاره کار اخیستل کېده. دغه ټکی «کریتا» ټاپو ته چې د یونان په سهیلي ټاپو کې پروت دی؛ د سپنوهه له ورتګه ښه ترا څرګندېږي.

د میکا والتاري سینوهه پر خدایانو باور نلري دا ځکه چې ده څو ، څو ځله د روحانیونو او فراعنه وو ټګي او درواغ پخپلو سترګو لیدلي او پوه شوی چې دوی د خپلو غوښتنو د ترسره کولو لپاره د خلکو له ناپوهۍ ناوړه ګټه پورته کوي او دیوه منظم پروګرام په چوکاټ کې یې د فکري ودې او نوښت مخه نیسي.

د کتاب ستره برخه د استثنایي فرعون(اېخناتون) د واکمنۍ پېښې څرګندوي. اېخناتون یوازېنی فرعون دی چې له روانو ټولنیزو ناخوالو ، تېریو ، ځانغوښتنو او جګړو کرکه کوي او دا هر څه د اموني دین د روحاني کړۍ د ناوړه چار ، چلن پایله ګڼي. دی د یوه پرمختللي ټولنیز سمون د رامنځته کولو لپاره د یوه نوي دین بنسټ ږدي؛ د امون خدایي ړنګوي او پر ځای یې ټولنې ته «اتون» د خدای په نامه وروپېژني. له دې سره د اموني روحانیونو په ولکه کې ځمکې بېوزلو کروندګرو ته

ورکوي؛ مرییتوب له منځه وړي او د جګړو او وینې بهولو مخه نیسي.
سېنوهه د اېخناتون د انقلاب کلک پلوي دی خو ، اموني روحانیون چې په دغه انقلاب کې یې ګټې له لاسه وتلې؛ خپل ټول هنر کاروي او له بېلابېلو لارو او امکاناتو په تراژیدي بڼه د اېخناتون پلان شنډوي او د خپل نېږدې ملګري(سېنوهه) په لاس یې وژني.
د کتاب هره برخه دومره پر زړه پورې ده چې لوستونکی تر پایه ځان ترې وزګارولای نشي. زما د خپل احساس له مخې د میکا والتاري دغه اثر دنړۍ د ریالیستي ادبیاتو په لومړي پوړ کې ځای لري او یو له هغو اوچتو کتابونو دی چې ما تر اوسه لوستلي دي. تر دې اخوا ، د دغه تاریخي اثر پر منځپانګه ډېر غړېدل بېځایه راته ښکاري ځکه چې همدا اوس به یې لوستونکی پر لوستلو پیل وکړي او په پای کې به یې تاریخي او ادبي ارزښت پخپله وارزولای شي.
څه موده وړاندې د دانش خپرندویې ټولنې له درانه مشر ښاغلي اسدالله دانش سره د دغه کتاب په اړه ټېلیفوني غږېدلای وم. دا دی اوس مې ترې واورېدل چې دغه ناول ښاغلي ډاکټر عیسی ستانکزي پښتو ته وژباړه او دوی به یې ډېر ژر چاپ کړي. له دې سره یو لوی کار چې اووه شپېته کاله ځنډېدلای وو ؛ پای ته ورسېد او د ډاکټر صاحب ستانکزي په مټره دا ځنډ لنډ کړای شو.
دانش خپرندویې ټولنې د سېنوهه د کتاب په اړه د څه لیکلو را ته ویلي ول. لکه په پیل کې چې یادونه وشوه، ما د هغه جرمني ژباړه لوستلې وه او دا کرښې هم د هماغه ویژن پایله ده. پښتو مې یې لا تر اوسه لیدلې ندی خو، ډاډه یم چې ډېر زیار به پرې ګالل شوی وي.

په درناوي

امین الله. دریځ

02.04.2012

(1)Mika Waltari – Verein www.mikawaltariseura.fi/mwaltaride.html
(2) Die Geschichte von Sinohe, Wikipedia – Die freie Enzyklopädie

راځه دواړه د ښکلا په سفر ووځو....

ستاسو په لاس کې دا لوی کتاب تاریخ ندی، ناول ندی، سیاسي کتاب ندی. فلسفه نده، ارواپوهنه نده، دینپوهنه نده... خو عجیبه ده، چې دا هر څه دی. په دې کتاب کې تاسو له یوه مفکر (ډاکټرسینوهه) سره تر میلاد ۱۳۵۰ کاله وړاندې مصر ته سفر کوئ او دا ډاکټر د سفر خورا مهربان لارښود دی. تر میلاد ۱۳۵۰ کاله پخوانی مصر عجیب مصر دی. د فرعونیانو د نولسمې لړۍ د پیل کلونه دي. فرعون او دربار یې د ټولو دنیوي او اخروي ګټو سرچینې دي. د فرعون پر وړاندې وړه خبره هم کفر او د مرګ په بیه ده. هڅه کیږي، چې تر واک لاندې خلک ړانده وساتل شي او د (ولې؟) کلیمه تر ټولو منفوره کلیمه ده. معبد او دربار د ژرندې دوه پلونه دي. چې د هغه وخت د خلکو د سرونو دانې یې تر منځ دل کیږي. خرافات د دین او مقدساتو په نامه پر خلکو ورتپل شویدي، فرعون چې مري، له سره یې خوشبو لتهیږي او له پوزې یې زرین وزرې مارغه الوځي او بیا له لمر سره وصل کیږي. په ښوونځیو او پوهنځیو کې ټول علوم د فرعون د زورواکۍ امتداد ته لاره هواروي. په نصابونو کې د فکر د روزلو تومنه نشته او ټول کتاب لوستونکي د توتیانو په څیر یوازې خبرې کوونکي دي. ډاکټران تکړه دي، په هغو ناوړه شرایطو کې طبي سهولتونه برابرولی شي، خو د خپل علم په ژورو نه پوهیږي او همدا سرسریتوب دی، چې دوی هم د تیارو په ماتولو کې ناکام دي. هر خواته د زورواکۍ، ناپوهۍ، ظلم، خرافاتو، فساد او بې عدالتۍ تیاره خوره ده، خو د خلکو د شعور له طوره د نور تمه نه کیږي او رود ینیل آرام روان دی. خدای یوازې له فرعون سره نیک اړیکي لري او نورو ټولو خلکو ته په غوسه دی، که خلک د فرعون پر وړاندې وړه ګستاخي هم وکړي، په عذاب به اخته شي، خدای او د هغه ویروونکی تصور د فرعونیانو او د معبد د کاهنانو لویه وسله ده. چې خلک پرې رام کړي او د پورتنیو منابعو له مرستې پرته څوک خدای ته د رسیدو تصور هم نشي کولی.

سینوهه تاسو تر لاس نیسي، پر معبدونو مو ګرځوي، دارالعلوم او دارالطب ته مو بیايي، د فرعون دربار ته مو رسوي. د هغوی کړه وړه، خبرې، عقاید، سیاست، عدل او ظلم درته ښیي، د کاهنانو له رویې مو خبروي. له عامو خلکو سره مو کینوي. د مستۍ محفلونو ته مو بیايي، نورو هیوادونو ته سفرونه درسره کوي او غواړي تاسو ته وښیي چې:

انسان څومره بدرنګه دی — انسان څومره ښایسته دی

سینوهه عجیب کمالونه لري، دی یوازې د فرعون د دربار ډاکټر ندی، بلکې د هغو ټولو ټولنیزو ناروغیو یو ډېر خیرک طبیب دی، چې د مصر د هغه مهال ټولنیز ارګانیزم پرې اخته و. ده یوازې د شاهي کورنۍ د فرعانانو کوپړۍ ندي پورته کړي، بلکې پر هغو دوه د خبرې کوي. چې له امله یې انسان ته فزیکي یا معنوي زیان رسیږي.

ددې کتاب لوست ته ستاسې له رابلنې موخه یوازې دا نده. چې تاسو ته د پخواني مصر په اړه یو د تاریخ، فلسفې، ټولنپوهنې، اروا پوهنې، دینپوهنې او... یو معجون په داستاني بڼه ولولئ، بلکې موخه دا ده، چې وګورو، د مصر د هغه مهال له انسانه زموږ د پیړۍ تر انسانه پورې د معنویت څومره لارې کږ شویدي؟

سینوهه د هغه مهال د انسان په اړه بدبین دی او دعوه کوي، چې د دې موجود فطرت به یو لک کاله وروسته هم عین شی وي. موږ یې له سینوهه سره منو که نه منو، خو ددې کتاب تر لوستو وروسته به تاسو پوی شئ، چې موږ اوس هم ټول یوازې د زمان او مکان په تغیر په هغه مصر کې اوسو، چې تر میلاد ۱۳۵۰ کاله وړاندې اباد و. فرعونان، کاهنان او عوام یې مهمې طبقې وې. خو لومړۍ دوې یې د دریمې هغې د مرګ، استثمار او استعمار په بیه ژوندۍ وې.

موږ غوښتل، چې ددې کتاب په اړه له ګرانو لوستونکیو سره ډېر وغږیږو، خو د کتاب په اړه تر خبرو د کتاب متن ډېر ارزښتمن دی، ځکه نو موږ له تاسو سره یو ځای د دې کتاب د لوست موزې په پښو کوو. په سینوهه پسې روانیږو او تر میلاد دیارلس نیم سوه کاله وړاندې مصر ته د سفر بسم الله کوو. خو د تلو پر مهال یوه وروستۍ هیله:

له پخواني مصر نه د راګرځیدو پر مهال له سینوهه نه هغه هنر ضرور له ځان سره راوړئ، چې د هرې زمانې د فرعونانو ټول طلسمونه ماتولی شي...

فـــــــــــــــــکر!

ښه سفر ولرئ!
په مینه او درنښت
ا – درمل
د سلواغې پینځمه ۱۳۹۰ لمریز

دا کتاب ، د یو لوی انسان ژوند

که د ماشومتوب اووه کلونه تېر وباسم د پاتې ژوند ټوله برخه مې له کتاب سره تېره کړې ده. په دې موده کې مې ګڼ کتابونه ولوستل. د دې کتابونو یوه برخه هغه ده، چې د امتحان لپاره او د اصولو له مخې مې لوستي او د مدرسې، ښوونځي او پوهنتون په نصابونو کې راغلي او نور هغه کتابونه دي، چې د ذوق لپاره مې لوستي دي.

د ذوق لپاره په لوستو ټولو کتابونو کې ماته په زړه پورې کتاب سینوهه دی. سینوهه د فرعون ډاکټر او د دغه تاریخي رومان کرکټر دی. دغه تاریخي رومان فنلنډي میکا ولتاري ژباړلی دی. چې له سینوهه څخه یې روایت شوی او د پخواني مصر، د مصر د فراعنه و او د شاوخوا ځینو نورو سیمو، د هغه وخت سیاسي، اقتصادي، پوځي، کولتوري اړخونه پکې روښانه شوي دي.

د مصر د تمدن د عظمت په اړه مې ډېر څه اورېدلي ول. خو هغه څه چې په دې کتاب کې مې ولوستل. له ټېرو هغو، په زړه پورې او ډېر دي.

مصر د اهرامونو په لرلو سره اوس هم د نړۍ د کلتوري میراث پلازمېنه بلل کېږي. د مصري تمدن عظمت د لیک لوست په برخه کې هم د پام وړ دی، چې د لومړي ځل لپاره یې سمبولیک، لیک پر حروفي هغه واړاوه.

مصر له دې کبله هم د ستاینې وړ دی، چې د اوسنی متمدنې نړۍ د ژوند په ډېرو برخو کې یې د بدلونونو بنسټ ایښی دی.

د مصر د تمدن د راټوکېدو پر مهال، په نړۍ کې دوه ډوله خلکو ژوند کاوه چې یوې ډلې به د کرنې له لارې د ژوند اړتیاوې پوره کولې او بلې ډلې د کبانو ښکار کاوه او له دې لارې یې ډوډۍ پیدا کوله. خو د مصریانو نوښتګر فکر د دې لامل شو، چې درېیمه ډله خلک هم رامنځ ته شول چې تر ننه پورې هماغه دود ژوندی دی.

درېیمه ډله خلک په نننی اصطلاح مامورین ول، دوی دنده درلوده چې د نیل سیند اوبه منظمې. په وار او د خلکو له اړتیا و سره برابرې پر هغوی وو وېشي. نننیو میراوانو ته ورته، چې د اوبو ټولې چارې سمبالوي او یا هم د اوبو لګولو دولتي اداري غونډې د اوبو د تنظیم چارې یې پر غاړه وې.

دغو کسانو ته د کار په بدل کې معاش ورکول کېده او د وخت په تېرېدو یې هغوی ته یوه مېنه هم جوړه کړه. چې پکې واوسي. کټ مټ داسې مېنه لکه اوس چې په نړۍ کې د مامورینو لپاره جوړېږي.

د مصر تمدن خورا ډېرې ځانګړتیاوې لري، چې له سیاسي نظامه نیولې، تر مذهبي اړخه پورې ټول یې د یادونې وړ دي.

مصر له دې کبله هم د نړۍ سرلارۍ هېواد بلل کېږي. چې په لومړي ځل پکې د سیاست بنسټ اېښودل شوی او په لومړي ځل پکې د نشنلیزم یا ملت پالنې روحیه رامنځته شوې او د همدغې روحې پر بنسټ یې مصر له هغو یرغلګرو خلاص کړی. چې له سوېل ختیزه یې، دغه هېواد لاندې کړ او څو سوه کلونه یې پرې واک وچلاوه.

د مصر عقاید هم د ځانګړې پاملرنې وړ دي، چې اصلي محور به یې د وخت فرعون و. د همدې ټولو اړخونو په اړه د مطالعې یوه ښه سرچینه دا کتاب دی.

سینوهه په سیند کې موندل شوی او پردی جوړې (خاوند او ښځې) د زوی په توګه لوی کړی دی.

د مصر د وخت تر ټولو ښه ښوونځی او پوهنتون یې ویلی دی. په عامیانه اصطلاح لوفري یې کړې ده، د مصر په پوځ کې یې د ډاکټر په توګه خدمت کړی، د مصر لپاره یې په نورو هېوادونو کې جاسوسي کړې. کرونده او سوداګري یې کړې، د فرعون ځانګړی ډاکټر پاتې شوی او بالاخره په مصر کې د بدلون یوه سرچینه ترې جوړه شوې ده.

په دغه کتاب کې به تاسې له ډېرو نادرو خبرو او معلوماتو سره مخ شئ، ځکه د مصر د تمدن په اړه زه فکر کوم تر ټولو غوره تاریخي روایت دی.

کېدای شي د افسانې یوه برخه هم ورسره ګډه شوې وي، خو افسانوي اړخ یې، تاریخي او واقعي اړخ نه دی پیکه کړی.

په کتاب کې تر ټولو هېښوونکې خبرې د هغه مهال د هېوادونو د مذهبي عقیدو او د مصري تمدن او خلکو د ژوند په اړه دي.

ډېر داسې څه به پکې ومومئ، چې تر سینوهه پېنځه څلوېښت پېړۍ وروسته نړۍ ورته د مدنیت د یوې برخې او یا یوې اړتیا په سترګه ګوري، خو د سینوهه د ژوند په زمانه کې په مصر کې عادي خبره وه.

په دغه کتاب کې له میلاد څخه ۱۳۵۰ کاله وړاندې پېښې را اخیستل شوې او که هره پېښه یې ولولئ، داسې فکر به وکړئ، چې د نن ورځې تاریخ لولئ.

دا په دې مانا نه دی چې نړۍ پرمختګ نه دی کړی. بلکې نړۍ اوس ایله هغه ځای ته ور

رسېږي چې مصر تر مېلاد ۱۳۵۰ کاله وړاندې و، توپیر دا دی چې هلته امکانات لږ او وسایل دودیز و او اوس امکانات او ټیکنالوجي ډېره شوې او د ژوند رنګ یې یو څه بدل کړی دی.

د تاریخ بېلابېلو پېښو او حوادثو د بشري نړۍ پر مختګونه له خاورو سره خاورې کړې. کنه هغسې پر مختګ چې مصر تر میلاد ۱۳۵۰ کاله مخکې درلود که نړۍ پر هماغه حال پاتې شوې وای خدای خبر چې اوس به څنګه وه؟

تمدن او کلتوري ارزښتونه

په یویشتمه پېړۍ کې پر روغتیا ډېر زیات ټینګار کېږي، ملتونه او هېوادونه هڅه کوي، چې په بېلابېلو لارو د ناروغیو مخه ونیسي.

ډېر پام نظافت ته کېږي، چې په هغه د ځان، چاپېریال او کارېدونکو توکو پاکوالی راځي.

نن نړۍ د خوراک پاکوالي ته ډېر پام کوي او له همدې امله ډاکټر سپارښتنه کوي، چې تر ډوډۍ مخکې باید لاسونه پرېمنځل شي. مصر چې تر میلاد سوونه کاله مخکې په طب کې ډېر پرمختګ کړی و، نو نظافت ته یې هم ډېر پام کاوه او د لاسونو پرېمینځل یې د نظافت له پلوه پر یوه کلتور بدل شوي ول.

تر ډوډۍ وړاندې دلاسونو پرېمنځل او بیا په کتاني ټوکر باندې وچول، د نن زمانې خبره بلل کیږي او له هغه څه سره ترل کیږي، چې دنن عصري نړۍ پاکوالی ورته وایي خو په دغه کتاب کې دا ټکي تاسې زرګونه کاله مخکې لیدای شئ.

درملنه او معالجه

په دغه کتاب کې د سینوهه له خولې ځینې طبي سپارښتنې هم شته. د بېلګې په ډول دی وایي: ((موږ باید په دې پوه شو، چې د ناروغ کومې خبرې سمې دي او کومې هغه د تخیل او تصور له امله کوي. ځکه چې ناروغ د هغه موجود په شان وي، چې سپېره روح بندیوان کړی وي او وحشتناکه خیالونه او تصورات لري. دناروغ په بدن کې چټې او خیالي دردونه هم پیداکېږي چې د غه دردونه له اصلي دردونو سره نه شي تشخیص کیدای په دې وخت کې د ناروغ خبرې داکټر په غلطه لار بیولای شي او په غلط ډول یې معالجه کوي چې له امله یې ښایي ناروغ ومري.))

ولې

سینوهه ټول عمر د ((ولې)) په ځواب پسې تېر کړی دی، خو په مصر کې هغه مهال د یوه شي په اړه د ولې په ټکي پوښتنه کول جرم و. هلته باید هر څه په پټو سترګو ومنل شي. سینوهه وایي، د هر څه په اړه چې به مې پوښتنه کوله نو وروستی ځواب دا وه چې (امون) د مصریانو خدای

همداسې غواړي.

اوس ساینسي او اوروايي تجربې ښيي چې د شيانو په اړه پوښتنې کول له زده کوونکي سره مرسته کوي ، خو له بده مرغه زموږ په ټولنه کې هم باید ، د مصري ټولنې په څېر د ډېرو شیانو په تړاو بايد سړی پوښتنه و نه کړي.

د مصر ذهنيت

ددې کتاب له لوستو سره به ، د مصري ټولنې ذهنيت داسې درته ښکاره شي لکه د افغانستان په اړه چې کومه کيسه لولی.

د مصر د فراعنه و په دربار پوازې يو فرعون و ، چې له کوچنيوالي يې له وينو کرکه کوله او ويل کېږي چې د توحيد لپاره يې کار کاوه.

په همدغه کتاب هم د همدغه شهزاده، چې وروسته بیا فرعون شو ، همدغه شخصیت لیدلای شی.

تاسې د يوه سپاهي او د مصر د شهزاده دا مکالمه ولولی: ((راغلی یم چې هغه (خپله نیزه) د فرعون د دښمنانو په وينو سره کړم. وليعهد وويل، زه له وينې بهېدنې کرکه کوم، ځکه د وينې بهول تر ټولو بد عمل دی. نيزه لرونکي ځوان وويل، زه ستا په شان فکر نه کوم او باوري یم، چې د وينې بهېدل د ملتونو د پاکۍ سبب کېږي او هغوی ځواکمنوي خدايان وينه خوښوي، ځکه چې د وينې په خوړلو سره کلکېږي او تر هغې ورځې چې جنګ ممکن وي د وينې بهېدل به دوام لري .وليعهد وويل زه به داسې کار وکړم چې نور جنګ رامنځته نه شي.نيزه لرونکي ځوان ماته وکتل او ويې ويل داسې ښکاري چې دغه سړی ليونی شوی دی، ځکه چې جنګ پخوا هم و او تل به وي او هر کار چې ملتونه يې د جنګ دمخنيوي لپاره وکړي، جنګ به نور هم زيات شي، ځکه چې .جنګ هم لکه ساه اخيستل د ژوند لپاره اساسي توکی وي.))

زموږ په ټولنه یا که ووايو په نړۍ کې اوس هم داسې ذهنيت چورلټ له منځه نه دی تللی چې د جنګ پلوي وي اوس هم تاړاکونه شته، يرغلونه شته، وژنې شته او وينه روانه ده. ددغه مصري ځوان منطق پرشخصي ګټه نه دی ولاړ، خو د ننيو جګړو يوه بلله بدې داده چې تر شاېې موجود منطق پر شخصي ګټو ولاړ وي

پانګونه

دا مهال په نړۍ کې اقتصاد د بلې هرې برخې بنسټ جوړوي ، د هېوادونو اقتصادي وده له نورو سره د سيالۍ اصلي محور دی او د اقتصاد ځواکمنتيا د سياست بنسټ ګڼل کېږي.

دا مهال د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې سهامي يا د ونډو سيستم(join-stock System) روان دی

سهامي شرکتونه د نړۍ د پانګونې لوی ځایونه دي او همدغه شرکتونه د کار ستري سرچینې دي.
جالبه دا ده چې د سینوهه په روایت کې د سهامي شرکتونو د قدامت څرک هم لګېږي.
سینوهه سوریې ته د خپل سفر پر مهال خپل شته په همدغو شرکتونو کې ساتلي وو: ((ما ډېر سره او سپین تر لاسه کړل او اضافي سره او سپین به مې د سوریې د بېړۍ چلونې په شرکتونو کې په کار اچول. په سوریه کې داسې شرکتونه شته چې پانګې یې په ورو برخو ویشل شوې او دغه ورې برخې خلکو اخیستې وې، دغه ورې برخې بیا هم په نورو ورو برخو ویشل شوې وې او پر هغو یې لسمه برخه، سلمه برخه، او زرمه برخه نومونه ایښي وو.))
په دغه کتاب کې د پخواني مصر له عقیدو او باورنو څخه هم ځینې روایتونه راغلي دي، چې مطالعه یې له سړي سره ښه مرسته کولای شي.
دغه راز د هغه وخت پر سیاست او نظامي حالاتو باندې هم په دغه کتاب کې پوره رڼا اچول شوې او هر څه پکې ښه روښانه شوي دي. نور نو تاسې د کتاب لوستو ته رابولم

د خدای ښه

همیم جلالزی

د سلواغې شپږمه، ۱۳۹۰المریخ کال

خوشحال مېنه - کابل

دفارسي ژبارن سریزه او د سینوهه دکتاب دانشا په هکله لنډه توضیح

اوس د۱۳۶۴کال څوارلسمه سپیڅلې اسلامي پیړۍ ده او خیال نه کوم چې ددې پیړۍ ترپایه پورې دې دنړۍ په ادبیاتو کې داسې کتاب چاپ شي چې دمنځني ختیځ دهیوادونو دلرغوني تاریخ او دهغه وخت دټولنیز او اروا پیژندې دتحلیل له پلوه دې وکړای شي له دغه کتاب سره چې له میلاده ۱۳۵۰کاله پخوالیکل شوی دی سیالي وکړي.

دغه تاریخ مونږ دمصر دفرعونیانو د نولسمې لړۍ دبستګر دباچاهۍ له پیلیداڅخه استخراج کړی دی اولکه چې ددې کتاب لیکوال سینوهه وایي په مصرکې ددې سړي له باچاهۍ شپږ کاله وروسته جلاوطن شوی دی او ددغه کتاب لیکل یې پیل کړل او ددې لپاره چې مونږ تیروتنه ونه کړو ددې کتاب دلیکولو نیټه مو ۱۳۵۰مخ زیږدیز کال چې دباچاهۍ پر ګدۍ دمصر دفرعونیانو دنولسمې لړۍ دبنسټګر دکښیناستو کال دی وباله او څرګنده خبره ده چې ددې کتاب دلیکلو ددقیقې نیټې دترلاسه کولو لپاره باید شپږ کاله پر تخت ددغه سړي دکښیناستو له وخته کم کړو.

ددغه کتاب لوستونکي به که خوانان دي یا بوډاګان ددغه لرغوني تاریخي کتاب له لوستلو ګته پورته کړي په رښتیا چې دغه کتاب پر تاریخي اهمیت سربیره دټولنیزو او روانشناسۍ یو ښه معجون دی.

خو که خوانان یې لولي هغوته سپارښتنه کوم چې کتاب له لوستو وروسته ورک نه کړي او هغه دې وساتي چې کله شپیته کلن او یا له هغه واوښتل بیادې ولولي په هغه وخت کې به دکتاب دلیکونکي سینوهه هنر نورهم ورته ښکاره اوڅرګند شي او داروایوهنې او اجتماعي شننې له پلوه به دکتاب په ارزښت نور هم پوه شي.

ددغه کتاب یوه ګټه دمنځني ختیځ دځینو هیوادونو لرغوني تاریخ ته توجه ده چې په ځینو تاریخي کتابونو کې یې حتي نوم هم نه دی اخیستل شوی دی که په ځینو کې یې نوم اخیستل شوی تاریخي بحث پرې نه دی شوی.

خو په دې کتاب کې د(هاتي) ،(میتاني) او(کوش) دملتونو په شان دملتونو له لرغوني تاریخه نسبتاً ډېر معلومات ترلاسه کوو.

ژباړن ضروري ګڼي لوستونکو ته ووایي چې د سینوهه په لاس دد غه لیکل شوي کتاب دانشا روده دآباءالاولین انشاء روده ده او په دې سبک کې ځینې لنډې جملې تکرارېږي او له دې پرته چې حاشیو (اضافي شیان) بده ښکاره شي. بله خبره دا چې له میلاده په مخکینیو پیړیو کې دمنځني ختیځ جاهلو قومونو شراب څښل او دهغوي له لوري د شرابو څښل په دې معنی نه دی چې ژباړن او یا خپرندویه ټولنه د شرابو له جسمي او بدني تاوانه کرکه نه کړي.

دکتاب یوه حیرانوونکې برخه هغه ده چې په لرغوني مصر کې فرعونیان دخپلوډاکټران له لوري وژل کیدل او په دې کتاب کې بله ګټوره خبره دا ده چې په منځني ختیځ او مصر کې په هغه وخت کې دطب دعلم پرمختګ ښیي.

له مبالغې پرته ددې کتاب داسې څېرکی به نه وي چې دتاریخي معلوماتو له پلوه ګټورنه وي اوبیا هم له مبالغې پرته دغه کتاب له میلاده په مخکې پیړیو کې دمنځني ختیځ دهیوادونو دتاریخي مطالعې لپاره یو بشپړ دایرة المعارف دی او دکتاب ځینې تاریخي مطالب باید سړی پشپړ حفظ کړي.

زما په شان دیوه میرزا لپاره غوره نه ده چې کله دغه کتاب ژباړم کوم په خپله دهغه ستاینه وکړم خو له مبالغې پرته باید ووایم چې دفرعون دډاکټر سینوهه کتاب چې اوس ستاسو په لاس کې دی هغه کتاب دی چې له دې وروسته چې تاسو ولوست پوهیږئ چې دمطالعې ارزښت یې درلود

ذبیح الله حکیم الهي دشتي

دلیکوالی نوم ذبیح الله منصوري

له مصري خطه په يوه نړيوال خط
دژباړې په هکله لنډې خبرې

کله چې د فرعون د ځانګړي ډاکټر سينوهه کتاب د لومړي ځل لپاره چاپ شو د کتاب څو تنه لوستونکي د يوه ليک په وسيله له ژباړنه غوښتي ؤ چې ووايي سينوهه کتاب چې په مصري خط ليکل شوی ؤ څه وخت په يوه نړيوال خط ترجمه شو او ژباړن يې څوک ؤ؟

لکه چې ټول پوهيږي اصلي مصري خط (هيه روګليف) يعنې تصويري خط ؤ او پخوانيو مصريانو د انسانانو، حيواناتو، نباتاتو، او جماداتو شکلونه او نښې انځورولې او خپل مقصد يې د دغه انځورونو په وسيله رساوه.

مصري ښوونکي چې مصري خط به يې زده کوونکو ته ورښود يوازې يې خطونه انځورول او د شکلونو سيورو او روښنايي ته يې توجه نه کوله او د غه راز هغه څه چې د زده کوونکو له لوري ايستل کيدل رسم ؤ نه انځورګري. د هيه روګليف د خط (د مصر د تصويري خط) د پيدا کيدا تاريخ مورخانو ته معلوم نه دی او وايي چې کله چې د فرعونيانو لومړنی لړۍ پر دغه هيواد کې حکومت کاوه تصويري خط موجود ؤ او د مورخانو په وينا تصويري خط د مصريانو د مذهبي عقيدو زيږنده ده. سره له دې چې مورخان د مصري فرعونيانو د لړۍ د شميرې په هکله اختلاف لري خو ټولو د مصر د فرعونيانو تاريخ په دريو پړاونو ويشلی دی او دغه درې پړاونه (پخواني ،منځنی ، او نوی) دي

په پخوانۍ دوره کې چې له ۳۴۰۰ تر ۲۴۷۵ مخ زیږدیزه پورې دوام کوي د مصر هیه روګلیف (تصویري خط) بدل نه شو خو په منځۍ دوره کې (له ۲۴۷۵ څخه تر ۱۷۸۸ مخ زیږدیزه پورې) او په نوې دوره کې له ۱۷۸۸ تر ۱۰۹۰ مخ زیږدیزه پورې د مصر د تصویري خط بڼه ډېره بدله شوه.

د خط په بڼه کې بدلون داسې رامنځته شو چې خطاطانو (پارسامانو) د زوایو پراخوالی کم کړ او منفرجه زاوې په قایمه او بیا په حاده زاویو بدلې کړې او خطونه یې لنډ کړل او د خطونو په لنډولو کې داسې پرمخ لاړل چې ځینې خطونه یې د تکي په بڼه راوستل او که کوم کاتب به غوښتل د یوه مرغه رسم وباسي د خپلو نیکونو په شان یې یو بشپړه مرغه نه ایسته بلکه په دو لنډو افقي خطونو یې د مرغه وزرونه او په دوه لنډو عمودي خطونو به یې د هغه دوه پښې رسم کړې.

مصري کاتبانو د خطونو زاویې او قوسونو او د خطونو بڼې راکمې کړې چې د (دیموتیک) په نامه خط رامنځته شو.

په هغو وختونو کې چې سینوهه همغه ډول چې په دې کتاب کې وایي د ختیځ سمندر په سواحلو کې میشت شو او د خپلو خاطراتو لیکل یې پیل کړل مصري خط پخوانی مصري خط نه ؤ او مصریانو په ډیموتیک خط چې تقریباً الفبایي خط ګڼل کېده کتابت کاوه او سینوهه خپلې خاطرې په همدې خط ولیکلې او د دغه کتاب تدوین کوونکي میکاوالتاري د سینوهه کتاب له ډیموتیک ژبې په فنلانډې ژبې وژباړه.

هغه خبرې چې د مصري خط د بدلون په هکله تاسو ولوستلې له کولمبیا دایرة المعارف او د سینوهه د فرانسوي متن له ژباړې څخه اخیستل شوي دي.

دغه کتاب د مصر د لرغونو اثارو په کیندلو کې پیدا شوی او د نړۍ په بیلابیلو ژبو ژباړل شوی دی سینوهه هغه ډاکټر دی چې د نړۍ ګوټ ګوټ ته یې سفر کړی او د هغه لپاره نړۍ یوزاې مصر نه ؤ په هغه وخت کې د غه مشهور ډاکټر له خپلې تولنې مخکې روان ؤ او ډیر روڼ اندی ؤ ځکه خو د زور خاوندانو نه شو زغملی او له خپل ټاټوبي یې جلا وطن کړی ؤ.

فکر کوم د افغانستان په اوسنیو حالاتو کې د دغه کتاب لوستل ډیر ګټور وي ځکه چې داسې ښکاري لا هم موږ د جهالت په تورتمونو کې ژوند کو او سیاسي دلالان پر موږ لوبې کو همغه ډول چې زرګونو کاله مخکې یې د مصر په خلکو لوبې کولې او له مذهب

او نورو اوزارو او قوانینو بې ناوړه استفاده کوله.

دغه کتاب تاریخي ناول دی چې ډیر له ځمکنیو واقعیتونو سره اړخ لګوي او ډیرې خبرې پکې داسې دي چې دلرغون پوهانو له لوري ثابتې شوي هم دي ددغه کتاب لوستل له لو ستونکي سره مرسته کوي چې د مصر لرغونې ټولنه ښه وپیژني.

کیدای شي په ترجمه کې دنثر خوند ته زیان اوښتی وي خو سره له دې چې په نثر کې بې خوند شته له سیاسي، ټولنیز او پوځي پلوه ډیر څه ترې زده کیدای شي غوره ده په دقت سره یې ولولئ او زه هیله کوم د کتاب اهمیت ته پام سره مې دژباړې څه نا څه حق ادا کړی وي.

ښایي ځینې کسان فکر وکړي چې دکتاب په ځینو برخو کې غیر اخلاقي خبرې شوي خو له دې او دغسې دکتاب له نورو برخو په تیره بیا ځوانان ډیر څه زده کولای شي.

درنښت

ډاکټر محمد عیسی ستانکزی

۲۰۱۰/۰۸/۲۳

اسلو ـ ناروې

stanickzy۲۰۰۳@gamail.com

فهرست

راځه دواړه د ښکلا په سفر ووځو .... یو
دا کتاب د يو لوی انسان ژوند .... درې
د فارسي ژباړن سریزه او د سینوهه د کتاب .... اته
له مصري خطه په يوه نړيوال خط د ژباړې په هکله لنډې خبرې .... لس

لومړی څپرکی

د ماشومتوب وختونه ۴

دویم څپرکی

ښوونځي ته تګ ۱۶

دریم څپرکی

د طب لومړی ښوونځی ۲۵

څلورم څپرکی

په دارالحیات کې تحصیل ۳۲

پنځم څپرکی

د مجسمه جوړوونکي هنرمند نصیحت ۴۴

شپږم څپرکی

لاړو چې د فرعون کوپړۍ سوری کړو ۵۶

اووم څپرکی

د مصر ولیعهد او د هغه مېرګي ۶۸

اتم څپرکی

زه د بېوزلو ډاکټر شوم ۷۹

نهم څپرکی

زما دزلمیتوب تر ټول ژړوونکې پېښه ۸۸

لسم څپرکی

يوه ناپېژندل شوې ساري ناروغي ۱۲۴

یوولسم څپرکی

(هورم هب) پخوانی انشا ۱۴۴

دولسم څپرکی

(د مصریانو لپاره) يو غیر عادي خدای ۱۵۱

دریارلسم څپرکی
زما اوږد سفر ۱۶۷
څوارلسم څپرکی
د بابل له پاچا سره کتنه ۱۷۸
پینځلم څپرکی
د راتلونکیو پیښو اټکل ۱۸۷
شپاړلسم څپرکی
د درواغو ویلو د ورځې جشن ۱۹۴
اولسم څپرکی
د دوو کسانو د ژغورلو لپاره ۲۱۲
اتلسم څپرکی
مینا او له بېهوشۍ څخه د کاپتا ویښېدل ۲۲۱
نولسم څپرکی
موږ درې ټوکمران شوو ۲۳۵
شلم څپرکی
په هادتي هېواد کې ۲۴۳
یوویشتم څپرکی
د (کرت) د ټاټوبي په لور ۲۵۴
دوه ویشتم څپرکی
موږ په کرت کې څه ولېدل؟ ۲۶۲
درویشتم څپرکی
د کرت د غوایانو د لوبو په ډګر کې ۲۷۷
څلرویشتم څپرکی
له خپل مري سره مرموز کورته ننوتم ۲۹۵
پینځه ویشتم څپرکی
له کرته ستنیدل او د ازمیر نوي حالات ۳۰۷
شپږویشتم څپرکی
دیوه ماشوم ناروغي ۳۱۴
اوه ویشتم څپرکی
د هورم هب د لیدو لپاره مصر ته ستنېدل ۳۲۸

اته ویشتم ځپرکی
د راتلونکي لپاره د طبس د خلکو اندېښنه ۳۴۹
نهه ویشتم ځپرکی
په مصر کې دیوې لوې فتنې سریزې ۳۶۲
دېرشم ځپرکی
د طبس په ښار کې وژنه ۳۷۸
یو دېرشم ځپرکی
اخناتون د مصر فرعون ۴۰۴
دوه دېرشم ځپرکی
نوی ښار چې فرعون جوړ کړ ۴۳۴
دري دېرشم ځپرکی
زما پخوانی غلام ۴۴۵
څلور دېشم ځپرکی
د فرعون مور ۴۷۹
پېنځه دېرشم ځپرکی
په طبس کې دارالحیات ته ستنېدل ۴۹۱
شپږ دېرشم ځپرکی
څه ډول پخپل هویت پوه شوم ۵۱۳
اوه دېرشم ځپرکی
تېښتې ته په ورته ډول له طبسه وتل ۵۳۵
اته دیرشم ځپرکی
د فرعون په حکم د سوریې په لور حرکت ۵۴۵
نهه دېرشم ځپرکی
زما دردناک اثرات ۵۵۶
څلوېښتم ځپرکی
د فرعون د وژلو هڅه ۵۷۳
یو څلوېښتم ځپرکی
په طبس کې د ښگر او صلیب ترمنځ جگړه ۵۹۶
دوه څلوېښتم ځپرکی
پر مصر د هاتي د حملې سریزه ۶۱۰

درې څلورښتم څپرکی
په طبس کې زما نوې دنده ۶۳۱
څلور څلوېښتم څپرکی
په طبس کې بورډ نوونکی جنګ او زما د دوستانو مړینه ۶۴۴
پینځه څلوېښتم څپرکی
پنځپل لاس مې فرعون و واژه ۶۵۷
شپږ څلوېښتم څپرکی
د جنګ د الهي (سخ مت) د معبد پرانستل ۶۸۱
اوه څلوېښتم څپرکی
سپېڅلی جنګ یا د مصر او هاتي تر منځ جنګ ۶۹۳
اته څلوېښتم څپرکی
د هاتي پر عسکرو مو څه ډول برید وکړ ۷۰۱
نهه څلوېښتم څپرکی
د غزې د بورډ وونکي مقاومت بیانول ۷۲۶
پنځوسم څپرکی
کاپیتا په غزه کې ۷۴۰
یو پنځسم څپرکی
له یوه مات شوي سړي سره یوه شپه ۷۵۷
دوه پنځسم څپرکی
حیرانوونکی پیوند ۷۸۵
دري پنځوسم څپرکی
د باکتامون انتقام ۸۲۰
څلور پنځوسم څپرکی
زما تفکرات ۸۳۲
پینځه پنځوسم څپرکی
هورم هب د مصر فرعون شو ۸۴۷
شپږ پځوسم څپرکی
څه ډول هورم هب له مصره جلا وطن کړم ۸۶۱
د مصري لیکتې د کتاب وشپږه سریزه ۸۷۳

زما نوم (ددغه کتاب ليکوال) سينوهه دی او زه دغه کتاب دخدايانو دستاينې لپاره نه ليکم؛ ځکه له خدايانو ستړی شوی يم. زه دغه کتاب د فرعونيانو دمدحې لپاره نه ليکم؛ ځکه له فرعونيانو څخه تنګ شوی يم. زه دغه کتاب يوازې دځان لپاره ليکم، بې له دې چې د انعام او بدلې فکر وکړم اويا دا چې په نړۍ کې دنوم ګټلو لپاره وي.

په ژوند کې له فرعونيانو او خلکو دومره کړېدلی يم چې له ټولو شيانو حتی دتلپاتې نوم له ترلاسه کولو هم موړ شوی يم.

زه دغه کتاب يوازې ددې لپاره ليکم چې ځان راضي او خوشحاله کړم او فکر کوم چې يوازېنی ليکوال به يم چې له مادي اومعنوي موخې پرته کتاب ليکم.

هر څه چې تراوسه ليکل شوي دي يا ددې لپاره وو چې خدايان خوشحاله کړي اويا ددې لپاره ؤ چې انسان خوښ کړي. زه فرعونيان هم دانسانانو په کتار کې بولم ځکه چې هغوی هم له موړ سره تو پير نه لري اوزه دغه خبره په ايمانداري کوم.

زه د مصر دفرعونيانو ډاکټر وم ځکه خو له نژدې، شپه او ورځ له هغوی سره وم او پر دې پوهېږم چې فرعونيان هم داحساساتو، کمزورتياوو او وېرې له پلوه زموږ په شان دي حتی که يو فرعون زر ځله لوی کړو او هغه دخدايانو په کتار کې راولو بيا هم انسان اوزموږ په شان دی.

هغه څه چې تراوسه ليکل شوي؛ د هغو کاتبانو په لاس ليکل شوي چې د پاچايانو امرونو ته يې غاړه اېښې ده او ددې لپاره يې ليکل کول چې واقيعتونه بدل کړي.

ما تراوسه پورې هېڅ داسې کتاب نه دی ليدلی چې واقيعتونه پکې ليکل شوي وي.

په کتابونو کې يا دخدايانو لپاره چاپلوسي شوې اويا د خلکو يانې فرعونيانو لپاره ،او په دې دنيا کې تر اوسه پورې په هېڅ کتاب او ليکنه کې حقيقت نه دی موجود؛ او ګومان چې له دې وروسته به هم په کتابونو کې حقيقت ونه ليکل شي.

شونې ده د خلکو جامې ،ژبه،عادتونه او ګروهې بدلې شي خو د هغوی حماقت به بدل

نه شي او په ټولو پېړونو کې به د لیکنو او ویناوو له لارې انسان دوکه شي. ځکه هماغه ډول چې خواږه د مچانو خوښېږي؛ انسان هم په دروغو او چټي ژمنو مین دی چې هېڅکله نه پوره کېږي ایا نه ګورئ چې خلک په څلور لارې کې دیوه فالبین شاوخوا راغونډ شوي وي او هغه په خاورو ناست او خلکو ته د خزانو او سپینو او سرو وعدې ورکوي خو خلک یې خبرو ته غوږ نیسي.

خو زه چې نوم مې سینوهه دی په دې آخري عمر کې له دروغو کرکه کوم؛ له همدې امله دغه کتاب د نورو لپاره نه بلکې د ځان لپاره لیکم.

زه نه غواړم چې بل څوک دې دغه کتاب ولولي او ما دې وستایي ؛ زه نه غواړم چې ما شومان دې په ښوونځیو کې پر خپلو دړو باندې زما د کتاب عبارتونه ولیکي او هغه دې یاد کړي. زه نه غواړم چې هوښیاران دې زما له کتابه متالونه راوړي او په دې ډول خپل علم او پوهه ثابته کړي. هرڅوک چې کوم شی لیکي هیله کوي چې له هغه وروسته نور کسان د هغه کتاب ولولي . ویې ستایي او څوک یې نوم هېر نه کړي له همدې امله خپل ایمان تر پښو لاندې کوي . له ټولنې سره یوشان کېږي او یوازې د دې لپاره چې نور یې وستایي هغه شیان لیکي چې پخپله پرې باور نه لري خو زه نه غواړم چې څوک دې زما کتاب ولولي او له ټولنې سره هم نه یوشان کېږم او د هغې د خرافاتو او خیالونو ستاینه نه کوم.

زه باوري یم چې انسان نه بدلېږي: که څه هم یو لک کلونه پرې تېر شي. که یو انسان په سیند کې ډوب کړئ، او بیا یې راوباسئ ؛ نو چې جامې یې وچې شي هماغه مخکېنی سړی به وي. که یو سړی له غمونو سره مخ کړئ پر خپلو کړو به پښېمان شي خو کله چې له غمونو خلاص شو . بېرته لومړني حالت ته ورګرځي او د پخوا په شان به کبرجن او بېرحمه وي.

څرنګه چې د ځینو شیانو رنګ او بڼه بدلېږي. د ځینو قومونو ژبې بدلېږي او نوې جامې او خواړه چې پرون نه ول دودېږي . نو خلک فکر کوي چې نن له پرون سره توپیر کوي. خو زه پوهېږم چې داسې نه ده او په راتلونکې کې هم د نن په شان څوک رښتیا نه خوښوي: له دې امله نه غواړم چې څوک زما کتاب ولولي او د زړه له کومې هیله کوم چې په راتلونکې کې مې نوم ورک پاتې شي.

زه دغه کتاب له دې امله ليکم چې پوهه راسره ده او پوهه د تېزاب په څېر د انسانانو زړه خوري او که انسان خپله پوهه نورو ته ونه لېږدوي نو خپل زړه يې له منځه ځي.

زه خپله پوهه بل چاته نه شم بيانولای. ځکه خو هغه د ځان لپاره ليکم : او دا کار د ځان د ارامتيا لپاره.

ما په خپل عمر کې ډېر شيان وليدل ما وکتل چې زوی خپل پلار وواژه.

ومې ليدل چې بې وزلو د شتمنو پر ضد او ان د خدايانو پر خلاف پاخون وکړ.

داسې کسان مې وليدل چې يو مهال يې په زرينو لوښو کې شراب څښل خو داسې وخت هم راغی چې د سيند په غنډه کې يې او به څښلې.

ومې ليدل چې خپل زر يې په تلو کې تلل . خو يوه ورځ يې خپله ښځه ديوه مسي بنګړي لپاره په تور پوستو وپلورله او دا کار يې هم ددې لپاره وکړ. چې د خپلې همغې ښځې ماشومانو ته ډوډۍ واخلي.

پخوا زما ځای د فرعون په ماڼۍ کې ؤ او د هغه په ښي اړخ کې به ناست وم ، ډېرو مخورو چې سلګونه مريان به يې درلودل ، ماته غوړه مالي کوله او ماته به يې ډالۍ را استولې.

نن سبا په دغه ځای کې چې د ختيز سمندر څنډې دي . ژوند کوم . شتمني مې راسره ده او هماغه ډول بډای يم او مريان مې لاس پر نامه راته ولاړ وي.

داچې زه يې له مصر او طبس ښاره تبعيد کړم او دلته يې راواستولم. ټول ددې لپاره وو چې زه په ژوند کې هرڅه لرم . خو غواړم داسې شی ترلاسه کړم چې د ترلاسه کولو لپاره يې بايد انسان هرڅه له لاسه ورکړي.

ما غوښتل چې حقيقت واکمن وي او درواغ . ريا او چل ول له منځه لاړ شي. خو په دې نه پوهېدم چې. د انسان په ژوند کې د حقيقت واکمنول ناشونی کار دی او هرڅوک چې رينښتيا وايي او غواړي په رينښتنولۍ ژوند وکړي. بايد هرڅه له لاسه ورکړي او زه بايد ډېر نيکمرغه سړی وا وسم چې ترا وسه مې خپله شتمني ساتلې ده.

لومړی څپرکی

د ماشومتوب وختونه

هغه سړی چې ما پلار وباله د طبس په ښار یانې د نړۍ په ستر ښار کې د بې وزلو طبیب و او هغه ښځه چې ما خپله مور بلله د هغه مېرمن وه.

دغې جوړې تر زړښتوبه پورې اولاد نه درلود. نو زه یې په زوی ولې ونیوم.

له دې امله چې دوی سادګان ول، نو ویل یې چې زه خدایانو ور استولی یم. خو په دې نه پوهېدل چې د خدایانو دغه ډالۍ به دوی ته څومره بدمرغي ورپه برخه کړي؟

مور سینوهه بللم: هغې له کیسو سره ډېره مینه درلوده او د سینوهه نوم یې هم په یوه کیسه کې اوریدلی و. د مصر یوه مشهوره کیسه ده چې وایي: سینوهه یوه ورځ نابېره د فرغون په خیمه کې یو خطرناک راز واورېد: کله چې خبر شو فرعون پرې پوهېدلی، نو د مرګ له وېرې وتښتېد. یو څه وخت په کوځو کې له ډول ډول ګواښونو سره مخامخ و خو ورسته بریالی شو.

زما مور هم فکر کاوه چې زه له ګواښونو او مرګونو را تېرشوی او دې ته رسېدلی یم اوله دې وروسته به هم له هره ګواښه ژغورل کېږم.

د مصر د معبدونو ملایان وایي چې د هر چا نوم د هغه د برخلیک استازیتوب کوي او له نوم څخه پوهېدای شو چې پر خلکو څه راځي. ښایي له همدې کبله وي چې پخپل ژوند کې له ډېرو ګواښونو سره مخامخ شوی یم. پر دیو ملکونو او هېوادونو ته لاړم او د فرعونیانو په رازونو (هغه رازونه چې د مرګ سبب کېږي) پوه شوم.

خو زه فکر کوم که ما بل نوم هم درلودای بیا به هم له دغو ستونزو او کړاونو سره مخامخ شوی وای او په ټوله کې زما په باور نوم د انسان په ژوند کومه اغېز نه لري.

خو کله چې چا ته نیکمرغي یا بدمرغي ورمخه کړي، نو د دغه ډول ګروهې په مرسته خپل دردونه کموي، او په نیکمرغۍ کې بیا خان د هغه سعادت وړ بولي چې ورسېدلی دی.

زه په هغه کال وزېږدم چې د فرعون زوی پکې پیدا شوی و. د فرعون مېرمنې چې دوه

ويشت کاله يې فرعون ته زوی نه و زېږولی پر همدغه کال زوی وزېږاوه. خو د فرعون زوی په پسرلي ياني د وچکالی په موسم کې وزېږېد او زه په مني کې چې د اوبو د پريمانی وخت دی پيدا شوم.۱

(نيل سيند چې مصر خړوبوي د اروپا او اسيا د شمال د سيندونو پر خلاف په مني کې راخېژي او مستېږي او د مصر خلکو د نيل سيند د مستېدا لپاره خوشحالی کولې ځکه چې کرنيزې ځمکې به يې خړوبولې او دطبيعي سرې په شان خړه به يې پر ځمکې کښېښوله چې ورسره به دځمکې حاصل ډېرزيات شول نن سبا هم مصرله همدې نيل سيند څخه خړوبېږي خو کله چې د مصر په سوېل کې دالعالي ډېم يابند جوړ شو د نيل اوبه په مني کې کرنيزو ځمکې ته نه ورخېژي او پر دغه مهال ځمکو ته مصنوعي سرې ورکوي) ژباړن.

زه نه پوهېږم چې کله او څنګه مې دې نړۍ ته سترګې رڼې کړې؛ ځکه کله چې مور مې د نيل سيند پر غاړه وموندلم چې د لرګيو په يوې کجاوې کې پروت وم. د کجاوې سورې يې د ونو په کنډو يا سرېښو بند کړي ول. چې اوبه کجاوې ته ور ننوزي. زما د مور کور د سيند پر غاړه و او په مني کې چې به اوبه راختلې مور مې اړه نه وه چې د اوبو د راوړلو لپاره له خپله کوره لېرې ولاړه شي. يوه ورځ چې هغه د کور مخې ته ولاړه وه. هغه کجاوه يې وليده چې زه پکې پروت وم. وروسته يې راته وويل چې مرغان دې پر سر الوتل او سندرې يې ويلې.

مور مې کور ته بوتلم اونغري ته يې نژدې کړم چې تود شم. خپله خوله يې زما پر خوله کښېښودله او په زوره يې خپله ساه زما په خوله کې پوه کړه چې هوا زما سږو ته ور سېږې او بيرته ساه واخلم. په هغه وخت کې ماکړيکه کړې وه خو ډېره کمزورې وه. پلار مې د بې وزلو سيمې ته تللی ؤ چې طبابت وکړي او دناروغانو د معالجې په بدل کې يې دوه هيلۍ او يوه پيمانه اوړه له ځان سره راوړي ول. کله چې يې زما غږ واورېد فکر يې وکړ چې مور مې پيشينګوری کورته رواستی دی خو مور مې وويل دا پيشينګوری نه دی يو هلک دی او ته بايد خوشحاله شې چې موږ زوی پيدا کړی دی.

په سر کې مې پلار خپه او غوسه شو. په غوسه کې يې مور ته کونګ خطاب وکړ خو وروسته يې چې زه وليدم موسکی شو او موافقه يې وکړه چې ما دخپل زوی په توګه ومني.

بله ورځ مې پلار و مور ګاونډيانو ته وويل چې خدايانو زوی ورکړی خو زه فکر نه کوم

چې هغوی به د غه خبره منلې وي ځکه چې هېڅکله یې نه و لیدلي چې زما مور دې امېندواره وي.

مور مې هغه کجاوه چې زه یې پکې موندلی وم زما د زانګو پر سر وځړوله او پلار مې یو مسي لوښی د معبد لپاره ډالی کړ چې زما نوم په عبادتځي کې د هغوی د زوی په توګه ولیکي. ۱

(۱ په افغانستان کې هم له ډېر پخوا دا دود و چې د نویو زېږدلو ماشومانو نوم په قرآن مجید کې ولیکي چې د زېږېدو نېټه یې هېره نه شي خو دلومړي ځل لپاره په مصر کې په رسمي توګه د بچیانو د نومونو ثبتول پیل شول او بیا د غه چاره اروپا ته هم ورسېده او په اروپا کې مور و پلار د نده درلوده چې د ماشوم د زېږېدو نېټه او د هغه نوم د کلیسا په کتاب کې ولیکي او په همدې ډول د نوم لیکلو دود را منځته شو. همغه ډول چې په دغه کتاب کې لولو د لومړي ځل لپاره دغه دود په مصر کې پیل شو او له هغه وروسته همغه ډول چې په دغه کتاب کې به یې ولولئ د هلکانو د سنتولو دود هم د لومړي ځل لپاره په مصر کې پیل شوی دی (ژباړن.

له هغه وروسته مې پلار چې طبیب ؤ سنت کړم ځکه ویرېده چې که مې د مصر د معبد ملایانو ته د سنتولو لپاره وسپاري نو د معبد د ملایانو چړو زخم عفوني کاوه. خو پلار مې یوازې د دې لپاره سنت نه کړم چې زما تپ چرک او زوي و نه کړي. بلکه معبد ته یې د دې لپاره و نه لېږلم چې له مسي لوښي پرته یې باید د سنتېدلپاره معبد ته نورې ډالۍ هم ورکړې وای. پلار مې بې وسه ؤ او مسي لوښی هم ورته ډېر ګران بیه شی ښکارېد.

څرګنده ده کله چې دغه پېښې کېدې زه پرې نه وم خبر او وروسته مې له پلاره په دې اړه پوښتنې کړې دي.

تر هغه وخته چې ماشوم وم، هغوی ته مې د پلار و مور په سترګه کتل. خو له ماشومتوبه وروسته او د ځوانۍ پړاو ته د ننوتلو پر مهال یې زما وپښتان را لنډ کړل او پلار و مور مې واقیعت را ته بیان کړ. دوی له خدایانو وېرېدل او نه یې غوښتل چې همېشه له دغو سترو درواغو سره ژوند وکړي

زه هېڅکله پوه نه شوم چې زما اصلي مور و پلار څوک دي خو په دې باور لرم چې زما مور و پلار د بې وزلو له پرګنې څخه ول. یا ښایي شتمن کسان وو خو زه لومړنی یا وروستنی ماشوم نه وم چې په دغه بر خلیک اخته شوی وي او نیل سین ته یې اچولی وي.

په هغه وخت کې طبس د مصر لومړۍ درجه او د نړۍ ستر ښار و او هلته د ډېرو شتمنو ماڼۍ ودانې وې.

د طبس شهرت او اوازې ددې سبب شوې چې ډېر شمېر بهرنیان له نورو هېوادونو راشي او په طبس کې ژوند وکړي. ډېرنور پکې بې وزله ول، خو دغه ښار ته ددې لپاره راتلل چې شته ترلاسه کړي.

د سترو معبدنو او د شتمنو د ماڼیو په څنګ کې د نیل پر دواړو غاړو باندې تر هغه پورې چې سترګو کار کاوه د بې وزلو جونګړې ودانې وې او په دغو جونګړو کې هم مصري او هم نورو بېوزلو خلکو ژوند کاوه.

ډېر خله به بېوزلو مېرمنو خپل بچیان په ځنبیلونو یا کجاوو کې کېښول او نیل ته به یې سپارل چې د سین پر لوري لاړ شي .یا هم شتمنو مېرمنو خپل نامشروع بچیان په کجاوو کې کېښول او نیل ته یې سپارل. خوله دې سره سره چې مصریانو به خپل ماشومان له زېږېدو وروسته سنتول خو زه سنت شوی نه وم نوفکر کوم چې زما مور و پلار بهرنیان ول.

کله چې له ماشومتوبه د هلکتوب او تاندې ځوانۍ پړاو ته ورسېدم زما زلفې یې غوڅې کړې او مورمې زما ویښتان او د ماشومتوب بوټان دلرګیو په یوصندوق کې کېښودل او هغه کجاوه یې هم راوښودله چې زه یې پکې پیدا کړی وم او له نیله پکې تېر شوی وم.

ومې کتل چې د کجاوې لرګي زېړ شوي او ځینې لرګي په پړي ترل شوي ول. مورمې ویل کله مې، چې دغه کجاوه پیدا کړه هم دغه پړي هم ورسره ول.

د ځنبېل یا کجاوې ظاهري بڼې دا ښوده چې زما مور و پلار شتمن نه ول ځکه که شتمن وای نو په یوې ښې کجاوې کې به یې کېښولی او د نیل څپو ته به یې سپارلی وم.

اوس چې بوډا شوی یم د ماشومتوت پړاو د یوې رڼا په شان زما له سترګو تېرېږي او په دې برخه کې د یوه شتمن او بېوزله ترمنځ توپیر نه ګورم ځکه چې یو بېوزله بوډا هم د شتمن په شان خپل ماشومتوب رنګین ګوري او ټولو ته داسې ښکاري چې د ماشومتوب پړاو تر او سني حالته ډېرښه و.

زمونږ کور د نیل پر غاړه . معبد ته نژدې په یوې بېوزلې سیمې کې و او کورته څېرمه یو بندرو . چې د نیل کښتیو به پکې بارونه اوچتول یا به یې خپل بارونه ښکته کول.

ددې سیمې په تنګو کوڅو کې سلګونه شرابخانې وې چې د نیل ماڼوګانو به پکې

شراب څښل او هغه راز په دغو کوځو کې د عياشۍ لپاره کورونه جوړ شوي ول چې د ښار شتمن به په روانو تختونو کې د عياشۍ او سات تېرې لپاره ورتلل. په دې ښوزله سيمې کې اوچت اولوړ کسان د مالياتو د ټولاسه کولو مامورين، افسران او د کښتيو څوتنه مانوګان او د معبدونو څو تنه ټيټ پوړي ملايان ول. زما پلار هم د سيمې په لويو کسانو کې شمېرل کېده او زموږ کور هم د ښوزلو د کورنو په پرتله چې له ختو جوړ شوي ول د مانۍ په شان ښکارېده.

موږ په سراى کې يو وړوکى بڼ درلود چې پلار مې پکې د ناورون يوه ونه ايښې وه. دغه وړوکى بڼ د ونو په يوه کتار کې له کوڅې بېلېده او د بڼ په منځ کې يو حوض و چې د منې په موسم کې يانې د نيل د سين د مستېدا پر مهال مو اوبه پکې اچولې.

زموږ کور څلور کوټې درلودې چې په يوې کې به موږ پخلى کاوه او يوه هم د پلار د ناروغانو کتنځى و.

په اونۍ کې به يوځل يوه نوکره زموږ کورته راتله او زما له موږ سره به يې د کور په کارونو کې مرسته کوله او په اونۍ کې به يوځل يوه مېرمنه راتله چې زموږ جامې د نيل غاړې ته يوسي او و يې وينځي! *(ا تېول هغه معلومات چې په دغه کتاب کې د طبس د ښار د يوې متوسطې کورنۍ په هکله لولئ د تاريخي اسنادو او مدارکو په اساس سم دي او د مصر په پاپيروسونو يانې د مصر په مکتوبو اثارو کې شته او داسې تصور ونه کړئ چې ليکوال د ننۍ ژوند په تقليد کې دغه خبرې له ځانه ليکلې دي) (ژباړن*

زه به کرۍ ورځ تر ياده شوې ونې لاندې څملاستم او کله چې به کوڅې ته تلم يو لرګينه تمساح به مې په پړي ترله او له ځان سره مې د کوڅې په ډبرو کې کشوله. دا زما لوبتکه وه او ټولو ماشومانو به دغې سورخولې تمساح ته په ډېر حسرت سره کتل او زړه به يې کېده چې زما په شان دلوبو يوشى ولري. زه په دې پوهېدم چې يوازې د اشرافو زامن دغسې لوبتکه لرلاى شي، نو نور هلکان مې هم پرېښودل چې پرې لوبې وکړي. دغه دلوبو شى د شاهي دربار ترکاڼ زما پلار ته جوړه کړې و، ځکه چې زما پلار د ترکاڼ د هغې دانې درملنه کړې وه چې هغه به يې د ناستې پر مهال خوراوه. د سهار لخوا به موږ بازار ته بېولم او که څه هم ډېر شيان به يې نه اخيستل خو عادت يې درلود د هرشي د اخيستو لپاره د اوبو د يوه ساعت په اندازه چنې ووهي.

ا ر د اوبو ساعت هغه کاسه وه چې لاندې به يې کوچنى سورى ورکړى و او او به يوه بل

لونبسي کې به يې اينبسې وو. د پورتني کاسې له سوري څخه به اوبه لاندې کاسې ته ورڅڅېدې او هغه به يې ډکوله. هرځل چې به کاسه ډکه شوه دا به يو ساعت ؤ. بيا به يې کاسه خالي کوله بېرته به يې اوبو ته کېښودله او په دې ډول دغه ساعت تر ۲۵ کاله مخکې هم په خپنو سيموکې دود و.)

د مور له خبرو داسې ښکارېده چې هغه فکر کوي پيسې لري خو ددې لپاره چنې وهې چې د پيسو بچت کول ماته راوښيي. ويل به يې شتمن هغه نه دی چې سره او سپين لري بلکه هغه دی چې په لږو ګوزاره وکړي.

له دې سره سره چې هغې دغه ډول خبرې کولې خو زه به د هغې له سترګو څخه چې دبازار تو کرانو ته به يې کتل پوهېدم چې رنګين پشمي تو کر.. د عاج غاړکۍ او د شترمرغ ښکې يې خوښېږي.

زه تر هغه چې لوی شوی نه وم په دې نه پوهېدم چې په مور مې شته. ګران دي او ټول عمر يې هيله کوله چې شتمني ولري، خو له دې چې دبېوزلو د سيمې د يوه طبيب مېرمن وه په لږو يې ګوزراه کوله.

د شپې مهال به مور راته کيسې کولې. هېڅکله مې نه هېرېږي چې د دوبي په ګرمې هوا کې به مونږ په برنډې کې ويده کېدو او مور مې کيسې پيلولې. پلار به مې اعتراض کاوه چې ولې دد غه ماشوم فکر په چټې شيانو ډکوې؟

مور به مې د پلار د اعتراض له امله غلې شوه خو کله چې به مې د پلار خرهار پيل شو مور به مې پاتې کيسه هم وکړه.

کله به يې د سينوهه او کله به يې د ديوانو او ګوډګرو کيسې کولې. زه اوس پوهېږم چې هغې به له دغو کيسو څخه خوند اخيست.

کله چې به ما دغه کښې اورېدلې له دې امله مې خوښېدې چې فکر مې کاوه همدا شېبه په دغو چټلو او له مچانو ډکو کوڅو کې ژوند نه کوم.

کله به باد د هغو شنو او زرينو لرګيو بوی چې له کښتيو به کښته کېدل زما پوزې ته را رساوه او کله به مې د هغه مېرمنو د عطرو بوی احساساوه چې په روان تخت کې به تېرېدلې.

مانبام چې به کله زموږ د خدای آمون(مقصد يې لمر دی ژباړن) زرينه کښتۍ له نيله او د لوېديځ له جلګو څخه په تېرېدا د غونډيو په لمنو کې ورک کيده په ساحل کې له

جوړو کورنود تازه ډوډۍ، اوسره کړیو کبانو بوي لټیده دغه وږم په ماشومتوب کې زما ډیر خوښیده او نن چې بوډا شوی یم بیا مې هم خوښیږي.

لومړنی ښوونځی چې ما پکې د ژوند درس زده کړ زمونږ د کور برنډه وه. د شپې مهال به د ډوډۍ پر وخت موږ د خپل کور په برنده کې په کټونو کښناستو. موږ به مې خواړه وېشل او زموږ په مخکې کې به یې کېښودل. تردې مخکې چې پلار مې د ډوډۍ خوراک پیل کړي د هغه په لاسونو به یې اوبه ور اچولې.

کله به مې د مانوګانو یوه مسته ډله لیدله چې شراب به یې څښلي ول. زموږ په کوڅه کې به تېریدل او زمونږ د کور تر وني لاندې به یې خپل احتیاجات پوره کول

۱(په طبس کې دبې وزولو کورونه له کوڅو د دیوالونو په وسیله نه بلکه د بانسونو اولرګیو په وسیله بېلېدل (ژباړن)

پلار مې احتیاطي کاري سړی و. په هغه وخت کې به یې څه نه ویل خو کله چې به هغوی لاړل. نو ده به ویل یوازې تورپوستي او سریانان په کوڅه کې خپل احتیاجات پوره کوي او یو مصري هېڅکله داسې کار نه کوي. دغه راز به یې ویل کله چې یو منګې شراب وخوري په لښتي کې لوېږي او کله چې په ځان پوهېږي ګوري چې جامې یې چالوتلې وي.

کله چې به د عطر و تېزه وږمه په برنډې کې احساس شوه او داسې ښځې چې رنګا رنګ جامې به یې اغوستې وې. مخونه. بانه او شونډې به یې رنګ کړې وې او په کوڅه کې به تېرېدې نو زه به پوهېدم چې دغه ډول ښځې له عادي ښځو سره تو پیر لري. دوی به له هغو کورونو راوتلې چې د عیاشی لپاره جوړ شوي ول.

پلار به مې ویل له هغو ښځو ډډه کوه چې تا ته وایي څومره ښکلی هلک یې! هېڅکله د هغوی بلنه مه منه او کورنو ته یې مه ورځه ځکه چې د هغوی زړونه لومې دي او د دغو ښځو په ګوګل کې داسې اور دی چې تا به وسوځوي. د دغو خبرو له امله زه له ماشوموالي له ښکلو ښځو څخه چې له عادي ښځو سره توپیر لري او دغه راز د شرابو له منګیو وېرېدم

له ماشوموالي څخه پلار خپل کتنځي ته بیوم چې د هغه د معالجې رودې او لارې چارې وګورم. زه ډېر ژر د خپل پلار له ټولو کارونو. پټیو او ملهمونو سره بلد شوم. کله چې به هغه د یوه ناروغ د رملنه کوله ما به هغه ته درمل. پټۍ. شراب او اوبه ورکولې. موږ مې د نور ښځو په شان له وینو او زوې لرونکو دانو ډارېدله او هېڅکله زما د پلار کتنځي ته نه تله. یوازې هغه وخت به راغله چې پلار به مې ورته ناري کړې.

زه به خير وم چې پلار به مې ناورغانو ته درې خبرې کولې، ځينو ته به يې ويل ستاسې درملنه لږ وخت ته اړتيا لري. ځينو ته به يې ويل ستاسې د ناورغى درملنه کېداى شي او ځينو ته به يې يوه ټوټه پاپيروس (د مصر معروف کاغذ) ورکړ او ورته ويل به يې دا بيت الحيات ته يوسه چې هلته ستاسې درملنه وکړي. بيت الحيات هغه ځاى و. چې د سختو ناورغانو درملنه به هلته کېده او کله چې به يې کوم يو هلته واستاوه نو ويل به (اې خوارکيه !).

له دې سره سره چې پلار مې د ښوزلو طبيب و. کله کله به ورته شتمن ناروغان هم راتلل او کله خو به د ساعت تېري او عياشيو له کورنو څخه هم ځينې کسان زما پلار ته راتلل چې ګران بيه کتان کالي به يې اغوستي ول.

کله چې اووه کلن شوم مور مې د ماشومتوب لنګ را واغوست او د آمون معبد ته يې بوتلم چې د مصري خدايانو تر ټولو ښکلى او ستر معبد و. هلته يې د دې لپاره بوتلم چې يوه قرباني ووينم.

يو اوږد واټ چې په دواړو غاړوکې يې په مشخصه اندازه ابوالهول ناست و. ترمعبده غځېدلى و او کله چې معبد ته ورسېدم و مې کتل چې د معبد د ېوال دومره اوچت و. چې ما يې پورتنۍ برخه په سختۍ سره ليداى شوه.

کله چې د معبد انګړ ته ننوتو نو پلورونکو هر يوه د مړو کتاب (په نړۍ کې تر ټولو پخوانى ليکل شوى کتاب همدا مصرى کتاب دى چې د مړو کتاب نومېږي) زما مورته وړاندې کاوه خو مور په کور کې د مړو يو کتاب درلود بل ته مو اړتيا نه وه.

مور مې له خپله لاسه د مسو يو بنګړى را وايست او د قربانۍ په مراسمو کې د ګډون د حق لپاره يې معبد ته ورکړ. د معبد ملايانو سپينې جامې اغوستې وې او سرونه يې خريلي او بيا داسې غوړ کړي ول چې پړک يې واهه.

دوى پر يوه غوايي راټول ول او حلالاوه يې. د غوايي د دواړو ښکرانو په منځ کې يې يو مهر خوړند کړى و چې داسې يې ښوووله. د دې سخوندر په بدن کې يو تور وېښته هم نشته.

کله چې يې غويى حلال کړ د مور له ستر ګو مې اوښکې وبهېدې. خو ما د غوايي حلالو ته پام و نه کړ بلکې د معبد ستنو او د جنګونو انځورونو ته مې کتل چې پر د ېوالونو کښل شوي ول.

کله چې له معبده را ووتو. مور مې زما له ښنو څخه زاړه بوټان و ایستل او نوي هغه یې را پر پښو کړل کله چې کور ته ورسېدو دغرمې له ډوډۍ وروسته مې پلار پر سر لاس راکښېنو د او راته یې وویل ته اوس اووه کلن شوې او باید ځانته یو کسب غوره کړې نو غواړې څه کاره شې؟ ما وویل نیت مې دا دی چې سرتېرې شم. څکه تر ټولو غوره لوبه چې ما به په کوڅه کې له ماشومانو سره کوله. د سرتېرو لوبه وه. ما به لیدل چې سرتېرو څلاندې تورې درلودې او په واټونو کې به یې ګاډۍ په ډېر زور تېرېدلې او په ارابو یا تیرونو کې به یې رنګارنګ رپې رپېدل.

له دې پرته پر دې هم پوهېدم چې سرتېري لیک و لوست ته اړتیا نه لري او ما له هغو ماشومانو څخه چې ښوونځیو ته به تلل دلیک و لوست پر مهال د وهلو او څورونو ډېرې خبرې اورېدلې وې.

دوی به ویل ښوونکی د هغه ماشوم وښتان دانه دانه شکوي چې له بې پروایۍ خپله لیکدړه ماتوي.

پلار مې زما له خواب سره په سوچونو کې ډوب او اغېزمن شو. بیایې زما مورته وویل چې ختین ګړی ورکړي. مورمې ګړی ورکړ پلار مې په یوه لاس زه ونیوم او په بل کې یې ګړی ونیو او د نیل غاړې ته یې بوتلم. د نیل پر غاړه مې ولیدل چې ځینې پنډیان له بېړیو څخه بارونه را کوزوي. یو څارونکی یې پر ملا - ملا باندې په متروکې وهي. پنډیان چې خولې پرې راماتې وې ستړي ستومانه یې بارونه راکوزول او بېړۍ یې تشولې.

پلار مې وویل. وګوره د غه کسان پنډیان او جوالیان دي. د هغوی پوستکی دومره سوځولیدلی چې د تمساح تر پوستکي هم پنډ شوی دی. خواږدې تر ښکا پورې تر همداسې متروکې لاندې زیار ګالي او کله چې د شپې کورته ستانه شي نو خواړه یې پیاز او ډوډۍ وي.

د کروندګرو ژوند هم همداسې دی او ټول هغه کسان چې پخپلو دواړو لاسونو کار کوي همداسې ژوند کوي.

ومې ویل، پلاره نه غواړم چې پنډي یا کروندګر شم نیت مې دی چې سپاهي شم. سپاهیان بر ښنده توري لري، دځینو په غاړو کې د سرو زرو غاړه کۍ وي، له جنګونو څخه سره و سپین زر، وینځې، مریونه راولي او خلک یو بل ته دهغوی د جنګونو او مېړانې کیسې کوي.

پلار مې څه ونه ویل زه یې له ځانه سره له هغه ځایه رهي کړم . د شرابو یوه پلورنځي ته ورغی او په منګي کې یې شراب را واخیستل او رهي شو.

وروسته بیا د نیل پر غاړه یوې ختیني جونګړې ته ورسېدو پلار مې سر ورد ننه کړ او ناري یې کړې(این تب)..... (این تب).....

یو خیرن بوډا چې یو لاس یې درلود او داسې لنګ یې اغوستی و. چې له خیرو یې اصلي رنګ نه معلومېده له جونګړې راووت. ما پلار ته په حیرانتیا وویل پلاره آیا زړه ور او مشهور سپاهي این تب همدا دی؟

پلار مې بوډا ته سلام وکړ. هغه سرې خپل لاس د سپاهیانو په دود پورته کړ او عسکري سلام یې وکړ. د هغه د کوټې په مخکې اوږده څوکۍ یا هغې ته ورته کوم شی نه و. نو اړ شوو. چې پر ځمکه کېنو.

پلار مې د شرابو منګی د هغه مخې ته کېښود. هغه هم په یوه لاس منګی خولې ته نژدې کړ او په حرص سره یې وڅښل.

پلار مې وویل این تبه ! زما زوی سینوهه هم غواړي سپاهي شي. ما تا ته راوست چې زموږ د سترو جنګونو یوازېنی پاتې اتل وګوري او د دغو جنګونو کیسې ستا له خولې واوري.

این تب چې ګنې سپینې وروځې یې درلودې . خوله یې کنډاسه او څېره یې قهرجنه وه وویل په امون قسم در کوم . ایا ته لیونی شوی یې؟ بیا یې په کنډاسه خوله مرګونې خندا وکړه او ویې ویل: که ما د هرې ښېرې او ښکنځلې په بدل کې چې ځانته مې کړې دي. یو غوړپ شراب تر لاسه کړي وای نو هغه حوض به مې ډک کړی و. چې فرعون د خپلې ښځې د لمبېدا لپاره جوړ کړی دی. ان د یوه کال لپاره به مې د طبس ټولو او سېدنکو ته شراب ورکولای شوای.

ما ورته وویل . داسې مې اورېدلي چې عسکري د نړۍ له ویاړمنو دندو څخه ده.

این تب وویل په دغه هېواد کې شهرت او عسکري د حیواناتو خوشایي دي . چې مچان پرې راټولېږي. ما چې له خپل شهرت څخه کوم استفاده کړې هغه داده. چې نن سبا یې نورو ته کیسې کوم چې یوه ګوله ډوډۍ او یو غوړپ شراب راکړي او هغه هم په سلو کې یو کس راکوي. نو تا ته وایم چې د نړۍ په دندو او کسبونو کې هېڅ یو د عسکرۍ په شان بد نه دی او دیوه سپاهي د ټول ژوند ویاړونه دغه ژوند دی چې ته یې ګورې.

له هغه وروسته اين تب د منګي ټول شراب پر سر واړول او د شرابو تودوخې د هغه مخ سور کړ . سر يې اوچت کړ او ويې ويل . ايا زما د غه ډنګر او له ګونځو ډک ورمېږ ګورې؟ دا هغه ورمېږ دی چې يوه ورځ پېنځه اميلونه پکې ځوړند ول او پخپله فرعون هغه زما غاړې ته اچولي ول کله به چې د جګړې له ډګره راستنېدم دوه مره غوڅ شوي لاسونه به مې راوړل چې زما د کېږدۍ په مخ کې به د هغو يو ځلې جوړ شو . خو نن سبا له دغو ټولو وياړونو او سروزرو ماته هېڅ هم پاتې نه شول.

سره زر مې له منځه لاړل . مريان ، وينځې مې مړه شوي . يا هم وتښتېدل او زما ښې لاس هم په جنګ کې غوڅ شو .

تر هغه چې ځوان وم شپه و ورځ به مې په دښتو کې په لوږه او تنده کې مبارزه کوله . اوس چې بوډا شوی يم بيا هم وږی او تږی يم . که دې له پلاره پوښتنه وکړې چې کله ديوه عسکر لاس پرې کوي او بيا هغه تپي لاس په سرو کړو غوړو کې تنباسي په دغه کس څه تېرېږي؟ هغه يو ډاکټر دی او دغه پوښتنه به ډېره ښه درته ځواب کړي.

زما د بدن د هر غړي غوښه او تونې د جنګ په يوه ډګر کې پاتې دي خپل غاښونه او وېښتان مې توی شول . که نن سبا ستا د پلار په شان کسان له ماسره مرسته ونه کړي . بايد د امون د معبد پر وړاندې سوال وکړم .

له دغو خبرو وروسته اين تب د شرابو منګي ته وکتل او ويې ويل له بده مرغه خلاص شول .

پلار مې له لاسه د مسو يوه کړۍ وايستله او هغه ته يې ورکړه چې د شرابو بل منګی وپېري . هغه يو ماشوم را وغوښت او ويې ويل دغه مسي بنګړی يوسه او شراب پرې واخله . پلورنکي ته ووايه چې ښه شراب نه غواړم . بلکې په منځنيو او مناسبو شرابو باندې دې . ټول منګی را ډک کړي او پاتې مس دې بېرته راولېږي .

ماشوم ولاړ او ما له ځان سره وويل . د عسکرۍ ګټه دا ده چې يو سپاهي دې ليک لوست ته اړتيا ونه لري او بايد ښونځي ته د تګ زيار و نه ګالي .

اين تب وويل سمه خبره دې وکړه ، يو عسکر ليک لوست ته اړتيا نه لري او بايد يوازې وجنګېږي . خو که سواد ولري پر نورو عسکرو به قوماندانې وکړي او نورو ته به حکمونه کوي چې وجنګېږي

ناشونې ده چې يو نالوستی سړی صاحب منصب شي ان يوه سل کسيزه ډله هغه کس ته

نه سپاري چې لیک لوست نه شي کولای. تل همداسې وو او همداسې به وي.

(میکاوالتاري دغه کتاب د تاریخي اسنادو له مخې چې د پاپیروس په کاغذ لیکل شوي ول لیکلی دی او هغه اسناد چې فنلنډ ي لیکوال ترې استفاده کړې لږ تر لږه له میلاده یو زرو پینځه سوه کاله مخکې لیکل شوي دي او دري زره پینځه سوه کاله مخکې په مصر کې هغه څوک د یوځ افسر یا صاحب منصب نه شوای جوړېدای چې لیک لوست به یې نه وزده. خو په یوویشتمه پېړۍ کې په ډېرو هېوادونو او افغانستان کې ډېر نالوستي کسان جنرالان او مارشالان شول .ژباړن)

نو اې هلکه! که ته هم غواړې په راتلونکي کې په عسکرو حکمونه وچلوې. باید لیک لوست زده کړې او بیا به هغه کس هم درته سر ټیټ کړي چې په غاړه کې یې د سرو زرو امیل وي. پر روان تخت به سپور وې او غلامان به دې د جنګ ډګر ته بیایي.

په شرابو پسې تللي ماشوم له شرابو ډک منګی را اخیستی و او بېرته راستون شو چې ور سره د بوډا سترګې له خوشحالۍ برېښېدې او ویې وویل:

ستا پلار هېڅ وخت جنګ نه دی کړی. ان د یوې لیندۍ مزی نه شي کشولای او یوه توره له پوښه نه شي ایستلای خو له دې امله چې لیک لوست کولای شي. نن سبا ډېر ښه ژوند لري او له دې امله چې نیک خویه انسان دی زه ورسره بخیلي نه کوم.

کله چې ما ولیدل بوډا منګی په لاس کې پورته کړ او له دې وېرې چې د هغه نشه پر موږ اغېزه ونه کړي او موږ هم د اوبو په لښتي کې ونه لوېږو چې نور خلک مو جامې ولوټي. نو د پلار لستوڼي مې راکاږه چې له هغه ځایه لېرې شو. کله چې موږ لېرې شوو این تب د جنګ یوه سندره ویله او هغه ماشوم ورته خندل چې ده ته یې شراب راوړي ول.

زه چې سینوهه نومېږم له خپلې دې پرېکړې تېر شوم چې په راتلونکي کې به سپاهي کېږم. او په دې توګه بله ورځ ښوونځي ته روان شوم.

دويم څپرکی

ښوونځي ته تګ

زما پلار دومره توان نه درلود چې ما په معبد کې جوړ شوي ښوونځي ته واستوي. ځکه چې هلته د اشرافو او د معبد د ملايانو يا د لومړۍ ليکې د کاهنانو زامنو او لوڼو سبق وايه او د ليک لوست د زده کولو لګښت يې ډېر زيات ؤ.

زما ښوونکی د درېيمې درجې ملا ګڼل کېده چې د خپل کور په برنډه کې يې ښوونځی جوړ کړی و. موږ په پسرلي او اوړي کې په برنډه کې درس وايه او په ژمي کې به کوټې ته تللو.

د هغه په شاګردانو کې د افسرانو، سوداګرو، او کوچنيو ملايانو زامن ول. چې پلرونو يې هيله کوله زامن يې د کانونو حساب کتاب وکړای شي او يا، دا حساب وکړای شي چې د پوخ خره او اسان په غوجله کې څومره وابنه خوري او د جنګ په ډګر کې د اسونو د وښو خرڅ څومره دی.

د نړۍ په ستر ښار طبس کې په کورونو کې جوړ شوي دغه ډول ښوونځي ډېر زيات ول او په دغو ښوونځيو کې د محصلينو د زده کړې لګښت ډېر نه و. ځکه چې شاګردانو خپلو استادانو ته د مسو بنګړي نه ورکول. بلکې هغوی ته يې خواړه او تو کران ورکول.

د مثال په توګه د سکرو پلورونکي زوی به ښوونکي ته په ژمي کې سکاره او لرګي ورکول. د تو کر اوبدونکي بچيانو به ورته تو کر راوړ او کروندګرو به وابنه او غنم ورکول.

خو زما پلار به د تعليم لګښت په درملو پوره کاوه او کله به ما خپل ښوونکي ته د درمليزو بوټو جوشانده ورکوله چې په شرابو کې به خيشته شوې وه.

له دې امله چې موږ ښوونکو ته د هغه د ورځني ژوند توکي برابرول هغه به راسره سختي نه کوله او که به کوم ماشوم پر خپلې تختې ويده شو. سزا يې دا وه چې پر بله ورځ به يې خپل معلم ته لږ شات او باقلي ورکول.

کله چې به کوم ماشوم ښوونکي ته يو منګی بير (داوربشو اوبه) ورووړلې نو هغه به

زموږ لپاره د جشن ورځ وه . ځکه چې کله به ښوونکي بیر وځښل نو تعلیم او لیکنه به یې هېر شول او په کندا سه خوله به یې موږ ته د خدایانو په هکله ځو خندونکې کیسې کولې. موږ به دومره وخندل چې په کوڅه کې تېریدونکي خلک به ودرېدل او غوږ به یې ونیو چې موږ ولې خاندو.

خو کله چې زه لوی شوم. پوه شوم چې زموږ ښوونکي یو ستر هدف درلود او غوښتل یې په دغو خندونکو کیسو موږ په ژوند کې له اصلي دندو سره بلد کړي او په دې مو پوه کړي چې په ټولو خدایانو کې یو خدای شته چې سر یې د شغال په شان دی، دغه خدای تل د انسانانو اعمال څاري او که څوک بد کار وکړي دغه خدای. انسان هغه ځناور ته اچوي چې نیم بدن یې د تمساح او نیم نور یې د سمندري اس په شان دی او دغه ځناور به یې وخوري.

هغه به ویل یو بل خدای هم شته چې د سیندونو له پاسه کشتۍ چلوي او له مړینې وروسته انسان هغه ځای ته بیایي چې باید هلته نیکمرغه شي.

په دغه ښونځي کې له یوې مودې تعلیم وروسته یوه معجزه وشوه او هغه دا چې کله مې دوه شیان سره یوځای کړل نو په مانا یې پوه شوم.

کله چې دغه تصویر پر تختې وایستل شي ، نو تر ټولو کم عقله کسان هم پرې پوهېږي چې څه مانا لري.

خو کله چې دوه یا څو انځورونه سره یوځای وکښل شي یوازې لوستی کس پرې پوهېږي چې دغه تصویرونه څه مانا لري.

کله چې تاسې پر تختې باندې د یوه سړي انځور وکاږئ او یوه نالوستي کس ته یې ورکړئ . هغه پوهېږي چې دا یو سړی دی او که د یوه تمساح انځور رسم کړئ او هغه یوه نالوستي کس ته ورکړئ . هغه پوهېږي چې دا یو تمساح دی.

خو کله چې یو څوک په دې پوه شول چې یو سړی .له یوه تمساح او یوې ونې سره یوځای څه مانا ورکوي او د دغو انځورونو له یوځای کولو ستاسو موخه څه ده ؟نو دغه کس لوستی دی .(په مصر کې هغه وخت انځوریز خط دود وو .ژباړن)

له هغې ورځې چې زه په دې پوه شوم چې دوه یوځای شوي انځورونه څه مانالري ؟نور مې دې ته اړتیا نه درلوده چې بودا معلم مې د درس زده کولو ته وهڅوي.

دومره شوق را سره پیدا شوی و، چې کله به کور ته راغلم له پلاره به مې غوښتل چې څو

انځورونه سره ونښلوي چې زه يې مانا پيدا کړم. د زده کړو پر وخت متوجه شوم چې له نورو سره يوځه توپير لرم. مخ مې ګردی او لاسونه او پښې مې ښکلي او ظريف ول. خکه خو هلکانو څورولم او د کروندګر زوی به مې ستوني ونيوه او ويل به يې ته د نجونو په شان يې . زه به مجبوره شوم چې په خپل قلم د هغه لاس تينګ کړم چې خوشې مې کړي.

خو د دې اپوټه يوه هلک چې پلار يې افسر و . له ما سره مينه کوله ، دغه هلک به هره ورځ ټولګي ته يو موټی خاوره راوړله او هلته به يې د حيواناتو مجسمې جوړولې.

يوه ورځ يې زما مجسمه جوړه کړه او ماته يې راکړه او کله چې ما مجسمه کورته راوړه ، د مور مې خوا بده شوه او وې ويل ، دا د کوډګرو کار دی ، خو پلار مې پوه کړه چې که د مجسمې جوړول کوډې وي ، نو د فرعون په کورکې به يې دومره ډېرې مجسمې نه اېښودې.

په ښوونځي کې زما د زده کړې يوه موده تېره شوه . تر دې چې يوه ورځ زما پلار نوې جامې واغوستې او زه يې له لاسه ونيولم او د آمون معبد ته يې بوتلم . ويل يې نيت لرم چې تا په دارالحيات کې داخل کړم چې هلته د طبابت تعليم وکړې.

د دارالحيات ښوونځي کې د داخلېدا لپاره د معبد د ملايانو هو کړه پکار وه . او پلار مې له دې امله چې ټول عمر يې د سوالګرو درملنه کړې وه له ملايانو سره راشه درشه نه درلوده او دې چارې په ژوند کې ډېر تاوان وراړولی و . خکه چې په مصر کې هرڅه او ټول کارونه د ملايانو په لاس کې دي. دوی د دارالحيات د ښوونځي لپاره شاګردان انتخابول . ماليه دوی ټولوله او د نيل سيند د راختو او مستېدو پر وخت به هم د سيند د راختو اندازه دوی معلوموله.

دوی دومره قدرت لري چې کله که فرعون څوک محاکمه کړي او دغه محکوم سړی په ملايانو کې څوک پېژندوی ولري نو د فرعون حکم هم لغوه کوي.

پلار مې په دغه معبد کې څوک نه پېژندل او مجبور شو په انګړ کې پر ځمکه کښېني چې د نورو په شان نوبت واخلي او بيا يې له يوه ملا سره خبرې وکړي.

مونږ چې سهار معبد ته تللي وو . تر مازيګره پورې هلته کېناستو خو نوبت را نه غی.

په دې وخت کې يو کس معبد ته ننوت چې پلار مې وليد نو ويې پېژاند او ويې ويل دا پاتور دی ، ما چې په دارالحيات کې درس وايه ، دی زما ټولګيوال و ، خو اوس د فرعون د کوپړۍ سوری کوونکی دی.

زه په هغه وخت کې نه پوهېدم چې د کوپړۍ سوری کوونکی څه کوي او څه ورتياوې لري

چې نور تري بې برخې دي، وروسته چې طبيب شوم، پوه شوم چې د جمجمې سوري كونكي هغه څوك وي چې د فرعون او نورو كسانو د سر كوپړې سوري كوي او هغه غدې او تومورونه تري راباسي چې په سر كې پيدا كېږي .

له دې پرته كوپړې سوري كونكي هغه كس دى چې كوپړې سوري كوي له سر څخه خطرناک او زهرجن بخارونه راباسي چې په سر كې تولېږي او انسان ته ستونزې پيدا كوي

پلار چې مې پاتور وليد، له ځايه پاڅېد او سلام يې ورته وكړ. پاتور هغه وپېژاند. لاس يې په اوږه وركېښود او ويې ويل دلته څه كوې؟

پلار مې ځواب وركړ، ددې لپاره راغلى يم چې له ملايانو اجازه واخلم او خپل زوى په دارالحيات ښوونځي كې داخل كړم.

پاتور وويل ستاسې هڅه ګټه نه لري او ستاسې غوښتنه به ونه منل شي. خو زه به ستاسې كور ته درشم او په دې اړه به له تاسې سره مشوره وكړم.

پر بله ورځ مې پلار سهار وختي بازار ته لاړ او د خپل ميلمه پاتور لپاره يې يو غاز، لږ شات او څو دانې كبان راوړل او هغه يې زما مور ته وركړل، چې غاز پوخ كړي، كبان سره كړي او په شاتو سره پتيرې پخې كړي.

كله چې د خوړو په زړه پورې بوى په كور كې خپور شو سوالګر او رانده د كور مخې ته راټول شول مور مې چې هرڅو مره ورته وويل چې ولاړ شيء دوى نه تلل او بالاخره مې مور اړه شوه چې يوه اندازه وچه ډوډۍ، د غاز په غوړو كې دننه كړي او پر هغوى يې ووېشي چې لاړ شي.

پلار مې په يومنګي كې خوش بويه اوبه واچولې. ماته يې راكړ او ويې ويل كله چې پاتور راشي د هغه پر لاسونو يې ور واچوم.

مور مې دكتان يو ټوكر زما په څنګ كې راكېښود، او ويې ويل كله چې دې د هغه پر لاسونو اوبه ور واچولې نو بيا د غه كتان د هغه لاسونه ور وچ كړه.

دغه كتان هغې دخپلې جنازې د پردې لپاره برابر كړى و.

مور فكر كاوه چې پاتور به له معمول سره سم مازديګر زموږ كور ته راشي خو مازديګر تېر شو، شپه راخوره شوه پاتور رانغى.

زه چې وږى وم د پاتور په نه راتګ خپه شوم ځكه پوهېدم چې كه پاتور رانه شي ماته

هم خواړه نه راکوي.

پلار مې دومره خپه و چې له تیارې وروسته یې ځراغونه روښانه نه کړل او زه او پلار په برنډه کې په یوه کټ ناست وو او جرئت مو نه شو کولای چې یو بل ته وګورو.

زه پر هغې ورځ پوه شوم چې غفلت یاد وړو کسانو پر وړاندې د لویو کسانو بې پروایي دېوزلو او هغو کسانو لپاره چې کمزوري دي څومره کړوونکې خبره وي.

بالاخره په کوځه کې مشالونه ښکاره شول او د مشالونو ترشا یو روان تخت تر سترګو شو چې دوه تور پوستي یې لېږدوي. خو د مشالونو لېږدونکي مصریان ول.

کله چې پاتور پر ځمکه ګام کېښود، پلار مې لاس په نامه ورته ودرېد. پاتور یا له ډېرې مینې او یا هم ددې لپاره چې لاس چېرته تکیه کړي. زما د پلار پر اوږه لاس کېښود.

پلار او پاتور دبرنډې پر لور رهي شول او مور مې په بېړه د پخلنځي له نغري یو لګېدلی لرګی راووړ اوزموږ دوه ډېوې یې بلې کړې.

پلار مې پاتور په چوکۍ کېناوه. ما یې پر لاسونو اوبه ور واچولې او په کتاني ټوکر مې وروچ کړل.

هېڅا خبرې نه کولې. پاتور ماته وکتل او زما پلار ته یې وویل زوی دې ښکلی دی.

بیا یې وویل ترږی یم او شراب یې وغوښتل.

پلار مې شراب ورکړل. پاتور لومړی شراب بوی کړل، چې ډاډه شو، ښه شراب دي نو بیې وڅښل.

هغه چې د شرابو په ازمویلو او څښلو بوخت و، ما ورته خیر خیر وکتل. بوډا سړی و. لنډ وپښتان یې درلودل. لنډې پښې، ننوتلی ټټر او غټه خېټه یې وه. په غاړه کې یې د سرو زرو امیل اچولی و او په کالو کې یې ډېرې ټاپې لیدل کېدې.

د شرابو تر څښلو وروسته مې، پلار د هغه مخې ته خوږه ډوډۍ سره کړې کبان. خواړه او میوه کېښودل.

له دې سره سره چې له ورایه معلومېدل پاتور له کومې میلمستیا راستون شوی خو دحیا اونزاکت له مخې یې خواړه وخوړل او د خوندونو صفت یې وکړ. زه متوجه شوم چې مور مې د پاتور له صفتونو خوشحاله شوه.

پاتور وویل چې زما مشال وړونکو دومره ډوډۍ خوړلې چې شرابو او نورو شیانو ته اړتیا نه لري. خو ښه به وي چې دغو تورپوستو ته لږ خواړه او د اوربشو اوبه ورورړی.

ما ووړی. او داوریشو او به وروړي خو هغوی ددي پر ځای چي خوشحاله شي ښکنځلي يې کولي او ويې ويل نه پوهيږي دغه بوډا کله روانيږي چي له دې ځايه لاړ شو؟

ما ورته وويل . زه نه پوهيږم او بيرته ستون شوم. ومي کتل چي د پاتور مشال ورونکي ترونې لاندې ويده دي .

پر دې شپه زما پلار ددې لپاره چي خپل ميلمه د شرابو څښلو ته وهڅوي د شرابو په څښلو کې افراط وکړ او له دې وروسته چي اخيستل شوي شراب خلاص شول زما د پلار طبي شراب يې هم وڅښل ، بيا يې داوريشو د اوبو هغه منګی هم تش کړ چي په کور کې ايښی و. دواړه مست شول. په دارالحيات کې يې د خپلو زده کړو د وختونو په هکله خبرې وکړې او تېرې خاطرې يې بيان کړې.

پاتور به ويل زما دنده ياني د فرعون د کوپړۍ سوري کول د يوه تنبل کس لپاره ډېره ښه دنده ده. ځکه چي په طب کې له غاښونو ، غوږونو او ستونې پرته هيڅ يوه څانګه د کوپړيو له سوري کولو اسانه نه ده. ځکه چي د غاښونو ، ستوني او غوږونو څانګې هره يوه بيل متخصص غواړي.

پاتور به ويل چي که زه تنبل نه وای او کومه بيله څانګه مې خوښه کړې وای اوس به معمولي طبيب وای. ستا په شان به وای. د خلکو د معالجې وس به مې درلود او هغوی ته به مې ژوند وربښلی وای. خو زه اوس له خلکو ژوند اخلم.

کله چي خلک له بوډاګانو او سپين سرو او لاعلاجه ناروغانو په تنګ شي ما ته يې راولي. چي زه يې کوپړۍ سوری کړم. زه هم کوپړۍ سوری کوم چي تاواني بخارونه يې له سرونو وباسم او بيا بوډاګان او ناروغان ومري.

بيا پاتور پلار ته مخ واړاوه او ويې ويل. که زه ستا په شان د بېوزلو ډاکتر وای خېټه به مې دومره نه وای ستره شوې.

دغه خېټه چي د ګرځېدا مخه يې نيولې ده. له دې امله دومره غټه شوه چي د فرعون ډاکتر يم او تل خوندور او قوي خواړه راکوي.

خو ته چي بېوزله يې هومره ډوډۍ خورې چي ستا بدن ورته اړتيا لري ځکه خو خېټه نه کوې او زما دوه برابره عمر به وکړې. ځکه چي د عمر د کمولو لپاره تر ټولو ښه لاره دا ده چي پاخه کړي خواړه وخوړل شي.

پاتور زما د پلار خوله خلاصه کړه او دهغه غاښونه يې وکتل. بيا يې خپله خوله

خلاصه کړه او ويې ويل وګوره زه په خوله کې ايله ديارلس غاښونه لرم. په داسې حال کې چې ته نهه ويشت غاښونه لرې زما غاښونه هغو خوړو خراب کړي چې پخېږي، خو ته بېوسه يې او هغه خواړه خورې چې ساده او طبيعي دي، نو خپل غاښونه دې ساتلي دي. بيا يې سر په ډېر حسرت وښوراوه او ويې ويل، زه ډېر تنبل او بې استعداده يم او ډېرو سرو او مسو په يوه حيوان بدل کړی يم.

پلار ماته وويل سينوهه! په دغو خبرو باور مه کوه، ځکه پاتور نن سبا د نړۍ تر ټولو تکړه مجسمه سوري کونکی دی او سلګونه کاهنيان او اشرافو د ده په لاس له مرګه ژغورل شوي دي.

دغه سړی پخپل کار کې دومره تکړه دی چې د هګۍ هومره يوه غده له مازغو وباسي او هغو ملايانو او خانانو چې ده له مرګه ژغورلي، ده ته سره زر، د طلا غاړکۍ او مس ورکړي دي.

خو پاتور هماغه راز په حسرت سر ښوراوه او ويل يې د هر هغه کس په بدل کې چې د کوپړۍ له سوري کولو وروسته ژوندي پاتې دي لس بلکې سل تنه مې وژلي دي.

ايا ترا وسه پورې تا اورېدلي چې يو فرعون د سر له سوري کولو وروسته درې ورځې ژوندی پاتې وي؟

هغه کسان چې وايي زما د جراحۍ چاړه له چخماق کاڼو ځخه جوړه ده او نيکمرغي راولي ريښتيا وايي، ځکه چې له کاڼي جوړه دغه چاړه يو کاهن، اشرافو، او يو شهزاده په څو ورځو کې وژني او د هغه سره سپين، پسونه او غواګانې او دغه راز دغلو دانو زېرمې يې وارثانو ته پاتې کېږي او هغوي ورسره نيکمرغه کېږي.

کله چې فرعون له خپلې يوې ښځې تنګ شي ماته راځي، چې د کاڼي پر دې چاړې هغه اسوده کړم او کله خو پخپله له فرعون سره هم همدالو به کېږي....

پاتور په دې وخت کې متوجه شو چې له خولې يې کوم شی راوځي چې بيا به وروسته پرې سخت پښيمانه شي، نو غلی شو او يوه شيبه وروسته يې وويل زه په ډېرو شيانو پوهېږم.... او ډېر رازونه زما په کوګل کې شته.

هغه څوک چې په دې خبرو پوه دي له ما وېرېږي، خو زه ډېر بدبخته يم ځکه چې په ډېرو شيانو پوهېږم او کله چې انسان په ډېرو شيانو پوه وي ډېر د خوا بدۍ احساس کوي.

پاتور په ژړا شو. خپلې اوښکې يې زما د مور په کتاني تو کر پاکې کړې او زما پلار

ته يې وويل ته بېوزله خو شريف سړی يې خو زه بدای او فاسد يم. زه د حيوانانو له هغو خوشيو هم بېکاره او پست يم چې په لارو او کوڅو کې پراته وي.
په همدې وخت کې يې له خپلې غاړې د سرو زرو اميل خلاص کړ او زما د پلار غاړې ته يې واچاوه.

خو پلار مې هغه اميل ونه مانه ځکه چې پوهېده د مستۍ په وخت ډالۍ حقيقي او له زړه نه وي او ممکنه ده هغه کس چې ډالۍ ورکوي پښېمانه شي او په بله ورځ يې بېرته وغواړي.

پلار مې او پاتور په کوټه کې د يو بل ترڅنګ، څملاستل او زه لاړم په برنډه کې ويده شوم.

سهار چې له خوبه پاڅېدم پاتور ته مې پام شو چې ويښ دی. پخپل ځای کې ناست و او په داوړو لاسونو يې سر کلک نيولی و. ويل يې داکوم ځای دی او زه دلته څه کوم.

زه د هغه خواته ورغلم او دواړه لاسونه مې پر زنګنو کېښودل، په ملا ټيټ شوم او ومې ويل پاتور دا ديوه ډاکتر کور دی، چې د ښار د بېوزلو معالجه کوي. ته بيګا په دې کور کې ميلمه وې او اوس له خوبه پاڅېدې.

له پاتور سره زما د خبرو له امله پلار هم له خوبه پاڅېد او مور مې چې له مخکې پورته شوې وه د ميلمه لپاره يو منګی تروې او تروه کبان راوړل.

بيامې د پاتور په لاسونو اوبه واچولې، هغه خپل سر ټيټ کړ او ويې ويل. پر سر اوبه رواړوه د هغه سر او لاسونه مې په کتان ټوکر وچ کړل.

پاتور تر دې وړاندې چې تروې او کب وخوري د باغچې پر لوري ولاړ او مشال وړونکي ته يې لغته ورکړه. چيغه يې وکړه اې غوباريه ! ايا د خپل بادار ساتنه همداسې کوې؟ زما تور پوستي چېرته دي؟ روان تخت مې چېرته دی؟

مشال وړونکی پاڅېد او پاتور ورته وويل. ولاړ شه. زما تورپوستي او روان تخت را پيدا کړه.

وروسته معلومه شوه چې د پاتور، تور پوستي تېره شپه د خپل بادار له ويدېدا وروسته د عياشۍ يوه کورته تللي او روان تخت يې هلته ګرو کړی. د بيې پر پيسو يې عياشي کړې او لاتر اوسه ويده دي.

پاتور خپل مشال وړونکي ته چې دغه خبر يې راوړی و. د مس يوه حلقه وکړه چې ولاړ شي. روان تخت او تورپوستي له ګروه خلاص کړي

بیا یې لږ شرومبی وڅښنه . له تروش کب څخه یې نمړی وکړه او وېې ویل ښکا مور د دغه هلک په هکله خبرې ونه کړای شوې. په داسې حال کې چې زه د همدغه کار لپاره راغلی وم.... وه هکله نوم دې څه شی دی....؟

ومې ویل زمانوم سینوهه دی.

پاتور وویل ایا لیکل اولوستل کولای شې ؟ومې ویل هو.

ویې ویل: لاړ شه د مړو کتاب رواړه.

زه لاړم او د پاپیروس یوه بسته مې چې د اموات کتاب پرې لیکل شوی و راوړه. هغه یې یوه برخه خوښه کړه او ما ورته ولوست.

بیا یې څو جملې وویلې چې ما ولیکلې، هغه ځیني انځورونه وکتل چې ما کښلي ول او خوښ یې کړل. ورپسې یې وویل ته ښه لیکل او لوستل کولای شې، خو دا راته ووایه چې څه شی غواړې چې درڅخه جوړ شي ؟

ومې ویل زه غواړم لکه خپل پلار طبیب شم او له همدې امله د دارالحیات ښونځي ته ځم

پاتور وویل: سینوهه هغه څه چې درته ووایم یې ښه واوره او په یادیې لره. خو دا هېره کړه چې دا خبرې چا درته کړې دي او هېڅکله دا خبره ونه کړې چې د مصر له سلطنتي جمجه سوري کونکي څخه دې اورېدلي دي.

هغه ځای چې ته د زده کړې لپاره ورځې د کاهنانو تاتوبی دی او ستا ژوند او پرمختګ د هغوی په نظر او رایې پورې اړه لري.

هلته باید خاکساره ، فرمانبرداره ، او غلی واوسې.

هېڅکله په کوم شي نیوکه مه کوه او هېڅکله خپلې باطني عقېدې مه څرګندوه. هرڅه چې تا ته وایي ویې منه او په دې پوه شه چې پخپل ژوند کې په تېره بیا په دارالحیات کې د ګیدړې غوندې چالاکه او د مار په شان غلی اوسه. خو په ظاهر کې ځان د کوترې په شان مظلوم او د مېږي غوندې بې خبره وښیه.

دا هېره نه کړې چې انسان یوازې یو وخت ځان هغه شان ښودلی شي لکه چې دی او دا هغه وخت وي چې پیاوړی او مذبوت شې او تر هغه وخته چې کلک او پیاوړی شوی نه یې سرټیټ او خاکساره پاتې شه. زه به همدا نن سپارښتنه وکړم چې تا دآمون په ښونځي کې ومنې اوله درې کلنې دورې وروسته د دارالحیات ښونځي ته لاره پیدا کوې. له دې وروسته پاتور له مور و پلاره رخصت واخیست ، په روان تخت کښیناست او ولاړ.

درېیم څپرکی

د طب لومړنی ښوونځی

په هغه وخت کې په طبس کې لوړې زده کړې د آمون د کاهنانو (ملایانو) په لاس کې وې او د دارالحیات ښونځی او روغتون د معبد ترسیوري لاندې کارکاوه.

ټول لوړ ښونځي د ملایانو په وسیله اداره کېدل او هغوی به د هغو کسانو په ټاکنو کې ډېر پام کاوه چې په دغو ښونځیو کې یې درس وایه. دوی به هڅه کوله هغه کسان چې له دوی سره مخالف ول له لوړو ښونځیو لېرې وساتي.

پر طب سربېره د حقوقو، سوداګرۍ، هندسې، ریاضیاتو، او ستور پېژندنې ښونځي هم د آمون په ښونځي کې ول. ملایانو له دې امله د محصلینو په انتخاب کې دقت کاوه چې د مصر نیمایي خاوره له روحانیونو سره وه. یانې ظاهراً له خدایانو سره او هغوی به دا اجازه نه ورکوله چې د دوی له پلویانو پرته نور کسان ډاکټران، حقوق پوهان، سوداګر، انجینران. او ستورپوهاند شي. د پوځ افسرانو هم تر دې وړاندې چې پوځ ته لاړ شي د حقوقو په ښونځي کې یې یو پړاو درس وایه، نو د آمون د معبد ملایانو به د مصر په ټول پوځي او اداري سیستم حکومت کاوه.

په دغو ټولو ښونځیو کې دوو ښانګو ډېر اهمیت درلود یو د طب او بل د حقوقو مدرسه وه.

د دغو دواړو ښونځیو لومړی پړاو درې کاله و او زده کوونکي باید درې کاله پکې پاتې شوي وای چې له امتحانه وروسته که د آمون خدای پرې څرګند شوی وای نو دا اجازه به ور کول کېده چې د آمون د طب یا حقوقو ښونځي ته ولاړ شي.

دا به په راتلونکو څپرکو کې درته و وایم چې د آمون خدای به څرنګه محصلینو ته څرګندېده؟ خو اوس وایم چې په پخواني مصر کې شاګرد ددې لپاره درې کاله په مقدماتي پړاو کې تېرول چې هر ډول خپلواکه فکر او نظر چې له پخوا ورسره وي د دوی په وجود کې له منځه یوسي.

په دغه درې کلن لومړني پړاو کې شاګردانو په معبد کې له عبادت کولو پرته بل هېڅ کار نه کاوه او یوازې مذهبي روایتونه به یې زده کول.

روحانیون په دې ښه پوهېدل، هغه شاګرد چې لومړنی او مقدماتي دوره ته راځي هغه ماشوم ته ورته دی چې نوی د ځواني پړاو ته ور ننوزي. تر هغه وخته یې لوبې کړې وې او خپلواک فکر او عقیده نه لري او د آمون د معبد ښوونځي ته د هغه د ورتګ پړاو هغه پړاو دی چې دی پکې نظر او عقیده پیدا کوي نو په همدغه پړاو کې باید دزده کوونکي د فکر ازادي له منځه یوسي او هغه په داسې یوه موجود بدل کړي چې له جنجاله پرته هغه څه ومني چې اوري یې یا یې لولي.

کله چې له دغه درې کلن پړاوه تېر شي، د طب او یا حقوقو ښوونځي ته ولاړ شي او د دغو دوو ښوونځیو په اړه د درسونو دورې تېرې کړي نو بیا پر یوه کامل ځوان بدلېږي.

ښو هغه ځوان چې د مصر د کاهنانو له تعلیماتو پرته یې نه څه اوریدلي او نه لوستي وي، د هغه فکر داسې د مصري ملایانو د تعلیماتو په چمبر کې حبس وي چې له لوړو زده کړو وروسته بل ډول فکر نه شي کولای.

مور یوه پښنځه کسیزه ډله وو چې د طب په لومړني ښوونځي کې مو درس پیل کړ.

زه چې به هر سهار ښوونځي ته تلم د غرمې ډوډۍ به مې له خانه سره وړله او ترلمر لوېدو مخکې به خپل کور ته ستنېدم.

له دې وروسته چې زه د آمون د معبد لومړني ښوونځي ته ولاړم ډېر ژر په دې پوه شوم چې درباري کوچنۍ سوری کوونکی ملامت نه و، چې ویل یې، ته باید فرمانبرادار و اوسې، سرټیټ و نیسې، هېڅکله نبو که مه کوه او خپله باطني عقیده مه څرګندوه.

ځکه چې ډېر ژر په دې پوه شوم چې ملایان په محصلینو کې جاسوسان لري، کله چې یو محصل پر یوې خبرې شک کوي او یوه خبره یا مسله ردوي نو هغه له ښوونځي باسي او بیا امکان نه لري چې دغه محصل بېرته د طبس یوه لوړ ښوونځي ته ولاړ شي.

دا نو د محصل د ایستلو لپاره هم اغیزناکه پلمه وه او ویل به یې چې آمون وایي دغه محصل استعداد نه لري.

پر کومه ورځ چې ښوونځي ته لاړم دیارلس کلن وم او له دې سره سره چې د ښوونځي تر ټولو کوچنی محصل وم او تر نورو زده کوونکو مخې ډېرې پکې د سترو روحانیونو او اشرافانو زامن ول ډېر پوه او با استعداده وم او ویلای شم، که یې زه په هماغه وخت کې د

طب ښونځي ته داخل کړی وای ،هم زده کړې مې کولای شوې او په هرڅه پوهېدای شوم خکه چې له ليک لوست پرته مې علمي معلومات هم درلودل.

له دې کبله چې مخکې مې وويل زما پلار ډاکټرو ، ما له هغه څخه د ډېرو درملو نومونه زده کړي ول او په دې پوهېدم چې څه ډول په تېلو د يو غير ميکروبي تپ معالجه کيږي او څه ډول انتاني تپ له دې وروسته چې زوې يې وايستل شي په اور سوځل کيږي چې بيا چرک ونه کړي.

ما داليدلي ول چې څه ډول زما پلار ديوې داينې مرستې ته ورځي او له يو کلک لرګي څخه په ګټنې سره د مور په خېټه کې ماشوم توېته کوي او د هغه تو تې له نسه راباسي چې مور له مرګه وژغورل شي.

له دې سره سره چې ما د نورو شاګردانو په پرتله دارالحيات ته د تګ لپاره ښه استعداد درلود ، خو درې کاله يې په لومړني ښونځي وځنډولم.

مګر ددې پر خلاف هغه هلکان چې پلرونه يې له اشرافانو يا لويو کسانو ول له څو اونيو يا ورځو وروسته دارالحيات ته لېږدول کېدل او ملايانو به ويل ، آمون امر کړی دی، چې دغه کسان دارالحيات ته واستوئ.

که څه هم زموږ ډېر وخت په عبادت او د مذهبي روايتونو په زده کولو تېرېده، خو بيا هم دومره وخت پاتې کېده چې روحانيونو به راته امر کاوه چې د مړو کتاب وليکو او بيا يې هغه کتابونه د معبد په انګړ کې خرڅول.

له دريو کلونو وروسته چې ما د وخت له ضايع کولو پرته بل اغېزناک کار . ونه کړ . هغو هلکانو ته چې زه هم پکې وم او د اشرافانو له ډلې څخه نه و، خبر راکړل شو چې دارالحيات ته د تګ لپاره چمتو شو .

دارالحيات ته تر تګ مخکې موږ بايد يوه اونۍ روژه نيولې وای ،خپل ټول وخت مو په معبد کې تېر کړی وای او له هغه ځايه نه وای وتلي.

په وروستۍ شپه بايد آمون خدای موږ ته ځان ښرګند کړی وای اوله موږ سره يې خبرې کړې وای. له هغه وروسته دا معلومېده چې موږ دارالحيات ته د تګ جوګه يو کنه؟

لکه چې ومې ويل تر درې کلن بهير وروسته چې د شاګردانو ماغزه يې د امون په اړه له افکارو ډک کړي وو نو دا ناشونې وه چې پر هغې شپه ذې له آمون سره خبرې ونه شي.

په شاګردانو کې زه ځانګړی وم. خکه له پلار سره به د ناروغانو په بسترې درېدم او د

هغوی مړینه به مې پخپلو سترګو لیده.

ما له ماشوموالي تر شپاړس کلنۍ پورې څه باندې پینځوس ناروغان کتلي چې زما په مخ کې مړه شوي ول.

له دې سره سره چې په هغه وخت کې ماشوم وم خو په دې پوهېدم چې له مرګ پرته هېڅ شی انسان د ملایانو د ځینو مطالبو چتې ماهیت ته نه متوجه کوي. ځکه انسان پخپلو سترګو ګوري چې د یوه انسان او یوه ځناور د مرګ ترمنځ توپیر نشته او په دې پوهېږي چې انسان پر ځمکه د آمون استازی او کفیل دی. د مرګ مخه نه نیسي بلکې پخپله هم مري.

انسان چې کله مرګ ویني په دې پوهېږي چې ټول مطالب او عقیدې چتې دي او هر څه چتي ورته ښکاري.

نورو شاګردانو زما په شان په وارو وارو د خلکو مرګ نه و لیدلی. ځکه خو یې زما په شان د ملایانو د روایتونو په اړه فکر نه شو کولای.

له دې وروسته چې یوه اونۍ مو په معبد کې تېره کړه او روژه مو ونیوله، پر اوومه ورځ یې زمونږ سرونه را وخریل او د معبد په لوی حوض کې یې وو ینځلو. بیا یې د هر څېره کالي چې د دارالحیات رسمي جامې وې را واغوستلې.

د لمر لوېدو پر وخت چې آمون د لوېدیځو غونډیو ترشا پټېده (دلته له آمون څخه مقصد لمر دی چې په عین حال کې د مصر لوی خدای هم و. ژباړن) ساتونکو نغارې ووهلې. د معبد دروازې وتړل شوې او په همدې وخت کې یوه روحاني، چې د شرابو د څښلو له امله کوږ ووږ روان و. موږ ته وویل راشئ!

موږ د دغه روحاني په لاربښونه له یوه اوږده دالانه تېر شو، هغه یوه دروازه پرانستله. موږ یې یوې پراخې کوټې ته ننه کړو، چې فرش شوې وه. ما ولیدل چې دغه کوټه تیاره وه خو په پورتنۍ برخه کې یې یوه پرده راځوړنده وه چې د هغې له شا څخه کوټې ته لړه رڼا رالوېده.

تر دې مهاله زه کله هم دې کوټې ته نه وم ننوتلی، خو په دې پوهېدم چې دا د آمون کوټه ده.

روحاني پرده پورته کړه او د لومړي ځل لپاره زما سترګې په آمون ولګېدلې چې د انسان په شان و. له دې امله چې خوان وم او په آمون خدای مې عقېده درلوده، نو بدن مې

ورېږدېد.

ماوليدل چې آمون جامې اغوستې وې. هغو څراغونه چې د امون ګېرچاپېره لګېدلي ول او هغو سرو زرو او ګران بيه کاڼو چې دامون پر غاړه ځوړندول هغه ته خلا وربښلې وه.

روحاني وويل تاسې بايد دلته ترسهاره ويښ واوسئ او عبادت وکړئ چې ښايي آمون خداى در سره خبرې وکړي.

که يې خبرې وکړې په دې مانا دي چې تاسې ددې وړ بولي چې دارالحيات ته داخل شئ. کله چې ددې وړ شوئ چې دارالحيات ته لاړشئ نو سبا به له ماسره يوځاى آمون ولمبوىء. د هغه جامې به بدلې کړئ او بيا به دارالحيات ته ولاړشئ.

د ملا له دې خبرو وروسته هغه د آمون په مخکې پرده بيرته کش کړه اوله دې پرته چې لاسونه په زنګنو کېږدي او سرتيټ کړي له کوټې بهرشو او دروازه يې بنده کړه.

ملا چې له کوټې ووت نو دغو شاګردانو چې تر مالوى ول خبرې اوخنداوې پيل کړې، له خپلو جيبونو يې غوښه او ډوډۍ راوايستله او په خوراک لګيا شول.

يو زده کوونکي دباندې ولاړ او بيا يې نورو ته وويل. راځئ د روحاني کوټې ته ولاړ شو. هلته به ډوډۍ هم وخورو او هورې به ويده هم شو. ځکه دلته پر کاڼو نه شي ويدېداى

خو زما روژه وه او دې ته چمتو نه شوم چې د نورو ډوډۍ وخورم.

ما په داسې حال کې چې امون د پردې شاته وي د ډوډۍ خوراک کفر باله.

نورو ځوانانو له ډوډۍ وروسته پر هډوکو لوبې پيل کړې (ښايي هدف يې دبېديو لوبه وي ژباړن) بيا هر يو د کوټې په ښويو او ځلېدونکو کاڼو پرېوتل او ويده شول.

خو ماته خوب نه راته. د آمون په فکر کې وم، خپلې مذهبي دعاګانې مې لوستلې او غوږ غوږ وم چې څه وخت به د آمون غږ اورم. په دې توګه سهار شو خو ما د آمون غږ وانه وربده او د لمر ختو په وخت کې مې په مبهم ډول وليدل چې د آمون په مخکې پرده لړه وښورېده.

سهار د معبد ساتونکو نغارې ووهلې. دروازې پرانستل شوې. خلک معبد ته ننوتل او ما دهغوى غږ چې د سمندر د څپو په شان چې له لېرې ترغوږو کېږي اورېد.

کله چې لمر راوخوت ملا له هماغه خوان سره جوړه کوټې ته راننوت چې د شپې تللى و چې په ارمه بستره کې ځملي او زه د دواړو له څېرو پوه شوم چې شراب يې څښلي ول.

ملا موږ ته وويل: اې هغو کسانو چې هيله لرئ دارالحيات ته ولاړ شىء. ايا بېګا

ويښ واست او عبادت مو وکړ ؟

موږ ټولو وويل هو !

ملا وويل ايا آمون د رسره خبرې وکړې او د هغه غږ مو واورېد ؟

يوه شېبه ټول غلي وو او بيا د موسى په نوم يوه شاګرد وويل هو ، هغه له موږ سره خبرې وکړې.

نورو شاګردانو هم دغه خبرې تکرار کړې، خو ماڅه ونه ويل.

ددې لپاره چې آمون له موږ سره خبرې نه وې کړې او حيران دې ته وم چې څه ډول نور کسان دا زړه کوي چې درواغ ووايي.

هغه ځوان چې بېګا د ملا کوټې ته تللى و ، هغه هم په ډېرې بې شرمۍ ووېل چې آمون ما ته هم ځان څرګند کړ، خو ځينې رازونه يې راته وويل او ټينګار يې وکړ چې هېچاته به يې نه وايم ، ما د هغه له ارام او مينه ناک غږ څخه خوند واخيست.

موسى وويل کله چې ما آمون وليد ، هغه مې پر سر لاس کېښود او ويې ويل اې موسى !زه تا او ستا کورنۍ ته برکت درکوم او ته به يوه ورځ د مصر مشهور طبيب شې.

له موسى وروسته هر شاګرد پر خپل وار له آمون سره د کتلو او د هغه د څرګندېدا په هکله د درواغو کيسې وکړې ، تر دې چې ما ته نوبت راغى او کاهن راته وويل سينوهه !ايا تا آمون وليد او هغه له تا سره خبرې وکړې؟

ومې ويل، نه.... ما هغه ونه ليد او د هغه غږ مې هم وانه وريد . يوازې سهار مې احساس وکړ چې پرده وښورېده.

ملا برګ برګ راته وکتل او ټول غلي شول.

يوه ځوان چې ښونځي ته له تګ راهيسې له ما سره ملګرى شوى و ، د ملا لاس ونيوه او ځنګ ته يې کړ ، بيا ورسره وبونګيده او کله چې راستانه شول ، ملا په کاوږ راته وويل سينوهه ! له دې امله چې ستا د عقېدې په پاکي او صميمت کې هېڅ شک نشته، نو ممکنه ده آمون له تاسره خبرې وکړي.

بيا د ملا په اشارې همغه ځوان پرده لېرې کړه، زه يې د آمون د مجسمې مخ ته بوتلم او ا ړ يې کړم چې له معمول سره سم پر ځمکه سر کېږدم ، وروسته يې همداسې پرېښودم.

ناڅاپه په کوټه کې يوه غږ انګازې وکړې او ماته يې وويل ، سينوهه !..... سينوهه !... مابېګاه هم غوښتل چې له تاسره خبرې وکړم خو ته ډېر تنبل يې ويده شوى وې.

ماسر راپورته کړ او ومې لیدل چې غړ د آمون له خولې راوخي بیا هماغه غړ وویل.
سینوهه! زه آمون یم او په دې جرم چې بېګا دې غفلت کړی باید تا د خوړونکي خدای په خولې کې واچوم. خو زه پوهېږم چې ته پر ما عقیده لرې او له همدې امله دې داخل بښم او

....

له دې ورسته زه پوه نه شوم چې دغه غږ څه وویل. ځکه چې پوه شوم. دغه غږ چې د آمون له خولې را ووت دهغه نه بلکې د هماغه ملا دی چې هلته موجود و.
له دې وروسته د کرکې، غوسې او عبرت یو حالت راته پیدا شو. تر دې چې ملا راغی او زه یې له ځمکې پورته کړم او ویې ویل راشه او د آمون په وینځلو او د جامو په بدلولو کې راسره مرسته وکړه.
زه سم نه پوهېدم چې څه ډول مې د آمون په وینځلو او د هغه د جامو په بدلولو کې له نورو سره مرسته وکړه. ځکه چې فکر مې پرېشانه و او داسې احساس مې کاوه. چې زما عقیدې یو لوی او نه جبرانېدونکی ګوزار خوړلی دی.
پر هغې ورځ یې زما پر سر سپېځلي غوړي وموښل او یو پاپیروس (مصري کاغذ. ژباړن) یې راکړ چې دارالحیات ته زما د ننوتو حکم و.
کله چې دارالحیات ته زما د ننوتو تشریفات پای ته ورسېدل او زه له معبده بهر شوم چې کور ته ولاړ شم نو له ډېرې کرکې او خپګانه کانګې راغلې او زړه مې بد شو.

خلوم څېرکی

په دارالحیات کې تحصیل

د دارالحیات د طبي ښوونځي استادان سلطنتي ډاکټران ول او ډېر لږ به دارالحیات ته راتلل. لامل یې دا و چې دوی ته به شتمن ناروغان ورتلل او دوی به د هغوی له درملنې څخه ډېر لږ وخت پیدا کاوه چې دارالحیات ته راشي.

خو ځینې وخت چې عادي ډاکټران به د ناروغانو په درملنه کې پاتې راغلل له دغو طبیبانو به غوښتنه وشوه. چې دارالحیات ته راشي او د ناروغانو درملنه وکړي.

په دې ډول به په طبس کې یو بېوزله کس هم هغه مهال چې نورو ډاکټرانو به یې درملنه نه کړای شوه، د دربار دیوه ډاکټر له علم او تجربې څخه ګټه پورته کوله.

له دې سره سره چې په طبس کې ډېر بېوزلي کسان هم دارالحیات ته راتلای شول او دلته یې درملنه کېدای شوه خو مانه غوښتل چې د هغوی پر ځای واوسم او د ځان وړیا درملنه وکړم.

په دارالحیات کې به خوانو او بې تجربې ډاکټرانو پر دغو بېوزلو ناروغانو نوي درمل ازمویل او اغیز به یې معلوماوه.

دغه راز کله چې به دوی غوښتل یو تېپي عملیات کړي، یا د یوه کس کوپړۍ وسپړي اویا د کوم ناورغ خېټه څیرې کړي نو د بېهوشۍ له درملو پرته به یې عملیات کول.

د بې حسۍ درمل به ګران ول، بېوزلو خلکو نه شوای رانیولای او بله خبره دا وه چې داراحیات هم دغه درمل ناروغانو ته نه ورکول.

له همدې امله چې به ځینې وخت څوک دارالحیات ته ننوتل د ناورغانو او هغو تېپیانو دردوونکې غږونه به یې اوریدل چې جراحي عملیات پرې کېدل.

د درالحیات د ښوونځي دزده کړې موده ډېره اوږده وه څکه چې محصل باید دطب په علم، دکوپړۍ او خېټې په سپړلو، د سږو، پښتورګو، مثانې او د ښځو دناورغیو د درملنې دلارو چارو پرزده کول و سربېره باید د ټولو درملو په اغېزه هم پوه شوی وای او

دا یې هم باید زده وای چې له بوټو څخه دغه درمل څنګه ترلاسه کېږي او کله باید بوټي راټول او وچ کړای شي.

د دارالحیات د ښوونځي محصل باید پوه شي چې کوم درملیز بوټي چېرته راټوکېږي او په کوم فصل کې باید وچ کړای شي او باید په لومړني نظر پخپله بوټي او د هغه وچه شوې بڼه وپېژني.

مثلاً د دېرشو ډولونو درملیزو بوټو ریښې به یې یوځای کولې او د محصل په مخکې به یې کېښودې، ورته ویل به یې دغه ریښې سره بېلې کړی!

کله کله به درباري ډاکټرانو هم د بوټو د ریښو پېژندلو په هکله تېروتنه کوله، ځکه چې د ځینو بوټو ریښې دومره سره ورته وې چې په اسانه یې توپیر نه کېده.

په دغسې حالاتو کې د درملیزو بوټو د ریښو د پېژندلو طریقه دا وه چې طبیب به د بوټي ریښه خولې ته واچوله، ژووله به یې او د هغې له خونده به یې معلوموله چې دا د کوم بوټي ریښه ده.

د دربار ځینو ډاکټرانو غاښونه نه درلودل او ارول، چې د بوټي ریښه وټکوي، کله چې به ښه نرمه شوه خولې ته به یې واچوله او د ریښې مزه به یې کتله بیا به ویل چې دا کوم بوټی دی.

په دارالحیات کې ترټولو سخته موضوع دا وه چې موږ باید د ګوتو او سترګو په وسیله د ناروغۍ تشخیص وکړو بیا و وایو چې د ناورغ کوم ځای درد کوي او دغه درد د کومې ناروغۍ له امله دی.

زه باوري یم چې یو طبیب تر هغه پورې سم ډاکټر نه دی چې له ناورغ سره سترګې پر سترګو شي او د هغه له سترګو او څېرې څخه د هغه ناروغي کشف نه کړي او یو طبیب چې د ناروغ پر بدن ګوتې تېروي باید د هغه درد احساس کړي.

له همدې لامله په هغو محصلینو کې چې دارالحیات ته به راغلل له څو تنو پرته به نور حقیقي ډاکټران نه شول. ان که به سلطنتي ډاکټران هم شول بیا به یې هم د ناروغۍ د تشخیص حس نه درلود.

په دارالحیات کې د دوه ډوله ناورغیو درملنه کېده. یو جسمي یا بدني ناورغۍ وې چې د پخو شویو خوړو او بوډاتوب له امله پیدا کېږي او دویم ډول یې اروایي ناروغۍ وې، ځکه چې اروا پخپله د ناروغۍ د رامنځته کېدا عامل وي.

ددې لپاره چې اروا . ناروغي رامنځته کړي، دغه دنده ورو روحونو ته سپارې او دغه روحونه دومره وارډوي چې د نوک په اندازه یوه ځای کې په لکونه ځایېدای شي خو هریو یکې په یوازې سر یوه ناروغي رامنځته کولای شي.

مونږ باید په دارالحیات کې پوه شو چې څه ډول په مسکنو او درد ضد درملو باندې د ناروغانو دردونه ارام کړو او څنګه له درده پرته د یو کس خېټه یا سر وسپړو.

مونږ باید دا هم زده کړې وای چې څنګه یو درد زیاتولای شو . ځکه چې ځینې ناروغی د درد له زیاتولو پرته نه شو معالجه کولای د زده کړې یوه ځانګه دا وه چې څنګه مونږ د یوې ناروغی په مرسته د بلې هغې درملنه کولای شو . په دې ډول چې یوه خطرناکه ناروغي به مو دیوې بې خطره ناروغی په وسیله معالجه کړه.

مونږ باید په دې پوه شو چې د ناروغ کومې خبرې سمې دي او کومې هغه د تخیل او تصور له امله کوي . ځکه چې ناروغ د هغه موجود په شان وي چې سپیره روح بندیوان کړې وي او وحشتناکه خیالونه او تصورات لري.

دناروغ په بدن کې چټې او خیالي دردونه هم پیداکېږي چې د غه دردونه له اصلي دردونو سره نه شي تشخیصېدای.

په دې وخت کې د ناروغ خبرې داکټر په غلطه لار بیولای شي او په غلط ډول یې معالجه کوي چې له امله یې بنایي ناروغ ومري.

کله چې زه په درالحیات کې وم نو پوه شوم چې د استعداد مسله د ډاکټر په روزلو کې اهمیت لري او ورسره په څنګ کې دا هم راته معلومه شوه ،څومره چې استعداد د طبیب په روزلو کې اهمیت لري تحصیلات یې نه لري.

ځکه کله چې څوک استعداد ونه لري نو دارالحیات چې د نړۍ ستر طبي ښوونځی دی، هغه نه شي روزلای او له هغه څخه تکړه ډاکټر نه شي جوړولای.

څوک چې دارالحیات ته ځي باید له طب سره مینه ولري او دې ته چمتو شي چې د دغه علم په لاره کې خپل هرڅه ځار کړي او تر ټولو مخکې باید سړی خپل استراحت او ارام قرباني کړي.

زه په دارالحیات کې پوه شوم چې یوه طبیب ته د درملنې پر مهال د ناروغ اعتماد ډېر ارزښت لري. ناروغ باید باور ولري چې د هغه معالج ډاکټر تکړه او پوه دی او تېروتنه نه کوی.

. له همدې امله باید ډاکټر تېروتنه ونه کړي. ځکه چې که تېروتنه وکړي ناروغ بیا پرې اعتماد نه کوي او په دې ډول هر راز درمل چې ناروغ ته ورکړي اغېز به ونه لري.

زه په دارالحیات کې پوه شوم چې ددې جملې مانا څه ده؟ چې وایي ډاکټران په ډله ییز ډول خپل ناروغان ښځوي

کله چې د شتمنو په کورکې کوم ناروغ پیدا کېږي نو د درملنې لپاره یې څو ډاکټران راځي. کله چې دویم او درېیم ډاکټر راشي او ګوري چې لومړني ډاکټر تېروتنه کړې ده نو دوی یې له دې امله چې پر ډاکټرانو د خلکو باور کمزوری او زیانمن نه شي نه افشا کوي او په دې توګه ناروغ د مرګ کندې ته پرېباسي.

هغه ډاکټران چې د شتمنو کورونو ته ورځي درباري طبیبان دي او کله چې خلک پوه شي، یوه درباري ډاکټر هم تېروتنه کړې نو بیا پر ټولو ډاکټرانو بې باوره کېږي.

غوره دا ده چې خلک هېڅکله د یوه ډاکټر په تېروتنه پوه نه شي. ځکه که پوه شي . بیا نو فکر کوي چې شونې ده هر ډاکټر تېروتنه وکړي. له همدې امله ډاکټران پام کوي چې د بل ډاکټر تېروتنه پټه کړي. ځکه چې بیا پر ده هم څوک اعتبار نه کوي. له همدې امله وایي چې ډاکټران په ګډه او ډله ییزه توګه خپل ناروغان ښځوي.

که څه هم په دارالحیات کې چېړاسیان شته خو دغه نوکران کار نه کوي. ځکه چې هلته ټول کارونه د نویو محصلینو پر غاړه وي.

هغه ځوانان چې نوي دارالحیات ته ورځي له ډېرو بې کاره او ګنده چېړاسیانو هم ټیټ او ګنده وي او تر ټولو چټل او ګنده کارونه هغه ته ورسپاري.

د معبد د سترو ملایانو او د شتمنو کسانو زامن له دغه کاره مستثنی دي. هغوی هم خپل کارونه بې وزله محصلینو ته ورسپاري چې په پایله کې یو بېوزله محصل هم د دارلحیات چېړاسي وي او هم د شتمنو نوکر.

تردې وړاندې چې په دارالحیات کې طبي څېړنې پیل شي باید محصل د پاکۍ او نظافت له تخنیک سره بلد شي او له دې حقیقت سره اشنا شي چې هېڅکله باید د وسپنې یا کاڼي چاقو و نه کاروي . یوازې هغه وخت دا کار کولای شي چې مخکې له مخکې یې په اور کې ایښی وي . دغه راز هېڅکله باید له یوه ټوکره څخه استفاده ونه شي مګر داچې مخکې له مخکې په هغو اوبو کې ایشول شوی وي چې ښوره (پوتاشیم نایټریټ) پکې اچول شوي وي.

ټول هغه لرګين وسايل چې په اور کې د ايښودو نه وي بايد تر کارولو مخکې ښه وايشول شي.

په اور کې د او سپينو او د برينو چاقوګانو ايښودلو او پر ښوره باندې د ګارېدونکيو ټوکرانو د وينځلو موضوع مې ذهن دومره بوخت کړي و، چې نيمه شپه به ناخاپه او وارخطا له خوبه راويښ شوم. ما به خوب ليده، چې چاقو مې په اور کې له ايښودلو پرته کارولی دی.

زه د دغو مسلو په هکله چې په نورو طبي کتابونوکې هم ليکل شوي دي ډېرې خبرې نه کوم. ځکه چې که هرڅوک يو طبي کتاب ولولي په دې خبرو پوهېدای شي.

زه به د هغه څه په هکله خبرې وکړم چې لا تراوسه په هېڅ يوه طبي کتاب کې نه دي ليکل شوي او ممکنه ده په راتلونکي کې هم ونه ليکل شي.

دارالحيات ځانګړې جامې درلودې چې کله موږ هلته ولاړو د غه جامې مو واغوستلې دغه جامې هم په دارالحيات کې د نورو کارېدونکو وسايلو په شان د ښوره په اوبو کې ايشول شوې وې.

هلته ټولو محصلينو يو ډول جامې اغوستلې خو په غاړه کيو کې يې توپير و. هرڅومره چې به محصل په خپلو زده کړو کې پر مخ ته، نو يوه نوې غاړه کۍ به يې په غاړه کې وراچوله.

زه هغه ځای ته رسېدلی وم چې د تکړه او کلکو کسانو غاښونه به مې ايستلای شول، مردار دانې به مې سوری کولې او زوې به مې ترې را ايستلې.

مات شوي هډوکي به مې داسې سره ښنګ پر ښنګ پټري کړل چې له روغو هډوکو سره به يې توپير نه کېده.

په لومړنيو ډولونو مې مړي هم موميايي کول، ځکه چې د مړو موميايي کول يو طبي عمل نه دی. بلکې عادي کسان، چې سواد هم ونه لري ديوه ډاکټر په حکم مړي موميايي کولای شي

ما ډېر زيار وايست او هرډول سخت کارونه به مې کول. ځکه چې له طب سره مې مينه درلوده. له دې امله به مې د لاعلاجه ناروغانو د جراحی په وخت پخپله خوښه تر ټولو چټل کارونه هم کول چې وګورم درباري ډاکټران څه ډول د لاعلاجه ناروغانو درملنه کوي؟ خو په دغو هرو لسو ناروغانو کې به نهه تنه مړه کېدل.

سلطنتي ډاکټرانو د لاعلاجه ناروغانو د معالجې لپاره له داسې لارو چارو کار اخيست چې تمساح هم په دې ډول نه معالجه کېږي.

زه ډېر ښه پوهېدم چې خلک بې ځايه له مرګه ډارېږي. ځکه چې پخپله مرګ ډار نه لري، بلکې د ډېرو کسانو لپاره خو د(آمون) خداى د ليدلو په څېر ستر نعمت هم دى.

د غه لاعلاجه ناروغان به تر هغې ورځې کرېدل چې ژوندي به ول. خو کله چې به ومړل د هغوى په څېره کې به ارامتيا او هوساينه ښکاره شوه. په دې ډول چې هرچا به ورته کتل پوهېدل. چې اسوده شوي دي.

په داسې حال کې چې ما دطبي تخنيکونو د زده کولو لپاره د درباري ډاکټرانو تر لاس لاندې لاعلاجه ناروغان معالجه کول. ناڅاپه له يوې معجزې سره مخامخ شوم. چې تر دې مخکې په ښوونځي کې هم ورسره مخامخ شوى وم او زما په روح کې دا فکر پيدا شو چې: (ولې؟)

زه تر دغه مهاله د (ولې ؟) په فکر کې نه وم. خو په همدې وخت کې پوه شوم. چې د(ولې) ټکى د ټولو رازونو اصلي کيلي ده او که څوک وکړاى شي چې ځانته ووايي. د (څه لپاره يا ولې؟) او له ډېر صميميت څخه ددې پوښتنې ځواب پيدا کړي نو په ټولو رازونو پوهېداى شي . ددې لامل چې پوهېدلى وم د(ولې)کلمه شته په دې ډول دى:

يوه ورځ يوه ځلوښت کلنه ښځه چې تر هغه وخته يې اولاد نه ؤ شوى دارالحيات ته راغله او په وحشتناک او ترهېدلي ډول يې وويل چې مياشتنى عاذت يې بند شوى دى.

دې ويل چې اوس څلوېښت کلنه شوې . نور به ماشوم رانه وړي او پوښتنه يې وکړه چې ايا د ناروغى يا مياشتني عادت بندېدل يې د بوډاتوب له امله دي. که يو پليت روح يې بدن ته ننوتى دى او هلته يې ځاى نيولى دى.

ما ښځې ته وويل چې د کتاب له مخې به هڅه وکړم چې پوه شم ستا د مياشتني عادت بندېدل د اميندوارى له امله دي. که د بوډاتوب؟

خو ته بايد هره ورځ دلته راشې او کله چې دارالحيات ته راځې خپلې متيازې يا بولې به هم موږ ته راکوې.

ښځې وپوښتل چې زما په بولو به څه کوئ؟ما ورته وويل ستا په بولو به غنم شنه کړو.

له هغه وروسته هماغه ډول چې په کتاب کې ليکل شوي ول. ما دوه پيمانې غنم لمر ته په ځمکه کې وکرل . پر يوه مې معمولي اوبه وشيندلې او پر بل مې د هغې ښځې بولې.

ښنې مې ورته کېښودلې چې د غه دواړه فصلونه سره غلط نه شي.
له هغه وروسته مې د غه دوه کوچني پټي یو په معمولي اوبو او بل د هغې ښځې پر بولو خړبول.
له څو ورځو وروسته هغه پټي چې د ښځې په بولو مې خړوب کړي و، ښه زرغون او مست شو او د غنمو وږيو یې وده وکړه. خو د هغه بل پټي غنم ډېر کمزوري ول.
ما هغې ښځې ته وویل چې خوشحاله او سه ځکه چې ستا د میاشتني عادت بندېدل د ډېر عمر له امله نه دي بلکې (امون) تا ته پام کړی او ته امیندواره یې.
ښځه په دې زېري دومره خوشحاله شوه چې ویې ژړل او د دوو «دنیو» په وزن یې د سپینو زرو یوه کړۍ راکړه، *(دنیه. یا دین. تریوه ګرام لږ. کابو نهه سوه ملي ګرامه وي او ښايي همدغه کلمه په وروسته پیړونو کې په دینار بدله شوې وي.)*
ځکه چې بدبختې ښځې دا هیله نه درلوده چې امیندواره کېږي به. فکر یې کاوه چې زړه شوې او د امیندوارۍ وخت یې تېر شوی دی.
له هغه وروسته یې له ما پوښتنه وکړه چې زما اولاد به هلک وي که نجلۍ؟
زه پوهېدم چې میندې ډېرې د زوی ارمان لري؟ نو ورته مې وویل ستا ماشوم به هلک وي.
خو د غه خبره مې له خیاله وکړه، ځکه چې په کتاب کې په دې هکله څه نه و لیکل شوي، خو فکر مې کاوه، کله چې یوه ښځه امیندواره وي د غه چانس چې ماشوم یې هلک وي که نجلۍ مساوي دی.
له دې وروسته چې د غه ښځه په خوشحالۍ له دارالحیات څخه ووتله ماله خان سره وویل ولې باید د غنمو یوه دانه په یو شي پوه شي، خو یو ډاکټر پرې پوه نه شي.
ځکه چې هېڅ ډاکټر په لومړیو دوو میاشتو کې تر هغه دیوې ښځې په امیندوارۍ نه شي پوهېدای چې خېټه یې لویه شوې نه وي
یوازې یخپله ښځه د میاشتني عادت د بندېدو په مرسته په دې موضوع پوهېدای شي.
پر دې ورځ د لومړي ځل لپاره د (ولې) کلیمه زما ذهن ته راغله، یوه استاد ته ورغلم او هغه ته مې وویل ولې د غنمو یوه دانه په دې پوهېدای شي چې یوه ښځه امیندواره ده کنه؟ خو موږ پرې نه شو پوهېدای.
استاد هک پک راته وکتل او ویې ویل دغه موضوع په کتاب کې لیکل شوې ده.

خو دغه ځواب قانع نه کړم او بل استاد ته ورغلم چې هغه د دربار ښځې لنګولې. له هغه مې پوښتنه وکړه ولې يو موټی غنم چې په ځمکه کې کرل شوي وي موږ ته دا رابښيي چې يوه ښځه اميندواره ده که نه؟

د سلطنتي مېرمنو د لنګون ډاکټر راته وويل د دې لپاره چې د ټولو خدايانو خدای (آمون) همداسې مقرره کړې چې که د اميندوارې مېرمنې په متيازو غنم خړوب شي ښه وده کوي.

کله چې هغه دغه ځواب راکړ يوه شوم چې ماته د يوه کليوال په سترګه ګوري او زه په دې پوښتنې سره د هغه په نظر ډېر وړوکی شوم.

خو د هغه ځواب هم قانع نه کړای شوم او په دې هم پوه شوم چې هغه او نور سلطنتي ډاکټران يوازې د کتابونو په متن او د درملو د کارولو پر علتونو پوهېږي او هېڅ يو هم په دې لټه کې نه دی چې له ځانه پوښتنه وکړي ولې او د څه لپاره بايد وسپنيزې او ډبرينې چړې تر کارولو مخکې په اور کې کېښودل شي.

يوه ورځ مې له يوه سلطنتي ډاکټر څخه پوښتنه وکړه کله چې د غېږې تارونه او فنګوسونه (کفک يا فنګس چې عام ډول يې پوپنک هم دی او د ډوډۍ او نورو خوړو په سر کله کله پيدا کېږي. يو ډول يې درمليز خواص هم لري) په تپ کېښودل کېږي، ولې ورسره تپ ښه کېږي؟ هغه په ځواب کې وويل د دې لپاره چې په کتاب کې همداسې ليکل شوي او دود همداسې دی.

په کتاب کې ليکل شوي ول. هغه کس چې ډبرينه يا وسپنيزه چاړه کاروي د انسان په بدن کې يو سل و دوه اتيا جراحي عمليات کولای شي.

د دغو ۱۸۲ جراحي عملياتو ډول او څرنګوالی په کتاب کې ليکل شوی دی. کله چې ما پوښتنه وکړه ولې ۱۸۳ ډوله عمليات نه شو کولای ځواب راکړل شو چې کتاب همداسې ليکلي دي. دود همداسې دی او بايد له دودونو او هغه څه څخه چې په کتاب کې ليکل شوي دي سرغړونه ونه کړو.

ځينې کسان به ډنګر شول او څېرې به يې سپينې شوې خو ډاکټرانو به ناورغي نه شوای موندلی. مګر په کتاب کې ليکل شوي ول چې دغه ډول کسان له هېڅ ډول ناروغۍ پرته ډنګرېږي او د څېرې رنګ يې سپين شي، دغه کسان بايد د څارويو ځيګر خام وخوري.

کله چې ما له سلطنتي ډاکټرانو پوښتنه وکړه چې ولې دغه کسان چې دځارويو خام ځيګر خوري چاغېږي او د مخ سپينوالی يې له منځه ځي. هغوی به ويل ددې لپاره چې په کتاب کې همداسې ليکل شوي دي او يا دا چې دود همداسې و.

زه پوه شوم چې زما پوښتنې د دې سبب شوې چې شاګردان او استادان ماته په بله سترګه وګوري او داسې ګمان يې کاوه چې زه ليونی شوی يم. يا دا چې فکر کوي زه يو ساده او احمق يم او د ځرګندو مسلو په هکله پوښتنې کوم.

موږ هېڅکله له دارالحيات څخه بهر نه وتلو. ځکه دومره ډېر کار مو درلود چې بهر ته د تلو وخت را سره نه پاتې کېده.

پر دې سربېره پر لومړي او دويم کال له دارالحيات څخه بهر وتل بند ول او ساتونکو به محصلينو ته اجازه نه ورکوله چې له دارالحيات څخه بهر شي. خو له دريم کاله وروسته يې اجازه درلوده چې له دارالحيات څخه بهر لاړ شي په دې شرط چې د هغوی زده کړې ته تاوان ونه رسېږي.

لومړی او دويم کال پر ما هم تېر شول او دريم کال راورسېد. پر همدې کال چې هغې ښځې د سپينوزرو کړی راکړه د ولې فکر راته پيدا شو.

پر دريم کال د دارالحيات په ټولو محصلينو کې د شتمنی له پلوه زه تر ټولو کمزوری وم له همدې امله د مړو د لېږد کار ما ته سپارل شوی و.

کله چې به يې کومه کوپړۍ سوری کړه، يا به يې کومه خېټه وڅيرله او بيا به هغه کس مړ شو، ما بايد د هغه مړی له دارالحياته بهر وړی وای. خو د رالحيات له کارکونکو پرته بل څوک نه پوهېدل چې زه مړی له دې ځايه باسم.

ځکه چې مړي به مې د دارالحيات له شاتنی دروازې څخه ايستل او د هغوی تر ايستلو وروسته به مې د درالحيات په بهرني حوض کې چې د نيل او به پکې تېرېدلې خپل ځان ووينځه.

يوه ورځ مې د مړي تر ايستلو او ځان تر وينځلو وروسته د حوض په څنډه کې کالي اغوستل چې يوې ښځې را باندې غږ وکړ: اې ځوانه نوم دې څه دی؟

ومې کتل چې زما د نوم پوښتونکې مېرمنې نري کتاني کالي اغوستي دي او کميس يې دومره نری و، چې سينې يې ښکارېدې. داسې برېښېده چې دغه مېرمنه ډېره بډايه ده ځکه د سرو او سپينو زرو لس بنګړي يې په لاسونو کې ول. سرې شونډې او تورې سترګې يې وې.

د سر له غوړو وېښتو يې خوندور بوی راته.

ما په دارالحيات کې تل ډېرې ناورغې ښځې ليدلې وې، خو کله چې مې دغه ښځه ولیده وشرمېدم، په داسې حال کې چې له نورو هغو ښځو نه شرمېدم چې خپله ډېرينه چاړه به مې پرې ګرځوله او عمليات به مې يې کاوه.

ښځه راته موسکې شوه او ويې ويل: ولې ځواب نه راکوې؟ بيا يې وپوښتل نوم دې څه دی؟

ما ځواب ورکړ: سينوهه.

ښځې وويل ځومره ښکلی نوم دی، ته چې په دې خريل شوي سر دومره ښکلی يې که وېښتان ولرې څومره به ښکلی شې.

فکر کوم له دې خبرې ورسته ډېر سور شوم ځکه دا لومړی ځل و، چې يوه ښځه له ما سره داسې خبرې کوي.

ددې لپاره چې له شرمه ځان پټ کړم او کومه خبره مې کړې وي و مې ويل ايا ته ناروغه يې او راغلې يې چې دلته د ځان درملنه وکړې؟ .

ښځې په خندا وويل: هو زه ناروغه يم خو معمولي نارغي نه لرم، له دې امله چې څوک نه لرم چې سات ورسره تېر کړم. نو نن دلته راغلم چې وګورم ددې ځای کوم ځوان مې خوښېږي.

کله چې ښځې دا خبره وکړه زه له شرمه، ووېرېدم او غوښتل مې چې ولاړ شم، خو هغې وپوښتل سينوهه! چيرته ځې؟

ومې ويل کار لرم او بايد لاړ شم. ښځې وپوښتل (سينوهه) د کوم ځای يې؟

ومې ويل: دهمدې ځای يم.

ښځې وويل دروغ وايې ځکه چې دبدن او څېرې رنګ دې سپين دی، واړه ښکلي لاسونه، غوږونه او پوزه لرې او کله چې ما له ليرې وليدې، خيال مې وکړ، يوې نجلۍ د دارالحيات د محصلينو کالي اغوستي دي.

کله چې مې داخبرې واورېدې، نه پوهېږم ولې مې زړه په درزېدا شو او په ځان کې مې غير عادي او حير انوونکی حالت احساس کړ. ښځې وويل سينوهه! ايا تا کله خپلې شونډې د يوې پېغلې پر شونډو اينبې دي او پوهېږې چې څومره خوند لري؟

.ما ويل: نه .... ما هېڅکله خپلې شونډې د يوې پېغلې پر شونډو نه دي اينبې.

.... ښځې وويل: زما نوم (نفر)دی او له دې امله چې ټول وايي ډېره ښکلې يم، ما ته (نفر

،نفر ، نفر) وايي (دنفر کلمه دلرغوني مصر په ژبه کې د ښکلې معنی ورکوله او (نفر ،نفر ،نفر) چې د ښکلې کلمې درې ځلې تکرار دی د ښکلا د صفت مبالغه ده او د غه ډول مبالغه په پښتو کې هم لرو لکه چې څوک وايي ډير ، ډير ښکلې خو په لیکنې ارخ کې خکه ډېره نه کارېږي چې له فصاحته لېږي ده . ژباړونکی)

او کله چې زه د لته ننوتم ستا ښکلې څېره مې خوښه شوه . تا ته بلنه درکوم چې زما کور ته راشې . چې په ګډه وڅښو او زه به تا ته درزده کړم چې څنګه له يوې ځوانې ښځې سره لوبې وکړې؟

په ياد مې شول چې پلار مې راته ویلي ول . که کومې ښځې درته وويل چې ته ښکلی يې بايد له هغې څخه ډډه وکړې . ځکه چې د دغه ډول ښځو په سينو کې اور بلېږي چې تا به وسوځوي .

ما ورته وويل :نفر ،نفر ،نفر (د دغه نوم له تکراره مې خوند اخيست) ستا په سينه کې داسې اور دی چې ما به وسوځوي .

ښځې وخندل او ويې ويل : چا درته ويلي چې زما په سينه کې اور دی چې تا به وسوځوي ؟

ځواب مې ورکړ : پلار مې دغه خبره راته کړې ده .

زما لاس يې ونيو او په خپل تي يانې پر کميس بر سېره يې پر خپلې سينې کېښود او ويې ويل ايا ته دلته د اور احساس کوې او ستا لاس سوځي ؟

ومې ويل .. نه ښځې خپل کتا ن کميس لېرې کړ او ويې ويل ښايي زما کميس د اور د لمبو مخه نيسي .. خپل لاس دلته کېږده او وګوره چې ايا زما په سينه کې اور شته ؟

ما نه يوازې د اور احساس ونه کړ بلکې کله چې مې د هغې پر سينو لاس کېښود د بهساري خوند احساس مې وکړ او کله چې ښځه متوجه شوه زما مقاومت يې مات کړی دی ، نو ويې ويل : سينوهه ! راځه چې لاړ شو او وڅښو او ديوې کنيزې په شان چې خان د خپل خاوند په واک کې ورکوي زه به هم خپل وجود تا ته وسپارم .

زه د ځوانې ښځې له دغه وړانديزه وېرېدلی وم ومې ويل (نفر ،نفر ،نفر) له ما تېره شه ځکه چې زه وېرېږم .

ښځې وويل له څه شي وېرېږې ؟ ومې ويل له تا وېرېږم او ستا کور ته له تګه ډارېږم .

ښځې په خندا وويل د فرعون زوی زما د درلودلو هيله کوي شتمن ځوانان ما ته د سرو او سپينو کړي راکوي چې يوه ورځ يا شپه ورسره تېره کړم . خو زه د هغوی غوښتنه نه منم .

له دې کبله ستا غوښتونکې شوم چې ته د مصر تر ټولو ښکلې ځوان یې او ما هېڅکله ستا په شان ښکلې ځوان نه دی لیدلی.

ومې ویل: (نفر نفر نفر) پر مارحم وکړه، په دې مه خوشحالېږه چې زه هم د نورو نارینه و په شان شم او خپله سپېڅلتیا له لاسه ورکړم، ځکه که یو نارینه له هغې ښځې سره ځملي چې آمون خدای ورته په نظر کې نه وي نیولې، خپله پاکي له لاسه ورکوي.

ښځې وخندل او ویې ویل: سینوهه! ته ډېر ساده یې زه حیرانه یم چې د طبس ښځو څنګه تر اوسه پرې ایښی یې، ځکه امکان نه لري چې ستا په شان یو ښکلی هلک د دغه ښار په کوڅو کې وګرځي او ځو نجونې یې تعقیب نه کړي، مګر دا چې تل له مور و پلار سره وي.

بیا یې وویل: سینوهه اوس چې نه غواړې زما کور ته لاړ شې او نه پرېږدې چې زه خپل ساعت در سره تېر کړم نو یوه ډالۍ راکړه.

ما غوښتل هغه د سپینو بنګړی ورکړم چې مخکې امیند اورې ښځې راکړی و. خو دې وویل دغه بنګړی زما لیاقت نه لري، باید دا سې ډالۍ راکړې چې زما وړ وي.

ما ورته وویل چې زه یو بې وزله ځوان یم او تا ته ګران بیه ډالۍ نه شم درکولای.

ښځې وویل که دا سې وي نو زما ډالۍ ومنه او هغې خپله یوه ګوتمۍ له ګوتې را وایسته او ما وکتل چې شین رنګه غمی لري او هغه یې ماته ډالۍ کړه.

ما غوښتل د ګوتمۍ له اخیستلو ډډه وکړم خو ویې ویل زه یوه بډایه ښځه یم، تا ته دې ګوتمۍ درکول پر ما کوم اغېز نه کوي، خو د دې سبب به شي چې ته ما هېره نه کړې، ښایي یوه ورځ راشي او نه له دې شرمه ورتېر شې او پر دغې ورځ به د دې ګوتمۍ په بدل کې ماته ډېرې ډالۍ راکړې. ګوتمۍ مې ترې واخیسته، پیغله په موسکا رانه روانه شوه، ما احساس وکړ چې له معبده تر وتلو وروسته به پخپل روان تخت ناسته وي او خپل کور ته به تللې وي.

پینځم څپرکی

د مجسمه جوړوونکي هنرمن نصیحت

سلطنتي ډاکټر(پاتور) چې رسمي نوم او درجه یې کوپړۍ سپړونکی و، یوه ورځ زموږ کور ته راغلی و، ډوډۍ یې وخوړه او د پلار په مخ کې یې راته وویل: په دارالحیات کې مطیع او فرمانبردار اوسه هېڅکله نیوکه مه کوه. هرڅه چې وایي ویې منه. خو ما خپل حقیقت پلټونکی حس نشوای ارامولای او د(ولې) ځواب مې لټاوه.

سلطنتي ډاکټرانو د دارالحیات معلمینو او محصلینو له دې کنجکاوۍ کرکه کوله زه د دارالحیات پر درېیم کال پر دې پوه شوم چې پاتور ولې ویلي ول چې باید نیوکه ونه کړم او هرڅه چې راته وویل شي له جنجال پرته یې باید ومنم.

خو ومې ویل چې پوهه د تېزاب په شان ده . د انسان زړه خوري او پوه سړی د نورو په شان ناپوهه کېدای نه شي چې ځان په ساده توب او حماقت ورته واړوي.

هغه څوک چې له سره احمق وي له دې ناپوهۍ خځه کړېږي خو هغه کس چې حقیقت یې موندلی وي، ځان د احمقانو په شان نه شي ښودلای.

مالیدل هغه ډاکټران چې په ټوله نړۍ کې مشهوره شوي او له نینوا او بابل څخه ناروغان ورته د درملنې لپاره راځي، دومره شعور نه لري چې پوه شي د څه لپاره دغه درمل ناورغ ته ورکول کېږي ؟

دوی یوازې دا وایي چې په کتاب کې همدا لیکل شوي دي ، خو زه په دغسې حالت کې غلی نه شوای کېناستلی.

زما د نیوکو او کنجکاوۍ پایله دا شوه چې په دارالحیات کې یې زما د پرمختګ مخه ونیوله او اجازه یې رانه کړه چې د خپلو زده کړو بل پړاو پیل کړم.

هغه محصلین چې له ما سره په یوه ټولګي کې ول له ما مخکې شول او تر ما څو پړاوه مخته ولاړل. خو زه د دارالحیات په درېیم کال کې همداسې پاتې وم.

په داسې حال کې چې ویلای شم په دغو محصلینو کې هېڅ یوه زما په شان استعداد نه

درلود او هیڅ یوه زما په شان له طبابت سره مینه نه درلوده.

له نیکه مرغه په ټولې دغې مودې کې چې د سلطنتي ډاکترانو په امر له پرمختګه منع شوم د (آمون) نوم مې وانه خیست او له نورو به مې یوازې دا پوښتنه کوله چې ((ولې ؟))

ځکه چې که مې د آمون نوم اخیستلی او یا مې ویلي وای چې آمون نه پوهېږي او له دې امله چې پخپله بې خبره و. نو ږي هم تېر ایستي دي. نو زه بې له دارالحیات څخه ایستلم او ما په دې ډول په طبس کې تحصیل نه شوای کولای. بیا به اړ وم چې سوریې یا بابل ته لاړ شم او هلته د مرګ تر وخته پورې د یوه ډاکټر تر لاس لاندې کار وکړم.

خو درباري ډاکترانو له ښوونځي څخه زما دایستلو لپاره لاسوند نه درلود له همدې امله یې په دې بسنه کوله چې د تحصیل په پړاوونو کې زما د پرمختګ مخه ونیسي.

په دارالحیات کې له څو کلونو ژوند کولو وروسته مې یوه ورځ د ښوونځي کالي وایستل او غسل مې وکړ په هغا دي کالیو کې له ښوونځي څخه ووتم او غوښتل مې خپل مور و پلار ته ورشم.

کله چې د طبس له سړکونو تېرېدم و مې لیدل چې د ښار بڼه بدله شوې ده او د سوریې د ډېر او سپېدونکي او تورپوستي په ښکلو جاموکې په ښارکې ګرځي. پخوا بهد دغو کسانو شمېر ډېر لږ و.

پر دې سربېره له هرې خوا د سرياني موسيقۍ (د سوريې موسيقي .ژباړونکی) غږونه اورېدل کېدل او دغه غږونه د عیاشۍ له ځانګړو کورونو راتلل.

له دې سره سره چې په ښار کې د عیش و عشرت نښې نښانې زیاتې شوې وې. خو خلک اند ېښمن ښکارېدل. داسې برېښېده چې ټول د یوې بدبختۍ انتظار کوي او له اوسني حالته ګټه نه شي کولای چې خوشحاله وي.

زه هم د نورو په شان اند ېښمن او غمجن وم. ځکه چې پوهېدم زما عمر په دارالحیات کې ضایع کېږي او څوک مې ترقۍ ته نه پرېږدي.

کله چې کور ته ورسېدم د مور و پلار په لیدو ډېر خپه شوم.

دواړه ډېر زاړه شوي ول. پلار مې دومره زوړ شوی و. چې دلیک د لیدو لپاره مجبوره و کاغذ ترخپلې پوزې پورې سترګو ته ورنژدې کړي او مور مې یوازې د خپل مرګ په هکله خبرې کولې.

زه په دې پوه شوم چې دواړه بریالي شوي چې په ډېرې سپما سره د نیل سین په لوډېځ

کې د هغې هدیرې ترڅنګ چې کاهنینو یې ځمکه په ډېره لوړه بیه خرڅوله د ځان لپاره یو قبر واخلي.

پلار و مور ته بوتلم چې د مور د غه قبر چې پلار به مې هم یکې خاورو ته سپارل کېده راوښیي.

ومې لیدل چې د غه قبر له ښتو جوړ شوی او یوه کوچنۍ ودانۍ ده چې دیوالونه یې معمولي تصویرونه او کلیمې لري.

پلار و مور د ګډ ژوند له پیله هیله درلوده .د ډېرو یو قبر ولري چې په راتلونکي کې باران او لمر او د نیل سین غیر معمولي سیلابونه هغه وران نه کړي. خو خپلې د غې هیلې ته ونه رسېدل او اړ شول د خښتو د غه قبر جوړ کړي.

په هغه ځای کې چې زما د پلار و مور قبر یې جوړ کړی و، د مصر د فرعونانو قبرونه د هرم په بڼه له لېرې ښکارېدل او هرځل چې زما مور و پلار اهرامونه کتل اسویلی به یې وایست. ځکه چې پوهېدل اهرامونه هېڅکله نه ورانېږي او باران ،لمر او د نیل سیند غیر عادي سېلابونه اونیزونه د هغو اډانې نه شي ورانولای.

ما د مور و پلار لپاره د مړو (اموات)یو کتاب له غلطۍ پرته لیکلی و ،چې له مړینې وروسته یې په قبر کې له ځان سره کېږدي او زما مور و پلار په بلې نړۍ کې د مړو د کتاب د تېروتنو له امله ورک نه شي.

له دې وروسته چې د قبر له لیدو خلاص شوو کورته ستانه شوو او مور مې خواړه راکړل.

پلار راځخه د تحصیلاتو پوښتنه وکړه او ویې ویل زویه د مرګ لپاره دې څه فکر کړی دی؟

ومې ویل پلاره زه لاکوم عاید نه لرم چې د مرګ فکر وکړم او کله چې مې تنخوا او عاید پیدا کړل د بلې دنیا فکر به هم وکړم.

(قدرمن لوستونکي باید توجه وکړي هر ټکی چې په دغه کتاب کې لولي یو تاریخي حقیقت دی، د دغه کتاب ارزښت دا دی چې د نړۍ په ټولو ژبو ژباړل شوی دی او داچاره دهمدې تاریخي ټکو له امله ده مثلاً په دغه ځای کې د مرګ په حال کې یو بوډا پلار له خپل ځوان زویه پوښتنه کوي: د خپل مرګ لپاره دې څه فکر کړی دی؟ ځکه چې په لرغوني مصر کې له هغه وخته چې یو کس به ځوان شو د ژوند تر وروستۍ شېبې پورې له

مړګه د وروسته پړاو لپاره د وسايلو د برابرولو فکر کوي او هغه اهرامونه چې په مصر کې ودان شوي دي د همدې لپاره وو. ژباړونکی)

تر لمر لوېدو وروسته له مور و پلار ره جلا شوم او کله چې له کوره راووتم د ښکلو هنرونو ښوونځي ته ور روان شوم چې په يوه معبد کې و. ځکه پوهېدم چې يو پخوانی ملګر ی مې هلته دی.

د دغه ځوان نوم توتمس و او د ښکلو هنرونو په برخه کې يې ښه استعداد درلود، ډېره موده مو سره نه وو ليدلي.

کله چې د ښکلو هنرونو مدرسې ته ننوتم شاګردان د خپلو معلمانو په مرسته په کار بوخت ول او چې کله يې د توتمس نوم واورېد، نو له کرکې يې ناړې پر ځمکه تو کړې يوه وويل چې هغه يې له دې ښوونځي وشاړه.

بل وويل که غواړې هغه پيدا کړې بايد داسې ځای ته لاړ شې چې هلته خدايانو ته ښکنځلې کېږي، ځکه چې توتمس خدايانو ته ښکنځلې کولې.

دريم وويل هر چيرته چې لانجه او جنګ وي توتمس هم هلته دی او له هر جنګه وروسته ژوبلېږي.

خو کله چې ښوونکی لاړ او شاګردان پوه شول چې هغه نشته، ما ته يې وويل هغه (د سوريې صراحی)په نوم په يوې ساقي خانه کې پيدا کولای شې، دغه ساقي خانه دبېوزلو د محلې په وروستی برخې او د شتمنو د محلې په سر کې ده.

هورې بېوزله هنرمندان او هغه کسان چې د ښکلو هنرونو له ښوونځي شړل شوي دي راټولېږي او دا يې د ډېره ده.

ما له زحمت پرته دغه ساقي خانه پيدا کړه، ومې ليدل چې توتمس په زړو جامو کې په يوه څنډه کې ناست دی او داسې ښکاري چې همدا اوس له يوې لانجې خلاص شوی دی، ځکه چې تنده يې پړ سېدلې وه.

توتمس چې کله زه وليدم لاس يې پورته کړ او ويې ويل: سينوهه ته او دا ځای ؟ څنګه دلته راغلې ؟ ما فکر کاوه چې ته به يو ستر ډاکټر شوی يې.

ما ورته وويل زړه مې له غمونو ډک دی، يو ملګري ته مې اړتيا درلوده چې له هغه سره يو څه وخښم ځکه چې پلار مې ويلي لړ څښل د غمونو د لېرې کولو او ځان خوشحالو لپاره ښه وي.

زه په دې خپه يم چې څوک نه شي کولای د (ولې) ځواب راکړي او هغه کسان چې دغه ځواب نه شي راکولای ماته د لیوني په سترګه ګوري.

توتمس خپل لاسونه راوښودل چې وښيي د شرابو د اخیستلو لپاره سره یا سپين نه لري.

خو زما په لاس کې دوه کړۍ، سپین زرول. هغه ته مې وروښودل او یوه کړۍ چې هغه وه چې امینداري ښځې ماته راکړې وه.

وروسته مې د ساقي خانې خاوند را وباله. هغه راغی او خپل دواړه لاسونه یې پر زنګنو کېښودل ټیټ شو، ما ترې وپوښتل څه ډول شراب لرې؟

هغه وویل دلته چې هر ډول شراب غواړې شته او زه به خپل شراب په رنګارنګ جامونو کې درکړم. تردې چې د هغو په لیدو سره به ستاسې د زړونو جامونه هم ډېر ژر خوشحاله شي.

توتمس وویل موږ ته د نرګس له عطر و سره ګډ شوي شراب راوړۍ.

غلام راغی او زموږ پر لاسونو یې اوبه راواچولې.

بیایې د هندوانې زنې پر مېز کېښودل او وروسته یې شراب راوړل. هغه جامونه چې شراب پکې اچول شوي ول، ړنه او رنګین ول.

توتمس شراب په دې هیلې وڅښل چې د ښکلو هنرونو ښونځي او د هغه ښوونکي له نه غږېدونکي خدای سره مخامخ شي.

ماهم په دې هیله خپل شراب وڅښل چې د آمون ټول ملایان له همدغه خدای سره مخامخ شي.

په کراره مې خبرې وکړې او توتمس وویل مه ډارېږه، ددې ساقي خانې ټول ګاکان زما او ستا په شان ازاد فکر لري.

له دوو جامونو وروسته د شرابو رڼا زموږ زړونه روښانه کړل. ما وویل په دارالحیات کې زه له تور پوستو غلامانو هم پست او رالوېدلی یم او له ما سره داسې چلند کېږي چې ته وا ورانکاری یم.

توتمس وپوښتل ولې در سره داسې چلند کېږي؟

ومې ویل ددې لپاره چې وایم (ولې).

توتمس وویل ته د ډېرې سختې سزا وړ یې ځکه کله چې وایې (ولې یا د څه لپاره؟) د

هغو کسانو پر دین اعتقاداتو او شتمنۍ یرغل کوي چې په مصر حکومت کوي.... او هغوی پوهېږي چې ستا دغه پوښتنه د هغوی قدرت، شتمنۍ او نیکمرغۍ ته تاوان رسوي، نو مجبور دي چې تا وشړي.

زه خو حیران یم چې څنګه تراوسه پورې په دارالحیات کې پاتې یې .ولې دې نه شړي او زما پر برخلیک چې د ښکلو هنرونو له ښوونځي شړل شوی یم نه اخته کېږې.

دغه کسان چې ته يې ګورې ښايي د رنګ ، جسم ، او د بدن د پوستکي او ان د مذهبي عقیدو له پلوه تو پیرونه ولري خو له یوه پلوه ګډه عقیده لري او هغه دا چې څنګه دغه موهومات او ناسمې عقیدې او دغه تشکیلات پخپل حال وساتي . ځکه چې دغه تشکیلات د هغوی او د هغوی د بچیانو په ګټه دي. دوی له دغو تشکیلاتو مخکې هم حکومت کاوه او قدرت لري. بل دا چې د دوی شتمني به هم ورځ تربلې زیاته شي.

خو ته وايې(د څه لپاره؟) غواړې د دغو تشکیلاتو بنسټ وران کړې او د هغوی ناپوهي ثابته کړې.

که هغوی پخپلو کې اختلافات هم ولري خو ستا پر خلاف به یو ځای شي چې تا له منځه یوسي. ځکه چې ستا خطر د هغوی ترمنځ له اختلافاتو ډېر زیات دی او تر هغه چې مصر وي او په دغه هېواد کې اهرامونه شته هغوی به که ستا په شان لکونه کسان قربان هم کړي دغه تشکیلات به وساتي . ځکه چې د دوی د قدرت ضمانت کوي او هرڅوک چې مخالفت وکړي هغوی به د آمون یا فرعون په نامه له منځه یوسي.

بیا تو تمس راته وویل کله چې زه د ښکلو هنرونو ښوونځي ته ولاړم داسې خوشحاله وم چې له مرګه وروسته به مې په اهرامونو کې ښخوي.

کله چې ما کارپیل کړ لومړی مې په قلم پر تختوانځورونه کاږل وروسته مې بیا نرمه خاوره د مجسمو د جوړولو لپاره وکاروله او په پیل کې به مې د موم په مرسته د هرې مجسمې قالبونه جوړ ل کړل ، وروسته به مې د هغو له مخې ډبرینې مجسمې جوړولې.

دغه مهال زه د هغه ترې په شان وم چې اوبو ته رسېدلی وي او هر کار به مې په شوق سره کاوه. تر دې پورې چې یوه ورځ مې لته وکړه چې د خپلې خوښې او سلیقې په اساس مجسمې جوړې کړم او هغو ته بڼه او رنګ ورکړم.

خو پر دې ورځ ناڅاپه د ښکلو هنرونو استادانو اعتراضونه پیل کړل او ویې ویل دغه مجسمې چې ته يې جوړول غواړې له قانون سره سمې نه دي. ځکه همغه ډول چې د خط هر

توری خپله خاصه بڼه لري او له هغه پرته ليکل نه شي کېدای. په ښکلو هنرونو کې هم هره څېره او مجسمه خپله خاصه بڼه لري داسې نه شي کېدای شي چې له هغه پرته بل ډول مجسمه جوړه کړې او يا نوی رنګ پکې وکاروې.

د ښکلو هنرونو د رامنځته کېدا په وخت کې د هغه سړي انځور چې ناست او يا ولاړ دی رانبودل شوی دی او موږ هم همغه ډول چې زموږ پلرونو انځور کړي دغه تصويرونه باسو.

د پنځون له پيله. هنرمندانو د حرکت په وخت کې د خره د لاسونو د پورته کېدو، يا ښکته کېدو ډولونه په انځورونو کې معلوم کړي دي.

که موږ د هغوی پر خلاف انځور وباسو کفر به مو کړی وي او په دې ډول به موږ هنرمندان ونه بولي چې هرڅوک دې پخپله خوښه او سليقه تابلو ګانې وباسي او يا دې مجسمې جوړې کړي.

هرڅوک چې زموږ د قانون او دود پر بنسټ انځور وباسي يا مجسمه جوړه کړي موږ هغه په ښوونځي کې منو، هغه ته د کار لپاره پاپي روس کاغذ او نرمه خاوره، ګانې او دنجاري او حجاري وسايل ورکوو او هرڅوک چې زموږ د قوانينو پر بنسټ عمل ونه کړي هغه به د ښکلو هنرونو له ښوونځي وباسو.

ای سينوهه زه هم ستا په شان وم او په ښوونځي کې مې خپلو استادانو ته وويل ولې بايد داسې وي او ولې بايد داسې نه وي؟ ولې ديوې مجمسې سينه تل په شنه رنګ رنګېږي او ولې يې تل سترګې سرې جوړېږي؟ ايا غوره نه ده چې ديوې مجمسې سترګې تورې کړو او جامې يې په هغه ډول رنګ کړو چې پخپله يې غوښتې دي.

خو د معبد کاهنين هرچېرته ښوونکي او استادان دي، هغوی زه له ښوونځي وايستلم او له همدې امله مې اوس په همدې ساقي خانه کې په پرېښدلي مخ ګورې.

خو ای سينوهه! له دې سره سره چې کاهنين په معبد او هغو ښوونځيو کې چې په دغو معبدونو کې يې جوړ کړي دي کلک نښتي دي او خپل دودونه او رواجونه نه پرېږدي، هڅه کوي هر نوی فکر په همغه لومړي سر کې له منځه يوسي او نه پرېږدي چې د تحول او بدلون لپاره کوم ګام پورته شي خو زه ذا احساس لرم چې دنيا داسې بدله شوې چې حيرانوونکې ده.

دغه کسان چې اوس د طبس په ښارکې ګرځي که څه هم په آمون او نورو مصري

خدايانو عقيده لري خو له هغوی څخه نه وېرېږي او د جامو په اغوستلو کې هم بې پروا دي دغه بې پروايي لوړې درجې ته رسېدلې شي، څکه چې خلک په ډېرې بې شرمۍ خپلې سينې او خېټې په رنګارنګ جامو کې پټوي، په داسې حال کې چې پاک خدای انسان لوڅ لېږ پنځولی دی. ددې لپاره چې انسان تل لوڅ وي او هېڅکله خپل بدن پټ نه کړي ان ښځې د نارينه و په شان بې شرمه شوې دي او داسې جامې اغوندي چې سينې او خېټې يې پټوي

(لوستونکي دې توجه وکړي. هغه څه چې په دغه کتاب کې ليکل شوي تاريخي واقيعتونه دي. په قديم مصر کې خلکو داسې جامې اغوستلې چې د هغوی سينه او خېټه به يې نه پټوله او لوڅې سينې وېاړو. ژباړونکی)

زه چې په دغو حالاتو فکر کوم ګمان مې دی. چې په وروستيو زمانه کې يو او ډېر ژر به دنيا پای ته ورسېږي.

که پېنځوس کاله مخکې يوې ښځې يا يوه نارينه داسې جامې اغوستلې چې سينه يا خېټه به يې پټوله خدايانو ته د سپکاوي په تور به يې سنګسار کړل. خو اوس همدا ډول ښځې او نارينه د طبس په واټونو کې ازادګرځي.

اوه! دغه دنيا څومره زړه شوې ده. سخ دې وي په هغه کسانو چې دوه زره کاله مخکې يې دغه ستر هرم. زر کاله مخکې يې دغه وړوکی هرم جوړ کړی دی. لاړل او اوس ژوندي نه دي چې دغه حالات وګوري.

د شرابو جام پر دې سربېره چې زموږ زړونه يې ښاد کړل، زموږ ارواګانې يې هم داسې سپکه کړه لکه چې توتکی په منې کې الوت کوي (په مصر کې د نيل سيند په منې کې مستېږي او سيلابونه راځي نو توتکی هم په منې کې را څرګند ېږي)

توتمس وويل: ښه به داوي چې پاڅو. د عياشۍ يوه کور ته لاړ شو او د نڅا ننداره وکړو چې تو له شپه د (ولې) په هکله فکر ونه کړو.

ما د ساقي خانې خاوند ته ناړې کړې. هغه رانژدې شو، دواړه لاسونه يې پر زنګونو کېښودل او ټيټ شو. ما له دوو سپينو کړيو څخه يوه هغه ته ورکړه چې د شرابو او زېو بيه ورو ګرځوي. د ساقي خانې خاوند د شرابو او زېو د بيې له ګرځولو وروسته د مسو څو کړۍ بېرته ماته راکړې. ما د مسو يوه کړۍ هغه مريي ته ورکړه، چې موږ ته يې شراب راوړي ول او زموږ پر لاسونو يې اوبه رااچولې وې.

کله چې مو غوښتل له ساقي خانې ووځو، نو شراب پلورنکي رانږدې شو او د درناوي په دود ټیټ شو. ویې ویل که مو زړه غواړي چې له سریاني نجونو سره ساعت تېر کړئ، زه یې خپنې پېژنم. چمتو یم چې تاسې ته لارښونه وکړم او د دغو نجونو کور دروښیم.

د هغوی کور ته د ننوتو شرط دا دی چې تاسې به له ماځخه یو منګې شراب واخلئ او د هغوی کور ته ور شئ. کله چې هغوی شراب وګوري تاسې ته به لاره درکړي چې کور ته ورننوځئ.

توتمس وویل زه له سریاني نجونو څخه چې زیاتره یې زما د مور په شان زړې دي کرکه کوم. فکر کوم هغوی هغه نجونې دي چې کله زما پلار ځوان و، ورسره یې ساعت تېر اوه.

د ساقي خانې خاوند وویل زه به د داسې نجونو کور درو ښیم چې کله د هغوی څېرې وګورئ زړونه به مو له خوشحالۍ ښاد شي او هغوی به په ډېرې خوشحالۍ سره دې ته چمتو شي چې ستاسې خوښې شي.

خو توتمس ونه منله او زه یې له ساقي خانې بهر کړم، موږ د ښار په واټونو کې وګرځېدو.

د طبس ښار شپه او ورځ نه لري. شپه یې هم د ورځې په شان وي او خلک د ښار په کوڅو او واټونو کې ګرځي.

بډای عیاشان پر روان تخت سپاره له واټونو تېرېدل او د ساعت تېرېو د کورونو په دروازو او په څلور لارو کې مشالونه سوځېدل.

له ځینو دغو کورنو د سریاني موسیقۍ (د سوریې موسیقي) غږونه اورېدل کېدل. له ځینو کورنو څخه د تورپوستو د ډول غږونه راتلل او موږ به پوهېدو چې د دغو کورونو ښځې تورپوستې دي.

توتمس باور درلود چې ځینې تورپوستې ښځې ښکلې وي او کله چې انسان هغوی د خپلې خور په توګه غوره کړي نیکمرغه به شي (*څلور زره کاله مخکې په مصر کې خور او ورور د واده اجازه درلوده له همدې امله نارینه و. به خپلې ښځې د خور په نامه یادولې. ژباړن*)

زه په څو څو ځله له خپل پلار سره یو ځای د ناروغانو کورونو ته د تګ لپاره د طبس له واټونو تېر شوی وم.

خو تر دې شپې پورې نه پوهېدم چې د عیاشۍ د کورنو داخلي حالت به څنګه وي؟

توتمس یوه کوچنې کور ته بوتلم چې د انګورو پیشۍ په نامه یادېده. هلته پر غولي

نرم فرش خپور و ، څراغونو زېړ پوښونه درلودل.

د دې کور ښځې د څراغونو د زېړې رڼا له امله ښکلې ښکارېدې او ومې کتل چې څینې پکې شپیلۍ او څینې بربط غږوي.

یوې نجلۍ له هغه وروسته چې زه یې ولیدم شپیلۍ پر ځمکه کېښوده راپاڅېده او ماته راغله لاسونه یې زما پر لاس کېښودل او بله نجلۍ تو تمس ته نژدې شوه او خپل لاس یې د هغه په لاس کې کښود . هغې چې زما پر لاس یې لاس ایښی و ، زما لاس یې پورته کړ او ویې کوت . بیا یې زما پر خرېیل شوي سر نظر تېر کړ او ویې پوښتل :ته د طب په ښوونځي کې درس وايې که د حقوقو یا سوداګرۍ او که د ستورپېژندنې؟

له دې امله چې د تو تمس لاسونه څېره ول ، هغې نجلۍ ورته وویل چې هغه به د ښکلیو هنرونو په ښوونځي کې درس وايي ځکه چې د حجارانو او مجسمه جوړونکو لاسونه هم د طبیبانو او محصلینو په پرتله څېره وي.

له هغه وروسته مې د ډېرو شرابو له امله په یاد نه دي چې څه وشول خو په مبهم ډول مې احساس وکړ چې په هغه کور کې له یوې تورپوستې سره ونښتم . یو وخت مې ځان له کوره بهر په ناولې لښتي کې ولید او ومې کتل چې له ماېې د سپینو زرو او مسو کړۍ هم اخیستې دي.

د پلار خبره رایاده شوه چې ویل به یې کله چې انسان ډېر وڅښي نتېجه یې داشي چې کله ستر ګې پرانیزي نو په لښتي کې به پروت وي. تو تمس د نیل سیند څنډې ته بو تلم چې هلته خپل په خټو ککړ مخ او لاسونه وو ینځم.

کله چې دارالحیات ته ستون شوم سهار شوی و ، له دې سره سره چې د ډېرو شرابو د څښلو له امله مې حالت ښه نه و ، خو ځان مې د غوږونو برخې ته ورساوه ځکه چې پر دې ورځ مې باید په دې برخه کې کار کړی وای.

په دهلیز کې معلم ولیدم ، دغه سړی د غوږونو د ناورغیو متخصص او درباري ډاکټر و ، زما شلېدلو جامو او پړسېدلې سرته یې وکتل او ویې ویل :سینوهه ! ته بېګا د عیاشۍ په کورونو کې وې؟ ماخپل سر تیټ نیولی و ، ښوونکي وویل ستر ګې دې راوښیه ! ما مې ستر ګې ور وښودلې او له هغه وروسته یې زما ژبه هم ولیده او نبض یې وکوت ویې ویل: بېګا دې ډېر څښلې دي . په دارالحیات کې د یوه محصل لپاره په شرابو کې افراط ښه نه وي ، ځکه چې هغه له کاره غورځوي . که ته ځان معالجه نه کړې ترسبا به

پر کاله وې او له زړه کار نه شې کولای، راخه چې مسهل درکړم چې کولمې دې پاکې کړي او د شرابو اغېز له منځه یوسي، خو په دې شرط چې نور به نه وایي چې(ولې)ځکه چې په دارالحیات کې د عیاشۍ کورنو ته تګ او شراب څښل عیب نه دی خو(ولې) پوښتنه ستر عیب ګڼل کېږي.

ما ترهغې شپې پورې له ښځې سره وېډېدل نه وو حس کړي او ګمان مې نه کاوه چې د یوې ښځې شتون به سړی دومره خوشحالوي.

له هغه وروسته به مې له هر فرصته استفاده کوله چې سپین او مس به مې درلودل د عیاشۍ کورونو ته به تلم.

له دې امله چې په دارالحیات کې به ناروغانو سپین زر راکول نو د فلزاتو ترلاسه کول به راته سخت نه و.

له هغه وروسته په دې پوه شوم چې د ښونځي معلمین چې پخوا په ما بدبینه ول دعیاشۍ کورونو ته ترنګ وروسته یې ماته په ښه سترګه کتل. ځکه پوه شوي ول چې زه په عیاشۍ کې دومره بوخت یم چې د نیوکو فکر راسره نشته.

په دغو حالاتو کې فرعون چې(امن هوتپ) نومېده سخت ناورغ و او درباري ډاکټرانو یې علاج نه شو کولای.

له دې سره سره چې هره ورځ به یې د فرعون له خوا په معبد کې قرباني کوله خو هغه ورسره نه ښه کېده.

داسې اوازه ګډه شوه چې پاچا پر آمون خدای غوصه شوی چې د هغه علاج نه کوي او په بین النهرین کې یې نینوا ته یو پلاوی استولی چې د نینوا له خدایه څخه چې(ایشتار) نومېږي مرسته وغواړي.

خو دغه موضوع له ملي پلوه دومره لوی شرم و، چې چا جرات نه شو کولای دغه خبره په لوړ اوزا وکړي چې فرعون دخان د درملنې لپاره د نینوا له خدایه مرسته غوښتې ده، خلکو به په کراره دغه خبره کوله.

یوه ورځ د نینوا د خدای مجسمه طبس ته ننوته، ما ولیدل چې یو شمېر روحانیون چې اوږدې ږیرې یې درلودې، د دغې مجسمې شاوخوا ته راغونډ شوي ول.

له دې سرهله دې، چې ما فکر کاوه زه یو روښاندی محصل یم خو له دې امله چې پردی خدای راغلی او زموږ د فرعون درملنه کوي کرېدم او کتل مې چې ټول محصلین او د

دارالحيات ښوونکي هم خپه ول.

پردی خدای د نیل له مستېدا تر یوې اونۍ مخکې پورې په مصر کې و، خو هېڅ ګټه یې ونه کړه چې د فرعون درملنه وکړي او موږ ټول د پردي خدای له ناکامۍ خوشحاله شوو.

سلطنتي کوپړۍ سوري کوونکی د دربار د نورو ډاکټرانو په شان دارالحيات ته راته، خو هغه هم د نورو په شان اند ښمن و او تر یوه وخته یې ماته توجه نه کوله.

کله چې یوه شو چې نورې پوښتنې نه کوم، جنجال نه جوړوم او نه وايم چې د(ولې) ځواب راکړۍ، نو له ما سره نرم شو او یوه ورځ یې راته وویل سینوهه! ستا پلار ستر سړی دی، خو د ټولو حقيقي مشرانو په شان بېوزله دی، زه ستا له پلار سره د ملګرتيا له مخې او د هغه درناوي پر بنسټ چې د هغه شرافت او ستر توب ته یې لرم غواړم له تا سره مرسته وکړم.

زه نه پوهېدم چې پاتور به څه مرسته راسره وکړي.

خو یوه ورځ یې خبر راکړ چې پاتور د فرعون د سر د کوپړۍ د سپړلو لپاره سلطنتي ماڼۍ ته ځي.

شپږم څپرکی

لاړو چې د فرعون کوپړۍ سورۍ کړو

ټول ډاکټران د فرعون له معالجې نهيلي شوي ول او يوازې د درملنې يوه لاره پاتې وه، هغه داوه چې د هغه د کوپړۍ وسپړي او وګوري چې ايا د هغه ماغزه کومه ستونزه لري کنه؟

دغه کار په هر حالت کې ګټه درلوده، ځکه چې که د هغه ماغزو کوم عيب درلوداى، نو د ماغزو عيب يې لېرې کاوه او که يې عيب نه درلوداى په کوپړۍ کې موجود زهرجن بخارونه يې را ايستل او د فرعون سر سپکېده.

پر هغې ورځ چې پاتور دفرعون مانۍ ته ورته چې سريې سورى کړي سهار وختي دارالحيات ته راغى او زه يې وروبللم هغه يو صندوق راکړ او ويې ويل په دغه صندوق کې زما دجراحۍ وسايل وي چې په اور کې اېښودل شوي يا اېشول شوي دي. غواړم ترد ې مخکې چې نن سلطنتي مانۍ ته لاړ شم دلته د دوو کسانو کوپړۍ سورۍ او وسپړم. ددې لپاره چې تمرين وکړې نو غواړم چې د کار په وخت کې ته دجراحۍ وسايل راکړې.

پوه شوم هغه مرسته چې پاتور غوښتل له ماسره يې وکړي همدا ده ځکه کله چې يو شاګرد د سلطنتي ډاکټر له لوري غوره کېږي چې دجراحۍ وسايل دعملياتو په وخت کې ور کړي هغه غوره شاګرد وي . دغه شاګرد دهغه نژدې کس وي او ددې لياقت لري چې دهغه طبي مرستيال شي.

له هغه وروسته پاتور مخکې او زه ورپسې هغې برخې ته ننوتو چې لاعلاجه ناروغان. مفلوجين او هغه کسان پکې پراته ول چې په سر کې زخميان شوي ول.

پاتور چې هلته ورسېد دځينو سرونه يې معاينه کړل او دوه تنه يې دجمجمې د سپړلو لپاره غوره کړل.

يو هغه لاعلاجه بوډا وو، چې مرګ ورته لويه نيکمرغي وه او بل يو کلک او

تورپوستی غلام چې په سر ته په ډبرې وهل شوی و ، نه یې خبرې کولای شوې او نه یې د بدن غړي ښورولای شول.

دواړه یې د جراحۍ هال ته بوتلل او بې له ځنډه یې د اپیمو شیره د هغوی رګونو ته ننه ایستله چې د درد احساس ونه کړي.

په چالاکۍ سره مې د هغوی سر ونه وخریل او بیا مې د فنګس (کفک) او شنجرف (VERMILION) محلول پرې وموښل ځکه چې په کتاب کې لیکل شوي ول. چې له جراحي عملیاتو مخکې باید د عملیات ځای په دغه ډول محلول پاک شي.

پاتور خپله چاره واخیسته. د سرپوستکی یې پرې کړ. پوستکی یې دواړو لورو ته واړو. په دې وخت کې د سر د پوستکي له دواړو غاړو وینه بهید له خو پاتور وینې ته توجه نه کوله.

تر دې وروسته پاتور د کوپړۍ د سوري کولو وسیله واخیسته او په سر کې یې دننه کړه ، کله چې د دې الې څوکه په سر کې ننوتله هغه یې وڅرخوله په دې ډول چې یو ګرد هډوکی د سر له کوپړۍ بېل شو او مازغه ښکاره شول.

پاتور ماغزو ته ځیر شو او ویې ویل زه د دغه کس په مازغو کې هېڅ نقص نه وینم، بیرته یې هډوکی پر خپل ځای کېښود او پوستکی یې چې سره بېل کړی یې وبیرته سره یو ځای کړ او ویې تاړه.

خو کله چې هغه د سر د تړلو په حال کې و د نارنوغ رنګ تک شین واوښت او مړ شو.

کله چې د هغه سرې مړی یې بهر کړ د دارالحیات مشر هم له یوشمېر محصلینو سره هلته موجود و.

پاتور یوه محصل ته وویل په تاسې کې یو تن چې لړ ځوان وي لاړ شئ او ماته لږ شراب راوړئ، چې لاسونه مې رېږدي.

یو محصل لاړ او یوه پیاله شراب یې راوړل هغه چې یې وڅښل د لاسونو رېږد بدل یې ودرېدل بیا یې امر وکړ چې مریی د عملیاتو لپاره وتړي او ورو یې زیاته کړه: د سر د هډوکي د قالب نیونې وسایل چمتو کړئ.

یو ځل بیا ما هغه ته د جراحۍ وسایل ورکړل، هغه لومړی د سر پوستکی لېرې کړ. خو دا ځل دوه تنه د هغه په امر په ښي او کیڼ لوري کې ولاړ وو. چې د وینې بهېدا مخه ونیسي. ځکه چې پاتور نه غوښتل پخپله په ورو کارونو باندې وخت ضایع کړي چې له

اصلي کاره پاتې نه شي.

په دارالحیات کې یو بې سواده کس و، چې کله به د ناروغ په بستر حاضر شو د زخم خونریزي به و دریدله. خو پاتور په دې وخت کې نه غوښتل له هغه کار واخلي او هغه یې د فرعون د سر سپړلو ته ساتلی و.

له دې ورسته چې پوستکی لېرې شو پاتور د مریي د سر هډوکی ما او نورو کسانو ته وروښود، موږ ولیدل چې د هډوکي یوه برخه د ګوزار له امله ننوتې ده.

له هغه وروسته یې په خاصې چړې او ارې سره د هډوکي دغه برخه له جمجې بېله کړه. چې اندازه یې د لاس د ورغوي هومره، او پاتور د تورپوستي مازغه چې سپین رنګه وو او ښور ېدل ټولو ته وروښودل. موږ ولیدل چې پر مازغو لږه وینه هم پرته ده او هلته لخته یا کلکه شوې ده.

پاتور وویل دا چې دغه سړی خبرې نه شي کولای او د بدن غړي نه شي ښورولای لامل یې د هغه پر مازغو همدغه لخته یا کلکه شوې وینه ده.

بیا یې په ډېرې خیرتیا سره دغه وینه له مازغو پورته کړه او یو وړوکی هډوکی یې هم چې پر مازغو پروت و له هغه ځایه په احتیاط سره لېرې کړ.

په داسې حال کې چې هغه پخپل کار بوخت و، نورو په بیړه له کوپړۍ د جلا شوي هډوکي له مخې د هغه قالب اخیست، قالب واخیستل شو او په دې ډول یې په لرګین ځټک هډوکی وتکاوه چې ننوتلی ځای یې بیرته سم شي او بیا یې د هغه قالب واخیسته او په قالب کې یې ویلې شوي سپین زر واچول.

سپین زر یې په اېشیدلو اوبو کې ساړه کړل او پاتور ته یې ورکړل پاتور هغه د سپینو زرو ټوټه چې د ناروغ د سر د جلا شوي هډوکي په اندازه وه، د سر په ستر سوري کېښوده او د سپینو زرو په کوچنیو بستونو سره یې د سر له هډوکي سره ونښلوله ورپسې یې د سر پوستکی بیرته د سپنیو زرو په قالب راکاږه او له ګنډلو وروسته یې تپ وتاړه.

پاتور وویل دغه سړی راوېښ کړئ، خو باید تر دریو ورځو پورې حرکت ونه کړي.

سړی یې راوېښ کړ.

هغه چې د کوپړۍ له دې عملیاتو مخکې خبرې نه شوای کولای او لاس او پښې یې نه شوای ښورولای تر عملیاتو وروسته یې هم اندامونه خوځولای شوای او هم یې خبرې وکړې.

پاتور هغه ته وویل تر دریو ورځو پورې باید سر، ونه ښوروي.

کله چې یې مریی بلې کوټې ته د ځملاستو لپاره بوت پاتور وویل که دغه کس تر دریو ورځو پورې مړ نه شي معالجه به شي، له دارالحیاته وتلای او له هغه چا څخه خپل کسات اخیستلای شي چې سر یې ورمات کړی و.

له دې وروسته یې محصلین رخصت کړل او ماته یې وویل لاړ شه، زما وسایل په اور کې کېږده، ویې ایشوه چې فرعون ته ورشو او ته به هم له ما سره ځې.

ما په بیړه د پاتور د جراحي وسایل پریمنځل، په اور کې مې کېښودل، ځینې مې وایشول او له دارالحیاته ووتو.

دهغه د جراحي صندوق ما اخیستی و او په سلطنتي راون تخت کې چې د دارالحیات پر وړاندې یې زموږ انتظار کاوه سپاره شوو.

دهغه کس په ملګرتیا چې دهغه حضور د وینې دبهېدا مخه نیوله د سلطنتي ماڼۍ پر لور راون شو.

مریانو روان تخت داسې لېږداوه چې بیخي نه خوځېده او ما یو ډول ویاړ کاوه ځکه چې پوهېدم ډېر ژر به سلطنتي ماڼۍ ته ننوځم او فرعون به له نژدې وګورم.

له دې وروسته چې لږ مزل مو په روان تخت وکړ د نیل څنډو ته ورسېدو، په سلطنتي ماکو کې کېښناستو او د(طلايي کور) یانې سلطنتي ماڼۍ پر لوري روان شو.

کله چې هلته نژدې شو دومره ماکوګان او ګران بیه بیړۍ چې له ګرانو لرګیو جوړې شوې وې، ترسترګو کېدلې چې د نیل اوبه بیخي نه ښکارېدې.

د خلکو په خوله دا خبره وه چې درباري کوپړۍ سوری کوونکی ډاکټر راغلی دی، ټولو به د ویر په بڼه لاسونه پورته کول او ژړل به یې، ځکه چې پوهېدل داسې نه دي شوي چې کوم فرعون دې د کوپړۍ له سپړولو وروسته ژوندی پاتې وي.

موږ د ماڼۍ په مخکې له ماکو ښکته شوو او د زنبق په نامه له دروازې یې موږ ماڼۍ ته دننه کړو.

د دربار مشرانو او سترو شخصیتونو زموږ په مخکې خپل لاسونه په زنګنو کېښودل او سرونه به یې د درناوي په دو د ټیټ کړل، ځکه چې پوهېدل موږ هغه کسان یو چې مرګ موله ځان سره راوړی دی.

موږ یې د فرعون د خوب د کوټې پر لوري بوتلو، ومې لیدل چې فرعون پر یوه کټ

پروت دی چې زري بخمل پرې غوړېدلی و او د کټ پښې د خدايانو له مجسمو جوړې شوې وې.

په هغه وخت کې فرعون سلطنتي ښې نه درلودې مخ يې پړسېدلی او اندامونه يې لوځ ول، سر يې يوه لورته کوږ شوی او له خولې يې ناړې روانې وې.

ما چې کله فرعون په دې حالت کې ولید متوجه شوم چې د دې نړۍ قدرت دومره ناپايداره دی، چې فرعون د ناروغۍ او مرګ په بستر کې له هغو بېوزلو سره کوم توپير نه لري چې په دارلحيات کې معالجه کېدل او يا به مړه شول.

خو د کوټې سينګار ډېر ښکلی و، په دېوالونو د سلطنتي ګاډيو عکسونه جوړ شوي وو او فرعون په هغو ګاډيو کې د زمريانو پر لور دغشي ويشتو پر وخت انځور شوی و.

پر دېوالونو باندې سره، لاجوردي او طلايي رنګونه ځلېدل او د کوټې غولی يې د يو ستر حوض په بڼه ښکلی جوړ کړی و، چې کبان پکې لامبو وهي او هيلۍ او مارغان پکې الوتنه کوي. موږ لا سونه په زنګونو کېښودل او پر ملا ټيټ شوو.

زه او پاتور پوهېدو چې د فرعون د سر سپړل به ګټه ونه کړي او د هغه حالت ښيي چې مړ به شي.

بله دا چې دود داوي چې له مړينې مخکې بايد د فرعون سر سوری شي چې له سره يې بخارونه بهر شي او دا وويل شي چې شاوخوا کسانو د علاج په برخه کې له ورو ستيو هلو ځلو هم ډډه ونه کړه.

ما د پاتور. تور بخونه صندوق چې له ښکلي ابنوس(EBONY) لرګي جوړ شوی و، پرانست چې وسايل يې ورکړم.

زموږ تر ورتګ مخکې سلطنتي ډاکټرانو د فرعون سر خرېيلی و او د کوپړۍ د سوري کولو لپاره يې چمتو کړی و.

پاتور هغه سړي ته چې شتون به يې دوينې د بهېدا مخه نيوله امر وکړ چې د فرعون د سر خوا ته ودرېږي او د هغه سر دې په دواړو لاسونو کې کلک ونيسي.

خو په دې وخت کې د مصر ملکه چې(تي تي) نومېده را مخکې شوه او ويې ويل نه !

ما ترهغه وخته دهغه ځای دعظمت له امله د مصر ملکه ،وليعهد او دهغه خور نه وو ليدلي او تولو دغم له امله لا سونه پورته نيولي ول.

د مصر وليعهد همغه ډول چې ددغه کتاب په پيل کې مې هم وويل په هغه کال وزېږېد

چې زه پکې زېږدلی وم خو ترما دنګ و. ژامه یې درلوده خو ټټر یې ننوتی و. هغه هم د خپلې مور او خور په شان لاسونه پورته نیولي ول.

خور یې د مصر یوه ښکلې نجلۍ ګڼل کېده او له دې امله چې د هغې عکس مې د آمون په معبد کې لیدلی و، نو پر دې خبره له مخکې پوهېدم.

د مصر د چاغې غنمرنګې ملکې (تي تي) په هکله په هغه وخت کې ډېرې خبرې کېدلې. ټولو به ویل چې هغه یوه معمولي ښځه وه او له همدې امله د هغې د نیکونو نوم په رسمي اسنادو کې نه راځي.

هغه کس چې شتون به یې د ټپ وینه دروله کله چې ولیدل چې ملکې د ((مه کوئ)) حکم وکړ دوه ګامه په شا شو.

دغه سړی یو ساده کلیوال او بې سواده و. چې د طب له علمه هم بې خبره و. خو له دې چې شتون به یې د زخمونو وینه دروله هغه یې په دارالحیات کې د دې لپاره ګمارلی و چې کله به یې څوک عملیات کول هغه به یې په سر ولاړ و.

زه فکر کوم د دې علت چې د دغه سړي شتون به وینه ودروله دا و چې د هغه بدن به ډېر کړوونکی او بد بوی کاوه.

دغه بوی دومره سخت و چې هر څومره به یې دغه کس وویني‌ځه نو بوی به یې بیا هم نه ورکېده او دغه بوی هغه میخ ته ورته و، چې د انسان په مازغو کې ننوځي.

دا چې مازغه او اعصاب پر ټول بدن واکمن وي نو د وینې د بهېدا مخه به یې ونیوله.

زه په پریکنده توګه نه وایم چې دغه سخت او کړونکی بوی به د وینې د بندېدا سبب کېده خو له دې امله چې د دغه کار لپاره د منلو وړ بل دلیل نه شو موندلی نو زه تصورکوم چې د هغه بوی وینه دروله.

ملکې وویل زه اجازه نه ورکوم چې دغه کس د خدای سر په خپل لاس کې ونیسي. بلکې زه په خپله د هغه سر نیسم.

پاتور وویل مېرمنې! کله چې د سر پوستکی لیرې کړو وینه بهېږي او ستاسې لپاره د خونریزۍ کتل ښه نه دي.

خو ملکې وویل زه د خدایانو د وینې له کتلو نه وېرېږم او پخپله یې سر کلک نیسم.

له دې چې سلطنتي ډاکټرانو زموږ له راتګه مخکې فرعون بېهوشه کړی و. پاتور پوهېده چې هغه به زموږ غږ وانه وري او که یې واوري هم نو د غبرګون ښودلو وس نه لري

، نو خبرې يې پيل کړې، په همدې حال کې يې پر خپلې ډېرينې چړې د فرعون د سر پوستکی سوری کړ او په همدې وخت کې يې وېل:

فرعون چې له خدايانو دی د آسمانونو پر لور ځي او د خپل پلار آمون په زرين ماکو کې به وي.

فرعون له لمره پيدا شوی دی او د لمر لور ته به جاروځي او د هغه نوم به تر قيامته پورې پاتې وي.... ای بوين سرپه..... ته چيرې يې ؟. ولې نه راځې چې وينه ودروې.

وروستی جملې د پاتور له لورې هغه کس ته وې چې بايد پخپل شتون سره يې وينه درولې وای، ځکه چې پاتور کتل د فرعون د سر له پوستکي وينه بهېږي او پوه شو چې بوين سرې نشته.

معلومه شوه چې هغه سړی د ملکې له ويرې شاته تللی دی او په ديوال يې تکيه وهلې وه . کله چې پوه شو له هغه سره خبرې کېږي د کټ او د فرعون د سر لور ته نژدې شو لاس يې پورته کړ او کله چې يې لاس پورته کړ د فرعون د سر وينه چې د ملکې په بدن تويه شوې وه بنده شوه. خو د دغه سړي د بدن خوسا او بد بوی په ټوله کوټه کې تيت شو. کله چې وينه ودرديده پاتور د جمجمې د هډوکي پر سپړلو لګيا شو او په همدې وخت کې په خبرو بوخت شو، خو هغه يوازې ددې لپاره خبرې کولې چې يوڅه يې ويلي وای. ځکه پوهېده چې يو ډاکټر د سر د سوري کولو په وخت بايد د ناروغ له خپلوانو سره خبرې وکړي چې د هغوی پام پر بله خوا واړوي او په دې توګه هغوی له وېرې او اغېزمنتيا وساتي.

پاتور وويل مهرمنې ! له دې وروسته چې خدای اسمانونو ته وخوت د آمون له لورې به پرې برکتونه واورې. په دې وخت کې وليعهد پاتور ته ورنژدې شو او ويې ويل تاسې تېروتي ياست، آمون به پر هغه برکت ونه اوروي بلکې هغه به د آتون له ملاتړه برخمن شي.

پاتور وويل ستا خبره سمه ده ما تېروتنه وکړه او ويې ويل هغه به د آتون له ملاتړه برخمن شي.

زه پاتور نه ملامتوم چې پوه نه شو . فرعون له کوم خدای سره ډېره علاقه لري ځکه انسان نه شي پوهېدلی چې د هر چا پامور خدای کوم يو دی؟

په مصر کې تر سلو ډېر خدايان شته او ان کاهنان او ملايان چې د خدايانو د نومونو يادول يې دنده او کار دی دا ادعا نه شي کولای چې د ټولو خدايانو په نومونو پوهېږي.

وليعهد ژړل او پاتور د خبرو په وخت هغه ته ډاډ ګېرنه ورکوله تر دې چې د فرعون د سر

هډوکی یې غوڅ کړ او له کوپړۍ ځخه یې یو کوچنی هډوکی چې د ګوتو د دوو بندونو په اندازه و له جمجمې رابېل شو.

ما او پاتور په خیرتیا سره د فرعون مازغه کتل، ما چې ورته کتل مازغه یې ایرن رنګه ول چې ښور ېدل.

پاتور وویل سینوهه څراغ دې لور ته ونیسه چې زه د سر داخلي برخه ښه وګورم ما څراغ داسې ونیو چې رڼا یې د سر منځنۍ برخې ته رسېده او پاتور وویل ډېر ښه، ډېر ښه! ما خپل کار وکړ او نور مې له وسه وتلې خبره ده. بلکې آتون باید فیصله وکړي ځکه چې له دې وروسته مو د خپله دنده خدایانو ته سپارو.

له هغه وروسته یې د جمجمې هډوکی بیرته پر خپل ځای کېښود مګر له دې وروسته چې د سرهډوکی بېرته کېښودل شو، د فرعون حالت که څه هم بېهوشه و خو لږ ښه شو.

کله چې پاتور ټپ وتاړه ملکې ته یې وویل: که خدایان اجازه ورکړي او هغه تر لمرختو ژوندی وساتي، نو ژوندی به پاتې شي ګني مړ به شي.

(لکه چې ګورئ پاتور کله چې غواړي د مصر ملکې ته ووایي چې فرعون به مړ شي. د هیڅ شي پروا نه کوي او دا فکر نه کوي چې هغوی به خپه شي. له مقدمې پرته دا خبره ورته کوي ځکه چې په مصر کې خلک شپه او ورځ د مرګ له فکر سره آشنا و. ځوک له دې خبرې نه وېرېده او نه اغېزمن کېده چې د خپلو نژدې کسانو د مرګ خبره واوري).

له هغه وروسته پاتور لاس د ویر په دود پورته کړ او موږ هم همداسې وکړل. ما د جراحی وسایل ټول کړل. په اور کې مې کېښودل او له پاکولو وروسته مې پخپل صندوق کې کېښودل. ملکې موږ ته وویل: زه به پاموږ ډالۍ درکړم. بیا یې رخصت کړو.

موږ له هغې کوټې را ووتو چې فرعون پکې پروت و او یوې بلې کوټې ته ولاړو. هلته یې موږ ته خواړه راوړل او مریانو زموږ پر لاسونو اوبه را واچولې. ما له پاتور څخه پوښتنه وکړه: ولیعهد ولې وویل چې پلار یې د آتون د خدای پلوی دی نه د آمون.

پاتور وویل دغه موضوع او ږده کیسه لري که یې اوس پیل کړم ډېر وخت به واخلي. همدومره به درته ووایم، دغه آمون هو تپ چې موږ یې د کوپړۍ ور وسپړله. یوه ورځ یې سوچ کړی و چې د آتون خدای ځان ورښکاره کړی دی او ددې لپاره خدای په ښار کې یو معبد جوړ کړ چې له سلطنتي کورنۍ پرته بل ځوک نه ورځي. د دغه معبد کاهن آمې نومېږي چې دغه کس او د هغه مېرمن د مصر د ولیعهد روزونکي ول. ولیعهد چې تا اوس

ولید د دغې مهرمنې شېدې یې رودلې دي او آمې یوه لور لري چې (نفرتي تي) نومېږي. له دې چې ولیعهد له دې نجلۍ سره یو ځای شېدې خوړلې له ناچارۍ باید یوه ورځ د ولیعهد خور شي. (دغه نوموونه چې تا سو یې دلته لولئ تاریخي نوموونه دي. نفرتي تي همغه مهرمنه ده چې وروسته د مصر ملکه شوه او دا چې پاتور وویل هغه به یوه ورځ د ولیعهد خور شي مقصد یې دا وچې یوه ورځ به له هغه سره واده وکړي. ځکه چې په مصر کې د خور او ورور ودونه روا ول ژباړونکی).

پاتور د شرابو پیمانه پر سر واړوله او ویې ویل اې سینوهه! زما په شان دیوه بوډا لپاره تر دې بل شی خوندور نه دی چې وخوري او وڅښي او په هغو مسلو خبرې وکړي چې په ده پورې اړوندې نه وي. بوډاګان د ډېرو خبرو شوقیان وي.

که زه خپل تندی وسپړم ډېر رازونه پکې شته دي آیا تا کله دا فکر کړی دی چې ولې د فرعون ښځې تل لونې زېږوي او زوی یې نه کېږي. ومې ویل نه! ما په دې هکله فکر نه دی کړی.

پاتور وویل دغه فرعون چې موږ یې اوس سر سوری کړ، په ځوانۍ کې د سوډان د سوېل په ځنګلونو کې څه د پاسه پېنځه سوه زمریان او ځنګلي غوایي ښکار کړي دي

هغه ډېر کلک او پیاوړی و او هره ورځ به له یوې نجلۍ سره ویدېده. خو له دغو ټولو ښځو څخه یوازې نجونې پیدا شوې دي او یوازې یې له ملکې څخه یو زوی پیدا شو چې اوس ولیعهد دی.

ایا ته دا یوه عادي چاره بولې؟

ذدې چارې علت چې هېڅکله د فرعون زوی نه دی پیدا شوی دا دی چې ملکې د دربارې ډاکټرانو په وسیله زېږېدلي هلکان ژوندي نه پرېښودل او کله چې به هلک وزېږېد سمد ستي به یې وواژه.

بیا پاتور سترګه ووهله او ویې ویل اې سینوهه! ته باید په دغو اوازو باور ونه کړې، ځکه چې ملکه په مصر کې تر ټولو مهربانه او غوره مهرمن ده.

موږ په خوراک او څښاک بوخت شوو او ما د سلطنتي ډوډۍ له خوړلو خوند اخیست، ځکه ذایقې به مې راته امر کاوه چې دغه ډوډۍ د دارالحیات له خوړو خوندوره ده. یووخت مو پام شو چې شپه شوې ده.

پاتور وویل زما لاس ونیسه او له دې ماڼۍ مې بهر کړه، ځکه چې که څه هم شراب

زړونه ښادوي. خو موږ مستوي او زه به ستا له مرستې پرته ولوېږم.

ما د هغه لاس ونیوه او له مانۍ بهر شوو. ومې کتل چې د ښار رڼا په ختیځ لوري کې اسمان روښانه کړی دی.

ما هم له حده ډېر ځنبلي ول او د خوشحالۍ احساس مې کاوه. زړه مې د یوې ښځې هوس کړی و. پاتور ته مې وویل زه باید ولاړ شم او د عیاشۍ په یوه کور کې یوه ښځه ومومم چې خپله خوریې کړم.

پاتور وویل هر نارینه د شپې مهال چې خپل ورځني کارونه خلاص کړي. د عشق فکر کوي. ګنې مینه نه شته. ما ورته وویل ایا ته پر عشق باور نه لرې؟ نو دا څه شی دی چې ما د عیاشۍ د کور لوري ته کاږي؟ پاتور وویل دا چې تا اوس د عیاشۍ د کورونو پر لور کشوي هغه اړتیاده چې ته یې ښځې ته لرې. ځکه چې که یو نارینه ونه کړای شي ځوانه ښځه ترلاسه کړي او هغه په خپل څنګ کې ویده نه کړي غمجن کېږي. خو له دې وروسته چې ښځه د هغه خور شوه نو تر مخکیني حالت ډېر پسې غمجن کېږي.

ومې ویل ولې داسې کېږي؟ ولې کله چې یو نارینه یوه ښځه خپله خور کړي غمجن کېږي. پاتور وویل دغه پوښتنه چې ته یې له ماکوې خدایان هم ورته ځواب نه لري.

له هغه وخته چې دغه دنیا شته همداسې ده، له دې ورسته به هم همداسې وي. هر خل چې یو نارینه له یوې ښځې سره څملي او هغه خپله خور کړي. ترڅملاستو د مخکې حالت په پرتله وروسته ډېر غمجن کېږي. ومې ویل پاتوره ایا ته تراوسه پورې مین شوی یې؟

پاتور وویل که وغواړې د مینې په هکله له ما سره خبرې وکړې ما به اړ کړې. چې ستا سر هم د فرعون په شان وسپړم چې سوزنده بړاس ترې بهر شي، ځکه هغه څه چې تا د مینې په هکله فکر کولو ته اړ کوي همدا بړاس دی چې ستا په کوپړۍ کې راټول شوی دی. ځکه چې مینه نشته او هغه څه چې مینه بلل کېږي. هغه اړتیا ده چې نارینه او ښځه یې یو بل ته لري چې په دې توګه له یو بل سره خور او ورور شي.

بیا پاتور د ستړیا احساس وکړ او ویې ویل ما هغې کوټې ته بوځه چې په سلطنتي مانۍ کې ماته په نظر کې نیول شوې ده هلته مې څملوه او ته هم په هماغې کوټې کې ویده شه. ځکه چې موږ نن شپه باید په دې مانۍ کې پاتې شو چې د فرعون د مرګ په وخت کې د هغه له پوزې څخه د یوه مرغه وتل وګورو.

ما وویل پاتوره ! ستا په شان یوه کس ته نه ښایي چې چټې خبرې وکړې.

پاتور وویل: زه څنګه وایم؟

ومې ویل هو! ځکه چې د مرګ په وخت کې د انسان له پوزې کوم مرغه نه راوځي.

ما پخپله دارالحیات ته تر تګ مخکې او له هغه وروسته ډېر کسان ولیدل چې مړه شول خو د هېڅ یوه له پوزې څخه مرغه الوتی نه دی او پر دې سربېره د طب علم لا دا وایي چې د انسان په وجود کې یوازې یو ځای شته چې یو ژوی پکې ژوندی پاتې کېدای شي او هغه هم د امیندوارۍ په وخت کې د ښځې خېټه ده. له دې پرته بل داسې ځای نشته چې یو ژوی پکې ژوند وکړای شي په دې ډول څنګه یو الوتونکی د انسان په بدن کې پاتې کېدای شي او بیا د پوزې له لارې د باندې وتلای شي.

پاتور وویل: اې سینوهه! له دې سره سره چې په دارالحیات کې ستا د نیوکو له امله ستا د پر مختګ مخه ونیول شوه. خو بیا هم دغه نیوکې کوې او سزا شوی نه یې.

پوه شه چې فرعون د خدای زوی دی، له نورو سره توپیر لري. د مرګ په وخت کې د هغه له پوزې یو مرغه راوځي او دغه مرغه روح دی چې د فرعون له مړینې وروسته ژوندی پاتې کېږي.

یو ځل بیا پاتور راته سترګک وواهه او ویې ویل که غواړې چې ډاکټر شې. خلک معالجه کړای شې. خپل ډېر ناروغان ووژنې. له دغې لارې څخه ډېرې پیسې، مریان او وینځې ترلاسه کړې. په طبس کې د ښه نوم خاوند شې او هره شپه پخپل کور کې میلمستیا وکړې نو باید عقیده ولرې چې د مرګ په وخت کې د فرعون له پوزې مرغه الوځي.

نور هم ستا په شان دي او ښه پوهېږي چې د فرعون او د ښار د تېټ سوالګر د مرګ ترمنځ د جسمي ځانګړتیاوو له پلوه هېڅ توپیر نشته خو هغوی سره، سپین، مریان او وینځې غواړي. نو داسې ښيي چې په رښتیا دا خبره مني. خو که ته سبا په دارالحیات کې ووایې چې دغه خبرې ما درته کړې زه به منکر شم او وبه وایم چې ته په ما تهمت پورې کوې. ډاډه اوسه چې زما خبره به ومنل شي او تا به د سلطنتي ډاکټر او د درالحیات د معلم د تورنولو له امله له ښونځي وباسي، ځکه ټول درباریان چې په دارالحیات کې کارکوي زما په شان له ښځو، خوړو، سرو او سپینو سره مینه لري.

ای سینوهه! راځه ما په غېږ کې ونیسه او خپلې کوټې ته مې بوځه چې هلته ویده شم. ته هم څمله ځکه چې سبا سهار باید د فرعون له پوزې د مرغه الوت وګورو او پخپل

خط به ولیکو چې مرغه مو ولید چې د هغه له پوزې ووت او اسمانونو ته والوت.

ما د يوه مريي په شان چې خپل بادار په غېږ کې نيسي او له يوه ځايه يې بل ته بيايي، دغه په وزن سپک بوډا په غېږ کې واخيست. سلطنتي ماڼۍ ته مې بوت او په هغې کوټې کې مې ځملاوه چې ده ته ځانګړې شوې وه.

خو ماته خوب نه راته، ځکه ځلميتوب خوب ته نه پريښودم. له ماڼۍ څخه را ووتم، د سلطنتي ماڼۍ په مخکې ګلانو کې ودرېدم او د طبس ښار د رڼا او د ستورو تماشا مې کوله.

په داسې حال کې چې ګلان مې بويول هغه ښځه رایاده شوه چې يوه ورځ دارلحيات ته راغلې وه. خپل ځان يې (نفر نفر نفر) معرفي کړی و او له مايې غوښتنه کړې وه چې کور ته يې ورشم. خوزه ورسره نه وم تللی، ځکه چې وېرېدم دغه ښځه به له ما سره داسې کار وکړي چې خويندې يې له ورونو سره کوي.

خو په دې شپه مې ددې ښځې ارمان کاوه او له ځان سره مې ويل څومره به ښه وای چې هغه ماته راغلې وای يا داچې د هغې کور رامعلوم وای چې ورغلی وای.

اووم څپرکی

د مصر ولیعهد او د هغه مړګي

ناڅاپه مې له ګلانو یو غږ واورید. ګورم چې یو کس ماته را نژدې کیږي چې ما وپېژني ما هم وپیژاند او پوه شوم چې ولیعهد دی.

په دغه ځای کې د دغه ځوان له لیدو حیران شوم او وویرېدم. دواړه لاسونه مې پر زنګنو کېښودل او په ملاتیټ شوم.

ولیعهد وویل سر دې پورته کړه. ځکه چې دلته موږ څوک نه ګوري او ضروري نه ده چې ته زما په مخکې رکوع وکړې.

ایا ته هماغه نه یې چې نن دې زما د پلار په کوټه کې له دغه زوړ بیزو سره کار کاوه او هغه ته دې ستک ورکاوه؟

زه د بوډا بیزو له نومه حیران شوم. سر مې پورته کړ او ولیعهد وویل له زاړه بیزو څخه زما مقصد پاتور دی. چې نن یې زما د پلار سر وسپړه. دغه نوم زما مور پر هغه ایښی دی او که زما پلار مړ شو ته به له هغه سره یو ځای ووژل شي.

زه د دې خبرې په اورېدو ډېر وویرېدم. ځکه چې نه پوهېدم که څوک د یوه فرعون سر سوری کړي او هغه معالجه نه شي باید سر، سوری کوونکی ووژني.

پاتور دغه خبره ماته نه وه کړې او زه حیران هم وم، ځکه چې زه خو ګنهګار نه وم چې ما دې ووژني.

هغه کس چې د جراحی په وخت ډاکټر ته چاره او ستک ورکوي بیګناه وي او باید هغه ونه وژل شي. د دې لپاره چې هغه د ناروغ په معالجه کې اغېزه نه لري.

ولیعهد ماته وویل زه پوهېږم چې نن به خدای ځان را څرګند کړي خو په سلطنتي ماڼۍ کې خدای ماته نه راځي. بلکې له ماڼۍ د باندې ماته څرګندېږي. زه پر دې هم پوهېږم چې د خدای د ظهور پر وخت زما بدن رېږدي او غږ به بند شي خو باید یو څوک وي چې له ما سره مرسته وکړي.

له دې امله چې ته مې په لاره کې وموندلې او په دې هم خبر یم چې ډاکټر یې نو تا به له ځان سره بوځم.

ما نه غوښتل چې له دغه ځوان سره لاړ شم ځکه پاتور راته ویلي ول چې د فرعون د مړینې پر وخت باید په ماڼۍ کې پاتې شو. خو د ولیعهد له امره مې هم سرنه شو غړولای او مجبوره شوم له هغه سره لاړ شم.

ولیعهد یو لنډ لنګ اغوستی و. چې ورنونه یې هم ترې ښکاریدل. هغه زما په پرتله جګ دی او اوچت ګامونه یې اخیستل.

کله چې د نیل څنډې ته ورسېدو و لیعهد وویل باید له سینده واوړو او ځان د هغه ختیزې څنډې ته ورسوو.

دیوه ماکو پړی یې خلاص کړ او زه ورسره په ماکو کې کېناستم او پارو مې واهه کله چې د سیند بلې څنډې ته ورسېدو ولیعهد له دې پرته چې ماکو وتړي هغه یې په سیند کې خوشې کړ او اوبو ماکو لاهو کړ.

مونږ د ختیځ په لور وخوځېدو او له دې امله چې ولیعهد چټک روان و، نو زه مجبور وم چې د هغه تر شا ورپسې وځغلم او بدن مې خولې وکړې.

په دې توګه مونږ هغه ځای ته ورسېدو چې د طبس ښار او د هغه باغونه زمونږ شاته پاتې شول او د طبس په ختیځ کې هغه درې غرونه راڅرګند شول چې د دغه ښار ساتونکي بلل کېږي.

کله چې داسې ځای ته ورسېدو چې نور څوک نه وو او کوم غږ هم نه اورېدل کېده، نو ځوان پر ځمکه کېناست او ویې ویل دلته به خدای ماته راڅرګندېږي.

زه حیران شوم چې څه ډول به هغه ته خدای ورڅرګند شي، ایا زه به هم هغه وګورم کنه؟

په دې توګه سهار شو او تر لمر ختو وروسته ولیعهد ناري کړې (سینوهه) خدای راغی او زما لاس ونیسه ځکه چې لاس مې ریږدي.

ما د هغه لاس ونیو او هر څومره چې لمر راپورته کېده د ولیعهد هیجان نور هم زیاتېده، پر خاورو پرېوت او پر ځان راتاو شو.

زه چې د هغه له دغه حالته وېرېدلی وم، په دې وخت کې اسوده شوم ځکه پوه شوم چې ولیعهد په میرګي اخته دی او ممکنه ده چې خپله ژبه هم پر خپلو غاښونو غوڅه کړي.

دود داسې دی چې د دغه ډول ناروغانو د غاښونو په منځ کې یو لرګی ورږدي خو ما

هلته لرګی پيدا نه کړ ، مجبوره شوم د خپل لنګ يوه ټوټه پرې کړم او د هغه د غابښونو ترمنځ يې ورکېږدم، چې ژبه يې غوڅه نه شي.

بیاهغه ډول چې په کتاب کې ليکل شوي دي، د هغه د درملنې لپاره مې د وليعهد د بدن مالش پيل کړ. ما د وليعهد بدن مالش کاوه ، چې يو باز لکه چې له لمره راوتلی وي زموږ پر سر وګرځېد او داسې ښکارېده چې غواړي د وليعهد پر سر کېني.

له ځان سره مې وويل ښايي هغه خدای چې وليعهد يې په تمه و همدا باز وي. خو څوشېبې وروسته يو ښکلی ځوان ، چې نيزه يې په لاس کې وه او د سوريې د غرونو او سيدونکي ښکارېده را څرګند شو.. دغه هلک دومره ښکلی و ، چې ماورته رکوع وکړه. ځکه فکر مې وکړ هغه د وليعهد خدای دی.

ځوان د مصر په ولايتي لهجې له ماپوښتنه وکړه دا څوک دی ؟ ايانا روغه دی ؟

ماورته وويل که ته خدای يې، د دغه ځوان معالجه وکړه او که غل يې په دې پوه شه چې موږ هېڅ نه لرو چې در يې کړو.

هغه باز چې په اسمان کې الوت را ښکته شو او د ځوان پر اوږه کېناست.

ځوان وويل زه خدای نه يم او ديوې پنير جوړونکې ښځې اوميړه زوی يم خو ليک لوست مې زده کړي.

اټکل مې کړی چې زه به ډېر ژر د نورو قوماندان شم او اوس طبس ښار ته ځم چې د فرعون خدمت وکړم، ځکه چې اورېدلي مې دي ، فرعون ناروغ دی او يو ناروغ پاچا زما په شان کسانو ته اړتيا لري چې د هغه ملاتړ وکړي.

بيا يې په وليعهد نظر تېر کړ او ويې ويل ايا هغه به له دې ناروغۍ مړشي ؟

ومې ويل نه... د هغه ستونزه مرګونې نه ده خو انسان بېخوده کوي او انسان په بېخودۍ کې خپل اختيار له لاسه ورکوي.

وليعهد بيدار شو خو د سهار د يخنۍ له امله رېږدېده، نيزه لرونکي ځوان خپل واسکټ و ايست پر وليعهد يې واچاوه بيا يې وويل اوس څه کوې ؟

ما ورته وويل که له ماسره مرسته وکړې هغه به ښار ته يوسو او هلته به يو روان تخت پيدا کړو چې هغه پکې کېنوو او کورته يې ورسوو.

ځوان وويل سمه ده زه چمتو يم چې له تاسره مرسته وکړم او هغه ښار ته بوځم. وليعهد کېناست خو رېږدېده. نيزه لرونکي ځوان مرسته وکړه، هغه واسکټ مو

ورواغوست او ماته یې وویل دغه ځوان د شتمنو له کورنۍ دی، ځکه چې د بدن پوستکی یې سپین دی او نرم او سپین لاسونه لري.

بیا یې زما لاسونه ونیول او ویې ویل ته هم نرم لاسونه لرې دنده دې څه ده؟

ومې ویل زه ډاکټر یم او په طبس کې دامون د معبد په دارالحیات کې مې درس ویلی دی.

ښایي دغه ځوان دې راوستی دی، چې دلته یې درملنه وکړې. خو ښه شوه چې جامې دې ورواغوستې. ځکه چې په بیدیا کې سهار مهال هوا سړه وي.

د لمر له راختلو او د جامو له اغوستلو وروسته د ولیعهد رېږدېدا ورده ده. ناڅاپه یې دغه ځوان ولید او ویې ویل دغه هلک ډېر ښکلی دی. له هغه یې پوښتنه وکړه ایا دآتون خدای راستولی یې؟

نیزه لرونکي ځوان وویل .... نه

ولیعهد وویل نن ما وکړای شول چې آتون خدای ووینم او همدا چې لمر راوخوت او هغه مې ولید. فکر مې وکړ چې ښایي هغه ماته راستولی یې.

ځوان وویل. زه د خدای له لوري نه یم راغلی. بلکې بېګا وخوځېدم چې نن سهار طبس ته ننوځم او د فرعون خدمت ته ملا وتړم.

د لمر له ختو وروسته زما باز دلته الوت کاوه. زه پوه شوم چې ښایي دلته یو څه وي چې د هغه پام یې جلب کړی دی او چې دلته راغلم تاسې مې ولیدا ست.

ولیعهد وویل په دې نیزې څه کوې؟

ځوان وویل د دې نیزې څوکه له مس او قلعي څخه جوړه شوې ده او راغلی یم چې هغه د فرعون د دښمنانو په وینو سره کړم.(لومړنۍ دوه او سپنې چې انسانانو سره یوځای کړې مس او قلعي وه. چې ډېر خله په معدنونو کې دواړه یوځای وي او د غسې ترکیب ته په عربي کې مفرغ وایي.)

ولیعهد وویل زه له وینې بهیدنې کرکه کوم. ځکه د وینې بهول تر ټولو بد عمل دی.

نیزه لرونکي ځوان وویل زه ستا په شان فکر نه کوم او باوري یم چې د وینې بهېدل د ملتونو د پاکۍ سبب کېږي او هغوی ځواکمنوي خدایان وینه خوښوي، ځکه چې د وینې په خوړلو سره کلکېږي او تر هغې ورځې چې جنګ ممکن وي د وینې بهېدل به دوام لري.

ولیعهد وویل زه به داسې کار وکړم چې نور جنګ رامنځته نه شي.

نیزه لرونکي ځوان ماته وکتل او ویې ویل داسې ښکاري چې دغه سړی لیونی شوی

دی، ځکه چې جنګ پخوا هم و او تل به وي او هر کار چې ملتونه یې د جنګ د مخنیوي لپاره وکړي جنګ به نور هم زیات شي ځکه چې جنګ هم لکه د ساه اخیستلو دژوند لپاره اساسي توکی وي.

ولیعهد لمر ته وکتل او ویې ویل، ټول ملتونه د هغه زامن دي، ځکه چې هغه آتون دی، بیایې ګوته د لمر خواته ونیوله او زیاته یې کړه، ټول مکان او زمان له هغه سره تړاولري. زه به په طبس کې د هغه لپاره یو معبد جوړکړم او د هغه انځور به ټولو باچاهانو ته ولېږم، زه له هغه پیدا شوی یم او هغه ته به ستنېږم.

نیزه لرونکي ځوان د دې خبرو له اورېدو وروسته وویل شک نشته چې هغه لیونی دی او تاسو حق درلود چې هغه مو بید یاته راوستی دی چې معالجه یې کړئ.

ما وویل هغه لیونی نه دی، بلکې د میرګي پر وخت یې خپل خدای ولید، خو موږ دا حق نه لرو، د هغه څه په اړه نیوکه وکړو چې هغه لیدلی دی، ځکه چې هرڅوک کولای شي د هغه خدای عبادت وکړي او پر خبرو یې عمل وکړي چې ورته ګروهمن وي.

موږ ولیعهد پورته کړ او د ښار پر لور مو بوته د میرګي د حملې له امله ډېر کمزوری شوی و، نو تر دواړو متومو ونیو او باز هم زموږ په مخکې الوت کاوه. ښار ته چې ورنژدې شوو ګورم چې د معبد یو کاهن یا ملا له یوه روان تخت او یو شمیر ملایانو سره د ولیعهد په تمه دی او موږ له حدس او ګمانه پوه شوو، چې دغه کاهن به هماغه آمي وي.

لومړنی خبر چې آمي ولیعهد ته ورکړ همدا و، چې د هغه پلار او درېیم آمون هوتپ، له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي، هغه ته یې دکتان جامې ور واغوستې او خولۍ یې ور پر سر کړه (خولۍ دلته خاص نوم دی او د تاج په مانا ده. پخوانیو ډېرو شاعرانو چې د تخت او خولۍ خبره یې کړې هدف یې همدا تاج و. ژباړن).

آمي ماته وویل سینوهه! ایا هغه وتوانید چې خپل خدای وګوري.

ومې ویل: هغه وایي چې خپل خدای یې لیدلی دی، خو زما پام ده ته و، چې کوم تاوان ورونه رسېږي او د هغه علاج مې کاوه، پوه نه شوم چې د هغه خدای کله څرګند شو. خو ته زما نوم څنګه پېژني؟ ما خو کله هم نه یې لیدلی. آمي وویل زما دنده دا ده چې ستا په نوم پوه شم او پر هغو پټښو خبر شم چې په سلطنتي ماڼۍ کې تېرېږي.

بېګا چې کله زه پوه شوم چې ولیعهد چې اوس فرعون دی، له میرګي سره مخامخېږي، نو پرې مې ښود چې یوازې پاتې شي. ځکه هر وخت ولیعهد احساس کوي چې دغه

مرض پرې حمله کوي ګوشه نشين شي او که ونه غواړي چې يوازې پاتې شي، هو ږ هڅه کوو، چې هغه يوازې پرېږدو. ځکه چې هېڅوک بايد د وليعهد ميرګي او د هغه له خولې وتلي ځګونه ونه ګوري.

بېګا چې کله ما وليدل چې وليعهد له مانۍ څخه دوتلو پر وخت له تاسره مخا مخ شو، نو ډاډه شوم. ځکه چې ته ډاکټر يې او له دې سره سره چې طبيب يې د آمون د معبد کاهن هم ګڼل کېږې. ځکه تر هغه مهاله چې يو څوک کاهن يا ملانه شي هغه د درالحيات په ښوونځي کې نه پرېږدي.

او زه د آتون د معبد کاهن يم.

هغه وويل له دې سره سره چې زه او ته د دوو بېلو خدايانو پيروي کوو. خو اجازه مې ورکړه چې تېره شپه وليعهد له تاسره يوځاى بهر لاړ شي، ددې لپاره چې يو ډاکټر د هغه پالنه وکړي او زما يقين و، چې ميرګي پرې راځي.

بيا يې نيزه لرونکي ځوان ته اشاره وکړه او ويې ويل داڅوک دى؟ ومې ويل: يوځوان دى چې نن سهار په بيديا کې ورسره مخامخ شوو. يو باز يې هم پر سر الوت او اوس دغه مرغه د هغه پر ولي ناست دى.

آمي وويل کله چې پر وليعهد د ميرګي حمله راغله، دغه ځوان هلته موجود و او د هغه د ناروغۍ منظره يې وليده؟

ما ورته وويل: هو

ويې ويل: که داسې وي بايد دغه ځوان ووژنو.

پو ښتنه مې وکړه ولې؟ ويې ويل ددې لپاره چې وليعهد اوس فرعون دى او که خلک پوه شي چې زموږ فرعون په ميرګي اخته دى او کله ناکله پرې حمله راځي. بېخوده کېږي نو پر هغه به عقيده ونه کړي.

ومې ويل دغه ځوان چې تاسې يې ګورئ، نن يې په بيديا کې خپل واسکټ، وايست او وليعهد يې پرې پټ کړ، چې له يخنۍ ونه رېږدي او پخپله هم وايي ددې لپاره راغلى چې د فرعون له دښمنانو سره وجنګېږي او له دې پرته ډېر ساده ځوان دى او په دې خبرې نه پوهېږي چې وليعهد په دې مرض اخته دى.

آمي هغه ځوان ته نارې کړې او ويې ويل اوريدلي مې دي چې تا نن د وليعهد خدمت کړى دى، دغه د سرو زرو کړۍ ستا انعام دى.

له هغه وروسته آمي د سرو زرو یوه کړی، هغه ته ور وغورځوله. خو ځوان دغه کړی وانخیسته او طلا پر ځمکه ولوېده.

آمي ورته وویل ولې دې سره زر وانه خیستل؟

ځوان ورته وویل، ددې لپاره چې زه یوازې له فرعون څخه امر ترلاسه کوم او د نورو دستور نه منم. داسې ښکاري چې فرعون همدا ځوان دی چې اوس یې خولی پر سر کړې ده او تن دغه باز .زه د هغه لورته هدایت کړم. له هغه وروسته ځوان د نوي فرعون پر لور لاړ او یې ویل زه راغلی یم چې د فرعون چوپړ وکړم.

ته چې تن فرعون یې نو زه دې ته چمتو یم چې خدمت دې وکړم. فرعو ن خواب ورکړ، هو زه به تا پخپلو خدمتګارانو کې شامل کړم. خو خپله نیزه زما یوه غلام ته ورکړه، زه له نیزې څخه ډېره کرکه لرم ځکه چې د وینې د بهېدا وسیله ده.

زه ټول ملتونه یو شان ګڼم او ټول د آتون زامن دي ، نو هېڅ یو پکې باید بل ونه وژني.

ځوان خپله نیزه یوه مریي ته ورکړه او بیا فرعون پر روان تخت کېناست ، موږ ټول پلې ور پسې روان شو او په دې توګه سلطنتي ماڼۍ ته ننوتو.

سلطنتي ماڼۍ له خلکو ډکه وه او کله چې فرعون ماڼۍ ته ورسېد . له موږ څخه جلا شو او ملکې یانې خپلې مور ته ورغی.

نیزه لرونکي ځوان له ما پوښتنه وکړه، اوس به زه څه کوم او باید چیرته لاړ شم؟ ورته مې وویل همدلته اوسه او له دې ځایه مه ښوره. ته دلته اوسه چې فرعون په راتلونکو ورځو کې تا وګوري او ستا دنده وټاکي. ځکه فرعون خدای دی او خدایان هیرجن وي .تر هغه چې هغه تا ونه ویني هېڅکله به یې په یاد نه شي ،چې ته یې پخپلو خدمتګارانو کې شامل کړی یې.

نیزه لرونکي ځوان وویل: زه د مصر راتلونکي ته ډېر اند ېښمن یم. ومې پوښته ولې؟ ویې ویل ، ددې لپاره چې زموږ نوی فرعون له وینو وېرېږي او وایي چې ټول ملتونه سره مساوي دي زه چې یو جنګیالی یم په دې عقیدې باور نه شم کولای، ددې لپاره چې زه پوهېږم دغه عقیده د یوه سرتېري په تاوان ده.

په هرحال زه ځم او خپله نیزه له مریي څخه بیرته اخلم.

ورته مې وویل: زما نوم سینوهه دی او په دارالحیات کې دننه دآمون په معبد کې او سېږم که له ما سره دې کار و ماته راتلی شې.

زه له ځوانه بېل شوم او د هغې کوټې پر لورې لاړم چې تېره شپه پکې پاتور ویده شوی و.

پاتور چې ولیدم اعتراضونه یې پیل کړل او ویې ویل: سینوهه! تا سخته غلطي کړې ده چې د بښلو نه ده.

پوښتنه مې وکړه. زما غلطي څه ده؟ پاتور وویل په داسې شپه چې فرعون مړ کېده ته له مانۍ وتلی وې او ټوله شپه دې د عیاشۍ په مرکزونو کې تېره کړه.

له دې کبله چې ته دلته نه وې نو زه چا راوینښ نه کړم، زه د فرعون د مرګ پر وخت موجود نه وم. نو د هغه له پوزې څخه مې د مرغه الوتل هم ونه لیدل.

ما ورته وویل په قصدي توګه مې دغه کورنه و پرې ایښی، بلکې ولیعهد امر وکړ چې له هغه سره لاړ شم، بیا مې ټوله کیسه له پیله تر پایه ورته وکړه.

پاتور چې زما خبرې واورېدې ویې ویل آمون دې موږ وساتي ځکه چې زمونږ نوی فرعون لیونی دی ومې ویل هغه لیونی نه دی بلکې په میرګي اخته دی او کله نا کله دغه مرض پرې حمله کوي.

پاتور وویل څوک چې میرګي لري له لیوني سره یې توپیر نه کېږي، ځکه چې څوک د میرګي له حملې سره مخا مخېږي عقل له لاسه ورکوي، د هر ژر د نورو ګوډاګي ترې جوړېږي او زه د مصر ملت ته چې باید په میرګي د اخته فرعون د باچاهۍ تر سیوري لاندې شپې ورځې تېرې کړي خوابدی یم.

په دې وخت کې د لوی قاضي له لوري خبر راکړل شو چې باید هغه ته ورشو چې په موږ قانون پلی کړي. ځکه قانون وایي چې کله فرعون د کوپړۍ له سپړلو وروسته مړ کېږي باید هغه کسان ووژل شي چې په دغه کار کې لاس لري.

د دغه خبر په اورېدو سره وربېږدېدم، خو پاتور سترګک راته وواهه چې ونه وېرېږم او ورو یې وویل دغه قانون هېڅکله هم اجرا شوی نه دی.

یو شمېر سرتېري راغلل او موږ یې د دربار ستر قاضي ته بوتلو. د هغه په مخکې مې څلوېښت تاو شوې څرمنې ولیدې چې د مصر څلوېښت ګوني قوانین پکې لیکل شوي و او هره تاو شوې څرمنه د طومار په بڼه وه چې یو قانون پرې لیکل شوی و.

کله چې پاتور د قاضي حضور ته ورغی له هغه سره یې خبرې وکړې موږ درې کسان وو، چې د قانون له مخې باید وژل شوي وای.

یو زه، بل پاتور او دریم هغه سړی و چې شتون یې د وینې د بندېدا سبب کېده.

له دې وروسته چې موږ د قاضي دربار ته ورغلو عسکرو بیرته د وتلو لاره بنده کړه چې موږ ونه تښتو او له هغه وروسته جلاد راغی.

ستر قاضي وویل: له دې امله چې فرعون مو معالجه نه کړای شو پر تاسې د مرګ حکم کېږي او اوس باید ووژل شئ.

کمبخته ځوان چې په خپل شتون سره یې د ویني د بهیدا مخه نیولې سخت رېږدېده او پاتور په کندا سه خوله و پوښتل: مور دې ژوندۍ ده کنه؟

سړي وویل زما مور ځلوېښت کاله مخکې مړه شوې ده.

پاتور قاضي ته وویل: نو لومړی دغه سړی ووژنئ. چې مور یې په بله دنیا کې ورته د نخود او لوبیا شوروا پخه کړې ده او د هغه په تمه ده. سړی چې نه پوهېده ورسره تو کې کوي د جلاد مخته په ګونډو شو او جلاد خپله ستره، تېره توره چې سور رنګ یې درلود وخوځوله او ورو یې د هغه سړي پر ورمېږ کېښووله.

سره له دې چې د هغه توري هېڅ تاوان ورونه رساوه خو سړی بېخوده شو. جلاد عسکرو ته وویل دغه سړی مې له مخې لرې کړئ. له هغه وروسته ما ګونډه ووهله او جلاد په خندا خپله توره زما پر ورمېږ کېښووله او زه له کوم تاوان یا ټپ پرته پورته شوم.

کله چې د پاتور نوبت ورسېد نو جلاد په دې بسنه وکړه چې خپله توره د هغه پر سر وښوروي.

له دې وروسته موږ ته وویل شول. چې فرعون غواړي زموږ مزد راکړي او موږ یې د قاضي له کوټې بهر کړو، خو هر څه یې چې وکړل بېخوده سړی یې ویښ نه کړای شو او په حیرانتیا سره مې ولیدل چې هغه مړ شوی دی.

زه نه شم ویلای چې د دغه سړي د مړینې علت څه و، ځکه چې هېڅ ډول ناروغي یې نه درلوده خو داسې ښکاري، د مرګ له ویرې مړ شوی وي.

سره له دې چې ډېر ناپوه سړی و، خو په مړینې یې ډېر خپه شوم ځکه چې ساري یې نه درلود او له هغه وروسته په ټوله موده کې چې ماطبابت کاوه داسې څوک مې ونه لیدل چې پخپل شتون سره د وینې د بهېدا مخه ونیسي.

نوې فرعون پاتور ته د سرو زرو یو ځنځیر او ماته د سپینو زرو یو ځنځیر راکړ چې زموږ په غاړې کې یې واچول.

دواړو ته یې کتان جامې را واغوستلې او کله چې زه له سلطنتي ماڼۍ دارالحیات ته

راغلم ټولو محصلینو راته رکوع وکړه او استادانو راته غوږه مالي کوله.

د پاتور له لوري د فرعون د سر د عملیاتو د راپور د لیکلو دنده ماته وسپارل شوه.

هغه وویل سینوهه ! ته باید په دغه راپور کې څو شیان ولیکې، لومړی دا چې کله موږ د فرعون سر خلاص کړ د هغه له مازغو خوږ وږم پورته شو او دویمه دا چې د مړینې پر وخت موولیدل چې د هغه له پوزې یو مرغه والوت او نیغ په نیغه د لمر پر لوري لاړ.

ما وویل پاتوره ! که تېروتنه ونه کړم، نو کله چې فرعون مړ شو لا لمر نه و راختلی.

پاتور وویل اې کم عقله لمر تل شته، خو کله تر افق لاندې او کله هم پر افق له پاسه وي.

ومې ویل ښه ده، دا به هم ولیکم. پاتور وویل بل دا ولیکه، چې فرعون تردې څو شپې وړاندې چې مړ شي، سترګې پرانیستلې او خدایانو ته یې وویل چې اوس به زه ستاسو پر لوري درشم.

ما د فرعون له مرګه مفصل او په زړه پورې راپور برابر کړ. چې کله پاتور ولوست ویې خندل او ویې ویل: ښه دې لیکلی دی.

بیا دغه راپور د اویا ورځو لپاره هره ورځ د آمون په معبد او د طبس ښار په نورو معبدونو کې ولوستل شو.

په دغو اویا ورځو کې چې د فرعون مړی په دارالممات کې بلې په دنیا کې د ژوند کولو لپاره چمتو کېده او هغه یې مومیایي کاوه. په طبس کې د عیاشۍ ټول مرکزونه او ساقي خانې بندې وې.

خو داخل هم د ډاکټرانو د اعدام په شان یو ازې په نمایشي ډول قانون اجرا کېده، ځکه چې ټولو ساقي خانو او د عیاشۍ مرکزونو دوه دروازې درلودې او خلک له شاتنۍ دروزاې دغو ځایونو ته ورتلل او هلته یې شراب څښل یا یې عیاشۍ کولې.

په همدې ورځو کې چې په درالممات کې دفرعون د مړي په مومیایي کولو بوخت وو، ماته یې زیری راکړ، چې په دارالحیات کې زما د زده کړې دوره پای ته رسېدلې ده او زه د ښار په هرې سیمې کې چې وغواړم طبابت کولای شم.

دارالحیات څوارلس تخصصي څانګې درلودې، چې هر محصل په خپل خوښه یوه رشته انتخابوله. ما په خوشالۍ سره دغه ښوونځی پای ته ور ساوه او د سپینو زرو په هغه زنځیر مې چې نوي فرعون راکړی و. یو کوچنی کور او د(کاپتا) په نوم یو مریی چې په یوه سترګه ړوند و، راونیول. له دې وروسته چې زما مریی پوه شو زه ډاکټر یم ویې ویل: په ټولو ځایونو

کې به ووایم چې زما دواړه سترګې ړندې وې او بادار مې یوه بیرته معالجه کړه.

له خپل هنرمن ملګري تو تمس نه مې غوښتنه وکړه چې زما کور د انځورونو په وسیله ښکلی کړي او د طب د خدای انځور یې زما د کوټې په دیوال انځور کړ. زما څېره یې هم انځور کړه.

د طب خدای ویل چې سینوهه! زما تر ټولو ښه شاګرد او د طبس تر ټولو نیک او ښه ډاکټر دی.

خو څو ورځې په کور کېناستم او هېڅ ناروغ رانه غی چې معالجه یې کړم.

اتم څپرکی

زه د بېوزلو ډاکتر شوم

يوه ورځ چې پخپل کتنځي کې د ناروغانو په تمه وم. ګورم چې د دربار يو ساتونکی راننوت او ويې پوښتل سينوهه څوک دی؟

ورته مې وويل: زه يم.

هغه وويل: پاتور احضار کړی يې.

ومې پوښتل پاتور چېرته دی؟

ځواب يې راکړ چې هغه په سلطنتي مانۍ کې ستا په تمه دی. پوښتنه مې ترې وکړه: ايا نه پوهېږې له ما سره څه کار لري؟

ويې ويل: فکر کوم د پخواني فرعون د جنازې په هکله به وي

زه پاڅېدم. دربار ته لاړم او پاتور مې پيدا کړ.

هغه وويل سينوهه! ته پوهېږې موږ او هغه روستي کسان وو چې فرعون مو معالجه کړ. له همدې امله بايد د هغه د جنازې موميايي کول زموږ تر څارنې لاندې وشي.

ما ورته وويل ولې اوس د غه امر موږ ته کوي. ځکه چې که تېر وتنه و نه کړم نو له يوې مودې راهيسې نور کسان په دې کار بوخت دي.

پاتور وويل. د موميايي کولو په دستورو کې زموږ شتون تشريفاتي اړخ لري او له دې امله چې زه په دې کار کې برخه نه شم اخيستلای د غه چاره تاته سپارم.

ومې ويل. اوس بايد څه وکړم.

پاتور وويل: ته بايد اوس دارالممات ته ولاړ شې او غوره دا ده چې خپل خواړه او جامې له ځان سره يوسې. ځکه چې هلته به پينځلس ورځې ايسار شې او په دې موده کې به ته د فرعون د موميايي کولو د وروستي پړاو څارونکی وې.

ومې ويل خپل مريی هم له ځانه سره بوځم کنه؟ ويې ويل غوره ده چې د مريي له بيولو

ډېره وکړي. ځکه چې هغه ستا په شان ډاکټر نه دی او په دارالممات کې د ځينو شيانو د کتلو له امله به حيران شي.

زه چې ډاکټر يم تر هغه وخته مې فکر کاوه چې د مرګ په هکله چې کوم شی د کتلو وي هغه مې ليدلي دي.

فکر مې کاوه چې داسې شی به نه وي چې له مرګ سره تړاو ولري او ماله نږدې نه وي ليدلي.

د دغه کتاب په سريزه کې مې وويل چې موږ مصري ډاکټران د جنازو موميايي کول د طبي علومو برخه نه بولو. ځکه چې دغه کار هغه عمل دی چې تخصص نه درلودونکي يې هم کولای شي.

خو کله چې دارالممات ته لاړم، پوه شوم چې سخته تېروتنه مې کوله او زما تېروتنه له دې امله وه چې د ټولو مصري طبيبانو په شان ما هم تخصص په هغو کسانو پورې اړوند باله چې د دارالحيات له پوهنځي خلاص شوي وي.

موږ طبيبان له ډېرې ځان خوښونې څخه فکر کوو چې د متخصص کېدا يوازېنۍ لاره دا ده چې انسان د طب ښوونځي ټول پړاونه په دارالحيات کې بشپړ کړي او که څوک دغه ښوونځی بشپړ نه کړي متخصص نه شي جوړېدای. خو کله چې زه دارالممات ته ولاړم ومې ليدل چې هلته داسې کارګران هم شته چې کله هم دارالحيات ته تللي نه و، خو د بدن د غړيو د اناټومي په برخه کې د هغوی تخصص له ما څخه چې يو ډاکټر يم ډېر دی.

(له دې امله چې د دغه کتاب ليکوال سينوهه په يوه راتلونکي فصل کې په دارالممات کې په تفصيل سره د خپلو دوو تنو خپلوانو د موميايي کولو په هکله توضيحات ورکړي دلته نه وايي چې د فرعون مړی يې څنګه موميايي کړ. په کلي توګه د (لومړۍ درجې) موميايي کول د فرعون، د سترو معبدونو د مشرانو او بډايو کسانو لپاره ځانګړي شوي ول او په دې ډول تر سره کېدل چې لومړی به يې د مړي په خېټه، ټټر، او جمجمې کې چې هرڅه ول، هغه به يې را ايستل او د سترګو کاتې به يې هم را ايستل، ځکه چې خرابېدل، مړی به يې له څلو ښت ترشپېتو ورځو پورې د مالګې په غليظو اوبو کې اېښود، له دې ورسته چې مړی به يې له مالګو بهر کړ د سترګو او بدن سوري به يې له ډای سوډيم هايډرو کاربنات څخه چې په يوناني ژبه کې يې نطرون بولي ډکول د اوسنی زمانې موميايي کوونکي لکه چې د کتاب اصلي ژباړونکي پخوا د فرانسې چاپ کړير (معالجه کولو)

مجلې کې لوستي دي باوري دي چې مصري موميايي کارانو په نطرون د کونځلې او کرچک تيل (چې لاتين نوم يې (communis Ricinus) دی او ترکان يې خروع بولي) ورګډول، بيا به يې مړی په يوې ګرمې کوټې کې ايښود چې رطوبت يې کم شي او له هغه وروسته يې په پلنو پټيو چې قير به پرې اچول شوي ول، د مړي ټول بدن ونغاړه.

دغه پټې به څو ځله پر مړي راتاو شوله او د فرعون، شتمنو او ملايانو پر مړيو به يې اووه ځله دغه پټې تاوولې. بيا به يې مړی له دارالممات څخه بهر کړ او د ښخولو لپاره به يې هديرې ته انتقال کړ. (ژباړونکی).

خپل کتنځي ته له ستنېدا وروسته مې څو وروځې ځان پاکاوه چې د دارالممات بويونه له ځانه پاک کړم.

داخل ناروغانو هم ماته مراجعه کوله او د بېلابېلو دردونو د معالجې لپاره يې د درملو غوښتنه کوله.

زه ډېر ژر په طبس کې د بېوزلو او خوارانو په منځ کې مشهور شوم. دا هم له دې امله و، چې هر څه به دوی د فيس په توګه راکول منل به مې او د سلطنتي ډاکټرانو په شان کبرجن نه وم چې ووايم زما فيس سپين او سره دي.

د شپې مهال به له دې امله چې زړه مې دځواني تودوخه درلوده ساقي خانې ته تلم. هلته مې له خپل ملګري تو تمس سره شراب څښل او هغه به بيا د روانو حالاتو په هکله راسره خبرې کولې.

د مصر فرعون دريم آمون هوتپ چې مايې د مړي په موميايي کولو څارنه کوله، هرم نه درلود چې هغه پکې ښخ کړي او فرعون يې په يوه عادي قبر کې ښخ کړ.

له هغه وروسته چې فرعون ښخ شو، زوی يې وليعهد په ګدۍ کېناست او ويې ويل، نيت لري چې لومړی خپلو خدايانو ته ځان پاک او سوچه کړي او له هغه وروسته په رسمي بڼه د مصر فرعون شي.

تر هغه وخته چې وليعهد پاک او سوچه شي مور يې پر زنې ډېره کېښوده او د زمري لکۍ يې په شا وتړله چې په لاره به تلله هغه به يې تر ملا تاوو کړه.

دباچاهۍ په ګدۍ به کېناسته او د زوی په ځای يې د هېواد اداره کول پيل کړل.

د وليعهد مور چې لومړنی کار وکړ. دا و چې لوی قاضي يې له خپلې دندې لېرې کړ او د هغه پر ځای يې آمي چې مخکې مې وويل د آتون د معبد کاهن و. د قاضي په توګه

وګماره. آمي د قاضي په ځای او د مصر د قوانینو د ټولګې یاني د څلو ښتو چرمي طومارونو پر وړاندې کېناست او په قضاوت بوخت شو.

ددې پېښې له امله خلکو عجیب او غریب خوبونه وکتل او غیر عادي بادونه راوالوتل. دوه ورځې په طبس کې باران ووریږد او دغه باران د هغو غنمو یوه برخه ورسته کړه چې د نیل پر غاړه ډېری شوي ول.

خو چا ددغو پېښو له امله تعجب ونه کړ. خکه چې ټل داسې کېدل او کله چې به د معبد کاهنین په قهر شول. دغه ډول پېښې به وشوې داخل هم د امون د معبد کاهنین له دې امله په قهر شوي ول. چې یو نوم ورکی سړی یعنې آمي د ستر قاضي په توګه ټاکل شوی و.

له دې سره سره چې د آمون د معبد کاهنین غوسه ول. خو عسکرو د خوراک او څښاک له پلوه کومه ستونزه نه درلوده او تنخواګانې یې پخپل وخت ورکول کېدې. کومه خاصه ستونزه پېښه نه شوه.

ټول پاچاهان د مصر د فرعون له مرګه خواشیني شول او له ګاونډیو هېوادونو. څخه د پخې شوې خټې لیکل شوې لوحې چې د خواشینی کلیمې پرې لیکل شوې وې، مصر ته راواستول شوې او د میتاني پاچا خپله شپږ کلنه لور را ولېږله چې د مصر د ولیعهد یانې د نوي فرعون خور شي.

(د میتاني هېواد په منځني ختیځ کې د پخواني نړۍ تر ټولو لرغوني هېواد و. لرغونپوهان وايي د میتاني هېواد د دجلې او فرات سیندونو په سرچینې کې په برنۍ برخه کې پروت و. د میتاني پاچاهانو ځینې وخت خپل هېواد له لودیځ پلوه د مدیترانې سمندرګي تر سواحلو پورې پراخاوه او د دوآب هېواد چې په متن کې یې لولئ بین النهرین دی چې د فرات او دجلې دوه سیندونه هلته روان ول او دي)

د میتاني هېواد په سوریې کې دی او له سمندر سره نږدې پروت دی. سوریه او شمالي هېوادونه سره بېلوي.

هغه کاروانونه چې د دوآب په نوم هېواد څخه راځي له میتاني تېرېږي او سمندر ته رسېږي.

هر شپه به ما او توتمس په ساقي خانه کې همدا خبرې کولې. کله به د توتمس په بلنه د عیاشی مرکزونو ته تللو او ما به هلته د نجونو د نڅا سیل کاوه. خو د هغوی له نڅا مې خوند نه اخیست. له هغې ورځې چې ما (نفر .نفر ،نفر) په دارالحیات کې کتلې وه. بلې

هېڅ يوې ښځې زما پام ځانته نه شو جلبولای.

ښايسته ښځه هم د خوندورو خوړو په شان ده. کله چې انسان خوندور خواړه وخوري بې مزې خواړه خوند نه ورکوي.

که څه هم نفر نفر زما خور نه شوه خو دا چې زما خور شوې نه وه ډېر مې د هغې ارمان کاوه.

د شپې به چې کله کورته راغلم د شرابو په ځنباک کې د افراط له امله به ډېر ژر ويده شوم او سهار به چې له خوبه راپاڅېدم مستي به مې له اروا څخه کډه کړې وه. په يوې سترګې ړوند مريي (کاپتا) به مې په لاس او به اچولې او تروه کبان به يې راباندې وخوړل.

له دې وروسته چې د تروو کبانو او ډوډۍ خو نمرۍ به مې وکړې د خوب له کوټې به خپل کتنځي ته تلم او بېوزلو به د خپلو دردونو د معالجې لپاره ماته مراجعه کوله.

د ځينو ښځو زامن به دومره کمزوري ول، چې ما به خپل مريي واستاوه چې د هغو لپاره ميوه او غوښه واخلي.

که مې دغه بې ځايه لګښتونه نه واى کړي. شتمن شوى به واى. خو چې هر څه به مې ترلاسه کړل يا به مې پر شرابو او د عياشۍ په کورونو کې لګول او يا به مې له بېوزلو سره مرسته کوله.

يوه ورځ توتمس زما کتنځي ته راغی او ويې ويل سينوهه! نن د يوه شتمن سړي په کور کې جشن دی. څو تنو هنرمندانو ته يې بلنه ورکړې چې هلته ولاړشي او کله چې يې ماته بلنه راکړه ما ورته وويل. زه به له سينوهه سره يو ځای په دغه جشن کې ګډون کوم.

پوښتنه مې ترې وکړه چې دغه کس چې مېلمستيا ورکوي څوک دی؟

ځواب يې راکړ. هغه يوه ښځه ده خو ډېره شتمنه ښځه ده. چې د سرو کړۍ د مسو د کړيو په شان خرڅوي.

(د طلا او مسو کړۍ د اوسنيو پيسو په شان د راکړې ورکړې وسايل ول.)

دواړو ځانونه پاک کړل. ما او هغه په ځان عطرونه ووهل او د هغه کور په لور روان شوو، چې توتمس ويلي وو.

لا کورته نه وو رسېدلي چې د موسيقۍ غږ اورېدل کېدا او د عطرو بوی پوزه وتخنوله.

کله چې کور ته ورسېدو، يوه پراخ هال ته ننوتو او ومې ليدل چې هلته د طبس تر ټولو ښکلې ښځې راټولې شوې وې. ځينې پکې له مېړونو سره وې او ځينې کونډې وې.

خوانان او بوډګان هم ول او د هال پر سر د مراد ورکولو خدای انځور شوی و، چې سر یې د پیشو په شان دی.

ځینو ښځو چې هیله یې کوله بډای خاوندان ورپه برخه شي. د شرابو جام به یې پورته کړ، د نوموړي خدای په لور به یې اشاره وکړه او ځنبل به یې.

په هال کې مریان د شرابو له ډکو صراحیانو سره ګرځېدل او شراب به یې په جامونو کې اچول.

پر ځمکه دومره ګلان اچول شوي ول چې د کوټې غولی نه لیدل کېده. توتمس وویل وګوره، ایا چېرته او په یوه وخت کې دې دومره ښکلې کتلې وې؟

ومې ویل نه.

توتمس وویل ته سره او سپین ترلاسه کولای شې او خور هم نه لرې نو په دغو کې یوه ښځه خپله خور کړه.

ناڅاپه د هال له منځه یوه ښځه راتېره شوه او زما پر لور راغله. څنګه چې یې سترګې پر ما ولګېدې، زړه مې په درزا شو، ومې ویل توتمس، زه فکر کوم چې خدایان هم پردې ښځې مینان دي.... وګوره څنګه په لاره ځي او وګوره څومره ښکلې سترګې او خوله لري.

زه حیران په دې شوم چې له دې سره سره چې دغه ښځه تر ټولو ښکلې ده خو نارینه پرې چاپېر شوي نه دي.

توتمس وویل، دغه ښځه ددې کور مېرمنه ده او دغه جشن یې د هغه خدای په ویاړ برابر کړی، چې مراد ورکوي. چې په دې توګه هغه ښځې چې مېړونه نه لري وکړای شي په دې جشن کې له خدایه وغواړي چې هغوی ته مېړونه ورکړي او هغه چې مېړونه لري هیله وکړي چې شتمن مېړونه ورپه برخه کړي.

ومې ویل، ما دغه ښځه لیدلې ده او هغه پېژنم. ایا دا نفر نفر نه ده؟

توتمس وویل هو. ومې ویل کله چې په دارالحیات کې وم یو ځل دغه ښځه هلته راغله او له ما سره یې خبرې وکړې.

نفرنفر ماته نږدې شوه او دواړو ته موسکی شوه.

ما په حیرانۍ سره کتل چې څنګه د هغې خوله موسکه ده، خو سترګې یې نه خاندي، نفر نفر خپل لاس د توتمس په لاس کېښود او د کوټې یوه دېوال ته یې اشاره وکړه او ویې ویل، زه له تا څخه ډېره خوشحاله یم چې دغه انځور دې ایستلی دی، ایا ستا اجوره یې درکړه؟

تو تمس وويل هو ! ما خپل مزد ترلاسه کړ، بیایې ماته وکتل او زه پوه شوم، چې ما نه پېژني.

ځان مې ور وپېژاند او ومې ويل زه سينوهه طبيب يم.

ښځې وويل زه د سينوهه په نوم يو کس پېژنم چې په درالحيات کې يې سبق وايه.

ومې ويل زه همغه سينوهه يم.

ښځې سترګې ماتـه ونيـولې او ويې ويـل دروغ وايـې، تـه سينوهه نـه يـې ځکـه چې سينوهه ځوان و او د هغه په مخکې ګونځې نه وې، خو زه ګورم چې ستا د وروځو په منځ کې ګونځې شته، سينو هه ښکلې خيره درلوده، خو ستا قيافه مړاوې ښکاري.

ومې ويـل نفر نفر، زه هماغـه سينوهه يم، کـه باور نـه کوې، زه بـه درتـه يـو د ليـل وړاندې کړم، چې زما په هويت کې شک نه پيدا کوي او هغه دليل هغه ګوتمۍ ده چې په درالحيات کې دې ماته راکړه.

بيا مې هغه ګوتمۍ ور وښودله چې په ګوته مې وه او ومې ويـل لـه دې چې لـه ما کرکـه کوې خپله ګوتمۍ بيرته واخله چې ستا يادګار له ما سره نه وي، زه ځم او هېڅکله بـه ستا کور ته رانه شم.

نفر نفر وويل زما ګوتمۍ درسره وساته، ځکه چې دغـه ګوتمۍ ستا لپـاره ارزښت لري، لږ داسې کېږي چې زه چاته ډالۍ ورکړم، او لـه دې ځايـه هم مـه ځـه، کله چې زما ميلمانه لاړل زه به له تا سره خبرې وکړم.

پـه دې وخت کې ما يوه مريي ته اشاره وکړه چې زمـا پـه جام کې شراب واچوي او هغـه څه چې هغه ماته راکړل تر ټولو خوندور شراب ول، داسې شراب چې تـر اوسـه مې نـه وو خوړلي، ځکه چې پوهېدم پر نفر نفر ګران يم.

کـه يې لـه ما کرکه کولای بيا يې ماته نه ويل چې د جشن ترپايه د هغې پـه کـور کې پـاتې شم.

ځينو ميلمنو به په شرابو کې د ډېر افراط له امله کانګې کولې او بې اختيـاره بـه شول، خو په دغه جشن کې دوو تنو ډېر شراب ونه خوړل يو کوربـه ميرمنې او بل ما چې غوښتل مې له هغې سره خبرې وکړم.

کله چې د کوټې غـولـی لـه مـاتو جامونو او صراحيانو ډک شو، نارينه او ښځې داسې بېخوده شول چې نور چا خبرې هم نه کولې او نه يې څه اورېدل او سازيانو هم ساز بند کړ،

مريان راغلل چې هر يو خپل نشه بادار خپلو کورونو ته بوځي.
په دې وخت کې نفر نفر ماته راغله او زه يې د جشن له هاله بلې کوټې ته بوتلم او په خپل ځنګ کې يې کېنولم.
ما ترې پوښتنه وکړه چې دغه کور ستا دی ؟
هغې وويل : هو زما دی .
ما وويل. نو بيا خو ته ډېره شتمنه يې.
ښځې وويل په طبس کې په هغو ښځو کې چې له نارينه وو سره ساعت تيري کوي تر ما شتمنې نشته.
بيا يې زما لاسونه ومونښل او ويې ويل . ولې پر هغې ورځ چې ما بلنه درکړه زما کور ته رانه غلې ؟
ومې ويل : پر هغې ورځ زه له تا وېر ېدلی وم. ځکه چې ماشوم وم. نفر نفر وويل نو کله چې نارينه شوې له ډېرو ښځو سره ځملاستې او هره شپه د عياشۍ کورونو ته تللې ؟
ومې ويل هو ! هره شپه د عياشۍ کورنو ته تلم . خو تر دې شپې چې له تا سره ناست يم. يوه ښځه هم زما خور نه شوه. نفر نفر وويل دروغ وايې. ځنګه نا ممکنه ده يو سړی هره شپه د عياشۍ کورونو ته ولاړ شي او د هغو کورنو ښځې يې خوښندې نه شي.
ومې ويل. هر ځل چې د دغه ډول کورنو کومه ښځه زما پر لور راتلله ته به رايادا شوې او کله چې به ستا څېره راپه ياده شوه، پوه به شوم چې نور هغه ښځه راته ارزښت نه لري
نفر نفر وويل ته دروغ وايې او کله چې زه ستا خور شم په دې مسلې به پوهه شم چې دروغ دې ويلي دي.
ومې وويل درواغ نه وايم او هېڅکله مې درواغ نه دي ويلي.
نفر نفر وپوښتل اوس څه غواړې وکړې؟
ما ورته وويل تر اوسه مې په خدايانو عقيده نه درلوده. په خدايانو عقيده مې وهم او خيال باله. اوس ځم او په ټولو معبدونو کې شکر کوم چې خدايانو زه له تا سره يوځای کړم.
بيا قرباني کوم. له هغه وروسته عطر اخلم او ستا د کور مخه به په عطرو سره ښکلې کړم .تر دې چې کله له کوره بهر ځې د عطرو بوی به احساس کړې او له بوټو او ونو به ګلان وشکوم چې کله له کوره وځې ستا تر قدمونو لاندې يې واچوم.

ښځې وویل . دغه کار مه کوه ځکه چې ماته ارزښت نه لري. زه په خپله هم عطر لرم او هم ګلان. ستا عطرو او ګلانو ته اړتیا نه لرم. که غواړې چې زه دې ښځه شم راځه باغ ته لاړ شو چې تاته یوه کیسه وکړم.

ما ورته وویل نفرنفر زما ته پکار یې نه ستا کیسه.

ښځې وویل که ما غواړې باید زما کیسه واورې.

ښایي رضایت درکړم چې له ما سره نن شپه ساعت تېر کړې. نو غواړم له تا سره ډوډۍ وخورم

بیا باغ ته لاړو او ما چې د اکاسي ونو د ګلانو بوی احساس کړ. داسې هیجاني شوم چې غوښتل مې (نفر نفر نفر) په غېږه کې ونیسم خو هغې له خانه لېرې کړم او ویې ویل لومړی زما کیسه واوره.

د سپوږمۍ رڼا حوض روښانه کړی و . په اوبو کې ګلانو د شپې له امله خپلې خولې پټې کړې وې او د شپې مرغانو سندرې ویلې.

د ښځې له امر سره سم مریي سره کړې هیلۍ او شراب راوړل او موږ خوراک او څښاک پیل کړ. هرځل چې ما غوښتل نفرنفر په غېږ کې ونیسم هغې به ویل صبر وکړه او لومړی زما کیسه واوره. له هغه وروسته چې زما خبره دې ومنله بیا به زه ستا خور شم.

خو د خوانۍ هیجان مجبورولم چې هغه په غېږه کې ټینګه ونیسم او د هغې کیسه په نیمايي کې پرېږدم.

هغې ته مې وویل نفرنفر ایا ممکنه ده . په دې شپې کې او د سپوږمۍ په دې رڼا کې ستا خرپیل شوی سر ووینم.

ښځې وویل. کله چې تا موافقه وکړه .چې زه به ستا خور کېږم . زه به خپل ساختګي ویښتان لیرې کړم او اجازه به درکړم چې ته زما خرپیل شوی سر لمس کړې او هغه ووینې.

(له دې سره سره چې د توضیحاتو ورکول د ژباړن له لوري ډېر ښه نه دي او لوستونکی ستړی کوي خو باید ووایم چې څلور زره کاله پخوا په مصر کې اشرافي او شتمنو میرمنو سرونه خرپیل او ساختګي ویښتان به یې کېښودل او د یوې ښځې پروړاندې د یونانېنه ترټولو ستر بریالیتوب دا و چې وکړای شي د هغې خرپیل شوی سر وګوري او هغه لمس کړي ژباړن).

نهم څپرکی

زما د ژلمیتوب تر ټولو ژړوونکې پېښه

په دې وخت کې نفر نفر داسې وویل، پخوا د (سات نه) په نامه یو سړی و، یوه ورځ د یوه کم ساري کتاب د کتو لپاره معبد ته ولاړ، هلته یې یوه کاهنه ولیدله او په لومړي نظر کې پر ې مَین شو. کله چې راستون شو، خپل غلام یې هغې ښځې ته واستاوه، پیغام یې ور ولېږه چې کور ته ورشي، څو شېبې یې خور شي او په بدل کې به د سرو زرو یوه کړۍ ترلاسه کړي.

ښځې غلام ته وویل، زه د سات نه کور ته نه ورځم، ځکه چې ټول خلک به ما ووینې او داسې به وانګېري، چې زه ځان ارزانه خرخوم. بادار ته دې ووایه چې زما کور ته راشي؛ ځکه زما په کور کې څوک نشته.

سات نه د کاهنې کور ته لاړ او د سرو یوه کړۍ یې هم له ځان سره یووړه چې هغې ته یې ورکړي.

ښځه چې و پوهېد له دغه سړی د څه لپاره ورغلی دی، و یې ویل ته پوهېږې چې زه یوه کاهنه یم او کاهنه ښځه ځان په ارزانه بیه نه خرڅوي. سات نه وویل، ته وینځه نه یې چې وادې خلم بلکې زه له تا داسې شی غواړم چې که یوه ښځه یې یوه سړي ته ورکړي هېڅ تاوان نه کوي، ځکه خو دا دې شي بیه هر چیرته ډېره ارزانه ده.

کاهنې وویل، هغه څه چې ته یې له ما غواړې، تر ټولو ارزانه او بې ارزښته شی دی او ان په واټونو کې د ښارویو له خوشیو هم ارزانه دی خو په عین حال کې تر ټولو ګران بیه شی هم دی.

دغه شی د هغو کسانو لپاره ارزانه دی، چې ورته توجه نه کوي، خو کله چې یو نارینه دغه شي ته توجه وکړي، تر ټولو ګران بیه شی ترې جوړېږي او که دغه کس یې غوښتونکی وي باید په ډېره ګرانه بیه یې ترلاسه کړي.

اوس ته راته ووایه چې څومره راکوې چې د یوه ساعت لپاره ستا خور شم؟

ساتنه وويل زه چمتو يم، د دغو سرو زرو دوه برابره درکړم.

کاهنې مېرمنې وويل، دا زما په شان د يوې ښځې لياقت نه لري او که ته ما غواړې بايد هرڅه چې لرې رايې کړې.

نارينه چې د کاهنې ارمان يې درلود وويل، هرڅه چې لرم هغه به درکړم، په همغې شېبې کې يې کاتب را وغوښت او سرې خپل کور پټې، مريان او ټول سره، سپين د هغې ښځې په نوم کړل او بيا يې لاس اوږد کړ چې د کاهنې ساختګي وېښتان ليرې کړي او سر يې ښکل کړي. خو ښځې يې مخه ونيوله او ويې ويل، زه ډار ېږم چې کله ته د يوه ساعت لپاره ما خپله خور کړې، او کله چې موړ شې نو خپلې ښځې ته به ستون شې، نو که ته غواړې چې زه ستا خور شم بايد همدا اوس خپله ښځه له کوره وباسې.

سړي چې نور يې مريان نه درلود د کاهنې يو مريي يې وليږه. خپله ښځه يې له کوره بهر کړه. بيايې وغوښتل چې د ښځې ساختګي وېښتان د هغې له سره لېرې کړي. خو کاهنې وويل. ته له دې ښځې چې له کوره دې وايستله درې زامن لرې. زه ډارېږم چې يوه ورځ به پلرنۍ مينه. تا د هغو زامنو پر لوربوځي او ما به بېبره کړې، نو که غواړې خوند واخلې بايد خپل بچيان دلته راولې چې زه يې ووژنم او د هغوی د بدن غوښه خپلو سپيانو او پيشوګانو ته واچوم.

ساتنه بې له ځنډه د کاهنې د مريانو په وسيله خپل بچيان راوستل او ښځې ته يې وسپارل. کاهنې ښځې په ډېرينې چړې درې واړه ووژل او په داسې حال کې چې سړی د شرابو په ځښلو بوخت و، ښځې د هلکانو غوښې خپلو سپيانو او پيشيانو ته ور واچولې.

بيايې وويل اوس راشه او زه به د يوه ساعت لپاره ستا خور شم. ډاډه اوسه چې د زړه له تله به ستا خور شم او هره ښځه هغه وخت دې ته چمتو کېږي، چې له مينې د يوه سړي خور شي، چې پوه شي ځان يې ارزانه نه دی خرڅ کړی.

د کوڅه ډبو او زما په شان د عزتمنو مېرمنو ترمنځ توپير دا دی چې کوڅه ډبې ځان ارزانه خرڅوي، خو باعزته او ابرومندې ښځې ځان په ډېرو شتو خرڅوي.

ما وويل نفر نفر ما دغه کيسه اورېدلې ده، پوهېږم چې ټولې دغه خبرې په خوب کې تېرې شوې دي او د کيسې په پای کې چې ساتنه له خوبه راويښ شو، د خدايانو شکر يې وکړ چې د هغه ماشومان ژوندي دي

نفر نفر وويل داسې نه ده، هر سړی چې په يوې ښځې مين کېږي، د ساتنه په شان

وي. د دې لپاره چې له هغې خوند واخیستلای شي چمتو دی خپل مال، ښځه او زامن ترې ځار کړي. کله چې یې ستر هرم جوړاوه همداسې وو او کله چې باد او لمر هغه وران کړي بیا به هم همداسې وي.

ایا په دې پوهېږې د هغه خدای سر یې چې په مینه کې مراد ورکوي ولې د پیشي د سر په شان جوړ کړی دی؟

ما وویل نه. نفر نفر وویل د دې لپاره چې وايي ښځه د پیشي د پنجو په شان ده او کله چې پیشي وغواړي ښکار وکړي. هغه غولوي. خپلې نرمې پنجې پر هغه راکاږي. ښکار له نرمو پنجو خوند اخلي. خو ناببره د پیشي د پنجو تېرې څوکې د هغې له نرم پوستکي راوځي او د ښکار په بدن کې ننوځي.

زه له دې امله چې نه غواړم تا ته کوم تاوان ورسېږي نو درته وایم چې سینوهه له دې ځایه ولاړ شه او بیا دلته مه راځه.

ما وویل نفر نفر تا پخپله نن راته وویل چې درځخه لاړ نه شم او دلته اوسم چې له تا سره خبرې وکړم.

ښځې وویل هو ما وویل خو اوس درته وایم چې ورځه.

د دې لپاره چې که غواړې له ما خوند واخلې ډېره به درته ګرانه شي او بیا به ما ته ښېرا کوې چې تا ته مې د غه تاوان ورساوه.

ومې ویل. زه به هېڅکله له خپل تاوانه ګیله ونه کړم او که ستا مقصد سره، سپین او مس وي. زه هرڅه چې لرم تا ته به یې د دې لپاره درکړم چې پرې مې ږدې خوند درځخه واخلم.

نفرنفر وویل لکه چې تا هم وکتل ما نن دلته یو ستر جشن درسره او د غه جشن ستړې کړې یم. اوس غواړم ویده شم. ته لاړ شه او بله ورځ زما کورته راشه. بیا چې ما هرڅه درځخه وغوښتل ته به یې راکړې او زه به یې په بدل کې ستا خوړ شم.

ما چې څومره ټینګار وکړ. چې د غه شپه له ما سره تېره کړي هغې ونه منله. زه مجبور شوم د هغې له کوره ولاړم خو تر سهاره د نفر نفر د مینې له هیجانه ویده نه شوم.

پر بله ورځ مې سهار وختي خپل مریي ته وویل چې ټول هغه ناروغان چې زما کتنځي ته راځي خواب کړي او ورته دې ووايي چې پر دغې ورځ د معالجې حوصله نه لرم.

بیا سلماني ته لاړم چې ځان پاک کړم. په ځان مې عطر ووهل او د نفر نفر د کور پر

لور راون شوم.

هلته يوه مر يي د هغې كوټې ته بوتلم او ګورم چې ښځه په سينګار بوختـه ده، زه د بېګانې دوستۍ په اساس د هغې لور ته ورغلم. خو ښځې له ځانه لېرې كړم او ويې ويل سينوهه ! ولې دلته راغلې او ولې ماته مزاحمت كوې ؟

ومې ويل نفر نفر له تاسره مينه لرم او نن دلته راغلى يم چې له وعدې سره سم زما خور شې.

ښځې وويل نن بايد زه سينګار وكړم. ځكه چې يو سوداګر چې له سوريې راغلى دى. غواړي له ما سره خپل وخت تېر كړي او ويلي يې دي چې د يوې ورځې په بدل كې به يوه توټه جواهر راكوي.

بيا نفر نفر په كټ څملاسته او يوې ښځې چې د هغې وينځه وه، په عطري تيلو د هغې د بدن مالش پيل كړ.

له دې امله چې ما نه غوښتل ولاړ شم ويې ويل سينوهه ! ولې مې كړوې او له دې خايه نه ځې؟

ومې ويل. ددې لپاره چې ستا ارمان لرم... ددې لپاره چې غواړم ته لو مړنى ښځه واوسې چې زما خور شې.

نفرنفر نفر وويل يو ځل بيا د بېګا په شان درته وايم چې زه ستا د كړولو نيت نه لرم او تاته وايم چې پخپل كار پسې دې ځه او ما پخپل حال پرېږده.

ومې ويل نفر نفر هرڅه چې وغواړې دربه يې كړم خو چې نن راسره شپه تېره كړې.

ښځې وپوښتل ته څه لرې؟ ومې ويل د سپينو او مسو څو كړى لرم چې له ناروغانو مې د فيس په بدل كې اخيستي دي او دغه راز يو كور لرم . چې كتنځى مې هم همغلته دى . دغه كور هغه محصلين چې له دارالحياته خلاصېږي او كتنځي ته اړتيا لري په ښه بيه اخلي.

نفر نفر په داسې حال كې چې په كټ څملاستلې وه او وينځې يې بدن ته په عطر لرونكو تيلو مساژ وركاوه وويل سمه ده سينوهه ! ولاړ شه، يو كاتب راوله چې دغه موضوع وليكي. سند يې له ستر قاضي سره كېږدي چې دغه انتقال قانوني اړخ پيدا كړي او ته ونه كړاى شې په راتلونكې كې هغه له ما څخه واخلې.

ما چې د نفرنفر نفر ښكلي او مرمرين اندام ته كتل پر نفس مې غلبه نه شواى كولى،

فکر مې کاوه چې د ټولې شتمنۍ ورکول، ددې په بدل کې چې یوه شپه له هغې سره ځملم اهمیت نه لري. ومې ویل نفر نفر اوس ځم او کاتب راولم.

ښځې وویل په هر حال نن له تا سره نه شم پاتې کېدای، خو کاتب راوله او خپله شتمني زما په نوم کړه زه به دې په بله ورځ ومنم.

ما په بیړه یو کاتب راوست او هر څه چې مې درلودل له سرو او سپینو رانیولې تر کور او حتی مړ یې پورې ټول مې د نفرنفرنفر په نوم کړل. هغې سند په دو کاپیو کې برابر کړ او له ما یې واخیستل. یو یې له ځان سره وساته او بل یې کاتب ته ورکړ چې له سترقاضي سره یې کېږدي.

ما وکتل چې خپل سند یې په یوه صندوق کې کېښود او ویې ویل سمه ده زه اوس ځم. ته سبا دلته راشه چې هغه څه درکړم چې ته یې غواړې.

ما غوښتل په غیږ کې یې ټینګه کړم، خو چیغه یې کړه او ویې ویل له مالېږې شه چې سینګار مې خرابوې.

بیا په یوه روان تخت سپره شوه او له خپلو مریانو سره لاړه. زه هم خپل کور ته ستون شوم. خپل خصوصي شیان مې راغونډ کړل چې کله د کور نوی خاوند راځي او کور د ځان کړي.

کاپتا چې ولیدل د خپلو شیانو په ټولولو بوخت یم، ویې ویل د سفر نیت دې کړی؟

ومې ویل نه ما خپل ټول شیان او ته بل چاته ورکړل، د بېر ژر به یو څوک راشي او دغه کور به راځخه تسلیم کړي.

ته هڅه وکړه چې له هغه سره کار کوې لږه غلا وکړې، ځکه چې ممکنه ده، هغه تر ما بې رحمه وي او په لرګي به دې ووهي. کاپتا زما په مخکې سجده وکړه او ویې ویل: اې زما باداره، زما په بوډا زړه ګران یې، ما له ځانه مه شړه ځکه چې زه له بل بادار سره کار نه شم کولای.

سمه ده چې ما له تا څینې شیان غلا کړي دي، خو هېڅکله مې د انصاف له حده ډېره غلا نه ده کړې او د ورځې په تودو ساعتونو کې چې تا په کور کې استراحت کاوه ما د طبس په کوڅو کې ستا ستاینه کوله او ټولو ته مې ویل سینوهه زما بادار د مصر تر ټولو ستر طبیب دی. په داسې حال کې چې نورو غلامانو به خپلو بادارانو ته ښېراوې کولې او له خدایانو به یې د هغو مرګ غوښت.

د غلام په دې خبره مې زړه خپه شو او د هغه پر اوږه مې لاس کېښود ، ومې ويل کاپتا پاڅېږه .

لږ داسې پېښ شوي چې زه خپل مريي ته د هغه نوم واخلم . ځکه چې وېرېدم هغه به خيال وکړي ، چې ورسره برابر يم او ډېر ځله مې تمساح باله يا به مې ورته د غل او احمق خطاب کاوه .

کله چې مريي خپل نوم واورېد ، ويې ژړل او زما پښې يې پخپل سر کېښودې ، ويې ويل . زما څوانمرده باداره ! ما مه شړه او مه پرېږده چې نور کسان ستا بوډا مريي په لرګيو ووهي ، پر سريې په کاڼي وولي او خوسا شوې هګۍ ورکړي ، هغه هګۍ چې بايد ستا سين ته يې واچوي .

سره له دې چې زړه مې پرې وسوځيد ، خو پخپلې لکړې مې په شا وواهه (خو ډېر سخت نه) او ومې ويل اې تمساح ! پورته شه ، دومره زارۍ مه کوه او که ګورې چې زه دې له ځانه ليرې کوم ، ددې لپاره دي چې تا ته هګۍ نه شم درکولای ځکه چې خپل ټول شيان مې بل چاته ورکړي او ستا ژړاګانې ګټه نه لري .

کاپتا پورته شو او د وير په نښه يې خپل لاس پورته کړ او ويې ويل نن د مصر يو سپېره ورځ ده .

له هغه وروسته يې لږ فکر وکړ او ويې ويل سينوهه ! له دې سره سره چې ځوان يې خو يو ستر ډاکټر يې ، زه تا ته وړانديز کوم چې هر څومره سپين زر او مس چې لرې وايې خله ، نن شپه به په يوه ماکو کې کښېنو او له دې ځايه به لاړ شو .

ته به د مصر په يوه ښار کې چې د سين په ښکتنۍ برخه کې دی خپل کتنځی پرانيزې او که يې موږ ته مزاحمت کاوه نو سره هېواد ته به ولاړ شو او په سره هېوادکې د مصري ډاکټرانو ډېر درناوی کېږي

(له سره هېواده مقصد نني عربستان دی چې د سره سمندر په ختيځ کې پروت دی)

که په سره هېوادکې نه غواړې ژوند وکړې موږ دميتاني يا دوآب هېواد ته تللی شو . ما اورېدلي چې په دوآب کې دوه سيندونه شته چې په اپوټه بهير بهېږي او د شمال پر خای سوېل ته روان دي .

ومې ويل کاپتا ! زه له طبسه نه شم تښتېدلای ، ځکه هغه مزی چې زه يې له دې ځای سره تړلی يم تر مسي زولنو هم مضبوط او کلک دی .

زما مريي پر ځمکه کېناست او سر يې د ويرجنو په شان وښوراوه ، ويې ويل امون خدای مور، پرې اينبي يو او نور مور، پرې ګران نه يو . ځکه چې يوه موده کېږي تا د امون معبد ته ډالی نه دي ورې.... زه خو وايم چې همدا نن د نورو خدايانو لپاره يوه ډالی يوسو . چې د نوي خدای له مرستو برخمن شو.

ومې ويل کاپتا ! تا هېر کړي چې زه نور څه نه لرم چې بل خدای ته يې ورکړم او ان ته چې زما مريي وې اوس په ماپورې اړوند نه يې.

کاپتا ! پوښتنه وکړه دغه کس څوک دی، نارينه دی که ښځه ؟ ومې ويل هغه يوه ښځه ده.

کله چې کاپتا پوه شو چې نوی خاوند يې يوه ښځه ده داسې وير ماتم يې پيل کړ، چې زه مجبور شوم هغه پخپلې لکړې وګواښم چې غلی شي.

بيا يې وويل اې مورې ! ولې دې زه پر هغې ورځ چې پيدا شوی وم د خپل نوم په بند خفه نه کړم. چې ژوندی پاتې نه شم او دغه ناخوالې ونه زغمم ؟.. ولې زه يو مريی پيدا شوی يم. چې له دې وروسته به ديوې ښځې په بند کې وم.

ددې لپاره چې ښځې تل له نارينه وو. بې رحمه وي هغه هم ددې ښځې په شان ښځه چې له تا يې ټول شيان واخيستل. دغه ښځه به له سهاره ترماښامه ما وځغلوي او اجازه به رانه کړي. چې يو شېبه هم استراحت وکړم او دا به په هغه حالت کې وي چې دا ما خپل چوپړ ته پربېږدي، ګني په يوه معدنچي به مې خرڅ کړي چې په کانونوکې په کار بوخت شم او له څو ورځو وروسته به په کان کې له ډېرې سختۍ مړشم.

زمامړی څوک موميايي نه کړي او د ځملاستو لپاره به هدېره ونه لرم (په پخوانيو وختونوکې *کارګران په کانونوکې د کار لپاره نه چمتو کېدل او د فلزاتو د استخراج لپاره بې مريان په کانونوکې د کار لپاره اړکول او له هغو به يې استفاده کوله)*

زه پوهېدم چې کاپتا سمه خبره کوي او د نفر نفر په کور کې د يو بوډا د ارام لپاره چې يوه سترګه هم نه لري. ځای نشته.

هغه به په بل چا خرڅ کړي. له کاپتا سره به بد چلند وکړي او په لنډه موده کې به له سختو عذابونو وروسته مړ شي.

د مريي د ژړا له امله زه هم په ژړا شوم. خو په دې نه پوهېدم چې پر هغه ژاړم که پر خان چې ټول شيان مې له لاسه ورکړي دي.

کله چې کاپتا ولیدل زه هم ژاړم کرار شو او له خپل ځایه پاځېد. خپل لاس یې زما پر سر کېښود او ویې ویل، ټوله زما ګناه ده چې نه پوهېدم زما بادار د هغه ټوکر په شان ساده دی چې اوبه نه وي ورسېدلې.

د ژوند له حالاتو خبر نه دی او نه پوهېږي چې یو ځوان کله چې د شپې مهال پخپل کور کې وید ېږي باید یوه ښځه له ځان سره څملوي.

ما ستا په شان یو ځوان نه دی لیدلی چې د ښځو په اړه داسې بې پروا وي.

هېڅکله داسې و نه شول چې ته له ما وغواړې چې لاړ شم او یوه ځوانه ښځه چې د عیاشۍ په کورنو کې پریمانه دي دلته راولم.

یو ځوان سړی چې د ښځو په اړه تجربه نه لري، د یو موتی وښو په شان وي او لومړنۍ ښځه چې ورسره مخامخېږي د تنور په شان وي چې کله وانښه په تنور کې واچول شي سوځي.

بې تجربې ځوان هم چې کله له یوې ښځې سره مخامخ شي او ر اخلي او ددې لپاره چې له هغې ښځې خوند واخلي، خپل هرڅه ترې ځاروي او نه پوهېږي چې ځانته یې څومره تاوان پېښ کړی دی.

زه په دې خواشینی یم چې ولې دې د ښځو په اړه له ما څخه پوښتنه ونه کړه چې لا رښوونه درته وکړم او تاته ووایم چې په دنیاکې یو ښځه هغه وخت له یوه سړي سره مینه کوي چې هغه سړی ډوډۍ او غوښه لري او کله چې یو سړی سوالګر شي نو بیا یې خوشې کوي او په بل سړي پسې ځي چې غوښه او ډوډۍ ولري.

ولې دې له ما سره مشوره ونه کړه چې تا ته ووایم، کله چې یو سړی یوې ښځې ته ورځي باید له ځان سره یو لرګی هم یوسي او د ښځې کور ته له ننوتو سره سم هغه پر سر په لرګي ووهي؟

که دغه احتیاط ونه کړي پر همغې ورځ به ښځه د سړي لاس او پښې وتړي او بیا به سړی د هغې ښځې له منګولو خلاص نه شي، مګر هغه وخت چې سوالګر شي او دا هغه وخت دی چې ښځه یې پرېږدي.

هر څومره چې سړی شرم وکړي تر نورو ژر د ښځو په منګولو کې لوېږي او ډېر ترې کړاو ویني.

که تا ددې پر ځای چې ددغې ښځې کور ته ورشې هره شپه دې یوه ښځه د لته راوستلې

وای او سهار دې یوه کړی مس ور ښښلي وای او بیا دې رخصت کړې وای نو موږ به نن له دغې بدبختۍ سره نه وای مخامخ شوي.

زما غلام یو شپېه وغږېد خو ماېې خبرو ته غوږ نه نیو، ځکه د نفر نفر فکر مې له خانه نه شو لېرې کولای. هرڅه چې مریي راته ویل په یوه غوږ به مې ننوتل او له بله به وتل.

په دې شپه تر سهاره لس خله ویښ شوم او هر ځل چې به راویښ شوم نفر نفر به رایاده شوه، په دې ډېر خوشاله وم چې سبا به هغه وګورم.

ددې ښځې د لیدو لپاره دومره بېقراره وم چې په بله ورځ کله د ښځې کور ته لاړم دا لا ویده وه. زه د سوالګرو په شان د هغې د کور په دروازه کې کېناستم تر هغه چې دا له خوبه راویښه شي.

کله چې د هغې کوټې ته ننوتم ګورم، چې یوه وینځه د هغې د بدن په مالش لګیا ده او چې زه یې ولیدم ویې ویل سینوهه! ولې زما د پرکالۍ او کسالت سبب کېږې؟ما وویل زه نن راغلی یم چې له تا سره خواړه وخورم او خپل ساعت درسره تېرکړم. تا پرون له ما سره ژمنه وکړه چې نن ورځ به له ما سره تېروې.

نفر نفر خوله خلاصه کړه او اسویلی یې وایست ویې ویل: تا پرون ماته درواغ ویلي ول. ومې ویل څنګه مې درته درواغ ویلي ول؟ښځې وویل . پرون تا وویل چې له کور او مریي پرته بل څه نه لرې په داسې حال کې چې ما تحقیق وکړ او پوه شوم ، چې ستا پلار چې اوس ړوند شوی دی او لیکنه نه شي کولای خپل مهر تا ته درکړی او ویلي یې دي چې ته باید د هغه کور خرڅ کړې.

نفر نفر رښتیا ویل ، پلار مې ړوند شوی و اولیکنه یې نه شوای کولای خپل مهر یې ماته راکړی و. چې کور یې ورته خرڅ کړم، ځکه چې پلار او مور مې غوښتل د طبس له ښاره ووځي، یوه کرونده واخلي ، همغلته خپل پاتې عمر تېر کړي، مور به مې په کرونده کې کرنیز کارونه کوي او همغلته به د مرګ تر وخته پاتې وي.

ما ورته وویل موخه دې څه ده؟ښځې وویل ته د خپل پلار یوازېنی زوی یې او پلار دې لور نه لري چې له مړینې وروسته د میراث ډېره برخه هغې ته ورسېږي، نو ټول میراث به تاته در رسېږي. ته د هغوی په ژوند کې دا حق لرې چې د هغه کور ماته منتقل کړې، هغه هم خپل مهر تاته درکړی او ته یې د کور په پلورلو کې ازاد پرې اېښی یې.

کله چې مې د هغې له خولې دغه خبره واورېده بدن مې ولړزېد ، ځکه چې ما د خپل کور

اختيار درلود او د پلار او مور کور مې نفر نفر ته نه شو ورکولای. ومې ویل دغه غوښتنه دې ډېره عجيبه ده، ځکه چې که دغه کور تا ته درکړم پلار او مور به مې نو ره کرونده ونه لري چې خپل پاتې عمر پکې تېر کړي.

نفر نفر خپلې وينځې ته وويل چې له کوټې بهر شي او مانه يې وويل چې ورنژدې شم. وروسته يې راته وويل سينوهه! راشه او زما پر سر لاس تېر کړه، زه په ډېر شوق ولاړ شوم او د هغې پر بې وېښتو سر مې لاس تېر کړ او ومې موښه.

ښځې وويل سينوهه! بايد پوه شې چې زه داسې ښځه يم چې ځان ارزانه نه خرڅوم. ستا کور چې پرون دې راکړ زما ورنه دی او که غواړې له ما استفاده وکړې، بايد د خپل پلار کور هم زما په نوم کړې تر دې چې زه پوه شم، ماځان ډېر ارزانه نه دی خرڅ کړی.

ومې ويل، نفر نفر پرون خو دې له ما سره ژمنه وکړه، چې نن ورځ به له ما سره تېروې، د پلار د کور خبره دې نه وه کړې.

ښځې وويل، ددې لپاره چې پرون لا زه خبره نه وم، چې ته د خپل پلار د کور د خرڅولو يا بل چا ته د دغه کور د انتقال واک هم لرې او بله دا چې پرون، پرون و او نن يوه نوې ورځ ده. او که ته د خپل پلار کور زما په نوم کړې نن به تر ماښامه پورې له ما سره ساعت تېر کړې په دې شرط چې لومړی ولاړ شې، يو کاتب راولې او د کور د انتقال سند ماته راکړې. له هغه وروسته به له ما سره ساعت تېر کړې، ځکه چې زه د نارينه وو په قول او وعدو ډاډ نه لرم. زه چې څومره پوهېږم نارينه درواغجن دي.

و مې ويل، نفر نفر، هر څه چې ته وواېې همغسې به وکړم.

ښځې زه له خانه لېږې کړم او ويې ويل نو ورځه! لومړی کاتب راوله او د کور د انتقال کار خلاص کړه. له هغه وروسته به زه تر شپې پورې ستا شم.

زه له کوره راووتم، يو ځل بيا مې کاتب راوست او دا ځل مې پلرنی کور چې پوهېدم له قبره، وروسته زما د مور او پلار يوازينی شتمني ده، د نفر نفر په نوم کړ.

کله چې کاتب غوښتل ولاړ شي ما سپين زر نه درلودل چې هغه ته يې ورکړم، خو ښځې د سپينو زرو يوه نري کړی، کاتب ته ورکړه او ويې ويل دا ستا اجوره ده او له دې سره کاتب له دروازې ووت.

بيا نفر نفر امر وکړ چې مريان ورته سبا ناری راوړي، هغوی موږ ته ډوډۍ، تروه کبان او د اوربشو اوبه راوړې.

نفر نفر وویل. نن تر ماښامه ستا په خدمت کې یم، په دې کور کې به وڅښې او وخورې او له ماسره به ساعت تېر کړې.

له هغه وخته. بیا د لمر تر لوېدو لړ مخکې چې زه د نفر نفر په کور کې وم هغې له ماسره په مینه چلند وکړ. ماته یې اجازه راکړه چې سر یې وموښم او ویل یې چې زه به نن تاته داسې شیان در زده کړم چې لا دې نه دي زده کړي، خو زده کول یې د یوې خورد درلودلو لپاره ضروري دي. ځکه چې له دې پرته به ستا خور ستا له لمس کولو خوند وانه خلي.

کله چې لمر داسې ځای ته ورسېد چې ښکارېده نوره نو شپه رانژدې کېږي ښځې راته وویل سینوهه اوس مایوازې پرېږده ځکه چې ستړې شوې یم، باید استراحت وکړم او د سبا لپاره د ځان د سینګارولو فکروکړم.

زما د سر وېښتان هم راشنه شوي دي باید نن شپه هغه وخرېیم چې سبا ته مې سر وځلېږي او که ستا په شان یوه بل سړي وغوښتل له ماسره ساعت تېر کړي نو زما له ځلیدونکي سره خوند واخلي.

زه د دغه ځای د پرېښودلو له امله ډېر خپه وم. په خواشینۍ سره د خپل هغه کورپر لور روان شوم چې زه پوهېدم نور زما نه دی او کله چې کورته ورسېدم شپه شوې وه.

کله چې پښېماني او شرم له حده ډېر شي د اپیمو په شان په سړي خوب راولي او زه په دې شپه له ډېرې پښیمانۍ یا له دې شرمه چې د پلار کور مې خرڅ کړی و. ویده شوم او له دې امله چې د ورځې مې د هغې ښځې په کور کې ډېر شراب څښلي وو ترسهاره را وېښ نه شوم.

سهار چې کله له خوبه راوېښ شوم د نفر نفر ښکلی اندام او خریل شوی سر رایاد شو او پوه شوم چې په کور کې نه شم پاتې کېدای. هغه هم په داسې کور کې چې پوهېدم زما نه دی.

له کوره ووتم او د هغې ښځې د کور پر لوري روان شوم.

ما سوچ کاوه چې هغه به ویده وي. خو چې ورغلم معلومه شوه چې وینه وه او په باغ کې ده.

کله چې یې زه ولیدم ویې پوښتل د څه لپاره راغلی یې او له ما څه غواړې؟

ومې ویل راغلی یم چې ستا په خواکې واوسم. د پرون په شان ستا سر وموښم او له تا

غواړم چي له ماسره ساعت تېرې وکړې.
ښځې وویل . ایا ته څه لرې چي ماته یې راکړې چي زه له تاسره خپل وخت تېر کړم.
ومې ویل خپل او د پلار کورونه مې تاته درکړل. نور کوم شی نه لرم خو له دې امله چي زه ډاکټر یم او له دارالحیاته فارغ شوی یم . په راتلونکي کې چي بډای شم هغه ډالی به درکړم چي نن یې باید درکړم.
نفر نفر وخندل او ویې ویل د نارینه وو په ژمنو باور نه دی پکار . ځکه تر هغه وخته پورې پر خپلې ژمنې ولاړ وي چي هیله کوي یوه ښځه خوړکړي.
کله چي یې هغه ځوځله خپله خوړ کړه او له ورباندې موړ شو . نو ښځه داسې هېروي چي د عمر تر پایه پورې یې نه یادوي.
خو لهٔ دې امله چي تا وکړای شو . پرون زما د لاړښوونو پیروي وکړې او له یوې ښځې د استفادې چل دې زده کړ . ښایي نن هم ګروهه ولرم چي له تاسره ساعت تېري وکړم او د خپلې ډالۍ لپاره یوه حل لاره پیدا کړم.
زه د هغې په څنګ کې کېناستم. سر مې د هغې په سینو کېښود. ښځې وویل چي زموږ لپاره خواړه او شراب راوړئ او ویې ویل له دې امله چي ښایي نن له ماسره پاتې شې نو له همدا اوسه به خوراک او څښاک پیل کړو.
له دې وروسته چي لږ مو وڅښل نفر نفر وویل سینوهه ! ما اورېدلي چي ستا مور و پلار یو قبر لري چي هغه یې جوړ او سینګار کړی او له دې امله چي ته د خپل پلار د شتمنیو اختیارات لرې دغه قبر زما په نوم کولای شې.
ومې ویل دغه خبره چي ته یې کوې ما به د آمون له عذاب سره مخامخ کړي. څنګه د خپل پلار و مور قبر ستا په نوم کړم او ددې سبب شم چي دغه دواړه مېړه او ښځه په بلې دنیاکې کور ونه لري او د هغوی مړی د مریانو او ورانکارو په شان په نیل کې واچوي.
ویې ویل: ته څنګه دا خبره نه منې چي مور و پلار دې قبر ونه لري خو په دې راضي کېږې چي زه ځان ارزانه خرڅ کړم ؟
ماوویل پرون او هابله ورځ مې دوه ډالۍ درکړې او ایا ددغه دوه ډالۍ ددې ارزښت نه لري، چي ته نن له ډالۍ پرته زما په څنګ کې پاتې شې ؟
ښځې وویل دغه دوه ډالۍ زما د ښکلا د نیمې ورځې ارزښت نه لري، اوس له دوآبه یو سړی راغلی او چمتو دی چي د یوې ورځې په بدل کې سل دینه سوچه طلا راکړي (دین

دمصري وزن واحد و او کابو یو ګرام کېده).

بیا یې د شرابو بل جام راکړ او زیاته یې کړه که غواړې له ما سره اوسې او هرڅومره چې غواړې ما خپله خور کړې. باید د مور و پلار قبر دې زما په نوم کړې.

کله چې ښځه پوه شوه زه دقبر ورکولو ته تیار یم نو سمدستي یې کاتب راوغوښت او د قبر د انتقال سند یې برابر کړ.

بیا یې ماته وویل چې له باغه کوټې ته ولاړ شو، ځکه په باغ کې مریان او وینځې دي او ساعت نه شو تېرولای.

کله چې کوټې ته ولاړو نفر نفر وویل. زه هغه ښځه یم چې پر خپله خبره درېږم او بیا چې ونه وایې ما تېرایستی یې.

زه به نن تر لمر لوېدو له تا سره یم او ته به نن بیا هغه چلونه زده کړې چې پرون مې درزده کړي ول. زه به هم په دې کورکې ستا له شتونه خوند واخلم او ساعت به مې تېر شي.

مریانو مو ړ ته پېنځه ډوله غوښه ، اووه ډوله شریني او درې ډوله شراب راوړل خو ما داسې احساس کاوه چې هرڅل زموږ تر شا درېږي پر ما ملندې وهي، ځکه ټول پوهېدل چې ما ان د خپل مور و پلار قبر هم نفر نفر ته ورکړ چې یوه ورځ ورسره تېره کړم.

نه پوهېدم چې هغه ورځ څومره ژر تېره شوه؟ او ولې هغه خوښي چې انسان یې په ډېرو فلزاتو ترلاسه کوي په څو شېبو کې ختمېږي خو د بد بختۍ ورځې پای نه لري.

ناڅاپه متوجه شوم چې ورځ پای ته رسېدلې او شپه شوه.

نفرنفر نفر وویل اوس هغه وخت دی چې ته باید زما له کوره ولاړ شې. ځکه چې شپه شوه، زه هم ډېره ستړې یم او باید د بلې ورځې لپاره سینګار وکړم.

ومې ویل نفرنفر نفر! زه غواړم نن شپه هم له تا سره تېره کړم او سبا به له دې ځایه لاړ شم.

ښځې وویل ددې لپاره چې نن شپه له ما سره پاتې شې ماته څه راکوې؟

ومې ویل زه نور څه نه لرم چې تا ته یې درکړم.

ستا لپاره مې حتی مور و پلار هم په بلې دنیا کې بې کوره کړم او اوس د آمون له قهر سره مخامخ یم.

ښځې وویل: دلته به نه راتلې ، ایا ما درته ویلي ول. چې دلته راشه او له ما سره ساعت تېر کړه؟

ما تېنګار وکړ چې نن شپه پاتې شم خو نفر نفر وويل: نه شي کېداى، ځکه چې نن شپه له دوآب هېواده راغلى سوداګر دلته راځي او هغه به ماته سل دينه سره زر راکړي.

زه له دومره سرو زرو نه شم تېرېدلاى، بیاهم که تا کوم شى درلوداى او ماته دې راکړي واى ممکنه وه چې ما د خپل تاوان يوه برخه جبران کړې واى، خوله دې امله چې څه نه لرې بايد ولاړ شې.

بيا زما له څنګه پورته شوه چې بلې کوټې ته لاړه شي، خو ما دهغې لاسونه ونيول چې مخه يې ونيسم.

په دې وخت کې د هغو شرابو له امله چې نفر نفر راکړي ول، نه پوهېدم چې څه وايم. ښځې چې وليدل ما يې لاسونه کلک نيولي او نه يې پرېږدم چې لاړه شي، نو ناري يې کړې او خپل مريان يې را وبلل ورته يې وويل: چا تاسې ته اجازه درکړې چې دغه سړى زما کورته راپرېږدئ.

ژر يې له دې کوره وباسىء او که مقاومت وکړي دومره ووهئ يې چې له هر څه ولوېږي. مريانو پر ماحمله وکړه، زه سره له دې چې نشه وم، غوښتل مې مقاومت وکړم او له کوره ونه وځم. خو هغوى پر مابريد وکړ او په لرګيو يې دومره ووهلم چې زما له مخ، سر، سينې او خيټې څخه وينې رواني شوې. وروسته يې له کوره د باندې وغورځولم.

کله چې خلک راټول شول او ويې پوښتل چې ولې مو دغه سړى وواهه؟ نو دوى ورته وويل. ده زموږ مالکې ته سپکاوى کړى دى.

موږ چې ورته هر څومره وويل زموږ مالکه داسې ښځه نه ده چې ځان ارزانه خرڅ کړي خو ده نه منله او غوښتل يې چې په زور زموږ مالکه خپله خور کړي، نو موږ هم اړ شوو چې دى له کوره را وباسو.

ما دغه خبرې په داسې حال کې واورېدې چې تقريباً بېخوده وم.

دومره يې وهلى وم چې له هغه ځايه نه شواى تللى، شپه مې هملته په خپلو وينو کې تېره کړه او ويده شوم.

سهار د پليو خلکو د پښو او د ګاډيو د اربو په غږ راويښ شوم، ټول بدن مې سخت درد کاوه او د شرابو مستي هم رانه تللې وه.

خو دومره چې له شرمه او پښېمانى څخه کړېدم هومره د بدن له خوږو نه ځورېدم.

روان شوم او ځان مې د نيل سيند څنډې ته ورساوه، هلته مې خپلې وينې ووينځلې او

بيا مې له ښاره د وتلو لاره ونيوله، ځکه چې دومره له ځانه شرميدم چې کورته نشواى تللى.

درې ورځې او درې شپې مې دنيل پر غاړه، بانګسونو او نيوونو کې تېره کړه او په دې موده کې مې له اوبو او وښو پرته بل څه ونه خوړل.

درې ورځې وروسته ښار ته را ستون شوم او خپل کورته لاړم.

کله چې کورته ورسېدم نو ومې ليدل چې زما پر کور د يوه بل ډاکټر نوم ليکل شوى و، او دې خبرې ثابته کړه چې زما کور يې ضبط کړى دى.

زما مريى کاپتا له کوره راووت، چې زه يې وليدم ويې ژړل او راته يې وويل، زما کم بخته باداره ستا کور يوه ځوان طبيب ونيوه زه اوس زه د هغه مريى يم او د هغه لپاره کار کوم.

بيا يې وويل که ما کولاى شواى چې تا له بد مرغيو وژغورم نو خپله دغه يوه ستر ګه به مې در کړې واى. ځکه چې ستا مور و پلار هم مړه شوي دي.

ومې ويل آمون ته پناه وړم. بيا مې خپل لاسونه پورته کړل او ومې پوښتل زما مور و پلار څنګه مړه شول ؟

کاپتا وويل: له دې امله چې تا د هغوى کور خرڅ کړى و، نو نن سهار وختي د ستر قاضي له لوري د هغه کورته مامورين ورغلل چې هغوى له کوره وباسي او کور د هغه نوي مالک ته ورکړي. خو ستا مور و پلار پر خمکه پراته ول او نه ښورېدل.

لا هم نه ده معلومه چې هغوى پخپله مړه شول او که تر دې وروسته چې خبر شول له کوره يې باسي نو يې زهر خوړلي دي او خپل ژوند يې پاى ته رسولى دى.

خو ته کولاى شې د هغوى جنازې او مړي. چې لا هم په هغه کور کې دي د مرګ کورته يوسې.

ماورته وويل زما مور و پلار دې ونه ليدل ؟ کاپتا وويل پرون چې زما نوى بادار زما د کتولپاره راغلى و. او موريې کار کولو ته اړ کولم نو ما وليدل چې ستا پلار دلته راغلى دى.

له دې امله چې پلار دې ړوند و. پر لاره نه شواى تللى او مور دې له لاسه نيولى و، دواړو غوښتل چې تا وګوري.

زه ورته متوجه شوم چې مور دې هم دومره کمزورې شوې وه چې پر لاره نه شواى تللى.

هغوی ویل چې د ستر قاضي مامورین کور ته ورغلي ول او ټول شیان یې مهر کړي او ویلي یې وو. چې هغوی باید ډېر ژر دغه کور خوشې کړي، ګني دواړه به په زور له کوره وایستل شي.

پلار دې له مامورینو پوښتنه کړې وه چې د څه لپاره دوی له کوره باسي نو هغوی خواب ورکړی و چې ستاسو زوی سینوهه دغه کور یوې بدنامې ښځې ته ورکړی چې له هغې څخه خوند واخلي.

پلار دې له ما وغوښتل چې تا ته خبر درکړم چې ته ورشې. خو زه نه پوهېدم چې ته چیرته یې؟

د پلار سترګو دې خبر نه کاوه خو غوښتل یې چې یو شی ولیکي او ماته یې وویل کاپتا یوه ټوټه نري مس راکړه چې د کاتب په وسیله پرې لیک ولیکم او که مړ شوم دغه لیک مې زوی ته ورسپږي.

ما یوه ټوټه نري مس له خپلې زېرمې څخه ورکړل او هغه ستا له مور سره ولاړ.

ومې ویل کاپتا! ایا پلار مې ستا په وسیله کوم پیغام ما ته نه دی را استولی.

مریي مې وویل نه.

زړه مې په کوګل کې تر ډېرې هم درونډ شوی و، تر دې حده چې پر خپلو پښو نه شوای درېدلی. پر ځمکه کېناستم او ومې ویل کاپتا! هرڅومره سپین زر او مس چې دې زېرمه کړي وي رایې وړه او ماته یې راکړه ځکه چې مور و پلار مې مړه شوي دي. زه د هغوی د مومیایي کولو لپاره هېڅ فلز هم نه لرم. که ژوندی پاتې شوم ستا مس او سپین زر به بیرته درکړم او که مړ شم آمون به یې بدله درکړي.

کاپتا وژړل او وېې ویل که ته زما یوه سترګه هم وغواړې چمتو یم چې در یې کړم. خو سپین زر او مس نه لرم.

ما دومره ټینګار وکړ چې هغه لاړ او له دې وروسته چې شاوخوایې وکتل چې څوک یې نه څاري په باغچه کې یې یوه ډېره لیرې کړه او تر ې لاندې یې یوه زړه کڅوړه راپورته کړه چې پکې څو ټوټې مس او سپین زر وو. هغه یې ماته راکړل او ویې ویل: اې زما باداره! دغه مس او سپین زر چې تا ته یې درکوم زما د ټول عمر بسپنه ده او له دې پرته په نړۍ کې بل څه نه لرم.

ومې ویل کاپتا! زه ډاکټر یم او که ژوندی پاتې شم ددې لس برابره به درکړم.

ما غوښتل په هغه وخت کې له سلطنتي ډاکټر پاتور او خپل دوست توتمس څخه قرض واخلم. خو له دې امله چې ځوان او بې تجربې وم فکر مې کاوه چې که له هغوی څخه قرض واخلم، نو د هغوی پر وړاندې به مې خپل حیثیت تر پښو لاندې کړی وي.

کله چې د خپل مور و پلار کورته ولاړم ومې لیدل چې ټول ګاونډیان راټول شوي دي او زما د مور و پلار خیرې توري شوې وې، او د کوټې په منځ کې په یوه غټ ختین منقل کې لاهم اور بلېده.

پوه شوم چې مور و پلار مې په ذغال سره ځانونه وژلي دي، ستر منقل یې له ذغالو ډک کړی او اور یې ورکړی دی، ځکه چې د کوټې دروازې او کړکۍ هم بندې وې او هغوی مړه شوي ول.

یو ټوکر مې را واخیست، مور و پلار مې پکې تاو کړل، یو خرکار مې را وغوښت یوه ټوټه مس مې ورکړل او هغه ته مې وویل چې زما مور و پلار دارالممات ته ورسوي.

هلته کارګران زما د مور و پلار منلو ته حاضرنه ول او ویل یې چې لومړی باید ددغو دوو کسانو د مومیایي کولو پیسې ورکړم.

ما ورته وویل هغه وخت چې دوی مومیایي شي د کار اجوره به ورکړم خو د دارالممات کارګرانو نه منله.

تر دې چې بوډا کارګر چې د فرعون د جنازې د مومیایي کولو پر مهال راسره اشنا شوی و، او هلته یې ډېر نفوذ درلود، ضمانت وکړ چې زه د مومیایي کولو اجوره د مومیایي کولو په بهیر کې یو ځای او یا یې وروسته ورکړم.

بیا مې یو پړی د مور او یو د پلار په پښو کې وتاړه چې له نورو مړیو سره یې توپیر وشي او هغوی مې د مالګې په حوض کې چې د بېوزلو جنازو لپاره ځانګړی شوی و، واچول.

کله چې ډاډه شوم، جنازې د مالګو په اوبو کې ځای پر ځای شوې نو کور ته را ستون شوم. هغه ټوکرونه مې بېرته ټول راوړل چې له دغه ځایه مې وړي ول او د مور و پلار مړي مې پکې تاو کړي ول، ځکه دغه ټوکرنه نور زما نه بلکې د کور د نوي مالک مال بلل کېدل او که ما اخیستي وای نو غلا حسابېده.

کله چې مې غوښتل له کوره راووځم او دارالممات ته لاړ شم، نو یو کس چې د کوځې په څنډه کې به د نانوایي دوکان ته نژدې ناست و، او لیکنې به یې کولې راولاړ شو او ناری

یې کړې سینوهه.... سینوهه ... !

زه ورنږدې شوم او هغه یو پاپیروس (مصری کاغذ ژباړن) راکړ او ویې ویل: دغه لیک دې پلار تا ته ولیکه او سپارښتنه یې وکړه چې کله راغلې در ویې سپارم.

مالیک پرانیست او داسې مې ولوست: ((سینوهه ! زمونږ گرانه زویه ! له دې امله چې زمونږ قبر و کور دې خرڅ کړل مه خواشینی کېږه، ځکه غوره داده چې مونږ قبر ونه لرو او بیخي له منځه لاړ شو. په دې توګه به په بلې دنیاکې د اوږدو سفرونو ډېر زیار نه ګالو.

ته چې کله په لومړي ځل زمونږ کور ته راغلې مونږ دواړه بوډاګان وو او زمونږ کور ته ستا راتګ زمونږ د عمر وروستي پېر له خوښیو ډک کړ. ستا زامن دې ستا د نیکمرغۍ اوخوشالۍ سبب شي. مونږ په اسوده زړه دغه نړۍ پرېږدو او له قبر پرته د مطلقې نیستۍ پر لور ځو. خو پوهېږو چې تاپخپله دا نه غوښتل چې ګنې مونږ دې قبر ونه لرو، بلکې دغه چاره د هغو پېښو له امله وه چې ستا په واک کې نه وې.))

کله چې ما دغه لیک ولوست یوه شېبه وژړېدم، که څه هم د لیک لیکونکي ډاډ ګېرنه راکوله، خو زه نه غلی کېدم.

کله چې مې د سترګو اوښکې خلاصې شوې، دلیک لیکوونکي ته مې وویل زه فلز نه لرم چې د لیک د رسولو په بدل کې تاته انعام درکړم، خو چمتو یم په بدل کې یې خپل کمیس تاته درکړم.

خپل کیمس مې وکیښ او لیکونکي ته مې ورکړ، هغه په حیرانۍ سره دغه کمیس واخیست او لږه شېبه یې ورته وکتل چې پوه شي ګران بیه دی کنه ؟ سړی نابېره خوشاله شو او ویې ویل: سینوهه له دې سره سره چې خلک په تاپسې خبرې کوي او وایي چې تا د خپل مور و پلار کور، ان د هغوی قبر خرڅ کړی دی او هغوی دې په بلې دنیا کې بې کوره پرېښودل. خو ستا سخاوت ډېر زیات دی، له دې وروسته هرڅوک چې وغواړي په تا پسې بدې خبرې وکړي زه به ستا ننګه کوم.

خو اوس چې تا خپل کمیس ماته راکړ، ته به کمیس ونه لرې او لمر به دې ولي وسوځوي، ستا له بدنه به وینې او زوې وبهېږي.

ومې ویل ته نه پوهېږې چې ددې لیک په را رسولو سره دې ماته څومره لوی خدمت کړی دی او څومره دې خوشحاله کړی یم.

زما کمیس واخله او زما فکر مه کوه.

کله چې هغه ولاړ، نو ما له یوه لنګ څخه پرته نوري جامې نه درلودې او د دارالممات پر لوري روان شوم.

زه اړ شوم چې هلته د یوه عادي کارګر په توګه کار وکړم او د مور و پلار د جنازو د مومیایي کولو کار پای ته ورسوم.

بوډا استاد چې پخوا یې هم ماته توجه کوله (راموز) نومېده. هغه ته مې وویل، غواړم چې شاګرد دې شم او کار در سره وکړم.

هغه وویل زه په ډېرې مینې چمتو یم چې تا د شاګرد په توګه ومنم خو ته د دارالحیات فارغ التحصیل او ډاکټر یې. څه ډول راضي شوې چې دلته راشې او زما شاګرد شې.

ومې ویل. د یوې ښځې مینې زه بیچاره کړم. هغې ښځې هر څه را څخه واخیستل او نن ان کتنځی هم نه لرم چې هلته طبابت وکړای شم.

بله دا چې داسې څوک نشته چې سپین او سره ترې پور کړم او کور پرې واخلم.

(راموز) په ژور فکر سره خپل سر وښوراوه او ویې ویل، هرځل چې زه اورم یو سړی بدبخته شوی دی، پوهېږم چې یوې ښځې بدبخته کړی دی.

ما څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې په دارالممات کې تېرې کړې او په دې وخت کې ددې ځای د یوه ټیټ کارګر په توګه د مړیو پر مومیایي کولو بوخت وم.

کارګران چې پوهېدل زه د دوی له ډلې څخه نه یم او بدبختۍ د مرګ کور ته راوستی یم نو تر ټولو خراب او ګنده کارونه یې ماته سپارل چې په دې ډول له ما څخه چې لوستی او تر دوی لوړ وم غچ واخلي.

ما له مجبوریته د هغوی حکمونه پخپل وخت کې عملي کول چې د مور و پلار مړي مومیایي کړم.

زما یوازېنۍ نیکمرغي هم دا وه چې د خپل مور و پلار مړي د یوه شتمن کس په توګه مومیایي کوم.

پخپل لاس مې د خپلې ناسکه مور او پلار خېټه او سینه وڅیرله او د هغوی معده، کولمې، سږي، زړه، ځیګر او د بدن نور داخلي غړي مې را وایستل. د هغوی خېټه او سینه مې له غوړو او نورو توکو څخه ورډکه کړه.

دغه کارونه مې په دارالممات کې د فرعون د مړي د مومیایي کولو په وخت کې زده کړي وو.

بیا مې د راموز د رودې په اساس چې په مخکنې ځل مې په دارالممات کې لیدلی و ،د مور و پلار مازغه د پوزې د سوریو له لارې را وایستل او د هغوی د جمجې منځ مې د مومیایي له تېلو ورډک کړ (دمومیایي تېل همغه دي چې مونږ یې نن سبا قیر بولو ژباړن) پلار او مور مې مصنوعي غاښونه نه درلودل او تر هغه وخته پورې ما هم مصنوعي غاښونه نه وو جوړ کړي.

که مې ژر دغه اختراع کړې وای دمور و پلار لپاره مې دوه جوړې مصنوعي غاښونه جوړول چې په بله دنیا کې اسوده ډوډۍ وخوري (مصري ډاکټر او ددې پیښې راوي سینوهه لکه چې پخپله په دې کتاب کې وایي دمصنوعي غاښونو اختراع کوونکی دی.

تر یوه حده چې ښکاره هم ده . لومړنی کس چې مصنوعي غاښونه یې دفیل له عاجه پرته له بلې مادې جوړکړل همدی و او تر هغه مخکې که مصنوعي غاښ موجود هم و نو یوازې دفیل له عاجه جوړېدل ځکه خو یې وزلو په بوډاتوب کې غاښونه نه درلودل ،لامل یې دا و چې دفیل دعاج بیه یې نه شوای ورکولای ژباړونکی)

اې خدایانو شاهد اوسئ چې ما دخپلې ناسکه مور او پلار د جنازو د مومیایي کولو لپاره د مرګ د کور تیل ، درمل او ټوکر ، نه دی غلا کړي بلکې دیوه ټیټ کارګر ... او دیوه مریي .... په شان مې هلته کار وکړ، خوندور خواړه مې ونه خوړل ، شراب مې ونه څښل او دمسو په هغو ټوټو د اجورې په توګه یې ماته راکول ما تېل ، درمل او ټوکر واخیستل تر دې چې د مور و پلار د جنازې مومیایي کول پای ته ورسېدل.

په ګرمو کوټو کې ټول موجود تیل زما دمور و پلار په جمجمې ،سینې او خیټې کې او د هغوی په غوښه کې دننه کړای شول. بیا دهغوی غوښه وچه شوه او چې هرڅومره اوبه د غوښې په منځ کې وې تبخیر شوې.

کله چې وروستی پړاو هم پای ته ورسېد او ما ولیدل چې باید جنازې له دارلممات څخه د باندې یوسم نو ومې لیدل چې د مور و پلار د بدن وزن د مرګ کور ته د راوستلو د وخت په پرتله په دریو کې یوې برخې ته کم شوی دی.

په هغو څلوېښتو شپو ورځو کې چې زه د مرګ په کور کې وم دبې تربیته کارګرانو چلند زما په نسبت بدل شوی و او د پخوا په پرتله ښه شوی و ، که څه هم دوی همغه راز سپکې سپورې ویلې او زه یې سپکولم خو په ما نور په قهر نه ول، او سپکاوی خو دهغوی په طبیعت کې و ځان یې نه شو بدلولای.

کله چې زما په نیت یوه شول چې غواړم د خپل مور و پلار جنازه له دارالممات څخه وباسم نو له ماسره یې مرسته وکړه او زما په فلزاتو یې راته د غوایو ښکلی او کمیابه پوستکی واخیست. ما هم د خپل مور و پلار جنازې د غوا په پوستکي کې کېښودلې او د څرمنې په تسمو مې وګنډله.

پر هغې ورځ چې د مرګ له کوره وتلم راموز راته وویل له دې ځایه مه ځه او د عمر تر پایه پورې دلته پاتې شه. ځکه چې د دارالممات دیوه کارګر عاید د در بار د ډاکټر له عایده کم نه دي او که ته یوازې د خپل عاید نیمايي برخه ذخیره کړې نو په بوډاتوب کې به دیوه کاهن په توګه ژوند وکړې او کنیزې او غلامان به لرې.

خلک دلته له کارکولو کرکه کوي ځکه خو له مور سره سیالي هم نه کوي.

خو زه هلته نه شوای پاتې کېدای ځکه چې فکر مې کاوه هغه کس چې لوی کارونه کولای شي باید واړه کارونه د ځان لپاره خوښ نه کړي.

د کارګرانو د سپکو سپورو، ملنډو او خنداګانو په منځ کې مې له راموزه خدای پاماني واخیسته، د غوا په پوستکي کې مې د مور و پلار تاو کړای شوې جنازې په اوږه کړې او له دارالمماته بهر شوم. خلک په کوڅو کې له ما څخه لیرې کېدل او خپلې پوزې به یې بندې کړې چې زما له بویه ځان وساتي، ځکه د دارالممات داسې بوی راڅخه لتېده چې ټول خلک به یې کرکجن او وېرول.

طبس دوه ستر ښارونه لري، یو د ژوندیو ښار دی او بل د مړیو ښار.

د مړیو ښار د نیل په بله څنډه پروت دی او د شپې مهال د ژوندیو په پرتله د مړیو د ښار ډېره ساتنه کېده.

زه پوهېدم چې د مړیو ښار ته ننوتل ناشوني دي، ځکه چې ساتونکي به مې سمدستي ووژني خو وادي السلاطین ته ورتګ ممکن و.

د شاهانو کلی یا سیمه هم د نیل په بلې غاړې کې وه. خو د مړیو له ښاره پورته لور ته او په سوېل کې دی او د مصر ټول فرعونیان د نرۍ له پیله تر اوسه په وادي السلاطین کې ښخ شوي دي.

د شپې د مړیو د ښار ساتونکي دومره څارل کېږي چې د شاهانو سیمه هومره نه ساتل کېږي. لامل یې دا دی چې ساتونکي او خلک پر دې پوهېږي چې کله کاهنین یو فرعون په هدېره کې ږدي د هغه پر قبر داسې طلسم کوي چې هرڅوک وغواړي د یوه فرعون هدېرې

ته ولاړ شي و به مري
زه په طلسم عقیده نه لرم او فکر نه کوم چې طلسم دې وکړای شي انسان ووژني خو خیال کوم چې مصري کاهنین له دې وروسته چې یو فرعون ښخ کړي د قبر دیوالونو او دروازې او حتې د قبر لوښي او شیان او د فرعون تابوت په یو ډول قوي زهرو ککړوي چې د وخت په تېرېدا سره له منځه نه ځي او که څوک د غلا لپاره قبر ته ننوځي او وغواړي ګران بیه شیان غلا کړي د هغو زهرو په وسیله مړ کېږي.
خو زه د مرګ غوښتونکی وم. د هغه هر کلي کوم او له ځان سره مې ویل که زه وکړای شم د مور و پلار لپاره یو قبر ترلاسه کړم مرګ راته اهمیت نه لري.
غټه خبره داده چې زما مور و پلار تلپاتې شي او په بله دنیا کې چې ژوندي شي. خپل اوږده مسافرتونه پیل کړي نو د دې لپاره چې له منځه ولاړ نه شي باید د هغوی جسدونه په یوه قبر کې ښخ کړم. ګني که په مومیایي شوي جنازو هوا ولګېږي له منځه ځي.
"د ورځې له پلوه مې د مور و پلار جنازې اوچتې کړې او بیدیا ته ولاړم چې د خلکو له سترګو لرې یم کله چې شپه شوه صبر مې وکړ چې نوره هم تیاره شي او د شغالانو او لېوانو غږونه پورته شي.
بیا بېرته ستون شوم او د خمکې د کیندلو لپاره مې یو کلنګ را واخیست او کله چې وادی السلاطین ته ورسېدم نیمه شپه وه.
له دې سره سره چې کتل مې ماران د بوټو له منځه راوځي، خو له هغوی څخه نه وېرېدم.
څو ځایه مې ستر لړمان له مخې تېر شول. خو زه ونه ډار شوم. ځکه چې له خدایانو مې د مرګ هیله کوله او کلي قاعده دا ده چې کله انسان د مرګ غوښتونکی وي مرګ ورپسې نه راځي.
زه د قراول له پوستو خبر نه وم او مجبوره هم وم چې ترې تېر شم. خو چا ونه لیدم او زما مخه یې ونه نیوله. ښایي زه یې لیدلی هم یم خو خیال به یې کړی وي چې زه یو مړی یم چې خپله روزي مې په شاکړې او د فرعونیانو په قبرونو کې ګرځم.
څه موده د فرعونیانو په قبرونو کې وګرځېدم او د داسې مقبرې په لټه کې وم چې وکړای شم دروازه یې خلاصه کړم او د مور و پلار جنازه هلته کېږدم. خو متوجه شوم چې ټولې دروازې بندې دي او که مې کومه دروازه پرانیستې وای نو شک پرې کېده او سمدستي ساتونکي متوجه کېدل چې کوم مړی یې د فرعون په هدیره کې ښخ کړی دی.

زه له مرګه نه وېرېدم او هغه څه چې د فرعون د طلسم په نوم بلل کېدل له هغه هم نه ډار
ېدم ځکه که مې مور و پلار ته کوم قبر برابر کړی وای دې کار به ارام راکړی وو، ان که په
دې هم پوهېدای چې سمد ستي مړ کېږم.

کله چې متوجه شوم چې د هېڅ یوه قبر دروازه نه شم پرانیستلای، نو د یوې هدېرې له
دروازې د باندې چې د کلنګ په وسیله په شګو کې یو قبر وکیند ما د خاورو د لیرې کولو
لپاره له خپلو لاسونو پرته بل څه نه درلودل او لاسونه مې هم په شګو د سولیدو له امله
ژوبل شول خو ما ارزښت نه ورکاوه.

ځمکه مې دومره وکینده چې یوه داسې کنده پکې جوړه شوه چې زما د مور و پلار
قبرونه پکې ځايېدل . بیا مې په کنده کې د غوا څرمنه اواره کړه او خاورې مې پرې
واړولې.

له دې کبله چې د فرعون د قبر ستنې له شګو جوړې وې نو هلته د ځمکې د کیندلو د ښبو
ښبانو د ختمولو کار دومره سخت نه و.

بیا مې ارامه ساه واخیسته ځکه چې ډاډمن وم ، زما مور و پلار له دې چې د فرعون په
څنګ کې دي نو په بلې دنیا کې به له خوراکي پلوه په سختۍ کې نه وي.

ځکه، چې تل به له فرعون سره وي او د هغه له ډوډۍ ، غوښې او شرابو به استفاده
وکړي.

کله چې مې د مور و پلار په مړیو خاورې اچولې، لاس مې په یوه سخت شي ولګېد
چې راپورته مې کړ و مې کتل چې یو وړوکی غونډوسکی دی ، چې قیمتي کاڼي پرې
لګېدلي ول. زه پوه شوم چې دا له هغو شیانو څخه دي چې د فرعون د ښخېدا په وخت یې
قبر ته راوړي او هلته لوېدلی دی او بیا د فرعون د قبر د جوړېدا پر وخت تر خاورې لاندې
شوی دی.

غونډوسکی مې پورته کړ او د لاس په پورته کولو سره مې له مور و پلار ه خدای
پاماني راواخیسته و مې ویل هیله کوم چې ستاسې مړي د تل لپاره پاتې شي.

کله چې زه له وادي السلاطین څخه راووتم او ځان مې د سیند غاړې ته رساوه نو لمر
هم راختلی و. هلته مې کلنګ په اوبو کې واچاو د اوبو تر څنګ وغځېدم خو د بدن سخت
درد خوب ته نه پرېښودم تر دې چې له ډېرې ستومانۍ بې خوده شوم او خیال مې کاوه
ویده شوی یم.

کله چې د هیلیو غر پورته شو له خوبه راپاځېدم او ومې لیدل چې لمر لوړ شوی دی. دنیل پٔه اوبو کې ماکوګان او بېړۍ حرکت کوي او کالي وینځونکې ښځې د نیل پر غنډه د کار په وخت کې خبرې هم کوي

سهار روښانه او هیلمن کوونکی و، خو زما زړه له غمونو ډک واو دومره خپه وم چې پخپل ځان نه پوهېدم.

زما جامې یوازې یو لنګ و او د لمر وړانګو مې شا سوځوله، ان یوه ټوټه مس مې نه درلودل چې ډوډۍ او د وربشو اوبه (بیر) پرې واخلم

له بدنه مې د دارالممات ناولی بوی پورته کېده، ځکه چې لا مې په نیل کې ځان نه و وینځلی.

په دغسې ناسم حالت کې مې خپلو ملګرو ته ځان نه شو ښکاره کولای چې پور یا مرسته ترې وغواړم. ځکه که هغوی لیدلی وای نو پوهېدل چې زه د خدایانو له لعنت سره مخامخ شوی یم، بله دا چې ټول پوهېدل چې ما خپل او دخپل پلار کورونه او ان د هغوی قبر په یوې ښځې خرخ کړي دي او زه له دې بدنامۍ سره ځان هغوی ته نه شم ورښولای.

په دې فکر کې وم چې څه وکړم او څه ډول خپله ګېډه مړه کړم. یو وخت مې پام شو یو کس زما تر څنګ ښوري.

ددغه سړي څېره دومره خرابه وه چې په لومړي سر کې ما فکر وکړ چې انسان نه دی. ځکه چې د پوزې پر ځای یې د مخ په منځ کې یو سوری درلود او دواړه غوږونه یې نه ول. وروسته معلومه شوه چې غوږونه یې ورپرې کړي دي.

هغه ډنګر نري او سره تاو شوي لاسونه درلودل او کله چې پوه شو زه ورته ځیر یم نو ویې ویل په موتی کې دې څه نیولي دي؟

خپل موتی مې پرانیسته هغه سړي د فرعون غونډوسکی ولید او ویې پېژاند.

ویې ویل دغه شی ما ته راکړه چې بخت را سره ملګری شي، ځکه چې چانس ته ډېره اړتیا لرم او اوریدلي مې دي چې که څوک دغسې غونډوسکی ولري نیکمرغه کېږي.

ومې ویل زه ډېر بې وزله یم. له دې پرته بل څه نه لرم او غواړم هغه وساتم چې ما نیکمرغه کړي.

هغه سړي وویل له دې سره سره چې زه بې وزله یم او ګورم چې ته هم بې وزله یې نو چمتو یم چې ددغه غونډوسکي په بدل کې د سپینو زرو یوه کړۍ درکړم.

بیا یې له خپل کمربنده د سپینو زرو یوه کړۍ را وایستله او ماته یې ونیوله.

ما ورته وویل زه خپل غونډوسکي نه خرڅوم.

هغه سړي وویل تا دا هېره کړې چې که ما غوښتي نو په ورپیا تو ګه مې هم درڅخه اخیستلای شو ځکه چې کله ته ویده وې. ما ته وژلای شوې او ستا غونډوسکي مې اخیستلای شو.

ما ورته وویل ستا له پرې شویو غوږونو او پوزې داسې ښکاري چې غل او ورانکاره یې. له دې وروسته چې دواړه غوږونه او پوزه یې درپرې کړي. بیا یې د کار کولو لپاره معدن ته استولی یې او اوس له کانه تښتېدلی یې.

نو دا به درته ښه وي چې ژر له دې ځایه وتښتې ځکه که ګزمه راشي او تا دلته وویني وبه دې نیسي. بیرته به دې کان ته ستون کړي او که ما ووژنې له پښو به دې ځوړند کړي چې مړ شې.

سړي وویل دکوم ځای یې او له کوم ځایه راغلی یې چې لا نه یې خبر؟

ټول هغه کارګران یې خوشې کړل چې په کانونو کې یې کارکاوه.

ومې ویل ولې داسې وشول څنګه ممکنه ده ټول مریان له کانونو خوشې کړي؟

سړي وویل نوي فرعون چې اوس په ګدۍ ناست دی او مخکې ولیعهد و له دې وروسته چې د باچاهۍ په ګدۍ کېناست له کانونو یې ټول مریان خوشې کړل او له دې وروسته به د پیسو په بدل کې ازاد خلک په کانونو کې کار کوي.

ګمان مې وکړ چې دغه سړی رښتیا وایي. ځکه چې ما څلویښت شپې او ورځې په دارالممات کې تېرې کړې او له هېڅ شي خبر نه وم. نه پوهېدم چې ځوان او نوي فرعون دکانونو کارګران خوشې کړي دي.

سړي وویل زه له دې سره سره چې یو مریی وم او په کان کې مې کارکاوه له خدایانو وېرېدم او له همدې امله. کله چې ته ویده وې ومې نه وژلې. ته کولای شې خپل دغه غونډوسکي له ځان سره وساتې او دنیکمرغۍ د جذبولو لپاره ترې استفاده وکړې.

خو زه حیران وم چې نوي فرعون یانې څلورم آمون هوتپ څنګه ټول مریان له کانه خوشې کړي دي. ایا هغه متوجه نه دی چې ممکنه نه ده. یو ازاد سړی ولاړ شي او په کان کې کار وکړي.

ترڅو چې انسان لیونی نه وي هغه مریان نه خوشې کوي چې په کان کې کار کوي. ځکه

چې د کان کار به نا ببره بند شي او بله دا چې اکثريت غلامان چې په کانونو کې کار کوي ورانکار او غله دي او د هغوی ازادي به د ستري فتنې سبب شي.

ته وا غوړ او پوزه پرې کړی کس زما له فکره خبر شوی وي. ويې ويل زه فکر کوم زموږ د نوي فرعون خدای يو ليونی خدای دی.

ومې پوښتل ولې؟ ويې ويل ځکه چې خدای نوی فرعون مجبور کړی دی هغه ټول ورانکاري چې په کانونو کې کار کوي خوشې کړي او س هغوی د مصر په ښارونو او بيديا وو کې ازاد ګرځي. له دې وروسته به يو دين سپين او سره زر او مس استخراج نه شي او مصر به له بې وزلی سره مخامخ شي.

که څه هم زه يوه بيګناه انسان وم او په ناحقه يې په جبل کې اچولی وم او په کان کې يې کار کولو ته اړ کړی وم. خو د يوه بېګناه کس په بدل کې په زرګونو ورانکارو په کانونو کې کار کاوه چې هغوی هم اوس راخوشې شول او ازاد ګرځي.

په دا سې حال کې چې سړي خبرې کولې زما د بدن غړيو ته يې هم کتل او زه پوهېدم چې د مرګ د کور د بوی له امله چې له ما څخه پورته کېده په تنګ شوی نه دی. ويې ويل. ستا د بدن پوستکی يې سوځولی دی خو زه تيل لرم او هغه ستا په بدن موږلی شم.

کله چې يې زما بدن په تيلو غوړاوه ويل يې زه حيران يم چې ولې ستا پالنه کوم. ځکه چې کله يې وهلم او بدن به مې ژوبل شو ما به خدايانو ته ښېرې کولې. چې ولې يې پيدا کړی يم او د نورو له ظلمونو سره يې مخامخ کړی يم خو هېڅا زما پالنه نه کوله.

زه پوهېدم چې ټول محکومين او مريان خان بيګناه معرفي کوي او دغه سړی هم د نورو په شان ګنم خو له دې کبله چې له ما سره يې نيکي کړې وه. بدن يې په تيلو راته غوړ کړی و پر دې ټولو سربېره هغه وخت زه يو وازې وم نو له هغه مې وپوښتل چې په تا يې څه کړي؟ او دغه ظلم ماته هم بيان کړه چې پر تامې زړه وخوږېږي.

هغه سړي وويل زه چې اوس ستا په مخکې پر ځمکه ناست يم. غوږونه او پوزه نه لرم يوه ورځ مې کور. پټي او غوا درلودل او په کورکې مې دوه‌ی او په منګي کې مې د وربشو اوبه پيدا کېدلې. خو له بده شامته زما له کور سره څېرمه د آنو کيس په نوم يو کس اوسېده او دغه سړي دومره پټي درلودل چې سر و پای يې نه معلومېده.

دومره غواګانې يې درلودې چې د غواګانو شمېر يې د بيديا تر شګو هم زيات و. خو زه له خدايانو غوارم چې د هغه بدن خوسا کړي او هېڅکله يې له مرګه وروسته مسافرت پيل

نه شي.

هغه سړي په دومره پټیو او غواګانو کې زما کروندې ته ستړګې نیولې وې او ددې لپاره چې زما پټی له ما څخه واخلي تل به یې پلمې کولې او هرکال به یې په مني کې د نیل له راختو وروسته کله چې جریب کښان راتلل او ځمکې یې اندزه کولې نو مابه په حیرانی ورته کتل چې زما کرونده هرځل کمېږي او جریب کښانو چې له انوکیس څخه یې ډالۍ اخیستلې زما د ځمکې یوه برخه به یې د هغه له ځمکو سره یوځای کړه.

ما مقاومت کاوه او چمتو نه وم چې خپله کرونده د څو کړیو سرو او سپینو په بدل کې هغه ته ورکړم. په دې وخت کې خدایانو ماته پنځه زامن او یوه لور راکړ. زما لور ډېره ښکلې وه. کله چې انوکیس زما لور ولیده پر هغې مین شو او خپل یو مریی یې ماته را واستاوه. ویل یې چې خپله وړه لور ورکړم نور به راسره کار نه لري.

ما غوښتل خپله ښکلې لور داسې کس ته ورکړم چې په بوډاتوب کې له ما سره مرسته وکړي نو هغه ته مې د لور له ورکولو ډډه وکړه ان تردې چې یوه ورځ انوکیس ادعا وکړه چې ما په هغه کال چې د ځمکې محصولات کم و له هغه څخه غله دانه پور کړې وه او لا مې خپل پور نه دی ورکړی.

ما په خدایانو قسم وخوړ چې داسې نه ده. خو هغه خپل ټول مریان شاهدي ته راوستل چې ماته یې غله پور راکړې ده او پر همدې ورځ د هغه مریانو په کرونده کې پر ما حمله وکړه چې ما وژني.

ما له ځانه د دفاع لپاره یوازې یو لرګی درلود. زما لرګی د هغه د یوه مریي پر سرولګېد او مړ شو.

بیا یې زه ونیولم او زما پوزه او غوږونه یې پرې کړل او کان ته یې واستولم. هغه کس زما کور او کرونده د خپل خیالي پور په بدل کې واخیستل. زما ښځه او ماشومان یې خر څ کړل. خو وړه لور مې انوکیس واخیستله او له دې وروسته چې یوه موده یې له هغې سره لکه د وینځې داسې چلند وکړ بیا یې هغه خپل مریي ته ورکړه.

زه لس کاله په کان کې په کار بوخت وم ترڅو د ځوان فرعون فرمان راخوشې کړم او کله چې خپل کور او کروندې ته ستون شوم ګورم چې ښځه یې هم نه شته او زما کوچنۍ لور چې دانوکیس لور وه هغه هم ورکه شوې وه وایي چې په طبس کې په یوه کور کې د نوکرې په توګه کار کوي.

ما چې په کان کې کار کاوه انو کیس مړ شو او هغه یې د مړیو په ښار کې ښخ کړی دی.

اوس مې زړه ډېر کېږي چې ولاړ شم او په دې پوه شم چې د هغه پر قبر یې څه لیکلي ځکه چې حتماً یې د دغه کس جنایتونه د هغه پر قبر لیکلي دي.

خو له دې امله چې لیک لوست نه شم کولای د هغه د قبر لیکنې هم نه شم لوستلای.

ما ورته ویل زه لیک لوست کولای شم او د قبر لیکنه لوستلای شم. که غواړې له تا سره د مړیو ښار ته تللی شم او هر څه چې د هغه پر قبر لیکل شوي وي هغه به درته ووایم.

سړي وویل خدای دې ستا جنازه تل وساتي، که له ما سره دغه مرسته وکړې ډېر به خوښ شم.

ما وویل له زړه غواړم چې له تا سره د مړیو ښارته ولاړ شم او د انو کیس د قبر ډبر لیک ولولم خو ایا خبر نه یې چې موږ په دې ډول د مړیو ښار ته نه پرېږدي.

پزه پرې کړي وویل زه پوه شوم چې ته له هېڅ شي خبر نه یې ځکه که خبر وای اوس به پوهېدې چې نوي فرعون له دې وروسته چې مریان له کانونو ازاد کړل ویې ویل دغو مریانو له ډېرې مودې راهیسې خپل مړي نه دي لیدلي حق لري چې د مړیو ښار ته ولاړ شي او له خپلو مړیو سره وګوري.

ما او پوزه پرې کړي سړي د تګ تکل وکړ، د مړیو ښارته ترسېدو وروسته هغه سړي چې د انو کیس د قبر پته یې اخیستې وه، زه یې د هغه قبر ته ورسولم.

ومې لیدل چې د قبر مخته پخه شوې غوښه، او مېوه او یو منګی شراب ایښي ول.

پوزه پرې کړي سړي لږ شراب وڅښل. پر ما یې هم وڅښل او بیا یې وغوښتل چې زه د قبر ډبر لیک ورته ولولم، ما هم داسې ولوست:

((زه انو کیس یم. غنم مې وکرل او ونې مې کېښودلې، زما د باغونو او کروندې محصولات زیات ول. ځکه چې له خدایه وېرېدم او د خپلو محصولاتو خمس یا پینځمه مې خدایانو ته ورکاوه او نیل سین له ما سره ډېره مرسته وکړه. تل یې زما کروندو ته اوبه ورسولې. هېڅ څوک زما په کروندې کې وږي نه ول. زما کروندو ته څېرمه هېڅ څوک له لوږې سره مخامخ نه شول. ځکه په هغو کلونو کې چې حاصلات لږ ول ما له هغوی سره مرسته کوله او هغوی ته مې غله ورکوله.

ما دیتېمانو د سترګو اوښکې پاکې کړې او داسې لټه مې نه کوله چې له هغو کوندو خپل پور وغواړم چې خاوندانو ته مې یې ورکړی و.

هر څل چې به کوم سړی مړ کېده ددې لپاره چې د هغه کونډه مې نه وي کړولې له خپلو پورنو به ور تېر شوم.

ځکه خو په ټول هېواد کې زما نوم په نیکۍ سره یاد بړي او خلک له ما خوشحاله ول.

که د چا غوا به ور که شوه د هغه د ورکې غوا په بدل کې به مې هغه ته یوه چاغه غوا ورکړه.

ما په ژوند کې د دې مخه نیوله چې جریب کښو د کوم کروندګر ځمکه په ناسمه توګه اندازه کړې وي او یا یې د یوه ځمکه بل ته ورکړې وي. هېڅکله داسې ونه شول.

دا هغه کارونه دي چې ما (انوکیس) تر سره کړي. چې خدایان را څخه خوشاله وي او په یوه اوږد سفر کې چې له مرګ وروسته یې په مخکې لرم له ما سره مرسته وکړي.))

کله چې ما د ډبر لیک لوستل پیل کړل پوزه پرې کړي سړي وژړل.

له هغه مې پوښتنه وکړه ولې ژاړې؟ ویې ویل د دې لپاره چې پوهېږم د انوکیس په هکله مې تېروتنه کړې وه. ځکه که دغه سړی نیک نه وای دغه خبرې به یې د هغه پر قبر نه وای لیکلې.

هره لیکل شوې خبره سمه وي او تر هغه چې دغه نړۍ وي خلک به دغه ډبر لیک د هغه پر قبر لولي.

له دې امله چې د یوه نیک سړي جنازه له منځه نه ځي. هغه به ژوندی پاتې وي خو زه له مرګه وروسته ژوندی نه پاتې کېږم ځکه چې له مړینې وروسته د ورانکارو مړي نیل ته غورځوي، او به یې بیا سمندر ته رسوي او زما مړی به هم د سمندري ژویو خوراک شي.

زه دده خبرو ته هک پک شوم او بیا متوجه شوم څه ډول د انسانانو حماقت له منځه نه ځي او په هر پړاو کې د خلکو له ناپوهۍ او خرافاتو استفاده کېدای شي.

دا زرکاله کېږي چې مصري کاهنین د مړیو د کتاب پر بنسټ چې دوی پخپله لیکلی وایي چې د خدایانو له لوري نازل شوی دی او په دې ډول یې خلک مریان کړي دي او د مصر ټولې ګټې د دوی دي.

ددې لپاره چې پرې نه ږدي د خلکو حماقت له منځه ولاړ شي. وايي د مړیو د کتاب هره کلمه پردې سربېره چې په ځمکه کې لیکل شوې وي په اسمانونو کې له خدایانو سره هم لیکل شوې او ساتل شوې دي او هېڅکله له منځه نه ځي.

دغه راز ددې لپاره چې د خلکو عقیده ددغه کتاب په اړه کمزورې او بدله نه شي داسې

ښیي چې هره کلیمه څکه سمه ده چې لیکل شوې ده. او دغه عقیده په خلکو کې همدغسې منل شوې ده.

ددغه بدبخته سړي په شان چې غوږونه او پوزه یې پرې شوي دي او یادا چې د انوکیس د ناسم نیت او دښمنۍ له امله بندي شوی و او لس کاله یې په کانونو کې تېر کړي دي. خو کله چې ګوري د انوکیس په قبر دغه خبرې لیکل شوې دي نو تصور کوي چې سمې دي.

او س ګورو چې ده پخپله تېروتنه کړې چې انوکیس یو بې رحمه او ظالم کس بولي.

پوزه پرې شوي کس د خپلو سترګو اوښکې پاکې کړې. هلته چې کومه میوه او شراب ایښي ول را مخکې یې کړل او ماته یې وویل وخوره او خپله ګېډه مړه کړه. ځکه چې نن له کانونو د مریانو د خلاصون ورځ ده. موږ د مړیو ښار ته پرېږدي او دغه خواړه خوړلای شو.

له دې وروسته چې د غوښې. مېوې او شرابو د څښلو له امله مست او خوښ و. قبر ته یې په خطاب کې وویل: ای انوکیس کله چې ستا پر قبر لیکل شوي چې ته د پر ښه سړی وې نو غوره دا ده د هغو طلایي او مسي لوښو یوه برخه چې ستا په قبر کې دي ماته راکړې او زه به نن شپه راشم او دغه لوښي به یوسم.

ما یو وحشي غږ پرې وکړ سړیه څه وایې داڅه کوې؟ غواړې نن شپه راشې او دغه قبر لوټ کړې، ته نه پوهېږې چې له یوه قبره غلا کول ستره ګناه ده. تر دې بله ستره ګناه نشته او خدایان یې نه بښي. غوږ پرې کړي سړي وویل ولې چټیات وایې؟

مګر تا د هغه په قبر ونه لوستل چې انوکیس څومره نیک سړی دی او دغه سړی چې تل یې د خدایانو په امر کار کړی هېڅکله نه غواړي چې زما پورورې وي او که هغه ژوندی وای پخپله به یې زما پور راکړی وای.

په دې کې خو شک نشته چې هغه زما کور او کرونده او بچیان د ځان کړي ول او زما کور یې له خپل جایداد سره یو ځای کړی و. زما ښځه او بچیان یې خرڅ کړل. هغه زما کوچنۍ لور د وینځې په شان د ځان نوکره کړه.

له دې کبله چې انوکیس زما پورورې دی. په ډېرې خوشالۍ به زما پور راکړي. زه نن شپه د خپل پور د ترلاسه کولو لپاره راځم. ته هم له ما سره راتلای شې او خپله ونډه اخیستی شې.

له دې امله چې هغه بايد زما ونډه راکړي نو هر هغه شی چې له هغه يې تر لاسه کړم حلال دی او د خپلو شيانو يوه برخه چې له هغه يې ترلاسه کوم تا ته درکولای شم چې ته يې پخپله له قبره را وباسې.

د هغو مريانو ازادي چې په کان کې يې کارکاوه او دې چارې چې مريبان ازاد وي د مړيو ښار ته ولاړ شي د مړيو د ښار نظم او ترتيب له منځه وړی و او هغه ښار چې مخکې يې د ژوند تر ښاره ښه ساتنه کېدله په دې شپه د لوټماری په ډګر بدل شوی و.

زه او پوزه پرې کړی مريي د انوکيس قبر ته ننوتو او چې څومره مو وس درلود د سرو سپينو او مسو لوښي مو يوړل، ازاد شوي مريي ويل هغه څه چې زه يې وړم زما برخه ده او دا غلا نه حسابېږي.

کله چې مو سره، سپين او مس د مړيو له ښاره ولېږدول و موکتل چې د مړيو د ښار ټول ساتونکي چې دنده يې دغلا مخنيوی و اوس يې دازادو شويو مريانو په شان په لوټمار پيل وکړ او تر هغه چې موږ د نيل ساحل ته نژدې کېدو لا د مړيو په ښار کې غلا او چور تالان روان و.

ساحل ته چې راورسېدو ورخ شوه، په دې وخت کې د سوريې سوداګر د سين په بله غاړه په تمه ول چې له غلو څخه لوټ کړي توکي وپېري.

هغه څه چې موږ راوړي ول پر يوه سوريايي سوداګر مو په څلورسوه (دين) وپلورل.

له دغو څلور زرو څخه دوه سوه ماته او دوه سوه نور پوز پرې شوي مريي ته ورسېدل.

هغه ويل د سرو او سپينو د ترلاسه کولو لپاره مو ښه اسانه لاره پيدا کړه، خکه که پنځه کاله مو د نيل په بندرونو کې بارونه وړلای بيا موهم دومره سره او سپين نه شوای ترلاسه کولای.

له دې وروسته چې سره او سپين مو تقسيم کړل له يوه بله بېل شوو، مريي پر يوې او زه پر بله لاره لاړم.

ددې لپاره چې د بدن بوی مې ورک شي لږ کافور او بيخک (ديوه بوټي ريښه ده چې کله له هغه يوه کلاوه جوړه شي لکه صابون ځګ کوي او انسان پاکوي) مې واخيستل او د نيل په څنډه کې مې ځان ووينځه چې له بدنه مې د مرګ دکور بوی بيخي لرې شي او خلک نور رانه کرکه و نه کړي.

له هغه وروسته مې نوې جامې واغوستې او يوې ساقي خانې ته ولاړم چې څه وخورم.

زه په خوراک اخته وم چې د مړيو له ښاره مې شور ماشور تر غوږ شو او ومې ليدل چې نغاره وهي او جنګي ګاډي هم په حرکت کې ده.

په کيسې له خبرو کسانو مې پوښتنه وکړه څه خبره ده؟ هغوی وويل ځانګړي نيزه لرونکي چې د فرعون ګارډ دی په دنده ګمارل شوي چې ازاد شوي مريان وڅيي چې نور د مړيو ښار ونه لوټي.

پر همدې ورځ تر دې وراندې چې لمر ولوېږي څه د پاسه سل غلامان په طبس کې پر دار ځړول شوي ول.

دا هغه غلامان ول چې پخوايې په کانونو کې کار کاوه.

له دې سره فتنه او د مړيو د ښار لوټمار هم پای ته ورسېد.

دغه شپه مې په يوه عمومي کور کې تېره کړه او هدف مې داو چې لږ ساعت تېر کړم، خو د دغه عمومي کور يوه ښځه مې هم خوړنه کړه.

له دې عمومي کوره چې ووتم يوه ميلمستون ته ولاړم او ويده شوم.

سهار د خپل پخواني کور پر لوري روان شوم چې د خپل پخواني مريي کاپتا پور ورکړم او له هغه مننه وکړم. ځکه که هغه خپله لږه بسپنه نه وای راکړې ما د خپل مور و پلار جنازې دارالممات ته نه شوای رسولای.

کله چې کاپتا وليدم په ژړا شو او ويې ويل ما خيال کاوه چې ته مړ شوی يې ځکه مې له ځان سره ويل که ژوندی وای حتماً راته چې بيا له ما څخه سره او سپين پور کړې، ځکه چې هغه يو ځل له ما پور اخيستی او څوک چې يو ځل بل چاته فلز ورکړي، نو بيا بايد د ژوند تر پايه هغه ته پور ورکړي.

له دې سره سره چې ما فکر کاوه ته به مړ شوی يې، خو احتياط مې کاوه او له تا سره د مرستې لپاره مې له خپل نوي بادار څخه (خدای دې مړی ورته درې ورې کړي) غلا کوله او د هغه مور هم تل په لړګي وهلم.

په دې وروستيو کې وايي چې خرڅوم دې له همدې امله چې اوس ته راغلی يې غوره به داوي چې دواړه له دې ځايه وتښتو او داسې ځای ته ولاړ شو چې له دې تمساحه ليرې وي.

زه لږ شکمن شوم خو هغه وويل که د ژوند د خرڅې لپاره اند ښمن يې زه لږ فلز لرم او هغه به مصرف کړو. کله چې فلزات خلاص شول زه به کار وکړم او تا به وږی پرې نه ږدم، خو په دې شرط چې ما د دې ښځې له منګولو چې يوه تمساح ته ورته ده او د هغې له احمق

زویه وژغورې.

ومې ویل کاپتا زه نن د دې لپاره دلته راغلی یم چې خپل پور ادا کړم. ځکه چې پوهېږم هغه څه چې تا ماته راکړل په پېنځو کلونو کې ستا زېرمه وه.

بیا مې کاپتا ته تر هغو فلزاتو څو چنده ډېر ورکړل چې ده راکړي ول او هغه چې دغه فلزات ولیدل له ډېرې خوشحالۍ په نڅا شو خو وروسته متوجه شو چې د هغه په شان د یوه بوډا لپاره نڅا ښه نه ده.

چې نڅا یې بنده کړه ویې ویل زما باداره! له دې وروسته چې ما خپل فلزات تا ته درکړل ومې ژړل. ځکه چې فکر مې کاوه. ته به زما فلزات بیرته رانه کړې.

خو له ما ګیله مه کوه ځکه کله چې څوک ټول عمر مریی وي. زړه یې مضبوط نه وي او که خپل فلزات بل چا ته حتی که یې بادار ته هم ورکړي نو زړه به یې ډاډه نه وي.

ومې ویل کاپتا پر دې سربېره چې تا ته مې ستا پور درکړ. زه به دې له باداره واخلم او ازاد به دې کړم.

کاپتا وویل که ما واخلې او ازاد مې کړې زه هېڅ ځای نه لرم. چې هلته لاړ شم. څوک چې ټول عمر غلام پاتې شوی وی ازاد ژوند نه شي کولای.

زه په یوه سترګه ړوند غلام یم چې تل مې بادار درلودلی دی او له بادار پرته یوه پسه ته ورته یم، چې شپون نه لري. زه درته نصیحت کوم چې خپل زر بې ځایه مه لګوه. ځکه چې زه ستا یم او ته ما له ځان سره بېولی شې.

بیا یې په یوې سترګې سترګک وواهه او ویې ویل سخي باداره! ما تل احتیاط کړی. هره ورځ مې له دې ځایه د ببریو د تګ په هکله معلومات اخیستي دي او پوهېږم. چې په دې وخت کې یوه بېړۍ له دې ځایه د ازمیر پر لوري ځي.

موږ کولای شو په دې بېړۍ کې سپاره شو او ځان ازمیر ته ورسوو خویوازېنی ستونزه دا ده چې له حرکته مخکې باید خدایانو ته ډالۍ ورکړو چې روغ خپل مقصد ته ورسېږو.

خو له هغه وروسته چې زه پر امون خدای بې باوره شوم تر اوسه مې بل خدای نه دی موندلی چې ډالۍ ورکړم.

ما له ډېرو کسانو وپوښتل چې ایا امکان شته چې لاربښوونه وکړي او داسې خدای راوښیي چې زه یې عبادت وکړای شم او هغه ته ډالۍ ورکړم.

هغوی وویل چې د اتون په نامه د فرعون د خدای عبادت وکړه.

پو ښتنه مې وکړه د غه خدای په څه ژوند کوي؟

ځواب يې راکړ چې د اتون خدای د حقيقت پر ښسټ ژوند او خدايي کوي.

زه پوه شوم چې د غه خدای زما په درد نه خوري، ځکه هغه خدای چې وغواړي په حقيقت سره ژوند وکړي حتماً يو ساده او بې خبره خدای دی. نو اې باداره ! ايا اوس ماته ويلای شې چې د کوم خدای عبادت وکړم.

ما خپل هغه غونډوسکی چې د فرعون په قبرکې مې د مور و پلار د ښخولو په وخت کې پيدا کړی و هغه ته ورکړ او ومې ويل د دغه خدای عبادت وکړه.

کاپتا پوښتنه وکړه دا څه شی دی؟

ومې ويل فرعون په دې خدای عقيده درلوده او تصور يې کاوه چې نيکمرغي راولي.

ما هم له هغې شېبې څخه چې دا تر لاسه کړی دی احساس کوم، چې د نيکمرغۍ پر لوري روان يم او سره او سپين مې پيدا کړل.

که ته هم دغه غونډوسکی وساتې فکر کوم چې نيکمرغه به شې او زه به هم ستا له نيکمرغۍ استفاده وکړم.

له دې کبله په داسې حال کې چې دغه غونډوسکی لرې، خپلې جامې هم بدلې کړه او د سوريې د خلکو په شان جامې واغونده چې په دې کشتۍ کې چې ته وايې حرکت ته چمتو ده ولاړ شو.

زه فکر کوم ستا دغه خبره سمه ده. چې زه بايد ستا د اخيستو لپاره پيسې ونه لګوم. ځکه چې له دې ځايه تر ازمير پورې ډېره خرچه لرو او کله چې ازمير ته ولاړو بايد لږ فلزات ولرو چې خرخ يې کړو او زه پرې طبابت پيل کړم.

بايد تا ته ووايم چې زه هم بېړه لرم چې ژر له طبس څخه ولاړ شو. زه چې کله د طبس په کوڅو کې ګرځم نو داسې راته ښکاري چې ټول مې ګوري ماته ښکنځلې کوي او زه له دې وروسته چې له دغه ښاره ولاړم هېڅکله به بيا طبس ته راستون نه شم.

کاپتا وويل باداره هېڅکله د راتلونکې په هکله پرېکنده فيصله مه کوه، ځکه ته نه پوهېږې چې په راتلونکې کې څه کېږي، نو له همدا اوسه طبس ته د نه راتګ په هکله فيصله مه کوه. ځکه ښايي داسې ورځ راشي چې ستنېدا ډېره ګټه ولري.

پردې سربېره کله چې څوک د نيل په اوبو خپله تنده ماته کړي هغه به تل د ځان پر لور راکاږي.

زه نه پوهېږم چې تا دلته څه کړي دي، چې له طبسه دومره کړکه کوې. خو له طبسه ستا د تګ فيصله سمه او معقوله ګڼم.

سينوهه! زه تا ته داړه درکوم چې دغه کار چې تا کړی، که هرڅه وي هېر به يې کړې.

ددې لپاره چې ته ځوان يې، ځوان له څو کلونو وروسته پخوانۍ پېښې هېروي او بوډاګانو به هم د عمر په تېرېدو سره پخوانۍ خبرې هېرې کړې وې. خو له دې امله چې د دوی عمر لنډ وي د تېرو پېښو د هېرولو فرصت نه ور په برخه کېږي.

انسان چې کوم عمل کوي هغې ډېرې ته ورته دی چې سمندر ته يې اچوي. دغه ډبره چې کله سمندر ته واچول شوه لوړ غږ کوي او اوبه داسې خوځوي چې انسان فکر کوي دغه هيجان او څپې به له منځه لاړې نه شي، خو څو شېبې وروسته اوبه بيرته ارامېږي او انسان له ځان سره بېرته داسې فکر کوي چې ګنې په دغو اوبو کې کومه ډبره نه ده لوېدلې.

ته به هم له څو کلونو وروسته دغه پېښه چې ته ور سره مخامخ شوی يې هېره کړې. له قدرت او شتمنۍ سره به طبس ته ستون شې او که تر هغه وخته هم زما نوم د فراري مريانو په ليست کې وي ته به وکړای شې زما ملاتړ وکړې او پرې نه ږدې چې څوک ما وکړوي.

ومې ويل زه چې هر وخت شتمني او قدرت ولرم چمتو يم چې ستا ملاتړ وکړم.

په دې وخت کې د کاپتا د بادار مور هغه ته نارې کړې او هغه ولاړ خو ماته يې ويل د کوڅې په پای کې راته په تمه اوسه زه ډېر ژر راځم.

زه د کور له دروازې ليرې شوم او د کوڅې په پای کې هغه ته په تمه ودرېدم.

لنډه شېبه وروسته کاپتا چې توکرۍ يې په لاس او څادر يې پر سر اچولی و، راغی.

په بل لاس کې يې څو توتې مس ول. ماته يې راوښودل او ويې ويل دې ښځې چې د تولو تمساح ګانو مور ده بازار ته واستولم چې سودا وکړم، خو زه به ورته هېڅ هم وا نخلم ځکه خپل د کارشيان مې را اخيستي او په توکرۍ کې مې ايښي دي.

چې له دې ځايه ولاړ شو، د مسو دغه کړۍ زموږ پانګه نوره هم زياتوي چې د سفر خرچه ورسره زياته شي.

ما وليدل چې کاپتا په توکرۍ کې خپلې جامې او ساختګي وښتان هم اچولي ول او کله چې له کوره ليرې شو د نيل څنډې ته ورسېدو هلته يې خپلې جامې بدلې کړې او ساختګي وښتان يې پر سر کېښودل.

ما هغه ته يوه تراش شوې لکړه هم واخيسته، ځکه ما ليدلي ول، چې د سترو کسانو

نوکران لګيا لري، بيا د سوريې د بېړيو د لنګرځای پر لور لاړو او ما وليدل چې يوه بېړۍ د حرکت په حال کې ده.

ددې بېړۍ ماکو هم د سوريې و او کله چې پوه شو زه يو ډاکټر يم او ازمير ته ځم په ډېرې خوشحالۍ يې زه او کاپتا ومنلو او ددې لپاره چې دغه په بېړۍ کې يو شمېر ماکوګان ناروغان و او هيله يې کوله چې زه به يې په لاره کې درملنه وکړم.

داسې ښکاريده چې پيدا کړي غونډوسکي نيکمرغي را په برخه کوله. ځکه چې کارونه مو اسانه شول او موږ په اسانه سفر کولای شو.

کاپتا چې د غونډوسکي اغېز وليد د يوه رښتني خدای په توګه يې ورته عبادت پيل کړ

لسم څپرکی

يوه ناپېژندل شوې ساري ناروغي

کشتۍ حرکت وکړ او موږ څلرويشت ورځې په نيل کې سفر وکړ. په دې ۲۴ ورځو کې له ډېرو ښارونو ،معبدونو ، کرونډو . او پادو تېرشوو. خو ما د مصر د منظرو له ليدو خوند وانه خيست ځکه بېره مې وه چې ژر له دغه هېواده ولاړ شم او ځان داسې ځای ته ورسوم چې هېڅوک مې ونه پېژني.

کله چې له نيله ووتلو کشتۍ سمندر ګې ته ننوته او په دې وخت کې کاپتا چې د نيل دواړه څنډې يې نه شوای ليدلای ورخطا او مضطرب شو . ماته يې وويل غوره نه ده چې له بېړۍ پلي شو او د وچې پر لاره ځان ازمير ته ورسوو؟.

ما ورته وويل د وچې پر لاره غله دي. هرڅه چې لرو رانه اخلي يې او ممکنه ده ومو وژني.

کله چې د بېړۍ ماڼوګانو پراخ سمندر وليد د خپل عادت له مخې يې خپل مخونه په تېرو کانو پرې کړل چې خدايان له ځان سره ملګري کړي او په سلامتيا بيرته مقصد ته ستانه شي.

د کشتۍ مساپر چې زياتره يې د سوريې ول، د دې منظرې په کتو وو ېرېدل.

هغه مصريان هم وارخطا شول چې په دغه بېړۍ کې سپاره ول.

مصريانو د آمون له خدايه مرسته غوښته او سريانيانو د (بعل) له خدايه مرسته وغوښته. کاپتا هم خپل خدای را وايسته او ورته وېې ژړل.

د دې لپاره چې سمندر له ځان سره ملګری کړي يوه کړۍ مس يې سمندر ته وغورځول خو وروسته بيا له دې امله ډېر خپه و.

دغه پېښې همداسې روانې وې. ان هغو کسانو چې تر دې وخته يې په نيل سين او سمندر کې پاروګان وهل له پارو وهلو ولوېدل او بېړۍ د حرکت د دوام لپاره بادبانونه پورته کړل

له دې سره هرڅه ارام شول ، نور نه ماڼو ګانو خپل مخونه ژوبلول او نه مسافرو مصري خدایان یادول. خو له دې وروسته چې بادبانونه پورته شول او کشتۍ ګړندۍ شوه د سمندر د څپو له حرکتونو سره مخامخ شوه.

کاپتا چې ولیدل بېړۍ ټکانونه خوري وراخطا شو او دبېړۍ یو پړۍ یې کلک ونیو.

له څو شېبو وروسته یې په زګیروي کې ماته وویل زړه یې داسې بد بد کېږي او کانګې ورځي چې فکر کوي معده یې خولې ته راغله او حتماً به مړ شي.

کاپتا چې تصور یې کاوه حتماً به مړ شي ما ته یې وویل باداره له تا خپه نه یم ځکه چې تا زه دلته نه یم راوستی بلکې زه وم چې تا ته مې وویل باید له طبس ولاړ شو.

کله چې زه مړ شوم ما د سمندر او بو ته واچوه. ددې لپاره چې د سمندر او به تروې دي او د درالممات د حوض په شان د جنازې د ورستېدا مخه نیسي.

د کشتۍ ماڼو ګان په مصري ژبه پوهېدل، چې کله یې دغه خبرې واورېدې نو ویې خندل او هغه ته یې وویل یو سترګیه! په دې سمندر کې داسې حیوانات شته چې غاښونه یې تر تمساح هم تېره او لوی دي، تردې وړاندې چې ستا جنازه د سمندر تل ته ورسېږي تا به ټوټې ټوټې کړي او وبه دې خوري.

کاپتا چې پوه شو جنازه به یې د سمندر په تروو اوبو کې پاتې نه شي او ځناور به یې وخوري نو په ژړا شو.

څو شېبې وروسته زما پخواني مریي کانګې پیل کړې او له هغه وروسته ټولو مسافرو که مصریان وو له که سریانیان. کانګې پیل کړې او معدې یې خالي کړې.

زه د هغوی د ډله ییزې ناروغۍ له کبله حیران شوم ځکه چې په دارالحیات کې زموږ استادانو ددې ناورغۍ په هکله موږ ته څه نه وو ویلي.

زه نه پوهېدم چې دا څه ډول ناروغي ده؟ ساري ناروغۍ چې په یو وار ټول ناروغه کوي مشهورې دي او د طبس ټول ډاکټران پرې پوهېږي.

زرګونه کاله کېږي چې دغه ناروغۍ پېژندل شوې او د معالجې وسیلې یې هم برابرې دي، خو اوس دغه ناروغي له هېڅ یوې بلې ناروغۍ سره ورته نه وه او ما فکر کاوه چې که د مصر ټول سلطنتي ډاکټران هم راټول شي دغه ساري ناروغي به چې ناڅاپه ټول پرې اخته شول ونه پېژني.

دغه ناروغي نه وبا وه ، نه طاعون و او نه کوی ، یاچیچک و.

ددې لپاره چې په دغو دريو واړو ناروغيو کې مريضان تبه کوي، خو دغو کسانو چې کانګې يې کولې تبه نه درلوده او د سر له خوږو هم په تکليف نه ول.

ما دغوی خوله بوی کړه چې پوه شم ايا د وبا يا کولرا په شان يې خوله بوی کوي کنه؟ خو خراب بوی يې نه کاوه.

دغوی د ورنو منځ مې معاينه کړ چې پوه شم په طاعون خو به نه وي اخته شوي چې د ورنو له منځه يې رانې سوری کړی وي خو کومه غده مې ونه ليده او پر پوستکي يې هم کومه تپاکه يا دانه. نه تر سترګو کېده په دغو ټولو کسانو کې چې خوا يې راګرځېده هېڅ هم تبه نه درلوده.

حيران پاتې وم چې داڅه ډول مرموزه ناروغي ده چې نښې يې په هېڅ يوه کتاب کې نه دي ذکر شوې.

په وارخطايي. د بېړۍ مشر ماهو ته ورغلم او هغه ته مې وويل ستا په بېړۍ کې يو ډول خطرناکه ناروغي ګډه شوې چې تر ننه پورې يې ما ساری نه دی ليدلی.

زه مصری ډاکټر يم اوله دارالحيات ښوونځي څخه فارغ التحصيل يم. خو له دې مرضه خبر نه وم. زه درته وايم چې ډېر ژر ساحل ته ولاړ شه چې ناروغان وچې ته ولېږدوو.

د کشتۍ ماهو وويل: تر اوسه پورې دې په سمندر کې سفر نه دی کړی؟.... ومې ويل نه.

ماهو وويل دغه ناروغي چې ستا په شان يو مصری ډاکټر ترې بې خبره دی د سمندر ناورغي ده او ددې ناروغۍ علت هم ډېر خوراک دی. په دې بېړۍ کې هغه کسان چې غواړي د سرياني شرکت په خرڅ چې د بېړۍ مالک دی، ډوډۍ وخوري تر نورو ډېره ډوډۍ خوري. ځکه چې ډوډۍ يې په کرايه کې حساب شوې وي.

خو ته اې سينوهه کله چې په کشتۍ کې سپرېدې. و دې ويل چې پخپل خرڅ به ډوډۍ خورې. ځکه تر نورو روغ يې علت يې هم دا دی چې په خوړو کې احتياط کوې.

خو دوی چې پوهېږي ډوډۍ د کشتۍ ده. نو ډېره خوري او ګمان کوي چې ګټه يې کړې.

تر هغه وخته پورې چې په نيل سين کې مو حرکت کاوه ډېرې ډوډۍ هغو ته تاوان نه پېښاوه ځکه چې نيل سيند دی او څپې نه لري خو اوس چې سمندر ته ننوتو دوی له هر خل خوړو وروسته په همدې مرض اخته کېږي. دغه کانګې د کشتۍ د ټکان له امله دي او کشتۍ هم د سمندر د څپو له امله ټکانونه خوري.

ومې ويل ولې په دې توپاني هوا کې بېړۍ ځغلوې چې مسافر دې له دې ناروغۍ سره

مخامخ کړي دي؟

مانو وويل دغه هوا توپاني نه ده، بلکې د بېړۍ د حرکت لپاره تر ټولو ښه هوا ده، ځکه تر هغه چې باد نه وي له بادبانه استفاده نه شي کېدای.

بيايې زياته کړه سينوهه! سره له دې چې ته يو مصري ډاکټر يې د طب دغه علم له ما زده کړه.

د سمندر د ناروغۍ معالجه يوازې داده چې ډوډۍ لږه وخوړل شي او که د کشتۍ مسافر کمه ډوډۍ وخوري يا يې ونه خوري په دې مرض به اخته نه شي.

ما وويل دغه کسان چې ناروغه شوي دي وبه مري؟

مانو وويل کله چې بېړۍ ساحل ته ور سېږي او دغه کسان ترې پلي شي تر ټولو هغو کسانو به سالم او روغ وي چې په ساحل کې ګرځي ځکه چې د بيابيا کانګو له امله به د هغوی د معدې درونډ والی له منځه ولاړ شي.

د سمندر ناروغي تر هغه وخته دوام کوي چې بېړۍ په سمندر کې روانه وي. څنګه چې ساحل ته ور سېده نو دغه مرض هم ښه کېږي.

موږ په دې خبرو لګيا وو چې شپه شوه. يوه لوري ته هم ساحل نه ښکارېده، ما د کشتۍ مشر مانو ته وويل په دې توره شپه کې لاره درڅخه نه ورکېږي؟ هسې نه د ازمير پر ځای د سرې خورو تاټوبي ته ولاړ شې. (*ځلوزره کاله مخکې د مديترانې د شمال او سپدونکي تر يوه حده وحشي ول او مصريانو فکرکاوه چې هغوی سرې خواره دي*)

مانو وويل زه له خدايانو مرسته غواړم او خپله لاره نه ورکوم.

تر هغه چې ورځ وي، د لمر خدای راسره مرسته کوي او چې شپه شي د ستورو او سپوږمۍ خدای مې مرستې ته راځي او نه پرېږدي چې زه د سرې خورو د تاټوبي پر لور ولاړ شم.

له دې وروسته له مانو څخه راون شوم او په يوې څنډې کې پرېوتم. چې ويده شم، خو تر سهاره د کشتۍ د حرکتونو، د بادبانونو او څپو د غږ له امله خوب رانغی.

پر بله ورځ مې کاپيتا ته لږ خواړه ور کړل. خو هغه نه خوړل. په دې وخت کې زه پوه شوم چې هغه به مړ شي ځکه چې تر اوسه پورې داسې نه وو شوي چې، کاپيتا د خوړو فرصت ولري خو هغه له لاسه ور کړی وي.

اووه شپې او ورځې موږ په سمندر کې وو او اتمه ورځ ازمير ښکاره شو.

کله چې بندر ته ورسېدو بادبانونه راښکته شول او د کشتۍ مانوګانو پاروګان په لاسونو کې ونیول چې کشتۍ ساحل ته ورسوي ما په حیرانۍ سره ولیدل، زما مریې او ټول هغه مسافر چې ناروغه وو کله چې په بندر کې له بېړۍ کوز او رهي شول، ټولو ویل چې وړې دي او دوه دې يې غوښته.

ما هېڅکله نه وو لیدلي هغه ناروغان چې ته خیال کوې مړه کېږي خو دوی ناڅاپه داسې روغ شي، روان شي، خبرې وکړي او وخاندي.

په دې وخت کې پوه شوم چې علم پای نه لري او انسان چې څومره تعلیم وکړي بیا هم د علم ترلاسه کولو ته اړتیا لري، خکه موږ مصري ډاکټران چې د نړۍ تر ټولو ستر طبیبان یو خو د یوه بې سواده مانو په اندازه معلومات نه لرو او په طبس کې زما ملګري د دې ناروغۍ له شتونه خبر لا نه وو.

سوریې ته سور هېواد او مصر ته تور ملک وایي (د هغو د خاورو د رنګ له امله) او هماغه ډول چې د دغو دواړو هېوادونو خاورې له یو بل سره توپیر لري، د سریانیانو او مصریانو ټول شیان هم سره توپیر لري.

مصر هوار هېواد دی، چې غر نه لري خو سوریه غرونه لري، د دواړو هېوادونو ترمنځ یوه دره یا جلګه ده، چې په هرې جلګې کې یو ملت ژوند کوي، یو پاچا نه لري او دغه ټول پاچاهان فرعون ته باج ورکوي.

د سوریې په سواحلو کې خلک د کبانو د ښکار او سمندر کچ کونې له لارې ژوند کوي او په وچه کې خلک کرنه او لوټماري کوي د فرعون پوځ هېڅکله د سوریې غله او ډاکوان له منځه یو نه وړل.

په مصر کې خلک لوڅ دي، خو په سوریه کې له سر تر پښو پټ دي او جامې اغوندي دوی خپلې جامې له وړیو جوړوي.

همدغه خلک چې له سره تر پښو جامې اغوندي، کله چې غواړي خپل طبیعي احتیاجات رفع کړي، له دې پرته چې کوم خاص ځای ته ولاړ شي په هر ځای چې د دوی زړه وغواړي رفع حاجت کوي او دا نه ده ورته مهمه چې خلک یې ګوري.

د سوریې نارینه اوږده ږیره او ویښتان لري، هر ښار خپل خدای لري او د خدایانو لپاره انسانان قرباني کوي.

ځینې کارونه چې په مصر کې ناروا دي، په سوریې کې جواز لري لکه د نارینه وو

او ښځو معاشرت په ځینو اخترونو کې نارینه او ښځې په ښکاره توګه له یو بل سره معاشرت کوي.

هر ځل چې فرعون یو صاحب منصب را لیږي چې د سوریې له پاچاهانو باج واخلي. د هغه لپاره د ا یوډول تبعید وي. ځکه چې له محدود شمېر مصریانو پرته ډېری مصریان د سوریې د خلکو له ژوند سره نه جوړېږي.

په ازمیر کې د آمون د معبد په نوم یو معبد هم شته او هغه مصریان چې په دغه ښار کې ژوند کوي دغه معبد ته ډالۍ ورکوي.

ما په ازمیر کې دوه کاله تېر کړل او په دې موده کې مې د بابل لیک او ژبه زده کړل. ځکه چې ماته ویل شوي دي. که څوک بابلي ژبه او لیک زده کړي د نړۍ ټولو مشهورو هېوادونو ته سفر کولای شي او هر چیرته له تعلیم یافته نارینه وو سره خبرې کولای شي.

بابلي خط پر هغو لوحو لیکي چې له متینې خټې جوړې شوې دي او بیا دغه لوحې چې په نی لیکل کېږي په اور کې ږدي چې د خښتې په شان وچې شي.

په سر کې به زه حیران شوم چې ولې بابلي خط د مصري خط په شان په پاپیروس (مصري کاغذ) نه لیکي؟

وروسته پوه شوم چې کاغذ له منځه ځي. خو پخه شوې خټه پاتې کېږي او دا ددې ښودنه کوي چې پاچاهان او واکمنان څومره ژر خپلې وعدې او ژمنې هېروي.

یو شی چې په سوریې کې شته خو په مصر کې یې نه ګورو. هغه دا دی چې په سوریه کې باید ډاکټر د ناروغ کورته ورشي او هېڅکله ناروغ یو طبیب نه احضاروي.

کله چې طبیب د یوه ناروغ کورته ورځي. نو ناروغ خیال کوي چې خدایانو هغه ور استولی دی او د ډاکټر فیس له درملنې مخکې ورکوي چې دغه چاره د ډاکټر په ګټه ده. ځکه کله چې ناروغ معالجه شو بیا د ډاکتر اجوره هېروي.

د سوریې هر شتمن خپل خاص ډاکټر لري او تر هغه چې روغ وي. هغه ته ډالۍ ورکوي. خو کله چې ناروغ شو. نو بیا طبیب ته هغسې ډالۍ نه ورکول کېږي لکه د روغتیا پر مهال خو دغه چاره بېرته هغه مهال پیل کېږي چې ناروغ ورغېږي.

زما مړي له هغې ورځې چې ازمیر ته ننوتو زه اړ کړم. چې د خپل کار د عاید یوه برخه هغو کسانو ته ورکړم. چې د ښار بېلابېلو سیمو ته ولاړ شي او په طب کې زما معجزې خلکو ته ووایي.

زما مړي کاپتا به ویل که ته په دې ښار کې مشهور شوې، نو بیا به مجبور نه یې چې د ناروغانو د درملنې لپاره د هغوی کورونو ته ولاړ شې . بلکې هغوی به ستا کورو ته راځي.

ما چې هر څو مره ورته وویل په سور یه کې ناروغ د ډاکټر کور ته نه ځي. بلکه بالعکس وي خو هغه نه منله او ویل یې په پیل کې همداسې ده. خوله دې وروسته چې خلکو عادت وکړ ستا کور ته به راشي. ځکه چې خلک احمقان دي او ډیر ژر ورځني موږ ته تسلیمیږي په تېره بیا که هغه موږ له یوه بهرني هېواده راغلي وي.

نو کله چې هغوی پوه شي .د ډاکټر کور ته تګ موږ دی. بیا خپل دود - دستور پرېږدي او د مصر د خلکو دود به غوره کړي.

یو کار چې کاپتا د هغه کولو ته اړ کړم داو. چې په کوڅه او سړک کې د سوریې ډاکټرانو ته ورشم (له دې امله چې هغوی د خلکو کورو ته تلل. نو تل به په کوڅو او سړکونو کې لیدل کېدل) او هغوی ته ووایم چې: زه سینوهه د مصر مشهور ډاکټر یم. چې خپلې زده کړې مې په دارالحیات کې کړې. د ټولې نړۍ خلک مې پېژني او دومره علم لرم چې که خدایان راسره موافقه وکړي. مړي به ژوندي کړم او ړندې سترګې به ورغوم. خو عمل په هر ځای کې په یوه بڼه نه دی او ناروغۍ په هر هېواد کې خپل خاص ډول لري.

زه د دې لپاره ستاسې ښار ته راغلی یم چې ستاسې د ښار ناروغۍ وپېژنم . درملنه یې وکړم او ستاسې له علومو خبر شم.

زه نه غواړم چې له تاسې سره سیالي وکړم. ځکه چې د سرو او سپینو د ټولولو لپاره نه یم راغلی او زما لپاره سره او سپین زما تر پښو لاندې خارو سره څه توپیر نه لري.

کله چې تاسې ولیدل. ستاسې خدایانو یو کس په قهر او غضب اخته کړی او ناروغي یې نه معالجه کېږي. ماته یې را واستوئ چې ښایي زه یې په خپلې چړې معالجه کړم.

ځکه چې پوهېږم تاسې هېڅکله د خپلو ناروغانو د معالجې لپاره چړه نه کاروئ او تل د درملنې لپاره درمل کاروئ.

که ما هغه ناروغان چې تاسې ماته رالېږلي پخپلې چړې سره معالجه کړل. هر څومره سره او سپین یې چې راکړل شول له تاسې سره به یې نیم کړم او که مې علاج ونه کړای شو هغه به بیرته تاسې ته در ولېږم.

دغه راز که کومه ډالۍ یې هم راکړه هغه به هم تاسې ته درکړم.

کله چې به ما له یوه سوریایي ډاکټر سره دغسې خبرې وکړې. هغه به خپله ږیره وګروله

او ویل به یې بې له شکه چې خدایانو تاته علم درکړی دی. ځکه چې ستا کلام په تېره بیا هغه برخه چې وایې سره او سپین به سره نیمایی کوو ډېره په زړه پورې ده.

له دې امله چې ته د چړې په مرسته درملنه کوې. نو که وغواړې له موږ سره چې په درملو معالجه کوو سیالي وکړې نه یې شې کولای. موږ عقیده لرو چې یو ناروغ په چړې نه معالجه کېږي. بلکې هغه به مړ شي موږ تاته یوه سپارښتنه کوو. هغه دا چې هېڅکله په جادوګرۍ د چا معالجه ونه کړې ځکه که ته دغه هڅه وکړې نو له هغو خلکو به وروسته پاتې شې چې تر تا چالاک دي.

ما په دې خبرو باور کاوه. ځکه پوهېدم چې په سوریه کې کوډګر په واټونو او کوڅو کې د ډاکټرانو په شان سرګردانه دي او د کوډو په وسیله د ساده کسانو درملنه کوي.

هغوی هم یا مري او یا د وخت په تېرېدا سره معالجه کېږي.

زموږ په مصر کې هم کوډې شته خو جادوګري. هلته د کاهنینو مسلک او حرفه ده. یوازې کاهنین او هغه هم په معبدونو کې کوډې کوي.

که څوک له معبده بهر په واټونو کې کوډې وکړي سخته سزا ورکول کېږي.

هغه نتیجه چې ما په ازمیر کې له خپلې معالجې واخیسته ډېره پاموړ شوه او ډېره موده تېره نه وه چې په ښار کې مشهور شوم.

ما به له هغو ډاکټرانو سره ډېر ښه چلند کاوه چې خپل ناروغان به یې ماته د علاج لپاره لېږل او چې له ناروغه به مې څومره فیس اخیستی و. هغه به مې ورسره نیمایی کاوه.

ناروغ ته به مې ویل چې همغه ډاکټر ته ورشې او ورته ووایې چې ماته یې څه راکړي دي.

زما د معالجې وسیله چاړه وه. هر خل تر دې وړاندې چې چاړه وکاروم هغه به مې په اور کې پاکه کړه او ځان به مې هم د دارالحیات په دود پاکاوه.

یوه ورځ یو ړوند راغی او څرګنده شوه چې څه موده د سوریې ډاکټرانو ته د معالجې لپاره ورغلی دی. خو ناروغي یې نوره هم زیاته شوې ده.

د سوریې ډاکټرانو چې د دغه ړانده د معالجې لپاره کومه وسیله کارولې وه. هغه دا وه چې د خولې ناړې به یې له خاورو سره یوځای کولې او د هغه پر ناروغې سترګې به یې ور موښلې

خو ما د دغه سړي د معالجې لپاره له ستنې کار واخیست. لومړی مې ستنه په اور کې

کېښوده، چې پاکه به شوه نو د هغې په وسیله به مې د هغه سرې سترګه معالجه کړه او په دې توګه د غه سړی روغ شو.

دې موضوع زما له شهرت سره دومره مرسته وکړه چې په ټول ازمیر کې یې زه د خدایانو استازی بللم او ویل به یې، همغه ډول چې خدایان انسان ته سترګې ورکوي سینوهه هم ړندې سترګې رغوي.

د سوریې شتمن او سوداګر زمو ږ تر شتمنو او سوداګرو ډېره ډوډۍ خوري، هر ورځ څو ځله پخه شوې ډوډۍ خوري. دغه خوړ د هغوی بدن چاغ کړی وي او د معدې او ساه لنډۍ ستونزې لري.

کله چې زه مشهور شوم دغه کسان ماته راتلل او ما به د همغې چړې په وسیله معالجه کول. د هغوی وینه به مې داسې تویوله لکه چې د خنځیر سر پرې کړې.

ما به ناروغ ته د هغه له وس سره سم درمل ورکول. که مې کتل چې ناروغ پیسې لري، نو ګرانه مې پرې خرڅوله. خو بې وزلو ته مې ارزانه ورکوله او باوري وم، چې باید له بډایه یې واخلم او بې وزلې ته یې ورکړم. په تېره بیا که بېوزله ناروغ به د نوکرانو یا مرییانو له پرګنې و.

زما مریي کاپتابه هم له ناروغانو ډالۍ اخیستلې او زیاتره ناروغان به تردې ورانديې چې ماته راشي زما مریي ته به ورتلل چې د هغه په وسیله زما ډېر دقت او مرسته جلب کړي.

کاپتابه هره ورځ یو شمېر سوالګر زما کورته راوستل او ډوډۍ به یې ورکوله چې هغوی بیا د ښار په شاوخوا کې زما د معالجو د معجزې په هکله خبرې وکړي او ووايي چې دغه مصري ډاکټر په ټولې نړۍ کې ساری نه لري.

ما ډېر سره او سپین تر لاسه کړل او اضافي سره او سپین به مې د سوریې د بېړۍ چلونې په شرکتونو کې په کار اچول.

په سوریې کې داسې شرکتونه شته چې پانګې یې په ورو برخو وېشل شوې بیا دغه وړې برخې خلکو اخیستې وي. دغه وړې برخې بیا هم په نورو وړو برخو وېشل شوې وي او پر هغو یې لسمه برخه، سلمه برخه، او زرمه برخه نومونه ایښي وي. د ازمیر ټولو او سیدونکو حتی سوالګرو دغه وړې برخې او ونډې اخیستلې او په نتیجه کې به د کشتیو په شرکتونو کې شریکان شول.

ځینې وختونه داسې کېږي چې بېړۍ سمندر ته ولاړې شي، ډوبېږي او بیرته نه

راستنېږي.

خو کله چې ښځې راستنې شي نو بیا پانګوالو ته پرېمانه ګټه رسوي. ما هم تر خپله وسه پورې دغه وندې اخیستې وې چې دښځو د شرکتونو په ګټه کې شریک شم.

په مصر کې دغه دود نشته او له همدې امله هلته د سوریې دښځو په شان سترې ښځې نشته.

زمونږ په هېواد کې چې کله د ښځې خاوند مړ شي، نو د هغه ښځې هم له منځه ځي، خو په سوریه کې له دې کبله چې ښځې په شرکت پورې اړونده ده او ټول خلک د شرکت ونډه وال دي، نو د یوه یا څو تنو مړینه د ښځې چلونې په کار و بار اغېزه نه کوي.

ما په ازمیر کې د کښتیو داسې شرکتونه هم ولیدل چې پېنځه سوه کاله یې عمر کړی دی.

د ښځو په شرکت کې له پانګونې زما یوه ګټه دا وه چې هېڅکله به مې په کور کې ډېر سره او سپین نه ول. چې غله یې یوسي او د هغو له لامله مې مړ کړي.

زه چې څو مره بډای کېدم کاپتا هومره چاغېده او ښکلې جامې به یې اغوستلې، خپل بدن به یې په عطري تېلو غوړاوه.

له دې سره سره چې کاپتا بوډا شوی و، خو ځوانې ښځې به یې په خپله غېږه کې ځملولې او کله خو به داسې مغرور شو، چې له سره به یې سپین سترګي کوله بیا به ما خپله لکړه را واخیسته او څو کلک ګوزارونه به مې په ولیو او ملا ورکول.

دومره سره او سپین مې پیدا کړل چې کله خو به نه پوهېدم څه پرې وکړم؟

زما بریالیتوب دوه علتونه لرل لومړی دا چې د سوریې له ډاکترانو سره مې سیالي نه کوله، ځکه چې په عمومي توګه مې هغه ناروغان معالجه کول چې هغوی به ځواب کړي ول.

دویمه دا چې د چړې په کارولو کې مې ډېره تجربه درلوده.

کله چې به یوه سریاني ډاکتر کوم ناروغ ته ځواب ورکړ، چې نور نه رغېږي او ورته و به یې ویل چې مرې، نو خلکو به هم همداسې فکر کاوه چې دغه کس به مړ شي.

کله چې به ما په چړې سره هغه ورغاوه، ټولو به ستایلم او که به ناروغ مړ شو هېڅ به نه رټلم ځکه چې پوهیدل ناورغ نه رغېده.

له همدې لامله ما په ارام زړه، له وېرې پرته خپله چاره د هغو لپاره کاروله.

کله به مې د سوریې د ډاکترانو له علمونو استفاده کوله، ځکه چې د هغوی ځینې

علمونه په تېره بیا د زخمونو لپاره له کرمو و سپنو استفاده ډېره ښه وه.
کله چې مې ډېره شتمني ترلاسه کړه او پوی شوم چې نورو سرو او سپینو ته اړتیا نه لرم. او زما پر وړاندې یې ارزښت هم کم شو. له هغه وروسته مې بېوزله ناروغان یوازې ددې لپاره معالجه کول چې خپل معلومات پرې زیات کړم.
په دغو دوو کلونو کې چې په ازمیر کې وم له یوازیتوبه کړېدم ځکه چې پخپله خوښه به مې ښځه نه پیدا کوله او له هر جایي ښځو مې نفرت کاوه.
دا ددې لپاره و چې نفر نفر له هغو ښځو بېزاره کړی وم چې د سرو او سپینو لپاره د نارینه وو غېږې ته ورځي. ان کله چې به د سوریې معبد ته ولاړم چې له کومې ښځې سره ساعت تېر کړم بیا به مې هم له هغو کرکه کوله.
په ازمیر کې که یو سړی وغواړي چې له یوې ښځې سره ځملي معبد ته ځي او د یوه ساعت یا یوې ورځې لپاره هلته یوه ښځه خپله خور کوي.
سوریه ډېر خدایان لري چې تر ټولو مشهور یې بعل نومېږي.
بعل خونخوار خدای دی چې قرباني ته اړتیا لري. دغه خدای عادي غلا هم منع کړې او په بدل کې یې له چل ول سره غلا ازاده پرې ایښې ده.
که په ازمیر کې یو څوک دخپلو بچیانو دخېتو د مړولو لپاره یو کب غلا کړي او بیا ونیول شي غل دبعل معبد ته بیایي او ددغه خدای په مخ کې یې ټوټه ټوټه کوي.
خو که څوک سپین زر له سرو، سره ګډ کړي او بیا یې د سرو په نامه خرڅ کړي څوک ورته ګوته نه نیسي. ځکه چې چل یې کړی او په سوریه کې له چل ول څخه استفاده دستایلو وړ تخنیک ګڼل کېږي.
له همدې لامله په دغه هېواد کې خلک د سرو او سپینو په پېژندولو کې استادان دي او کله چې د سرو یا سپینو کړی تر لاسه کړي پوهېږي چې سو چه دي کنه؟
د ازمیر د اوسېدونکو ښځینه خدای د ایشتار په نامه یوه الهه ده چې هره ورځ یې جامې بدلوي او دغه الهه په یوه ستر معبد کې ده.
په دې معبد کې سلګونه. ظاهراً باکرې نجونې دهغې خدمت کوي خو دوی یوازې په رسمي توګه باکرې دي.
خو دوی ته په معبد کې د خپل لقب اپوته د دلربایي او زړه وړلو چلونه ورزده کوي چې معبد ته له راتلونکو سره ځملي.

په ازمير کې د ايشتار معبد په طبس کې د عياشۍ کورونو ته ورته دی . دلته ښځې د نارينه وو مېلمه پالنه کوي او هرڅه چې نارينه ورکوي د ايشتار په ساتلو يې لګوي.
په مصر کې که يوه ښځه له يوه نارينه سره په معبد کې ځملي نو سړی د کار کولو لپاره کان ته استول کېږي او ښځه له معبده باسي . خو په ازمير کې د ايشتار په معبد کې دغه ډول اړيکي ازاد وي او سريانيان وايي ايشتار له دې امله دغه عمل په معبد کې ازاد پرې اينبې دی چې له دغې لارې ډېرې پيسې ګټي.
که يو سړی ونه غواړي د ايشتار معبد ته لاړ شي او د هغه ځای له ښځو سره ساعت تېر ونه کړي بايد ښځه وکړي او يا يوه وينځه واخلي.
ښايي د نړۍ په هېڅ يوه ځای کې د سوريې په شان مرييان او وينځې د خرڅلاو لپاره نه وي. ځکه چې هره ورځ له لېرې سيمو کښتۍ راځي او مرييان او وينځي چې له ځان سره يې راوړي وي د خرڅلاو لپاره يې بازار ته استوي.
په وينځو کې د هر نارينه لپاره د هغه په سليقې او خوښه برابره ښځه پيدا کېږي او بيه يې هم ګرانه نه وي.
هرڅوک د خپلې خوښې وينځه لرلای شي چې کور ته يې بوځي او خپل ساعت ورسره تېر کړي.
معيوب مرييان او وينځې د ازمير حکومت اخلي. دغه مرييان په ډېره ارزانه بيه پېرودل کېږي او حکومت له هغوی څخه ښکلا نه غواړي بلکې هدف يې دا وي چې هغوی بعل معبد ته بوځي او هلته يې د نومو ړي خدای په مخکې قرباني کړي.
حکومت باوري دی چې بعل په دې نه پوهېږي چې غوليدلی دی او معيوب نارينه او يا ښځه يې د قربانۍ لپاره ورو ړي دي.
کله چې زړې وينځې او بوډا مرييان چې په خولې کې غاښونه نه لري، د قربانۍ لپاره د بعل معبد ته وړي او قرباني کوي يې نو بيا دغه مهال د بعل څېره په يوه توکر کې پټوي چې خپل قرباني ونه ګوري. د دې لپاره چې زه هم د ازمير د خلکو له قدرونې سره مخامخ شم. د بعل خدای لپاره مې قرباني کوله. خو د مريي او وينځې پر ځای مې د هغوی بيه ورکوله. دغه سره او سپين تر هغه ډېر څرګند ول. چې يو غلام او وينځه مې قرباني کړې وای.
هغه ښځې چې د ايشتار په معبد کې وې ډېرې ښکلې وې. ځکه چې د دود له مخې د

سوريې تر ټولو ښکلې نجونې په ايشتار معبد کې د خدمت لپاره ګمارل کېدې.

دغه نجونې چې به کله پېغلې شوې، نو د نارينه وو د زړه راکښلو چلونه به ورښوول کېدل چې څنګه يو سړی په ځان مين کړي چې ډېر سره او سپين زر واخلي.

هره شپه چې زه به د ايشتار معبد ته تلم(ددې لپاره چې نارينه له کارونو د خلاصېدا په وخت ياني د شپې له پلوه هلته ځي) د معبد له يوې ښځې سره به ځملاستم چې باکرې به يادېدلې.

زه نور هغه ساده او شرمناک سينوهه نه وم، چې د شپې مهال به په طبس کې د عياشۍ کورونو ته ولاړم، بلکې له ښځو د خوند اخيستلو په برخه کې مې ډېره تجربه پيداکړې وه او په دې پوهېدم چې کله يو سړی غواړي له يوې ښځې سره ځملي، څه ډول بايد له هغې څخه استفاده وکړي.

له دې وروسته چې څو ځله د ايشتار معبد ته ولاړم، نو هلته مې وليدل چې هره يوه د مينې کولو او دلبرۍ په ځانګړو چلونو پوهېږي او دا د دغه معبد د دود يوه بله ګټه ده چې ډېر سره او سپين زر ترلاسه کړي.

له دې کبله چې معبد ته تلونکي نارينه هر ځل له ښځو سره په مينې کولو کې نوي شيان زده کوي، دغه تنوع ددې سبب کېږي چې ايشتار معبد ته له تلو ستړي نه شي.

ما د هغه ځای له ښځو څخه ډېر څه زده کړل او ورو-ورو په عشق کې استاد شوم، خو سره له دې چې هر ځل مې معبد ته د تللو په وخت کې خوښي احساسوله، په زړه کې مې د هغه ځای له ښځو کرکه کوله، ځکه پوهېدم چې د طبس د عياشۍ د کورونو له ښځو سره هېڅ توپير نه لري.

يوه ورځ کاپتا په ځير راته وکتل او ويې ويل، زما باداره! سره له دې چې ته ځوان يې خو بيا هم ستا په مخ کې ګونځې ليدل کېږي.

ورته مې وويل داسې نه ده.

هغه وويل همداسې ده او ددې چارې لامل دادی، هغه ښځې چې ته يې په غېږه کې ځملوې، ته له هغوی سره د زړه مينه نه لرې، که يو څوک له يوې ښځې سره له زړه مينه ولري او له هغې سره ځملي هېڅکله به زوړ نه شي.

هغه وويل زه له دوو شيانو وېرېږم، يو دا چې له هغو ښځو سره چې ته مينه نه لرې او پوهېږې چې موقتي دي، ستا ځملاستل به د دې سبب شي چې ته ژر زوړ شې اودويم شی

دا چې د نفر نفر پېښه تکرار نه شي او یوه بې رحمه ښځه به تا د ځان لیواله کړي او بیا به مور سپېره شو.
ما وویل داډه اوسه چې زه به نور د نفرنفر او هغې ته د ورته ښځو په لومه کې ګیر نه شم.
کاپتا وویل تر اخرې ورځې پورې چې یو سړی د تارینتوب ځواک لري دا احتمال شته چې د یوې حریصې او بې رحمه ښځې په لومه کې راشي او خپل ټول شیان له لاسه ورکړي.
زه لټه کوم تا ته یوه کنیزه پیدا کړم چې تا په سرو او سپینو زرو باندې له مینو ښځو وساتم او د شپې مهال به له دې کنیزې سره ساعت تېري کوې.
پېنځه ورځې وروسته چې کله خپلې کوټې ته ننوتم و مې کتل چې کاپتا له یوې ځوانې وینځې سره کوټې ته را ننوت.
دغه ښځه نه د مصر او نه د سوریې او سېدونکې وه، بلکې د سرې خورو قبایلو ته ورته وه، ځکه چې وېښتان یې طلایي، مخ یې سپین او سترګې یې شنې ښکارېدې.
ښځه نه دنګه وه او نه ډنګره، سینې او لاسونه یې واړه ول. ما فکر وکړ چې که د سرې خورو د قبیلې ټولې نجونې داسې وي، نو د سرې خورو ټاټوبی د خدایانو تر کور هم ښه دی.
کاپتا چې کله هغه زما کوټې ته راننه ایستله، نو د هغې جامې یې وایستلې چې زمونږ (مصریانو) په شان شي او بیا یې د هغې د ښکلا ستاینه وکړه، ویې ویل دا هغه وینځه ده، چې زمونږ سمندر کچ کوونکو د سرې خورو له ساحله را تښتولې او ما نن د مریبیانو د خرڅلاو په بازار کې تر دې بله ښکلې وینځه ونه لیده.
په ښځې کې د وحشت نښې نه ښکارېدې او خندل یې، خپل سپین او بریښنده غاښونه به یې راښودل او د خپل بدن ځینو غړو ته به یې اشاره وکړه.
غړو ته داسې اشاره کول ښه کار نه دی او زه پوه شوم چې کومه ښځه که له وحشي ملتونو څخه نه وي، نو بل ځوک داسې بې تربیتي نه کوي.
دغه ښځه ډېر ژر له ما سره صمیمي شوه، خو ددې ښځې شتون زما لپاره دایمي عذاب شو، ځکه چې دې ښځې غوښتل له ما سره ساعت تېري وکړي، خو زه د هغې له بیا بیا غوښتنو په تنګ شوی وم او کاپتا ته مې وښبله.
ښځه له هغه سره نه جوړېده، کاپتا به وهله او له هغه به تښتېده ما ته به راتله خو کله چې

به ما وهله خوشحاله به شوه او ویل به یې له تاسره ځکه خوشحاله یم چې ته څوا کمن یې او له ما سره ښه مستي کولای شې.

له دې ښځې سره زموږ اړیکې په همدې ډول روان ول . خو یوه ورځ د سوریې یو پاچا (لکه چې مخکې مې ویلي ول. د هغو شمېر ډېر زیات دی) د معالجې لپاره ماته راغلی او چې کله یې دغه ښځه ولیده حیران شو.

زه پوه شوم چې زما د وینځې اندام یې ډېر خوښ شوی دی. ځکه چې زما وینځې زموږ له دود سره سم په کور کې کالي نه اغوستل او دغه پاچا هېڅکله پردی ښځه لوڅه نه وه لیدلې.

ما چې ولیدل هغه زما له وینځې مخ نه اړوي. نو ورمعرفي مې کړه او وینځې ته مې وویل چې پاچا ته شراب راوړي.

کله چې پاچا پوه شو چې دا زما وینځه ده نو ویې ویل: سینوهه ! زه غواړم دغه وینځه له تا څخه واخلم. هر څومره سره او سپین چې وغواړې د هغې په بدل کې به یې درکړم.

تر دې ورځې پورې د خپلې وینځې د بیابیا غوښتنې له کبله چې باید مستي ورسره وکړم په تنګ شوی وم. خو کله چې مې ولیدل پاچایې غواړي نو زړه مې ونه شو چې پرې خرڅه یې کړم .

ځکه زه پوهېدم هرڅه چې وي خو بیا هم ښځې شپې ورته اړتیا لرم او که خپله وینځه و نه لرم مجبور به یم چې د ایشتار د الهې معبد ته ولاړ شم او د هغه ځای له ښځو سره څملم.

کله چې پاچا زما وینځه وغوښتله نو د هغې په قدر او قیمت پوه شوم . ځکه تر هغه وخته چې زموږ شیان پېرودونکی نه لري زموږ په نظر کې هم بې ارزښته راځي او کله چې د شیانو لپاره پېریدونکی پیدا شي زموږ نظر هم ځانته جلبوي.

اوس هغه وخت راغلی چې باید د خپلې اختراع په هکله یو څو خبرې وکړم.

کله چې ما په دارالممات کې کار کاوه متوجه شوم چې که وکړای شو غاښونه په یوه پوښ کې وساتو نو له خرابېدو به یې وژغورو.

په دارالممات کې چې به کله شتمن مړي مومیایي کېدل د هغو په غاښونو به یې یوه پاڼه زر راکاږل. دغه زر به د وریو په غوښه کې ننوتل او کلک به شول. پایله به دا شوه چې کله به وروسته په مومیایي کې د ورستېدا نښې ځرګندې شوې نو غاښونه به له وریو څخه جلا کېدل او له زرو کلونو وروسته به د غاښونو لیکه په خپل حال پاتې وه.

د مړیو غابښونه له مومیایي کولو وروسته نه خرابېږي، ځکه چې له مړینې وروسته غاښ نه ورستېږي، خو له وریو جلا کېږي او د زرو په وسیله به یې هغه له وریو سره یو ځای کول چې جلا نه شي.

ما فکر وکړ چې که د ژوندیو کسانو په غابښونو د طلا یو پوښ راکاږل شي ممکنه ده د غابښونو د خرابېدا مخه ونیول شي. تر هغه وخته چې په طبس کې وم زما ښوزلې اجازه نه راکوله چې د غه ډول سینګار برابر کړم.

خو کله چې ازمیر ته ولاړم او سره او سپین راته بې ارزښته شول. نو په دې لټه کې شوم چې د غه موضوع تجربه کړم او پوه شوم چې په غابښونو د سرو زرو د یوه پوښ په راکاږلو سره هغوی له ورستېدا ساتلای شو. نو موړي پاچا چې د نور بدن د درملنې ترڅنګ یې غوښتل د خپلو غابښونو درملنه هم وکړي، له ما سره موافقه وکړه، چې زه په طلایي پانې سره د هغه غابښونو ته پوښ جوړ کړم چې له خرابېدا وژغورل شي.

کله چې مې د هغه پورتني او ښکتني غابښونه په جلا جلا پوښونو سره ورښکلي کړل. نو ما ته یې وویل سینوهه! تا زما لپاره ډېر زحمت وایست او زما غابښونه دې له خرابېدا وساتل، هغه اجوره چې تا ته مې درکړه، که څه هم زیاته ده خو ستا د پوهې په اندازه نه ده.

سره له دې چې زه دې د احسان پوروړی یم. له دې کبله چې زه یو رېښتونی سړی یم، نو تا ته وایم چې ستا وینځه غواړم. که د غه وینځه پر ما خرڅه کړې ښه بیه به یې درکړم. مګر که یې خرڅه نه کړې نو هغه به درڅخه وتښتوم او که مقاومت وکړې نو بیا به تا ووژنم.

ما تر اوسه پورې د سړي خورو د سیمې له کومې ښځې سره مستي نه ده کړې. باید ته خپله وینځه پر ما خرڅه کړې، چې له هغې سره ساعت تېری وکړم او پوه شم چې زموږ له تور سترګو ښځو سره تفریح ډېر خوند لري او که له یوې سړي خورې. شنې سترګې سره چې طلایي وینښتان لري.

کله چې پاچا د غه خبرې کولې زما مریې کاپتا چې سوریې ته له راتګه وروسته یې د سوریې له سوداګرو سره د بازار د ګرمېدا چل زده کړی و. هلته موجود و او ددې لپاره چې د معاملې بازار ګرم کړي او پاچا اړ کړي چې د وینځې په بدل کې ډېر څه راکړي. نو په نارو سورو یې پیل وکړ او ویې ویل. نن زما د بادار تر ټولو سپیره ورځ ده. کاشکې زه د مور له خېټې نه وای راوتلای او د غه ورځ مې نه وای لیدلې، ځکه چې پر د غې ورځ ته غواړې زما بادار د ساعت تېري له یوازینۍ وسیلې څخه هم محروم کړې او هغه وینځه چې

هره شپه ورسره ځملي له هغه واخلي.

زه پوهېږم چې بله هېڅ یوه ښځه به ددې وینځې په شان زما دبادار زړه خوشحاله نه کړي، ځکه چې ددې په شان بله ښایسته ښځه نشته وګوره چې د هغې مخ د څوارلسم تر سپوږمۍ ښکلی دی او دوه سینې یې د ازمیر له سنتړو ورې دي.

ایا د هغې ښوی نس چې هېڅ لوړوالی نه لري ګورې او د هغې د نوم ننوتلی ځای ګورې؟!

څیر شه! د دې ښځې پر بدن یو تار وېښته نشته، بدن یې د غوا تر شېدو سپین دی، تر باقلیو نرم دی، زه باور لرم چې خدایانو ټول ښایسته رنګونه راټول کړي او ددغې ښځې په اندام او څېرې کې یې کارولي دي، ځکه خو د هغې د سر وېښتان طلایي، سترګې یې شنې، شونډې یې سرې، نوکان یې د نکریزو رنګ لري، اندام یې سپین او د سینو دوه څوکې یې ګلابي دي.

کله چې زما مریي داسې بازار ګرماوه، نو پاچا داسې هیجاني شوی و، چې له ډېرې لېوالتیا یې ساه بنده بنده کېده او ویې ویل: سینوهه! زه پوهېږم چې ستا وینځه ډېره ښکلې ده. خو هرڅه چې وغواړې دربه یې کړم، که خرڅه یې نه کړې تابه ووژنم او دا به درڅخه واخلم.

ما خپل لاس پورته کړ چې، خپل مریي غلی کړم. هغه هم خپلې نارې سورې بندې کړې او دغه سړي ته یې چې په سوریه کې د (آمورو) سیمې باچا و وویل:

دغه ښځه پر ما ډېره ګرانه ده، که زه یې خرڅه کړم. له ځان سره به مې خیانت کړی وي، ځکه خو نه غواړم چې پر تا یې خرڅه کړم. خو چمتو یم چې خپله وینځه وړیا درکړم.

ددې لپاره چې زموږ دغه دوستي ستا په یاد وي. ددې دوستۍ په یاد یې خپله خور کړې او له هغې سره له ساعت تېرې خوند واخلې.

کله چې د آمورو باچا پوه شو چې زه خپله وینځه هغه ته وړیا ورکوم، نو ډېر خوشحال شو او نارې یې کړې، سینوهه! ما ګمان نه کاوه چې یوه مصری دې دومره سخاوت ولري.

له ماشوموالي تر ننه پورې چې ما څومره مصریان لیدلي، د فرعون مامورین ول، چې له موږ قلنګ اخلي او تل یې لاس د اخیستو لپاره اوږد شوی وي، دوی هېڅکله نورو ته د یوه شي د ورکولو لپاره لاس نه اوږدوي.

ته لومړنی مصری یې چې ماته دې ثابته کړه، شونې ده په مصر کې هم داسې کسان

وموندل شي، چې لاس يې خلاص لوسخیان وي او که یوه ورځ زما هېواد امورو ته راشې، نو ژمنه‌ درسره کوم چې تا به خپل ښي لوري ته کېنوم.

زما مریي وینځې ته جامې راوړې، هغې واغوستلې، د آمورو له باچا سره چې غښتلی ځوان و، او اوږده توره ږیره يې درلوده، له کوره ووته.

کله چې وتله زه پوه شوم چې زما وینځه د دغه پیاوړي سړي له لیدلو څخه چې د هغې نوی بادار و خوشحاله ښکارېده.

له دې وروسته چې باچا ولاړ کاپتا زه ملامت کړم او ویې ویل ولې دې د امورو له پاچا څه وانه خیستل؟ په داسې حال کې چې هغه چمتو و هر څه چې ته وغواړې درکړي.

ماوویل له دې امله مې دغه وینځه وړیا ورکړه چې په راتلونکې څوک خبر نه دي او نه پوهېږي چې په دنیا کې به څه تېرېږي او د یو ستر دوست درلودل د سختو ورځو لپاره ښه وي.

ښایي یوه ورځ اړ شم، د دغه سړي هېواد ته ولاړ شم او هلته د دښمن له ګواښونو خوندي پاتې شم.

که څه هم دغه سړی وړوکی هېوادلري او د هغه په ټاټوبي کې له پسونو او خرو پرته بل څه نه پیدا کېږي، خو د هغه دوستي او ملګرتیا زما لپاره د خطر په وخت کې ډېره غنیمت ده.

دآمورو پاچا درې ورځې په ازمیر کې و او کله چې له دې ځایه روانېده نو د خدای پاماني لپاره ما ته راغی او ویې ویل. سینوهه! که تا د مصر ټول سره او سپین راکړي وای نو دومره به نه وم خوشحال شوی لکه چې دغه وینځه دې راکړه.

ځکه دغه وینځه تر ټولو هغو ښځو ښکلې او په زړه پورې ښځه ده چې تراوسه پورې ما لیدلې دي، زه باوري یم چې هېڅکله به له هغې څخه موړ نه شم.

که ته یوه ورځ زما هېواد ته راشې نوله دوشیانو پرته چې بل هرشی ته وغواړې دربه يې کړم او هغه دوه شیان یوه همدا وینځه او بل زما اس دي، ځکه چې زما په هېواد کې اسان ډېر کم دي او د ګوتو په شمار اسان لرو چې هغه زما د جنګي ګاډي لپاره ضروري دي.

له دغو دوشیانو پرته چې ته هرڅه وغواړې درکوم يې او که هر څوک غواړې زه يې درته وژلای شم.

که په ازمیر کې هم څوک له تاسره دښمني لري ووایه چې د خپلو کسانو په وسیله يې

په همدې ښار کې درته ووژنم، داچه اوسه چې ستا نوم به وانه خيستل شي.
له دغو خبرو وروسته د آمورو باچا زه ښکل کړم او ولاړ.
له څو شپو وروسته چې له وينځې ليرې وم، د ستوماني احساس مې وکړ. ځکه چې له هغې سره اموخته شوی وم او ځينې شپې به د ساعت تېري او د هغې په ياد د ايشتار د الهې معبد ته تلم. خو د هغه ځای ښځو د يادې وينځې په شان زما ساعت نه شوای راتېرولای.
هوا ګرمه شوه او د پسرلي نيمايي فصل تېرشو. ګلان وغوړېدل. توتکيو الوته پيل کړ او کشتی د ازمير په بندر کې حرکت ته چمتو شوې چې نورو هېوادونو ته ولاړې شي او له هغه ځايه شيان وينځې او مرييان راولي.
د پسرلي په نيمايي کې د ازمير ښار له هيجانه ډک شو. ځکه چې له خاورو څخه د تموز د خدای د ايستلو وخت راورسېد.
د سوريې روحانيون هر کال د تموز خدای په مني کې خاورو ته سپاري او د پسرلي په نيمايي کې يې له خاورو راباسي.
پر هغې ورځ چې د تموز د خدای مجسمه يې له خاورو را ايستله په ازمير کې عمومي جشن و او پر دغه ورځ نارينه او ښځې له ښاره وځي او بيديا ته ځي.
ټولې ښځې او نارينه په دې ورځ په بيديا کې په ښکاره ډول له يو بل سره څملي.
زه هم پر دغه ورځ بيديا ته ولاړم چې پوه شم خلک څه کوي؟
ما وليدل چې روحانيونو د تموز مجسمه له خاورو را وايستله، خلکو خوشحالی وکړې. نڅاګانې يې پيل کړې او ويل به يې د تموز خدای ژوندی شو ی دی او هغه د ګرمی خدای دی.
همغه ډول چې ځمکه او هوا ګرموي د انسان بدن ته هم تودوخه ورکوي او نارينه او ښځې يو بل ته اړتيا پيدا کوي.
کله چې يې د تموز خدای له ځمکې را وايست ما وليدل چې يو شمېر ښځو يوه ګاډۍ راکشوله، په ګاډۍ کې له لرګي جوړه شوې د نارينه د بدن د يوه غړي مجسمه وه چې زه يې د نوم له ويلو شرمېږم.
زه حيران شوم چې د دغه کار هدف څه دی؟ خو وروسته مې وليدل چې ناڅاپه نارينه او ښځې سره ګډې شوې او له دې پرته چې شرم وکړي له يو بل سره يو ځای شول چې دغه

حيواني عمل تر مانښامه روان و.

د ځينو قومونو د ښارويتوب پته بايد د دغو کارونو له ليدو ولګوو، ځکه چې په مصر کې چې يو متمدن ملت دی هېڅکله دغسې کار نه و شوی.

ځينو سپين سرو ښځو چې د ځان لپاره يې کوم کس نه و پيدا کړی له نارينه وو هيله کوله چې هغوی هم محرومې نه کړي او له دې کبله چې زه په هغه جشن کې يو ازنی سيلاني وم، ډېرو به يې له ما هيله کوله چې ورسره مباشرت وکړم، خو ما به په کرکې سره له خانه شړلې او هغوی ته به مې ويل: خدايانو د ښځو لپاره يو وخت ټاکلی دی، کله چې د ښځې عمر له دې مرحلې تېر شي بايد له هغه وروسته په دې فکر کې نه وي، چې له چاسره څملي، ځکه که خدای غوښتي وای چې ښځې دې د عمر تر پايه پورې له نارينه وو سره معاشرت وکړي نو د هغوی د شهوت لپاره يې حد نه ټاکه.

یوولسم څپرکی

(هورم هب) پخوانی اشنا

له دې جشنه وروسته د سوریې له سرحدونو خبر راغلی چې خبیري قبایلو بیا حمله کړې ده.
د خبیري قبیلو برید نوې خبره نه وه ځکه دغو قبایلو به په هر پسرلي کې بریدونه کول خو په دې کال یې جرائت ډېر شوی و او هرځای ته چې رسېدل د مصر د پوځي چونیو عسکر یې وژل.
دوی به په ځینو سیمو کې حتی ځایي مشران هم وژل او په یوه واړه ښار کې یې باچا او د ښار ټول او سېدونکي ان ښځې او ماشومان ووژل.
کله چې دغه خبر فرعون ته ورسېد له خبیري قبایلو سره د مبارزې لپاره یې یو لښکر له مصره سوریې ته واستاوه او زه پوه شوم چې د مصر د پوځ او د خبیري قبایلو ترمنځ به چې د سوریې خاورې ته ننوتي دي سخت جنګ وشي.
ما هېڅکله د جنګ میدان نه و لیدلی او د جنګ د ټپیانو له حالته خبر نه وم. زه په دې نه پوهېدم چې ګرز، توره، او نیزه په بدن کې څه ډول ټپ پیداکوي.
د جنګ په میدان کې د ټپیانو د حالت د مطالعې ضرورت اړ ایستلم چې دغه میدان وګورم او له همدې امله مې له ازمیر څخه حرکت وکړ او د سوېل پر لور ولاړم.
د اورشلیم په نوم په یوه واړه ښار کې د مصر له پوځیانو سره یو ځای شوم چې د نیل له ساحله راغلي ول.
. دغه پوځ دومره قوي نه و لکه چې مشهور شوی و، دوی یو درزن جنګي ګاډۍ او دوه زره غشي ویشتونکي او نیزه لرونکي درلودل.
کله چې زه هغه کمپ ته ننوتم ومې غوښتل چې قوماندان وګورم. پوښتنه مې وکړه چې د پوځ قوماندان څوک دی. ما غوښتل له هغه اجازه واخلم چې د جنګ په میدان کې طبابت او جراحي وکړم.
دوی راته وویل چې د پوځ قوماندان د هورم هب په نامه یو ښکلی ځوان دی.

ماغوښتنه وکړه چې د هغه قوماندانی او دفتر ته مې ورولي. کله چې مې هغه له لیرې ولید نو متوجه شوم چې هغه راته اشنا دی او کله چې رانژدې شو نو را یاد شو چې هورم هب څوک دی؟

دی هماغه ځوان و چې په کومه ورځ زه د مصر له ځوان ولیعهد سره د مصر بېدیا ته تللی وم، دی سهار وختي له خپل باز سره راښکاره شو او بیا د ولیعهد یانې د مصر د نوي فرعون په چوپړ کې ودرېد.

هورم هب زه وپېژندم او ویې ویل اوو..... سینوهه! ته دلته څه کوې؟ په مصر کې ټول وایي چې ته مړشوی یې او داسې اوازه خپره شوې ده چې د مور و پلار ښېرا چې تا یې قبر خرڅ کړی و نابود کړی یې.

بیا یې زما د برخلیک پوښتنه وکړه، ما د هغه وخت له اړتیا سره سم د خپل برخلیک په هکله ورته توضیحات ورکړل او ومې ویل، زه د نفر نفر په نوم دیوې ښځې قرباني شوم.

هورم هب وویل زه هم له دې ښځې سره ځملا ستلای یم، هغې غوښتل زما شتمني هم ترلاسه کړي، خو ماستا اپوته خپل کور او د مور و پلار قبر خرڅ نه کړل، بلکې په دې متروکې سره مې چې زما په لاس کې ده هغه سمه کړه.

سینوهه! زه باید درته ووایم چې ښځه تر هغه وخته د درناوي وړ وي چې په یوې تمساح بدله نه شي او کله چې لکه یوه تمساح حریصه شوه باید له هغې سره د یوه تېټ مریي په شان چلند وشي.

بیا ما د مصر او طبس د حالاتو په هکله پوښتنه وکړه او هورم هب وویل نه پوهېږم چې د مصر ملت څه ګناه کړې چې خدایانو دغه فرعون د هغوی باچا کړی دی؟ ځکه چې دغه فرعون عقل نه لري او لیونی دی. ددغه فرعون خدای چې هغه ترې دنده او امر ترلاسه کوي، دده په شان لیونی دی او داسې شیان وایي چې لیونو هم نه وي ویلي.

په یاد به دې وي چې کله دغه فرعون باچا شو ټول هغه مریيان یې خوشې کړل چې په کانونو کې یې کار کاوه.

او ایا اورېدلي او یا دې لیدلي چې د مریيانو ازادي کومه بلا رامنځته کړه او څه ډول موږ ددې لپاره چې په طبس کې امنیت راولو مجبوره شوو چې هغوی ووژنو.

ومې ویل هو! کله چې مریيان له کانونو را ووتل زه هم په طبس کې وم او ومې لیدل چې څه ډول یې د مړیو په ښار برید وکړ او ټول شیان یې لوټ کړل

هورم هب وویل سره له دې چې فرعون ولیدل، له کانونو څخه د مریيانو ازادي څومره لويه بلا او فتنه رامنځته کړه. خو بیا هم له خپلو خبرو او کارونو نه اوړي او وايي چې د یوه مریي او شهزاده ترمنځ توپیر نه شته او مریيان او اشرافان د هغه د خدای په نزد یو شان دي.

ددې مانا دا ده چې څوک وايي اوربشې او شات یو شان دي او توپیر نه لري.

ددغه فرعون یوه نوې خبره دا ده چې ماته وايي خبیري قبایل داسې رام کړه چې وینه تویه نه شي.

ایا دا ممکنه ده چې له وینې بهېدا پرته وحشیان رام کړو؟ سینوهه! زه تاته وایم، ته یو ډاکتر یې، ایا له وینې بهېدا پرته د ناروغ خېټه څېرلی او اضافي کولمه یې راایستلای شې چې سړی مړ نه کړې؟

فرعون ددغو قومونو جنګي غړونه چې د وحشي حیواناتو له غړونو بد دي، نه دي اورېدلي چې پوه شي له دوی سره نرم چلند نه شي کېدای.

له دې خبرې وروسته هورم هب وخندل او ویې ویل، خو زه د فرعون خبرو ته غوږ نه ږدم او د دوی وینه به داسې وبهوم چې تول به پښېمانه شي چې ولې له موره پیدا شوي دي؟

ما فیصله کړې چې ددې قبیلې ریښه داسې وسوځوم چې په راتلونکي کې هېڅکله خبیري قبیله ونه کړای شي چې په پسرلي کې یرغل وکړي.

خو سینوهه! زه ستا د احسان پوروړی یم، ځکه چې زه هېڅکله هغه ورځ نه هېروم چې موږ له ولیعهد سره له بیدیا ستنېدو نو هغوی نیت کړی و چې ما ووژني. خو تا پخپلو خبرو سره زما د وژنې مخه ونیوله، په دې ورځ تا په خپلې هوښیارۍ سره زما ژوند وژغوره.

له همدې امله زه تا ته هرکلی وایم چې زما پوځ ته راغلې او ته کولای شې په جګړه کې راسره ګډون او د عسکرو علاج وکړې.

ستا تنخوا به د فرعون له جیبه درکړم. هرکله، چې زه وزګار وم ته به له ما سره یې او له ما سره به ډوډۍ خورې.

بیا هورم هب د شرابو جام پر سر واړاوه او زیاته یې کړه، کله چې طبس ته د خبیري قبیلو د حملې خبر ورسېد او فرعون وغوښتل سوریې ته لښکرې واستوي، نو په طبس کې موجود یو قوماندان او لښکر مشر چمتو نه شو چې ددې لښکر مشري پر غاړه واخلي ددې لپاره چې پوهېدل خبیري قبیله خونړۍ او جنګي خلک دي نو هر یو لښکر مشر په

یوې پلمې د لښکر له مشرۍ ګوښه وکړه.

ځکه چې دوی نه یوازې له خپله مرګه وېرېدل بلکې پر دې هم پوهېدل چې له سرو او سپینو به لېرې شي.

ددې لپاره چې د سوریې په دښتو کې سره او سپین نه پیدا کېږي او ددې اپوټه د فرعون په شاوخوا کې سره او سپین ډېر وي.

سره له دې چې زه د فرعون له ټولو قوماندانانو ځوان یم، خو دغه ماموریت او دنده مې ومنله. لامل یې دا و چې د خبیریانو خطر ختم کړم او داسې کار وکړم چې نور ونه کړای شي په سوریې حمله وکړي.

د فرعون لښکر مشران ډېر شتمن دي او د امون له کاهنینو سره شریکان دي. دوی هڅه کوي چې د امون د خدای نفوذ له منځه ولاړ نه شي.

نن سبا په مصر کې د فرعون د خدای یانې آتون او د مصر د پخواني خدای (آمون) ترمنځ ستره مبارزه پیل شوې او لا معلومه نه ده چې په دې مبارزه کې به څوک بریالی شي؟

فکر کوم د مصر ستر قاضي او د آتون د خدای کاهن (آمي) لته کوي چې په دې کار کې د فرعون ملاتړ وکړي.

فرعون پوهېده چې په مصر کې د آمون خدای دومره پیاوړی شوی دی چې د امون کاهنین د فرعون حکم ته غاړه نه ږدي او که د فرعون کوم امر د خپلو ګټو په خلاف وبولي نو د آمون له لوري یو حکم صادروي چې د فرعون حکم پرې لغوه کړي.

فرعون او ستر قاضي چې له دې زیات د امون د خدای او د هغه د کاهنینو باچاهي نه شي زغملای اوس په دې لته کې دي چې د آتون خدای دومره لوی کړي چې آمون له منځه لاړ شي

له همدې امله یې ماته امر کړی چې په دغه سفر کې چې هر ښار ته ننوځم د آتون د خدای لپاره یو معبد جوړ کړم او ما لومړنی معبد دلته په اورشلیم کې جوړ کړ.

زه نه د آمون او نه د آتون په خدای عقیده لرم، خو فکر کوم چې فرعون دلته تېروتنه نه کوي او د هغه سیاست سم دی. ځکه دا د منلو نه ده چې مصر دې فرعون هم ولري خو د آمون کاهین دې د هغه پر ځای حکومت وکړي.

مقصد مې دا دی چې د مصر سرلښکریان او قوماندانان له دې امله چې د آمون نه کاهینو سره یو لاس شوي دي او اوس خپلې ګټې په خطر کېویني نو نه غواړي چې په دې حساس وخت کې له مصره لیرې وي او له خپلو ګټو دفاع ونه شي کړای او که په مصر کې له

سیاسي بدلونونو څخه نه ډارېدلی ښایي یوه پکې ددغه لښکر مشري کړې وای او له مصره به وتلي وای او سوریې ته به راغلي وای.

ما وویل چې د فرعون له سیاست سره مخالفت نه لرم، بلکې هغه ته حق ورکوم چې لټه وکړي د آمون د کاهنینو قدرت کم کاندي او هغه شی چې ماته د منلو نه دی دا دی چې فرعون وايي. زه غواړم له حقیقت سره باچاهي وکړم او زه دغه موضوع خطرناکه بولم.

ددې لپاره چې حقیقت د یوې تېرې تورې په شان دی، چې هېڅکله یې باید یوه ماشوم ته ورنه کړو دا خو لا پرېږده چې د فرعون په شان یوه لیوني ته یې ورکوو.

کله چې شپه شوه ما د هورم هب کېږدۍ ته نژدې په یوې کېږدۍ کې استراحت وکړ او کله چې سرتېري پوه شول، چې زه ډاکټر یم هڅه یې کوله چې له ما سره ملګري شي. ځکه چې هر عسکر هڅه کوي د یو ډاکټر ملګرتیا خپله کړي، چې د جنګ په میدان کې هغه معالجه کړي.

بله ورځ سهار نغارې ووهل شوې، عسکر یې له خوبه پاڅول او هر قوماندان د خپلو عسکرو په مخکې ودرېده.

کله چې د عسکرو کتارونه منظم شول هورم هب چې یوه متروکه یې په لاس کې وه، له خپلې کېږدۍ بهر شو. یوه مرییې یې پر سر چترۍ نیولې وه او بل مرییې ورته پکې واهه چې مچان ترې وشړي.

هورم هب د عسکرو پر وړاندې داسې وینا وکړه:

((اې د مصر سرتېرو، چې په تاسو کې چټل تورپوستي او د سوریې تنبل نیزه لرونکي هم شته او ټول د مصر د پوځ غړي دي او دغوایانو د یوې پادې په شان نارې وهي.

زه نن نیت لرم چې تاسې د جنګ ډګر ته بوځم او وګورم چې ایا له خبیریانو سره جنګېدلای شئ او کنه؟ که له هغوی سره د جنګ وس ونه لرئ هیله کوم چې تر وروستي کس پورې ووژل شئ چې مجبور نه شم ستاسې منحوس بدنونه له ځان سره مصر ته یوسم او زه به تنها او یا هم له یوه ټولي رېښتونو سرتېرو سره مصر ته ولاړ شم.

اې.... ټولی مشره چې پوزه دې سوری ده، خپل هغه ناپوه عسکر ته یوه لغته ورکړه چې خپله شاګروي چې پوه شي کله چې زه خبرې کوم دی دې خپله شا نه ګروي.

نن کله چې موږ پر خبیریانو برید کوو زه به تر ټولو مخکې راون یم، ستاسې په مخکې به له خبیریانو سره جنګېږم او زه به ستاسې هر یوه ته پام کوم، چې وګورم کوم یو د جنګ

له ډګره شاتګ کوئ او يا سم نه جنګېږئ.

تاسې ته داد درکوم چې نن شپه به زما له دې متروکې وينه څاځي. دغه وينه به د هغو کسانو له بدنه وباسم چې د جنګ په ډګر کې ښه ونه جنګېږي او ښه پوه شئ چې زما متروکه د خبيريانو له نيزې خطرناکه ده، ځکه چې د هغو نيزې مسي څوکې لري او څوکې يې ژر ماتېږي.

خبيريان ددې غره ترشا دي چې تاسې يې ګورئ او بېګاه زما د کشف مامورين تللي ول چې معلومه کړي د دوی شمېر څو دی؟ خو داربدلي ول او تښتېدلي دي، دوی بريالي نه شول چې د هغوی شمېر معلوم کړي

خبيريان يوازې يو ويروونکی شی لري او هغه د دوی غږ دی، خو که د هغوی له غږه وېرېږئ نو پخپلو غوږونو کې د مټ خټه کېږدئ چې غږ يې وانه ورئ.

البته د غه خټه ددې سبب هم کېږي چې د خپلو قوماندانانو غږ وانه ورئ نو غوره ده چې له دغه کاره تېر شئ!

هغه کس به سخت پښېمانه شي چې له ښې پرته غشی وولي او هغه کس به هم پښيمانه شي چې د خپل مشر له امر سره سم غشي ونه ولي.

په جنګ کې بريالیتوب يوازې په مېړانه کې نه دی، بلکې په دې کې هم دی چې عسکر د خپل مشر امر ته غاړه کېږدي

که تاسې نن بريالي شوئ، نو د خبيريانو ټول شيان، پسونه او غواګانې به ستاسې شي زه به پخپله نه يوه کړۍ مس، نه هم سپين زر او چت کړم او نه به يو پسه واخلم.

نن سبا خبيريان د هر شتمن شوي ځکه چې هغوی د هر کلي او بانډې لوټ کړي او د هغوی ټوله شتمني به د بريالیتوب په وخت کې ستاسې شي.

که بريالي شئ د هغوی ښځې به هم نن شپه ستاسې شي، خو که ماتې وخورئ، زما خونړۍ متروکه به نن شپه ستاسې هر کلی وکړي.))

کله چې سرتېرو د غه خبرې واورېدې خپلې تورې او نيزې يې له زغرو سره وجنګولې، خپلې لينديٍ يې وښورولې او خپل هيجان يې ننداري ته وړاندې کړ.

هورم هب وويل داسې ښکاري چې تاسې غواړئ د هر ژر له خبيري قبيلو سره وجنګېږئ، خو له دې مخکې چې موږ د جنګ ډګر ته ولاړ شو، بايد په دې ځای کې د فرعون د خدای لپاره يو معبد جوړ کړو.

د آتون په نوم د فرعون خدای جنګي خدای نه دی او ستاسې په کار نه راځي، ځکه خو له تاسې سره مرسته هم نه شي کولای.

نو ضروري نه ده چې ټول د معبد د جوړولو لپاره دلته پاتې شئ. یوازې د پوځ شاتني کسان کفایت کوي او پاتې همدا اوس روانېدای شئ.

تاسې باید نن مزل وکړئ چې خبیري قبیلو ته ورسېږئ، خو پوه شئ چې کله هغوی راو سېدل زه به تاسې ته د استراحت اجازه درنه کړم او که ستړي هم یاست باید له هغوی سره جنګ وکړئ چې ونه تښتي.

له هغه وروسته هورم هب خپله متروکه وښوروله، سرتېرو حرکت وکړ او د خپلو بیرغونو او نخښو ترشا روان شول.

د ځینو عسکرو د ټولیو نښه د زمري لکۍ وه او ځینې ټولي د تمساح د سر په نښې پسې روان ول.

د پوځي ټولیو په مخ او شاکې جنګي ګاډۍ روانې وې چې د هغوی ملاتړې وي او پرې نه ږدي چې پر هغوی ناڅاپه حمله وکړي.

کله چې عسکر روان شول هورم هب او د پوځ شاتني کسان له یو شمېر صاحب منصبانو سره د هغه ځای پر لور ولاړل چې هلته د آتون معبد جوړېده، زه هم له هغوی سره ولاړم.

د تګ پر مهال مې واورېدل چې افسران له یو بل سره غږېږي او وایي دغه بدعت چې نن هورم هب وکړ هېڅ د منلو نه دی.

تر هغه ځایه چې موږ لیدلي دي د جنګ په وخت کې پوځي قومانداانان د لښکر ترشا ځي او په تختونو کې له شا ګوري چې کوم عسکر ونه تښتي او اوس هورم هب وایي چې هغه به له لښکرو او سرتېرو سره یو ځای د دښمن پر ضد جنګېږي.

نو موږ هم مجبوره یو چې د هغه پیروي وکړو او د عسکرو په مخکې لاړ شو.

په دې بڼه کې به د تښتېدنکو عسکرو مخه څوک نیسي او څوک به د هغوی عملونه لیکي؟

ځکه چې عسکر خو پخپله سواد نه لري چې د خپلو ملګرو کارونه ولیکي. یوازې صاحب منصبان لیکل کولای شي، چې کوم عسکر مېړانه کړې او کوم یو ډارن و یا تښتېدلی دی.

هورم هب چې مخکې و دغه خبرې یې اورېدلې او کله خو به یې خپله متروکه ښوروله.

تر دې چې معبد ته ورسېدو.

دولسم څپرکی

(د مصريانو لپاره) يوغير عادي خدای

معبد وړوکی و او د وخت د کمي له امله يې ونه کړای شول چې د هغه چت جوړ کړي يوازې لږ لرګي او مټه خټه يې وکاروله او يوه ودانۍ يې جوړه کړه.

کله چې موږ د معبد مخې ته ورسېدو ومو ليدل چې په منځ کې يې د خدای مجسمه نشته د پوځ شاتني سرتېري د خدای د نه شتون له امله حيران شوي ول او يو بل ته يې ويل دا څه ډول معبد دی چې خدای نه لري.

زه هم د سرتېرو په څېر هک پک پاتې وم. ځکه چې تر هغه وخته پورې مې له خدايه پرته معبد نه و ليدلی او هر ځل چې هر معبد ته ننوتم کتل مې چې د يوه خدای مجسمه هلته شته.

هورم هب چې وليدل ټول حيران شوي يو، نو و يې ويل هغه خدای چې زموږ فرعون يې عبادت کوي يو عجيبه خدای دی چې زه هغه تاسې ته نه شم معرفي کولای ځکه زه پخپله هم نه پوهېږم چې دغه خدای څه ډول دی.

دغه حيرانوونکی خدای نه سترګې لري، نه خوله او نه خېټه. لاس او پښې لري. خواړه نه خوري، شراب او د اوربشو اوبه نه څښي او فرعون وايي چې د هغه خدای د انسان په شان نه دی او نه ليدل کېږي. خو که تاسې غواړئ هغه وپېژنئ ممکنه ده دلمر په شان يو ګرد شی له ځان سره مجسم کړئ (*مقصد ناليدلی او واحد خدای دی او تاريخ د دې نبودنه کوي چې دغه فرعون د لومړي ځل لپاره د توحيد پرستی تبليغ کړی دی ژباړن*) سرتېري ستانه شول او لمر ته يې وکتل. د دوی رضايت نه و حاصل شوی او له ځانونو سره بونګېدل.

زما پام و چې ويل يې فرعون ليونی شوی ځکه تر هغه چې يو کس ليونی نه شي د هغه خدای عبادت نه کوي چې لاس، پښې، خېټه، خوله او سترګې نه لري.

هورم هب هم د خپلو سرتېرو په شان فکر کاوه او فرعون يې ليونی باله.

بيا يو ځوان کاهن چې د سر وېښتان يې نه وو خريلي او د کتان کميس يې اغوستی و

راغی، په معبد کې یې یو ګړی شراب، په یوه لوښي کې د زیتون تیل او یوه کوده پسرلني بوټي کېښودل او بیایې یوه سندره پیل کړه چې ویل یې فرعون دغه سندره د خپل خدای لپاره ویلې ده.

موږ ددې سندرې په هکله په څه پوی نه شوو او سرتېري چې بې سواده وو هغوی هم په څه پوی نه شول.

په دې سندره کې دا خبره کېدله چې آتون داسې خدای دی چې نه لیدل کېږي، خو په هرځای کې دی.

پخپلې رڼا او تودوخې سره ځمکه روښانه کوي، هغې ته تودوخه ورکوي او ټولې ځمکې، د نیل سیند ټول نعمتونه او خوښي د هغه له امله دي.

دغه راز یې وویل، که آتون نه وي، زمری د شپې مهال ښکار نه شي کولای، مار له خپلې سوړې او دغه راز چرګوړی له هګۍ نه شي راوتلای.

هغه زیاته کړه که آتون نه وي مینه نه رامنځته کېږي، هېڅ یو نارینه نه شي کولای کومه ښځه خپله خور کړي او هېڅ یو ماشوم به د مور له نسه پر ځمکې پښه کېنږدي.

ځوان کاهن له دغو خبرو وروسته وویل، د مصر باچا د خدای زوی دی او د خپل پلار په شان په مصر او پر هغو هېوادونو پاچاهي کوي چې د مصر تر واکمنۍ لاندې دي.

کله چې سرتېرو دغه خبرې واورېدې خپلې تورې او نیزې یې په خپلو زغرو ووهلې او په دې ډول یې خپله خوښي وښودله، ځکه هغوی یوازې په دې برخې ښه پوی شول.

دوی پوهېدل، په دې کې شک نشته چې فرعون د خدای زوی دی چې تل همداسې ول او په راتلونکې کې به تل د مصر فرعون د خدای زوی وي.

په دې ډول د آتون د معبد د پرانستلو کار پای ته ورسېد او بیا موږ روان شوو.

له موږ څخه زما مقصد د پوځ شاتني سرتېري، او د هورم هب په مشرۍ صاحب منصبان دي.

هورم هب پخپلې جنګي ګاډۍ کې ناست تر پوځ مخکې روان و او له هغه وروسته یو شمېر افسران روان ول، ورپسې سرتېري او ترشا یې یو شمېر نور افسران روان ول.

ځینې افسران په جنګي ګاډیو او ځینې پر راوانو تختونو سپاره ول، خو زه پر یوه خره سپور شوم او د جراحۍ د وسایلو او درملو صندوق هم راسره و.

موږ تر هغه وخته روان وو، چې سیوري لوړ شول او یوازې د ورځې په نیمايي کې د

ډوډۍ لپاره و دربدو.

پخه شوې باقلي او پر سر يې اچول شوي د زيتون تېل مو وخوړل. کله خو به ستومانه او معيوبه سرتېري چې له لارې به پاتې شول د لارې په څنډو کې کېناستل خو هغو افسرانو به چې له شاروان ول په متر کو ووهل.

يو ځل مې وليدل چې د يو افسر جنګي ګاډۍ د يوه سرتېري په مخکې چې له ستومانۍ د لارې په څنډه کې ناست و، ودرېده، دغه افسر له خپلې ګاډۍ ورټوپ کړه او په دوارو پښو د سرتېري په خېټه کې ودريد.

دغه سرتېرۍ د افسر د دغه ګوزار له امله ځای پر ځای مړ شو، خو هېچا اعتراض ونه کړ. ددې لپاره چې د جنګ ډګر ته د تللو لپاره اجير شوي سرتېري تنبلي ونه کړي.

کله چې سيوري لوړ شول موږ هغو غونډيو ته ورسېدو چې د يوې غرنۍ سيمې پيل ګڼل کېدې. ناڅاپه په سرتېرو د غشو باران جوړ شو او معلومه شوه چې يو شمېر خبيريانو په دغو غونډيو کې زموږ په سرتېرو غلچکي بريد کړی.

د غشو د باران له امله هغه سرتېري چې سندرې يې ويلې غلي شول خو هورم هب دغو غشو ته اهميت نه ورکاوه. له دې امله چې موږ د پوځ له مهمې برخې سره يو ځای شوي وو او د لښکر مخکيني او شاتني ځواکونه او د هغه زړه سره يو ځای و، نو هورم هب امر وکړ چې سرتېري دې ګړندي شي او له دې ځايه دې ليرې شي. ددې کار موخه دا وه چې د خبيري ځواکونو پر اصلي برخې حمله وکړي او د لارې په دوارو غاړو کې له خبيري غشي ويشتونکو سره په مبارزې خپل وخت تېر نه کړي.

زمونږ جنګي ګاډيو په يوه بريد کې غشي ويشتونکي له لارې ليرې کړل او موږ خپله لاره ووهله.

زما په څنګ کې يو افسر چې د پوځ د خوړو او د حيواناتو د ونو مسول و پر يوه خره سپور و. له دې امله چې له سهاره تر بېګا له يو بل سره وو نو له ماسره ملګری شو، له ما يې غوښتنه وکړه چې که ووژل شو داسې يو کار وکړم چې جنازه يې له منځه ولاړه نه شي او دهغه خپلوانو ته يې ورسوم چې موميايي يې کړي.

هغه به ويل خبيريان ډېر زړه ور او بې رحمه دي او د شپې تر را رسېدا پورې به موږ ټول ووژني.

د ورځې څلورمه برخه لا پاتې وه چې د غونډيو په منځ کې يوه پراخه دښته راښکاره

شوه او معلومه شوه چې خبیریانو هلته پنډغالی جوړ کړی دی.

تر کومه ځایه چې سترګو کار کاوه هومره توري کېږدۍ يوه په بلې پسې ولاړې وې، د کېږديو په مخکې خبیریانو له زغرو او ځلانده نیزو سره چیغې وهلې او د دوی غږ په بیدیا کې داسې انګازه کوله چې په زړونو کې یې وېره ګډوله.

هورم هب خپل سرتېري منظم کړل نیزه لرونکي یې په منځ، غانبه لرونکي یې په دواړو غاړو کې ودرول او بیایې ټولو جنګي ګاډيو ته وويل کله چې ما امر وکړ نو حمله وکړئ او موږ به ستاسې ترشا حرکت وکړو.

څوغتې ګاډۍ یې له ځان سره وساتلې او امر يې وکړ چې ټول به له ده سره وي او له هغه به نه لیرې کېږي.

هورم هب چې پوه شو د هغه سرتېري د خبیریانو له نارو او چیغو او د هغوی د نیزو او زغرو له برېښنا وېرېدلي دي. نو ناري يې کړې: اې د مصر او سوريې نارينه وو! او اې تورپوستو چې د مصر د لښکر يوه برخه یاست له دغو نارو سورو مه وېرېږئ.

دغه نارې تاسې ته زیان نه شي رسولای او پوه شئ چې د خبیري سپاهیانو شمېر هم ډېر نه دی.

دغـه کېـږدۍ چـې ګـوری ، د دوی د ښـځو او ماشـومانو ځـای دی او د هغـه لـوګي ددې ښکاره کوي چې، خواړه پخوي.

که تاسې مېړانه وکړئ نن شپه به د هغوی خواړه وخورئ او د خبیریانو ښځې به ستاسې وي.

زه هم لکه یو وږی تمساح داسې شوی یم او غواړم جنګ ډېر ژر زموږ په ګټه پای ته ورسېږي چې وکړای شم د هغوی خواړه وخورم.

تر دې وړاندې چې هورم هب د حملې امر وکړي خبیري سپاهیانو چې سختې چیغې یې وهلې پر موږ حمله وکړه او ماليدل چې د هغوی سرتېري تر موږ ډېر دي.

کله چې زموږ نیزه لرونکو ولیدل چې هغه وېرونکي سرتېري را نږدې کېږي. نو شاته يې وکتل او ما هم د هغوی په شان شاته وکتل چې پوه شم له کومې لارې تېښتېدلای شم.

خو زموږ ترشا یـوازې افسران ول چې پخپلو مترکو یې ډېرې ترلې وې او هغـه یې ښورولې.

د دوی تـورې هم برېښـېدلې او زمـوږ سرتېري پوهېدل چې د تېښـتې لاره نشته. پردې

سرېېره ټول وړي او تړي وو او فکر يې کاوه چې که وتښتي خبيري سرتېري به په بيړه ور ورسېږي او هغوی به قتل عام کړي.

له دې امله يې تېښتې ته زړه ښه نه کړ او دومره سره نژدې شول چې ترمنځ يې واټن نه و او ان يو خس يې هم په منځ کې نه شو تېرېدای.

کله چې موږ ته نژدې شول خبيري غشي ويشتو نکو خپل غشي وويشتل، له دې امله چې د غشو ووززز......ووززز... اوازونه ډېر وېرونکي ول او مرګ هره شېبه انسان ګواښي، زه د هغوی له غړونو وو ېرېدم. ځکه چې داسې منظره مې ليدله او داسې غږونه مې اورېدل چې تر او سه پورې مې نه ليدلي ول او نه اورېدلي.

په دې وخت کې هورم هب خپله متروکه وايستله او ويې ښوروله نغارې ووهل شوې، شېبه وروسته ګړندۍ ګاډۍ وخوځېدې! او د هغو ترشا زموږ ټولو سرتېرو حرکت وکړ ،داسې نارې يې وهلې چې ما کتل د دوی غږ د خبيري سرتېرو تر غږونو اوچت و.

زه پوهېدم چې زموږ سرتېرو ددې لپاره چې وېره له ځانه لیرې کړي نارې وهلې او ما هم د هغوی په شان چيغې وهلې او د نارو په وخت کې مې احساس وکړ چې نه وېرېږم.

سره له دې چې خبيري سرتېري زړه ور ول خو جنګي ګاډۍ يې نه درلودې او زموږ ګاډيو د هغوی ترمنځ يوه ليکه او درز جوړ کړ چې د نيزه لرونکو لپاره يې لاره خلاصه کړه.

کله چې زموږ نيزه لرونکي دغه درز ته ننوتل د هورم هب د امر له مخې زموږ غشي ويشتونکو د دښمن لښکر په غشو وويشت.

له دې وروسته د دواړو لورو سرتېري سره يو ځای شول، خو له لېرې د شتر مرغ له لوړې ښکې سره د هورم هب وسپنيزه خولۍ ښکارېده او همغه راز د ټولو سرتېرو په مخکې جنګېده.

زما خر د جنګ د ډګر له شور ماشوره وېرېدلی وا و ځان يې د جنګ د ډګر منځ ته واچاو. ما هڅه وکړه چې مخه يې ونيسم خو بريالی نه شوم، ومې ليدل چې خبير ي سرتېري په زړورتيا سره جنګېدل او چې پر ځمکه به ولوېدل هڅه به يې کوله چې په توري يا نيزې سره زموږ سرتېري او اسونه له منځه يوسي.

هرلور ته مې چې کتل وينې مې ترسترګو کېدلې او پر ځمکه دومره مړي او ټپيان پراته وو، چې شمېرلای مې نه شول.

نابېره خبيري سرتېرو چيغې ووهلې او شاتګ يې وکړ، علت يې دا و چې زموږ جنګي

ګاډیو د هغو لیکې ماتې کړې وې، ځانونه یې د هغوی خیمو ته رسولي ول او هغو ته یې اور ورته کړی و. کله چې خبیریانو کتل چې ښځې، ماشومان، پسونه او غواګانې یې په خطر کې دي نو د هغوی د ژغورنې لپاره د کېږدیو پر لور ولاړل او همدا موضوع د هغوی د تباهي سبب شوه. ځکه چې زموږ ګاډي د هغوی لور ته ستنې شوې، زموږ سرتېري هم له شا راورسېدل او خبیریان د دوو حمله کوونکو ډلو له لوري قتل عام شول.

وروسته له ټول شجاعت سره سره ژوندي پاتې کسان وتښتېدل چې روغ ووځي.

هر خبیري سرتېری به چې ووژل شو پلټل کېده او زموږ سرتېرو به هر هغه شی ترې اخیست چې د استفادې وړ به و.

دوی به د مړو یو-یو لاس هم ترې غوڅاوه چې له جنګه وروسته یې د مصریانو په کمپ کې د لښکر د مشر د مقام پر وړاندې یو پر بل واچوي.

له دې وروسته چې پوه شول خبیریانو ماته خوړلې ده او نور مقاومت نه شي کولای نو زموږ په سرتېرو د سرې وژنې غوصه برلاسې شوه او هر ژوی به یې واژه، ان د کوچنیانو مازغه یې په ګورز، باد باد کړل.

زموږ له سرتېرو څخه ان غواګانې، اسونه او پسونه هم خوندي نه ول.

تردې پورې چې هورم هب د جګړې د بندولو امر وکړ او ویې ویل هغه کسان دې نور نه وژل کېږي چې له جګړې څخه ژوندي پاتې دي. نو موږ ووېل ژوندي پاتې کسان دې اسیران او خرڅ کړای شي.

زما خره د جنګ تر پایه پورې آخوا دېخوا منډې وهلې او ترپیده.

ما په ډېرې سختۍ سره ځان پرې ټینګ کړی و چې پر ځمکه ونه لوېږم.

بالاخره زموږ یوه سرتېري د خپلې نېزې په لاستي د خره وربوز ته ګوزار ورکړ، هغه یې کرار کړ او زه ترې کوز شوم.

سرتېرو چې پر دغې ورځ ولیدم چې خره زه کړولی یم، نو له هغه وروسته یې پر ماابن الحمار نوم کېښود.

په داسې حال کې چې زموږ سرتېرو د پسونو، آسانو او غواګانو د ټولولو او خبیري قبایلو د شیانو د لوټولو او د هغوی د ښځو د ضبطولو په حال کې ول.

ما د جنګ په میدان کې له یو شمېر سرتېرو سره د ټپیانو معالجه کوله او کله چې شپه راغله ما د لارې یوې او بلې خوا ته د بلو اورونو په رڼا کې د ټپیانو درملنې ته دوام ورکړ.

د خبیري سرتېرو ګرزونو ،نېزو او تورو زموږ یو شمېر سرتېري سخت ژوبل کړي ول او ما باید دهغوی د معالجې لپاره هڅه او بېړه کړې وای.
په داسې حال کې چې زموږ ټپیان د سختو دردونو له لامله څورېدل د کمپ له شاوخوا ساندې تر غوږ کېدلې، دا د هغو ښځو ساندې او نارې وې چې زموږ سرتېرو هغه پخپلو کې سره وېشلې او له هغو یې استفاده کوله.
کله کله به اړ شوم د یوه ټپي د سر او ښتې پوستکی بېرته د هغه پر سر ور وګنډم، کله به مې د بل سرتېري کولمې د هغه په خېټه کې ځایولې او خېټه به مې ورګنډله.
کله چې به مې کتل د یوه ټپي د رغېدا هیله نشته، نو په رګونو کې به مې ډېر اپیم ور ننه ایستل، د اوربشو ډېرې او به (بییر) به مې پرې وڅښل چې د درد له احساسه پرته مړ شي.
ما یوازې د مصري سرتېرو معالجه نه کوله بلکې د زړه سوي له امله مې خبیري سرتېري هم معالجه کول.
ما چې کله د څو خبیري سرتېرو ټپونه ور وتړل په دې وخت کې د هغوی د ښځو چیغې پورته شوې او دوی یې غړ.ونه واورېدل.
پر دغو ښځو باندې زموږ سرتېرو تېری کړی و ، دغو ټپیانو هغه پټۍ بېرته لېرې کړې چې ما پر زخمونو ور تړلې وې نو ځکه وینې ترې ولاړې او ډېرې وینې له بهېدا څو شېبې وروسته ومړل.
ما له دې امله پر خبیري سرتېرو زړه خوږاوه چې پوهېدم د مصر سپاهیانو پرې یرغل کړی او دا د فرعون او د مصر د پوځ لپاره ویاړ نه دی ځکه چې خبیریان پوځي کسان نه وو، بلکې کوچیان قبایل، لوږې هغوی لوټمار او چور ته اړ کول او د سوریې د نورو او سېدونکو په شان د مصر د فرعون تر حمایت لاندې ګڼل کېدل.
د خواشینۍ یوه خبره دا وه چې کتل مې ټول خبیري سرتېري په سترګو معیوب، او ما پکې یو کس و نه موند چې روغې سترګې ولري، وروسته راته جوته شوه چې د هغوی په منځ کې د سترګو ساري ناروغي خپره شوې وه او ټول پرې اخته ول.
پر دغې شپه ټولو سرتېرو استراحت وکړ او یوازې ساتونکي ویښ ول ځکه چې دا ویره وه چې کېدای شي تښتېدلي خبیریان ، بیا پر موږ حمله وکړي.
خو خاصه پېښه ونه شوه، زه تر سهاره پورې د ټپیانو په درملنه بوخت وم او سهار چې کله هورم هب له خوبه راویښ شو، پوه شو چې تر سهاره ویښ وم ، وروسته یې ور

وغوښتلم او ویې ویل پرون مې ولیدل چې ته له وسلې پرته په ډېرې زړورتیا د جنګ ډګر ته ننوتې خو باید درته ووایم چې د جنګ په ډګر کې د یوه ډاکټر دنده له جنګه وروسته پیلېږي او ضروري نه ده چې هغه ځان له کړکېچ سره مخامخ کړي.

له دې وروسته هرځل چې جنګ ته ځو ته استراحت وکړه تر دې چې جنګ پای ته ورسېږي او له هغه وروسته د ټپیانو معالجه پیل کړه.

له دې امله چې ډېر ستړی وم هورم هب د زړو یو امیل راکړ او ویې ویل دا ستا د پرونی زړورتیا او بېګانی ښېخوبی انعام دی خو اوس ولاړشه او ویده شه.

سره له دې چې ستړی وم احساس مې نه کاوه چې ویده به شم. کله چې د سهار لمر را وخېژي د سړي له سترګو خوب کډه کوي.

کله چې مې له هورم هب سره ولیدل نو مې ورته وویل. پرون مې ولیدې چې د سرتېرو په مخکې پر له پسې جنګېږې سره له دې چې تول ځواکونه تاته متوجه ول او تول پو هېدل چې ته د مصري پوځ قوماندان یې بیا هم په تا یو غشی ونه لګېد.

هورم هب وویل د دې لپاره چې زما باز تل زما پر سر الوت کوي او تل مې له خطره ساتي نو هېڅکله به غشی پر ما ونه لګېږي او د دښمن هېڅ سرتېري به ونه کړای شي چې ما په غشي یانېزې ووهي.

له همدې کبله کله چې زه د نورو له نظره یو زړه ور کس ګڼل کېږم د غرور او خوښی احساس نه‌کوم دا د دې لپاره چې زه پو هېږم هو مره زړور نه یم چې نور یې تصور کوي.

که زما پر ځای بل هرڅوک وي همداسې مېړانه کولای شي او زه د دې لپاره د سرتېري پر وړاندې حرکت کوم او جنګېږم چې مصري سرتېري له جنګ سره عادت وکړي.

دا څلو ېښت کاله کېږي چې مصریان نه دي جنګېدلي او پر له پسې سولې په هغوی کې د جنګ غوښتنې او عادتونه له منځه وړي دي.

خو کله چې زما سرتېري وروزل شول او عادت یې وکړ چې نور به له دښمنه نه وېرېږي، نو زه به هم د مصر د نورو لښکر مشرانو په شان په روان تخت کې کښېنم او د جبهې په وروستی برخه کې به پاتې کېږم او جګړه به کنټرولوم.

ومې ویل هورم هب دا څنګه کېدای شي چې ستا په سر الوتونکی باز وکړای شي چې تا د غشو، تورو، نیزو او ګرزونو له تاوانه وساتي؟

هورم هب وویل زه تصور نه کوم چې زما ساتونکی دې همدا باز وي، بلکې دغه باز

هغه ننبه ده چې ماته ښيي، تر هغه چې زما وخت نه وي راغلی زه به ونه وژل شم، نو څکه خو داسې دليل نشته چې زه و ډار شم.

زه پوهېږم چې انسان يو ځل مري او داسې څوک به نه وي چې دوه ځله ووژل شي، نو بايد د داسې پېښې په اړه چې يو ځل پېښېږي ټول عمر و نه ډارشو.

له همدې امله وېره نه پر ېږدم چې زړه ته مې لاره وکړي.

زه چې نه ډارېږم، مرګ هم زما لوري ته نه راځي. تر هغې ورځې چې زما وار نه وي راغلی او پر دغه ورځ که زړور وم يا وډارشم بيا به هم مړ شم.

پوه شوم چې هورم هب څنګه خبره کوي او د دې چارې علت چې مرګ د هغه لوري ته نه ورځي دا دی چې دی جرئت لري او بختور سرتېري هغه وي چې جرئت لري او د هغو طالع هم د دوی همدا جرئت دی.

هغه سرتېري چې جرئت نه لري طالع هم نه لري او په جنګ کې به لومړنی کس وي چې وژل کېږي.

د لوټمار او د ښکلو اميلونو او مېرمنو د ترلاسه کولو ارمان به بلې دنيا ته يوسي.

له هغه وروسته زه له هورم هب څخه جلاشوم او لاړم چې لږ ويده شم. ورځ نه وه نيمايي شوې چې له خوبه پاڅيدم ومې کتل چې زموږ سرتېري ساعت تېري کوي او د ښنو په ويشتلو بوخت دي.

د دوی ښنې د خبيريانو هغه سرتېري ول چې علاج يې نه کېده. او دوی پوهېدل چې دغه سرتېري د مرييتوب لپاره هم نه په کارېږي نو هغه خرڅولای هم نه شو.

پر دغه ورځ او په بله شپه زموږ سرتېرو له خبيري ښځو سره ساعت تېري کول او څو مېرمنو ددې لپاره چې زموږ د سرتېرو لاس ته ورنه شي پخپلو اوږدو څنو يې ځانونه ووژل.

پر درېيمه شپه د هغو مصري او خبيري سرتېرو د مړيو بويونه چې په بيديا کې پراته ول د زغملو نه ول او تر سهاره مو د شغالانو او ګيدړانو له شور ماشوره خوب و نه کړ چې د مړيو په خوړولو لګيا ول.

هورم هب ته مې وويل که په دې بيديا کې وځنډېږو ټول به د مړيو د بويونو له امله ناروغان شو.

هورم هب موافقه وکړه چې لښکر له هغې بيديا وخوځوي او سخت تېپيان د ګاډيو په وسيله اورشليم ته واستوي.

هغه ويل له دې امله چې خبيريانو د تېښتې پر وخت خپل خداى له ځان سره وړى دى او زموږ د كشف مامورين وايي چې هغوى همدلته نژدې دي نو بايد زه ولاړ شم او د هغوى خداى ترې واخلم.

پر بله ورځ له دې ورسته چې سخت تېپيان مو اورشليم ته وخوځول هورم هب له يو شمير ګرنديو ګاډيو سره حركت وكړ او زه يې هم له ځان سره كېنولم او ويل يې چې غواړم تا پخپل جنګ كې شريک كړم چې پوه شې څنګه د پاتې خبيريانو پوزه په خاورو وموښم.

كله چې موږ خبيري پاتې شونې راګير كړل هغوى سندرې ويلې او هغه څه چې دوى د سوريې له خلكو او كروندګرو اخيستي دي مخته كړي او دوى ورپسې روان دي.

موږ لكه توپان پرې نازل شوو او تر دې وراندې چې دوى د ځان دفاع وكړي زموږ ګاډيو ځوانان او بوډاګان لاندې كړل او د هغوى هډوكي يې ورمات كړل.

مصري سرتېرو ته چې به هر څوک ګوتو ته ورغلل وژل به يې ان تر دې چې نورو د ځان له ويرې خپل څاروي او خواړه پرېښودل او وتښتېدل.

هورم هب امر وكړ چې په بېديا كې خواره شوي پسونه او غواګانې راټولې كړي. بيا يې د خبيريانو خداى له ځمكې پورته كړ او بېرته ستانه شوو او له ټول لښكر سره د اورشليم پر لور روان شو.

هورم هب په لومړني تم ځاى كې د خبيريانو خداى د سرتېرو پر وړاندې ټوټه ټوټه كړ او سرتېرو خوشالي كوله، ځكه چې پوهېدل نور خبيريان خداى نه لري او تر بل هر وخت ډېر بې وزلې شوي دي. تر هغه ځايه چې زما ياد پرې خبيريانو خپل خداى چې له لرګي جوړ شوى و (يهود) يا (يهوه) باله.

كله چې زه اورشليم ته ننوتم حيران شوم چې ولې ډېر شمېر هغه سرتېري چې ماپې درمنله كړې وه مړه شوي دي، په داسې حال كې، چې پوهېدم د هغوى ټپونه خطرناک نه دي او روغ به شي.

ددې موضوع راز وروسته ما ته څرګند شو او هغه داسې و چې د هورم هب د امر پر بنسټ ټول لوټ شوي شيان يې اورشليم ته راوړل او له غلامانو او وينځو سره يو ځاى يې وپلورل هر څومره سره، سپين او نور شيان چې ددغو كسانو له خرڅلاوه تر لاسه شول پر سرتېرو يې ووېشل.

له دې كبله چې يو شمېر سرتېري مړه شوي ول نو د ژونديو سرتېرو ونډه ډېره شوې وه.

د لښکر د څارويو د وښو او خوړو مشر (د لوجستيک مشر) چې له ما سره ملګرى شوى و ، وويل په هر جنګ کې داسې کېږي، سرتېري د دې لپاره خپلو ژوبلو ملګرو ته اوبه او خواړه نه ورکوي او غواړي چې مړه شي.

هرڅومره چې د سرتېرو شمېر کم شي نو له جنګي غنيمتونو څخه د برخه ترلاسه کولاى شي.

د سوريې ډېر شمېر سوداګر په اورشليم کې غونډ شوي ول او د جنګ غنيمتونه يې واخيستل.

هر سوداګر يو شمېر داسې ښځې له ځانونو سره راوستې وې چې ځانونه يې ارزانه خرڅول او زموږ سرتېرو به سره او سپين ورکول چې څو شيبې له يوې ښځې سره تيرې کړي.

له سهاره تر ماښامه او له ماښامه تر سهاره په اورشليم کې د تنبور ،دايرې، سورني، او تبلې غږونه اورېدل کېدل او شراب څښل کېدل. مصري سرتېرو شراب څښل او له هغو ښځو سره په ساعت تېري بوخت ول چې ځانونه يې ارزانه خرڅول.

کله خو به د نشه سپاهيانو تر منځ سخت جنګ ونښت، يو د بل په سينو او خېټو کې به يې چړې ومنډلې او پر ګرزونو به يې يو د بل ککرۍ ورماتې.

په دې وخت کې د مصر د لښکرو مشر هورم هب څو تنه اپوته په دار وځړول خو سره له دې به هره ورځ شخړې کېدلې او هره ورځ به يو شمېر سرتېري په دار کېدل. سره له دې چې سرتېرو به په دار شوي خپل ورانکاره ملګري ليدل خو عبرت به يې نه اخيست.

ترهغه چې په دنيا کې شراب ،سره ،سپين او ښځه وي او ځينې نشه کسان په سرو او سپينو يا د ښځو پر سر له يو بل سره اختلافات پيدا کوي حتماً جنګ کېږي، يو شمير پکې وژل کيږي او يو شمير هم د قاتلينو په توګه بايد په دار وځړول شي.

سپاهيانو چې په لوټ مار کې څه ترلاسه کړي ول ټول يې په شرابو او ښځو وښندل او بايلودل.

مصري افسرانو هم د سرتېرو په شان خپلې ونډې په شرابو او ښځو ولګولې خو په دې توپير چې افسرانو به له هغو ښځو سره لېوالتيا نه درلوده چې ځانونه ارزانه خرڅوي

دوى به هغه ښځې خوښولې چې ځانونه به يې ګران خرڅول ځکه هرڅومره چې ښځه ښايسته وي نو بيه يې ډېره وي.

د پوځ په افسرانو کې يوازې هورم هب و چې ښځو ته يې توجه نه کوله

زه د هغه دې کلک هوډ او پاک لمنۍ ته حیران شوم.

په داسې حال کې چې هورم هب خوان او ښکلی و او هره ښځه که ګران بیه او یا ارزان بیه وه په ډېرې خوښۍ دده خور کېدله.

هورم هب له لوټل شویو شیانو او مرییانو استفاده ونه کړه او په بدل کې یې له سوداګرو څخه خپله ونډه واخیسته.

دده استفاده په دې ډول وه چې کله معاملې ختمې شوې او سوداګرو مرییان او نور توکي ورل نو هورم هب ورته وویل، هر سوداګر باید د پېردلو توکو لسمه برخه د امنیت د ساتلو د بیې په توګه ده ته ورکړي.

هورم هب سوداګرو ته وویل په ټول هغه وخت کې چې تاسو معاملې کولې یوه سرتېري یا د ښار او سېدونکي جرئت ونه کړ چې ستاسې شیانو یا مالونو ته لاس وروړي، ځکه چې زه شپه او ورځ ځیر وم چې څوک ستاسې سره او سپین او مرییان غلا نه کړي

که زه نه وای تاسې له دې ځایه خپله شتمني او مرییان نه شوای لېږدولای بلکې مستو او خونړیو سرتېرو تاسې هم وژلاست.

دغه خبره سمه وه او هورم هب داسې امنیت ټینګ کړی و چې د یوه سوداګر یوه کړه مس هم ورک نه شول.

سوداګر پوه شول که پخپله خوښه لس سلنه برخه ورنه کړي ممکنه ده ټول شیان یې له منځه لاړ شي نو له همدې امله یې هورم هب ته خپله برخه ورکړه او خپل شیان او ځانونه یې روغ رمټ له اورشلیم څخه وایستل.

د جګړې له پای ته رسېدو سره زما دنده هم پای ته ورسېده نو هورم هب ته ورغلم چې له هغه سره خدای پاماني وکړم او ازمیر ته ستون شم.

هورم هب د خدای پاماني په وخت کې ماته وویل چې پرون له یوه پاپیروس (مصري کاغذ ژباړن) سره د فرعون له لوري یو قاصد راغی او فرعون په دې لیک کې ملامت کړی یم چې ولې مې وینه بهولې او خبیریان مې وژلي دي.

زه غواړم فرعون ته ووایم، ده چې خپل خدای ته سندرې ویلې او تصور کوي چې مصر او سوریه په مینې، سوله غوښتنې او له خپلو همنوعانو سره په محبت اداره کولای شي پر یوه کلي او باندې یې د خبیریانو حمله نه ده لیدلې.

که وګوري دغه قبایل څه ډول پر کلیو او باندو حملې کوي، نارینه او ماشومان وژني،

له ښځو یې د ارزان بیو ښځو په څېر ګټه اخلي او بیایې د وینځو په توګه پلوري، نو ما به نه ملامتوې.

پوهېږې! چې ځمکه په مینې، محبت او سوله غوښتنې سره نه شي اداره کېدای ځکه شونې نه ده یو څوک وس ولري او یا وژنې او لوټماری ته اړتیا ولري او دی دا کار و نه کړي.

یو پیاوړی سړی چې د نورو د وژلو او د هغوی د سرو، سپینو او ښځو د اخیستو توان لري، یوازې یو وخت دغه کار نه کوي او دا هغه وخت دی چې دی شتمنی او ښځو ته اړتیا و نه لري.

او س به زه خپل سرتېري مصر ته لېږدوم او باوري یم چې فرعون به راته ووایي خپل سرتېري رخصت کړه.

خو زه به یې رخصت نه کړم ځکه چې په ټول مصر کې یو روزل شوی او د جنګونو تجربه کار پوځ دی چې هغه هم زما پوځ دی.

ما ورته وویل ایا تصور کوې چې مصر به یوه لښکر ته اړتیا ولري. ځکه چې مصر دومره پیاوړی او بډای دی چې هېڅ دښمن نه لري او له همدې کبله اړ نه دی چې کوم تکړه پوځ ولري.

هورم هب وویل د مصر په شان هېواد چې د سوریې لسګونه پاچاهان یې تر ولکې لاندې دي، یوه پیاوړي پوځ ته اړتیا لري چې د پاچاهانو ترمنځ سوله وکړي. ما په دې وروستیو کې اورېدلي چې په سوریې کې د آمورو پاچا د سورلیو او اسونو په راټولولو او د جنګي ګاډیو په جوړولو بوخت دی او داسې ښکاري چې د بغاوت نیت لري. ما وویل زه دغه پاچا پېژنم او مخکې مې ورته غاښونه معالجه کړي ول، هغه زما ښکلې وینځه ولیده او هغه یې خوښه شوه. ما بیا دغه وینځه هغه ته ورکړه او بې ښځې پاتې شوم.

هورم هب وویل سینوهه! ایا ته چمتو یې چې له ما سره مرسته وکړې یانې زما لپاره یو ستر سفر وکړې؟ زه به یې په بدل کې چې څومره زر و غواړې درکړم.

ومې پوښتل ولې غواړې زه مسافرت وکړم؟

هورم هب وویل ته یو ډاکټر او ازدا سړی یې، هر چیرته تللی شې او له دې کبله چې طبیب یې ټول په تا اعتماد کوي او زه په دې هم پوهېږم چې په بابل او هاتي کې مصري ډاکټرانو ته ډېر درناوی کوي. زه چې د مصر د لښکر قوماندان یم باید په دې پوه شم چې د نورو ملتونو په تېره بیا د هاتیانو او بابلیانو جنګي وسله څه ډول ده.

د هاتيانو او بابليانو د وسلو په هکله وحشتناک خبرونه را رسېږي. ما اورېدلي چې هاتيان خپلې تورې او نېزې له يوه توربخون فلز څخه چې او سپنه يې بولي جوړوي او څوک نه پوهېږي چې دوی دغه فلز له کوم ځايه راوړي دي.

د هغوی له تورو او نېزو څخه د هغوی جنګي ګاډي خطرناکې دي. اورېدلي مې دي چې هغوی خپلې جنګي ګاډي له همدې او سپنې جوړوي او دغه ګاډي دومره کلکې دي چې کله زموږ په مسي ګاډيو لګېږي نو دلرګيو په شان يې ماتوي.

ددغې او سپنې او د نورو ملتونو د وسلو او ګاډيو په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره تر تابل ور کس نشته.

له دې کبله چې ته ډاکټر يې او هر چېر ته تلای شې، بابلي نړيوال ژبه دې هم زده ده، له هر چا سره خبرې کولای شې او هېڅوک دا خيال نه شي کولای چې ته يو پوځي جاسوس يې.

ځکه، څوک دا تمه نه کوي چې يو ډاکټر دې په پوځي مسلو هم پوه شي.

له دې پرته ته ډېر هوښيار او ځيرک يې او پوهېږې چې زما څه ډول معلومات پکار دي.

په داسې حال کې چې نور عقل او شعور نه لري او کله چې فرعون هغوی د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره لېږي يوازې د بابل د پاچا د ږيرې او د هغه د ښځو په هکله فرعون ته معلومات راوړي.

خو ته په نورو هېوادونو کې دا معلومات راټولولای شې چې څومره سرتېري لري او د سپاهيانو وسله يې څه ډول ده.

دغه راز ته معلومولای شې چې او سپنه څه ده او څه ډول ترلاسه کېږي؟ ايا جوړېږي، که د مس په شان له ځمکې څخه ترلاسه کېږي؟

ته په دې هم پوهېدای شې چې د نورو ملتونو جنګي قدرت څومره دی او ددغو معلوماتو له ترلاسه کولو وروسته به په مصر کې له ما سره يوځای شې او هغه څه چې ترلاسه کړي دې دي ماته به يې وايې.

ماوويل، هورم هب! زه به بيا مصر ته ستون نه شم.

هورم هب وويل تېروتنه کوې، هغه څوک چې د نيل اوبه وڅښي له مصره زړه نه شي شکولی، ستا دغه خبره ماته د مچانو د بنګېدا په شان ښکاري او راته مهمه نه ده، ځکه چې پوهېږم حتماً به يوه ورځ مصر ته ستون شې.

که ته موافقه وکړې چې د نورو ملتونو د پاچاهانو، پوځ، وسلو او پوځي زده کړو په

هکله ماته معلومات راوړې، زه به ستا له دې معلوماتو ډېره استفاده وکړم، ځکه چې زه هیله کوم ستا له دغو معلوماتو څخه د مصر د ترقی او د نورو پاچاهانو د مهارولو لپاره استفاده وکړم. نن سبا هغه ځای ځایګی چې مصر باید درلودای نه یې لري.

په داسې حال چې د مصر ملت تر ټولو غوره ملت دی خدایانو د مصر ملت ته ددې لپاره تر نورو ملتونو لوړ والی ورکړی چې د هغوی مشري وکړي خو پخپله مصر یان د تنبلی له کبله نه غواړي چې له دغو ګټو استفاده وکړي.

زموږ فرعون ددې لپاره چې نورو هېوادونو ته لښکرې ولېږي دیوه خیالي خدای د وسوسو له امله له انسانانو سره د مینې او سولې خبرې کوي.

کله چې هورم هب دغه خبرې کولې ما ورته ځیر ځیر وکتل او احساس مې وکړ چې هغه زما په نظر ډېر ستر شوی دی.

ځکه تر هغه چې یو څوک لوړ استعداد، ونه لري داسې افکار نه شي درلودلای.

زموږ هر شی زموږ د افکارو زېږنده وي، هغه کسان چې لوړ فکرونه لري او چمتو وي چې خپل افکار پخپل وخت عملي کړي یو ستر انسان دی.

له همدې امله مې هغه ته وویل هورم هب تراوسه پورې ما یوازې یو تکړه جنګي کس بللې او خیال مې نه کاوه چې د هېواد د اداره کولو توان هم لرې، خو نن په تا کې دغه استعداد ګورم چې ښایي فرعون یې هم ونه لري.

هورم هب وویل، ایا حاضر یې ما خپل مشر وبولې؟ او خپل مقدرات زما له مقدراتو سره اړوند کړې؟

ومې ویل، هو چمتو یم.

هور هب وویل سینوهه! ته به له ننه وروسته په نورو هېوادنو کې زما غوږ او سترګې یې او زه به ستا په وسیله د پردیو ملکونو له حالته خبرېږم.

که ما ترقي وکړه او سترو مقامونو ته ورسېدم تا به په دې ترقی او نیکمرغی کې له ځان سره شریک کړم او که مې ترقي ونه کړه او اپوته مې موقف ټیټ شو، بیا به هم ته تاوان ونه کړې ځکه چې د پخوا په شان به یو ډاکټر یې او د طبابت په وسیلې به، سره او سپین تر لاسه کولای شې.

زما باداري او ستا نوکري شونې ده ستا لپاره ډېرې ګټې ولري، خو تاوان به ونه کړې.

بیا هورم هب زما له تمې ډېر سره زر راکړل او یو سرتېري ته یې دنده وسپارله چې ما

ازمير ته ورسوي چې په لاره کې څوک زما شته لوټ نه کړي.

کله چې ازمير ته ورسېدم خپل سره زر مې څو شرکتونو ته ورکړل او په بدل کې مې د متې خاورې څو لوحې واخيستې چې په اورپخې شوې وې او په دغو لوحو هغه طلاګانې ليکل شوې وې چې ما شرکتونو ته ورکړې وې.

له ما پرته بل څوک نه شي کولای دغه سره زر په بابل يا هاتي هېواد کې ترلاسه کړي او که غلو دغه لوحې هم غلا کړې وای د هغو لپاره يې ارزښت نه درلود، بلهدا چې ما هم تاوان نه کاوه ځکه چې بېرته به ستون شم او هلته به له شرکته نورې لوحې واخلم.

زه تصور کوم چې د پخوانيو او وحشي پېړونو په پرتله زموږ د وخت يوه ګټه دا ده چې موږ ډېره طلا د دغو لوحو په بڼه لېږدولای شو او مجبور نه يو چې خپله ټوله طلا ولېږدوو، چې دغلو تمه ورته پيدا شي او هغه څه چې لرو يې او يا د ټول عمر ګټه رانه يوسي.

دیارلسم څپرکی

زما اوږد سفر

اوس تر دې وړاندې چې ووایم په نورو هېوادونو کې مې څه ولیدل، غواړم یا دونه وکړم، چې زما اوږد سفر زما د ټول عمر تر ټولو ښې شپې ورځې وې او پوهېږم چې نور به دغه ورځې را و نه ګرځي.

زه په هغه وخت کې ځوان او قوي وم. لمر به راته ډېر روښانه ښکارېده، د ګل وږمې به مې ښکلې او په زړه پورې محسوسولې او ښځې راته ښکلې برېښېدلې.

لمر، وږمې، ښځې تو پیر نه کوي خو په بوډاتوب کې یې انسانان بل ډولویني.

کله چې ما سفر پیل کړ په نړۍ کې د سولې د ټینګښت خلوېښت کاله پوره شوي ول. هر چیرته کاروانونه ازاد ګرځېدل او بېړیو په سیندونو او سمندرونو کې دغلو له وېرې پرته سفرونه کول.

ګروندګرو د دوامداره سولې له امله له خپلو کرندو ډېر محصولات اخیستل خپلو مالکینو ته به یې ورکول او هر چېرته اسماني نیل د مصر د نیل پر ځای کروندې خړوبولې.

پسونه او غواګانې به په ورشوګانو کې څرېدل او شپنو به په اوږدو لرګیو تکیه کوله چې د خپلو رمو لپاره شپېلۍ ووهي.

د انګورو له تاکونو ډېر محصولات ترلاسه کېدل او د مېوې ونې ترې لاندې کږېدلې.

له ټولو معبدونو د لوګیو ستنې اسمانونو ته ختلې، ځکه چې په ټولو معبدونو کې پسونه او غوایان قرباني کېدل.

هر شي خپل عادي بهیر کچ کاوه، شتمن کال په کال شتمن کېدل او بېوزلي نور هم بېوزله کېدل ځکه چې خدایانو همداسې ټاکلې وه چې هر کال دې د شتمنو شتمني زیاته شي او بېوزله دې هر کال تر تېر کال بېوزله شي.

زه تصور کوم چې په هغو کلونو کې خدایان هم د کاهنینو په شان چاغ او روغ رمټ ول

او ښې شپې ورځې يې تېرولې، ځکه چې کله په ځمکه کې سوله واکمنه وي نو د خدايانو کار هم کمېږي او خپل ډېر وخت په استراحت او خوښيو کې تېروي.

زه نن د دغو ورځو ارمان نه کوم ځکه چې ارمان کول د يوه هوښيار او ګرځنده سړي کار نه وي او په ارمان او افسوس سره تېر وخت بيرته راګرځولای نه شو، په تېره بيا کله د ستنېدلو نه وي لکه څوک چې نه شي کولای ځواني بيرته راستنه کړي.

تر دې وړاندې چې سفر پيل کړم لکه چې ومې ويل ازمير ته ستون شوم، زما مريي کاپتا چې زه وليدم زما پر لور يې رامنډه کړه، له يوې سترګې يې د خوشحالۍ اوښکې وبهېدلې او ويې ويل، نن زما د عمر تر ټولو مبارکه ورځ ده ځکه چې ته کورته راستون شوی يې.

ما خيال کاوه چې ته په جنګ کې وژل شوی يې او زه به دې نور ونه وينم، خواشينی په دې وم چې ستا مړی به چيرته وي او څوک به يې موميايي کړي؟

خو له ځان سره مې ويل، له دې کبله چې ته مړ شوی يې نو دبېړيو په شرکتونو کې ستا ټوله شتمني به ما ته ور سپېږي.

نن چې راستون شوې ډېر خوشحال يم، ځکه چې له تا پرته که شتمن شوی هم وای د هغه پسه په شان به وم چې خپل خاوند يې ورک کړی وي، حال دا چې نن د يوه خاوند لرونکي پسه په شان يم.

ستا په غياب کې ما تر هغه څه ډېر نه دي غلا کړي چې ستا په شتون کې مې غلا کول، ډېره هڅه مې کوله چې ستا کور بې عيبه پاتې شي او شيان دې کم نه شي، نو له همدې کبله د همغې ورځې په شان چې له دې ځايه تللی وې اوس هم د يوه منظم کور خاوند يې.

بيا يې او به راوړې، زما پښې يې را ووينځلې، په مخ يې اوبه را واچولې او همغسې يې خبرې کولې.

ما ورته وويل دومره خبرې مه کوه، ددې پر ځای ولاړ شه او د مسافرت لپاره خپل وسايل برابر کړه، ځکه چې زه نيت لرم يو اوږد سفر وکړم.

کله چې مې کاپتا ته وويل زه د سفر نيت لرم نو په ژړا شو او خدايان يې ملامت کړل چې هغه يې ولې پيدا کړی دی.

کاپتا وويل نه پوهېږم ولې دې دنيا ته راغلی يم، چې بايد د يوې اوږدې مودې لپاره نيکمرغه پاتې نه شم.

ده وویل، ما ډېر زیار وایست چې چاغ شم، اوس چې ته غواړې دغه اسوده ژوند پر ېږدې، نو زه هم اړ یم له تاسره ولاړ شم او چې ځم نو بېرته به د نګر شم.

ما ورته وویل ته مجبور نه یې چې له ما سره ولاړ شې، ته همدلته پاتې کېدای شې.

کاپتا وویل که ستا سفر یو یا دوه میاشتې وای، زه به دلته پاتې شوی وای، خو له دې کبله چې ته غواړې په یوه اوږده سفر لاړ شې، نو زه مجبور یم چې له تا سره ولاړ شم، ځکه چې که زه درسره ولاړ نه شم او ستا لارښونه ونه کړم ته به د هغه خوسکي په شان یې چې غلو یې پښې ورتړلې. او پر خپلو اوږو یې بار کړی وي او خوسکی هېڅ مقاومت نه شي کولای.

اویا به د هغه چاپه شان یې چې سترګې یې ور تړلې وي لاره نه شي موندلی او په هرګام کې پر ځمکه لوېږي.

که زه درسره نه یم نو هرڅوک به له خپل وس سره سم ستا سره او سپین او نوره شتمني لوټ کړي.

خو که زه له تاسره ولاړ شم یوازې زه به درڅخه غلا کوم او زما غلا د نورو له لوټولو ښه ده ځکه، چې نور ستا د شتمنۍ د لوټولو پر وخت هېڅ شي ته پام نه کوي او نو زه به ستا د شتمنۍ په اندازه له تا څخه غلا کوم او تل به ستا د شتمنۍ ډېره برخه ستا لپاره ساتم.

ایا غوره نه ده چې همدلته په ازمیر کې په خپل کور کې پاتې شو، خپل خوندور خواړه وخورو .له خپلو سرو سپینو استفاده وکړو او د سفر له خطرو او زحمتونو تېر شو.

کاپتا د وخت په تېرېدا سره ډېر بې شرمه شوی و، داسې خیال یې کاوه چې ګنې له ما سره شریک شوی او تل به یې زموږ د خوړو ، زموږ د کور او زموږ د سرو - سپینو خبره کوله.

ددې لپاره چې هغه ته یې ور په زړه کړم چې هغه زما مریی دی، زما د شتمنۍ شریک نه دی او ددې لپاره چې ویې ژړوم او د هغه ژړا ښکاره او رینښتوني وي خپله لکړه مې واخیسته، پر ملا او د ولیو په منځ کې مې څو ګوزارونه ورکړل او ومې ویل، کاپتا ته چې په غلا دومره عادت شوی یې یوه ورځ به په دار وځړول شې اوزه به دې وګورم چې ته یې له پښو راځوړند کړی یې.

کاپتا بالاخره راضي شو چې سفر ته غاړه کېږدي، د سفر وسایل مو تیار کړل او وخوځېدو.

که کاپتا را سره نه وای نو ما د سمندر له لارې له ازميره، ځان لبنان ته رساوه، خو کاپتا ويل چې که هغه و وژنم نو تر دې به غوره وي چې په بېړۍ کې سفر وکړم.

زه پر يوه روان تخت سپور شوم، خو د کاپتا لپاره مې يو خر واخيست.

له دې کبله چې کاپتا د بدن په شاتنۍ برخه کې تپ درلود نو پر خره د سپرېدا په وخت کې يې زګيروي کول او يوه برخه مزل يې پلې کاوه، ويل يې چې پلې تګ د خره تر مزله ښه دی.

کله چې لبنان ته ورسېدو ما هلته د سدر لوړې ونې وليدې او د غه ونې دومره لوړې وې چې که يې ځانګړتياوې بيان کړم په مصر کې به څوک پرې باور ونه کړي. نو څکه ترې تېر يږم.

د سدر ونو له ځنګلونو ډېر ښه بوی پورته کېده او په ځنګل کې رنې او به روانې وې.

ما له ځان سره وويل په هغه ټاټوبي کې چې دومره ښکلې او خوشبويه ونې وي، هېڅوک بدبخته نه دي.

تر هغه ځايه ورسېدم چې هلته مريبيان د سدر ونو د غوڅولو په کار بوخت ول. د غه ونې به يې پر اوږو لېږدولې. له غرنۍ لارې يې ښکته کولې چې د سمندر څنډې ته ور سېږې او له هغه ځايه په کشتيو کې ولېږدول شي.

کله چې ما د دغو مريبيانو ژوبل شوي اندامونه وليدل چې مچان پرې ناست ول. نو متوجه شوم چې په دغه ښکلي او معطر ځای کې هم کم بختان پريمانه دي.

بيا له لبنانه ووتم او د ميتاني هېواد په لور رهي شوم.

په ميتاني کې کاپتا ډېر خوشاله و. څکه دغه هېواد ته د ننوتو پر ورځ خلکو زموږ ډېر ښه هرکلي وکړ او له دې کبله چې دوی پوهېدل کاپتا زما مريي دی. نو خوندور خواړه به يې ورکول.

کاپتا به ويل، ښه به داوي چې هېڅکله له دغه هېواده ولاړ نه شو او تل همدلته پاتې شو.

خو زه چې د پوځي معلوماتو د ټولولو لپاره راغلی وم دلته نه شوای پاتې کېدای او د پوځي معلوماتو له ترلاسه کولو وروسته بايد بابل ته لاړ شم.

په ميتاني کې هغه څه چې زموږ پام يې ډېر ځانته جلب کړ، د ښځو ښکلا وه. ټولې ښځې ښکلې، دنګې او مضبوطې وې او چې پوه به شوې زه مصری ډاکټر يم. ما ته به راغلې او د خپلو مېړونو له ساړه مزاجه به يې شکايت کاوه.

دوی به ویل، زموږ مېړونه هره شپه له موږ سره ساعت تېری نه شي کولای، له دې امله خپه یو.

مابه کتل چې د ښځو د بدن پوستکی دومره سپین دی، چې تر پوستکي لاندې یې په رګونو کې د وینې شین رنګ ښکارېده.

مصري ډاکټران له ډېر پخوا د مېړونو د مزاج د سوړوالي په معالجه کې ډېر مشهور دي او په هېڅ یوه هېواد کې هم د دوی په شان چا د جنسي کمزورۍ درملنه کولای نه شوه.

ماچې به کله یوې ښځې ته ددې ستونزې لپاره درمل ورکول چې خپلو مېړونو ته یې ورکړي، نو پوهېدم چې ښه نتېجه یې اخیستې، ښځه به له څو ورځو وروسته راغله او له ما به یې مننه کوله.

دوی به ویل اوس یې مېړه هره شپه له هغې سره ساعت تېری کولای شي.

خوزه نه شم ویلای چې دغو ښځو، چې له ماڅخه یې درمل اخیستل، خپلو مېړونو ته یې ورکول او که پخپلو مینانو یې خوړل، ځکه چې په میتاني کې د ښځو عادت و، چې پر خپلو مېړونو سربېره له نورو سړیو سره هم څملي.

ما به لیدل، چې که څه هم چې ښځې لوړې او ښکلې دي، خو لږو به بچیان راوړل او پوه شوم چې خدایانو د میتاني پر ملت غضب نازل کړی، ځکه کله چې ماشومان ونه زېږي نو ډېر ژر به د ملت زیاتره برخه بوډاګان او سپین سرې وي او دغه ملت به ختم شي.

سره له دې چې د مېړونو د سوړ مزاج معالجې ښه مشهور کړم خو د میتاني د یوه بوډا شتمن معالجې زما شهرت بشپړ کړ.

دغه شتمن بوډا د سر له خوږو کړېده او ویل یې چې تل پخپلو غوږونو کې د تندر په شان غږونه اوري.

ده ویل د میتاني ټولو ډاکټرانو ته ورغلی خو یوه یې هم درملنه نه ده کړې.

یوه ورځ ما ورته وویل چې زما کور ته راشي چې سر یې معاینه کړم. کله چې کور ته راغی هغه مې کېناوه او په ګوتې مې د هغه د سر بېلابېلې برخې ووهلې خو ویل یې د سر یوه برخه یې هم درد نه کوي بیامې څټک راواخیست او د هغه د سر بېلابېلې برخې مې پرې ووهلې.

ده ویل هېڅ نوی درد نه احساسوي، خو د پخوا په شان یې په سر کې دننه درد شته

په داسې حال کې چې په څټک مې د هغه د سر بېلابېل ځایونه وهل، ناڅاپه هغه سړي چیغه کړه او بېخوده شو.

زه پوه شوم چې د هغه سر په همدې ځای کې ستونزه لري، چې ځنګک پرې لګېدلی دی. ما هغه ځای په نښه کړ او بيا مې د ميتاني ډاکټرانو ته وويل غواړم د دغه سړي د کوپړۍ سوری کړم.

ډاکټرانو وويل که د هغه سر سوری کړې به مړ شي.

ما وويل، زه ژمنه نه کوم چې هغه به معالجه کړم خو ويلی شم، چې که د دغه سړي تومور(دانه) د هغه له سره وباسم، نو ممکنه ده چې ژوندی پاتې شي، خو که يې سر سوری نه شي او دانه ترې ونه ايستل شي نو ارو مرو مري.

خو طبيبانو نه منله چې د هغه په سرکې به تومور وي.

بيا مې پخپله له ناروغ سره مشوره وکړه، هغه وويل په دغه سخت او دوامداره سرخوږي سره زه هره ورځ لس ځله مرم، که مې سر سوری کړې او زه يو ځل مړ شم نو وبه ژغورل شم.

د هغه د سر د سوري کولو لپاره مې يوه ورځ معلومه کړه، وټاکل شوه چې څوتنه ځايي ډاکټران هم راشي او زما معالجه وګوري، په دې شرط چې په درملنه کې به هېڅ لاسوهنه نه کوي.

پر ټاکلې ورځ ما د طبس د دارالحيات له دود سره سم خپل ټول جراحي وسايل او په خپله ناروغ تطهير او پاک کړ، لږ سپين زر مې هم برابر کړل چې د سر د هډوکي له جلا کولو وروسته يې په هغه ځای کېږدم.

بيا مې د ناروغ په رګونو کې اپيم ننه ايستل چې د دړد احساس و نه کړي، له همغه ځايه چې پوهېدم تومور همغلته دی د جمجې د هډوکو يوه برخه پوستکی مې له ببلا ببلو لورو غوڅ کړ او د ناروغ مازغه راښکاره شول.

ناروغ درد نه احساساوه او حتی سترګې يې خلاصې وې، کله چې يې مازغه راښکاره شول طبيبانو ته مې وويل وړاندې راشيء او ټولو وليدل چې د ناروغ په مازغو کې د يوې مرغۍ د هګۍ په اندازه يو تومور موجود دی.

ورته ومې ويل، همدا تومور دی، چې دغه سر درد يې رامنځته کړی دی، زه به اوس دغه تومور له مازغو جلا کړم او وروسته مې هغه جلا کړ.

په هغه وخت کې چې زه له مازغو د تومور د جلا کولو په حال کې وم کاپتا چې د جراحۍ ځينې کارونه او قالب نيول يې له مازده کړي ول، د جلا شوي هډوکي قالب يې

راواخیست او په هغه کې یې سپین زر واچول چې د هډوکي په بڼه یوه ټوټه سپین زر له دې قالبه راووتل.

له دې وروسته چې د غه قالب سوړ شو د جمجمې په سوري مې کېښود، د سر پوستکی مې له یو بل سره نژدې کړ او ومې ګانډه.

بیا مې پر سر ملهم او پټۍ کېښوده او له ناروغه مې پوښتنه وکړه چې اوس یې طبیعت څنګه دی؟

ناروغ ولاړ شو او ماته یې وویل بېخي سر خوږ نه لري او له څو کلونو وروسته دا لومړی ځل دی. چې ځان اسوده او روغ احساسوي.

ما ورته وویل تر هغه وخته چې ستا د سر ټپ نه وي معالجه شوی باید هغه ونه ښوروې. تر ټولو ښه خبره دا ده چې ستوني ستغ څملې او څو ورځې استراحت وکړې.

د هغه سړي زخم ښه شو او هغه بالکل معالجه شو. له دې وروسته چې علاج یې وشو په دې لټه کې شو. چې تېر وخت جبران کړي چې د سرخوږي له کبله یې ساعت تېری او عیاشي کولای نه شوه.

اوس چې یې سر جوړ شوی و نو عیاشي یې پیل کړه.

یوه شپه چې د هوا د ګرمۍ له امله یې د بام پر سر شراب څښل د ډېرې مستۍ له امله له بامه پر ځمکه ولوېد. سر یې مات شو او مړ شو.

خو ټولو په تېره بیا د هېواد ډاکټرانو دا خبره ومنله چې د هغه مړینه د نشې له امله وه او زه پکې ملامت نه یم. ځکه چې ما معالجه کړی و او د درد او مرګ له منګولو مې ژغورلی و.

د غه معالجه په میتاني هېواد کې دومره مشهوره شوه چې اوازې یې تر بابله هم ورسېدې.

د غه هېواد چې د بابل تر سلطې لاندې دی. څو نومونه لري. کله هغه کلده او کله خوسه بلل کېږي. خو زه یې بابل بولم. ځکه کله چې د بابل نوم اخیستل کېږي نو ټول پوهېږي چې هدف څه شی دی؟

بابل هغه هېواد دی چې ډېر ښیرازه او اوار دی. چې سترګې کار کوي اواره ځمکه لیدل کېږي. غر پکې نشته.

په مصر کې مصري ښځې غنم داسې اوړه کوي. چې پر ځمکه کوندې وهي او د

ژرندې(میچنې) یوه ډبره ګرځوي، خو په بابل کې بابلي ښځې د غنمو داوړو کولو په وخت پر دوو پښو دریږي او د ژرندې دواړه ډبرې د یو بل په مقابل لوري کې ګرځوي چې دغه کار د مصري ښځو تر کار سخت دی.

په بابل کې ونې دومره کمې دي چې که څوک یې ووهي د خدایانو له غضب سره مخامخیږي.

د بابل تول او سپدونکي چاغ دي، غوړه ډوډۍ او اوره ډېر خوري ما په بابل کې یو ډول عجیب مرغه ولید چې الوت کولای نه شي او دغه مرغه په ډېرو کورنو کې موجود وچې نوم یې چرګه و.

که څه هم چې د چرګې جثه غټه نه ده، داسې هګۍ اچوي چې اندازه یې د تمساح د هګیو په شان ده او د بابل اوسېدونکي د چرګې هګۍ خوري

عجیبه خبره داده چې چرګه هره ورځ هګۍ اچوي خو تمساح او نور مرغان په یوه خاص وخت کې هګۍ اچوي

د بابل اوسېدونکي د چرګې په هګۍ کې بېلابېل خواړه پخوي. خو زه دغه خواړه نه خورم، بلکې په هغو ډوډیو اکتفا کوم چې پخپله یې پېژنم.

بابلیان وایي چې د هغوی ښار د نړۍ تر ټولو پخوانی او لوی ښار دی، خو زه په دې خبرو باور نه کوم، ځکه چې طبس له بابله لوی او پخوانی دی.

زه دومره ویلای شم چې د بابل پرتم تر طبس ډېر دی او د بابل ودانۍ او دیوالونه په طبس کې نشته.

په بابل کې دېوالونه دومره لوړ دي چې غره ته ورته وي او کورونه څلور یا پنځه پوړیز وي.

ما په هېڅ ځای، ان په طبس کې د بابل د تجارتخانې په شان سترې تجارتخانې نه دي لیدلې.

د بابل د خلکو خدای(مردوک) نومېږي خو د(ایشتار) عبادت هم کوي، د هغه لپاره یې یوه دروازه جوړه کړې. چې د ایشتار دروازه یا ارګ بلل کېږي او دغه دروازه په طبس کې د امون تر دروازې لوړه ده.

له دغه ارګ یا دروازې څخه د مردوک برج ته یو واټ غځېدلی او دغه برج یې داسې جوړ کړی، چې شاوخوا واټ یې تاو راتاو وي

په همدې ډول د برج څوکې ته رسېږي او دغه واټ دومره پلن دی چې څو ګاډي. څنګ په څنګ پکې تېرېدای شي.

ددغه برج په برنۍ برخه کې ستور پېژاند اوسېږي او هغوی د ستورو حرکتونه اندازه کوي ، بدمرغې او نیکمرغې ورځې معلوموي او ټول خلک د هغوی د قوانینو پر بنسټ عمل کوي.

ویل کېږي چې دغه منجمین د کواکبو او ستورو له مخې د راتلونکو پېښو اټکل هم کوي، خو په دې شرط چې دغه سړي ته چې غواړي له خپلې راتلونکې خبر شي باید د خپلې زوکړې ورځ او ساعت معلوم وي.

ما ته د خپلې زوکړې ورځ او ساعت معلوم نه و ، نو ځکه هغوی ته ورنه غلم

کله چې بابل ته ورسېدم له متې ختې د چورو ، لو حو په وسیله مې د بابل له تجارتخانو هغومره سره زر را وایستل چې په کار مې ول او بیا د ایشتار دروازې ته نژدې په یو څو پوړیز مېلمستون کې ایسار شوم.

دامېلمستون د هغو شتمنو د اوسېدو ځای وي، چې بابل ته راځي، خو په دغه ښار کې کور نه لري، لکه ایلچي خانان چې کله بابل ته راځي په دغو مېلمستونو کې اوسېږي او د مېلمستون په ستر روان تخت سره چې ځلو ښتو مریبانو لېږداوه د بابل باچا ته ورځي.

ددغه مېلمستون ټولې کوټې داسې دیوالونه لري چې خښتې یې نقاشي شوې اود هېنداري په شان دي.

کله چې یې څوک پر دېوالونو لاس راکاږي هېڅ ډول ځېږوالی او لوړې ژورې نه احساسوي.

ددې ودانۍ په چت کې چې له ځمکې ډېر لوړ دی ګلان کرل شوي او تر څو چې څوک یې ونه ګوري باور نه کوي او خیال کوي چې زه افسانه وایم.

دغه څو پوړیز مېلمستون چې(کوشک ایشتار)نومېږي له خپلې خدمې او مسافرو سره دومره ګڼه ګونه لري چې د طبس د یوې محلې په اندازه نفوس پکې راغونډ شوی ښکاري.

کله چې موږ په طبس کې و ، نو خلکو به ویل چې بابل د دنیا په ځنډه کې پروت دی او ترې ها خوا نړۍ نشته.

له دې وروسته چې زه بابل ته ننوتم او د هغه ځای له خلکو سره مې خبرې وکړې نو ډېر

څه مې واورېدل.

هغوی به ویل بابل د دنیا مرکز دی او د بابل ختیځ لور ته دومره ټاټوبي او ملتونه دي چې که څوک شپږ میاشتې شپه او ورځ سفر وکړي د دغو ځمکو پای ته به ونه رسېږي.

ما په دغو خبرو باور وکړ. ځکه چې په بابل کې مې داسې ملتونه ولیدل چې هېڅ یو یې په مصر کې نه دي لیدل شوي او حتی داسې کسان مې هم ولیدل چې پوستکي یې زېړ و.

دوی ټول سوداګر ول خپل شیان یې چې یو ډول نازک ټوکرونه ول په بابل کې خرڅول او ما له بابلیانو اورېدلي چې دغه ټوکرونه د پسونو له وړیو جوړ شوي.

دغه راز دوی ویل چې ځینې ټوکرونه یو مخصوص چینجی جوړوي. زه دې خبرې ته ډېر حیران شوم. ځکه چې تر هغه وخته مې نه و اورېدلي، چې چینجی دې ټوکر جوړ کړي

بابلیان سوداګر ملت دی او ټول په سوداګرۍ اخته دي حتی خدایان یې هم تجارت کوي.

هغوی له دې کبله له جګړې کرکه کوي چې جګړه د تجارت لارې بندوي او د شیانو د لېږدولو کاروانونه له لارو ببرته ستنوي.

بابلیان وایي باید تل ټولې لارې د نړۍ ټولو سیمو ته د تجارت لپاره پرانستلې پاتې وي سوداګران باید له هره ځایه په ازاده توګه راشي او هر چېرته لاړ شي.

خو له بابله د دفاع لپاره یې اجیر عسکر ګمارلي ول او دغو عسکرو د بابل برجونه او د بوالونه ساتل.

د دغو عسکرو د برېښ د ستورې چې د سرو او سپینو خولی لري په زړه پورې دي.

ما په سر کې خیال کاوه چې د هغوی خولۍ له زرې ټوکرو جوړې شوي. خو وروسته معلومه شوه چې خولۍ له برونزو جوړې شوې دي او پر مخ یې د سرو یا سپینو زرو یو پوښ ورکوي

عسکرو به د خپلو تورو لاستي له سرو یا سپینو جوړول چې وښیي شتمن دي.

ډېرې ښکلې جنګي ګاډۍ لري. چې ما یې ساری په نورو هېوادنو. ان په مصر کې نه دی لیدلی.

بابلیانو به ماته ویل اې مصریه! په کوم ځای کې دې دغسې ښکلې ګاډۍ لیدلې دي؟

ما به ځواب ورکړ نه؟

د بابل پاچا یو خلمی دی چې لا یې پر مخ ږیره نه وه راشنه شوې.

هغه چې کله پاچا شو نو پر زنې یې یوه ساختګي ږیره کېښوده چې وښیي ځوان شوی دی

زه کله چې بابل ته ننوتم وامې ورېدل چې د لوبو سامان او توکي یا لطیفې یې خوښېږي په مصر کې د طبابت مدرسه دارالحیات دی او دغه موسسه علمي مرکز حسابېږي.

خو په بابل کې د ښار علمي مرکز د مردوک علمي برج دی او ټول طبیبان او لوړ مقامه ستور پېژاندي هلته اوسي.

ما ډېر ژر د مردوک د برج له یو شمېر ستور پېژاندو او ډاکټرانو سره خبرې وکړې او معلومه شوه چې په بابل کې هومره چې نجوم ته توجه کېږي د طب علم ته دومره توجه نه کېږي.

بله دا چې په بابل کې د طب علم نظري و .نه عملي او زه کله چې د مردوک برج ته ننوتم ومې لیدل چې ډاکټران د ناروغیو د معالجې لپاره بحث کوي. له دې پرته چې پر مړیو کار او مطالعه وکړي.

په داسې حال کې چې په دارالحیات کې دانا پوهې علم ته ډېره توجه کېدله او ډاکټر تر هغه وخته پورې چې په خپل لاس جنازه تشریح نه کړي عملي معلومات نه شي ترلاسه کولای.

ما غوښتل چې دلته د مردوک د برج ډاکټرانو ته یو لړ یادونې وکړم، خو له دې کبله چې بابل ته نوی راغلی وم. فکر مې وکړ چې هغوی به خوابدي شي او تصور به وکړي چې زه ځان پر سوم او یا راغلی یم چې هغوی سپک کړم.

څوارلسم څپرکی

د بابل له پاچا سره کتنه

کله چې په (میتاني) کې وم تر بابل پورې مشهور شوم او زما د شهرت اوازې د بابل تر پاچا ورسېدې.

له دې وروسته چې ما په بابل کې په مېلمستون کې واوړل او د مردوک برج له ډاکټرانو او متخصصینو سره مې خبرې وکړې، یوه ورځ د بابل د پاچا له لوري یوه کس ما ته راغی او ویې ویل پاچا احضار کړی یې.

کله چې زما مریي کاپتا واورېدل چې د بابل پاچا غوښتی یم وډار شو او ویې ویل مه ځه.... ځکه چې سلطان ته تګ خطرناک دی.

ومې پوښتل د څه لپاره؟

کاپتا وویل دغه پاچا فرعون نه دی او موږ یې نه پېژنو.

موږ نه پوهېږو چې د هغه خدای څه ډول فکر کوي او هغه ته څه شی تلقین کوي، ممکنه ده له دې وروسته چې تا ووینې ستا د وژلو حکم وکړي.

ومې ویل کاپتا! زه یو ډاکټر یم، داسې کار مې نه دی کړی چې باید پرې ووژل شم او د بابل پاچا به مې ولې وژني؟

کاپتا وویل که غواړې هغه ته ورشې ما هم له ځان سره بوځه، ځکه که ووژل شې زه به هم درسره ووژل شم ،ځکه چې ستا له وژنې وروسته زما په شان یو بوډا مریی هم ژوندی نه شي پاتې کېدای.

بله دا چې که غواړې پاچا ته ورشې ووایه چې تا ته یو روان تخت راوړي، چې په درناوي د پاچا دربار ته ولاړ شې، ځکه چې د مصر یو تکړه ډاکټر چې په دارالحیات کې یې زده کړې وي یو ستر سړی وي او د دې ورتیا لري چې په درناوي سره یې هرکلی وشي او در ییمه خبره داده چې نن پاچا ته مه ورځه.

پوښتنه مې وکړه د څه لپاره نن ورنه شم؟

کاپتا وويل څکه چې د بابل ټولو تجارتخانو ، دکانونو او کارګرو نن رخصتي کړې ده ، ددې لپاره چې دهغوی ستورپېژاندي وايي، نن کار کول او له کوره د باندې تلل بد مرغي لري ، علت يې دا دی چې نن د اووني اوومه ورځ ده.

ما په حيرانۍ وپوښتل اووني څه شی دی ؟ مريي مې وويل: کله چې ته د مردوک برج ته ولاړې چې له ډاکټرانو سره خبرې وکړې د مېلمستون له کارکوونکو سره د خبرو په ترڅ کې پوه شوم چې دلته يې يوه مياشت پر څلورو برخو وېشلې او هره برخه يوه اووني بولي.

اونۍ اووه ورځې وي. چې شپږ ورځې يې کار کوي او اوومه ورځ له کارونو رخصت اخلي. څکه ستورپېژاندي چې له ستورو او خدايانو سره ارتباط لري د خدايانو له قوله وايي چې پر اوومه ورځ کار کول بد شګوم لري او شومه ورځ ده.

بايد پر دغې ورځې څوک له کوره ونه وځي، بازار ته ولاړ نه شي او بايد د هغوی په کورنو کې دوستان او خپلوان هم ونه ليدل شي.

. ما له لږ فکر کولو وروسته کاپتا ته وويل سمه خبره کوې. له دې کبله چې دلته پر اوومه ورځ کار کول او له کوره وتل خطرناک ګڼي نو موږ هم که بهرنيان هم يو خو بايد ددغې سيمې د دودونو پيروي وکړو.

څکه چې حتی د بابل خدايان هم د يوه علت او مصلحت له مخې دغه ورځ د کار کولو لپاره تاواني بولي او که موږ پر دغې ورځ پاچا ته ورشو له بد شوګوم سره به مخامخ شو.

وروسته مې د پاچا استازي ته وويل زه تعجب کوم چې ته ولې ما پر دغې اوومه ورځ د سلطان دربار ته احضاروې، په داسې حال کې چې پوهېږې نن د کار کولو ورځ نه ده.

ولاړ شه او زما له خولې پاچاته ووايه چې سبا به هغه ته ورشم. په دې شرط چې ماته يو روان تخت راولېږې چې زه پرې سپور شم ، څکه چې زه کوچنی سړی نه يم او غوره به داوي چې په ډېر درناوي زما هرکلی وشي.

هغه سړی ولاړ او پر بله ورځ راغی، موږ وليدل چې يو کوچنی روان تخت يې له هغو تختونو څخه راوړی و، چې سوداګر دربار ته د خپلو شيانو د وړاندې کولو لپاره پرې سپرېږي او پاچاته ورځي.

کاپتا چې کله وليدل نو ويې ويل زه د مردوک له خدايه غواړم چې پخپلې مترو کې سره چې له غټو لړمانو جوړه شوې ده تاسې ته سزا درکړي... تاسې څنګه پوه نه شوئ چې زما بادار داسې سړی نه دی چې په دغه روان تخت سپور شي، ډېر ژر يې بيرته يوسئ چې مخ

مو ونه وینم.

هغو مریيانو چې روان تخت یې راوړی و، کله چې دغه خبره واوریده حیران شول، یو شمېر کسان د مېلمستون په مخکې راټول شول او په خندایې کاپتا ته ویل، موږ غواړو ستاسې بادار وګورو او پوه شو چې ولې دغه روان تخت د هغه لپاره وړوکی دی؟

کاپتا د مېلمستون له خاونده یو روان تخت چې پینځوس مریيانو لېږداوه د پاچا مانۍ ته زما د تګ لپاره کرایه کړ او زه له مېلمستونه راکوز شوم.

کله چې خلکو زه په مصري جامو کې او د سرو سپینو له امیلونو سره ولیدم غلي شول او نور یې ملنډې ونه وهلې.

ځکه چې پوه شول دا داسې یو بهرنی د بابل د پاچا مانۍ ته ورځي چې پخپل هېواد کې هم درونډ او ډېر اهمیت لري.

د مېلمستون یو مریی د روان تخت ترشا زما د طبابت وسایل په یوه مخصوص صندوق کې لېږدول او زما مریی د روان تخت مخې ته پر یوه خره سپور روان و.

موږ په دغو تشریفاتو د پاچا مانۍ ته ورسېدو او د ښار یو شمېر او سېدونکي تر مانۍ پورې په موږ پسې روان ول.

هلته زه له تخته کوز شوم. د مانۍ مخې ته یو شمېر سپاهیانو خپلې زغرې په داسې ډول سره یوځای کړې وې چې د یوال یې ترې جوړ کړی و.

کله چې یې زه ولیدم خپلې زغرې یې لېرې کړې، موږ ته یې لاره راکړه. زه د هغوی په منځ کې تېر شوم او مانۍ ته ننوتم.

یو بوډا چې خړیل شوې ږیرې او ګونځې څېرې یې د پوهې او علم شاهدي ویله ماته رانژدې شو او ویې ویل. زه له هغې غوغا څخه خبر شوی یم چې تا په ښار کې جوړه کړې ده.

د څلورو فصلونو خاوند (د بابل پاچا ـ ژباړن) پوښتنه کوي دغه سړی څوک دی چې کله یې خپل زړه وي زموږ لیدو ته راځي او کله چې یې زه احضاروم له راتلو ډډه کوي.

ما د هغه په ځواب کې وویل اې بوډا! ته څوک یې چې له ما سره دغه ډول خبرې کوې.

هغه وویل د څلورو فصلونو د خاوند ځانګړی ډاکټر یم او په بابل کې د ښه نوم او درناوي خاوند یم. خو ته څوک یې چې د سرو او سپینو د تر لاسه کولو لپاره دې غوغا جوړه کړې او کله چې د څلورو فصلونو خاوند احضار کړې را نه غلې.

زه دې لا سم نه پېژنم خو په دې پوه شه چې که د بابل پاچا سره او سپین در کړل باید

نیمایي یې ماته راکړي. ګني زه به دي پرې نه ږدم چې ته دلته طبابت وکړې
ما ورته وویل اې بوډا زه هېڅکله د سرو او سپینو په اړه له هغو کسانو سره چې پوښتنې کوي او د فلز غوښتونکي وي خبرې نه کوم.
دغه کار زما مریي پر غاړه اخلي، خو له دې کېبله چې ته یو ډاکتر یې او بوډا هم یې نو زه دې دوستي تر دښمنۍ غوره بولم او غواړم چې له تا سره دوستي وکړم.
خو ددې لپاره چې پوه شې زه د سرو او سپینو د ټولولو لپاره بابل ته نه یم راغلی بلکې د علم د زده کولو نیت لرم. نو خپل دواړه بازو بندونه چې د سرو زرو دي تا ته بښم.
له دې خبرې وروسته مې خپل دواړه بازو بندونه له مټو خلاص کړل او هغه ته مې ورکړل.
هغه دومره خوشحال او حیران شو چې نور یې څه ونه ویل او موافقه یې وکړه چې زما مریی کاپتا هم له ما سره پاچا ته ولاړ شي.
د بابل پاچا (بورا بوریاش) نومېده کله چې زه هغه ته ورغلم تصور مې کاوه چې ماشوم دی، ځکه چې ماته یې ویل شوي ول. کله چې هغه پاچاشو نو ږیره یې نه وه او مصنوعي ږیره یې کېښوده.
ما چې پاچا ولید نو اوس هغه ځوان شوی و.
وروسته داسې راته معلومه شوه هغه چا چې د هغه په هکله ماته مخکې معلومات راکړي ول ، پاچا یې پخوا لیدلی و.
په عامو خلکو کې دغه خبرې ډېرې وې چې د عمر تېرېدل هېروي او دا نه په زړه کوي چې هر ماشوم لوییږي او د ځوانۍ پړاو ته رسیږي.
د(بورا بوریاش)په څنګ کې یو کوچنی زمری زما په لیدو سره وغرېد.
بوډا چې ویل یې د پاچا ډاکتر دی د ننوتو په وخت کې سجده وکړه او زما مریي هم د هغه تقلید وکړ خو یوځل بیا زمری وغرید ، زما مریی داسې وډارشو چې له ځایه پاڅېد او چیغې یې کړې.
پاچا چې ورته وکتل ویې خندل.
کاپتا وویل دغه قهرجن ځناور له دغه ځایه بوځئ، ځکه چې ما په ټول عمر کې د هغه په شان وحشي ځناور نه دی لیدلی.
د دغه ځناور غږ د طبس د جنګي عسکرو د هغو ګاډیو د غږ په شان دی چې مازدیګر

خپلو چونیو ته ځي.

کاپتا دغه جملې په بابلي ژبه بیان کړې او پاچا داسې خندل چې له سترګو یې اوښکې روانې وې.

بیا یې په یاد شول چې زه یې د خپلې ناروغۍ د معالجې لپاره احضار کړی یم او په مخ یې لاس کېښود، زګیروی یې وکړ.

ما ولیدل چې په مخ کې یې پړسوب لیدل کېږي او د مخ د پړسوب له امله یې یوه سترګه نه ښکاري.

بوډا چې له ما څخه یې دوه بازو بندونه اخیستي ول، وویل دا همغه په ځان مین مصري ډاکټر دی چې تا پرون احضار کړی و، دی رانه غی

او ویې ویل چې نن راځي.

نو ښه به داوي چې خپلو عسکرو ته ووایې چې همدا اوس یې په خپلو نېزو خېټه سوری کړي.

پاچا وویل زه به یې اوس ونه وژنم ځکه ددې لپاره مې احضار کړی چې زما درد له منځه یوسي. دا څو شپې و شوې چې خوب مې نه دی کړی.

دا څو ورځې کېږي چې له اوبلنو خوړو پرته مې بل شی نه دی خوړلی..

بوډا لکه چې څوک ژاړي وویل اې دځلورو فصلونو مالکه! موږ په دې څو ورځو کې د مردوک په معبد کې ستا لپاره قرباني وکړې او سرې جامې مو واغوستې، ډولونه مو ووهل او نڅاوې مو وکړې چې ستا په خوله کې ځای شوی درد له هغه ځایه بهر کړو.

خو تا موږ ته اجازه رانه کړه چې ستا خولې ته لاس دروړو. که دغه اجازه دې راکړې وای ستا علاج مې کولای شو، زه تصور نه کوم چې دغه بېګانه سړی دې معالجه وکړای شي.

پاچا ما ته وویل ته څوک یې او په دې پوهېږې چې زما د دغه درد وجه څه ده؟

ما وویل زه سینوهه مصری ډاکټر او ابن الحمار یم، که څه هم چې لا مې ستا خوله نه ده لیدلې خو ویلای شم چې ستا درد له دې امله دی چې ستا د اسیاب یو غاښ چرک کړی دی او دغه چرک ستا د غاښ په ریښه کې پټ شوی، پړسوب یې رامنځته کړی او ستا د مخ پړسوب هم دغاښ د چرک له امله دی.

ددغه چرک د رامنځته کېدا علت دا دی چې تا خپل غاښونه پخپل وخت نه دي پاک کړي او کله چې د غاښونو ریښه خرابه شوې هغه دې نه ده ایستلې.

کله چې د غابښ ریښه خرابه او چنجنه شي باید غابښ وایستل شي.

پاچا وویل زه هم پوهېږم چې کله د غابښ ریښه خرابه شي باید هغه وایستل شي خو د غابښ د ایستلو درد دومره سخت وي چې د زغملو نه وي.

ما وویل په مصر کې د غابښونو د ایستلو درد سخت نه وي، که ته وغواړې زه به دې غابښ له درد پرته وباسم، خو نن دغه کار نه شو کولای، ځکه چې ستا غابښ پړسېدلی، لومړی یې باید پړسوب کم شي او د غابښ په ریښه کې موجود چرک وایستل شي بیا له څو ورځو وروسته باید غابښ وایستل شي.

پاچا وویل ایا زما له غابښه دغه چرک ایستلی شې.

ما وویل هو.

زه اړیم چې ستا د غابښ چرک وباسم چې ستا د غابښونو پړسېدلی ځای سوری کړم او دا چې د طبس د ډاکټرانو له رودې کار واخلم چې د هېر درد ونه زغمې.

خو دا درته وایم چې د چرک د ایستلو لپاره د پړسېدلي ځای سوری کول به لږ درد ولري ځکه خدایانو چې درد رامنځته کړی پاچاهان یې ترې نه دي خوندي کړي او هغوی هم باید د عامو کسانو په شان درد وزغمي.

ما کاپتا ته وویل چې سمد ستي اور بل او برابر کړي چې زه خپله چاره پکې پاکه کړم.

کله چې هغه اور چمتو کاوه ما د بابل پر پاچا لږ شراب او تریاک وخوړل

کله چې هغه شراب وڅښل او لږ وخت پرې تېر شو، نو ویې ویل خیال کوم چې تا نوره اړتیا نه لرم ځکه چې درد مې ښه شو.

ما ورته وویل د درد دغه تسکین موقتي دی، لږه شېبه وروسته به درد بیا سخت شي.

هغه وویل ممکنه ده بیا هم دغه درمل راکړې، چې درد مې له منځه ولاړ شي.

ما وویل هغه درمل چې زه یې په شرابو کې اچوم او تا ته یې درکوم یوازې یو ځل له تاوان پرته د استفادې وړ وي، که دویم او درېیم ځل وخوړل شي نو سړی پرې روږدی کېږي او بیا به له دې پرته چې درد دې ارام کړي ته د ژوندي پاتې کېدو لپاره دغو درملو ته اړتیا لرې.

نو اوس اجازه راکړه چې ستا درد کم شوی دی، زه ستا د غابښ د بېخ دانه سوری کړم او چرک ترې وباسم.

د بابل پاچا له دې وروکي جراحي عملیاتو سره موافقه وکړه، له دې وروسته چې

ما خپله چاره په اور کې پاکه کړه او بیرته مې سره کړه ورنژدې شوم . د هغه سر مې په غېږ کې ونیو . خوله مې یې پرانستله.

له دې سره سره چې د اپیمو د خوړولو له امله یې درد کم شوی و . خو کله چې مې د هغه د خولې دانه سوری کړه چیغې یې ووهلې . زمري یې پاځېد .لکۍ یې وښوروله خو حمله یې ونه کړه.

له هغه وروسته د بابل پاچا ژګیروی ونه کړ ځکه چې درد یې له منځه تللی و او د هغه له خولې د چرک او زوې راوتو نه پرېښود چې خبرې وکړي.

کله چې ما د خولې زوې او چرک ور وایستل نو ویې ویل اې مصري ډاکټره ! ته ډېر ګران بیه سړی یې ځکه چې زه اوس درد نه احساسوم. بوډا ډاکټر چې هلته ولاړ و وویل که ما ته دې اجازه راکوله چې د خولې دانه دې سوری کړم . د همدغه مصري په شان مې ستا د خولې چرک او زوې راایستلې او درد به دې کم شوی و.

ما وویل دغه سړی سمه خبره کوي . که پاچا پرې ایښی وای چې د خولې دانه یې سوری کړي همدا نتیجه به یې اخیستې وای.

خو دغه بوډا جرئت نه درلود چې ټینګار وکړي ستا د خولې دانه سوری کړي . ځکه ستا له قهره وېرېده.

په داسې حال کې چې باید یو ډاکټر جرائت ولري او د ناروغان که پاچا هم وي له کاوره و نه ډار شي.

زه په طبس کې هېڅکله له ناروغانو نه ډارېږم.

د بابل پاچا چې له درده په کرار شوی و وویل :سینوهه که څه هم چې جرار سړی یې او په جرئت خبرې کوې . خو د لیاقت له کبله ستا له دې سپینې سترګې تېرېږم.

دلته باید هېڅوک یو پاچا د ژګیروي په حال کې ونه ګوري او ستا مریې زه د ژګیروي په حال کې ولیدم خو زه له دې هم تېرېږم.

ددې لپاره چې ستا مریې زه خندولی یم او زما ساعت یې راتېر کړی او بیا یې کاپتا ته وویل یو ځل بیا هم ټوپ کړه او ما وخندوه.

کاپتا وویل زه دغه کار نه کوم . ددې لپاره چې زما عمر پوخ شوی او زما له حیثیت او عزته سره نه ښایي.

پاچا وویل زه به اوس داسې کار وکړم چې ته خپل د بوډاتوب حیثیت او وقار له لاسه

ورکړي.

پاچا خپل زمري ته اشاره وکړه، زمری پاڅېد او پاچا کاپتا خپل زمري ته وښود، ځناور خپل غټ سر د کاپتا پر لور کړ او بيا ورو د هغه پر لور روان شو.

زمری چې هر څومره کاپتا ته ورنژدې کېده زما مر يې هومره په شا روان و، تر هغه چې يوې ستنې ته ورسېد.

په دې وخت کې زمري خوله خلاصه کړه او وغرېد، کاپتا له ډاره ستنه کلکه ونيوله او د يوې بيزو په شان چې په مصر کې ونو ته پورته کېږي ستنې ته وخوت.

پاچا داسې خندل چې ښې لوري، کيڼ، او مخکې او شاته به کږوپ شو او کله چې له خندا موړ شو ويې ويل چې ورېيم خواږه راته راوړئ.

بوډا طبيب له دې چارې خوشحال شو، ځکه چې ډوډۍ ته د پاچا اشتها دا څرګندوله چې هغه روغ شوی او اشتهايې بېرته راګرځېدلې.

له څو شېبو وروسته يې ډوډۍ ورته راوړه.

کله چې پاچا ډوډۍ خوړل پيل کړل، نو زمامريي ته يې نوره توجه ونه کړه، زمری هم د ستنې له بېخه پاڅېد او پاچاته ورغی.

له دې سره زما مريی هم له ستنې راکوز شو او په غولي يې پښه کېښوده.

ما پاچا ته وويل اوس ستا د غاښ درد کرار شوی دی، خو له دې کبله چې غاښ دې خراب شوی، بيا به دې غاښ درد پيدا کړي نو بايد ويې باسې.

زه فکر کوم چې ته له خوږو سره علاقه لرې او ستا غاښونه ډېرې شېرينۍ خراب کړي دي، ځکه چې دلته له خرما څخه شرينۍ جوړوي او د خرما شيره غاښونو ته زيان رسوي.

په مصر کې شيريني له هغو خوږو څخه جوړوي چې يو ډول حشرې يې توليدوي او دغه خواږه غاښونو ته تاوان نه رسوي.

پاچا وويل حشرې خواږه جوړولای شي ؟

ومې ويل هو په مصر کې يو ډول حشره شته، چې هغوی مچيو ته ورته دي خو له مچيو وړې دي.

دغه حشرې پر خرما کېني، يو ډول خواږه ترې جوړوي چې غاښونو ته هم تاون نه پېښوي او د بدن له مضبوتيا او کلکوالي سره مرسته کوي.

پاچا وويل ته زموږ له خوش باورۍ استفاده کوې او دروغ وايې، مچۍ خواږه نه شي

جوړولای.

ومې ویل یو رښتینی سړی له سختو حالاتو سره مخامخېږي، ځکه چې که رښتیا ووايي نور پرې اعتماد نه کوي.

همغه ډول چې ته باور نه کوې په مصر کې مچۍ خوا ږه جوړوي، که زه هم مصريانو ته ووايم چې په بابل کې داسې مرغه شته چې الوت نه کوي خو له انسان سره ژوند کوي او هره ورځ د تمساح د هګۍ په شان هګۍ اچوي زما پر دې خبرې به هم هېڅوک باور ونه کړي.

که زه و کړای شم دغه هګۍ به مصر ته یو سم چې خلک يې وګوري او زما خبره ومني چې زه دروغ نه وايم.

پاچا وویل اوس راشه له ما سره ډوډۍ وخوره، ما ورته وویل په یوه شرط له تا سره ډوډۍ خورم، هغه دا چې امر وکړې د مېلمستون هغو مريیانو ته هم ډوډۍ ورکړي چې زه يې په روان تخت کې دلته راوستی یم ځکه چې هغوي هم وږي دي.

پاچا امر وکړ چې مريیانو ته هم ډوډۍ ورکړي او پر هغوی زما د خرما شراب وڅښي ځکه چې په بابل کې شراب له خرما جوړېږي

پینځلسم څپرکی

د راتلونکیو پیښو اټکل کول

کله چې ماغوښتل له سلطنتي ماڼۍ څخه ووځم پاچا وویل سینوهه! موږ یو جشن لرو او دا د مصنوعي پاچا جشن دی.

پر دغه ورځ باید راشې او دغه جشن وګورې ځکه چې باوري یم په مصر کې دغسې جشن نشته.

ومې ویل ډېر ښه، رابه شم.

پاچا په خندا وویل پر دغه ورځ به ستا مریی په زړه پورې وي. ومې پوښتل ولې؟ پاچا وویل ددې لپاره چې ډېر خلک به وخندوي. مېلمستون ته دستنېدا پر وخت زما د روان تخت لېږدونکو مریيانو چې په خوړو او شرابو ښه ماړه شوي ول سندرې ویلې او زما ستاینه یې کوله هغه خلک چې په هغوی پسې روان ول هغوی هم د مریيانو په شان سندرې ویلې او زما ستاینه یې کوله.

دې موضوع زه په بابل کې مشهور کړم او خلکو به ویل مصری ډاکټر سینوهه داسې سړی دی چې د خپل روان تخت مریان هم مړوي

تر دې وړاندې چې د مصنوعي پاچا یا د دروغو د پاچا جشن (چې زه فکر کوم په بابل او یا بل کوم ښار کې به نه وي) پیل شي (او زه به یې وروسته کیسه وکړم) ټاکل شوې وه د بابل د پاچا غاښ وباسم. نو (بورا بوریاش) احضار کړم. ما د غاښ تر ایستلو مخکې د هغه په رګ کې اپیم دننه کړل او له درد پرته مې د هغه غاښ وایست.

هلته موجودو بابلي ډاکټرانو خیال کاوه چې پاچا به له دې امله ما ووژني چې د غاښ د ایستلو پر وخت به ډېر درد احساس کړي، خو هغوی حیران شول او له مایې پوښتنه وکړه چې پاچا ولې درد احساس نه کړ؟

ما وویل هغه درمل چې ما د هغه په رګونو کې ورکړي و، د درد د ختمولو خواص لري او د مصر لومړۍ درجه درمل دي.

دغه درمل د یوه بوټي له پوستکي تر لاسه کېږي.

دغه بوټی یوازې مصري کاهنین کاروي، دهغوی دنده د دغو بوټو له پوستکو د دغو درملو جوړل دي او هېڅکله د دغو درملو د جوړولو راز عامو خلکو ته نه وربښیي.

د دې لپاره چې دغه درمل هر ډول درد له منځه وړي، که د خلکو لاس ته ورشي بیا به خلک له درده نه وېرېږي او د ټولنې نظم ورسره ګډوډ ېږي ځکه چې بیا به څوک له جسمي ځورونې او شکنجې څخه نه ډارېږي.

پاچا وویل زه غواړم له دغو درملو لږ ولرم.

ومې ویل زه به لږ درکړم په دې شرط چې زما له لاربښوونې پرته یې استعمال نه کړې، ځکه که دغه درمل له ضروري لاربښوونې پرته استعمال شي د زهرو په شان به وژونکي شي.

پاچا وپوښتل اوس چې زما غاښ دې له درد پرته راایستی دی. ووایه څه انعام درکړم؟

ومې ویل زه سرو او سپینو ته اړتیا نه لرم ځکه چې له خپل علم څخه سره او سپین ترلاسه کولای شم. خو زه غواړم ستا قدرت ووینم او وګورم چې څومره سپاهیان او لښکري لرې. ځکه کله چې مصر ته ستون شم ستا د قدرت مدح به وکړم او ټول به ستا د صفتونو په اورېدو سره حیران شي.

زه غواړم امر وکړې چې ستا ځواکونه دې پریډ وکړي چې ستا عسکر او جنګي ګاډي وګورم.

پاچا زما غوښتنه ومنله او زه له دې کبله ډېر خوشحاله شوم ځکه چې د بابل د پاچا په پوځي قدرت پوهېدای شوم.

له پریډ مخکې مې کاپتا ته وویل چې د بابل د پاچا عسکر او جنګي ګاډي دې وشمېري او پوه دې شي چې د بورا بوریاش په پوځ کې څومره عسکرا و ګاډي شته.

کاپتا وویل زه دومره عددونه له کومه کړم چې د هغو په وسیله د بابل ټول عسکر وشمېرم. ځکه چې ویل کېږي د بابل د عسکرو شمېر د دښتو د شګو په اندازه دی.

ومې ویل احمقه! اړتیا نشته چې ټول عسکر یو یو وشمېرې هر ټولی د یوې نښې ترشا حرکت کوي او که ته هره نښه وشمارې د عسکرو شمېره هم جوتېږي.

د پریډ پر وخت پاچا مصنوعي ږیره په زنې کېښوده. ما کتل چې یوازې هغه عسکر چې په بابل کې دي نیزې لري او هغه چې په ولایتونو کې د پریډ لپاره احضار شوي، زیاتره یې نیزې نه لري او د ټولو سترګې معیوبې دي.

ما شپېته ځله د شپېتو ډلو عسکرو تېرېدل چې خاصې نښې یې درلودې و شمېرل او پوه شوم چې هر ټولی عسکر شپېته ځله شپېته عسکر دي.

ځکه چې په بابل کې شپېته مقدس عدد دی او د پاچا جنګي ګاډي هم شپېته ځله شپیته ګاډي دي.

ګاډي یې له ځانګړي فلزه چې او سپینه بلل کېږي جوړې کړې دي او تر هرې ګاډي لاندې دوه ستر غشي راوتلي چې په جنګ کې ډېر خطرناک وي.

خو دغه غشي زنګ وهلي ول او د ځینو ګاډیو ارابې هم د پرېږ پر وخت له خپل ځایه ر اوځي.

عسکرو په شپېته کسیزو لیکو کې حرکت کاوه چې پرېږ ژر پای ته ورسېږي او ټولې ګاډي د پېنځلسو ګاډیو په لیکه کې د پرېږ لپاره تېرېدلې.

د بابل د پاچا په عسکرو کې یوازې د مخصوص ګارډ عسکر ډېر په زړه پورې ول، خو ځینې پکې دومره چاغ ول چې په اسانه تللی نه شول او د هغوی پرېږ نندارچیانو ته د ساعت تېرې لامل و.

کله چې شپه شوه پاچا ور وغوښتم او ویې ویل سینوهه! نن دې زما لښکر ولید ومې ویل. ستا د لښکرو ننداړې نن زما سترګې توری کړې، ځکه چې ستا عسکر د سمندر د څنډې تر شګو او د اسمان تر ستورو ډېر دي او زه ستا د لښکرو له لیدو ورسته پوه شوم چې ته د ځمکې تر ټولو پیاوړی پاچا یې.

د بابل پاچا وویل سینوهه! ستا د غوښتنې منل ماته ډېر ګران ول ځکه چې ما پرېږ تیار کړ او باید ترڅو ورځو پورې چې عسکر له دې ځایه بېرته خپلو ولایتونو ته ځي باید هغوی ته خواړه ورکړم او د هغوی د خوړو لګښت به په یوه کال کې زما د یوه ولایت د مالیاتو په اندازه وي.

په دې څو ورځو کې چې عسکر د لته دي ډېرې سترې رسوایی به رامنځته شي او ددې لپاره چې په ښځو تېری کوی، څوک یې مخه هم نه شي نیولی.

له هغه وروسته چې دوی ولاړل تر یوه کاله پورې به لارې ناامنه وي، ځکه چې دغه عسکر چې ترڅو خپلو کلیو ته رسېږي په لارو کې چې هر څوک ګوري لوټوي یې.

خو له دې سره سره په دې ډېر خوشحاله یم چې خپل پوځ مې تاته در وښود او تا زما قدرت ولید.

خو اوس دا راته ووایه چې د مصر فرعون لور لري؟
ومې پوښتل چې د مصر له فرعون سره دې څه کار پاتې دی؟
دبابل پاچا وویل، زه غواړم چې د هغه لور زما خورشي، که څه هم اوس څلور سوه ښځې لرم. خو یوه هم پکې د مصر د پاچا لور نه ده او زه ډېر غواړم دا سې یوه مېرمن ولرم چې د مصر د فرعون لور وي.
ما وویل (بورا بوریاش) په دې پوه شه، له هغې ورځې چې دغه دنیا جوړه شوې د مصر د فرعون لور تل د خپل ورور ښځه وي او که ورور ونه لري بیا مېړه نه کوي، بلکې معبد ته ځي او کاهنه کېږي.
دغه خبره چې ته یې کوې د مصر د خدایانو له نظره کفر دی، خو زه ستا له خبرو نه خوابدی کېږم ځکه چې ته د مصر خدایان نه پېژنې.
د بابل پاچا وویل ما فیصله کړې چې د فرعون د لور مزه وګورم او پوه شم چې له هغې سره څملاستل څه ډول خوند لري.
که فرعون خپله لور ماته رانه کړي، زه به خپل لښکر د مصر خاورې ته دننه کړم، مصر به وران کړم او د هغه لور به په زور د ځان کړم.
ما وویل (بورا بوریاش) د مصر فرعون لا ډېر ځوان دی او نوی واده یې کړی، لور نه لري.
که فرض کړو چې د مصر خدایانو پرېیو ته د فرعون د لور ورکول منع کړي نه دي، خو هغه لور نه لري ځکه یې تا ته نه شي درکولای.
نو صبر وکړه چې هغه د لور خاوند شي او بیا د هغه له لور څخه د استفادې فکر وکړه.
پاچا وویل سینوهه! زه نن د ننداري په ډګر کې ډېر ناست وم، د عسکرو پرېډ مې وکوت او اوس ډېر ستړی یم غواړم خپل حرم سرای ته ولاړ شم او له ښځو سره ساعت تېر کړم.
ته هم چې ډاکټر یې او هر چېرته تللی شې له ما سره راشه او زه به په هغوی کې یوه موقتاً تاته درکړم چې خپل ساعت ورسره تېر کړې خو پام کوه چې هغه امېندواره نه کړې ځکه که حامله شوه ستونزه به پېښه کړي او ټول به وایي چې له ما حامله شوې.
ومې ویل (بورا بوریاش)دغه خبره مه کوه، ځکه د شرم خبره ده چې یو سړی خپله ښځه په موقته توګه بل چاته ورکړي چې ورسره ساعت تېر کړي.

بورابورياش وويل، ولې د شرم خبره ده که زما ښځې پوه شي چې زه حاضر يم يوه پکې بل چاته ورکړم چې تفريح ورسره وکړي ډېرې به خوشحاله شي، ځکه چې زه په يوازې سر له څلور سوه ښځو سره تفريح نه شم کولای.

بيا يې له ما پوښتنه وکړه چې ته څو ښځې لرې؟ ما وويل، زه ښځه نه لرم.

بورا بورياش په حيرانۍ وپوښتل ته ايجړا يې؟

ومې ويل نه

د بابل پاچا وپوښتل که ايجړا نه يې څنګه له ښځو پرته ژوند کولای شې او څنګه طبابت کوې. ځکه کله چې يو سړی له ښځې سره تفريح ونه کړي فکر يې پريشانه وي او خپل کار ښه نه شي کولای.

که غواړې له ژونده خوند واخلې زما په شان له بېلو بېلو ملتونو ښځې وکړه او ددې لپاره چې هره ښځه د خپلو ملي دودونو په اساس په يو ډول ساعت تېرې کولای شي نو ته به هر ځل بېل بېل خوند اخلې.

سره له دې چې نه مې غوښتل حرم سرای ته ننوځم خو د بابل پاچا له ځان سره بوتلم او ما کتل چې د هغه ښځې له بېلابېلو ملتونو دي، ټولې ځوانې او ښکلې دي او هرې يوې خپلې ملي جامې اغوستې دي.

له دې کبله چې ځينې ښځې د مريبيانو د پلورونکو له لوري له نورو هېوادونو راوړل شوې دي. په بابلي ژبه يې خبرې نه شوای کولای، خو ټولو خندل او هرې ښځې هڅه کوله چې د پاچا پام ځانته جلب کړي.

کله چې يې واورېدل پاچا غواړي خپله يوه ښځه موقتاً ماته راکړي چې پرې ساعت تېر کړم نو هڅه يې کوله چې زما پام هم ځانته جلب کړي.

پاچا راته وويل هرې يوې ته دې چې زړه کېږي خوښه يې کړه، خو ما ټولې غوښتلې او په هغوی کې مې يوه نه شوای غوره کولای.

پر دې سربېره د پاچا له قهر او د فيصلې له بدلونه وېرېدم. ځکه کله چې انسان له يوه هوسي پاچا سره وي بايد احتياط وکړي ځکه چې د پاچا نظر ناڅاپه بدلېږي.

له همدې امله مې وويل زه په سفر کې يم او د علم د ترلاسه کولو لپاره راغلی يم نو ښځه نه کوم. ځکه چې زموږ خدايانو ويلي که کله علم زده کوئ له ښځو کولو ډډه وکړئ.

اې د مصر خدايانو زه درڅخه بښنه غواړم چې دغه دروغ مې ستاسې له خولې وويل

خو ددې لپاره چې د بابل پاچا قانع کړم بله چاره مې نه درلوده.

کله چې ښځې پوه شوې زه یوه هم نه غواړم پر ما یې ملنډې ووهلې او ویې ویل داسې ښکاري ته هم دهغو خوجه ګانو (خواجګانو) په شان یې چې په حرم سرای کې کار کوي او له ښځو سره ساعت تېری نه شي کولای.

پاچا چې تصور کاوه ما ته د خپلې یوې ښځې په راکولو سره به ماډېر خوشحاله کړي، خپه شو او ویې ویل که تا دغابښ له درده نه وای ژغورلای او س مې امر کاوه چې تا ووژني.

بیا یې زه رخصت کړم او تر دې وړاندې چې ولاړ شم بیا یې د دروغو د پاچا د جشن خبره وکړه او ویې ویل پسرلی راغلی دی، د دروغو د پاچا دجشن وخت نژدې شوی او ځان له دې جشنه خوند اخیستو ته چمتو کړه.

تر دې وړاندې چې ددروغو د پاچا د جشن په هکله خبرې وکړم باید د هغې موضوع یادونه وکړم چې په ما پورې اړوند ېږي.

یوه ورځ د هغې هېندارې کتلو ته په مردوک برج کې ولاړوم چې یو شی لوی ښکاره کوي.

دغه هېنداره چې د نړۍ په بل ښار کې نشته په بابل کې جوړېږي او یوه پنډه او ډېره رڼه هېنداره ده چې د یخ د یوې ټوټې په شان ځلېږي. کله چې انسان ددې هېندارې تر شاکوم شي ته ګوري نو هغه شی دومره لوی ښیي چې سړی ډاروي.

پر هغې ورځ چې زه ددې هېندارې کتلو ته ولاړم یو مېږی یې راوړ. ماهېنداره په لاس کې ونیوله او له شا مې هغه مېږی پکې ولید.

لږ پاتې و چې له ډاره وتښتم ځکه چې مېږی دومره لوی شوی و چې د اوبو اس ته ورته شو.

له دې وروسته چې د جسم لویوونکې هېنداره مې ولیده د برج پورتنۍ پوړ ته ولاړم چې ستورپېژاندي پکې دیره دي.

له هغوی مې وغوښتل چې زما طالع وګوري.

له دې کبله چې زه نه پوهېدم په کومه نېټه او چیرته پیدا شوی یم هغوی زما د راتلونکې په اړه اټکل ونه کړای شو. خو ماته یې وویل ته مصری نه یې.

ما وویل په دې کې شک نه شته چې زه په یوې تو کړۍ کې وم چې په نیل کې یې حرکت کاوه او هغې ښځې چې په زوی ولې ومنلم تو کړۍ یې له اوبو رااخیستې وه.

ستور پېژاندو ، وویل سره له دې چې ته بې په نیل سین کې موند لی یې ته نه د مصر یې او نه د کوم بل هېواد ،د نړۍ هرګوټ ته چې ولاړ شې هلته به پردی وبلل شې.
ومې ویل ستاسې دغه خبره د منلونه ده، ځکه په ټوله نړۍ کې به بالاخره داسې ځای وي چې هلته زېږېدلی یم. هغه ځای به زما ټاټوبی وي او زه په هغه هېواد کې پردی سړی نه بلل کېږم.
ستور پېژاندو ، وویل ، په نړۍ کې داسې ځای نشته چې ته پکې زېږېدلی یې.
ومې ویل بیا نو زه چیرته زېږېدلی یم ؟
یوه ستور پېژاندي وویل، ښایي ته د خدایانو زوی یې او له اسمانه ځمکې ته راغلی یې.
ومې ویل، زموږ په هېواد کې یوازې یو کس د خدایانو زوی وي او هغه هم فرعون دی.
منجمینو وویل په هر حال ستا طالع ددې ښودنه کوي چې ته په دې دنیا کې چې هر چېرته ولاړ شې هلته به پردی یې.
داسې ځای نشته چې ستا ټاټوبی وي او کله چې خبره همداسې شوه نو ته له اسمانه راغلی یې او د خدایانو زوی یې.
بیا مې په حیرانۍ ولیدل چې ستور پېژاندو زما پر وړاندې سرونه ټیټ کړل.
ما ویوښتل ولې داسې کوئ ؟
هغوی ځواب راکړ موږ په یقیني توګه نه شو ویلای چې ته د خدای زوی یې خو پوهېږو چې په دې دنیا کې نه یې زېږېدلی نو د احتیاط لپاره تا ته درنای کوو چې که په رښتیا د خدایانو زوی یې. نو زموږ له لوري کومه تېروتنه ونه شي او د خدایانو پر وړاندې موږ مسول نه شو.
زه چې پوهېدم د خدایانو زوی نه یم نو د دوی دې خبرې ته ډېر هک پک شوم او داسې مې وانګېرله چې دغه ستور پیژاندي کم عقل او خرافاتیان دي

شپاړسم څپرکی

د درواغو ویلو د ورځې جشن

کله چې پسرلی پیل شي د بابل او سېدونکي دولسن ورځې جشنونه جوړوي.

پر دیارلسمه ورځ د دغه جشن دستوري یا مراسم په سترو درواغو یانې د درواغو د پاچا په جوړولو سره پای ته رسېږي.

په دغو دوولسو ورځو کې په بابل کې خلک خپلې تر ټولو ښکلې جامې اغوندي او ځوانې نجونې د ایشتار معبد ته ځي. هلته ځانونه نارینه وو ته سپاري چې ورسره تفریح وکړي

کله چې هر سړي له یوې ښځې سره ساعت تېر کړ هغې ته ډالۍ ورکوي او ښځې دغه ډالۍ ټولوي چې کله مېړه کوي. نو ښار جېز ورته لري.

هېڅوک له دغه دستور څخه تعجب نه کوي او هېڅ نارینه هم کله چې ښځه کوي دا تمه نه لري چې ښځه یې باکره وي

په دغو دولسو ورځو کې ټول په عیش و عشرت بوخت وي او ځانونه د پسرلي د دیارلسمې ورځې جشن ته تیاروي.

پر دیارلسمه ورځ زه په خپل مېلمستون کې ناست وم، ناڅاپه یو شمېر عسکر زما مېلمستون ته راننوتل. ناري یې کړې زموږ پاچا چیرته دی؟ زموږ پاچا راکړئ ګني ټول به ووژنو.

دغو عسکرو په قهرجنو چیغو د مېلمستون منزلونه ولټول او بالاخره هغه منزل ته را ورسیدل چې موږ پکې مېشت وو.

دوی ناري کړې زموږ پاچا را کړئ.... زموږ پاچا مه پټوئ.

عسکرو زموږ د کوټې په مخکې شور ماشور جوړ کړی و او زما مریی کاپتا له ډاره د خوب تر تخت لاندې پټ شو.

ما ته یې وویل فکر کوم په بابل کې بلوا شوې ده. پاچا تښتېدلی دی او د هغه پلویان په دې ګمان چې هغه په دې میلمستون کې دی دلته راغلي دي

ما د کوټې دروازه خلاصه کړه او عسکرو ته مې وویل ما پېژنئ کنه؟

زه سینوهه ابن الحمار مصری ډاکټر یم. ما ستاسې د پاچا غاښ ایستلی دی. هغه زما د

خوشحالولو لپاره په همدې ښارکې خپل پوځ پرېږدئ ته مجبوره کړ او که ما په تکلیف کړئ ستاسې پاچا ته به ولاړ شم او شکایت به وکړم.

سپاهیانو وویل که ته سینوهه یې نو موږ په تا پسې ګرځو او غوښتل مو تا ومومو.

ومې پوښتل له ماسره مو څه کار دی ؟. ویې ویل چې ستا مریی مو په کار دی.

پوښتنه مې وکړه زما له مریي سره مو څه کار دی؟

عسکرو وویل نن د دروازغو پاچا د جوړولو جشن دی . زموږ پاچا امر کړی چې ستا مریی ور ولو.

ومې ویل ستاسې پاچا زما له مریي سره څه کار لري؟

ویې ویل په دې نه یو خبر خو که مریی موږ ته ونه ښیې تا به لوخ کړو او له جامو پرته به دې د پاچا ماڼۍ ته بوځو .

ددې لپاره چې وښیي ګواښ یې سم دی په یو حرکت یې زما جامې وایستلې او زه یې لوڅ کړم. بیا تولو په حیرانۍ ما ته کتل ځکه چې تر هغه وخته یې سنت شوی سړی نه و لیدلی.

یوه عسکر وویل د مړدوک له خدایه پناه غواړم دغه سړی ولې داسې دی ؟

بل وپوښتل ایاټول مصري سړي همداسې دي ؟

ومې ویل هو ! په مصر کې نارینه په ماشومتوب کې سنت کوي. یوه پکې وویل دغه خبره موږ ته اهمیت نه لري او بل ناري کړې موږ له تا هغه څوک غواړو چې باید را ویې سپارې ګنې....

ما ورته وویل خبره لنډه کړئ او ووایئ چې څه به وکړئ ؟ •

عسکرو وویل یا دې مریی راوښیه اویا به تا لوڅ لغړ د بابل له واټونو تېر کړو او د پاچا ماڼۍ ته به دې بوځو.

ومې ویل زه به ستاسې پاچا ته شکایت وکړم او وبه وایم چې تاسې ته سخته سزا در کړي.

عسکرو وویل پخپله پاچا موږ ته ویلي چې که موږ ته خپل غلام ونه سپارې تا لوڅ ماڼۍ ته ورولو.

کاپتا چې تر تخت لاندې له ویرې رېږدېده له هغه ځایه راووت او ویې ویل زما بادار لوڅ لغړ سلطنتي ماڼۍ ته مه ورولئ، ځکه چې د یوه مشهور ډاکټر عزت ته تاوان رسېږي، زه حاضر یم له تاسې سره هر چیرته ولاړ شم.

کله چې عسکرو کاپتا ولید د خوشالۍ چیغې یې وکړې او ویې ویل. مړدوک دې تل پاتی وي..... زموږ پاچا پیدا شو .... موږ خپل پاچا پیدا کړ او اوس هغه د پاچاهۍ ماڼۍ ته بیایو .

کاپتا سرتېرو ته حیران حیران کتل او کله چې عسکرو د هغه حیرانتیا ولیده په خوشالۍ یې نارې کړې ته د څلورو فصلونو پاچا یې.

ته زموږ شهزاده يې او موږ دې له څېرې پېژنو.
څينو عسکرو د کاپتا پر وراندې سرونه ټيټ کړل او څينې نورو د شا لخوا په لغتو وواهه او ږ يې کړ چې ژر ورسره روان شي.
کاپتا وويل. زما باداره خيال کوم په داسې هېواد کې ژوند کوم چې ټول او سپدونکي يې ليوني دي.
زه اوس نه پوهېږم چې پخپلو دوو پښو ځم که په سر روان يم او ښايي خوب وينم ځکه هغه څه چې ګورم د خوب منظرې دي او که زه يې په دغه هېواد کې اپوته راخوړند کړم نو ته مه پرېږده چې زما جنازه ځناور وخوري. جنازه مې موميايي کړه او په مصر کې مې ښخ کړه.
يوه عسکر په خندا وويل دلته د مړيو جنازې ځناور نه خوري ځکه چې جنازه يې په سيند کې اچوو او اوبه يې د سمندر لورې ته بيايي.
کاپتا وويل باداره مه پرېږده چې زما جنازه په سين کې واچوي ځکه چې زه به په بلې دنيا کې ژوندی پاتې نه شم.
عسکرو وخندل او ويې ويل موږ نن يو ښه پاچا پيدا کړای شو. ددې لپاره چې د خبرو په وخت يې ژبه نه نښلي.
کاپتا نه غوښتل له مېلمستونه ووځي خو عسکرو په لغتو او د نيزو د لرګيو په ګوزارونو هغه وخوځاوه او له ځان سره يې بوت.
له دې وروسته چې کاپتا په جبر روان شو ما په بېړه خپلې جامې واغوستې او د هغه ترشا د پاچا د ماڼۍ پر لور روان شوم. زه پوهېدم چې له پاچا سره نژدې اړيکي لرم نو چا زما مخه ونه نيوله.
کله چې ماڼۍ ته ننوتم په ماڼۍ کې ګڼ شمېر کسان راټول شوي ول ټولو نارې وهلې او عسکرو په ډېر هيجان خپلې نيزې ښورولې.
مايقين وکړ چې په بابل کې بلوا شوې ده او که له ولايتونو عسکر ونه غوښتل شي ممکنه ده د بابل پاچا بورا بورياش د پاچاهۍ له ګدۍ کښته شي، ځکه د خلکو له احساساتو داسې ښکارېده چې د بورا بورياش په خلاف خپل احساسات څرګندوي.
له دې پرته چې څوک زما مخه ونيسي هغه تالار ته ننوتم چې پوهېدم د بابل پاچا هلته دی.
کله چې تالار ته ورننوتم ومې ليدل چې د مردوک د ستر معبد کاهن او يو شمېر نور کاهنان هم هلته راټول شوي دي.
کله چې کاپتا تالار ته ننوت ناڅاپه د مردوک د معبد ستر کاهن په داسې حال کې چې د بابل پاچا ته يې اشاره کوله وويل. دغه هلک چې لا يې ږيره نه ده شنه شوې له دې ځايه وباسئ.....موږ

چمتو نه یو چې هغه خپل پاچا وبولو.

نورو د دغه کس د خبرو د تاید لپاره وویل. دغه هلک له دې ځایه وباسئ او موږ چمتو نه یو چې له دې زیات یو ماشوم پر موږ حکومت وکړي... هغه وباسئ.

د مردوک د معبد ستر کاهن زما د مریبه کاپتا لور ته اشاره وکړه او ویې ویل او س موږ وتوانیدو یو بالغ او هوښیار پاچا پیدا کړو او هغه به خپل پاچا غوره کړو چې د عقل او د شتمنۍ په فکر پر موږ حکومت وکړي.

کله چې دغه خبرې د معبد د کاهن له خولې ووتې، هغه کسان چې هلته وو د بابل په ځوان پاچا یې حمله وکړه، په خندا او ټوکو یې د شاهي ښې د هغه له سر او ټټره لېرې کړې او جامې یې ترې وایستلې.

وروسته یې د هغه پښې او لاسونه لمس کړل او ویې ویل وګورئ دغه ځوان څومره کمزوری دی. لا یې له خولې د شېدو بوی راځي او د خپل حرم سرای د ښځو ساعت هم نه شي تېرولای.

دوی زما غلام ته په اشارې سره وویل، دی به حرم سرای ته استوو چې د حرم سرای د ښځو ساعت ور سره تېر شي.

کله چې له بورا بوریاش د پاچاهۍ ښې اخیستل کېدې هېڅ مقاومت یې هم ونه کړ او ماکتل چې له خپل زمري سره چې لکۍ یې د پښو په منځ کې نیولې وه د کوټې یوه کونج ته ولاړ.

کله چې مې وکتل زما غلام ته یې سلطنتي جامې ور واغوستې او پر ټټر او سر یې د پاچاهۍ نښې نښانې ور ولګولې نو زه نه پوهېدم چې پر خپلو پښو روان یم او که پر سر.

کاپتا یې په هغه تخت کېناوه چې مخکې د بابل پاچا پرې ناست و حاضرو خلکو یې پر وړاندې سجده وکړه او ځمکه یې ښکل کړه، ان پخپله بورا بوریاش چې لوڅ و د کاپتا پر وړاندې سجده وکړه او ویې ویل. هغه باید زموږ پاچا وي، ځکه چې تر هغه هوښیار او عادل سړی په دې هېواد کې نشته.

زما مریې دومره هک پک پاتې و چې خبرې یې نه شوې کولای، خو ماکتل چې د سر و هښتان یې د پاچاهۍ تر ښنو لاندې چې پر سر یې اېښودل شوې وې جګ ولاړ ول.

کله چې په کوټې کې موجودو کسانو کاپتا ته درناوی کاوه هغه نارې کړې غلي شئ، ټول غلي شول او هغه وویل:

زه فکر کوم یوه کوډګر پر مې کوډې کړې او داسې شیان راښیي چې حقیقت نه لري، ځکه چې ناممکنه ده دا خبره و منو چې زما په شان یو پردی کس په دغه هېواد کې پاچا شي.

حاضرینو اعتراض وکړ او په ټوکو او خندا یې وویل. داسې نه ده، ته زموږ پاچا یې، هېڅا په تا کوډې نه دي کړي او موږ په ډېر صمیمیت او خوشحالۍ سره ته خپل پاچا کړی یې.

کاپتا وویل سره له دې چې زه نه غواړم ستاسې پاچا شم خو ستاسې د فیصلې پر خلاف هم عمل نه شم کولای.

ددې لپاره چې ستاسې شمېر زیات دی. خو له تاسې یوه پوښتنه کوم او غواړم چې سم ځواب راکړئ..... زه ستاسو پاچا یم کنه؟

ټولو په ګډه ناري کړې هو ... هو .... ته زموږ پاچایې او بیا یې د هغه پر وړاندې سجده وکړه. یو کس د زمري پوستکی واغوست او د کاپتا د تخت پر وړاندې پر ځمکه کېناست او وغړېد.

کاپتا یو ځل بیا ناري کړې غلي شئ او ټول غلي شول.

زما مریيه وویل که زه ستاسې پاچا یم باید زما حکمونه ومنئ.

ټولو ناري کړې هرڅه چې ته وایې ترسره به یې کړو.

کاپتا وویل له دې کبله چې زه نن ستاسې پاچا شوی یم نن باید جشن جوړ کړئ او ووایئ چې مریان راشي.

ځینې مریيان چې موجودل و کاپتا ته نژدې شول او هغه وویل سمدستي شراب او خواړه راوړئ چې ویې خورم او د شرابو په وسیله ځان خوشحاله کړم او نور هم زما په شان ځانونه ماړه او سرونه ګرم کړي.

مرییانو وویل په بلې کوټه کې شراب او خواړه چمتودي، هغه یې پورته کړ او په شور ما شور او خنداګانو یې بل هال ته یووړ.

زه هم له هغو سره ولاړم او ګورم چې هلته ډول ډول خواړه او شراب اېښودل شوي او هرڅوک چې څه غواړي خوړای او څښلای یې شي.

د بابل پخواني پاچا بورا بوریاش د مرییانو په شان یو لنګ تر ملا تاو کړی و او د خلکو په ټولي کې یې هرلوري ته منډې وهلې.

د شرابو جامونه یې نسکورول، د موجودو کسانو په جامو به یې ټینګه قورمه اچوله او هغوی به یې اړکول چې ښکنځلې وکړي.

د سلطنتي مانۍ په حویلۍ کې یې حوضونه له شرابو او بیرو ډک کړي ول. چې هر چا کولای شول د حوضونو په څنګ کې په موجودو جامونو کې شراب یا بییر راواخلي او ویې څښي او په مستو او خرما او له شېدو څخه په ترلاسه کېدونکو یو ډول غوړو باندې (مقصد یې کوچ دي) خېټې مړې کړي.

کله چې خېټې مړې او سرونه ګرم شول داسې شور او ولوله په خلکو کې پیدا شوه چې مایې ساری نه ولیدلی.

د پرګنو او رتبو توپیر نه ؤ هرچا به له یو بل سره ټوکې کولې او چا چې تر پرونه پورې د پاچا

بورا بورياش پر وړاندې سجده کوله نن يې هډوکي د هغه لور ته ګوزارول

بورا بورياش به هم خندل او بيرته به يې هډوکي د هغه چاپر لور ګوزار کړ چې دی به يې پرې ويشتی و.

ددې شورماشور په منځ کې ما ځان خپل مريي ته ورساوو. هغه ته مې وويل کاپتا ! اوس ټول مست او نشه دي. څوک ستا فکر نه کوي پاڅه چې د نورو له خبرتيا پرته ولاړ شو څکه چې زه اټکل کوم د دغه کار پايله به ښه نه وي.

کاپتا ! چې د کباب شوي خره د غوښې په خوړو لولګيا و. وويل ستا دغه خبرې ما ته د يوه مچ د بنګېدا په شان دي.

نه زه ستا خبره منم او نه دغه نيکمرغي پرېږدم چې له دې ځايه ولاړ شم.

ته نه ګورې چې دغو خلکو په څومره مينه او شوق زه خپل پاچا ټاکلی يم؟

ايا د دغې مينې او علاقې په بدل کې له دغه ملت سره خيانت وکړم او هغوی پرېږدم.

بله دا چې ته بايد له دې وروسته ما ته د کاپتا نوم وانه خلې څکه چې زه د څلورو فصلونو پاچا يم او هر څل چې له ما سره خبرې کوې بايد ووايې. اې د څلورو فصلونو پاچا او د نورو په شان زما په مخکې سجده وکړې.

ومې ويل کاپتا ... ستا دغه پاچاهي يوازې درواغ او ټوکې دي. څکه امکان نه لري دغه ملت تاغوندې يو بهرنی مريی خپل پاچا وټاکي او زه وېرېږم هسې نه چې د دغو ټوکو نتيجه موږ ته خطرناکه وي.

له دې مخکې چې ناوخته شي پاڅه چې ځانونه يو چېرته پټ کړو چې له دې ځايه ولاړ شو او که پاڅېږې او راشې زه به ستا دغه سپين سترګي وبښم او تا به پخپلې لکړې نه وهم.

کاپتا خپله غوړه خوله پاکه کړه او په لاس کې يې د خره په يوه هډوکي سره وګواښلم او ناړې يې کړې دغه پليت مصري له دې ځايه لېرې کړئ ګنې مجبور به شم چې په لرګي د هغه هډوکي ورمات کړم.

کاپتا چې دغه خبره وکړه. هغه سړي چې د زمري پوستکی يې اغوستی و. پر ما حمله وکړه. پر ځمکه يې وغورځولم او پخپلو نوکانو يې شوکارې کړم.

لږ پاتې و چې ټول بدن مې زخمي کړي. خو له نيکه مرغه نغارې ووهل شوې او اعلان وشو چې نوی پاچا دې د عدالت د پلي کولو لپاره ولاړ شي او مصنوعي زمري زه خوشې کړم.

د بابل عدالت خونه (محکمه) سلطنتي ماڼۍ ته نژدې وه او کله چې يې کاپتا هلته د عدالت د پلي کولو لپاره بوت نو ددې لپاره چې له دغه مسوليته ځان خلاص کړي. ويې ويل زه د بابل د قاضيانو په عدالت ډاډه يم. غوره دا ده چې هغوی د پخوا په شان عدالت وچلوي

خو خلکو دغه خبره ونه منله او ویې ویل چې موږ د خپل نوي پاچا له لوري د عدالت پلي کول غواړو. چې پوه شو ایا هوښیار او پوه دی، او د انصاف د اصولو پر بنسټ فیصله کولای شي؟

کاپتا مجبور شو چې قضاوت ته غاړه کېږدي او خلکو هغه د قاضي پر چوکۍ کېناوه.

متروکه او زولنې یې چې د عدالت د اجرا نښې دي د هغه په مخکې کې کېښودې.

لومړی هغه سړی نژدې شو چې ظلم پرې شوی و، د دغه سړي جامې شکېدلې وې او ما وکتل چې د سر وېښتان یې هم سپین دي

وروسته پوه شوم چې د سر وېښتان یې له دې امله سپین شوي ول چې ایرې یې پر سر شیندلې وې او کالي یې هم په قصدي توګه شلولي ول چې په پریشانه حالت کې پاچا ته راشي.

ځکه کله چې څوک په بابل کې ځان مظلوم بولي. هڅه کوي له ظاهري پلوه خوار او بېوزله ښکاره شي. چې د پاچا پرې زړه وخوږېږي.

سړی زما د مریې په مخکې پر ځمکه پرېوت. ځمکه یې ښکل کړه او ویې ویل. اې د څلورو فصلونو پاچا! ښ ستا په شان بل څوک عادل او هوښیار نشته. ځکه خو له تا څخه د عدالت تمه لرم

زه یوه ښځه لرم چې څلور کاله ورسره یم خو امیندواره شوې نه وه. اوس نوې حامله شوې او سره له دې چې ځینو راته ویل ستا د ښځې په خېټه کې حرامي دی. خو ما نه منله تر دې چې پرون مې له یوه عسکر سره ولیده.

زه ونه توانېدم دغه عسکر ونیسم ځکه چې هغه ډېر پیاوړی و او کله چې زه کور ته راغلم وتښتېد.

خو اوس مې توره ینه له درد او شکونو ډکه ده. زه نه پوهېږم دغه ماشوم چې زما د ښځې په خېټه کې دی. زما دی که د هغه عسکر.

له همدې کبله راغلی یم چې له تا وغواړم دغه ستونزه راته هواره کړې او ما له دې شکونو خلاص کړې چې پوه شم د دغه ماشوم په هکله زما دنده څه ده؟

کاپتا په ورا خطابي شاوخوا وکتل. ځکه چې نه پوهېده څه ځواب ورکړي. ده هڅه کوله داسې ځواب ورکړي چې له عدالته لېرې نه وي. نو ناڅاپه یې مریيان را وغوښتل او ویې ویل لرګی واخلئ او دغه سړی ووهئ.

مریيانو سوټې را واخیستل او پر سړي اخته شول.

تر دې وروسته چې هغه یې وواهه سړي، خلکو ته وویل ایا زما په اړه د پاچا فیصله عادلانه وه. ظلم هم پر ما شوی و او باید وهلی شوی هم زه وای؟

خلکو چې دغه خبره واورېده له کاپتا یې توضیحات وغوښتل او ویې پوښتل. اې د څلورو فصلونو پاچا ولې دې د دغه سړي د وهلو حکم وکړ؟

کاپتا وويل يو سړی چې دومره احمق وي د وهلو وړ دی، ځکه دا دمنلو وړ ده چې يو سړی خپله کرونده چې ښه فصل کوي همداسې پرېږدي او تخم پکې ونه کري؟ کله چې بل څوک د احسان او ترحم له مخې راځي او په دې پټي کې تخم کري نو بيا دی راشي او شکايت وکړي چې ولې نورو دده په ځمکه کې تخم کرلی دی.

خو که شاړه ځمکه له نورو وغواړي چې پکې تخم وکري ايا بايد کرونده ملامته کړو؟ البته له دې کبله ښځه ګرمه نه ده، چې له بل سړي سره يې اړيکې نيولې دي، ځکه چې دغه سړي دښځې غوښتنه پوره نه کړای شوه او هغه يې پر يوې شاړې ښځې بدله کړې وه.

خلکو چې دغه خبرې واورېدې د شاباس غږونه يې وکړل او د کاپتا پوهه او هوښياري يې وستايل.

بيا يو بوډا کاپتا ته نژدې شو او ويې ويل اې د څلورو فصلونو مالکه، زه ستا او ددغې ستنې پروراندې چې د بابل قوانين پرې ليکل شوي د عدالت اجرا غواړم او شکايت مې دادی:

په دې وروستيو کې ما د کوڅې په څنډه کې کور جوړ کړ، خو هغه ختګر چې زما کور يې په ټيکې جوړ کړ، زه يې تېر ايستلم، خراب توکي يې د کور په ودانۍ کې وکارول او کور يې ښه مضبوط جوړ نه کړ.

کله چې دغه کور وران شو او يو لاروی هم پکې ووژل شو اوس ددغه لاروي قربانيان له ما څخه تاوان غواړي، په داسې حال کې چې ما ګناه نه ده کړې.

زما برخليک څه دی او ددغه مړه شوي لاروي خپلوانو ته څه ووايم؟

کاپتا فکر وکړ او ويې ويل دغه موضوع چې تا ياده کړه ډېره پېچلې ده، بيا يې د بابل له قاضيانو څخه چې هلته موجود ول وپوښتل، په دې اړه قانون څه وايي؟

قاضيانو هغه ستنه کاپتا ته وروښودله چې قانون پرې ليکل شوی و او ويې ويل که يو کور د ټيکه دار د سستۍ يا ټګۍ له امله وران شي او د کور خاوند ووژني بايد ټيکه دار ووژل شي.

که کور له ورانيدا وروسته دکور د مالک زوی ووژني بايد د ټيکه دار زوی د کور د خاوند د زوی د قتل په تور ووژل شي.

قانون د نورو د وژلو په هکله څه نه وايي، خو موږ يې داسې تعبيروو چې که دکور له ورانې څخه نورو ته هرډول تاوان ورسېږي بايد ټيکه دار يې جبران کړي او بايد همدومره تاوان نورو ته ورکړي.

کاپتا وويل زه نه پوهېدم چې په دې هېواد کې ټيکه داران دومره ټګان او چلبازان دي او د کورونو له توکو غلا کوي او يا دا چې د کورنو په جوړولو کې داسې بې پامي کوي چې کور ورانيږي، نو زه به له دې وروسته پام کوم چې له دغسې دوکه مارو ټيکه دارانو سره مخامخ نه شم.

خو ددغه سړي د شکایت په هکله او دا چې د وژل شوي لاروي خپلوانو ترې تاوان غوښتی دی زما عقیده دا ده:

د وژل شوي لاروي کورنۍ باید د تیکه دار ختیګر د کور مخې ته ولاړشي او کله چې لاروی هلته تېر بړي نو دوی دې یې ووژني.

خو که ددغه لاروي خپلوانو د لومړني لاروي د خپلوانو په شان د تاوان او ګرمې غوښتنه وکړه هغه کسان باید ګرمه ورکړي چې دویم لاروی یې د تیکه دار د کور مخې ته وژلی دی.

د اصلي مجرم په هکله زما نظر دا دی چې په دغې پېښه کې هېڅوک د هغه لاروي په اندازه ګرم نه دی چې ددغه بې بنسته او سست کور له ځنګه تېریده، ځکه هېڅ هوښیار کس د هغه کور له مخې نه تېرېږي چې اډانې یې سېستې وي او ممکنه ده وران شي.

له هغه وروسته اصلي تورن همدا بوډا دی چې دلته راغلی او وایي چې کور یې وران شوی دی.

دغه سړی له دې امله مجرم دی چې که له دې چې د بابل او سیدونکی دی، ټول عمر په همدغه هېواد کې او سېدلی او بوډا شوی، خو لا هم نه پوهېده چې په بابل کې باید د کور جوړ یو تیکه دار ته ونه سپارل شي ګنې باید په تمه وي چې په لومړنۍ میاشت کې یې کور وران شي.

که خپل کور کوم تیکه دار ته ورکوي باید د هغه پر کار څارنه وکړي چې هغه درغلي ونه کړي.

له دې کبله چې د تیکه دار کار یې نه دی څارلی او هغه یې نه دی کنټرول کړی، نو هغه باید غولولی او کور یې داسې ور جوړ کړی وای چې وران شي.

ځکه تر هغه چې احمقان دوکه نه شي او هغوی تاوان ونه زغمي هوښیاران به نه شي.

یو ځل بیا خلکو د کاپتا عدالت وستایه او هغه سړی چې د عدالت د اجرا لپاره راغلی و په خواشینۍ سره لېرې شو.

بیا یو چاغ سوداګر چې ګران بیه کالي یې اغوستي ول کاپتا ته نژدې شو او و یې ویل، درې ورځې مخکې زه هم د نورو په شان د ایشتار معبد ته ولاړم چې له یوې باکرې نجلۍ سره ساعت تېری وکړم.

له دې وروسته چې سره او سپین مې ورکړل د یوه عادي حاجت لپاره مجبور شوم له هغې لیرې شم او چې بېرته راستون شوم، په حیرانۍ مې ولیدل چې هغه له یوه بل سړي سره ساعت تېری کوي.

په داسې حال کې چې له مایې سپین زر اخیستي ول او له ما سره یې وعده کړې وه چې دستنېدا په تمه مې پاتې کېږي.

کله چې مې وورته وویل زما سپین زر راکړي، خواب یې راکړ چې تا راسره وعده کړې چې تفریح به راسره کوې او س چې هغه سړی ولاړ له ما سره ساعت تېرولای شې.

ما ورته وويل ما هغه وخت له تا سره ساعت تېرى كاوه چې ته باكره وې خو اوس بكارت نه لرې.

خودې نجلۍ زما خبره ونه منله او ويې ويل زه ستا سپين زر بيرته نه دركوم. ځكه هغه څه چې تا غوښتل له ما يې واخلې اوس هم له ما سره شته او هغه ترلاسه كولاى شې.

ما ورته وويل چې ما له تا ښځه يو روغ ختمين لوښى اخيستى و او د هغه بيه مې هم دركړه او بيا د يوه كار لپاره له تا ښځه لېرې شوم.

په هرحال كې لوښى زما شوى و ځكه تا دغه ختمين لوښى پر ما خرڅ كړى و او دا حق دې نه در لود چې پر چا يې خرڅ كړې چې هغه يې پر ځمكه وولي او مات يې كړي.

اوس چې زه راغلى يم ته د مات شوي لوښي ټوټې ماته راكوې او راته وايې دغه لوښى دې له ما اخيستى دى.

كله چې كاپتا دغه خبرې واورېدې خپله مترو كه يې په زوره وښوروله او ويې ويل:

ما هېڅ چېرته داسې سړې نه دي ليدلي، چې د دغه ښار د خلكو په شان سادګان او احمقان وي او د هغو شيانو په اړه شكايت كوي چې بې اهميته وي.

اې سوداګره! كه ته د يوې تازه ميوې لپاره بازار ته ولاړ شې، كله چې مېوه واخلې سمدستي يې خورې كنه څو ورځې يې پرېږدې. بيا څو شپې وروسته ورستنېږې او وايې ولې دغه ميوه چې ما اخيستې ده ورسته او شيته شوې ده؟

يوه خوانه او باكره نجلۍ هم لكه تازه ميوه داسې ده . كله چې چا واخيسته بايد ژر يې وخوري.

خو كه يې ځوانه نجلۍ پرېښوده او دى ترې ولاړ او د راستېندو پر وخت يې وليدل چې د هغه ميوه خرابه شوې يا ستا په وينا ختمين لوښى مات شوى بايد شكايت ونه كړي.

ته ددې پر ځاى چې له دې نجلۍ شكايت وكړې بايد د هغې احسان ومنې . چې له تا سره يې مرسته كړې. ځكه چې ستا له ستېندا مخكې يې ستا لپاره خنډ لېرې كړى او كه دغه خنډ پاتې واى ستا لپاره به يې ستونزه پيدا كړې وه.

خو هغې دغه زحمت بل چاته پرېښود چې ته له ستونزې پرته ورسره ساعت تېر كړې.

له دې معلومېږي چې ته كم عقل سړى يې او د تازه ميوې په قدر نه پوهېږې. زه تا محكوموم چې له دې وروسته تل له ماتو شويو لوښو سره ساعت تېر كړې.

بيا هم خلكو د ستاينې نارې ووهلې او د كاپتا پوهه او عقل يې وستايه.

زما مريي قاضيانو ته په خطاب كې وويل:

نن ما په كافي اندازه عدالت اجرا كړ. اوس ستړى شوى يم. بايد استراحت وكړم او كه نور

شکايت کوونکي پيدا شول بايد قاضيان د هغوی شکايتونه وجاجوي.

ددغه سوداګر شکايت زه متوجه کړم، چې يو پاچا يم او په حرم سرای کې څلور سوه ښځې لرم ،بايد ولاړ شم او ورسره ساعت تېر کړم زه له هغوی سره د تفريح لپاره ځان وړ بولم، ځکه چې خوړو پياوړی کړی يم او پردې سر بيره، له هغه وروسته چې د څلورو فصلونو سلطان شوم، فوق العاده څواک راپکې پيدا شوی چې حتی په ځوانۍ کې مې داسې ځواک نه درلود.

خلکو په ډېرې خوشالۍ سره کاپتا د حرم سرای پر لور بوت خو په خلکو کې يوه سړي ساعت تېرې نه کوله او نه يې خندل.

هغه بورا بورياش و، ځان يې ماته را ورساوه او ويې ويل سينوهه! ته ډاکتر يې او حرم سرای ته ننوتی شې.

ورشه او مه پرېږده چې ستا مريی زما ښځو ته لاس وروړي، ځکه که دغه کار يې وکړ نن مانښام به د هغه پوستکی ترې وباسم او پوست به يې پر دېوال کېږدم چې وچ شي.

خو که زما د ښځو پر لور لاس اوږد نه کړي د هغه مرګ به اسانه کړم او زه وايم چې داسې يې ووژني چې شکنجه نه شي.

ما وويل، بورا بورياش هرڅه چې ته وغواړې زه به يې ترسره کړم خو زه له دې امله ډېر خپه يم چې تا د مريانو په جامو کې وينم.

زما يينه او توری، له غمونو ډک دي، ځکه دا نه شم زغملای چې خلک دې تا سپک کړي او يا درته سپکې سپورې ووايي.

بورا بورياش وويل نن د سترو درواغو ياني د درواغو د پاچا ورځ ده، پر دغې ورځ يو کس د بابل د پاچا په توګه ټاکل کېږي خو د هغه پاچاهی تر يوې ورځې زياته نه وي او د بابل ټول او سيدونکي پر دې خبرې پوهېږي.

خو کله چې زه او ته خبرې کوو ستا مريی د حرم سرای پر لوري خي، زه وېرېږم چې هغه زما ښځو ته لاس وانه چوي، ته ورشه او ددې پېښې مخه ونيسه.

زه او بورا بورياش د حرمسرای پر لور وخوځېدو او په لاره کې ما د سترو درواغو د ورځې د دودونو په هکله ترې توضيحات وغوښتل.

هغه وويل هر کال پر دغې ورځ د بابل خلک تر ټولو بدرنګه او ساده سړی د يوې ورځې لپاره د پاچا په توګه ټاکي او ددغه سړي پاچاهي له سهاره پيلېږي او د بابل پاچا د يوه مريي په شان د هغه خدمت کوي.

پر دغې ورځ دغه موقتي پاچا هرڅه چې وغواړي تر سره کوي يې. ما چې ستا مريی وليد چې ډېر بدرنګه او احمق دی، و مې ويل چې هغه ديوه ورځنې سلطنت لپاره انتخاب کړي.

ما وپوښتل له دې وروسته چې دغه ورځ پای ته ورسېږي له دغه موقتي او يو ورځني پاچا سره څه کوئ؟

بورا بورياش وويل. کله چې دغه ورځ پای ته ورسي، هماغه ډول چې سهار ناڅاپه هغه د بابل پاچا شو په څو شېبو کې د لمر لوېدو پر وخت هغه وژني او د هغه د وژلو فرمان د بابل پاچا يانې زه ورکوم.

که دغه سړی چې د يوې ورځې پاچا کېږي په يوې ورځې کې څوک مړه او ژوبل نه کړي يا د چا ښځه او شتمني د ځان نه کړي د لمر لوېدو په وخت کې د هغه په شرابو کې زهر اچول کېږي او هغه ته يې ورکوي چې له خوارۍ پرته مړشي.

خو که په دې يوې ورځې کې يې له خپل قدرته ناسمه استفاده وکړه په دې بڼه کې به يې زه په سختې شکنجې سره مړ کړم.

پخوا يو ځل په همدې ورځ د بابل حقيقي پاچا چې د نورو په شان په ساعت تېريو بوخت و، د يوې ترخې شوروا د خوړلو له امله چې خلکو به ويل زهر پکې اچول شوي ول له دې نړۍ سترګې پټې کړې او هغه بدرنګه او کم عقله سړی چې د يوې ورځې لپار د بابل پاچاشوی و، د حقيقي پاچا له مړينې وروسته شپږ دېرش کاله د بابل پاچا.

له همدې امله زه نن د خوړو او څښاک په وخت کې ډېر احتياط کوم چې د نوموړي پاچا په برخليک اخته نه شم.

کله چې زه او بورا بورياش د حرم سرای دروازې ته ورسېدو ما وليدل چې کاپتا په داسې حال کې چې له پوزې يې وينه څاڅي او يوازينۍ سترګه يې پړسېدلې له هغه ځايه راووت.

ما وويل کاپتا په تا څه شوي، ژوبل شوی يې ؟

کاپتا وويل، وګوره په حرم سرای کې يې له ما سره څه وکړل؟

ده زياته کړه کله چې زه حرم سرای ته ننوتم پوه شوم چې دوی غواړي زړې، توري او چاغې وينځې ماته راکړي،

ما وويل چې له هغوی کرکه کوم او د يوې ځوانې او ښکلې ښځې پر لور روان شوم. خو هغې ښځې لکه زمری پر ما حمله وکړه او په خپلو بوټانو يې په سترګو او پوزې ووهلم چې سترګه مې وپړسېده او له پوزې مې وينه روانه شوه.

کله چې بورا بورياش زما د مريي خبره واورېده داسې يې وخندل چې پر ځمکه دلوېدو له ويرې يې زما په مټ تکيه وکړه.

کاپتا وويل سينوهه زه جرائت نه شم کولای چې حرم سرای ته ننوځم ځکه چې دغه ښځه ليونۍ شوې ده او که حرم سرای ته ننوځم ما به ووژني.

ته حرم سرای ته ولاړشه او د هغې جمجمه سوری کړه چې د هغې په سر کې ننوتلې ورانکارې روح ترې راووځي او زه یې په غېږه کې ونیولای شم.

ځکه که د غه ښځه لیونۍ نه وای نو پر ما به یې حمله نه کوله ځکه زه اوس د هغې پاچایم او دا حق لرم چې هغه خپله خور کړم.

بورا بوریاش ما ته وویل سینوهه! ورشه وګوره چې په حرم سرای کې څه تېرېږي او کومې ښځې پر دغه احمق حمله کړې ده؟

نن چې د درواغو د پاچا ورځ ده، زه حرم سرای ته نه شم ننوتلای، خو ته چې ډاکټر یې هر چیرته ان حرم سرای ته ننوتی شي.

زه فکر کوم هغې ښځې چې ستا پر مریي یې حمله کړې، یوه پیغله ده چې نوې یې ماته راوستې ده او ما غوښتل چې هغه د ځان کړم خو لا هم لکه د وحشیانو غوندې ده او زه په تمه یم چې هغه ارامه شي.

ما نه غوښتل چې حرم سرای ته ننوځم خو بورا بوریاش دومره ټینګار وکړ، چې د هغه غوښتنه مې ومنله او حرم سرای ته ننوتم. خواجه ګان پوهېدل چې زه ډاکټر یم، زما مخه یې ونه نیوله.

ما ولیدل چې په حرم سرای کې بې نظمي ده او یو شمېر زړو ښځو سینګارونه کړي، چې د دروغو د پاچا د جشن پر ورځ ساعت تېر کړي.

زه چې یې ولیدم له ما یې د کاپتا پوښتنه کوله او ویل یې چې زموږ چاغه وزه چېرته ولاړه او ولې یې صبر ونه کړ چې له موږ سره مستي وکړي.

یوه تورپوستې ښځه چې زما د مریي په شان چاغه وه، سترې او خوړندې سینې یې درلودې چې تر نسه پورې یې رسېدلې، زما خواته راغله او ویې پوښتل زما چاغه وزه بیرته راستنه کړه چې زه یې په خپلو سینو کېښنوم او ټینګ یې کړم... زما فیل راستون کړه چې خپل خرطوم زما پر بدن راتاو کړي.

خواجګان تر ما ګېر چاپېره راتاو شول او ویې ویل د دغو زړو ښځو فکر مه کوه، ځکه چې یوه هم لیونۍ شوې نه ده، دغه حرکتونه د دې لپاره کوي چې نن یې خانونه تفریح ته چمتو کړي ول.

خو د حرم سرای په ښځو کې یوه پیغله ده چې دلته له راتګ سره سره پر ټولو غوسه ده او نن لیونۍ شوې، د دروا غو پاچا یې سخت ژوبل او ټپښتې ته اړ کړ.

اوس یې هم یوه چاړه په لاس کې ده او چې موږ وغواړو ورنږدې شو پر موږ حمله کوي

ته باید ولاړ شې او د دغې ښځې د لیونتوب معالجه وکړې، خواجګان مخکې شول چې لار را وښیي، زه یې د حرم انګړ ته بوتلم چې روښانه او ځلېدونکې خښتې یې درلودې.

د انګړ په منځ کې یو حوض و چې له کاڼو جوړې د سمندري ځناورو مجسمې پکې جوړې

شوي وي. د دغو حیواناتو له خولو او به د فوارې په شان بهېدلې او بېرته حوض ته توېدلې.
د حوض پر څنډه یوې ځوانې ښځې چې شلېدلې جامې یې اغوستې وې د سمندري حیواناتو پر یوې مجسمې تکیه کړې ولاړه وه.
له څنو او کالیو یې اوبه بهېدلې او داسې ښکاریده چې له حوضه را وتلې وي. یوه چاړه یې په لاس کې وه چې په لمر کې ځلېدله.
کله چې زه ورنږدې شوم هغې ځوانې نجلۍ چې له خواجګانو سره د جنګ په وخت کې یې کمیس شکېدلی و. یو څه وویل. خو خواجګانو ډېر شور ماشور جوړ کړی و او د فوارو د بهېدلو غږ هم اوچت و نو ځکه زه پوه نه شوم چې دغه ښځه څه وایي.
ما خواجګانو ته وویل له دې ځایه ولاړ شئ چې انګړ تش شي او دغه فوارې هم بندې کړئ چې زه د دغې ښځې غږ واورم.
خواجګان ولاړل او د اوبو فوارې هم بندې شوې
په دې وخت کې ما د ښځې غږ واورېد. هغې سندرې ویلې او غومبوري یې له ډېر هیجانه تک سره شوي ول.
هغې ته مې وویل اې ښځې غلې شه! او دغه چاقو لېرې وغورځوه دلته راشه زه به دې درملنه وکړم ته بې له شکه لیونۍ شوې یې.
ښځه د دې پر ځای چې زما خبره ومني ویې ویل اې بیزو! که زما مخې ته راشې زه به دغه چاقو ستا په توره ینه کې دننه کړم ځکه چې زه ډېره غوسه یم.
ما وویل اې ښځې! چاقو لېرې وغورځوه ځکه چې له تا سره دښمني نه لرم او نه غواړم تا ته تاوان ورسوم.
ښځې وویل څوتنو سړیو دغسې خبرې راته کړې دي او ویلي یې دي چې ما ته بد نیت نه لري. خو زه پوه شوم چې هغوی غواړي ما دوکه کړي او استفاده را څخه وکړي. ځکه خومې دغه چاقو را اخیستی دی. هر سړی که ماته رانژدې شي وبه یې وژنم په تېره بیا دغه یو سترګی بوډا چې د یوه خسک په شان پړسېدلی دی.
و مې ویل دا ته وې چې د بابل پاچا دې ژوبل کړ؟
ښځې وویل زه وم او خوشحاله یم چې د هغه له پوزې مې وینه وبهوله
زه یې خپل خدای ته وقف کړې یم، زه باید د خپل خدای په مخکې ونځېږم او ان د بابل پاچا باید له ما څخه استفاده ونه کړي.
ما ورته وویل که غواړې د خپل خدای په مخکې ونځېږې دغه خبره په ما پورې اړه نه لري. زه یو ډاکټر یم. زما دنده دا ده چې تا لېونتوب ته پرې نه ږدم او نه غواړم چې ته په دې چاقو ځان

ژوبل کړي.

که ته ژوبله شې د بابل پاچا به تاوان وکړي، ځکه چې د هغه خواجګانو ماته وويل، ته يې په ډېره لوړه بيه د مرييانو په بازار کې اخيستي يې.

ښځې وويل زه وينځه نه يم چې څوک دا حق ولري ما د مرييانو په بازار کې خرڅه کړي.

زه يوه پيغله يم چې په زور يې وتښتولم او که تا لږ شعور درلوداى په دې خبرې به پوه شوى وې.

بيا ښځې شاته وکتل او ويې ويل: خواجګان د ونې سر ته ختلي دي چې زموږ خبرې وانه وري ايا ته په کومه بله ژبه خبرې نه شې کولاى چې هغوى پرې پوه نه شي.

ما په مصري ژبه خبرې پيل کړې او ومې ويل زه مصري يم. نوم مې سينوهه ابن الحمار دى. زه يو ډاکټر يم او ته بايد له ما ونه وېرېږې. کله چې ښځې واورېدل زه په مصري ژبه خبرې کوم زما په لور راغله او ويې ويل. زه نه پوهېدم چې ته مصرى يې. ګني ژر به درته راغلې وم.

که له دې چې پر تاباور لرم. خپل چاقو نه شم درکولاى ځکه چې دغه چاقو ته اړتيا لرم.

نن شپه د بابل پاچا راځي چې له ما ګټه واخلي خو زه نيت لرم چې د خپل ورمېږ رګونه په دغه چاقو پرې کړم او مړه شم ځکه زه نه غواړم چې د خپل خداى پر وړاندې بې عزته شم.

که ته غواړې چې زه ژوندۍ پاتې شم او له خدايانو وېرېږې نو ما له دغه هېواده وباسه. خو په دې پوه شه چې زه به ونه کړاى شم ستا انعام هغسې چې يوه ښځه يې يوه سړي ته ورکوي درکړم.

د دې لپاره چې زه خپلو خدايانو ته وقف شوې يم او هېڅ سړى بايد له ما سره ويده نه شي. مګر دا چې زما خداى ووايي چې دغه سړى وغواړه او له هغه سره له ځملاستو خوند واخله.

ما وويل زه هېڅ نيت نه لرم چې له تا ګټه پورته کړم يا له تا سره ويده شم نو له همدې امله هېڅ انديښنه مه کوه.

خو د بابل له حرم سرايه ستا وتل له عقله لېرې کار دى. ځکه چې دلته ستا د ژوند وسايل چمتو دي او تا ته خواړه او نور هرڅه چې وغواړې درکوي.

ښځې وويل ما په خپل هېواد کې خواړه او جامې درلودې او ددې ځاى جامې او خواړه زما لپاره اهميت نه لري.

خو دا چې وايې نيت نه لرې له ما سره ځملې دا هغه موضوع ده چې کله ما له بابله وباسې پرې خبرې کولاى شو. ځکه که څه هم زه خدايانو ته وقف شوې يم. خو که زموږ خداى وغواړي چې يو سړى خوښ کړم موافقه کولاى شم چې له هغه خوند واخلم.

ومې ويل اې ښځې! زه نيت نه لرم چې تا له بابل څخه وباسم او له دې ځايه دې يوسم، ځکه چې د بابل پاچا زما ملګرى دى او که تا له حرم سرايه وتښتوم د دوستي د دودونو خلاف کار به

مې کړی وي.

پردې سربېره باید پوه شې، هغه سړی چې په یوې سترګې ړوند و او د خسک په شان پړسېدلی و، د بابل همېشني پاچا نه دی، بلکې د دغه هېواد د درواغو پاچادی او یوازې یوه ورځ (نن) به پاچاهي وکړي.

د بابل همېشنی پاچا چې ته یې اخیستې یې له بلې ورځ به هغه پاچاهي کوي او هغه ښایسته ځوان دی، هیله من دی چې له تاسره له څملاستو خوند واخلي او زه فکر کوم چې ته به له هغه سره له څملاستو خوند واخلې.

څکه خو درته سپارښتنه کوم چې د ماشومانو غوندې فکر مه کوه او دغه چاقو ماته راکړه.

ښځې وویل که مې چاقو تا ته درکړ، ته به مې ملاتړ وکړې؟

ومې ویل زه به ستا ملاتړ وکړم چې تاوان درونه رسوي.

بیا ښځې وویل، زما نوم مینا دی او له دې کبله چې تا ژمنه وکړه چې زما ملاتړ به کوې چې څوک تاوان را ونه رسوي، دغه چاقو تا ته درکوم.

ته یو مصري یې، زه پوهېږم چې درواغ به نه وایې او ما به ونه غولوې.

بیا یې په موسکا سره چاقو ماته راکړ او ما هم چاقو ترې واخیست او وخوځېدم.

کله چې روان شوم متوجه وم چې مینا د چاقو په سپارلو سره زه په یوه ستر ازموینت کې واچولم.

څکه چې له دې وروسته باید زه د هغې ملاتړ وکړم او د بورا بوریاش د حرم په شان په یوه ستر حرم سرای کې څه ډول د یوې ځوانې او ښکلې ښځې ملاتړ وکړم؟ غوښتل مې بیرته ستون شم اوچاره بیرته هغې ښځې ته ورکړم چې تر منځ مو ژمنتیا ختمه شي، خو خواجګان راباندې راتاو شول او له دې کبله یې زه ستایلم چې له هغې ښځې څخه مې چاقو اخیستی و.

دوی ویل که دغې ښځې چاقو له ځان سره ساتلی وای یایې بل څوک واژه او یا یې ځان واژه خو اوس ډاډه یو چې نه ځان وژني نه بل څوک چاته تاوان پېښولای شي.

کله چې له حرم سرای څخه ووتلم بورا بوریاش مې خواته راغی او په خندایې پوښتنه وکړه څنګه شو؟ ایا زما خبره سمه نه وه؟ او هغې ښځې چې ستا مریی یې ژوبل کړی و، همغه ځوانه وینځه ده چې نوې یې زما لپاره اخیستې ده.

ومې ویل هو! دغه ځوانه ښځه ستا د خواجګانو د بدچلند له امله داسې غوسه شوې. چې فیصله یې کړې هېڅ یوه سړي ته به تسلیم نه شي.

غوره به داوي چې ته څو ورځې هغه په خپل حال پرېږدې چې ورو ورو یې غوسه سړه شي. رامه شي او موافقه وکړي چې ته ور سره ویده شي.

بورا بوریاش وویل ته ددې ښځې د رام کولو اند ښننه مه کوه. ځکه چې زه خواني ښځې ډېرې ښې پېژنم او پوهېږم چې څه ډول یې باید رامې کړم

دا لومړی ځل نه دی چې یوه پېغله او غوسه ناکه ښځه زما حرم سرای ته راځي او کله چې هغې ته وایي چې له ما سره تفریح وکړي ډډه کوي

خواني نجونې چې له ما سره نه وي ویدې شوې ډارېږي او خیال کوي چې یو سخت خطر دوی ګواښي. خو کله چې ماته نژدې کېږي او زما خواني وګوري له ما سره داسې مینه کوي چې له هغه وروسته تل شکایت کوي چې ولې زه خپل ټول وخت له هغوی سره نه تیروم.

بیا که د حرم سرای له نورو ښځو سره ساعت تېری کوم نو دوی بخیلي کوي او که زما خواني. ښکلا پر هغوی تاثیر ونه کړي. بیا زه د رام کولو لپاره یوه ډاډمنه وسیله لرم چې هغه لرګی دی.

زه امر کوم چې ځوانه او یاغي نجلۍ پرمخې څملوي او خواجګان یې په لښتو داسې ووهي چې له بدنه یې وینې وبهېږي او د شپې خوب ورنه شي.

دغه ښځه چې یو یا دوه ځله ووهل شي رام کېږي او هېڅکله به زما له امره سر غړونه ونه کړي.

بورا بوریاش له دې خبرې وروسته په خندا له مالرې شو او زه د مېلمستیا پر لورلاړم.

زما مریی کاپتا سره له دې چې د مینا له لاسه زخمي شو او له دې وروسته چې د مېلمستیا هال ته راغی د ډېرو شرابو له امله یې خپل درد هېرکړ.

ډېر کسان ترې راتاو شوي ول او هغه یې اړکاوه چې ټوکې او ټکالې وکړي.

زما مریی چې ددغه کار ښه ورتیا یې درلوده داسې خبرې او حرکتونه یې کول چې نور به یې وخندول.

د مېلمستیا په هال کې خلک داسې په تفریح او ساعت تېریو بوخت ول چې چا ماته توجه نه کوله. ومې غوښتل چې ځان کاپتا ته نژدې کړم او هغه ته ووایم چې پاڅه او وتښته خو متوجه شوم چې نورو زما مریی داسې راګیر کړی چې ما له هغه سره پټې خبرې نه شوې کولای.

پر دې سربېره کاپتا باوري شوی و چې پاچا شوی او ممکنه وه امر وکړي چې نور ما ووهي

ما نه غوښتل چې زما مریی په بابل کې ووژل شي او د هغه ژغورل مې خپله دنده بلله

که څه هم هغه له مستۍ ځان ورک کړی و خو هر بل غلام چې د کاپتا پر ځای وای همدا کار به یې کړی و ځکه چې ناڅاپه د بابل پاچا شوی و.

له کاپتا څخه چې تېر شو ما له مینا سره هم ژمنه کړې وه چې باید تر سره کړې مې وای

د بابل پاچا ویلي ول. که دغه نجلۍ زما ښایست وګوري غوسه به یې سړه شي او زما پر ښو به راولوېږي خو ما دغه خبره نه منله ځکه چې که مینا غوښتی چې ځان بورا بوریاش ته تسلیم کړي تر اوسه به تسلیم شوې وای.

ماشک نه کاوه چې بورا بوریاش به خپلو ایجرګانو ته امر کړی و، چې هغه په لښتو ووهي او ما نه غوښتل چې مینا د خواجګانو له لوري ووهل شي او بدن یې زخمي شي.

ځکه چې مینا زما پر ژمنې باور وکړ او خپل چاقو یې ماته وسپاره، پردې سربېره مونږ مصریان دا نه شو منلای چې یوه ښکلې ښځه دې ووهل شي.

ما دوه دندې درلودې، یوه دنده مې دا وه چې باید خپل مریی وژغورم او بله دنده مې دا وه چې د مینا د ژوند د ژغورلو لپاره د ملګرتیا ژمنه پوره کړم.

د لومړنۍ دندې په ترسره کولو کې مې شک نه کاوه حتی که بورا بوریاش په ماغوسه شوی هم وای. ځکه زما مریي کوم ګناه نه وه کړې چې د بابل د او سېدونکو په لاس ووژل شي.

خو د دویمې دندې په اړه لږ شکي وم. ځکه چې بورا بوریاش ددې لپاره زه حرم سرای ته پرېښودم چې پر ما یې اعتما د درلود او که ما مینا د هغه له حرم سرایه تښتولې وای د هغه له دوستۍ او اعتماد سره به مې خیانت کړی وای.

خو مینا هم په ما اعتماد کړی و او تمه یې کوله چې زه به یې له بابل څخه وباسم. یا داچې پرې نه ږدم چې په لښتو ووهل شي.

که زه په بابل کې پاتې کېدم او له پاچا مې غوښتي وای چې مینا مه وهه نو هغه به هم زما غوښتنه منلې وای خو زه مجبور وم چې خپل مریی وژغورم او په بابل کې نه شوای پاتې کېدای. باید کاپتا مې له ځان سره تښتولی وای.

نو له دې کبله چې له کاپتا سره تښتېدم مینا یوازې پاتې کېده او پاچا به وهله.

ددې لپاره چې پر هغې ظلم ونه شي نو مجبور وم هغه مې هم تښتولې وای. ان که د بابل پاچا د مینا تښتول د دوستۍ په خلاف یو عمل هم وبولي او فکر وکړي چې ما ورسره خیانت کړی دی.

په نړۍ کې انسان تل په کارونو کې ازاد نه وي، ددې لپاره چې د انسان برخلیک ستوري ټاکي او کله چې انسان مجبور شي داسې کارونه وکړي چې پخپله یې کول نه غواړي.

له همدې لامله مې شک ځنګ ته کړ او هوډ مې وکړ چې هم کاپتا له مرګه وژغورم او هم مینا له هغه ظلمه چې ورته په تمه ده وژغورم.

اولسم څپرکی

د دوو کسانو د ژغورلو لپاره

له غرمې وروسته د سیند غنډې ته لاړم او يوې کشتۍ ته چې لس پارو وهونکي يې درلودل ورننژدې شوم.

پارو وهونکو ته مې وويل زه پوهېږم چې نن د درواغو د پاچا د جشن ورځ ده او تاسې د وربشو اوبه څښلې دي، غواړئ نن تر شپې پورې تفريح وکړئ.

خو د جشن ورځې ډېرې ژر خلاصېږي، له هغه وروسته د لوږې او زحمت شپې، ورځې راځي او هغه څوک هوښيار دی چې د جشن او تفريح د ورځو له املـه دوکه نه شي او د نورو ورځو فکر وکړي.

تاسې نن کار کولای شئ، ښه مزد به واخلئ او په دې اجورې به له سبا تر دوو اونيو پورې خورئ او څښئ او له ښځو سره به خپل ساعت تېروئ.

پارو وهونکو وپوښتل موږ بايد څه وکړو؟

ومې ويل سره له دې چې نن د جشن ورځ ده، خو زما تره مړ شوی، ځکه چې خدايان کله وغواړي څوک مړه کړي نو بيا دا ورته مهمه نه ده چې هغه سړی په اختر کې مړ کړي که د وير په ورځو کې.

زه مجبور يم چې د خپل تره د وصيت پر بنسټ نن شپه د هغه جنازه ولېږدوم او هغه تاتوبي ته يې يوسم چې هلته يې نيکونه ښخ شوي دي. دا د ميتاني هېواد سرحد ته نژدې ځای دی او له جنازې پرته زما کنيزه به هم له ما سره وي، ځکه چې يو ځوان سړی نه شي کولای خپل کارونه سمبال کړي او بايد يوه ښځه ورته خواره او اوبه برابرې کړي.

موږ به نن شپه له دې ځايه حرکت وکړو، زه به ستاسو مزد د عادي مزد په پرتله دوه برابره درکړم.

پاروو هونکو وويل موږ چمتو يو چې تا خپل مقصد ته ورسوو خو د شپې پر مهال د دې سيند پر سر پاروو نه وهو.

ځکه چې د شپې مهال موزي او خطرناکې ارواوې د سیند پر دواړو غاړو یا منځ کې وې او ناري وهي چې موږ له دغو نارو او چیغو وپرېږو او ممکنه ده چې زموږ کشتۍ ډوبه شي.
ومې ویل زه به همدا اوس یو پسه په معبد کې قرباني کړم چې موزي ارواوې موږ ته تاوان ونه رسوي.
کله چې مقصد ته ورسېدو زه به تاسې د سپینو هومر کړې درکړم چې غږ به یې دومره زیات وي چې تاسې به د موزي ارواوو غږ وانهورئ.
پارو وهونکو وپوښتل ته کله راځې؟ ومې ویل څه نه شم ویلای چې کله به راشم خو د شپې په لومړي ثلث کې به راورسېږم خو په هر حال تاسې له خپل ماکو سره په همدې ځای کې ماته په تمه اوسئ او له دغه ځایه مه ښورئ.
که اتفاقاً زه ناوخته راغلم همدلته په خپل ماکو کې ویده شئ خو ماکو بل ځای ته مه بیایئ. ځکه ممکنه ده زه په دویم ثلث کې یا هم سهار وختي د خپل تره له جنازې او کنیزې سره راشم او که تاسې ماکو بل ځای ته یوسئ تاسې به پیدا نه کړای شم.
بیا مې هر پارو وهونکي ته د سپینو یوه یوه کړې ورکړه او ومې ویل دغه سپین زر له مخکې تاسې ته درکوم چې پوه شئ زه نن شپه حتماً راځم او خپل ماکو بل چاته په کرایه مه ورکوئ.
کله چې مقصد ته ورسېدو هر یوه ته به د سپینو څلور کړې ورکړم او ددې لپاره چې ما په لاره کې د سرو او سپینو په تمه ونه وژني ومې ویل تاسې پوهېږئ چې په بابل کې هېڅوک له ځان سره سپین او سره زر نه وړي بلکه حواله اخلي او کله چې مقصد ته ورسېدو حواله په فلز بدلوي.
زه چې هم کله خپل مقصد ته ورسېدم، خپله حواله به په فلز بدله کړم او ستاسې پاتې مزد به درکړم.
پارو وهونکو د سپینو زرو له ترلاسه کولو وروسته ډاډه شول که ما خپل مقصد ته ورسوي هر یو به پنځه کړې سپین زر ترلاسه کوي او اطمینان لري چې د شپې تر سهاره زما په تمه پاتې شي.
کله چې د سیند د لهڅنډې ستون شوم یو کوچنی ژی مې واخیست او بیا معبد ته لاړم، هلته مې یو پسه حلال کړ او د پسه وینه مې په ژي کې واچوله او له هغه چاقو سره چې مینارا کړی و، د بورا بوریاش د حرم سرای پر لور روان شوم.

کله چې ما غوښتل حرم سرای ته ننوځم له وینې ډک ژی مې په خپلو طبي وسایلو کې کېښود چې څوک یې ونه ګوري او کله چې خواجګانو ولیدم پر ما راټول شول.

ما ورته وویل چې د دې لیونۍ ښځې د معالجې لپاره په درملو پسې تللی وم او تاسو باید ما دهغې کور ته ورسوئ.

خواجګانو زه د هغې کوټې ته بوتلم، ما ورته وویل ما له دې ښځې سره یوازې پرېږدئ چې د درملو په وسیله هغه موزي ارواوې چې د هغې په بدن کې دي او دا یې لیونۍ کړې ده، بېرته د هغې له بدنه راوباسم.

خواجګان ولاړل او ما مینا ته وویل نن شپه نیت لرم چې تا له حرمه وباسم او له ځان سره دې بوځم.

زه دې له دې هېواده باسم خو شرط یې دا دی چې ته به زما په امر کار کوې.

مینا وپوښتل څه باید وکړم؟

وړوکی ژی او چاقو مې وروښود او مې ویل زه دغه چاقو او ژی له تا سره پر ېږدم او ځم سپارښتنه کوم چې زما له تګه ور وسته هېڅوک دې کوټې ته رانه شي. کله چې تیاره شوه باید ددغه ژي سر خلاص کړې او لږ وینه ترې وباسې او په خپلو لاسونو، پښو او سینو یې وموښې او چاړه هم خپل څنګ ته کېږدې.

زه به د شپې په سر کې ستا کوټې ته ننوځم، وبه وایم تا په دې چړې ځان وژلی دی، ته هم ځان په مړینې واچوه چې ټول باور وکړي ته ژوندۍ نه یې.

بیا به زه خواجګان قانع کړم چې تا له دې ځایه بهر باسم او بیا به تا په یو شي کې تاوکړم او له دې ځایه به دې وباسم .بهر به ستا لاسونه ،پښې او سینې وینځم او له ځان سره به دې بوځم.

مینا موافقه وکړه چې زما په پروګرام به عمل کوي او زه د هغې له کوټې راووتم ، خواجګانو ته مې وویل چې هېڅوک حتی د حرم سرای ښځې او خواجګان باید د مینا کوټې ته دننه نه شي.

ځکه که څوک د هغې دکوټې دروازه خلاصه کړي او کوټې ته ننوځي هغه موزي ارواوې چې د درملو په وسیله د هغې ښځې له بدنه بهر شوې د دوی بدن ته به ننوځي او هغوی به لیوني کړي.

زه به په خپله د شپې په سر کې راشم او د هغې کوټې ته به ننوځم. خواجګانو په وحشت

سره وویل هېڅوک به ددې کوټې ته پرې نه ږدو . زه سلطنتي ماڼۍ ته لاړم او زما مریی لا هم د مېلمسیتا په هال کې و . یو شمېر کسان چې ډېر شراب یې څښلي و له ډېرې مستۍ د هال په یوې برخې کې ویده ول او نورو څه ناڅه مستي کوله، خو بورا بوریاش عادي او هوښیار و .

لمر دومره ټیټ شوی و چې، زېړه وړانګه یې کوټې ته لویدلې وه.

ما له بورا بوریاش څخه پوښتنه وکړه چې څه وخت د درواغو د پاچا جشن پای ته رسېږي؟

هغه وویل کله چې لمر ولوېد دغه جشن به پای ته ورسېږي او ستا غلام به په هغو زهرو چې د هغه په شرابو کې اچول کېږي مړ شي.

بیاد هغه مړی په یوه لوی خټین لوښي کې ایښودل کېږي او هغه د ماڼۍ د دروازې په سر کې د هغو کسانو له مړیو سره کېښودل کېږي چې پر همدې ورځ د درواغو پاچاهان شوي ول.

ومې ویل بورا بوریاشه ! زما غلام زما په شان مصري دی، هغه یې سنت کړی دی او زموږ خدایان وایي کله چې انسان مړ شي باید د هغه جنازه مومیایي کړئ چې په بلې دنیا کې ژوندی پاتې شي.

بورا بوریاش وویل کله چې جنازه مومیایي شي پر جنازې څه کوئ؟

ومې ویل له دې وروسته چې جنازه مومیایي کړو هغه ښخوو. بورا بوریاش وویل زه موافقه کوم چې ستا د مریي جنازه د خپلو دودونو په اساس مومیایي کړئ.

خو وروسته باید جنازه موږ ته وسپارئ چې هغه په خټین لوښي کې واچوو او د دروازې پر سر یې کېږدو.

ومې ویل، د اشرافو د جنازې مومیایي کول شپېتو یا اویا ورځو ته اړتیا لري، خو د مریيانو جنازه په دېرشو ورځو کې هم مومیایي کېږي. بورا بوریاش وویل ډېر ښه د هغه جنازه په دېرشو ورځو کې مومیایي کړه.

ما ځواب ورکړ دغه کار دلته نه شي پیلېدای، ځکه که زه په دې ماڼۍ کې د خپل مریي جنازه مومیایي کړم. ټول کسان چې دلته دي ان تاسې به د جنازې د خطرناکو بویونو له امله مړه شئ.

او باید ووایم چې دغه جنازه باید سمدستي مومیایي شي ګنې د بابل ګرمه هوا به

همدا نن شپه جنازه خرابه کړي او بیا یې نه شو مومیایي کولای.

له همدې لامله اجازه راکړئ، کله چې نن شپه زما مریی مړ شو زه یې مړی له مانۍ بهر کړم چې د سیند پر غاړه په یوې لیرې پرتې سیمه کې هغه مومیایي کړم او له نن شپې څخه چې له دې مانۍ څخه ووځم تر ډېرشو ورځو پورې به ما ونه ګورې.

باید ته مې و هم نه ګورې ځکه چې که په دغو دېرشو ورځو کې زه تا ته نژدې شم نو د جنازې بوی به دې مړ کړي.

بورا بوریاش وویل زه هم تر دېرشو ورځو پورې له تاسره کار نه لرم تر هغه پورې چې بېرته راستون شې.

خوان لمر ته وکتل او ویې ویل، دا دی لمر ولوېد، جشن پای ته رسېدلی او تر څو شپېو پورې به ستا مریي ته زهر ورکړي.

ورشه او ځارنه یې وکړه چې ستا په شتون کې چې ډاکټر یې دغه سړي ته زهر ورکړي.

په داسې حال کې چې موږ په دغو خبرو اخته وو، زه د مانۍ د نوکرانو له حالته پوه شوم، چې جشن پای ته رسېدلی، ځکه چې ناڅاپه ټول د کاپتا له شاوخوا لېرې شول.

خو کاپتا چې د ډېرو شرابو له امله نشه و د نوکرانو د حالت په دغه بدلون پوه نه شو.

ما ځان د بورا بوریاش ډاکټر ته ورساوه او هغه ته مې وویل چې پاچا ماته حکم کړی چې پټخپله دغه سړي ته زهر ورکړم.

نوموړي ډاکټر زما خبره ومنله ځکه چې پردې سربېره چې فکر یې وکړ زه دروغ نه وایم د درواغو د پاچا د جشن پر ورځ یې دومره شراب څښلي ول چې په خپلو پښو نه شوای درېدای.

کله چې پوه شو د زهرو د ورکولو دنده پاچا ماته سپارلې نو خوشحال شو او ویې ویل ایا پوهېږې چې باید مقتول ته کوم زهر ورکړې؟

ما وویل هو زه د زهرو په پېژندلو کې د بابل تر ټولو ډاکټرانو ښه پوهه لرم.

د پاچا ډاکټر چې له ډېرې مستۍ یوه او بل اړخ ته ځنګېده وویل له دې وروسته چې ستا مریی مړ شو زه باید هغه معاینه کړم چې یقین وکړم هغه مړ شوی دی کنه؟

ما ورته وویل کله چې هغه مړ شو زه به تا ته خبر درکړم چې راشې او هغه معاینه کړې.

د بابل د پاچا ډاکټر وویل زه څم لږ ویده کېږم کله چې ستا مریی مړ شو راشه او ما خبر کړه او که ویده وم راویښ مې کړه.

ومې ويل همدا کار به وکړم، چې پوه شې زما مريې مړ شوى دى.

کله چې د پاچا له ډاکټره جدا شوم په شرابو کې مې لړ اېيم واچول اپیم مې دومره واخيستل چې زما مريي د شرابو له څښلو وروسته داسې بېخوده شي چې نور فکر وکړي هغه مړ شوی دی.

بيا له ترياکو سره ګډ شراب په لاس، او کاپتا ته ورغلم او هغه ته مې وويل ته نن د څلورو فصلونو پاچايي او ټول دې په همدې نوم پېژني، زه هم دا خبره تاييدوم چې ته د بابل پاچايې.

خو لکه څرنګه چې پوهېږې زه ته يم راغلی چې د تل لپاره په بابل کې ژوند وکړم او اوس غواړم ولاړ شم خو تر تګ وړاندې يوه هيله لرم چې بايد ومنل شي.

کاپتا وپوښتل څه هيله لرې؟

ما وويل زما هيله داده چې پخپلو لاسونو يو جام شراب درباندې وڅښم چې مصر ته له ستنيدا وروسته ټولو ته ووايم زه سينووهه ابن الحمار هغه څوک يم چې پخپلو لاسونو مې د بابل پاچا ته شراب ورکړي دي، نور به ماته په لويه سترګه ګوري او زما عظمت به وستايي.

کاپتا وويل ما نن په کافي اندازه شراب څښلي دي نورو ته مې زړه نه کېږي خو له دې چې ته وايې هيله داده چې پخپلو لاسونو پر ما شراب وڅښې او ما هم تراوسه پورې د شرابو جام نه دی رد کړی څښم يې.

سره له دې چې پوهېږم ښايي داسې مست شم چې له خايه به نه شم پاڅېدای. بيايې زما د شرابو جام واخيست او په يوه ساه يې وڅښه او تش جام يې ايسته ګوزار کړ.

په دې وخت کې څراغونه ولګېدل او پر مانۍ چوپتيا خوره شوه ځکه چې ټول پوهېدل د تفريح او ساعت تېري وخت تېر شو او که څوک له دې وروسته ساعت تېري او مستي وکړي و به وژل شي.

څوشيبې وروسته زما مريه د پاچاهۍ تاج له خپل سره ليرې کړ او ويې ويل دغه خولۍ زما په سر کې وړه ده، پر سر مې فشار راوړي، د سر هډوکي مې درد کوي او په پښو کې هم د ستومانۍ او پړکالۍ احساس کوم، سترګې مې داسې درنې شوې چې زه فکر کوم بايد ويده شم.

کاپتا همغلته چې ناست و اوږد وغځېد او شېبه وروسته ويده شو زه پوهېدم چې دغه خوب چې د ترياکو له امله دی څوشېبې وروسته ورو ورو درنېږي او داسې کېږي چې که

څوک کاپتا وګوري ګمان کوي چې مړ شوی دی.

د ماڼۍ نوکرانو هغه خولۍ، چې کاپتا له خپله سره لېږې کړې وه بېرته د بورا بورياش پر سر کېښوده او د پاچاهۍ کالي يې واغوستل.

د بابل حقيقي پاچا بېرته په تخت کېناست او ويې ويل سره له دې چې نن د جشن او تفريح ورځ وه، خو زه ډېر ستومانه شوم، ځکه چې د جشن پر ورځ انسان تر نورو ورځو ډېر ستومانه کېږي.

له دې کبله چې ستړی يم بايد ويده شم او ډېر ژر هغه کسان چې نشه شوي او دلته ويده دي د سوټيو په زور له ماڼۍ وباسئ او دغه احمق (اشاره يې کاپتا ته وه) چې کله يې ساه ېځي له بدنه ووته په يوه ختين لوښي کې کېږدئ.

د ماڼۍ نوکرانو ويده او مست کسان په سوټيو وهل او په څوشېبو کې چې نشه کسان رابيدار او ويده راويښ شول ټول وتښتېدل.

زه کاپتا ته نژدې شوم او ومې کتل چې د مرګ ټولې ظاهري نښې پکې راڅرګندې شوې دي.

مريبانو ته مې وويل ورشئ د پاچا طبيب ته ووايا ست چې دلته راشي او دغه سړی معاينه کړي چې پوه شي مړ شوی دی.

مريبان ولاړل، د بابل د پاچا ډاکټر يې راووست هغه چې د مستۍ په وخت ويده شوی تر نيم ساعت زيات خوب يې نه و کړی او لا نشه و په نيم کښو سترګو راغی.

زه پوه شوم چې هغه په دې وخت کې د ځيرې او سمې معاينې حوصله نه لري او که يې معاينه کړی هم واي بيا به يې هم تصور کاوه چې هغه مړ شوی دی.

خو د بابل د پاچا ډاکټر چې غوښتل يې ژر ستون او ويده شي زما غلام يې برسېرن وکوت او ويې ويل بې شکه هغه مړ شوی دی، په ختين لوښي کې يې کېږدئ او د متې خاورې په خټې يې سر بند کړئ.

د بورا بورياش مريبانو زما مريی په يوه لوی ختين لوښي کې کېښود او کله چې مر يبانو غوښتل د متې خټه جوړه کړي، ما پاچا ته د هغه وعده ور په زړه کړه او ومې ويل چې بايد دکاپتا جنازه ماته راکړي چې يو يې سم او موميايي يې کړم.

بورا بورياش مريبانو ته وويل مصري ډاکټر سينووهه دا اجازه لري چې د دغه سړي جنازه له ماڼۍ بهر کړي او هغه موميايي کړي او بايد څوک ورته مزاحمت ونه کړي

پاچا وویل پام کوئ چې کله هغه له دې ځایه ووت تر د هرشو ورځو پورې باید په مانۍ ګام کېنږدي او که یې غوښتل مانۍ ته راشي په سوتیو یې وشړئ، ځکه چې دغه سړی مومیایي کوي. ښایي له ځان سره خطرناکې ارواوې راوړي او ما به ووژني.

ما چې له مخکې یو روان تخت برابر کړی ؤ د کاپتا د جنازې ختین لوښی مې واخیست روان تخت ته مې منتقل کړ او په لاره کې مې د متې ختې په برخه کې ځو سوري جوړ کړل چې زما د مرېي ساه بنده نه شي.

کله چې دا ده شوم کاپتا دبابل د پاچا له مانۍ بهر شوی دی او په روان تخت کې په ختین لوښي کې دی، نو زه دبورا بوریاش حرم سرای ته ولاړم، خواجګانو ته مې وویل ځم چې پر مینا د درملو اغېز وګورم.

کله چې د مینا کوټې ته ننوتم ګورم چې مینا زما خبره منلې او خپل مخ او لاسونه یې په وینې ککړ کړي دي او تر څنګ یې په وینو ککړه چاړه هم پرته ده.

په مصنوعي وحشت سره له کوټې راووتم او خواجګان مې راوغوښتل هغو ته مې وویل ایا لیوني شوي یاست چې بیا مو دغې ښځې ته چاړه ور کړې ده چې ځان یې وژلی دی.

کله چې خواجګانو وینې ولیدې له ډاره وربږد بدل او چا جرائت نه کاوه چې ورانډې راشي وګوري چې ایامینا په رښتیا مړه شوې ده که لا ژوندۍ ده ځکه چې ایجړګان له وینو ډارېږي او هېڅکله چمتو نه دي چې په وینو یوې ککړې جنازې ته لاس ورنژدې کړي.

ټولو حیرانه او لړزانه ننداره کوله او د هغوی ترهېدلو سترګو پوښتنه کوله چې موږ څه باید وکړو؟

هغوی ته مې وویل په دې پېښې کې تاسې هم زما په اندازه یا تر ما زیات مسو لیت لرئ، ځکه چې زه ډاکټر یم او راغلی یم چې دغه لیونۍ ښځه معالجه کړم.

یو ځل مې ستاسې په مخکې له هغې چاقو واخیست خو نه پوهېږم چې هغې څنګه بیا چاقو تر لاسه کړ او ځان یې وواژه.

اوس یوازېنۍ لاره دا ده چې زه دغه ښځه په یوه ګیلم کې تاو کړم او له دې ځایه یې بهر کړم تاسې باید همدا نن شپه یا سهار وختي یو بله وینځه واخلئ او د هغې پر ځای یې وساتئ او که بورا بوریاش پوښتنه وکړه چې ولې ددې وینځې څېره بدله شوې ده ووایئ چې ددغې ښځې په بدن کې موزي ارواوې ننوتلې وې او څېره یې ورته بدله کړې ده.

ایجړه ګانو یو بل ته وکتل او ویې پوښتل موږ فلز له کومه کړو چې وینځه پرې واخلو.

ومې ویل زه به د وینځې بیه درکړم او کله چې مو نوې وینځه واخیسته او حرم سرای ته مو راوسته، هغه سینګار کړئ او داور زده کړئ چې څنګه د بورا بوریاش هر کلی وکړي زه باوري یم چې کله د بابل پاچا وګوري چې وینځه رام شوې دومره به خوشحاله شي چې د هغې د څېرې د بدلون فکر به ونه کړي. بیا مې دوه ټوټې زر چې د یوې ښکلې وینځې د بیې دوه برابره کېدل ایجرا ګانو ته ورکړل هغوی یو ګیلم راوړ او مینا مې په ګیلم کې تاو کړه.

له دې پرته چې د توضیحاتو لپاره معطل شم مینا مې په اوږه کړه او له حرم سرایه ووتم. ځکه چې پوهېدم کله چې یو کار باید په بېړه ترسره شي هر څومره چې پرې لږ خبرې وشي ښه به وي.

ځکه د ډېرو خبرو له امله ستونزې راولاړېږي چې په خلکو کې وېرې او شک ته لمن وهي او ټول ایجراګان ډېر ډارن او کمزوري کسان دي.

مینا مې هم روان تخت ته ولېږدوله، زه هم سپور شوم او حرکت مو وکړ چې لږ وروسته سیند ته ورسیدو.

سیند ته له رسېدا مخکې مې د روان تخت بار وړونکو ته وویل چې روان تخت پر ځمکه کېږدي او لومړی مې هغه ختمین لوښی چې کاپتا پکې و، د هغو په وسیله کشتۍ ته ولېږداوه بیا مې د روان تخت بار وړونکو ته وویل اوس له تخته کوز شئ چې د خپل غلام روح هم له دې ځایه بهر کړم.

کله چې راغلاست ما به ونه ګورئ ځکه چې زه به تللی یم او روان تخت به همدلته پاتې وي او هغه تاسو وړولای شئ.

له دې وروسته چې بار وړونکي لاړل ما مینا له روان تخته کوزه کړه، هغه مې د سیند څنډې ته یوړه او خوشې مې کړه چې خپل لاسونه او پښې ووینځي.

له هغه وروسته له مینا سره یو ځای په کشتۍ کې سپور شوم او په توره تیاره کې زموږ کشتۍ حرکت وکړ او له ساحله لېرې شوو.

پارو وهونکي د مینا په لیدو حیران شول، ځکه چې مخکې مې ورته ویلي وو چې خپله وینځه هم له ځان سره سفر ته بیایم، هغوی فکر کاوه چې دا زما وینځه ده.

په دې ډول زه په یوې شپې کې له بابله ووتم، له هغه ټاټوبي چې ښایي هلته مې د طبابت له لارې ډېره شتمني ګټلې وای.

اتلسم څپرکی

مینا اوله بېهوشۍ څخه د کاپتا ویښېدل

کله چې له ښاره دوسمره لېرې شوو، چې د بابل د ښار روښنايي مو نه لیدله مینا، په مصري ژبه خبرې پیل کړې چې پارو وهونکي پرې نه پوهېدل ویې ویل، زه نن ستا دکار له امله ګنده او بوینه شوم.

ومې پوښتل د څه لپاره ګنده شوې؟

مینا وویل، ددې لپاره چې تا راته وویل خپل مخ، لاسونه او پښې په وینو سره کړم اوس چې هر څومره ځان ووینځم د وینې بوی مې له بدنه نه لېرې کېږي.

ومې پوښتل له دې خبرو ستا مقصد څه دی؟

مینا وویل، مقصد مې دادی چې تا دوکه کړم او اړه دې کړم چې د وینې له لامله پلیته او بوینه شم.

ومې ویل، اې پستې ښځې، زه دومره ستړی یم چې ستا د خبرو حوصله نه لرم او پرېږده چې ویده شم. ځکه هغه زیار چې ما ستا د ژغورلو لپاره ګاللی زما د ټول عمر ستر زحمت دی.

د مصر له دارالمماته وروسته مې دغسې زیار نه و ګاللی، ځکه هغه زحمت چې ما وګاله که یوازې بدني وای دومره به سخت نه و، خو کله چې انسان د بدني زحمت ترڅنګ له روحي پلوه هم تکلیف وکړي نو بیا ډېر ستومانه کېږي او ما نن روحي او بدني دواړه زحمتونه ګاللي دي.

پر دې سربېره ستا د ژغورنې لپاره ما ډېر مادي تاوان هم کړی دی.

ځکه که ته نه وای، له مادې نه وای غوښتي چې تا وژغورم او له حرم سرایه دې وتښتوم، زه به څو ورځې وروسته د بابل د ستر ډاکټر په توګه ددغه هېواد د پاچا په ښي اړخ کې ناست وم او دومره سره او سپین به مې تر لاسه کړي ول، چې دې ماکو ته ورته

ماکو به هم نه شوای ورلای.

خو تا مجبور کړم چې له دې ګټې تېر شم او تا له بابله وتښتوم.

هر کال به پر همدې ورځ يوه کڅوړه ايرې پر ځان اچوم چې په ياد ولرم چې نن زما د عمر يوه سپېره ورځ وه.

مينا وويل که ته ما دومره سپېره بولې چې له امله يې په تا بدې ورځې راغلې نو ښه به داوي چې زه ځان سيند ته واچوم. چې ته زما له شره خلاص شې.

له دې خبرې وروسته مينا وخوځېده چې ځان سمندر ته واچوي.

خو ما ونيوله او ومې ويل مينا سره له دې چې ما نن ډېر تکليف کړی او لوی تاوان مې زغملی، خو د ډاډګېرنې لپاره دغه وسيله لرم چې ته مې ژغورلې يې.

که ته ځان اوبو ته واچوې نو زما بد بختي به ډېره شي، ځکه چې پوه به شم له دې ټولو هڅو سره سره مې ته ونه ژغورلای شوې زه تا ته د مصر او بابل په ټولو خدايانو قسم درکوم چې له دې فکره تېره شه او ويده شه او که خوب نه درځي په يوې څنډه کې کېنه چې زه ويده شم.

ښځه غلې شوه، دبېړۍ په يوې څنډې کې کېناسته او ما هم پر خپل سر هغه ګيلم چې مينا مې پکې تاو کړې وه راکش کړ چې ويده شم.

سره له دې چې د پسرلي د فصل څوارلسمه شپه وه او بلبلانو د سيند پر دواړو غاړو سندرې ويلې او د سيند په دواړو غاړو کې د لک لک اوازونه اورېدل کېدل خو د شپې په مهال د اوبو د سر هوا سړه وه.

له څو شېبو وروسته مينا هم تر ګيلم لاندې راسره يوځای شوه او ويې ويل له دې کبله چې پوهېږم هوا سړه ده نو زړه مې غواړي ځان درنږدې کړم چې زما د بدن تودخه دې ګرم کړي.

زه د مينا په غېږ سره ويده شوی وم، سهار چې له خوبه پاڅېدم احساس مې وکړ چې کشتۍ ولاړه ده او حرکت نه کوي.

پاڅېدم ګورم چې پارو وهونکي پارو نه وهي، ومې وويل ولې پارو نه وهئ.

هغوی وويل موږ له شپې تر سهاره پارو وهلی او اوس مو لاسونه د پارو د لرګيو په شان وچ شوي دي، ملاوې مو خوږېږي، نور پارو نه شو وهلای او بايد ډودۍ وخورو.

دوی وويل هاغه د سين پر غاړه يو کلی ليدل کېږي ولاړ شه او له دې کلي څخه موږ ته

غوښنه او مستې راوړه چې ویې خورو او ماړه شو. ومې ویل اوس د ډوډۍ خوړولو وخت نه دی، زه به غرمه چې کوم کلي ته ورسېږو ستاسې لپاره خواړه برابر کړم او تاسې به ماړه شئ. ماتاسې ته وویل چې باید ډېر ژر ځان خپل پلرني ټاټوبي ته ورسوم، که تاسې دلته ډوډۍ وخورئ زموږ تګ به ټکنی شي. په دې هم پوه شئ چې که زما امر ونه منئ، نو زه چې یو پیاوړی کوډګر یم ټولې موزي ارواوې به وګمارم چې پر تاسې حمله وکړي او ستاسې د بدن غوښې ټوټه کړي او ویه مو خوري.

سره له دې چې بابلیان له کوډو ډارېږي خو زما له ګواښه ونه وېرېدل ځکه چې پوهېدل ورځ ده، لمر ځلېږي او په دې وخت کې له موزي ارواوو څوک نه ډارېږي.

بیا مې واورېدل چې یوه پکې ویل هغه یو کس دی او موږ لس تنه یو، هر کار چې وغواړو په هغه یې کولای شو.

کله چې بل پارو وهونکي دغه خبره واورېده خپل پارو یې پورته کړ چې ما په سر ووهي خو په دې وخت کې د ختین لوښي له منځه زما د مریي کاپتا غږ پورته شو.

پارو وهونکو فکر کاوه چې په دغه لوښي کې زما د تره جنازه ده، کله چې پوه شول جنازه ژوندۍ شوې ده، دومره وډار شول چې یو په بل پسې یې ځانونه اوبو ته واچول او ماکو نور پاروو هونکي نه درلودل خو ما وکړای شول چې ماکو د سیند څنډې ته بوځم او هلته مې لنګر واچاو چې د اوبو بهیر کښتۍ یو نه سي.

میناچې له خوبه پاڅېدله د سر وېښتان یې جوړول، زه یې په کتو ډېر خوشحال شوم ځکه چې مینا تر هغه ډېره ښکلې ده چې ما د بورا بوریاش په حرم سرای کې لیدلې وه.

کاپتا د ختین لوښي له منځه ناري کړی اولاس او پښې یې وهل، زه ورنژدې شوم او د لوښي سر مې مات کړ، ځکه چې د مټ خته وچه شوې وه.

کاپتا له لوښي سر راوایست، حیران حیران یې شاوخوا کتل او ویې پوښتل دا کوم ځای دی او زه چېرته یم؟ زما د پاچاهۍ خولۍ چېرته ده؟ ولې د پاچاهۍ کالي نه لرم؟ فکر کوم چې لوڅ یم. ساړه مې کېږي او پښې مې داسې بې حسه شوې لکه چې یوه زهر لرونکي مار چیچلی یم...

سینوهه... سینوهه! پام کوه چې ما ونه کړوې او دوکه مې نه کړې ځکه چې د بابل پاچا یم او پاچا داسې څوک نه دی چې ته کې ورسره وشي یا دوکه کړای شي.

ما هم ددې لپاره چې کاپتا ته مې سزا ورکړې وي او د هغه پروني سپین سترګي جبران

شي، ومې ویل تا هېره کړې چې پرون کله له بابله وتلو تا دومره شراب وڅښل چې نشه شوی وې هغه دې وکړه چې په کښتۍ کې پارو وهونکي ژوبل کړې او تل دې همدا ویل چې د بابل پاچا یې او عدالت اجرا کوې

کله چې پارو وهونکي له تا په تنګ شول مجبور شول چې تا په دې لوښي کې بندي کړي چې هغوی ژوبل نه کړې.

کاپتا سترګې پټې کړې او په چورت کې ولاړ.

له دې وروسته چې سترګې یې خلاصې کړې ویې ویل زه به نور شراب ونه څښم ځکه چې د شرابو نشې زه له حیرانوونکي خوب سره مخامخ کړم، ما کتل چې د بابل پاچا یم او په خلکو کې عدالت اجرا کوم.

بیا مې ولیدل چې د بابل د پاچا بورا بوریاش حرم سرای ته ننوتم او غوښتل مې له یوې ناپوهې ښځې سره خبرې وکړم خو هغې پر ما حمله وکړه او زه یې ژوبل کړم.

نورې پېښې هم وشوې چې اوس مې په یاد نه دي

د دې لپاره چې سرخوږ لرم او غواړم هغه درمل راکړې چې نشه کسانو ته یې د نشې، مستي او سرخوږي د ورکېدو لپاره ورکوې.

په داسې حال کې چې زما مریي دغه خبرې کولې ناڅاپه یې د کښتۍ په منځ کې مینا ولیده، خپل سر یې چې له خټین لوښي را ایستلی و، بېرته ښکته کړ، زګیروی یې پیل کړل او ویې ویل، باداره زه لا هم خوب ګورم او هغه ښځه وینم چې د بورا بوریاش په حرم کې وه ... اې د مصر خدایانو له ما سره مرسته وکړئ، ځکه لږ پاتې ده چې لېونی شم.

کاپتا په خټین لوښي کې په ژړا شو او شېبه شېبه یې ویل زه لیونی کېږم، له دې وروسته به عقل ونه لرم او د نورو لیونیو په شان به ماهم له ښاره وباسي.

مینا لوښي ته نژدې شوه او د کاپتا د سر وېښتان یې ونیول، د هغه سر یې راپورته کړ او ویې ویل ښه ماته وګوره ماپېژنې کنه؟

کاپتا په ژړا وویل ته همغه یې چې په خوب کې دې پر ما حمله وکړه او زما شونډه او پوزه دې ژوبله کړه.... اې د مصر خدایانو ! پر ما ورحمېږئ... او ماله دې وژغورئ.. اې د مصر خدایانو !زه پوهېږم چې تاسې پر ما په قهر شوي یاست او دغه ښځه مو زما خوب ته راوستې ده.

ددې لپاره چې کله زه بابل ته ننوتم ستاسې عبادت مې پرېښود او دبابل د خدایانو

عبادت مې وکړ، خو له دې وروسته به یوازې ستا سې عبادت کوم.

مینا خپل بوټ له پښې وایست، دوه ځله خو ورو یې کاپتا پر سر وواهه او ویې ویل له دې کبله چې په خوب کې دې ماته سپکاوی وکړ داستا د ناسم خوب سزا ده چې پوه شې اوس ویده نه بلکې ویښ یې.

خو کاپتا نور هم وژړل او ویې ویل اوس هم ویده یم، ځکه اوس هم هماغسې احساس کوم لکه څنګه چې دې په خوب کې په بوټانو وهلم دغسې مې دادی په ویښه هم وهې.

ما کاپتا ته وویل اوس په رښتیا ویښ شوی یې او باید ونه ژاړې. له لوښي را ووځه چې زه دې نشه معالجه کړم.

خو کاپتا له ختین لوښي بهر نه شو راوتلای، ما ورسره مرسته وکړه چې له وړوکي ختین لوښي څخه راووځي.

ددې لپاره چې له رګونو یې شراب ووځي هغه ته مې مسهل (جولاب) ورکړل ځکه له دې وروسته چې شرابي د نشې له اوږده خوبه راویښ شي نو د نشې د ختمولو اغېزمن درمل جولاب دي.

له دې کبله چې زما مریی د شرابو له نشې پرته د اپیمو نشه هم درلوده نو ددې لپاره چې هغه د تریاکو له اغېزو خلاص کړم یو پړی مې د هغه پر ملا پورې وتاړه او په سین کې مې واچاوه.

زما مریی له دې وروسته چې د درملو اغېز څرګند شو د شرابو له نشې خلاص شو او ویې ویل نور د سر درد نه احساسوم خو داسې ښکاري چې لا سم له خوبه نه یم راویښ شوی. ځکه چې نور خوب هم راځي.

پوه شوم چې خوب ته لېوالتیا یې د تریاکو د نشې له امله ده چې، ژر له منځه نه ځي او یوه موده پاتې وي.

ما ورته وویل بله ورځ به د نن ورځې یوه ستونزه هم ونه لرې او ښځي به معالجه شې.

له دې کبله چې ددغې ښځې د سزا له لامله او دغه راز زما د سپارښتنو د ستونزو له امله دې ښه سزا الیدلې ده زه ستا سپین سترګي ښنم.

کاپتا وویل ایا ما ستا پر وړاندې سپین سترګي کړې ده؟

ومې ویل. هو! ته پرون د ډېرو شرابو او د نورو د ملندو له امله چې پر تا یې وهلې داسې سپین سترګی شوی وې چې دوه ځله دې زما پر وړاندې بې ادبي وکړه.

خو ددې لپاره چې پوه شې د يوه مالک او يوه غلام تر منځ څه توپير موجود وي زه تا بښم.

خو په دې پوه شه، که ما پرون د لمر لوېدو پر وخت له مرګه نه وای ژغورلی نو اوس به په دې چاتې کې مړ نه نورو چاتيو سره د بابل د پاچا د ماڼۍ د دروازې پر سر وې ځکه چې بورا بورياش وژلې.

بيا مې پرونۍ پېښه ورته په تفصيل سره بيان کړه، کاپتا باور نه کاوه او تصور يې کاوه چې زه درواغ وايم، خو د مينا شتون هغه اړ کړ چې هر څه چې زه وايم پرې باور وکړي.

له دې وروسته چې هغه مې پوه کړ، پرون کوم خطر ورته متوجه و، ومې ويل:

سره له دې چې موږ له بابله تښتېدلي يو، خو لا له دې ښاره دومره لېرې شوي نه يو، چې خپل ځان خوندي وبولو او که د بابل پاچا موږ ونيسي نو د بابل له دېواله به مو سر په څړۍ راځوړند کړي.

ددې کشتۍ پارو وهونکي هم تښتېدلي دي او موږ به له هغوی پرته پارو ونه شو وهلای چې ځان د ميتاني تاټوبي ته ورسوو.

ته چې زما مريی يې او س بايد يوه چاره ولټوې چې موږ ژر د بابل له ګاونده هم لېرې شو.

خو له دې کبله چې موږ له پرون غرمې راهيسې څه نه دي خوړلي خوړو ته اړتيا لرو، لاړ شه او له هغه لېرې کلي څخه زموږ لپاره خواړه راوړه. د تګ او راتګ په وخت کې خپل عقل وکاروه چې موږ څه ډول تښتېدلي شو او ځان د بورا بورياش له شره ژغورلای شو.

کاپتا د مسو له دوو کړيو سره ولاړ.

دی چې کله بېرته راستنېده نو پر اوږو يې يو بار راليږداوه، ما وليدل چې دوه منګي شراب او يوه اندازه خواړه د هغه په پښتي کې تر سترګو کېږي.

ومې ويل کاپتا فکر دې وکړ چې څه بايد وکړو ؟

کاپتا وويل هو باداره ! کله چې زه له دې ځايه خوړو پېرودلو ته روان شوم فکر مې وکړ او په بېرته ستنيدا کې مې هم فکر وکړ، پوه شوم چې ما پرون خوب نه ليده او هغه څه چې ما کتل په ويښه کې تېر شوي ول.

نو شراب ګناه نه لري ځکه هغه څه چې ما کتلي د نشې له امله دي، ما غلطي کړې او توبه مې وکړه چې نور به شراب نه څښم.

کاپتا دغه خبره وکړه او له دې پرته چې زما اجازې ته وګوري یو منګی یې را واخیست، د شرابو څښنل یې پیل کړل او شېبه په شېبه یې د ساه اخیستلو لپاره منګی له خولې لیرې کاوه او د مصر پر خدایانو ان د بابل پر خدایانو یې سلام وایه او له دې وروسته چې دومره شراب یې وڅښل چې نور یې په خېټه کې ځای نه و، منګی یې د کښتۍ تر درازې چوکۍ لاندې کېښود خکه دغه ځای سوړ او مناسب و او پخپله د کښتۍ پر غولي اوږد وغځېد او ویده شو.

زه له دې حرکته داسې غوسه شوم چې غوښتل مې د کښتۍ په یوه پارو هغه ووهم او سزا ورکړم. خو مینا مخالفت وکړ او وېې ویل ستا مریي ډېر د هوښیارۍ کار وکړ، موږ هم باید له هغه درس واخلو او شراب وڅښو چې مست او تاند شو.

ځکه چې نن د خوشحالۍ ورځ ده، بورا بوریاش که هره رنګه وسیله ولري او څومره ژر چې اقدام وکړي موږ ته نن نه شي را رسېدای چې ومو نیسي.

موږ باید له دې پسرلنۍ ورځې استفاده وکړو چې غنم د سیند تر څنګ شنه شوي لک لکونه سندرې وايي او هیلۍ په جګو ورمېږونو الوت کوي چې لاړې شي ځانونو ته ځالې جوړې کړي او هګۍ واچوي.

ښايي بله داسې ښکلې او زړه راکښونکې ورځ زموږ په برخه نه شي.

دې خبرې پر ما ډېر اغیز وکړ او مې ویل، مینا ! کله چې زه په بابل د منجمینو د کتو لپاره د هغو برج ته تللم له هغوی مې اورېدل چې د انسانانو برخلیک د ستورو له لوري ټاکل کېږي او موږ به ونه کړای شو چې خپل برخلیک بدل کړو.

ځکه خو زه ستا وړاندیز منم، نن ورځ به دلته په خوشالۍ تېره کړو او له دې امله چې هوا ګرمه شوې ده غوره ده چې اوبو ته ورګډ شو او ځانونه یخ کړو.

کالي مو وایستل او په سیند کې مو ولامبل.

کله چې ښه یخ شو او بېرته ماکو ته ستانه شوو، ډوډۍ مو وخوړه او شراب مو وڅښل.

مینا ددې لپاره چې ماته وښیي خپلو خدایانو ته څنګه ګډېږي د کښتۍ په غولي کې ونڅېده، ما ورته وویل مینا ! له دې زیاته مه ګډېږه.

ښځې پوښتنه وکړه ولې له دې زیات ونه ګډېږم؟

ما وویل ډېره ښکلې یې، کله چې ګډېږې نوره هم ښکلې کېږې او کله چې پخپل نظر سره چې د سیند په اوبو کې د سپوږمۍ د رڼا په شان ده، ماته ګوري نو زه ډېر بې تابه کېږم

(دلته د ښځې نظر د سین په اوبو کې د سپوږمۍ له رڼا سره تشبیه شوی هغه هم په رڼا ورځ نوښايي عجیبه ښکاره شوې وي، خو په دې کتاب کې تشبیهات او د مطالبو د بیان روده مصري ده، ځکه چې لیکوال خپل ټول مطالب او پېښې له تاریخه اخیستي دي، نو باید لوستونکي پر ژباړن نیوکه ونه کړي چې ولې یې په ژباړه کې هم د مینا نظر د سیند په اوبو کې د سپوږمۍ رڼا بللې ده. ژباړونکی)

خو زه نه غواړم چې یوې ښځې ته ووایم چې هغه زما خور ده، ځکه چې یو ځل مې یو ښځه خپله خور کړه او داسې یې بد مرغه کړم چې هېڅ مصري ډاکټر هو مره نه دی بدبخته شوی.

مینا وویل، داسې ښکاري ستاسې په هېواد کې ښځې نارینه غلطوي او هغوی بدبخته کوي، خو زه نیت نه لرم چې تا دوکه کړم او بدبخته دې کړم.

زما خدای هم ماته ویلي چې باید ځان سړيو ته تسلیم نه کړم، مګر هغه وخت چې یو سړی مې خوښ شي.

خو ما تر اوسه پورې داسې کوم سړی نه دی موندلی چې خوښ مې شي او ورسره ساعت تېر کړم.

دا راته ووایه هغې ښځې چې بدبخته کړی وې د کوم وطن وه او څه ډول یې بدبخته کړې.

ومې ویل ددې لپاره چې هغه زما خور شي زما ټول شتمني یې رانه واخیسته، حتی مجبوره یې کړم چې د خپل مور و پلار قبر هم خرڅ کړم او ما ونه کړای شول خپل مور و پلار د هغوی په قبر کې ښخ کړم. مینا وویل ایا له خور کېدا ستا هدف دا دی چې غوښتل دې له هغې ښځې سره څملې او ګټه ترې واخلې ؟

ومې ویل هو.

مینا وویل ددې لپاره چې له تا سره څملي له تا یې ټول شیان واخیستل او ته یې اړ کړې چې د خپل مور و پلار قبر هم خرڅ کړې ؟

ومې ویل هو.

مینا وویل دا د هغې ښځې کړنه وه، که ستاسې په هېواد کې ټولې ښځې همداسې دي او ددې لپاره چې له یوه سړي سره ویده شي هرڅه چې لرې هغه ترې اخلي.

ومې ویل نورې ښځې هم ددې لپاره چې کوم سړی ورسره ویده شي او یا ترې استفاده

وکړي له سړي یو شی اخلي.

په مصر کې هېڅ یوه ښځه د یوه شي له ترلاسه کولو پرته له کوم سړي سره واده نه کوي اویا نه ورسره ځملي.

مینا وویل دا ډېر وحشتناک دود دی، که زه سمه پوه شوې یم په مصر کې هر سړی چې وغواړي واده وکړي باید شتمن وي او سره و سپین ورکړي او د کنیزې په شان ښځې واخلي گنې له ښځې به برخمن نه شي.

ومې ویل همداسې ده خو د سرو او سپینو اندازه سره توپیر کوي هغه کسان چې بډای دي د ښځې د اخیستو لپاره ډېر سپین او سره ورکوي.

مینا وویل په دې ډول باید حیران نه شو چې ولې ټولې ځان پلورونکې ښځې له مصره راځي.

ځکه هلته، چې د ښځې او مېړه ژوند یا د هغوی یو ځای کېدل په سرو او سپینو پورې تړاو لري، ترهغه چې مېړه سره او سپین ونه لري ښځه نه شي کولای، او تر هغه چې ښځه فلز تر لاسه نه کړي نارینه نه شي پیدا کولای.

په دې حالت کې نارینه او ښځې له یو بل سره علاقه نه پیدا کوي، یوازې له سرو او سپینو سره دلچسپي لري او هر څوک چې ډېر فلز ورکړي ښځه خپل زړه هغه ته ورکوي.

خوزه د هغه ټاټوبي یم چې هلته نارینه او ښځې د فلز لپاره له یو بل سره نه ځملي او هغه څه چې خدای ورپیا ورکړي وي، نه یې خرڅوي.

زموږ په هېواد کې هېڅکله داسې نه دي اورېدل شوي، چې یوه ښځه ددې لپاره چې یو سړی له ځانه راضي کړي، هغه له ژوند او هستی وغورځوي او حتی د مور و پلار قبر یې واخلي.

هلته چې کله سړي او ښځې یو بل خوښ کړل مېړه او ماندینه شي، نه ښځه له سړي او نه سړی له ښځې څه غواړي او که ما ځان خپل خدای ته نه وای وقف کړی هر سړی چې ما غوښتی وای هغه به مې خوښ کړی و.

اوس چې ما ځان خدایانو ته وقف کړی، بیا هم کولای شم هر سړی چې خوښ کړم د خپل خاوند په توگه یې غوره کړم، په دې شرط چې خپل پېغلتوب خپل خدای ته ور کړم او بیا واده وکړم.

ومې ویل مینا! دنیا پراخه ده او په دې نړۍ کې ډېر خدایان شته، د خدایانو شمېر

دومره زیات دی چې تر او سه پورې څوک نه دي توانېدلي د هر خدای نوم په یاد ولري

خلک په هر پړاو کې له وېرې ځانته نوي خدایان پیدا کوي او د هغو عبادت کوي

له همدې کبله ته هم کولای شې له خپله خدایه تېره شې، له ما سره هغه هېواد ته ولاړه شې چې هلته ستا خدای هېڅ قدرت ونه لري، هلته نور خدایان هم شته چې تا نه مجبوروي، خپل پېغلتوب هغوی ته ورکړې او هلته به ته زما خور شې او زما مېرمن کېږې.

میناوویل هر هېواد ته چې زه ولاړه شم زما د خدای قدرت پر ما اغېز کولای شي او نا ممکنه ده چې داسې ځای ته ولاړه شم چې هلته زما د خدای قدرت نه وي.

بیا مینا ماته نږدې شوه او زما لاس یې ونیو او ویې ویل زما خوښ یې او چمتو یم چې ستا ښځه شم خو خپل پېغلتوب تا ته نه شم درکولای ځکه چې زما پېغلتوب زما په خدای پورې اړوند دی.

ومې ویل ګوره مینا! دغه خبره چې ته یې کوې د نورو ښکلو او ځوانو ښځو د خبرو په شان ده هره یوه ددې لپاره چې هغه سړی وځوروي چې داغواړي، نو یوه پلمه کوي.

یوه وایي زه درسره مینه لرم، خو له تا سره ډېر سپین او سره نشته، بله وایي پر ماګران یې خو له دې کبله چې زما د خدای عبادت نه کوې نو ستا خور کېدای نه شم.

او ته هم وایې چې راباندې ګران یې خو باید خپل پېغلتوب خپلو خدایانو ته ورکړم.

مینا وویل، زه یوه ناپوهه ښځه نه یم، د خپل هېواد پر ژبې سربېره په مصري او بابلي ژبو هم پوهېږم او خپل نوم په دریو ښو لیکلی شم.

زه پوهېږم چې خلک په بېلابېلو هېوادونو کې د بېلابېلو خدایانو عبادت کوي او په دې هم خبره یم، هغه کسان چې بډای دي پخپلو خدایانو عقیده نه لري، خو په دوو موخو ځان د خپل خدای معتقد بولي.

یوه دا چې عادت او دود همداسې دی او بله دا چې باید ځانونه خدایانو ته معتقد وښيي چې بېوزلي او مریان چې په همغه خدای عقیده لري کار کولو ته اړکړي او د هغوی له کارونو ډېره شتمني ترلاسه کړي.

ځکه که بې وزله او مریيان په دې پوه شي چې شتمن په خدایانو عقیده نه لري نو د هغوی په خلاف به بلوا وکړي.

په مصر، بابل او نورو ځایونو کې پر خدایانو د بېوزلو او غلامانو عقیده د هغوی د ساتلو تر ټولو ښه وسیله ده.

هو مره چې دغه عقیده مریان او بېوزلي د شتمنو فرمانبرداري کوي د متروکې او مرګ ویره دو مره اغېز نه لري.

زه په دې ټولو پوهېږم خو له دې کبله چې له ماشومتوبه یې پخپل خدای باندې له عقیدې سره لویه کړې یم او تل د خپل خدای په مخکې نښېدلې یم.

هېڅ قدرت پر خدای زما عقیده نه شي اخیستلای او که ته هم زما په شان له ماشومتوبه د غوایانو په مخکې نښېدلی وای او د نڅا پر وخت دې د هغوی د تېرو ښکرو له منځه تېر نه وهلای نو اوس به په دې پوهېدې چې زه څه وایم.

څوک چې دغسې پر خپل خدای عقیده پیدا کړي بیا خپله عقیده نه بایلي خو زه یقین لرم چې تا هېڅکله د غوسه شوي غوایي په مخکې د پېغلو او ځوانانو نڅا نه ده لیدلې.

ما وویل اورېدلي مې دي چې په ځینو هېوادونو کې له غوا او غوایي سره لوبې کوي، د غوایي په مخکې کې نڅېږي او د هغوی غوسه تحریکوي.

ما فکر کاوه چې دغه کارونه د دې لپاره دي چې نندارچیان تفریح وکړي، خو ستا له خبرو داسې ښکاري چې دغه کار مذهبي اړخ لري او د دې لپاره د غوایي پر وړاندې نڅېږي چې په خپلې مذهبي دندې عمل وکړي او موږ هم په مصر کې د غویي عبادت کو.

خو هغه غویی چې موږ یې عبادت کوو ستا له هغو سره توپیر لري، ځکه چې موږ د یو ډول غوایي عبادت کوو او دغه غویی چې مخصوصې نښې نښانې لري په هر بشري نسل کې یانې په هرو شلو کلونو کې یو ځل پیدا کېږي.

کله چې غویی پیدا شو او ټولې ځانګړې نښې ولري بیا موږ ویلای شو، چې د خدایي نښې لري او د هغه عبادت کوو تر هغه چې مړشي.

خو موږ هېڅکله د غویي پر وړاندې نه ګډېږو او د مصر د پېغلو، پېغلتوب غویو ته نه ورکوو.

په داسې حال کې چې ته غواړې خپل پېغلتوب غویو ته ورکړې او اوس چې یو ځناور باید ستا له پېغلتوبه خوند واخلي ولې یې سپي یا اس ته نه ډالۍ کوې؟

مینا په دې خبره داسې غوسه شوه چې دوه سختې څپېړې یې راکړې او رنګ یې تک تور شو.

ویې ویل اې ناپوه مصري ډاکټره! د هغه شي په هکله خبرې مه کوه چې ترې خبر نه یې، ځکه چې زما د خدای په هکله ستا معلومات د سرو او سپینو په اړه د یوه مچ د معلوماتو

په اندازه نه دي.

په داسې حال کې چې زما مخ د مينا پر ځيېږ تک سور شوی و، پوه شوم چې زما تينګار ګټه نه لري او مينا به راضي نه شي چې زما خور شي مګر تر هغه خپل پېغلتوب لومړی خپل خدای او په پياوړي ګمان غويي ته ورنه کړي.

له دې امله د کشتۍ شاتنۍ برخې ته ولاړم او د بوختيا لپاره مې خپل درمل سنبال کړل.

مينا د کشتۍ په منځنۍ برخه کې نڅا پيل کړه او زه متوجه شوم چې دغه نڅا يوازې د عبادت لپاره نه ده، بلکې تمرين کوي چې عضلات يې تل په کنټرول کې وي.

مينا داسې نڅېده چې يوه عادي نڅاګره هغسې نڅېدلای نه شوه، ځکه چې کله به يې دوه لاسونه د کشتۍ په غولي کېښودل، دواړه پښې به يې داسې او چتې کړې چې ته به وايې د هغې بدن له لرګي جوړ دی او کله به يې ملا داسې د شا لوري ته کږه کړه چې سر به يې ځمکې ته رسېده او پښې به يې هماغه راز پر ځمکه ښتې وې.

کله چې ما خدای ته د هغې عجيبه نڅا وليده پوه شوم چې د مينا په هکله زما تينګار بېځايه و او ځوک چې دغه سخت کار او زيار د خپل خدای لپاره ګالي نه چمتو کېږي چې زما خور شي مګر دا چې خپل پېغلتوب لومړی هغه ته ورکړي.

ځوک چې پر خپل خدای دومره عقيده لري د مذهب پر خلاف له هغې د کوم شي غوښتل ناځواني ده.

نو فيصله مې وکړه چې له دې وروسته به له هغې ونه غواړم چې زما خور شي.

له دې وروسته چې مينا ونڅېده خپل بدن ته يې مالش ورکړ او کالي يې واغوستل.

بيا د کشتۍ په مخکينۍ برخه کې کېناسته او ويې ژړل.

ما مې خپل طبي وسايل پرېښودل او د هغې خواته ورغلم، په ډېرې نرمۍ مې ورته وويل مينا! ناروغه يې؟

هغې ځواب رانه کړ، زما لاس يې راټېل واهه او په زوته يې وژړل. ومې ويل مينا! سره له دې چې تا ته ډېر لېواله يم خو ډاډه او سه چې هېڅکله به له تا ونه غواړم چې زما خور شي، نو له دې امله مه خپه کېږه او مه راځخه وېرېږه.

مينا سر پورته کړ او په يوه حرکت سره يې خپلې اوښکې پاکې کړې، ويې ويل ته څومره احمق يې چې خيال کوې زه له تا ډارېږم.

زه له تا هېڅ وېره نه لرم او ستا له لاسه نه ژاړم بلکې د خپل تقدير لپاره ژاړم چې زه يې

له خپل خدایه بېله کړی یم.

که زه له خپل خدایه نه وای بېله شوې دومره به نه وای کمزورې شوې چې ستا په شان یوه سړي نظر مې څپڅپانده کړي.

ما د هغې لاس ونیو، داخل یې زما لاس ټیل نه واهه. مخ یې راواړاو ویې ویل، سینوهه! له دې کبله چې زه دې د بابل له پاچا وژغورلم باید ددې خدمت په بدل کې ستا د ژوند شریکه شوې وای خو که یوه شوې چې زما خدای څوک دی په دې به حیران نه شې چې زه د دغه خدمت بدله نه شم درکولای.

موږ باید د خپل خدای په هکله له بهرنیانو سره ډېرې خبرې ونه کړو او په هر شي چې پوهېږو باید هغوی ته یې ونه وایو.

خو زه درته ویلای شم چې زموږ خدای د سمندرونو خدای دی او په یوه غره کې په یوه سمڅه کې اوسېږي.

هر څوک چې دغه غار ته ننوځي که څه هم له هغه ځایه راوتلای شي خو دومره د نیکمرغۍ احساس کوي چې هېڅکله به له هغه ځایه را و نه وځي.

له همدې امله تر اوسه پورې له دغه غاره څوک نه دي راوتلي.

ځینې وايي چې زموږ خدای چې اوس د سمندر خدای دی، دغوايي په شان دی او ځینې وايي چې د سړي په شان دی خو سر یې د غوايي په ډول دی.

هرکال په هغو پېغلو کې چې مخکې یې نڅا زده کړې وي دولس تنه په قرعه کشۍ کې انتخابوي او په دغو دولس تنو کې هره میاشت هغه مهال چې سپوږمۍ د څوارلسو شپو شي یوه پېغله د خدای غار ته ننوځي.

زه هم له دغو دوولسو نجونو څخه یوه وم او باید د څوارلسمې سپوږمۍ پر یوې شپه دغه غار ته ننوتلې وای، خو له دې کبله چې زه یې وتښتولم او د وینځې په توګه یې د بابل په پاچا خرڅه کړم له دغه ستر نعمته بې برخې شوم.

په ټوله موده چې اسیره وم د همدې غار په هکله مې فکر کاوه او اوس هم د همدې غار په سوچونو کې یم.

له دې پرته بله هیله نه لرم چې ولاړه شم او خپل پېغلتوب په همدې غار کې خپل خدای ته ډالۍ کړم، خو که له غاره راووتم بیا به ستا ښځه شم البته هغه کسان چې زموږ د خدای غار ته ننوځي داسې د نیکمرغۍ احساس کوي چې هېڅکله له دې غاره نه راوځي.

ومې ويل، مېنا ! اوس زه پوهېږم چې د کرت د ټاپو د کومې سيمې يې. *(کرت ټاپو د مديترانې په سمندرګي کې يو ټاپو دی چې پخوا يې لرغونی تمدن درلود. اوس د يونان برخه ده او د افريقا په تېره بيا د مصر په شمال کې موقعيت لري ژباړن).*

ځکه کله چې په سوريه کې وم هغه سمندر کچ کووونکي چې له کرت څخه راتلل ويل به يې د کرت د ټاپو د اوسېدونکو خدای په يوه غار کې ژوند کوي او د غوايي په شان دی.

زه چمتو يم چې تا د کرت ټاپوته ورسوم او چې هر ډول دې زړه غواړي له خپل خدای سره هغسې معامله وکړې.

مېنا وويل سينوهه ! په ټولو هغو نارينه وو کې چې تر اوسه ما ليدلي، ته يوازېنی کس يې چې خوښ شوی مې يې.

ځکه پر دې سربېره چې زه دې وژغورلم په تاکې داسې څه شته چې ما ستا لور ته جذبوي خو نه پوهېږم چې هغه څه دي ؟

زه غواړم له اوسه تر هغه وخته چې کرت ته رسېږو زه او ته په خوشحالۍ سره ژوند وکړو او بيا هم وايم.

له دې وروسته چې خپل پېغلتوب مې خدايانو ته ډالۍ کړ که له غاره ووتلم ستا ښځه به شم.

بيا مېنا په خپلو لاسونو زما مخ ونيو، خپل مخ يې ماته نژدې کړ او خپلې شونډې يې زما په مخ ومو ښلې.

ما يې مخ ښکلاوه او دومره خوند يې راکاوه چې که مې خور شوې هم وای دومره خوند به يې نه و راکړی.

کله چې شپه شوه زما مريي پاځېد سترګې يې ومو ښلې او خوله يې وازه وازه کوله ويې ويل، اې (آمون) د مصرستره خدايه ! زه شکر کوم چې زما سر درد دې ختم کړ او اوس مې سر د هغو مسو په شان درد نه کوي چې د سندان او څټک ترمنځ وي.

خو خېټه مې دومره وږې ده چې ته وا څو ځوان زمريان پکې ګرځي او ډوډۍ غواړي.

بيا له دې پرته چې له مونږ اجازه واخلي ولاړ شو او له هغې ډوډۍ څخه يې لږه را واخيسته چې ده پخپله اخيستې وه، ويې خوړه او تر خوراک وروسته به يې د مرغانو هډوکي سيند ته اچول.

نولسم څپرکی

موږ درې ټوکماران شوو

کله چې يې لوږه کمه شوه ومې ويل کاپتا ! تاغوښتل چې موږ ته نصيحت وکړې او وايې چې موږ څه وکړو چې ځان وژغورو.
ځکه چې ښايي د پاچا عسکر په موږ پسې راوتلي وي او زموږ د نيولو تکل يې کړی وي.
کاپتا وويل که زه سم پوه شوی يم ؟ نو تا وويل چې د بابل پاچا تر دېرشو ورځو پورې ستا لټه نه کوي او تا ته يې ويلي چې تر دېرشو ورځو پورې به د پاچاهۍ ماڼۍ ته نه ورځې.
نو هغه به ستا په فکر کې نه وي او دا خيال به کوي چې په يوې لېرې پرتې سيمې کې زما د مړي په موميايي لګيا يې.
خو ښايي هغه پارو وهونکي چې له دې کشتۍ تښتېدلي او يا د حرم سرای خواجګان به په دې موضوع د بابل پاچا خبر کړي چې په دې ښه کې بايد وډار شو او وتښتو.
ځکه که بورا بورياش ما ونيسي خپل زمري ته به مې واچوي او تا او دغه ښځه به د بابل له د يوالونو سر په څړۍ راځوړند کړي.
که تا زه په ترياکو نه وای بې هوشه کړی او ما خپل عقل او حواس نه وای بايللي تاته به مې لارښوونه کړې وای.
خو ستا دغه اپيم دومره سپېره ول چې که څه هم زما سر درد ښه شوی دی خو لا هم ګنکس يم.
له دې سره سره تاله دې امله چې ماته دې اپيم راکړي ول او په چاړه کې دې کېښولی وم (او دغه چاره زما له حيثيت سره سم کار نه و) بيا هم زه تا بښم.
ومې ويل دغه خبرې پرېږده او يوه چاره راوښيه چې خپل ځان وژغورو.
کاپتا وويل زه پوهېږم چې ته له ما پرته د هغه پسه په شان يې چې خپله مور يې ورکه

کړې وي او پرله پسې بغارې وهي، که زه نه وای ته به له دې امله چې خان نه شې ژغورلای وختي مړ وې.

ومې ویل ووایه څه باید وکړو او څنګه وتښتو.

کاپتا وویل دغه کشتۍ چې لس پارو وهونکي یې درلودل ډېر لویه ده او موږ په دوو کسانو (ځکه چې دغه ښځه خو پارو نه شي وهلای) دغه کشتۍ نه شو بېولای.

موږ داوبو د بهیر خلاف حرکت نه شو کولای نو مجبوره یو چې د کشتۍ له سفره تېر شو او په بدل کې یې هڅه وکړو چې دوه خره پټ کړو او پر وچه ځمکه خپل سفر ته دوام ورکړو.

په دې سفر کې به موږ ځانونه د ګرځنده ټوکمارانو او مداریانو په شان کړو او شکېدلې جامې به واغوندو.

د ورځې به مزل کوو او د شپې مهال به په کلیو کې فالونه نیسو. مداریتوب به کوو او په ټوکماریو به کلیوال خوشحالوو.

ته باید خپل طبابت پټ کړې او په بدل کې یې د بابل د ستور پېژاندو په شان د خلکو فالونو ګورې.

زه به په ټوکو او مسخرو خلک خندوم او مینا هم په نڅا سره خلک بوخت ساتلای شي.

بله مهمه خبره داده چې باید سمدستي له دې ځایه ولاړ شو ځکه چې پارو وهونکي چې لس تنه دي ډېر ژر پر خپلې ویرې برلاسه کېږي او دخپلې کشتۍ د ترلاسه کولو لټه به کوي.

زه پوه شوم چې کاپتا رښتیا وایي او ممکنه ده پارو وهونکي پر موږ د حملې تکل وکړي، چې خپله کشتۍ واخلي موږ خپل کالي د سیند په ختو او چیکړو ککړ کړل، سره او سپین مو سره وویشل او په هغو همیانیو کې مو پټ کړل چې تر جامولاندې مو تړلې وې.

کاپتا وویل باید زه د طبابت وسایل په سین کې واچوم، خو زه د طبابت له وسایلو نه شوای تېرېدلی، هغه مې په هغه ګیلم کې تاوو کړل چې مینا مې پکې تاو کړې وه او کاپتا ته مې ور په شا کړل.

چې هوا تیاره شوه د کروندو له منځه روان شوو او ځانونه مو د کاروانونو لارې ته ورسول.

په دې شپه مو تر سهاره پورې مزل وکړ او سهار یوه کلي ته ورسېدو چې اوسېدونکو یې تر هغه وخته د فلزاتو رنګ ډېر کم لیدلی و، په جونګړو کې یې ژوند کاوه او ځمکه یې

په لرگي او کاڼي اړوله.

ماکاپتا ته وویل چې د دوو خرو پټول سم کار نه دی. ځکه چې ددې کلي او سېدونکي به له موږ سره دښمني وکړي او غوره داده چې دوه خره ترې واخلو او په بدل کې مس ورکړو.

موږ دمسو په ورکولو سره دوه خره پیدا کړل او کاپتا د پیټي له وړلو خلاص شو.

له هغه وروسته مو د بابل پر لوري په لاره حرکت پیل کړ، هره ورځ له هغه وروسته چې هوا به گرمه شوه په یوه کلي کې به مو دمه کوله او د کلي په چوک یا د سیند په څنډه به مو کلیوالو ته خپله هنرمندي کوله.

ما په هغه ډول چې د بابل په برج کې کتلي وو د کلیوالو فالونه کتل او هغوی ته مې زېری ورکاوه چې فصلونه به مو ډېر شي او د کروندو د خړوبولو لپاره به د سیند اوبه ډېرې شي.

ښځې به یې زامن وزېږوي او که به ځوانانو د فال نیولو غوښتنه کوله هغوی ته مې زېری ورکاوه چې یوه ښکلې پیغله به یې ښځه شي.

ما نه غوښتل هغوی ته حقیقتونه ووایم ځکه که مې ورته ویلي وای چې د مالیاتو د ترلاسه کولو مامورین د دوی څاروي او غلې په زور اخلي، په لرگیو یې ملاوې شنې اړوي. سین به مستېږي. د هغوی نیمایي کرونده به اوبه یوسي او نیم به ملخان وخوري نو هغوی چې ساده کسان ول نهیلي کېدل.

هرځو مره چې په لاره تللو او لمر ډېر پر موږ لگېده هومره نور هم تورېدو او درې واړه لکه گرځنده ټوکمارانو غوندې وو.

کله چې به یوه کلي ته ورسېدو ما به خلکو ته فالونه نیول او کاپتا به په ټوکو او لطیفو هغوی خندول او یا به یې حیرانول.

کله چې به کاپتا ورته ویل چې په نړۍ کې داسې ملتونه شته چې کله په لاره ځي سرونه له تنو جلاکوي او تر تخرگ لاندې یې نیسي چې بدن یې پرې درونه نه شي او یا داچې ورته ویل به یې په لېوانو او پسونو بدلېږي. نو ساده زړو خلکو به دغه خبرې منلې او دا پوښتنه به یې هم نه کوله چې که یو څوک سر له بدنه جلا کړي څنگه ژوندی پاتې کېږي.

موږ په دې سفر کې د خوړو لپاره هېڅ پیسې ورنه کړې او هر چیرته چې رسېدو زما فال نیونه . دکاپتا ټوکې ټکالې او د مینا نڅېدل به پیل شول او خلکو به دومره خواړه راکول چې زموږ له ضرورته به هم زیات شول .

په دې سفر کې که څه هم ما نه غوښتل چې طبابت وکړم، خو کله چې به یوه کلي ته ننوتو او ما د نارینه وو او ښځو له ویښتو ډک بدنونه کتل هغو ته به مې ویل چې څه ډول په چونې او زرنیخ (سلفور ارسنیک) د خپل بدن اضافي ویښتان لیرې کولای شي چې له بدرنګۍ او د بدن له خارښه خلاص وي.

کله چې به مې احساس کاوه د کلیوالو سترګې معیوبې دي او که معالجه نه شي ښایي ړانده شي. نو په وړیا توګه مې ورته علاج کاوه. کله چې به ښځو چونه او زرنیخ کارول او کتل به یې چې د لس کلنو نجونو په شان یې بدن ویښتان نه لري، دومره به خوشحاله شوې چې تر ټولو خوندور خواړه به یې موږ ته راکول.

ما به په خپلې معالجې کلیوال خوشالول او پردې سربېره مې په دې ډول خپله تجربه او طبي معلومات زیاتول چې مهارت مې په جراحۍ کې کم نه شي.

د بابل په ګرم ټاټوبي کې د ډېر سفر له امله زما پښې لاسونه ټاکې شول او د بدن او مخ پوستکی مې تور شو.

خو تل خوشحاله وم او د زړه له تله مې ځان خوشاله احساساوه ځکه چې مینا راسره وه او هر ځل چې به مې ورته کتل نو راته موسکۍ به شوه.

هر شپه چې ویده دم مینا مې په څنګ کې څملاستله او سهار به چې را ویښ شوم تر دې ورانده چې د لمر طلایي ماکو په اسمان کې وګورم د مینا مخ او بدن ته مې کتل او هغه تر لمر هم راته ښکلې وه.

له مینا پرته ما ځان په دغه مسافرت کې د ژوند له هر ډول قید و شرطه ازاد احساساوه ان د اوس او راتلونکې لپاره مې هېڅ اندېښنه نه درلوده او داسې کار نه ؤ چې زه یې د ترسره کولو لپاره اندېښنه وکړم.

موږ به ډېر خله د شپې مهال یانې نیمه شپه حرکت کاوه چې د لمر له تودوخې ځان وساتو او کله چې به ورځ شوه له دې پرته چې ځان ستړی کړو په لومړني کلي کې به مو دمه کوله او غرمه مهال به له خوبه پاڅېدو او کلیوال به مو پر ځان راټول کړل.

دغه کار زموږ لپاره هم تفریح وه او تر هغوی ډېر به موږ ترې خوند اخیست.

کله چې به شپه شوه او کلیوال به ویده شول موږ هم ویدېدلو په بله ورځ به روان شوو.

دغه کار تر هغې ورځې روان وه چې موږ د میتاني هېواد سرحد ته ورسېدو.

د دغه هېواد سرحد ته له رسېدو وروسته دوه تنه شپانه پوه شول چې موږ بېوزله یو پر

مونږ ورحیدل او له دې پرته چې سرحد ساتونکي متوجه شي مونږ ته يې لارښونه وکړه او د میتاني هېواد ته يې د ننه کړو. مونږ د میتاني ښار ته ننوتو او هلته مو له خپل شان سره سم کالي واخیستل ځانونه مو ووینځل. کالي مو واغوستل او په یوه مېلمستون کې مو واړول.

له دې کبله چې زما سره او سپین زر کم شوي ول نو میتاني ته له تلو وروسته مې فیصله وکړه چې څه موده هلته پاتې شو او د طبابت په وسیله سره او سپین زر ټول کړو.

ډېر ژر زما مشتریان دومره ډېر شول چې زه اړ شوم ځینو ناروغانو ته ووایم چې بله ورځ راشي.

مینا د میتاني د خلکو توجه ډېره جلبوله او هر شتمن به چې ولیدله غوښتل يې چې هغه له ما وپیري، خو زه چمتو نه وم چې مینا خرڅه کړم ځکه چې د هغې وجود زما لپاره لکه لمر او خواړه داسې اړین و.

زما مریي چې په مسافرت کې ډېر ډنګر شوی و، بېرته چاغ شو، یو شمېر خواني او ښکلې ښځې ترې راتاو شوې او کله چې به يې توکې ټکالې اوربدلې تفریح به يې کوله.

د کاپتا یوه کیسه چې د ټولو ډېره خوښېدله په بابل کې د پسرلي په د یارلسمه ورځ د هغه د یوې ورځې د پاچاهۍ کیسه وه او کاپتا د دې کیسې د نکلولو لپاره خاص استعداد درلود.

ښځې به له ډېرې خندا پر ځمکې تاو راتاو شولې او ویل به يې د دې سړي ژبه د یوه سین په شان چټکه او اوږده ده.

په میتاني کې تر هغه وخته ډېر خوشحال وم، مګر پوه شوم چې مینا د شپې ژاړي. زه پوهېدم چې د هغې د ژړا علت دا دی چې له خپله خدایه لېرې ده.

هغې ته مې وویل مینا زه پوهېږم چې ته ولې ژاړې؟

ما تاته ویلي وچې تا به کرت ته رسوم خو لا مې خپل وطن ته نه يې بېولې.

له بده مرغه اوس (کرت) ته سفر نه شم کولای ځکه چې مجبور یم د یوه کار لپاره د هاتي هېواد ته ولاړ شم.

خو له دې کبله چې د کرت بېړۍ ډېرې هاتي ته راځي له هغه ځایه تا په هغو بېړیو کې کرت ته رسولای شم.

هغه څه چې ما مینا ته ویل له حقیقته ډېر لېرې نه وو. ځکه لکه څرنګه چې د خپل

سرګذشت په پیل کې مې وویل د مصر د پوځ مشر دنده راکړې وه، چې نورو هېوادونو ته هم ولاړ شم. د هغوی د پوځي وضعیت په هکله معلومات راغونډ کړم او مصر ته د ستنېدا پر وخت دغه معلومات هغه ته ورکړم.

همدا رنګه باید هاتي هېواد ته ولاړ شم او وګورم چې د دغه هېواد پاچا څومره عسکر لري او د هغه د جنګ وسایل څه ډول دي؟

خو پر دغو خبرو سربېره ما نه غوښتل چې مینا نیغ په نیغه کرت ته بوځم او د هغې خدای ته یې وسپارم. بلکې لېواله وم چې هاتي ته د سفر په وخت کې تر یوه وخته هغه له ځانه سره ولرم.

هغې ته مې وویل مینا په کال کې یو ځل له دې هېواده یو پلاوی د هاتي هېواد ته ځي چې د میتاني د هېواد قلنګ د هاتي پاچا ته ورکړي.

کله چې د قلنګ ورکولو دغه ډله روانېږي لارې امنې وي او غله پر مسافرو حملې نه کوي.

اوس د دغه پلاوي د حرکت وخت دی، باید زه له دې فرصته استفاده وکړم او هاتي ته ولاړ شم، ګنې مجبور به شم چې خپل سفر تر بله کاله چې د قلنګ وړونکو د حرکت وخت را اخلي وځنډوم.

زه تا نه مجبوروم چې له ما سره د هاتي هېواد ته راشې ځکه چې نه غواړم له دې زیات تا له خپله خدایه لېرې کړم.

خو که ته غواړې زه به دې له دې ځایه سوریې ته بوځم چې په کشتۍ کې کرت ته ولاړه شې او که مې وکړای شول پخپل وخت ستون شوم نو د قلنګ له مامورینو سره به هاتي ته ولاړ شم ګنې زما سفر به راتلونکي کال ته پاتې شي.

مینا وویل سینوهه! زه نه غواړم چې سوریې ته زما د بیولو له امله هاتي ته ستا مسافرت وځنډېږي، ځکه چې حتماً کرت ته زما د تګ په پرتله هاتي ته ستا سفر مهم دی.

ما اورېدلي چې په هاتي کې ځواني نجونې د غوایانو په مخکې نڅېږي، زه به هلته د غوایانو په مخکې د نڅا تمرین وکړم ځکه چې یوه موده وشوه دغه ډول نڅا مې نه ده کړې او ډارېږم چې په دې نڅا کې به خپله تجربه له لاسه ورکړم.

ومې ویل زه په هاتي کې د غوایانو په مخکې له نڅا نه یم خبر خو په دې پوهېږم چې له هغه ځایه په کشتۍ کې کرت ته تللی شو.

مینا وویل هر چیرته چې ته ولاړ شې زه هم درسره ځم ان که د هاتي هېواد وي.

خو کله چې زما مریي واوریدل چې هاتي ته ځو خپه او په قهر شو. ویې ویل موږ لا له یوه خطره نه یو ژغورل شوي چې ته غواړې موږ له بل سره مو مخامخ کړې.

ایا نه پوهېږې. هغه خلک چې په هاتي کې ژوند کوي وحشي خلک دي او پردي وژني چې غوښې یې وخوري.

که یې ونه وژني نو سترګې یې ړندوي چې پخپلو ژرندو کې یې وتړي. ژرندې پرې ګرځوي او غلې پرې اوړه کړي.

بیا کاپتا مینا ته مخ کړ او هغې ته یې وویل زما بادار لیونی شوی خو ته هم چې هاتي ته د هغه تګ منې لیونۍ شوې یې.

که زه ډاکټر وای د سینوهه د سر کوپړۍ مې سورې کوله چې له سره یې مضر بړاس ووځي او بیا د غسې خطرناک فکرونه ونه کړي.

خو زه ډاکټر نه یم مګر همغه ډول چې ده زه په یوې چاتۍ کې ځای پر ځای کړی وم. زه هم دی په یوې چاتۍ کې اچولای شم چې خو زیږېښوونکي یې پر سر واچوم چې هوښیار شي.

بیا کاپتا ساندې پیل کړې او ویې ویل لعنت دې وي پر هغې ورځې چې زه وزېږېدم او بیاله دې لیوني بادار سره مخامخ شوم.... زه نوی چاغ شوی وم او نس مې غټ شوی و. اوس بیا باید د مسافرت بدبختۍ و زغمم هغه هم د سړي خورو په هېواد کې.

کله چې پوه شوم کاپتا نه غلې کېږي نو لکړه مې راواخیسته او هغه مې په ولیو اوشا ځو لکړې ووهه.

کله چې غلی شو ومې ویل کاپتا! که ستا په ځای بل هر مریي له ما سره داسې سپین سترګي کړې وای ما به هغه خرڅ کړی وای خو له دې کبله چې ته بوډا یې او یوه موده کېږي چې له ما سره یې نو زه چمتو یم. تا ازمیر ته واستوم چې هلته زما کور تر هغه وساتې چې زه بېرته له سفره در ستنېږم.

کاپتا وویل سره له دې چې مانه غوښتل هاتي ته ولاړ شم خو تا یوازې نه شم پرېښودلای چې د غه هېواد ته لاړ شې. ځکه چې ستا یوازې تګ دې ته ورته دی چې یو نوی زېږېدلی ماشوم د لیوانو په منځ کې واچوې.

خو دا راته ووایه چې هاتي ته د تګ لپاره باید د سمندر له لارې او په کشتۍ کې

ولاړشو ؟

ومې ویل نه هغه کسان چې له دې ځایه هاتي ته ځي په وچې سفر کوي

زما مریبیه وویل د مصر په ستر خدای آمون دې سلام وي. ځکه چې ما قسم کړی و. هېڅکله به په کشتۍ کې ګام کېنږدم او په سمندر کې به سفر ونه کړم. خو دا چې په دې سفر کې اړتیا نشته چې په کشتۍ کې سپاره شو. زه به له تا سره ولاړ شم.

بیا کاپتا د سفر د وسایلو او پیتي چمتو کړل. دی په دې کار ښه پوهېده او تر ما یې ښه چمتو کړل.

شلم څپرکی

په هاتي هېواد کې

خلک د هاتي له نومه دومره وېرېدلي چې که زه ووايم هاتي ارام او با امنه هېواد دی څوک باور نه کوي چې زه په رښتيا وايم.

که څه هم د هاتي او سپږونکي ځيرېږ خلک او په جنګونو کې بېرحمه دي خو د دوی په هېواد کې چې ډېر غرني دي امنيت واکمن دی.

په هاتي کې که د چا شيان په لارو کې لوېږ شي د هېواد پاچا د هغه د شيانو دوه چنده بېرته ورکوي.

که د غلو په حمله کې څوک ووژل شي پاچا د وژل شوي د هغې شتمنۍ په اندازه چې ده پخپل ژوند کې ترلاسه کړې ده. د هغه پاتې خپلوانو ته ورکوي. په دې ډول د قرباني پاتې کسان پخپل ژوند کې د خرڅ او خوراک اندېښنه نه کوي.

له همدې امله د هاتي د هېواد پر لارو زمونږ سفر بې له کومه جنجاله پای ته ورسېد. د پاچا جنګي ګاډي زمونږ مخکې او شاته روانې وې او هره ورځ يې مونږ ته خواړه هم راکول. تر هغه چې د هاتي پلازمېنې (ختوشه) ته ورسېدو.

کله چې د نړۍ د سترو ښارونو خبره کېږي خلک د بابل، طبس او نينوا د ښارونو يادونه کوي.

ما نينوا نه دی ليدلی چې څه ډول دی خو ويلای شم چې د هاتي پلازمېنه ختوشه ښار له ځينو اړخونو تر طبس هم ښه دی.

پر دغه هېواد داسې پاچا حکومت کوي چې هم د هېواد مشر دی، هم مذهبي مشر او هم قاضي دی.

زه فکر نه کوم چې د نړۍ په هېڅ ځای کې دې پاچا د دغه سړي په شان قدرت و لري.

کله چې انسان هاتي ته ځي او سترګې يې په وچو غرونو لګېږي نو حيرانېږي چې څه

ډول ممکنه ده. دغه هېواد چې سوزنده دوبې او وچ غرونه لري دومره شتمن دی.
ان سړی به له ځانه پوښتنه وکړي څه ډول خلک په دغو غرونو کې ژوند کوي او د اوبو له کمښته نه مري.

خو په دغه عجیبه هېواد کې په هغه موسم کې چې په مصر کې نیل مستېږي او اوبه یې راخېژي (په مني کې ژباړن) هوا سړېږي او له اسمانه سپین رنګه ښکې ورېږي.

دغه ښکې ټول غرونه پوښي او بیا په ګرمي کې په اوبو بدلېږي. زه پوهېږم چې تاسې به پر دغو خبرو باور ونه کړئ. خو ما پخپلو سترګو دهاتي دننګ غرونه ولیدل چې له دغو سپینو ښکو ډک ول.

دغه ښکې په ټول کال کې د دغه هېواد اوبه تامینوي. خلک په دغو اوبو هم خپل مالونه مړوي او هم یې خپله څښي. ان خپل فصلونه هم پرې خړوبوي.

څومره چې د هېواد دننه خلک ارام دي هومره خپلو ګاونډیانو ته پلمې لټوي او تل سرحدي نښې شاته کوي چې د نورو خاورې ونیسي.

د سوریې له سرحد سره یې یوه لویه کلا جوړه کړې چې دېوالونه یې له لویو ډبرو جوړ دي.

دغه کلا پر پراخې سیمې حکومت کوي او ټول هغه کاروانونه چې له سوریې هاتي ته راځي او له دې ځایه تېرېږي باید په دغې کلا کې پرتو د هاتي مامورینو ته قلنګ ورکړي.

هېڅ کاروان د هاتي هېواد ته له ورتګه وروسته حق نه لري له لویې لارې بهرشي او که بهر شو ځان او مال یې په خطر کې لوېږي. دهغوی شتمني لوټوي. که کاروانیان مقاومت وکړي وژني یې او که مقاومت ونه کړي هغوی اسیرانوي او مریان ترې جوړوي.

د هاتي د خلکو شتمني له دریو ځایونو تامینېږي. لومړی هغه قلنګ دی چې له کاروانیانو او مسافرو یې اخلي، دویم پر ګاونډیو هېوادنو د حملې له لارې او د شتمنۍ دریمه سرچینه د سرو زرو او مسو او د یو ایرن رنګه او شین فلز استخراج دی چې او سپنه بلل کېږي.

زه نه پوهېږم چې د هاتي او سېدونکي څه ډول دغه او سپنه راباسي او وسله ترې جوړوي. خکه چې او سپنه د مسو په شان نه ویلي کېږي.

ما د دوی د او سپنې یو کان ولید. خو پوه نه شوم چې څنګه له کاني ډبرو څخه او سپنه ترلاسه کوي.

د ختوشه ښار د یوې غرنۍ سیمې په منځ کې جوړ شوی، د غرونو لمنې په میوه لرونکو ونو پوښل شوې او د غرونو په ښکتنۍ برخه کې د اوبو ویالې او لښتي بهېږي.
په ختوشه ښار کې وحشتناکې او د ننګې ودانۍ جوړې شوې، څکه دغه ودانۍ له لویو ډبرو جوړېږي او ځینې یې دومره لوړې دي چې سرې ورېروي. هېڅ بهرنی د ختوشه ښار ته ننوتلی نه شي. مګر د هغه پلاوي غړی شي چې په کال کې یو ځل د هاتي پاچا ته قلنګ راوړي.
له همدې لامله د ختوشه ښار د طبس او بابل په شان مشهور نه دی.
په دې ښار کې او سېدونکي له بهرنیانو سره خبرې نه کوي او که کوم بهرنی ترې پوښتنه وکړي او هغوی هم په بهرنۍ ژبه پوه شي نو وایي نه پوهېږو.
خو له دې سره سره ملایم خلک دي او له بهرنیانو سره دښمني نه کوي.
د دغه ښار د لویانو او شتمنو کسانو جامې عجیبه، ان د کتود ي. دوی لویې جامې اغوندي. پراخ لستوڼي لري چې یو سر یې ځمکې ته رسېږي او د خپلو جامو په سینې کې وزر لرونکې د ایرې انځوروي.
لوړې او د تېرو څوکو لرونکې خولۍ لري او د مصریانو په شان ږیرې خریې.
ځینې اشرافان او خانان حتی د سر وېښتان هم د ږیرې په شان خري خو د سر په منځ کې یې اوږد کاکل لیدل کېږي.
د هاتي اشرافان او خانان د نړۍ د نورو هېوادنو په شان څرب او چاغ دي، مخونه یې روښانه دي او معلومېږي چې ډېر خواړه خوري.
د هاتي د پاچا پلازمینه ختوشه د طبس او بابل پر خلاف سوداګریز ښار نه دی بلکې یو صنعتي ښار دی او له سهاره تر بېګا پورې پکې د آهنګرۍ غږ اورېدل کېږي او هلته تل وسله جوړېږي.
د هاتي او سېدونکي د نوور متمدنو ملتونو پر خلاف بهرني مزدور عسکر نه لري او ټول عسکر یې د سیمې او سېدونکي دي.
زه فکر کوم چې د دوو خبرو له کبله بهرني عسکر نه ګماري. یو دا چې بهرنیان د ځان په شان مېړني او زړه ور نه بولي او بله دا چې فکر کوي که بهرني عسکر هر څومره مېړني او زړه ور هم وي. خو بیا هم اجیر او مزدوران دي او د یوه ځایي عسکر په شان نه په هېواد زړه خوږوي او نه همت لري..

هاتي ځايي مشران لري او هر مشر پخپل ولایت کې کورواکي لري خو د هاتي د پاچا اطاعت کوي.

په هاتي کې د عدالت اجرا کول عجیبه دي، چې متمدن ملتونه پرې باور هم نه شي کولای.

په دې هېواد کې که یو ځايي پاچا د هاتي د پاچا خلاف بلوا وکړي او لښه وکړي چې پاچا وپرځوي. نو هغه بلوا ګر ځايي مشر نه وژني بلکې هغه یو سرحد ته استوي چې له نورو ملتونو سره په جنګ کې تجربه پیدا کړي او جنګي شخصیت خپل کړي.

په هاتي کې که یو څوک کوم کس ووژني. هغه نه په دار کوي. بلکې قاتل د نده لري چې د مقتول د وینې بیه د هغه پاتې کسانو ته ورکړي. په دغه هېواد کې که یوه مېړه ښځه یو بل نارینه ته لېواله شي نو. نه ښځه محکوموي او نه یې مین ته سزا ورکوي. بلکې ښځه حق لري چې د مېړه له کوره ولاړه شي او د خپل مین په کور کې پاتې شي. خو مین باید د مېړه تاوان په سرو زرو یا مالونو ورکړي.

که یوه ښځه یا سړی له واده وروسته بچیان رانه وړي دغه ګډ ژوند باطلېږي. ښځه یا مېړه مجبوره کېږي چې د بچي د راوړلو لپاره بل خاوند یا ښځه انتخاب کړي. ځکه د هاتي پاچا له خپل رعیته غواړي چې ډېر بچیان وزېږوي.

د دغه ملت یو حیرانوونکی دود دادی چې که یو څوک یو بل کس په یوې لېرې پرتې سیمې یا واټ کې ووژني چې هلته څوک ژوند نه کوي. نو د هغه د قتل بیه په ګڼ مېشته سمیه کې د قتل تر بیې کمه وي.

ځکه دوی باوري دي. هغه کس چې لېرې پرتو او کم نفوسه سیمو ته ځي په قصدي توګه نور پاروي چې ویې وژني.

په داسې حال کې چې په کلیو او ښارونو کې په اسانه څوک د بل سړي وژلو ته نه تحریک کېږي.

د دغه هېواد یو شرمونکی قانون دا دی چې خور او ورو له یو بل سره واده نه شي کولای او د خور او ورور واده لویه ګناه ده.

په هغو دریو خبرو کې. چې اعدام په کې جواز لري. یو یې د خور او ورور واده دی.

کله چې زه هاتي هېواد ته ننوتم له ځان سره مې وویل. له دې کبله چې د دغه هېواد خلک زیارکښ دي او په سړه هوا کې له ژوند سره عادت شوي دي خو دوی معیوب او

کمزوري ماشومان تر زېږېدو وروسته وژني چې په راتلونکې کې کمزوري کسان ترې جوړ نه شي.

دغه خلک ډاکټر ته اړتیا نه لري او ما اورېدلي و، چې کله که په دغه هېواد کې څوک ناروغ شي نو تر درملنې مرګ غوره بولي ځکه چې پخپلې ناروغۍ اعتراف کولای نه شي. زه پوهېدم چې د هاتي او سېدونکي له مرګه نه وېرېږي خو له کمزورۍ وېره لري.

زه متوجه نه وم چې په دغه هېواد کې هم یو شمېر اشراف شته او اشرافان او خانان په تولې نړۍ کې تنبل او لټان دي. له مرګه وېرېږي او د ځان درملنه کوي چې مړه نه شي.

له همدې لامله ځینې خانان به په بدلو جامو کې د شپې مهال زما کور ته راغلل او ما به یې علاج کاوه.

زیاتره پکې په شرابو کې د ډېر افراط له امله کړېدل. د ختوشه خانانو به ډېر شراب څښل او لاسونه به یې د ډېرو شرابو له امله رپېدل.

ناروغانو به غوښتل چې د هغوی د لاسونو د رپېدېدا علاج وکړم او ما به د حمام کولو او مسکنو درملو په وسیله د هغوی علاج کاوه.

له ما سره د ښار د خانانو د ملګرتیا یو لامل دا و چې مینا به د هغوی په مخکې نڅېدله او کله چې به هغوی زموږ کور ته راغلل. مینا ته به مې ویل چې د هغوی په مخکې ونڅېږي.

هغوی به ګران بیه ډالۍ ورکولې او ما پخپله هم له ناروغانو سره او سپین اخیستل او په لنډه موده کې شتمن شوم.

په داسې حال کې چې هاتي ته د ننوتو پر وخت مې فکر کاوه چې له هاتي د ستنېدا پر وخت به تشې همیانۍ له ځان سره وړم.

یو کس چې له ما سره ملګری شو د هاتي د پاچا کاتب و. چې په څو ژبو پوهېده او د بهرنیو پاچاهانو لیکونه به یې ورته لوستل او ځواب به یې ورکاوه.

یوه ورځ چې هغه زموږ په کور کې شراب څښل د مینا نڅا یې ولیده او خوند یې ترې واخیست.

له هغه مې پوښتنه وکړه ولې ستاسې پاچا د ختوشه ښار د بهرنیانو لپاره تړلی دی او نه پرېږدي چې څوک دغه ښار ته راشي او ولې په دغه ښار کې کاروانیان دا حق نه لري چې له لویو لارو بهر شي؟

ايا غوره نه ده چې نور ملتونه هم دغه ښار ته راشي او د هاتي د پاچا قدرت او لوړاوی وګوري. بيا ولاړ شي او نورو ته کيسې وکړي؟

کاتب وويل: پر هغې ورځې چې زموږ پاچا (شوبيلو ليوما) پاچاشو ويې ويل (د برش کاله ماته وخت راکړئ او زه به هاتي د نړۍ په کلک او قوي هېواد بدل کړم) او س چې د غه وخت مخ پر خلاصېدو دی او فکر کوم چې ډېر ژر به نور ملتونه زموږ نوم واوري.

ومې ويل کله چې زه په بابل کې وم، شپېته، شپېته، شپېته ځله مې، شپېته عسکر و شمېرل چې د بابل د پاچا له مخې تېرېږي او کله چې به يې ګام پورته کاوه داسې فکر به مې کاوه چې ګني د سمندر د څپو غږ اوربدل کېږي.

خو دلته مې لس ځله، لس عسکر هم يو ځای و نه ليدل چې روان دې وي. نو د څه لپاره دومره جنګي ګاډي، او نورې وسيلې جوړوئ چې له دغو وسلو استفاده نه شئ کولای.

کاتب وخندل او ويې ويل موږ د دې لپاره وسلې جوړوو چې پر نورو يې خرڅې کړو او ډوډۍ پرې واخلو.

ومې خندل ځواب مې ورکړ، يو ليوه هېڅکله خپل غاښونه او ينجې پر يوه سوی نه خر څوي.

د پاچا کاتب دې خبرې ته ډېر وخندل او ويې ويل زه به دغه خبره پاچا ته وکړم او باوري يم چې هغه به ترې خوند واخلي.

بله دا چې زموږ په هېواد کې د نورو هېوادونو پر خلاف شتمن پر بېوزلو حکومت نه کوي بلکې غښتلي پر کمزورو حکومت کوي. زه يقين لرم تر دې مخکې چې ستا وينستان سپين شي. په دې به پوه شې چې څه ډول يو غښتلی حکومت چې د مشر تابه او قوماندانۍ لپاره راغلی دی څنګه پر کمزورو ملتونو حکومت کوي.

ما ځان ورته ساده او کم عقله وښود او ومې ويل همغه ډول چې تاسې خدای لرئ چې پر کمزورو ملتونو د حکومت کولو غوښتونکی دی په مصر کې هم فرعون نوی خدای پيدا کړی دی.

کاتب وويل زه د بهرنيو پاچاهانو ليکونه لولم او د مصر د پاچا ليک مې هم لوستلی دی، پوهېږم چې د هغه نوی خدای ډېر سوله غوښتونکی دی او وايي. د ملتونو تر منځ داسې اختلاف نشته چې په خبرو او سولې دې حل نه شي.

ان ستاسې فرعون زموږ لپاره د سرو زرو يوه ځانګړې راليږلې چې د(باضافه) يانې

صلیب په ښه ده او وایي چې دا د ژوند او سولې ښه او څېره ده.

کله چې کاتب دغه خبرې کولې خپلې ګوتې یې سره متقاطع کړې چې ما پوه کړي دغه ځانګه څه ډول ده او کومه ښه لري.

(هغه مطالب چې په دغه کتاب کې یې د ملتونو د ژوند، دودونو او د هغو د پاچاهانو د نومونو په هکله او منجمله د دغه صلیب په هکله لولئ له تاریخي اسنادو اقتباس شوي دي. سند او لاسوند لري او د دغه فنلنډي کتاب ارزښت هم په دې کې دی چې مستند مطالب لري او صلیب هغه نښه وه چې کابو څلور زره کاله مخکې یعنې د عیسی له میلاده دوه زره کاله مخکې د سولې سمبول ګڼل کېده. ژباړن)

بیا یې داسې وویل که ستاسې فرعون زموږ لپاره سره زر راواستوي، چې موږ د هغه رالېږلي طلا خپلو صنعتګرو ته چې وسلې جوړوي په مزد او اجوره کې ورکړو نو تر څو کلونو پورې کولای شي له سولې برخمن شي.

خو د هغه د سولې دوره به ډېره لنډه وي. ځکه کله چې زموږ پاچا پوه شو چې په کافي اندازه وسله او خواړه یې برابر کړي نو پر دغې ورځ به د مصر فرعون هم د نورو پاچاهانو په شان زموږ د پاچا تر امر لاندې وي. ګني هغه او ټول رعیت به یې قتل عام شي.

خو دا هغه مسلې دي چې د یوه ډاکټر سر پرې نه خلاصېږي ځکه چې ډاکټر د پېښو د درک کولو وس نه لري.

ما وویل له دې کبله چې ډاکټر هم د نورو په شان عقل لري او که په ټولو راتلونکو پېښو پوه نه شي حتماً یې په ځینو سره خلاصېږي.

زه اټکل کوم چې په راتلونکو وختونو کې به د مرغانو، تپوسانو او شغالانو د خېټې د مړېدا وخت وي ځکه چې ډېر کسان به ووژل شي. څوک به و نه شي کولای چې مړي د مومیایي کولو، یا په چاټیو کې د اېښودلو او یا په ځمکه کې د ښخولو لپاره را ټول کړي.

کاتب وخندل او ما وویل تر دې مخکې چې د هاتي هېواد ته راشم اورېدلي مې وو، چې تاسې هغه اسیران چې په جنګونو کې یې ونیسئ ړندوئ او هغه پخپلو ژرندو کې تړئ چې د ژرندو ډبرې وګرځوي.

ما پر دغې خبرې باور نه کاوه. خو په دغه هېواد کې مې هغوی پخپلو سترګو ولیدل او دغه چاره له یوه متمدن ملت سره نه ښایي.

دغه راز ما اورېدلي چې تاسې پخپلو سرحدونو کې د نورو ملتونو په خاورې د تېري پر

وخت زړه بوږنونکې بې رحمي کوي، د خلکو لاسونه پرې کوي، د سر پوستکي یې پر مخونو اړوي او ځینې کسان په سیخونو پورې ښښلوي، دغه اعمال د وحشیانو دي نه د یوه متمدن ملت.

کاتب وویل موږ له دې امله د اسیرانو سترګې باسو او بیا هغوی په ژرندوکې تړو چې یو متمدن ملت یو. ځکه که د دوی سترګې ړندې نه وي ځمکه، اسمان او مرغان به وګوري او له دې کبله چې ازاد نه دي نو خواشیني به شي. د تېښتې لټه به وکړي او زموږ لپاره به تل ستونزې پیښوي.

خو اوس چې ړانده دي د تېښتې فکر نه کوي او موږ مجبور نه یو چې تل یو شمېر عسکر د هغوی د ساتلو لپاره وګمارو.

خو د نورو هېوادونو په سرحدونو کې د پولې د اوسېدونکو د لاسونو د پرې کولو او د سرونو د پوستکو د جلا کولو او د هغوی پر مخ د همغه پوستکي د راکاږلو او یا په سیخونو کې د هغوی د څوړندولو کار هم یوه ښېګنه لري.

ددې کار لامل هم زموږ تمدن دی، ځکه چې موږ نه غواړو په نورو هغو هېوادونو کې وژنه وکړو چې اوسېدونکي یې موږ ته کار کوي او قلنګ ورکوي.

دغه راز نه غواړو چې د جنګونو له امله د هغوی ښارونه او یا پټي او باغونه وران شي، ځکه که دغه ښارونه موږ ونیسو زموږ په برخه به هېڅ هم نه وي.

موږ پوه شوي یو چې د ګاونډیو هېوادونو د کنټرولولو او تر سلطې لاندې د راوستلو لپاره تر ټولو غوره وسیله د رعب او وېرې رامنځته کول دي. ځکه هغه ملت چې له وېرې او رعب سره مخامخ شي، هغه پوځ ته ورته وي چې له جنګه وړاندې یې ماتې خوړلې وي.

دغسې ملت نور د پردیو لاس نه شي لنډولای او د هغه له قدرته نه شي ژغورل کېدای.

له همدې امله موږ پخپلو سرحدونو کې د نورو هېوادونو په خاوره کې دغه ډول اعمال ترسره کوو چې خلک وویرو او مخکې له مخکې خپل د ښمنان ناکام کړو.

ما ورته وویل ایا د نړۍ ټول ملتونه ستاسې دښمنان دي او په نورو ملتونو کې دوستان نه لرئ؟

د هاتي د پاچا کاتب وویل زموږ دوستان هغه ملتونه دي، چې زموږ تر سلطې لاندې وي او موږ ته قلنګ راکړي.

دغه ملتونه پخپل حال پرېږدو او د خپلو عادتونه او دودونو د ساتلو او د خپلو

خدايانو په عبادت ورته څه نه وايو.

زموږ نور دوستان هغه ملتونه دي چې لا زموږ ګاونډيان نه دي. ځکه کله چې زموږ ګاونډيان شول، دوم‌ره پلمې ورته لټوو، چې ورسره جنګ وکړو او د هغوی خاوره ونيسو او بيا يې اړ کړو چې موږ ته قلنګ راکړي

له هغې ورځې چې هاتي رامنځته شوی موږ همدغه دود لرو او له دې وروسته به هم وي

ما وويل ايا ستاسې خدايان په دغو مسلو کې لاسوهنه نه کوي ځکه چې په نورو هېوادونو کې خدايان د حق و باطل او سم و ناسم توپير کوي.

کاتب وويل موږ د سم و ناسم او حق و باطل په هکله ساده کړنه او عقيده لرو.

سم او حق هغه شی دی چې زموږ له خوښې سره سم وي او ناسم او باطل هغه شی دی، چې زموږ له خوښې سره سم نه وي.

سينوهه! دا خبره ومنه چې زموږ، ستاسې او نورو ملتونو په دين کې کوم توپير نشته. ځکه چې ستاسې او نورو ملتونو له نظره هم سم او حق هغه دی چې شتمن يې غواړي او ناسم او باطل هغه شی دی چې بېوزلي ورته ګروهمن وي.

سينوهه! ته يو ډاکټر يې او عقل دې تر دې ډېر کم دی چې په دې موضوع دې سر خلاص شي او پوه شې چې د دنيا له پيله تر ننه پورې هر څه چې شتمنو ويلي هغه حق او سمه خبره ده. او هر څه چې بېوزلي يې وايي ناحقه خبره ګڼل کېږي.

د دنيا تر پايه پورې به همداسې وي او يوازې د شتمنو ظاهري بڼه بدلېږي او په هر پړاو کې يو شی د بدايتوب نښه ده.

کله پسه او غواګانې د شتمنۍ نښې وي او کله هم سره او سپين.

ځينې وخت د يوه مقام او څوکۍ لرل او کله يو کسب لکه ډاکټري. کوډګري او د پاچا کتابت د شتمنۍ نښه وي.

تر هغه چې دغه نړۍ وي د بېوزلو خبره به اهميت نه لري او هرڅه چې وايي باطل به وي.

که شتمن د هغوی سترګې ړندې نه کړي او په ژرندو پورې يې ونه تړي نو په بله لار به يې کار ته مجبور کړي. ځکه چې دنيا همداسې رامنځته شوې ده او بايد همداسې وي.

بېوزلي ځکه رامنځته شوې چې بېوزله د شتمن د اسودګي وسيلې برابرې کړي او پخپله تل په بېوزلۍ او لوږه کې ژوند وکړي.

د نورو پر تمدن زموږ د تمدن ګټه په دې کې ده چې موږ ټول شتمن یو او نور ملتونه د ځان تابع او بېوزله کوو. چې ټل زموږ لپاره زیار وګالي او خپله ګټه تل د قلنګ په توګه موږ ته را کړي چې موږ په سوکالۍ کې ژوند وکړو.

خو زموږ د خاصې پرګنې خدایان دوه دي یو اسمان او بل ځمکه. هر کال په پسرلي کې د دغو دوو خدایانو په ویاړ جشن جوړو او د ملت لاره خلاصوو چې خلک هم جشن جوړ کړي.

ځکه په کال کې باید یو ځل د ملت مخه خلاصه شي چې جشن جوړ کړي او یوه ورځ په خوشالۍ تېره کړي.

د خلکو د ازادۍ لپاره تر ټولو ښه فصل پسرلی دی ځکه چې په دغه موسم کې ځمکه له اسمانه بلاربېږي. ژوند بیا پیلېږي او انسان هم د ځمکې په شان دی.

موږ د ښځو د بلاربېدا لپاره ډېر خوشحالېږو او اهمیت ورکو. ځکه هغه ملت چې پر ټولې نړۍ حکومت کول غواړي باید ډېر ماشومان وزېږوي چې قدرت یې په ځمکه کې پراخ شي.

زموږ عام خلک بیا د نورو هېوادونو د عامو پرګنو په شان ډېر خدایان لري خو موږ د هغوی عقیدو ته اهمیت نه ورکوو. نه یې د عقیدو مخه نیسو او نه یې هڅوو. ځکه چې د هغوی عقیدې له سیاسي پلوه موږ ته ګټه او تاوان نه لري.

موږ د هغو خدایانو پلویان یو او خلک یې عبادت ته هڅوو چې د زور او وحشت پلویان وي. ځکه چې په زور باید پر نورو حکومت وکړو او د وحشت او ترهې په مرسته با ید نور ملتونه وویروو چې تابع شي.

که یوه ورځ موږ د زور او وحشت د خدایانو لپاره معبدونه جوړ کړو نو دغه معبدونه به د انسانانو د کوپړیو پر هډوکو ودان کړو.

که ته دغه خبره له دغه هېواده بهر نورو ته وکړې هېڅوک به یې ونه مني ځکه چې ټول لیرې پراته ملتونه فکر کوي چې موږ شپانه او پادوانان یو. چې تل په غرونو کې په بېوزلۍ کې ژوند کوو. نه د بادارۍ او نه د حکومتولۍ وړتیا لرو.

د پاچا کاتب له دغو خبرو وروسته زما له کوره ووت او د هغه له تللو وروسته مې مینا ته وویل په دغه هېواد کې له پاتې کېدا موږ شوم ځکه په هغو شیانو چې باید پوهېدلی وای پوه شوم.

که له دې وروسته په دغه ښار او دغه هېواد کې پاتې شم ښايي مړ شم او که يې زه په عادي ډول وژلای دومره نه وېرېدم خو په دغه هېواد کې چې کله بهرنيان وژني پوستکی يې باسي او يا هغوی په سيخونو کې ورکوي.

نو غوره ده چې ډېر ژر له دې ښاره وتښتو او ځان وژغورو.

پر بله ورځ ما له خپلو ناروغانو څخه بل څه وا وريدل او هغوی ويل که څوک په هاتي هېواد کې د حکومت له رسمي عقيدې پرته بله عقيده خپره کړي هغه د کوډګر په نوم نيسي او په سيخانو کې يې ورکوي.

له بده مرغه ما څو ځله داسې خبرې کړې وې چې د هاتي د حکومت له رسمي عقيدو سره يې اړخ نه لګاوه نو هر شېبه ددې امکان و. چې ما ونيسي او په سيخانو کې مې ورکړي.

نو خپلو ناروغانو ته مې وويل چې د ستنېدا نيت لرم او له دې کبله چې هغوی د حکومت په اداره کې نفوذ درلود ماته يې د وتلو اجازه واخيسته او وټاکل شوه چې له ځانګړې لارې تېر شم او ځان ساحل ته ورسوم.

يوويشتم څپرکی

د (کرت) د ټاټوبي په لور

له مينا او کاپتا سره يوځای روان شوم او د هاتي پلازمېنه ختوشه مو پرېښوده.
ختوشه داسې يو ښار و چې له دېوالونو يې وينې څڅېدې او د نړۍ د راتلونکي په هکله فيصلې پکې کېدلې.
موږ د هغو ژرندو تر څنګ تېر شوو چې ړندو اسيرانو ګرځولې او هغه کسان مو هم وليدل چې په سيخونو کې يې ورکړي ول. معلومه شوه، چې هغوی کوډګران ول.
بيا د ساحل پر لور روان شو او د هاتي هغه يوازېني بندر ته ورسېدو چې بهرنيانو پکې په ازداه توګه تګ راتګ کاوه خو د هېواد داخل ته يې د ننوتو اجازه نه لرله.
دغه بندر هم د نړۍ د نورو بندرونو په شان ډېرې شراب خانې او عمومي کورونه درلودل او له دغو شراب خانو او کورونو تل د سرياني موسيقۍ غږونه اورېدل کېدل.
کله چې به د بېړيو ماڼوګان او عمله دغه بندر ته ننوتل ځان به يې نيمکرغه احساساوه، ځکه چې هلته ښځې، شراب او خواړه پريمانه ول او دغه ټولی له دې ډېرو شيانو پرته بل څه نه غواړي.
په هر ځای کې چې دغه درې شيان ورپيدا شي نو ځان نېکمرغه بولي.
موږ څه موده په دې بندر کې ايسار شوو او هر ځل چې به کومې بېړۍ د کرت پر لور حرکت کاوه ما به مينا ته ويل، په دې بېړۍ کې لاړه شه، خو هغې به ځواب راکاه چې دغه بېړۍ کوچنۍ ده او په سمندر کې به ډوبه شي.
يا به يې ويل چې دغه بېړۍ لويه ده د سورېې د بېړيو له ډلې څخه ده او زه چمتو نه يم چې په هغې کې ولاړه شم.
بله پلمه به يې دا کوله چې د دې بېړۍ ماڼو سم سړی نه دی او ډار ېږم چې په لاره کې به ما پر سمندري غلو خرڅه کړي.

ما په نوموړي بندر کې طبابت کاوه او هلته هم ناروغان راتلل. ځکه چې د مصري ډاکټرانو شهرت دغه بندر ته هم رسېدلی و.

یو کس چې ماته د معالجې لپاره راغی د بندر د عسکرو قوماندان و، دغه سړی له هغو ښځو سره په نژدې کت کې پر دغې ناروغۍ اخته شوی و ځکه دی به هغو ښځو ته ورتو چې په دغه بندر کې په عمومي ځایونو کې اوسېدلې.

ما په سوریه (ازمیر) کې د اوسېدو پر وخت دغه ناروغي وپېژندله او له سریاني ډاکټرانو مې د هغې درملنه هم زده کړه.

د بندر د ساتونکو قوماندان ددې ناروغۍ له امله له ښځو سره ساعت تېری نه شو کولای.

ده ویل دغه ناروغي له یوې ښځې ورغلې او ده هم هغه په سیخانو کې ننه ایستلې او وژلې ده.

هغه سړی له خپلې ناروغۍ ډېر کړېده. ځکه چې په دغه بندر کې دود داسې و. هرې ښځې چې به د ښار په عمومي تفریح ځایونو او شراب خانو کې کار کاوه مجبوره وه چې له اجورې پرته د ساتونکو له قوماندان سره خملي خو دغه سړي د ناروغۍ له کبله له دغو ساعت تېریو څخه خوند نه شو اخیستلای.

کله چې یې ما درملنه وکړه او هغه له ښځو سره له تفریح کولو خوند اخیست. داسې خوشحاله شو چې ماته یې ویل د خپل ناروغ غړي په وزن چې اوس روغ شوی تا ته سره او سپین درکوم.

ما ورته وویل زه ستا زر نه غواړم او که غواړې کوم شی ماته راکړې نو خپله هغه چاړه راکړه چې تر ملا دې تړلې ده.

د ساتونکو قوماندان وخندل او ویې ویل په دې چړې به ته څه وکړې ځکه چې نه سره زر دي او نه سپین زر.

خو زه پوهېدم چې دغه چاړه له همغه فلز څخه جوړه ده چې او سپنه بلل کېږي او بیه یې د هاتي له هېواده بهر دومره ډېره ده چې د اوسپنې چاړه په همدې وزن، د سرو زرو د یوې چړې لس برابره بیه لري.

کله چې زه په ختوشه کې وم، غوښتل مې یوه دغسې چاړه واخلم خو دغه چاړه پر بهرنیانو نه پلورل کېده او که مې ټینګار کړی وای ښایي راباندې شک شوی وای او

دا به څرګنده شوې وای چې زه نيت لرم دغه چاره له هاتي څخه د باندې يوسم . خو دغې چرې د هاتي د او سېدو نکو لپاره ارزښت نه درلود.

کله چې د ساتونکو قوماندان پوه شو چې زه په رښتيا دغه چاره غواړم، او په دې هم پوهېده چې زه به ډېر ژر له هاتي ولاړ شم نو خپله چاره يې ماته راکړه.

دغه چاره دومره تېره ده چې د سماق له ډبرو د تېرې چرې په پرتله ډېره ښه خرېيي او په او سپنيزې چاړې مس ،سره او سپين زر پرې کولای شو.

په دې بندر کې يو څړ ځای و. چې د هاتي خلکو به هلته خپلې غواوې او غويي پېول او ځوانانو به له هغو غوييو سره لوبې کولې . د هغوی په مخکې به نڅېدل او پر ملاوو به يې غشي تومبل.

کله چې مينا دغه غوايې ليدل خوشحاله شوه. ځکه چې پوهېده د غوييو په مخکې نڅېدلی او د خپلې نڅا تمرين کولای شي.

کله چې ما د لومړي ځل لپاره د سخوندور په مخکې د مينا نڅا وليده داسې حيران او هک پک پاتې شوم چې بيانولای يې نه شم.

هغه غوايې چې هلته ساتل کېدل د مصر د سوېل په ځنګلونو کې تر وحشي پيلانو خطرناک دي ځکه تر هغه چې پيل و نه خورول شي پر انسان حمله نه کوي خو يو غويی ډېر خطرناک وي او کله چې انسان وګوري پرې حمله کوي.

ښکر يې د چړو په شان تېره وي او په يوه ګوزار سره خپل ښکر د انسان په خېټه يا سينه کې ننه ايستلای شي . هغه او چتولای او پر ځمکه يې ويشتلای شي.

مينا له نريو جامو سره د غوايي په مخکې نڅا پيل کړه او په حيرانوونکي ډول يې ځان له ښکرو ژغوره.

هغې داسې چټک حرکتونه کول چې د سړي سترګو يې د نڅا حرکتونه نه شو تعقيبولای.

کله خو به دومره زړه وره شوه چې په يوه ټوپ سره به د غوايي پر سر ودرېده او دواړه ښکران به يې کلک ونيول.

بيا به په يوه حرکت سره د غوايي پر ملا کېناستله او بېرته به راکوزه شوه.

کله چې د مينا نڅا خلاصه شوه ځوانانو د هغې په غاړه کې ګلان واچول او هلته موجودو ماڼوګانو ويل چې په کرت کې يې د غوايي په وړاندې نڅا ليدلې خو کله يې

هم نه دي ليدلي چې څوک دې په داسې حرکت او زړه ورتيا وګمارې
کله چې له ځرځايه ستانه شوو. زه څپه وم. ځکه چې پوهېدم همدا غويي چې هغه يې په مخکې ونځېدله. يوه څوانه ښځه به له ځانه قربان کړي ځکه چې مينا فيصله کړې وه. د خپل خدای په مخکې به ځان قرباني کړي.
د هغې خدای هم يو غويي يا غوايي ته ورته شی دی.
بيا د کرت د ټاپو يوه بېړۍ بندر ته را ورسيده او د غه بېړۍ نه لويه او نه ډېره کوچنۍ وه. مانو يې هم نيک سيرته سړی معلومېده.
مينا وويل چې له دغې بېړۍ سره به د کرت ټاپو ته ولاړه شم چې ځان خپل خدای ته وسپارم او غوره ده چې ته هم زما له تګه وروسته د خپل ژوند په فکر کې شې.
زه پوهېږم چې له بابله دې زما د ژغورلو په وخت تاوان وکړ او بيا دې هم له دې کبله چې نه دې غوښتل په هاتي کې ما يوازې پرېږدې راستون شوې.
ما وويل زه تا يوازې نه شم پرېښودلای چې د کرت ټاپو ته ولاړه شې. مينا وويل نه غواړې چې ما يوازې پرېږدې. چې کرت ته لاړه شم؟ که د بېړۍ له مانو وېره لرې. نو هغه خو نيک سيرته سړی دی او ما به په لاره کې پر سمندري غلو خرڅه نه کړي. روغه رمټه به مې کرت ته ورسوي.
ومې ويل مينا! زه پوهېږم چې د بېړۍ مانو سم سړی دی خو ته پوهېږې چې زه ولې غواړم له تا سره د کرت ټاپو ته ولاړ شم. ځکه چې زه پر تا مين شوی يم.
مينا خپل لاس زما په لاس کېښود او ويې ويل سينوهه! زه له تا سره له ژوند کولو خوند اخلم. ځکه چې تا څو هېوادونو ته بوتلم او د دغو وطنونو خلک دې ما ته راوښودل.
زه د دغو هېوادونو په ليدلو دومره بوخته او مصروفه شوم چې خپل وطن کرت مې له ياده وتلی و. له همدې امله کله چې به تا ته ويل چې کرت لاړه شم. ما به خپل سفر په بېلابېلو پلمو ځنډاوه ځکه چې له تا څخه بېلېدای نه شوم.
خو کله چې د غويي په مخکې ونځېدم نو را په ياد شول چې زما خدای زما په تمه دی چې ورشم او خپل پېغلتوب هغه ته ډالۍ کړم. که زما خدای زما د پېغلتوب د تر لاسه کولو په انتظار نه وای ما به تا ته ډالۍ کړی و.
ما وويل مينا موږ يو ځل په دې هکله خبرې کړې دي او ما وويل چې له دې موضوع

تېرشوی یم. زما علاقه د هغه څه لپاره نه ده چې ته یې فکر کوې. ځکه هغه څه چې ته یې لرې نورې ښځې یې هم لري او کله چې یو سړی تړې وغواړي چې خوړ یې شي دغه غوښتنه مني.

غوسه پر مینا برلاسه شوه او زما لاس یې ټینګ کړ. ویې ویل. که ته د شراب خانو او د عمومي ځایونو د ښځو غوښتونکی یې ورځه او له هغوی سره مستي وکړه خو په دې پوه شه چې زه به داسې غوسه شم چې ممکنه ده تا تپي کړم او له بدنه دې وینه وبهوم.

زه غواړم ته هم زما په شان وې او همغه ډول چې ما لا تر اوسه له کوم سړي سره تفریح نه ده کړې ته هم باید له هیڅ یوې ښځې سره تفریح ونه کړې.

ما ورته وویل. ستا خدای ته له نارینه وو سره له تفریح منع کړې یې خو زما هیڅ یوه خدای هم لا زما لپاره بندیز نه دی لګولی.

مینا وویل خو که ته له کومې ښځې سره تفریح وکړې او بیا زما پر سر لاس کېږدې زه به دې ژوبل کړم.

ومې ویل مینا له دې امله داړه او سه ځکه چې له ښځو سره تفریح کول داسې کار نه دی چې یو سړی دې تل ورته هیله ولري.

ما یوځل له یوې ښځې سره د تفریح لپاره خپل هر څه له لاسه ورکړل او بېوزله شوم او دې چارې له ښځو سره له تفریح داسې زړه توری کړم چې اوس له زړه نه غواړم کوم ښځه خپله خوړ کړم.

مینا وویل له دې کبله چې زه یوه ښځه یم دا خبره راباندې بده لګېږي چې یو سړی ووایي له ښځو سره له تفریح کولو خوند نه اخلي.

کله چې شپه شوه زه ویده شوم او ومې لیدل چې مینا د نورو شپو په خلاف په دې شپه زما کوټې ته رانه غله.

هغې ته مې ناري کړې او ومې ویل مینا ! تا هره شپه د خپل بدن په تودوخې ګرمولم ولې نن شپه نه راځې چې ما ګرم کړې . ایا له ما څخه د ننیو خبرو له امله خپه شوې یې؟

مینا وویل نه سینوهه ! زه له تا خپه شوې نه یم. خو نن شپه مې بدن دومره ګرم دی چې که تاته درشم او خپل بدن درسره ولګوم له ډېرې تودخې به ښایي تاو سوځوم.

زه ولاړ شوم او هغې ته ور غلم او بدن مې یې لمس کړ، پوه شوم چې تبه یې ده.

هغې ته مې وویل مینا فکر کوم چې ته ناروغه شوې یې اجازه راکړه چې معالجه دې کړم.
مینا هېڅکله نه غوښتل چې معالجه شي او ویل یې چې زما خدای به ما معالجه کړي.
خو ماورته وویل. ایا ستا خدای له دې پرته چې او به او خواړه وخوري، ستا تنده او لوږه ختمولای شي؟ ناروغي هم همداسې ده او باید د ډاکټر درمل وي چې ناروغي معالجه شي.
مینا موافقه وکړه او ما درمل پرې وخوړل ما یو ډول مسکن درمل مې هم ورکړل، ورته مې وویل اوس ویده شه. ځکه ددې درملو له خوړلو وروسته باید سړی ویده شي چې ناروغي یې له منځه ولاړه شي.
مینا ویده شوه خو زه تر سهاره د هغې پر بستري ناست او ویښ وم او کله چې سهار پیلېده د خوب لپاره خپلې کوټې ته ولاړم.
خود مینا ناروغي ډېره اوږده نه شوه. هغه ښه شوه او داسې ورځ را ورسېده چې موږ باید د کرت پر لور خوځېدلي وای.
خپل مریي کاپتا ته مې وویل چې د سفر وسایل برابر کړه چې په بېړۍ کې سپاره شو او د کرت ټاپو ته چې د مینا وطن دی ولاړ شو.
کاپتا وویل ما اټکل کاوه چې ددې نجلۍ له امله به ته ما اړ کړې چې په بېړۍ کې سپور شم. خو مخکې تا راته ویلي و چې موږ به نور هېڅکله په کشتیو کې سپاره نه شو.
بو یه زه له دغې بدبختۍ څخه خپلې جامې وشکوم. خو دا کار ځکه نه کوم چې وروسته به یې بیا ګنډلو ته اړ شم.
بو یه ما ژړلي وای خو ځکه نه ژاړم چې ډارېږم خپله دغه یوه سترګه به هم له لاسه ورکړم.
خو د تسلۍ لپاره یوازې یو شی لرم او هغه دا چې زما د اټکل پر بنسټ به مې دا وروستی سمندري سفر وي او له دې وروسته به په بېړۍ کې سپور نه شم.
په هر حال له دې امله چې یقین مې درلود له دغې ښځې سره به د کرت ټاپو ته ځې ما د سفر وسایل تیار کړي دي.
زه د کاپتا له لوري د سخت اعتراض او شور ماشور په تمه وم. خو دا چې ژر تسلیم

شو حیران شوم. وروسته متو جه شوم چې هغه له سفره دوه درې ورځې مخکې په بندر کې له یو شمېر مانو ګانو او د بېړیو له عملې سره خبرې کړې او د سمندر د ناروغی د مخنیو لپاره چې د څپو له امله پیدا کېږي هغه له مانو ګانو ځینې سپارښتنې اورېدلې دي.

مثلاً ورته ویلي یې دي. چې په بېړۍ کې تر سپرېدو یوه ورځ مخکې دې هېڅ شی نه خوري او خپل کمربند دې کلک وتړي چې نس یې ټول وي او بیا دې بېړۍ ته ننوځي.

له ننوتو وروسته دې سمد ستي څملي چې په دې ډول له سمندري ناروغی سره نه مخامخېږي.

کاپتا تر سفر یوه ورځ مخکې ډوډۍ ونه خوړه او کله چې په بېړۍ کې سپور شو خپل کمربند یې کلک وتاړه.

دبندر د ساتونکو قوماندان زموږ د بدرګې لپاره تر بېړۍ پورې راغی او د بېړۍ پر مانو یې وسپارلم.

بیا دبېړۍ عملې ستر پاروګان په لاسونو کې واخیستل او بېړۍ له بندره حرکت وکړ.

کله چې له بندره ووتو د بېړۍ مانو د سمندر د خدای او د کرت ټاپو د خدای لپاره قرباني وکړه او بیا یې امر وکړ چې بادبان پورته کړي.

کله چې بادبان اوچت شو او بېړۍ په سمندر کې کړه شوه د سمندر څپو هغې ته ټکان ورکړ او ما د معدې د ستونزې او بدلون احساس وکړ.

پر بله ورځ چې له خوبه پاڅیدم ګورم چې د سمندر په منځ کې یم او شاوخوا وچه نه ښکاري.

شین اسمان. تود لمر او د سمندر باد ډېر قوي و او زموږ بېړۍ ګړندی مزل کاوه.

دکرت له بېړیو یوه جنګي بېړۍ په دې ګمان چې موږ غله یو موږ ته نژدې شوه، خو کله چې پوه شول د کرت له بېړیو څخه یو پخپل بیرغ موږ ته سلام وکړ او لیرې شوه.

کاپتا چې نور د سمندر له ناروغی نه وېرېده د بېړۍ غولې ته راغی او له عملې سر ه یې خبرې پیل کړې. ویل یې په نړۍ کې یې ډېر عجیبه شیان لیدلي او په یوه سفر کې چې له مصره سوریې ته روان و له سمندري توپان سره مخامخ شو .لږ پاتې وو چې ډوب شي.

بیا یې د نیل په اوبو کې د مصر د اوبڼیو په هکله خبرې وکړې او غوښتل یې دد غو عجیبه شیانو له امله چې ده لیدلي و هغوی حیران کړي.

له دې وروسته د ببرۍ عملې او ماڼوګانو خبرې وکړې او د سمندري ژویو او ډول ډول کبانو په هکله یې خبرې وکړې چې نیم بدن یې د انسانانو په شان دی او خوندور غږ لري.

د دوی خبرو کاپتا داسې حیران کړ چې له ډاره یې فیصله وکړه چې نور به پخپلو خبرو سره د ببرۍ د عملې د حیرانولو فکر نه کوي.

څومره چې کرت ته نژدې کېدو مینا ډېره خوشحالېدله. د سمندر نسیم یې ویښتان پریشانه کول او نوره هم ښکلې کېده.

خو زه له دې امله خواشینی وم، چې هغه له لاسه ورکوم او له ځان سره مې وویل چې که له مینا پرته له کرته ستون شوم او مصرته ولاړ شم مصر ته په تګ به خوشاله نه شم او خوند به را نه کړي. ځکه چې له مینا پرته ژوند راته تریخ ښکارېده.

زه ډېر خپه وم چې له دې وروسته د مینا لاس نه شم نیولای او د هغې د بدن تودوخه نه احساسوم.

د ببرۍ ماڼو او عملې چې د کرت او سېدونکي ول، د مینا ډېر درناوی کاوه. ځکه چې پوهېدل دا هغه پېغله ده. چې خپل پېغلتوب به د کرت خدای ته ورکړي او په دې هم پوهېدم چې هغه د غوایي په مخکې ښه ګډېږي.

کله چې ما غوښتل د کرت د خدای په هکله له ماڼو او عملې توضیحات وغواړم، هغوی به ځواب نه راکاوه او یا به یې ځان غږاوه او ویل به یې ته بهرنی یې او موږ ستا په خبره نه پوهېږو.

دوه ويشتم څپرکی

موږ په کرت کې څه وليدل؟

يوه ورځ مې د کرت ټاپو له اوبو څخه سر رابهر کړ، د بېړۍ عملې د خوشحالۍ نارې وهلې؛ ځکه خپل وطن ته رسېدلي ول.

د بېړۍ مانو په دې خوشحالۍ کې، چې روغ رمټ له سفره ستانه شوي د سمندر د خدای لپاره چې همغه د کرت خدای دی او په سمندر واک چلوي قرباني وکړه.

څومره چې د بېړۍ عمله مانو او مينا د کرت له ټاپو او د زيتون له ونو او د هغه له غرونو خوشحالېدل هومره زه خپه کېدم.

د دې لپاره چې پوهېدم بايد مينا هلته پرېږدم او له هغې پرته بېرته ستون شم.

مينا چې خپل ټاټوبی ليده له ډېرې خوشحالۍ يې ژړل، خو کاپتا په حيرانۍ سره او په وازه خوله د کرت پر وړاندې سمندر ته کتل او په ساحل کې ولاړې بېړۍ يې شمېرلې.

له دې وروسته چې دوه ځله يې شپېته بېړۍ و شمېرلې متوجه شو چې همدومره نورې بېړۍ هم هلته شته چې نه يې دي شمېرلي. بيا يې وويل فکر کوم دلته دومره بېړۍ دي چې په ټوله نړۍ کې به نه وي.

کرت د خپل خدای په قدرت دومره اعتماد درلود چې د دغه هېواد په بندر کې نه کوم برج وو او نه نور استحکامات. خو بندري کورونه له سمندره پيلېږي.

کله چې زه کرت ته داخل شوم داسې شيان مې وليدل چې په نړۍ کې مې په خپلو نورو سفرونو کې نه و ليدلي. *(قدرمن لوستونکي دې متوجه وي چې د کرت ټاپو په اړه د سينوهه د ژوند او بر خليک د غه برخه له تاريخي پلوه ډېره په زړه پورې ده. ځکه چې کرت دد غه مصري ډاکټر په وخت کې د نړۍ د يو ستر تمدن مرکز و. خو د يونان، مصر او روم په شان د کرت د ټاپو تاريخ ډېر مشهور نه دی. نبايي ډېر خلک تر اوسه نه وي خبر چې کرت ټاپو د نړۍ په تمدن کې څومره رول لوبولی دی؟ ژباړن)*

معلومه ده چې زما په شان یو ډاکټر چې کله یوه ښارته ننوځي په لومړي نظر کې د خلکو څېرو ته ګوري چې وګوري خلک روغ او سالم دي کنه؟ د غلته ما زیاتره خلک روغ او ښکلي ولیدل.

لږه موده وروسته متوجه شوم چې د کرت د خلکو په ژبه کې داسې کلیمه نشته چې له امله یې خلک د مرګ په معنی پوه شي او خلک داسې عیاشي او ساعت تېري کوي چې هېڅکله د مرګ فکر ور سره نه وي.

که څوک مړ شي د جنازې د لېږد لپاره له ډول ډول چلونو استفاده کوي چې څوک پوه نه شي کوم سړی یا ښځه مړه شوې ده.

ما واورېدل چې مړي سوځوي او له منځه یې وړي او دا هم راته ښکاره شوه چې دوی مړي نه ښخوي. ځکه چې ما په کرت کې قبر ونه لید. په کرت کې یوازې د دوی د پاچاهانو څو قبرونه ول چې پر سر یې لویې تیږې ایښې دي.

خو کله چې خلک د دغو قبرونو له مخې تېرېږي مخ ترې اړوي چې و یې نه ویني، څه نه وېني او تصور کوي چې په دې ډول له مرګه انکار کولای شي.

د کرت تر هنرمندانو او صنعتګرو تکړه خلک په بل ځای کې نه موندل کېږي.

د هغوی منګي او خټین لوښي تر منګیو زیات جواهرو ته ورته دي او کله چې انسان د کرت خټین لوښي په لاس کې اخلي چې او به پکې وڅښي نو په کتلو یې نه مړېږي.

د لوښي پر مخ د سمندري کبانو او ګلانو پر سر د پتنګانو عکسونه لیدل کېږي او هره ډله حیوانات خپل ځانګړی رنګ لري. په دې ډول چې انسان فکر کوي کولال د سفالي رنګونو پر ځای جواهرات پکې کارولي دي.

هر کولال د خپل ګړي او صراحي انځور په یوه خاص ډول انځور وي. پر یوه خټین لوښي د سمندري حیواناتو. پر بل د وچې د حیواناتو او پر بل لوښي بیا د الوتونکو انځورونه لیدل کېږي.

یو شی چې ما په طبس او بابل کې ونه لید او د کرت او سېدونکي ترې برخمن دي او پر دې سربېره د متمدني نړۍ یوه ګټه حسابېږي د کرت تاپو د تشنابونو ډول دی.

په بابل کې تشنابونه دومره چټل دي چې یو متمدن سړی نه غواړي ورشي.

په طبس کې له دې سره سره چې زموږ خدایانو ویلي چې تشنابونه پاک وساتئ. خو بیا هم دومره پاک نه دي چې اړتیا یې وي. مګر په کرت کې هر تشناب د هنر، سلیقې او ښکلا

ښېلګه حسابېږي ځکه چې شپه او ورځ د تشناب لـه لګنـه ترمې او بـه تېرېږي او دومره پاک دي چې هېڅ وخت ترې بد بوی نه لتېږي.

د کرت کورونه د بابل په شان لوړ او څو پوړیزنه دي خو د بابل د کورنو په پرتله د ژوند کولو لپاره مناسب او ارام دي.

د کرت خلک کوټې لويې او کړکۍ پراخې جوړوي او هر کور یو حمام او هر حمام د خان وینځلو لپاره یو لوی لګن یا تشت لري چې په نلونو کې تودې او یخې اوبه ورته راځي.

پـه سـر کـې مـا فکـر کـاوه، چـې دغـه ډول حمامونـه او تشـنابونه یـوازې د شـتمنو پـه کورنو کې شته. خو وروسته مې ولیدل چې د ښار د ډېرو بېوزلو کسانو په کورونو کې هم دغه ډول تشنابونه او حمامونه له ګرمو او یخو اوبو سره شته.

زه په دغه وخت کې پوه شوم چې د دغه ښار خلک ولې ښکلي دي ځکه چې پاک تشناب او په یخو او ګرمو اوبو حمام کول سړي ښکلی کوي.

د کرت ښځو په ورځ کې خپل یو خاص وخت له بدنه د اضافي وېښتانو په لیرې کولو او د مخ او وېښتانو په سینګار تېراوه.

دوی په سینګار کې دومره دقت کوي چې هېڅکله یوې مېلمستیا تـه پخپـل وخت نه راځي او څوک له دې لامله نه حیرانېږي.

په کرت کې د ښځو کالي د هغوی لـه لاسونو، پښو او سینو پرتـه نور بدن پټوي ځکه چې پخپلو ښکلو سینو او لاسونو ویاړي او هیله لري چې خلک یې ښکلا وګوري.

د کرت ښځې خپل وېښتان ډېر ښه جوړوي، په داسې حال کې چې پـه طبس کې ښځې خپل ویښتان خریي او زه فکر کوم چې د ښکلا له پلوه د کرت ښځې په ټوله نړۍ کې ساری نه لري.

د هغوی اندامونه نري او د اندام د ظرافت له امله لږ بچیان زېږوي. د کرت ښځې عموماً یو یا دوه بچیان لري او د بچیانو کمښت په کرت کې عیب نه دی.

د کرت سړي هم د ښځو په شان ظریف اندامونه لري خو پراخ ټټر لري او هر نارینه هڅه کوي چې خپله ملا نرۍ وښيي.

هغوی هم د ښځو په شان د خپل بدن وېښتان په ډېرې ځیرتیا سره لېرې کوي ځکه دوی غواړي چې کله د غواګانو لوبه کوي نو بدن یې ښکلی معلوم شي.

ډېر خلک پکې موزې پر پښو کوي او د موزو په ګېټسونو یې د څناورو عکسونه کښل

شوي وي.

د کرت او سېدونکي نه غواړي نورو هېوادونو ته ولاړ شي، ځکه چې په نورو هېوادونو کې د کرت په شان د سوکالۍ او پاکۍ وسایل نه شته او وایي موږ نه شو کولای د نورو ملتونو په کورونو کې چې پاک تشنابونه او حمامونه نه لري ژوند وکړو.

یو عجیب شی چې ما په کرت کې ولید او په بل هېڅ هېواد کې یې ساری نه و. هغه د موسیقۍ یو ډول آله وه چې له ساز غږونکي پرته غږېدله او د موسېقۍ غږ ترې پورته کېده.

خو هغه غږ چې ترې راوات له مخکې یې په یو شي لیکلی و او ما تعجب کاوه.

زه په دې پوه نه شوم چې څنګه موسیقي او غږ لیکل کېدای شي؟ بله دا چې ما د کرت له او سېدونکو واورېدل چې دوی کولای شي د موسیقۍ نوټونه ولیکي او بیا هغه وغږوي .په دې ډول چې کله یو چا کومه سندره یاموزیک نه وي اورېدلی خو لیکلې بڼه یې پیدا کړي نو د هغه له مخې همغه موزیک غږولای شي.

له دې کبله چې زه یو ډاکتر یم او یوازې د طبابت علم ته مې خاصه توجه کوله نو په دې لټه کې نه شوم چې څه ډول د موسیقۍ نوټ لیکل کېدای شي او داسې ښکاري چې نورو هم دې موضوع ته چندان توجه نه ده کړې.

ما په کرت کې هېڅ معبد ونه لید چې د هېواد د خدای لپاره جوړ شوی وي. خو په بدل کې یې د غوایانو عبادت کاوه او د هغوی په مخکې به نڅېدل.

زه پوه شوم چې د کرت ټاپو د اوسېدونکو له لوري د غوایانو عبادت مذهب ته د هغوی د علاقې له لامله نه دی . بلکې د غوایانو په مخکې له نڅا خوند اخلي او داسې ورځ به نه وي چې د دې نڅا لپاره راټول نه شي او یا پخپله ونه ګډېږي.

د دغه ملت د ژوند یو په زړه پورې ټکی دا دی چې په شرابو کې افراط نه کوي.

ما په کرت کې د او سېدو ترپایه ونه لیدل چې څوک دې نشه شوي وي او یادې د طبس او بابل د او سېدونکو په شان د ډېرو شرابو له امله چا کانګې کړې وي.

په کرت کې ښځې ښکلې ځوانان خوښوي او له همدې امله ځوانان په لوڅو اندامونو د غویي په مخ کې ګډېږي چې ښځو ته خپله ښکلا وروښیي.

هغه ښځې او نارینه چې د غوایانو په مخکې نڅېږي دوه ډوله وي، یوه ډله هغه دي چې کسب یې همدا دی.

که نارینه وي باید له ښځو سره واده ونه کړي او که ښځې وي باید له نارینه وو سره ساعت تېری ونه کړي.

خو دویمه ډله هغه کسان دي چې د تفریح لپاره د غوایانو په وړاندې ګډېږي او هغوی که نارینه وي له ښځو او که ښځې وي له نارینه وو سره تفریح کولای شي. زما په نظر د کرت دخلکو په دودونو او روحیه کې یوازې یو شی ناخوښ او ناسم دی، چې هغه د دوی بې خایه هوس او تمه ده.

دغه ملت تر دې حده د نویو شیانو د درلودلو لېه کوي چې هغه شی چې نن یې خلک خوښوي سبا یې له پام غورځوي او نه یې اخلي او هیڅ سوداګر ډاډه نه دی. هغه شی چې نن د کرت خلکو واخیست سبا به یې هم واخلي که نه؟

کله چې کرت ته ورسېدو په یوه مېلمستون کې مو واړول.

ما بابل ته د سفر په ترڅ کې د هغه ځای مېلمستون لیدلی و. له ځان سره مې ویلي و. چې په نړۍ کې به تر دې ښه کور نه وي.

خو کله چې کرت ته ننوتم او د هغو ښکلی او پاک مېلمستون او مهربان او مېلمه پال نوکران مې ولیدل نو پوه شوم چې د بابل مېلمستون د دې ځای ګرد ته هم نه رسېږي.

ځکه چې د بابل په مېلمستون کې بدرنګه او ناولو غلامانو او نوکرانو کارکاوه. په داسې حال کې چې د کرت په مېلمستون کې ښکلو هلکانو او نجونو کار کاوه، چې تل موسکي ول او مېلمنو ته به یې هرکلی وایه.

کله چې به را وغوښتل شول ښه خدمت به یې کاوه.

.موږ مېلمستون ته له ننوتو سمدستي وروسته د هغه په ښکلي حمام کې چې ګرمې او سړې اوبه یې درلودې حمام وکړ، جامې مو بدلې کړې.

مینا د خپل سر و ښتان ګاږګوتې کړل، نوې جامې یې واخیستلې او ما ورته له رنګارنګ کاڼو څخه جوړې غوږوالۍ او غاړه کۍ واخیستل.

هغه جامې چې مینا اخیستې وې د هغې سینه یې نه پټوله په داسې ډول چې ټولو د هغې سینې او لاسونو ته کتل.

له دې وروسته چې جامې یې واغوستلې ما ته یې وویل یو روان تخت کرایه کړه چې د ښار له بندره ولاړ شو او زه غواړم خپل استاد وګورم.

زموږ مېلمستون د کرت په بندر یانې بندري سیمه کې و. له دغه ځایه مو یو روان تخت

کرایه کړ او پرې سپاره شوو. د ښار په لور وخوځېدو. ښار د بندر په پرتله لږ پر لوړې سیمې پروت و او دومره باغونه یې درلودل چې تیتې ودانۍ پکې پټې وې.

مینا روان تخت د یوه باغ په مخکې ودراوه او موږ باغ ته ننوتو.

مینا وویل دا زما د استاد کور دی.

په کرت کې هر ځوان یا پیغله چې د غوایانو په مخکې ګډېږي یو استاد لري چې د هغوی ښوونکی او ملاتړی وي او د نڅا تخنیکونه ورښیي، د غه راز د هغوی له ګټو دفاع کوي او اجازه نه ورکوي چې نور د هغه د شاګرد حق ضایع کړي.

د مینا استاد یو بوډا و. چې کله یې موږ کور ته ورننوتو یوه اندازه پاپیروس (د پخوانۍ زمانې کاغذ چې له مصره واردېده. ژباړن) یې په مخکې پراته ول او مطالعه کول یې.

ماوکتل چې پر د غو کاغذونو د غوایانو عکسونه کښل شوي او معلومه شوه چې د غه غویي هغه ځناور دی چې سبا به یو شمېر کسان د هغه په مخکې ګډېږي او بوډا نیت لري چې پوه شي په کوم غوایي شرط تړلای شي.

کله چې بوډا مینا ولیدله خوشاله شو او هغه یې ښکل کړه ویې ویل مینا! ما فکر کاوه چې ته خدای ته تللې یې او بېرته نه یې راستنه شوې، خو لا مې باور نه کېده او فکر مې کاوه چې را به شې. ځکه مې بل شاګرد نه و. نیولی.

هغه کوټه چې دلته ستا د اوسېدو لپاره وه، همغسې پخپل حال ده خو څه موده کېږي چې پاکه شوې نه ده او ښایي زما ښځې ورانه کړې وای او پر ځای یې جوړ کړې وای. چې په هغه حوض کې خپل کبان وروزي ځکه چې زما ښځه له کبانو سره ډېره مینه لري.

مینا وویل. ستا مېرمنې له کومه وخته د کبانو له روزلو سره لېوالتیا پیدا کړې؟ کله چې زه له دې ځایه تلم هغه خو د کبانو د روزلو په فکر کې نه وه.

بوډا وویل دا مې نوې ښځه ده چې تا نه ده لیدلې او که اوس یو ځوان سړی ورسره نه وای. ما به ورو ستلې وې او له هغې سره مې معرفي کولې، خو اوس یو ځوان نڅاګر چې نوې یې نڅا پیل کړې له هغې سره دی او که تا ورولم حالت به یې بدل شي.

ایا غواړې خپل ملګری ماته معرفي کړې چې زه هم ورسره ملګری شم او دغه کور د هغه د خپل کور په شان شي.

مینا! وویل زما ملګری یو مصری ډاکټر دی او نوم یې (سینوهه) ابن الحمار

دی. یوازې ژوند کوي او ښځه نه لري چې ورسره تفریح وکړي.
بوډا وویل که څه موده په دې هېواد کې تېره کړې یوازې به پاتې نه شې. ځکه چې په کرت کې ښکلې ښځې نه پرېږدي چې یو سړی یوازې پاتې شي.
خو تا ته وایم مینا! ایا ناروغه یې چې له یوه ډاکټر سره دلته راغلې یې او که ناروغه وې زه به ډېر خپه شم. ځکه کله چې راغلې زړه مې خوشحاله شو او فکر مې وکړ چې له تا به وغواړم سبا د غوایي په مخکې ونځېږې او له سره سپین زما په برخه کړې.
مینا وویل. زه مریضه نه یم او تر بل هر وخت روغه یم.
له دې امله مې له دغه مصري ډاکټر سره سفر وکړ چې هغه زما ژغورونکی دی او که هغه نه وای. زه به په بابل کې مړه شوې وم او یا به مې ځان وژلی وای.
بوډا وویل هیله ده چې له دغه مصري ډاکټر سره د ملګرتیا له امله دې خپل پیغلتوب له لاسه نه وي ورکړی. ځکه ته پوهېږې که ستا پېغلتوب ضایع شي اجازه به در نه کړي چې د غوایانو په مخکې ونځېږې او خدای ته هم نه شې ورتلای.
بیا بوډا پېغلې ته نژدې شو او د هغې سینې یې لمس کړې. ویې ویل ډارېږم چې ستا پېغلتوب دې له لاسه وتلی نه وي. ځکه چې کله ته له دې ځایه تللې سنې دې ډېرې وړې وې او اوس لږ لویې شوې دي.
ایا غوره نه ده. تر دې مخکې چې د غوایانو په مخکې ونځېږې تا معاینه کړو او پوه شو چې پیغله یې که نه؟ پیغلې په غوسې سره وویل نه غواړم د بابل د مریانو د پلورنې دبازارونو په شان. چې هلته ښځې معاینه کوي چې پیغلې دي کنه؟ ما هم معاینه کړئ.
زه درته وایم له دې کبله مې له دغه سړي سره سفر وکړ چې هغه وژغورلم او که هغه نه وای زه به هم په کرت کې نه وم.
ته خو یوازې د خپل سخوندر او عاید په فکر کې یې او زما د خبرې پروا نه کوې.
له دې خبرې وروسته مینا وژړل او بوډا چې د هغې اوښکې ولیدې پر خپلې خبرې پښېمانه شو. ویې ویل مینامه ژاړه! زه باور لرم چې ته رښتیا وایې او لا پېغله یې. دغه سړی ستا ژغورونکی دی او که هغه نه وای ته به هم کرت ته نه وای راستنه شوې.
بیا یې د خبرو موضوع بدله کړه او زیاته یې کړه. را په زړه شول چې زه باید نن مینوس ته ورشم او له دې کبله چې هلته د تګ لپاره ځنډېدلی یم نه غواړم چې جامې هم بدلې کړم او په همدغه جامو کې به لاړ شم.

تاسې په همدې کور کې پاتې شئ، استراحت وکړئ، ډوډۍ وخورئ او که ښځې مې پوښتنه وکړه چې چېرته تللی یم ورته ووایئ مینوس ته تللی دی، ما یې ځکه مزاحمت و نه کړ چې غوايي ته نځېدونکی ځوان ورسره و.

ښځې ته مې دا هم وو ایه ، کله چې د مینوس له کوره راووځم نو خپلو غوییو ته هم ورځم. ځکه چې یو غویی به چې لا یې په لوبو کې ګډون نه دی کړی، سبا ډګر ته ننوځي او زه یې باید وګورم.

مینا وویل. زه او سینوهه هم له تاسره ځو . زه به هلته خپل ملګري وګورم او سینوهه به ور وپېژنم.

له دې کبله چې د بوډا او د مینوس د کور تر منځ واټن کم و، نو په روان تخت کې نه بلکې پلي ورغلو.

د مینوس کور ته چې ورننوتو په حیرانۍ سره مې ولیدل چې هلته یو ه ستره ماڼۍ ده، او وروسته پوه شوم چې مینوس د کرت پاچا دی.

زه داسې هک پک شو م چې زما د مریي کاپتا په خبره داسې راته ښکاریده چې پر سر روان یم.

هلته پوه شوم چې په کرت کې د پاچا نوم مینوس دی او په کرت کې د مینوس په نوم دومره پاچاهان تېر شوي چې د کرت خینې او سېدونکي نه پوهېږي چې دغه اوسنی باچا څویم مینوس دی .

کله چې هغه ستر تالار ته ننوتو چې مینو س پکې و ، ومې لیدل چې هلته ډېر ې ښځې او نارینه راټول شوي او داسې په لوړ غږ خبرې کوي او خاندي چې ګنې پخپل کور کې دي.

نارینه وو ښکلې او رنګا رنګ جامې اغوستې وې او ټول ښایسته وو، ښځو هم په ښکلا او ښایسته جامو کې له یوه بل سره سیالي کوله.

مینا زه خپلو ملګرو ته ورمعرفي کړم، ښځو هغه په غېږ کې ونیوله او ښکل یې کړه، نارینه یې هم په لیدو خوشحاله شول خو له دې کبله هېڅ حیران نه شول چې هغه خو دا څه موده نه وه.

موږ له ډېرو نارینه وو او ښځو تېر شو چې بالاخره مینوس ته و رسېدو.

مینو س هم د نورو په شا ن له یو شمېر کسانو سره چې شاوخوا یې ولاړ و ،خندل او هغه هم د مینا په لیدو خوشحاله شو.

له دې وروسته چې مینا زه ورمعرفي کړم او مینوس پوه شو چې ما دغه پیغله ژغورلې ده په مصري ژبه یې له ما مننه وکړه او ویې ویل سینوهه! تا زموږ خدای ته یو ستر خدمت وکړ ځکه هغه نجلۍ دې راستنه کړه چې باید زموږ خدای ته ور شي او مینا به ډېر ژر زموږ د خدای کور ته ورشي.

بیا مینا له هاله بهر کړم او ویې ویل راځه چې د ماڼۍ کوټې در وښییم او په هرې کوټې کې د هغې کوټې د شیانو په لیدو سره خوشحاله کېدله.

ما کتل چې د ماڼۍ نوکرانو له دې پر ته چې د مینا له اوږد غیابته حیران شي د هغې په لیدو خوشحالي کوله.

مینا د دې چارې علت ماته بیان کړ او ویې ویل. دا چې هېڅوک په دې هېواد کې د بل چا له اوږده غیابته نه حیرانېږي علت یې دا دی چې نه غواړي د چا د مرګ لپاره خواشیني وکړي.

کله چې یو څوک مړ کېږي هېڅوک د هغه ذکر نه کوي او له همدې امله کله چې یو څوک ورک شي تر هغه یې پوښتنه نه کېږي مګر بیرته راستون شي او که راستون نه شي فکر کوي چې هغه مړ شوی دی نو باید هېر کړای شي.

ځکه د تللو کسانو په تېره بیا د مړو یادول د خپګان سبب کېږي او په دې هېواد کې څوک نه غواړي چې ځان غمونو ته وسپاري.

له دې وروسته چې مینا د ماڼۍ کوټې راوښودې زه یې هغې کوټې ته بوتلم چې د نورو پر سر ودانه شوې وه.

له هغه ځایه ستر ځړځایونه، چې غوایي پکې څرېدل او له ښاره دباندې د زیتون باغونه او کروندې لیدل کېدې.

مینا راته وویل دا زما کوټه ده.

ما وویل مینا نو ته په دې کوټه کې ژوند کوې؟ مګر ته د پاچاهۍ د ماڼۍ اوسېدونکې وې؟

پیغلې وویل هو! دغه جامې چې دلته ګورې ټولې زما دي، خو زه یې نه شم اغوستلای ځکه چې له موډه لوېدلې او زموږ په هېواد کې ژر ژر جامې بې موډه کېږي.

ما وویل مینا زه ستا دې خبرې ډېر حیران کړم، ځکه چې هېڅکله مې تصور نه کاوه ته هغه ښځه یې چې ستا د اوسېدو ځای به سلطنتي ماڼۍ وي.

مینا وویل که زموږ د پاچا نوم دې زده وای نو په دې به پوه شوی وې چې زما نوم یانې مینا د پاچا له نوم مینوس څخه اخیستل شوی دی.

ما وویل نو ولې دې دغه خبره ما ته ونه کړه چې پوه شوی وای چې ته د کرت د سلطنتي کورنۍ غړې یې؟ مینا وویل ولې ووایم؟ دلته ټول کسان یو شان دي او ما اړینه نه بلله چې تا ته ووایم چې زه د کرت د سلطنتي کورنۍ یم.

پوه شوم چې مینا سمه خبره کوي او د مینوس په هال کې د خلکو د چلند څرنګوالي دغه خبره ثابتوله. ځکه چې خلکو هلته داسې چلند کاوه چې ته وا په خپل کور کې دي او ګنې پوهېږي نه چې دلته د کرت پاچا دی.

زه په دې هم پوه شوم چې له هغې ورځې چې مې میناولیده ولې سرو او سپینو پرې اغېز نه کاوه او که به مې کوم شی ورته اخیسته او یا مې هغې ته ډالۍ ورکوله نه خوشحالیده. ځکه چې مینا له وړوکوالي عادت کړی و چې سره او سپین وګوري او هغه څه به چې ما ورکول د هغې لپاره یې اهمیت نه درلود او هغه یې نه خوشحالوله.

ما وویل مینا ته چې د کرت د پاچا خپله یې څنګه د غوایانو په مخکې نځېږې؟ ایا دغه موضوع د هغې ښځې لپاره چې له سلطنتي کورنۍ څخه ده ناسم کار نه دی؟ میناوویل زموږ په هېواد کې د غوایانو په مخکې کې ګډېدل داسې کار دی چې ټول مشران که وغواړي پرې مشغولېدای شي او هر څوک چې په دغه کار کې وځلېږي قدرونه یې کېږي، نو دغه کار عیب نه بلکه له ویاړونو شمېرل کېږي.

بیا له مینا سره یو ځای له مانۍ ووتلو او د غویو د لوبو د موسسې پر لور وخوځېدو.

په کرت ښار کې د غویو د لوبې موسسه یو وړوکی ښار دی چې د ستر ښار په څنګ کې جوړشوی دی.

په دغه ښار کې دغوایانو د لوبو لپاره څو میدانونه او د غویو د ساتلو لپاره څو لوېې غوجلې جوړې شوې دي.

د غوجلو په څنګ کې څړ ځایونه دي چې شاوخوا یې کټارې درول شوې دي.

کله چې د کرت هوا سړېږي، غواګانې غوجلو ته بېول کېږي او په ګرمۍ کې یې بېرته څړ ځایونو ته بیایي.

خو هغه غوایي چې سبا یا بل سبا د غوایانو د لوبو په ډګر کې پر نځېدونکو نجونو او ځوانانو حمله کوي په غوجله کې ساتل کېږي.

کله چې د غوييو د لوبو موسسې ته ولاړو د مينا استاد هلته و او په دې سيمې کې زما په ليدو خوشحاله شو.

دغه راز هغه کاهنان چې دنده يې د غوايانو پالل او د نخښېدونکو روزل و، د مينا په ليدو خوشحال شول خو دوی هم دې ته حيران نه شول چې مينا دا دومره موده چېرې وه؟

له دې وروسته چې کاهنان پوه شول زه مصري ډاکټر يم د غويو د خوړو او داچې کله بايد خواړه ورکړل شي چې ويښتان يې څلانده وي او ډېر عمر وکړي له ما څخه پوښتنې وکړې.

په داسې حال کې چې زه پوهېدم د دوی معلومات تر ما ډېر دي، ځکه چې له سلګونو کلونو راهيسې د دوی نيکونو غوايي روزل او پالل.

له هره پړاوه وروسته د پلرونو علمونه زامنو ته لېږدول کېږي او زامن پرې نوي شيان ور زياتوي او بيا يې خپلو زامنو ته سپاري.

مينا کاهنانو ته ډېره نژدې او پر هغوی ګرانه وه او له همدې امله کله چې يې وليدله د استاد په خوښه يې موافقه وکړه چې سبا د غوايي په مخکې ونخېږي او يو غويي يې هم ورته په نظر کې ونيو.

مينا له دې انتخابه ډېره خوشحاله شوه ځکه چې پوهېدله بس ورځ به خپل هنر ننداري ته وړاندې کوي.

له هغه وروسته مينا زما د لارښوونې مسوليت پر غاړه واخيست او ستر کاهن ته ورغلو چې د غوايي بازانو د ټولو کاهنانو مشر ګڼل کېده. کله چې د ستر کاهن کوټې ته ورننوتو د کوټې د تياري له امله مې په سر کې ونه ليد او بيا مې سترګې پر هغه سړي ولګيدې چې سر يې د غوايي په شان زېړ رنګه و.

دغه سړي چې سر يې دغوايي په شان و، مونږ ته سر ټيټ کړ او بيا يې خپل سر چې د غوايي سر و. لېرې کړ نو زه پوه شوم چې سر او مخ يې دعادي انسان په څېر دي.

وروسته همدغه سړی چې ستر کاهن و مونږ ته موسکی شو او ښه څېره يې درلوده.

خو زه يې له شکل او صورته وډار شوم. ځکه د هغه په څېره کې يو ډول بې رحمي او تاو تريخوالی ليدل کېده.

مينا چې کله غوښتل ورته ووايي چې هغه څنګه ورکه شوه؟ او ويې نه کړای شول چې د کرت د خدای پر وړاندې ځان قرباني کړي نو ستر کاهن ورته وويل، ضروري نه ده چې

توضیحات ورکړي. ځکه چې زه له دې مسلې خبریم او پوهېږم چې ته یې ښښتولې وې او نورو هېوادنو ته یې بیولې وې.

بیا یې زه وستایلم او ویې ویل سینوهه! له دې کبله چې تا مینا کرت ته راستنه کړه چې وکړای شي ځان خپل خدای ته قرباني کړي ما امر وکړ چې تا ته ډېرې ډالۍ درکړي.

کله چې خپل مېلمستون ته ستون شوې هلته به ډېرې ډالۍ وګورې.

ماوویل ما نه مینا د ډالیو د ترلاسه کولو لپاره ژغورلې ده او نه د هغو د ترلاسه کولو لپاره کرت ته راغلی یم. بلکې دې ځای ته زما د راتلو هدف د علم ترلاسه کول دي.

زه تر دې وړاندې چې کرت ته راشم سوریې، بابل او هاتي هېوادونو ته هم تللی وم او په دغو هېوادونو کې مې ډېر شیان زده کړل. اوس کرت ته راغلی یم چې دلته هم خپل معلومات زیات کړم.

د کرت د خدای په هکله مې د پام وړ شیان اورېدلي او ماته وویل شول چې تاسې یو لوی خدای لرئ چې ځوان هلکان او نجونې یې خوښېږي. خو په دې شرط چې هېڅ ډول بدني ککړتیا ونه لري.

دا یو ستر صفت دی چې د بابل او سوریې په خدایانو کې نشته. ځکه چې د بابل او سوریې خدایان اجازه ورکوي چې نارینه او ښځې په معبدونو کې له یو بل سره تفریح وکړي.

ستر کاهن وویل دلته پر لوی خدای سربېره نور خدایان هم شته چې خلک یې عبادت کوي او حتی په بندري سیمو کې د نورو هېوادنو د خدایانو لپاره هم معبدونه جوړ شوي.

ته کولای شې په یوه معبد کې د امون خدای یانې د مصر د خدای لپاره قرباني وکړې خو زموږ ستر خدای بهرنیان نه پېژني او نه شي کولای چې ویې پېژني.

ځکه یوازې هغه کسان چې د هغه د پېژندلو لپاره روزل شوي او د تعلیم یافته مریدانو له ډلې څخه دي اجازه لري چې هغه وګوري او تر اوسه چې چا لیدلی بېرته نه دی راستون شوی چې ووایي زموږ ستر خدای څه ډول و.

تاسې ته دومره وایم چې د کرت د خدای لویوالی او نیکمرغي په لوی خدای پورې تړاو لري.

ما وویل اې لویه کاهنه! کله چې په هاتي هېواد کې وم د هغه ځای له اوسیدونکو مې اورېدلي ول، چې د هغوی خدایان ځمکه او اسمانونه دي او یو پکې هغه بل د باران په

وسیله القاح کوي او محصولات پیدا کېږي.

په همغه وخت کې مې په مبهمه توګه واوریدل چې د کرت د ملت خدای سمندر دی ځکه چې دغه ملت خپل قدرت او نیکمرغي له سمندر کچ کوونې ترلاسه کوي.

ستر کاهن وویل ستا د خبرو يوه برخه سمه ده او موږ په ډېر مسلو کې خپله نیکمرغي او قدرت له سمندر کچ کونې اخلو. خو زموږ خدای سمندر نه دی مګر د سمندر خدای هم دی.

سینوهه! په دې پوه شه چې په ټولو ملتونو کې د کرت ملت یوازېنی ملت دی چې یو ژوندی خدای، خپل ستر خدای بولي. په داسې حال کې چې نور ملتونه د مړو خدایانو عبادت کوي او یادا چې د خدایانو څېرې او بنې یې له لرګیو او کانو څخه جوړ کړې وي او د هغو عبادت کوي.

زموږ خدای نه یو مړ شوی خدای دی او نه کاڼی او لرګی دی بلکې ژوندی دی او تر هغه وخته چې زموږ خدای ژوندی وي هېڅ ملت نه شي کولای چې د کرت له ملت سره مبارزه وکړي او که مبارزه هم وکړي ناکام به شي.

ومې ویل اې ستره کاهنه! ما اورېدلي چې ستاسې خدای په یوه غار کې اوسي چې اوږده او تیاره دالانونه لري او زه ډېر غواړم چې دغه غار او دغه کور وګورم.

خو نه پوهېږم چې ولې هغه کسان چې ستاسې د خدای د کتو لپاره انتخابېږي او یا د هغه کور ته ورځي بېرته نه راځي؟

په داسې حال کې چې هغه ته اختیار ورکړای شوی وي چې له هغه کوره راستانه شي، ته وو ایه چې ولې دغه کسان بیرته نه راستنېږي؟

ستر کاهن وویل له دې سره سره چې زموږ د خدای سمبول غویی دی، خو زموږ خدای غویی نه دی بلکې یو داسې موجود دی چې څوک نه شي ویلای هغه څه شی دی؟

همدومره پوهېږو چې ژوندی دی خو دا چې ولې ځېنې کسان ورځي او بېرته ترې نه راستنېږي دا د دوی لویه نیکمرغي او ویاړ دی.

ځکه چې زموږ د ځوانو هلکانو او نجونو لپاره تر ټولو لوی ویاړ او نیکمرغي دا ده چې خدای وګوري او له هغه سره پاتې شي.

له همدې امله کله چې هغه وګوري داسې نیکمرغي احساسوي چې په دې دونیا کې ورته ژوند نیمګړی او خراب ښکاري.

دوی پوهېږي چې که دنیا ته بېرته راشي ددې دنیا زیار او زحمتونه به ګالي. مینا ! ایا ستا هیله دا نه ده چې د خدای کور ته ورشې او خپل پاتې عمر هلته تېر کړې؟

مینا ځواب ورنه کړ او ما وویل ایا زه د خدای کور ته د ننوتو اجازه لرم او ممکنه ده چې د هغه د کور د ننوتو لاره وګورم؟

ستر کاهن وویل هغه شپه چې سپوږمۍ په اسمان کې د څوارلسمې شپې نژدې ده او په دې شپه به مینا دخدای کور ته ځي او ممکنه ده ته هم د خدای دکور د ننوتو لاره وګورې.

ومې ویل که مینا ونه غواړي او چمتو نه شي چې دخدای کور ته ورشي بیا به څه کېږي ؟

ستر کاهن وویل تر او سه پورې داسې نه دي شوي چې یو ځوان هلک اویا پېغله دخدای کورته ننوتو ته نه وي چمتو شوي او میناهم تر هغه وروسته چې دغوایانو په مخکې ونځېږي په ډېر شوق به دخدای کورته ورشي.

له دې خبرې وروسته ستر کاهن د غوایی سر پر خپل سر کېښود او دا په دې مانا و، چې موږ. یوه کړي د کتنې وخت پای ته ورسېد او مینا زما لاس ونیو او له کوټې بهر شو.

له دې وروسته چې د ستر کاهن له کوټې ووتو مینا له ما بېله شوه او ویې ویل سبا د نڅېدا ورځ ده او زه باید نن شپه د غوایي لوبې په موسسه کې پاتې شم.

له دې سره زه یو وازې مېلمستون ته ستون شوم.

کله چې مېلمستون ته راغلم ګورم چې زما مریي کاپتا شراب څښلي او مست دی او ویې ویل سینوهه.... زما باداره ! ... دغه ځای د مغرب تاتوبی او د نیکمرغۍ مرکز دی (پخوانیو مصریانو هغه څه چې ورپسې ملتونو جنت وایه د مغرب تاتوبی باله ژباړونکی)

دلته شراب ډېر ارزانه او پرېمانه دي او هېڅ بادار خپل مریي په کوتک نه وهي چې ولې دې دومره سپین یا سره پټ کړي دي او که کوم خان خپل نوکر ته غوسه شي او له کوره یې وباسي، نوکر یوه ورځ خان پټوي او یوه شپه وروسته بېرته راستنېږي او بادار یې ګناه ببښي.

خو ددې ځای سوداګر ډېر چالاک دي او همغه ډول چې د ازمیر سوداګر یو مصري غولوي. دوی بیا ازمیري سوداګر دوکه کوي. خو په دې ښار کې یو ډول وړوکی کب د زیتون په غوړو کې ږدي چې یوه موده په غوړو کې پاتې شي او دغه کب دومره خوندور

وي چې ځو مره يې وخوري نه پرې مړېږي (دکاپتا هدف د ساردين په نامه يو ډول کب دی، چې د کرت او سېدونکو به په غوړو کې اېښوده او اوس هم دغه دود په اروپا کې شته. ژباړن)

له دې خبرې ور وسته زما مريي د کوټې دروازه بنده کړه او له دې وروسته چې ډاډه شو د دروازې شاته څوک نه شته ويې ويل باداره داسې ښکاري چې په دې ښار کې کومه حيرانوونکې خبره شوې ده؟ ځکه چې ما په بندري سيمه کې اوريدلي چې د کرت خدای مړ شوی او کاهنين چې د خدای مرګ وار خطا کړي هڅه کوي يو بل خدای پيدا کړي.

خو هرڅوک چې دغه خبره وکړي سخته سزا ورکول کېږي او دوو تنو ماښو ګانو چې دغه خبره کړې وه د کرت په ساحل کې له لويو ډبرو څخه سمندر او اختاپوس ته اچول شوي دي. (اختاپوس يو ډول سمندري حيوان دی چې اووه لاسونه لري. ژباړن).

ځکه چې د کرت او سېدونکي وايي چې د هغو قدرت او نيکمرغي په ستر خدای پورې اړونده ده او که د کرت خدای مړشي د کرت خلک به خپل قدرت او نيکمرغي له لاسه ورکړي.

کله چې کاپتا دغه خبره وکړه په زړه کې مې يوه هيله پيدا شوه او هغه ته مې وويل که داسې وي او د کرت خدای لکه چې خلک وايي مړ شوی وي نو داسې ښکاري دغه خبر سم دی (ځکه چې له دې سره سره چې حکومتونه تل هڅه کوي له ملته خبرونه پټ کړي، خو خلک له ټولو خبرونو خبرېږي) که داسې وي نو کله چې مينا د خدای کور ته ننوځي له هغه ځايه به راوځي.

درویشتم څپرکی

د کرت د غوایانو د لوبو په ډګر کې

پر بله ورځ د مینا په مرسته چې د غوایانو د لوبو په ډګرکې یې نفوذ درلود، زه په داسې ځای کې کېنول شوم چې هرځای ډېر ښه ولیدلای شم.

غوایان یو په بل پسې ډګر ته ننوتل هلته تر لسو کتارونو ډېر کسان ناست ول؛ خو ټولو میدان ډېر ښه لیدای شو؛ ځکه چې دنندارچیانو ځای داسې جوړ شوی و، چې یو کتار له بله پورته و. په دې توګه یې یو دبل مخه نه نیوله.

د ځوانو هلکانو او نجونو نڅا څو ډوله وه خو تر ټولو سخته نڅا هغه وه چې باید نڅېدونکی د غوایي د دواړو ښکرو له منځه ټوپ کړي او د هغه پر ملا ودرېږي لکه چې مخکې مې ویلي ول، مینا یو ځل دغه ډول نڅا کړې وه.

ومې کتل چې د کرت شتمنو پر غوایانو شرطونه تړل داسې بربښېدل چې پوهېږي یو غویی تر بل هغه ښه دی، خو زما له نظره ټول غوایان یو شان ول، زه یې په تو پیر نه پوهېدم.

مینا هم د نورو په شان د غوایي په مخ کې ونڅېدله. زه وډار شوم ځکه د غوایي د ښکر یو ګوزار د مینا د وژنې لپاره بس و.

خو له دې وروسته چې د هغې چالاکي مې ولیده پوه شوم چې غړي او عضلې یې په کنټرول کې دي. نو مې ډار کم شو او د نورو په شان مې ورته خوشحالي وکړه.

په کرت کې نجونې او هلکان لوڅ د غوایانو په مخکې ګډېږي ځکه دغه نڅا دومره خطرناکه ده چې که جامې ونه باسي وبه وژل شي.

جامې که څه هم نرۍ، وي خو ددې مخه نیسي چې وکړای شي خپل غړي او د بدن عضلې په خپل کنټرول کې راولي.

له دې سره سره چې یو شمېر ښځو ښه اندامونه درلودل خو زما په باور د مینا اندام تر

ټولو ښکلی و.

د مینا استاد باوري و، چې دا به هغسې ونه نځېږي، چې باید وای؛ ځکه مینا ډېره موده له کرته لرې او تمرین یې هم نه و کړی.

له نڅاوروسته مینا په داسې حال کې چې بدن یې په مخصوصو تیلو غوړ کړی ؤ راغله او ویې ویل سینوهه! بل سبا سپوږمۍ په اسمان کې ګرده کېږي او زه باید د خدای کور ته ولاړه شم.

له همدې لامله ملګرو مېلمنه کړې یم چې په یوه جشن کې ګډون وکړم، نو له تا سره نه شم تللی خو په هغه شپه چې د خدای کورته ځم ته هم زما د نورو ملګرو په شان د خدای د کور تر دروازې پورې راسره تلای شې.

ما وویل هر ډول چې ته وایې زه به همغسې وکړم او په دې شپه به له تا سره وم او له ننه تربلې ورځې پورې به خپل وخت د کرت په ننداري تېر کړم.

یو په زړه پورې شی چې ما خوشحالوي دادی چې ځو تنو پېغلو چې ستا ملګرې دي خو لا خدای ته نه دي وقف شوې ماته بلنه راکړې چې د هغو کور ته ورشم او له هغو سره تفریح وکړم.

که څه هم هغوی ستا په شان ښکلې نه دي خو چاغې دي او د هغوی چاغوالی به د دوی عیب پټ کړي.

مینا زما مټ ونیو او ویې ویل سینوهه! زه نه غواړم چې کله زه له تا سره نه یم نو ته هغو نجونو ته ورشې چې زما ملګرې دي.

لږ تر لږه دومره صبر وکړه چې زه د خدای کورته ننوتم بیا ازاد یې چې هر څه دې زړه غواړي ویې کړه، ځوانو نجونو ته لاړ شه او له هغوی سره ساعت تېر کړه.

ما وویل، مینا ټوکې مې کولې له ښځو سره د تفریح کولو شوق نه لرم. اوس بندري سیمې ته ورځم، هلته طبابت پیلوم؛ ځکه هلته د نورو ملتونو ډېر خلک شته چې ناروغان دي او زما معالجې ته اړتیا لري.

همدغه کار مې وکړ، بندري سیمې ته ولاړم مېلمستون ته ننوتم او طبابت مې پیل کړ، تر هغه چې شپه شوه او سپوږمۍ په اسمان کې راڅرګنده شوه.

دا مهال له ټولې بندري سیمې د موسیقۍ او ساز اوازونه پورته شول؛ ځکه په کرت کې ډېر عمومي ځایونه شته، ان هغه کسان چې په کرت کې بېوزله دي د شتمنو په شان

هره شپه په عیش او تفریح تېروي دوی د اسې ژوند کوي چې ګني نه مري او په داسې نړۍ کې ژوند کوي چې ویر او کړاو پکې نشته. زه پخپلې کوټې کې له دې پرته چې د بوه بله کړم د سپوږمۍ رڼا ته ناست وم او کاپتا زما د کوټې تر څنګ په خپلې کوټې کې اوږد غځېدلی ویده و او یا یې ځان ویده ښکاره کاوه.

یو وخت ګورم چې یوه ځوانه ښځه زما کوټې ته راننوته، ما وکتل چې د مېلمستون له کارکوونکو څخه ده. ما ته یې ویل سینوهه!... غواړې له ما سره ساعت تېری وکړې.

ما وویل، نه... ساعت تېري ته مې زړه نه کېږي.

هغې وویل، که فکر کوې زه ستا وړتیا نه لرم د مېلمستون یوه بله نوکره به راولېږم چې راشي له تا سره تفریح وکړي.

ومې ویل، نه... نه... زه د تفریح کولو او ساعت تېري شوق نه لرم، غواړم یوازې واوسم.

ځواني ښځې وویل، عجیبه ده له دې سره سره چې بهرنیان د ساعت تېرۍ لپاره وسیله لري خو قصداً غواړي چې له غمونو سره مخامخ وي او یوازې او سېږي په داسې حال کې چې د کرت خدای ښځه د سړي لپاره پیدا کړې او نارینه یې د ښځې لپاره پنځولی دی.

بیا ما ته رانژدې شوه او ویې ویل، سینوهه! له ما سره تفریح وکړه: ځکه زه غواړم پوهه شم یو مصري ډاکتر څنګه ساعت تېری کوي.

ومې ویل، ما پخپل حال پرېږده؛ ځکه د ساعت تېري او مستۍ حوصله نه لرم.

نجلۍ وویل، که ته د نورو بهرنیانو په شان تاندوالی نه لرې، علت یې دادی چې ځان دې دلته بندي کړی دی.

ومې ویل، زما له کوټې ووځه او چې مې درته غږ نه وي کړی دلته مه راځه.

نجلۍ وویل، حیرانه په دې یم په هغه هېواد کې چې سړي یې لکه دغه مصري ډاکتر داسې وي نو خلک ژوند ته څه هیله کوي؟!!

ما سترګې په سپوږمۍ کې ښخې کړې وې او خواشینی وم، ځکه پوهېدم یوازینۍ ښځه چې ما غوښتل هغه خپله خور کړم له ما جلا کېږي چې د خپل خدای کور ته ولاړه شي او خپل پېغلتوب هغه ته ډالۍ کړي.

په همدې سوچونو کې وم چې ناڅاپه مې پام شو په کوټه کې څوک شته او د هغو عطرو بوی ترې لګېږي چې نن مې د غوایانو د لوبو په ډګر کې بوی کړی و، سر مې اوچت کړ ګورم چې مینا ده.

ومې ویل، مینا ځنګه دلته راغلې؟
مینا وویل، ورو خبرې کوه زه نه غواړم څوک زموږ غږ واوري بیا زما تر څنګ کېناسته او ویې ویل، له دې کبله دلته راغلم چې د غوایانو په ډګر کې مې له خپله تخته کړکه کېږي.
زه د دې خبرې په اورېدو حیران شوم، ځکه دا راته له امکانه لېرې ښکارېده چې د مینا په شان یوه نجلۍ د غوایانو له لوبې څخه له ټول تعصب سره سره د غوایانو د لوبې په موسسه کې له خپل کټه کړکه وکړي.
بیا مینا وویل، زه هم ښه نه پوهېږم چې ولې په دې وخت کې دلته راغلې یم، ښایي له کټه کړکې دلته راکاږلې یم.
ښایي راغلې یم چې له تا سره خبرې وکړم، خو که ته غواړې ویده شې زه له دې ځایه ځم مګر که خوب نه درځي زه دلته پاتې کېږم او ستا خبرې اورم، ستا درمل بویوم او کله چې کاپتا ټوکې کوي د سر و ښتان به یې راکاږم.
زه فکر کوم په نورو هېوادونو کې له تا سره سفر زما فکر بدل کړی دی او نور د پخوا په شان د غوایانو له بویه او د غوایانو د لوبې له نندارې او د نندارچیانو له نارو سورو خوند نه اخلم.
ان د پخوا پر خلاف نه غواړم د خدای کور ته ننوځم. هغه خبرې چې نور یې په دې اړه راته کوي د ماشومانو د بې مانا خبرو په شان راته ښکاري. اوس مې د ملګرو لوبې نشي بوختولای. داسې برېښي چې زما عقل یې را څخه اخیستی وي او بل عقل یې لکه د هغو ملتونو عقل، چې ما کتلي دي زما په سر کې اېښی وي.
نو اوس درته وایم چې زما لاس ونیسه او له دې سره سره چې نن دې ویل چاغې ښځې دې خوښېږي او زه چاغه نه یم خو غواړم ته مې لاس ونیسې.
ماوویل، مینا! زه په ځوانۍ کې یو ساده سړی وم او هیڅ یوه ښځه مې خپله خور نه کړه تر دې چې یوه ورځ یوه حریصه او بې رحمه راباندې پېښه شوه او هرڅه چې مې درلودل راڅخه یې واخیستل.
له هغه وروسته هېڅ ښځې ته لېواله نه شوم، ځکه چې له ښځو مې کرکه پیدا شوه، مافکر کاوه ټولې ځوانې ښځې د هغې په شان دي. خو تر هغه وروسته چې ته مې ولیدې، ستا په هوښیارۍ پوه شوم ومې لیدل چې ته سرو او سپینو زرو ته هېڅ پام نه کوې نو سر مې خلاص شو چې په دې دنیا کې داسې ښځې هم شته چې نارینه یې خپله خورکولای

شي، له دې پرته چې د سرو او سپینو لپاره د هغه سرې خور شوې وي.

په دې وخت کې د بېوزلو او کمزورو په هکله زما په زړه کې مینه پیدا شوه او بېوزله ناروغان مې له فیسه پرته معالجه کول.

هغه کسان چې غاښونو به یې درد کاوه بې له دې چې اجوره ترې واخلم د هغوی غاښ به مې وراېست. ځکه کله چې مې لیدل ته د دنیا د مال او شتمنۍ په هکله دومره بې پروا یې. له ځان سره مې وویل چې زه هم باید ددنیا او دولت فکر ونه کړم خو اوس چې ته غواړې له ما جلا شې او د خدایانو کور ته ولاړه شې، له خدایانو او انسانانو دواړو کرکه کوم.

ځکه چې پوهېږم ستا له تګه وروسته به زما روح په شاړه ځمکه کې د یوه تور کارغه په شان شي او تل به له غمونو سره مخامخ وي.

له دې امله درته وایم چې مینا په دنیا کې هېوادونه ډېر دي خو یوازې یو لوی سیند شته او هغه د نیل سیند دی. نور سیندونه هم شته او وبه هم لري خو د نیل سیند په شان ژوند ښونکي نه دي.

دغه سیند له هر ډول بند او خنډ پرته هر کال د مصر توره ځمکه خړوبوي او که د ځمکو د خاوندانو حرص او تمه یې پر ېږدي د مصر له کروندو به دومره فصلونه تر لاسه شي چې هېڅکله به زما د هېواد خلک دا وس ونه لري چې دغه خواړه وخوري.

راځه چې د نیل ساحل ته ځان ورسوو او هلته یو کور واخلو. د هیلیو غړونه واورو، چې په لوخو کې سندرې وایي او د آمون د خدای بېړۍ (هدف یې لمر دی. ژباړن) چې په اسمان کې حرکت کوي وګورو.

مینا راځه چې ولاړ شو او پاتې عمر له غمونو لېرې ژوند وکړو. کله چې مصر ته ورسېدو په ګډه به یو منګی مات کړو چې مېړه او ښځه شو او بیا به له یوه بله نه جلا کېږو.

له مرګه وروسته به زما او ستا جنازې مومیایي کړي، د لوېدیز په تاتوبي کې به ځای راکړي او تر ابده پورې به هلته ژوند وکړو.

مینا خپل لاسونو زما پر مخ او سترګو تېر کړل او ویې ویل، سینوهه! زه له تا سره مصر یا بل هېواد ته نه شم تللی ځکه هېڅ یوه بېړۍ به ما له دې ځایه بهر نه کړي او په تېره بیا له ننني نڅا وروسته ټول پوهېږي چې زه باید دخدای کور ته ولاړه شم.

که ته وغواړې چې دخدای کور ته زما د ننوتو مخه ونیسې وبه وژل شې او زه باید حتماً

د خدای کور ته ولاړه شم او په نړۍ کې داسې هېڅ ځواک نشته چې د دغه کار مخه ونیسي.

ما وویل. مینا څوک له سبا خبر نه وي او ښایي ته له هغه ځایه راستنه شې چې تر اوسه پورې څوک ترې نه دي راستانه شوي او یا ښایي کله چې د خدای کور ته ننوځې او خپل پېغلتوب هغه ته ډالۍ کړې د نېکمرغۍ داسې احساس وکړې چې دغه دنیا هېره کړې.

خو تر هغه ځایه چې زه خبر یم هغه شیان چې پر خدایانو پورې یې تړي یوازې افسانه ده او لا تر اوسه پورې په بېلابېلو هېوادونو کې داسې شی نه دی لیدل شوی چې د خدایانو په اړه زما نظر او عقیده مضبوطه کړي.

له همدې امله که ته د خدای له کوره راستنه نه شوې، زه به د غه کور ته ننوځم او تا به له هغه کوره راوباسم ان که د ا زما د ژوند وروستی کار وي او بیا مړ هم شم.

مینا خپل لاس زما پر خولې کېښود او په وېره او ترهه یې شاوخوا وکتل. ویې ویل. دغه فکر دې له سره وباسه! ځکه چې د خدای کور تیاره دی او هېڅوک ان د کرت او سېدونکي د خدای کور ته نه شي ننوتلای، مګر هغه کسان چې غوره شوي وي.

له دوی پرته نور هرڅوک چې هلته ننوځي مړ به شي.

خو زه په ډاډ سره ویلای شم چې له دې کوره به بهر شم. ځکه چې پوهېږم زموږ خدای بې رحمه نه دی او ما هم په زور پخپل کور کې نه ساتي.

زه که وغواړم چې راستنه شم نو مخه مې نه نیسي. دغه خدای ډېر ښکلی دی. تل پام کوي چې د کرت اوسېدونکي په نیکمرغۍ کې ژوند وکړي.

د هغه د نیکۍ له امله په دغه هېواد کې غنم کرل کېږي. په زیتون کې غوړي پیدا کېږي. بېړۍ له یوه بندره بل ته ځي او د سمندرونو توري لړې د بېړۍ د ډوبېدا سبب نه کېږي.

هر څوک چې زموږ په خدای تکیه وکړي تل به خوشحاله او نیکمرغه وي. زه باور لرم چې دغه خدای ما نه بدبخته کوي او که پوه شي چې زه د راستنېدا نیت لرم مخه مې نه نیسي.

زه پوه شوم چې مینا له ما شومتوبه داسې روزل شوې او لویه شوې چې د کرت خدای تر بل هر چا مضبوط او پیاوړی بولي او بل ډول فکر هم نه شي کولای.

که ما ورته سل ځله ویلي وای چې د خدایانو په هکله ډېرې خبرې افسانې دي نه یې

منله.

ددې پر ځای چې له هغې سره د خبرو لته وکړم د هغې لاس مې ونیو او مینا له ما ځان نه لېرې کاوه او ژړل یې.

هغې ویل سینوهه! پوهېږم چې ته پر ما شک کوې چې کله د خدای کورته ولاړه شم له هغه ځایه به رابهر نه شم او تا ته به راستنه نه شم، له همدې امله نه غواړم چې ځان له تا وسپموم که هرڅه غواړې له ما سره یې تر سره کولای شې.

ماوویل مینا! زه داسې سړی نه یم چې د ښځې له خوښې پرته هغه خپله خور کړم، ځکه چې دغه ډول خوند یو اړخیز وي او زما لپاره خوند نه لري

دا کفایت کوي چې ته نن شپه دلته راغلې او که غواړې ماته کوم شی راکړې نو د وېښتانو زري پټه دې راکړه چې خوشحاله شم.

میناکله چې دغه خبره واورېده پر خپل بدن یې لا س تېر کړ او ویې ویل سینوهه! له دې کبله چې زه ډنګره یم نو ته زما غوښتونکی نه یې او نه غواړې راسره ساعت تېر ی وکړې؟

ایاغواړې په ډېره لنډه موده کې ځان داسې چاغ کړم چې زما چاغی ته حیران شې؟

ما وویل نه مینا! هېڅ ښځه زما له نظره تر تا ښکلې نه ده، خو زه نه غواړم چې له تاسره ویده شم. ددې لپاره چې دغه تفریح به یو طرفه خوند ولري.

خو زه تا ته ویلای شم چې داسې کار وکړو چې دواړه ترې خوشحاله شو.

مینا وویل داکوم کار دی؟ما ورته وویل زه او ته به یو منګی په لاس کې واخلو او مات به یې کړو چې له دې امله به مېړه او ښځه شو. که څه هم دلته کاهن نشته چې زما او ستا نوم د معبد په کتاب کې ولیکي خو د مصر د دودونو پر بنسټ کله چې یوه ښځه له یوه سړي سره د واده په نیت یو ځای منګی ماتوي نو مېړه او ښځه کېږي.

مینا وخندل او ویې ویل ښه ده اوس یو منګی راوړه چې مات یې کړو.

زه له کوټې راووتم چې خپل مریی چې فکر مې کاوه ویده دی را پورته کړم او هغه ته ووایم چې یو منګی راوړه خو ومې لیدل چې کاپتا د کوټې د دروازې تر شا ناست دی او ژاړي

کاپتا وویل زما باداره! زه له دې امله ژاړم چې نری زړه لرم او کله چې مې واورېدل دغه ډنګره نجلۍ له تا سره غړېږي او ته ځواب ورکوې ماوژړل

زه په قهر شوم او یوه لغته مې ورکړه ومې ویل کاپتا! تا ټولې هغه خبرې واورېدې چې

په دې کو ته کې وويل شوې؟کاپتا وويل که ما نه واى اوريدلې نورو اوريدلې. ومې ويل څه ډول نورو زموږ خبرې اورېدلې؟

کاپتا وويل نن شپه ځينې کسان دلته راغلي چې مينا يې څارله او جاسوسي يې کوله، ځکه چې مينا په دې مشهوره ده چې بايد د خداى کور ته ننوځي نو اوس تر څارنې لاندې ده چې ونه تښتي.

زه پوه شوم چې که ستاسې د کوټې د دروازې تر شا نه يم نو هغوى به دلته کېني او هغه خبرې به واوري چې په هغوى پورې اړوندې نه دي. نو ځکه زه دلته کېناستم چې نور مزاحمت ونه کړي.

کله چې دلته کېناستم له دې پرته چې ستاسې د خبرو د اورېدو نيت ولرم هغه مې واورېدې . خو څرنګه چې خبرې د ماشوم متوب او رښتينې وې، نو ژړا راغله او ما خو درته وويل چې زړه مې نرى دى ډېره ژر ژړا راځي.

نور په کاپتا په قهر نه شوم او مې ويل له دې کبله چې اوريدلي دي چې موږ څه ويلي نو ولاړ شه يو منګى راوړه. کاپتا وغوښتل وخت ضايع کړي ويې ويل څه ډول منګى غواړې ستر وي که کوشنى؟ رنګين وي که ساده؟ ومې ويل ته پوهېږې چې هر ډول منګى ددې کار لپاره ښه وي. په دې شرط چې ژر ولاړ شې او منګى راوړې ګنې په لکړې به دې تللو ته مجبور کړم.

کاپتا وويل ما کولاى شول چې سمدستي منګى راوړم خو له دې لامله مې ځنډ وکړ چې ته د فکر کولو لپاره فرصت پيدا کړې.

ځکه له يوې ښځې سره د منګي ماتول ډېر مهم کار دى او بايد له غور او فکر وروسته وشي.

خو ته چې ډېر ټينګار کوې چې له دې ښځې سره به منګى ماتوې، زه به ولاړ شم او منګى به راوړم ځکه چې ستا له امره سر غړونه نه شم کولاى.

کاپتا ولاړ ، يو منګې يې راوړ چې د کبانو بوى ترې لتېده او داسې ښکارېده چې کبان پکې اچول شوي وي.

منګى يې زما په مخکې کېښود او ما او مينا منګى له دواړو لاسيو ونيو ،پورته مو کړ، په ګډه مو پر ځمکه وواهه او منګى مات شو .

له دې وروسته چې منګى مات شو کاپتا پر ځمکه کېناست او د مينا پښه يې پر خپل

سر کېښنوده او ویې ویل، له دې ورو سته ته زما خاونده یې، زما د بادار په شان پر ما امر کولای شې او ښایي تر سینوهه ډېر امرونه راباندې و کړې.

خو هیڅ له کوم د غوسې پر وخت اېښېدلې اوبه را ونه شیندې او د ټیټو کوریو بوټان پر پښو کړې چې کله ما پرې وهې نو سر مې مات نه شي او یا ونه پړسېږي.

زه به هر وخت هماغه ډول چې له سینوهه سره وفادار یم له تا سره هم وفادار یم.

زه نه پوهېږم له دې سره سره چې ډنګره یې ولې له تا سره مې دلچسپي پیدا شوې او حیران په دې یم چې ولې مې بادار ته خپله خور کړې، ځکه چې که زه د بادار پر ځای وای هېڅکله مې داسې ډنګره ښځه نه کوله.

خو فکر کوم کله چې ما شومان راوړې چاغه به شې او زه درسره ژمنه کوم، همغه ډول چې له خپل بادار څخه لړه غلا کوم له تا به هم لږه غلا وکړم.

کاپتا چې کله خبرې کولې داسې اغېزمن شو چې ویې ژړل، مینا د هغه پر مخ او غاړې لاس تېر کړ او ویې ویل مه ژاړه.

ما کاپتا ته وویل چې د منګي مات کودورې بهر یوسي او ولاړ شي.

په دې شپه هم زه او مینا د نورو شپو په شان د یو بل تر څنګ ویده شو، خو ما ونه غوښتل داسې استفاده ترې وکړم، چې یو ورور یې له خپلې خور څخه کوي، ځکه پوهېدم چې مینا به ترې خوند وانه خلي او

ما هم له یو اړخیز خونده کرکه کوله.

پر بله ورځ مینا د تېرې ورځې غونډې د غوایانو په مخکې ونځېده او له کومې ناسمې پېښې سره مخامخ نه شوه خو یو ځوان هلک چې د نځېدا په حال کې یې د غوایي پر سر ورټوپ کړ چې د ځاروي پر شا کېني، ترې ولوېد او غوایي په خپلو ښکرنو وواژه.

کله چې نندارچیانو دغه پېښه ولیده پاځېدل او نارې یې کړې، زه پوه شوم چې هغوی دخپګان نه بلکې د خوشحالۍ نارې وهي.

غوېي بې له هغه ځوانه لېرې کړ، بیا خلک د مړي پر شا وخوا راټول شول او ښځو د ځوان په وینو خپل لاسونه سره کړل.

ما اوریدل چې پخپلو کې یې سره ویل څومره ښکلې ننداره وه. نارینه وو به ویل چې ډېره موده وشوه د نن په شان ننداره مو نه وه کتلې. بیا نارینه او ښځې خپلو کورنو ته ولاړل.

پر دغې شپې د بندر او ښار څراغونه تر نورو شپو ډېر روښانه ول، ځکه چې ښځې او مېړونه له یو بله لېرې له نورو سره په ساعت تېریو بوخت ول او په کرت کې دغه ډول ساعت تېري او تفریح روا ګڼل کېده. دغه تفریح یوازې د هغې ورځې د غوایانو د لوبې او د ځوان د وژل کېدا له امله نه وه، بلکې له دې کبله وه چې ټول نارینه او ښځې پوهېدل چې نن شپه یوه پېغله د خدای کور ته ورځي.

ما د نورو پر خلاف پر دې شپه ساعت تېری او تفریح نه شو کولای ځکه چې پوهېدم مینا پر دغې شپه په زرینی ګاډۍ کې سپرېږي او د خدای کور ته ورځي.

ملګري به یې پر روان تخت سپاره او یا پلي په هغې پسې روان وي او پر لاره به مستي او خوشحالي کوي.

له دې کبله چې زه پوهېدم چې باید د مینا له شا باید په هغې پسې ولاړ شم نو د هماغې ورځې له سهاره مې یو روان تخت کرایه کړی و.

کاپتا هم له دې امله چې له مینا سره یې علاقه درلوده وویل زه هم له تا سره ځم.

د ښار او د خدای د کورپر لاره له ما پرته ټول خوشحاله ول، زه ځکه خپه وم چې پوهېدم نوره به مینا ونه ګورم.

کله چې د خدای کور ته ورسېدو ټول غلي شول او زه ځیر شوم چې د سپوږمۍ په رڼا کې د خدای کور وګورم چې څه ډول دی.

ما د خدای په کور کې دهغه له دروازو پرته بل څه نه لیدل.

د برنزو دوه سترې او درنې دروازې یوه په بل پسې ولاړې وې.

تر دې وړاندې چې دروازې خلاصې کړي مینا یې د خدای کور ته نژدې یوه معبد ته بوتله او نورو راته وویل چې دغه معبد دخدای د کور د ساتونکو استوګنځای دی.

کله چې مینا کوټې ته ننوته نو جامې یې اغوستې وې، خو شیبه وروسته چې له هغه معبده راووته نو ګورم چې لوڅه ده جامې نه لري، خو د سر وېښتان یې د جالۍ په شان په یو سپین ټوکر کې تاو کړي ول.

مینا له لیرې ماته موسکۍ شوه خو زه پوه شوم چې دغه موسکا یې له جبره او زما د ډاډ ګېرنې لپاره ده. ګني مینا دومره خوشحاله نه و چې موسکۍ دې شي.

بله خبره دا چې له معبده د مینا تر راوتلو وروسته مې ولیدل، ستر کاهن چې د غوایي سر یې اغوستی او چاړه یې ترملا تړلې وه، د مینا په څنګ کې روان دی.

د خلکو په خاموشۍ کې مينا او ستر کاهن د خدای د کور د روازې ته ورسېدل. د معبد ساتونکو هغه دروازه چې بايد شلو کسانو خلاصه او پورې کړې وای خلاصه کړه او بيا يې دويمه دروازه هم خلاصه کړه.

هلته يوه ساتونکي يو روښانه مشال مينا ته ورکړ بيا مينا او ستر کاهن يوه اوږده دالان ته ننوتل او ساتونکو دواړه دروازې بندې کړې.

ددې منظرې کتلو او دخدای په کور کې د مينا ورک کېدلو دومره غمجن کړم چې پر پښو نه شوای درېدلای.

پر هغو وښو مې ګونډه ووهله چې د خدای د کور په مخکې شنه شوي ول، مخ مې پر وښو کېښود او له دې سره سره چې مينا راسره ژمنه کړې وه چې که د خدای له کوره راستنه شوه له ما سره به ژوند کوي خو زه پوهېدم چې هېڅکله به يې ونه ګورم.

تر هغې شېبې چې مينا په هغه کور کې ورکه شوې نه وه هيله مې وه چې وبه يې ګورم، خو کله چې مې وليدل. برونزي دروازې ورپسې تړل شوې دي، نو پوه شوم چې بايد ددې پيغلې د بيا ليدو هيله ونه کړم.

کاپتا زما په څنګ کې پر وښو ناست و او زګرويده، ځکه چې هغه هم احساس کاوه چې نور به مينا ونه ويني.

خو د مينا ملګرې چې له هغې سره راغلې وې، تر هغه وخته غلې وې چې کله د خدای د کور دروازه بنده شوه.

دوی د هغو کسانو په شان چې ناڅاپه لېوني شوي وي مشالونه ولګول، منګي يې خلاص کړل او د شرابو پر څښلو يې پيل وکړ.

کله چې ټول نشه شول نارينه او ښځې، د سپوږمۍ په رڼا کې نڅېدل او په دې نه شرمېدل چې د بدن لوڅ غړي يې چې بل څوک يې بايد ونه ګوري نارينه و او ښځوته ښکارېدل.

کله چې کاپتا وليدل ټول نشه دي، دی هم ولاړ او يوه شېبه وروسته له يوه منګي شرابو سره راستون شو.

زه پوهېدم چې هغه دغه شراب له روان تخته راوړي دي ځکه چې موږ له ښاره روانېدو نو راته وويل شول چې د خدای په کور کې د خوړلو او څښلو لپاره څه شی نشته، موږ بايد له ښاره خپل خوراک او څښاک يوسو.

کاپتا په ښار کې څو منګي شراب او یوه اندازه خواړه اخیستي او په روان تخت کې یې اینبي ول.

کله چې یې منګی راوړ ماته یې وویل سینوهه! اوس زه هم ستا په اندازه خپه یم، ځکه چې ستا په شان احساس لرم چې نوره به دغه نجلی ونه ګورو، خوله دې کبله چې زه او ته دهغې د کتو لپاره کوم کار نه شو کولای نو غوره دا ده چې دواړه شراب وڅښو او خپل غم غلط کړو.

خو ما نه شوای څښلی او د هغو ښځو او نارینه وو په شان لېونتوب نه شم کولای چې خوشحالي او نڅا وکړم.

دکاپتا مخه مې هم ونه نیوله ځکه چې لږ شرابو هغه ته ګټه درلوده او هغه بوډا ورسره قوي کېږي.

مشالونه روښانه ول او سپوږمۍ ځلېده.

نارینه او ښځې بې له دې چې له چا وشرمېږي له مشالونو لېرې ګېډل او لږ لېرې یې له یو بل سره د خوراو ورور په شان چلند کاوه.

ناڅاپه کاپتا وویل سینوهه!.. له دې کبله چې ما لا ډېر شراب نه دي څښلي ستړګې مې تېروتنه نه کوي او ویلای شم چې د شرابو له امله خیالی شیان نه ګورم.

ما وویل کاپتا ته څه وایې؟

زما مریي وویل غواړم دا درته ووایم هغه سړی چې توره یې تر ملاوه او د غوايي سر یې اغوستی ،له سره یې دوه ښکران را وتلي ول ، له مینا سره یو ځای د خدای کور ته ننوت خو له دې پرته چې د خدای د کور دروازه خلاصه شي له هغه ځایه راوتلی دی چې دغه خبره فکر کولو ته اړتیا لري.

ما شاو خوا وکتل او ستر کاهن مې ولید چې د نورو په شان ګډېږي له کاپتا مې وپوښتل ته ډاډه یې چې هغه دخدای د کور له دروازې بهر شو. کاپتا وویل :کله چې تا سرپه ځمکه اینبی و او زګروېدې، ژړل دې، ما یوه شېبه د خدای د کور له دروازې ستړګې نه دي بېرته کړې زه په دې تمه وم چې مینا به له دغو دروازو راووځي، خو ناڅاپه مې ولیدل چې ددغه کس زېړ ښکر د مشالونو په رڼا کې ځلېږي.

دخدای دکور دروازه نه ده خلاصه شوې نو له ځان سره مې وویل حتماً د خدای کور له دې دروازو پرته چې موږ یې ګورو بله لاره هم لري چې دغه سړی ترې رواتی دی.

زه ولاړ شوم او د ستر کاهن پر لوري ولاړم، د هغه لاس مې ونیوه او ور ته مې وویل مینا چېرې ده ؟

ستر کاهن پر دې خبره داسې غوسه شو چې له خپل سر او مخه یې د غوا سر لېرې کړ ویې ویل، په دې وخت چې موږ په تفریح او ساعت تېري بوخت یو، که ته د کرت یو او سپدونکی وای او له ما دې دغه پوښتنه کړې وای او مزاحمت دې کړی وای نو ما به امر کړی و. چې له لویو ډبرو دې د اختاپوټ خولې ته واچوي.

خو له دې کبله چې ته یو بهرنی یې او ددې ځای له رواجونو خبر نه یې ستا له سزا تېرېږم

.

ما ورته وویل مینا چېرته ده خواب راکړه، هغه دې چېرته بوتله ؟

ستر کاهن وویل ما مینا د خدای کورته دننه کړه او هغه مې د هغه کور په تیارې کې پرېښوده او بېر ته راستون شوم.

اوس دلته ګډا او خوشحالي کوم، خو ستا یې په مینا څه ؟او ولې د هغې پوښتنه کوې، ځکه چې ما دلته د مینا د راوستلو له امله ستا زیار جبران کړی و او تا ته مې مېلمستون ته ډالی درلېږلې وې.

ومې ویل اې ستره کاهنه ! ته ولې دخدای له کوره راووتې خو مینا له هغه ځایه راونه وته، مینا هم له هغې لارې چې ته ترې را وتلی یې بهر ته راتلای شوه؟

ستر کاهن وویل اې مصریه ! ته ډېرې خبرې کوې او په هغو کارونو کې ګوتې وهې چې په تا پورې اړه نه لري

د وروستي ځل لپاره درته وایم چې له دې پوښتنو ګروېږنو تېر شه ګني اختاپوت ته به دې واچوم.

زه سخت غوسه شوم او ومې ویل دغه کار په ما پورې اړه لري او زه باید پوه شم چې مینا چېرته ده. ځنګه له تالېرې شوه او هغه دې چېرته خوشې کړه چې ته ترې راستون شوې

..

خو په دې وخت کې کاپتا زما لاس ونیو او له ستر کاهنه یې لېرې کړم، ویې ویل اې زما غمجمنه باداره ! ته لیونی شوی یې چې له دغه ښکرور سړي سره د ټولو سړیو او ښځو پر وړاندې جنګ کوې او د ټولو پام ځانته را اړوې.

بیا یې زما په غوږ کې وویل ته هم د دوی په شان ونڅېږه او خوشحالي وکړه.

ددې لپاره چې ستر کاهن غلط شي د نورو په شان د خلکو دې تولي ته ننوځه او داسې کار وکړه چې نور ګمان وکړي ته په رښتيا خوشحاله يې.

ماورته وویل زه دغه کار نه کوم اوپه دروغو ځان خوشحاله نه ښیيم.

زه نه غواړم د چا نظر هم راجلب کړم ،بلکې که دغه سړی راته ونه وایي چې مینا چیرته ده او څه ډول هغې ته رسېدای شم زه به یې د هغې او سپنیزې چړې پر یوه ګوزار مړکړم چې په هاتي کې مې ترلاسه کړې ده. دغه چاړه دومره تېره ده چې کله د چا خېټې ته ننوځي تر قبضې پورې ننوځي.

کاپتا راته وویل غلی شه.... غلی شه.... راځه چې ولاړ شو او لږ شراب وڅکو.

ځکه چې ستا سترګې په دې شپه کې لکه د کونګ غوندې ځلېږي او باید شراب وڅښې چې غوسه دې سړه شي.

که ته موافقه وکړې چې لږ وڅښې زه به درته ووایم چې له کومې لارې مینا ته رسېدای شې.

ځکه چې ددغه ښکرور سړي د وتلو لاره مې پیدا کړې ده.

کاپتا زه د نڅېدونکو ښځو او سړیو له تولي لېرې کړم او پر ځمکه یې پر وښو کېنولم.

لږ شراب یې راباندې وڅښل او ما احساس وکړ چې نور وېښ نه شم پاتې کېدای باید ویده شم. ځکه چې دغه خوب عادي نه و، او پوه شوم چې زما مریي زما په شرابو کې ترياک اچولي ول او د بابل د پېښې غچ یې راڅخه اخیستی دی.

خو که په دې شپه کاپتا زما په شرابو کې اپیم نه وای اچولي او پر ما یې نه وای خوړلي ما به ستر کاهن وژلی و ، د کرت اوسېدونکو به اختاپوت ته اچولی وم اویا به یې په بل ډول وژلی وم خو په دې شپه کاپتا زما ژوند وژغوره .

کله چې را وېښ شوم ګورم چې ورځ شوې ده ،لمر راختلی دی او زه پر وښو پروت یم.

سر مې راپورته کړ شاوخوا مې وکتل،و مې لیدل چې نارینه او ښځې لوڅ لغړ پر وښو ویده شوي ځکه چې تېره شپه تر سهاره د شرابو په څښلو او ګډېدا اخته ول او ستومانه له پښو غورځولي ول.

له دې وروسته چې لمر راوخوت تودوخې یې نارینه او ښځې له خوبه پاڅول.

ښځو خپلې زلفې منظمې کړ او ټولې د سمندر پر لوري ولاړې چې ځانونه ووینځي.

خو له دې کبله چې دوی پخپلو کورونو کې په ګرمو اوبو د ځان وینځلو عادت درلود نو

چې د سمندر اوبو ته به یې پښې نژدې کړې بېرته بېرته به ستنېدې او په سرو اوبو یې ځانونه نه شو ای وینځلای.

له دې وروسته چې ښځو د یو بل په مرسته ځانونه سینګار کړل او منظمې شوې پوښتنه یې وکړه چې څوک د مینا په تمه پاتې کېږي او څوک ښار ته ستنېږي؟

ځینو ښځو وویل ښار ته ستنېږو او روانې شوې خو یوې ډلې چې د میناهمزولې او ځوانې وې وویل موږ به په تمه پاتې شو چې هغه را ستنه شي.

هره پېغله چې به په تمه پاتې شوه ویل به یې کوم سړی چمتو دی چې ایسار شي؟ او یو سړی به پخپله خوښه ورسره پاتې شو. چې هغه ښځه تنها نه وي.

زه په سر کې پوه نه شوم چې ولې هره ښځه د پاتې کېدا لپاره یوه نارینه ته بلنه ورکوي. خو وروسته متوجه شوم چې کله ښځې په نارینه وو کې یو د پاتې کېدا لپاره ونه بولي تول نارینه به ښار ته ستانه شي او ښځې به یوازې پاتې شي.

په هغو هېوادونو کې چې تر هغه وخته ما لیدلي ول یوازې کرت داسې و، چې ښځو به ددې لپاره چې نارینه د ځان پر لوري جذب کړي له دغې لارې کار اخیست.

د غوایانو د لوبو په ډګر کې هم متوجه شوم چې نارینه او ښځې له دې سره سره چې لوڅ د غوایانو په مخکې ګډېږي خو خلکو به ورته دومره توجه نه کوله او د هغوی هیجان به ډېر د لوبې له امله و.

له دې سره سره چې ښکلې پېغلې او ځوانان به د کتلو وړ ول، خو د نورو هېوادونو په شان نه ول. علت یې هم دا و، چې په کرت کې نارینه او ښځې له یو بل سره په خملاستو کې ازاد دي.

ستر کاهن په هغو کسانو کې شامل و چې باید ښار ته تللی وای، ما ترې پوښتنه وکړه چې ایا زه دا اجازه لرم چې دلته پاتې شم. تر هغه چې مینا د خدای له کوره راستنه شي.

ستر کاهن وویل هېڅوک دلته ستا د پاتې کېدا مخه نه نیسي خو ته بې ځایه ایسارېږې. ځکه تر اوسه داسې نه دي شوي، چې څوک د خدای کورته ولاړ شي او له هغه ځایه بېرته راستانه شوي وي.

ما ځان کمه عقله وښود او مې ویل اې ستره کاهنه! زه د مینا له ستنېدا سره دلچسپي نه لرم او نه غواړم چې هغه وګورم. بلکې دا یوه پلمه ده، ځکه زه ددې لپاره دلته پاتې کېږم چې له دغو بېساري ښایسته ښځو سره مستي وکړم. ځکه چې دا د کرت ځمکه او اسمان

دی چې دغه ډول ښځې را منځته کولی شي.
بله خبره دا چې که مې ښېګا تا ته سپکاوی کړی وي ښښنه غواړم، ځکه چې ښېګا نشه وم او نه پوهېدم چې څه وایم او څه کوم. یا له چا سره خبرې کوم، خو اوس چې په هوش کې یم پوهېږم چې ښېګانی کار مې ډېر ناسم او ناخوښ و.
دغو خبرو پر لوی کاهن اغېز وکړ او خپل لاس یې زما پر سر کېښود، موسکی شو او ویې ویل ډېر ښه.
اوس چې ته غواړې له ښځو سره ساعت تېر کړې همدلته پاتې شه او زه به دې مخه ونه نیسم خو پام کوه چې زموږ ښځې بارداره نه شي، ځکه چې ته یو بهرنی یې او ښه نه ده چې زموږ ښځې بلاربې کړې. اوس نو دومره انتظار وباسه چې مینا راستنه شي.
ومې ویل اې ستره کاهنه! زه د ښځو په اړه بې تجربې نه یم، ددې لپاره چې په بابل او سوریې کې مې لیدلي چې باکرې نجونې ددې لپاره چې جیز برابر کړي څه ډول معبد ته ځي؟
ما د ساده ګانو غوندې خبرې کولې چې لوي ګاهن فکر وکړي، زه ډېر کم عقله او احمق یم زما هدف هم همدا و او غوښتل مې چې هغه ما ساده سړی وبولي چې ما له هغه ځایه لېرې نه کړي.
له دې سره سره چې ستر کاهن ښار ته ستون شو خو ما داسې احساس وکړ چې د معبد ساتونکو ته یې ویلي چې ما تر نظر لاندې وساتي.
زه داسې فکر کوم چې ښځو ته یې هم اشاره وکړه چې له ما سره تفریح او ساعت تېری وکړي، ځکه چې کله کاهن ولاړ ځینې ښځې پر ما را چاپېره شولې او ماته یې وویل چې له دې ځایه لیرې شو د بوټو منځ او ځنګل ته لاړ شو او هلته وخورو او وڅښو.
ما د هغوی بلنه ومنله او د ځنګل منځ ته ولاړو، هلته پوه شوم چې د کرت ښځې څومره سپین سترګې او بې شرمه دي. ځکه له ما یې هېڅ حیا نه کېده، داسې کارونه یې کول چې په طبس کې د عمومي ځایونو ښځو هم دغه کارونه په ډاګه نه کول.
په داسې حال کې چې زه پوهېدم دغه ښځې چې زه یې دغه ځنګل ته راوستی یم د کرت خانداني او وتلې ښځې دي.
کله چې ښځو ډېر په تکلیف کړم او ما نیت نه درلود چې له هغوی سره تفریح وکړم ځان مې نشه واچاوه او ځان مې په خوب وینو.

ښځو په کرکې سره زه خوشې کړم او ويې ويل. دغه بهرني وحشي ځناور دي او ګڼي زموږ په اړه يې دومره بې پروايي نه کوله.

کاپتا راغی او زه يې له ځنګله را وايستم او ويې ويل چې د شرابو زغم نه لرې ولې د هر څښښې چې له پښو دې وغورځوي.

کله چې ښځو زما مريی او د هغه غټه خېټه وليده ټوکې او خندا ګانې يې پيل کړې او هغه ته نژدې شوې.

له دې سره سره چې زما مريی د هر بدرنګه او په يوه سترګه ړوند و خو له دې کبله چې بهرني و ، نو د ښځو د کنجکاوی حس يې تحريک کړ ،ځکه په ټولو هېوادونو کې کله چې يو بهرني ګوري نو خلک لټه کوي چې هغه وپېژني.

ښځو زما مريی ځنګل ته بوت.

زه چې پوهېدم ممکنه ده، دلته د ډېرې مودې لپاره ايسار شم نو د خپل روان تخت مزدوران مې ښار ته ولېږل چې ډوډۍ او شراب راوړي، په تېره بيا شراب دې د هر راوړي چې هم يې په خپله وڅښي او هم موږ ترې استفاده وکړو.

په دغې ورځ هلته د موجودو کسانو وخت په خوراک ،څښاک او ساعت تېرۍ تېر شو او زه متوجه شوم چې له ښځو سره له خملاستو هم ستړي شوي دي، ځکه کله چې تفريح د قوانينو په چوکاټ کې نه وي له کار او ژوند ه زيات سړی ستومانه او ستړی کوي.

بله شپه نارينه او ښځو په نڅا او سندرو ويلو تېره کړه او ما تر سهاره د هغوی د خندا ګانو او نارو غږونه اورېدل.

کله چې ورځ شوه ټول له ډېرې ستومانۍ څخه ويده شول او کله چې را ويښ شول ځينې يې ښار ته ستانه شول. يوازې هغه کسان پاتې شول چې لا پر تفريح نه و ماړه شوي.

خو دغه کسان هم په درېيمه ورځ ښار ته ستانه شول او ځينې پکې له ډېرو شرابو او څښاتو او بېخوبۍ له امله پر لارې نه شو تللای ما خپل روان تخت هغوی ته پرېښود چې ښار ته يې بوځي او د خپل روان تخت لېږدونکي مې هم رخصت کړل ،ورته ومې ويل، روان تخت ته اړتيا نه لرم.

له دويمې ورځې وروسته چې زما د روان تخت لېږدونکو شراب او خواړه د هر راوړي ول ما په شوا روز کې دوه ځله د معبد ساتونکو ته ډوډۍ ورکوله چې ملګري يې کړم.

پر درېيمه ورځ چې ټول ولاړل ساتونکي هلته زما پر ايسارېدو حيران شول.

دوی له دې کبله حیران ول چې ټول پوهېږي یوه نجلۍ هم تراوسه پورې د خدای له کوره نه ده راستنه شوې.

هغوی پوهېدل چې د کرت ټول او سېدونکي له دې خبرې خبر دي، نو د هغې نجلۍ په تمه نه پاتې کېږي چې د خدای کور ته ننوتې وي. دوی ټول بېرته ښار ته ستنېږي خو له دې کبله چې زه یو بهرنی وم تصور یې کاوه چې د هغوی له دودونو او رواجونو بې خبره یم. له همدې امله د نورو تر تګه وروسته زه هلته پاتې شوم.

څلرويشتم څپرکی

له خپل مريي سره مرموز کور ته ننوتم

کله چې شپه شوه د شرابو دوه ستر منګي چې اپیم مې پکې حل کړي و، له ځان سره معبد ته یوړل او کله چې ساتونکو د شرابو منګي ولیدل خوشحاله او پرې راټول شول.

دوی د شرابو څنبل پیل کړل، زه له معبده لیرې شوم او کاپتا مې څنګ ته کړ او ورته مې وویل خدایانو غوښتي دي چې زه او ته له یوه بله بېل شو ځکه چې مینا د خدای له کوره راستنه شوې نه ده، باید زه ولاړ شم، هغه پیدا کړم او د خدای له کوره یې راستنه کړم.

له دې کبله چې د خدای له کوره تر اوسه پورې څوک نه دي راستانه شوي، نو زه هم چې د خدای له کوره د مینا د را وستو لپاره ځم که بېرته را ستون نه شوم ته ښار ته ولاړ شه او زما د نه ستون لپاره چې کومه پلمه کولای شې پیدا یې کړه.

زه پوهېږم ته د پلمو په لټولو او د دروغو په ویلو کې ډېر استاد یې او خلک قانع کولای شې، مثلاً ووایه چې زه له غره د اختاپوت خولې ته ولوېدم او ویې خوړم او یا ووایه چې په سمندر کې ډوب شوم او اوبو زما جنازه یوړه.

د غسې نورې پلمې هم شته چې ته یې کولای شې او ما ستا لپاره د متې خاورې یوه لوحه لیکلې ده او په خپل مهر سره مې مهر کړې ده. کله چې ازمیر ته ورسېدې له سوداګرو زما سره او سپین اخیستلای شې او یا هغه په خپل نوم وکاروه.

ته دا واک هم لرې چې په ازمیر کې زما کور خرڅ کړې او له تر لاسه شویو سرو او سپینو سره مصر ته ستون شه.

که پوهېږې چې مصر ته د ستنېدا له امله دې په دې تور نیسي چې تښتېدلی مریی یې نو په ازمیر کې پاتې شه او زما د سرو او سپینو په ګټه چې له ماڅخه تاته رسېږي ارام ژوند وکړه.

ته زما د جنازې د مومیایي کولو غم هم مه کوه، ځکه که مینا مې پیدا نه کړای شوه په لودیزې نړۍ کې ژوند راته اهمیت نه لري چې جنازه مې مومیایي او پاتې شي.

کاپتا له دې سره سره چې تا ډېرې خبرې کولې او یو سپین سترګی سړی یې خو پر ما ګران یې او که کله مې په لکړه سزا درکړې او وهلی مې یې د خیر لپاره و، ګټه یې تا ته رسېدلې، ما غوښتل ته بادار شې، خو بیا له دې امله خواشینی یم چې په لکړه مې پر ملا او اوږو وهلی یې.

کاپتا لړ غلی شو او ویې ویل: زما باداره! له دې سره سره چې ستا د لکړو ګوزارونه کله کله ډېر درانه او سخت ول خو له تا سره کینه نه لرم، ځکه همغه ډول چې تا وویل د خیر او زما د ښېګڼې لپاره ما وهې. ما به کتل چې زه دې وهلم خو دیوه ملګري په شان دې راسره چلند کاوه او پخپلو کارونو کې زما له نظریو استفاده کوې.

په دې ډول چې ډېر خله به مې دا احساس نه کاوه چې ستا مریی یم، بلکې ته مې خپل ملګری بللې.

زه به هغه وخت پوهېدم چې ستا مریی یم چې ستا د لکړې ګوزار به مې وخوړ.

زه ستا مریی یم او خدایانو د مریي او بادار ترمنځ توپیر پیدا کړی. اوس ګورم چې د خدای له کوره د مینا د راوستو نیت لرې او غواړې د خدای کور ته ولاړ شې، خو دغه مینا چې ته یې په لټون پسې ځې، زما آغلې هم ده او خپله پښه یې زما په سر ایښې وه.

زه هم باید ستا په شان د هغې لټون وکړم او که مینا زما باداره نه وای او ما حتی د هغې د پیدا کولو دنده هم نه درلودای بیا مې هم دا اجازه نه درکوله چې ته یوازې دې کور ته ننوځې، ځکه د خدای کور ډېر تیاره دی.

په هغه تیاره ځای کې ته یوه نږدې ملګري او زړه سواند مریي ته اړتیا لرې.

ما وویل کاپتا لومړی خل دی چې زه ګورم له ژړا او زاریو پرته خبرې کوې او ستا خبرې هم را ته د هوښیارانو غوندې ښکاري.

باید زه یوازې د خدای کور ته ولاړ نه شم، ځکه هلته به په تیارو کې لاره ورکه کړم.

خو له دې کبله چې ډېر باور لرم د خدای له کوره به ژوندی ستون نه شم غوره داده چې یو کس وو ژل شي نه دوه.

کاپتا وویل سینوهه! که تا ما وشړې بیا هم زه له تا سره ځم او اجازه نه درکوم چې یوازې د خدای کور ته ولاړ شې.

هرڅه چې وي زه بوډا یم او تر تا مې تجربه ډېره ده نو په داسې شیانو پوهېږم چې که څه هم تا په دارالحیات کې تحصیل کړی خو بیا هم په هغو شیانو نه پوهېږې.

خو په دې هم پوه شه چې زه له تياري ډار پېږم او پر مشال سرپېره اجازه راکړه چې يو منګی شراب هم له ځان سره د خدای کور ته يوسم چې کله وډار شم لږ به وڅښم.

ومې ويل ډېر ښه.

کاپتا ! هرڅه چې غواړې ويې کړه او له دې کبله چې ساتونکو ته په ورکړل شويو شرابو کې مې اپيم اچولي دي، اوس يې اغيز جوت دی ، هغوی ويده شوي نو غوره ده چې ځنډونه کړو او د خدای کور ته ننوځو.

کله چې معبد ته ننوتو ومې ليدل چې ټول ساتونکي ويده شوي ، موږ لږ سکروټې او څو مشالونه واخيستل او د خدای د کور د کوچنۍ دروازې کيلي (کونجي) مو هم واخيسته ،ځکه چې کاپتا پوهېده د خدای کور کوچنۍ دروازه هم لري

ده ليدلي ول چې دې کورته د مينا د ننوتو پر شپه ستر کاهن له دې دروازې وتلی و کونجي مو واخيسته،روان شو او بيا مې کوچنۍ دروازه پرانستله ،دخدای کورته ننوتو ما دورازه بنده کړه خو کيلي(کونجي)راسره وه.

کله چې دروازه بنده شوه کاپتا له ډاره رېږدېده او ويې ويل باداره ژر مشال روښانه کړه، ځکه چې دلته دومره تياره ده چې انسان پکې له ډاره رېږدي.

ما له ځان سره سکروټه وړې وه، هغې ته مې ورپو کړل او مشال مې روښانه کړ.

کله چې مې مشال روښانه کړ نو ومو ليدل چې په يوه لوی دالان کې يو چې لس لارې ترې بېلې شوې دي او بېلابېلو خواووته تللې دي

ماچې دغه دالانونه وليدل نو حيران نه شوم ځکه اورېدلي مې ول، چې د کرت ټاپو خدای په داسې کور کې ژوند کوي چې ډېرې لارې لري او د(لبيرنټ)په شان دي*(لبيرنټ په مجازي معنې کې هغه تل خونه وي چې سړی څومره پکې وړاندې ځي نو له نويو څلور لارو سره مخامېږي چې بالاخره سړی پکې ورکېږي د انسان د غوږ په داخلي برخه کې هم يو ځای دی چې لبيرنټ يې بولي ځکه چې تاو راتاو دی ژباړن)*

ما کاپتاته وويل بايد دلته ايسار نه شو او حرکت وکړو، زه خو وايم چې پر دغې لارې ولاړ شو.

کاپتا دالان ته ځير شو او ويې ويل په دې دالان کې تګ سخت نه دی خو بايد داسې کار وکړو چې وکړای شو بيرته ستانه شو.

ومې کتل چې د ستري کځوړې له منځه يې چې پر اوږه يې وه او د شرابو منګی يې

پکې ایښي و، یوه کلاوه کلک تار را وایست او یو سر یې په هغه لرګي پورې غوټه کړ چې په دېوال کې لګېدلی و. ما وویل کاپتا په دې تار څه کوې؟

کاپتا وویل دغه تار زموږ د راستنېدا لپاره پکار ېږي، ځکه چې که هغه تعقیب کړو بېرته همدې ځای ته راستنېدای شو.

که څه هم د بېرته ستنېدا لپاره د کاپتا وسیله د پرساده وه، خو ما په یوازې سر هغه هم نه شوای ترلاسه کولای او ومې ویل کاپتا! تا د ېر ښه فکر وکړ. وروسته روان شوو، چې څومره وړاندې تلو کاپتا د تار کلاوه خلاصوله. بیا له هر دهلېزه وروسته یو نوي دالان ته رسېدو او کله چې به موکږ کږ بل دالان ته رسېدو یو وخت کاپتا سر اوچت کړ او فضایې بوی کړه ویې ویل سینوهه! دغه بوی احساسوې؟

ما هم فضا بوی کړه او د طبس په ښار کې د مړیو د کور په شان و، چې هلته مړي مومیایي کوي.

کاپتا چې رنګ یې له ډاره تت شوی و، یو غړپ شراب وڅښل او زما په اشارې سره بېرته روان شو.

ناڅاپه مو پښه پر یوه شي ولګېده او تېټ شوم ګورم چې د یوې ښځې سر دی خو سر د وخت په تېرېدا سره بوی کاوه او د ورستېدا په حال کې دی.

کله چې کاپتا دغه سر ولید ویې ژړل، ځکه زه او هغه پوه شوو چې مینا هم له همدې برخلیک سره مخامخ شوې ده او هغه یې وژلې یا به یې ووژني، خو په هر صورت موږ نه شو کولای هغه ژوندۍ ترلاسه کړو.

له دې سره سره چې هیله مې نه کوله چې مینا به ژوندۍ وګورو، خو کاپتا ته مې وویل راځه چې نور هم ولاړ شو.

هغه همغسې د تار کلاوه خلاصوله او موږ مخکې تلو. یو وخت مې وکتل چې کاپتا ودرېد او په حیرانو او ترهېدلو سترګویې ځمکې ته کتل.

ما هم ځمکې ته وکتل او ومې لیدل چې د غوایې خوشایي پر ځمکه پراته دي، خو دومره لوی دي چې سړی ډاروي.

ما وویل کاپتا ګورې دغه فضله څومره د ېر دي، ایا دا خبره منلی شو چې دومره لوی غویی دې موجود وي؟

کاپتا وویل نه باداره! دغسې غویی نشته ځکه که دومره لوی غویی موجود وای چې

دومره فضله وکړي نو په دغو تنګو لاروکې به څنګه تېرېده؟
ومې ویل ستا په باور دغه فضله د څه ډول حیوان دي؟
کاپتا وویل فکر کوم دا به د یو لوی مار غایطه مواد وي، ځکه چې له سترو مارانو پرته بل حیوان دومره غایطه موادا نه لري.
له دې وروسته زما مریي یو غوړپ شراب وڅښل او ویې ویل خدایان دې موږ وساتي، ددې کار پایله به څه وي؟
خو ما اټکل کاوه چې پایله به څه وي، ځکه کله چې یو لوی مار په دغو غارونو او لارو کې وي، مینا به ژوندۍ نه وي او ښکلې پېغله د مار خوراک شوې ده.
کله چې لوی کاهن دغه نجلۍ د کرت د خدای کور ته دننه کړه، دې ته په پام سره چې پوهېدم په هره میاشت کې یوه نجلۍ د کرت د خدای کور ته ننباسي، نو فکر مې وکړ چې د ستر کاهن یا بل هغه چا مقصد چې په دې کور کې ژوند کوي دا دی، چې له هغې نجلۍ سره څملي او بیا هغه له منځه یوسي.
خو دوه ټکي داسې ول چې نه یې پرېښود ل زما دغه فکر ژور او پیاوړی شي.
یو دا چې یوازې یې نجونې د خدای کور ته نه بیولې او ځینې وخت یې هلکان هم ورو ستل او که د کرت خدای یوازې د معشوقې او سکس په فکر کې وای نو هلکان به یې نه ورو ستل.
بل ټکی دا چې په کرت کې د نارینه وو او ښځو اړیکي دومره ازاد دي چې ستر کاهن یا د کرت خدای له ځوانې نجلۍ سره د څملاستو لپاره اړ نه و، چې هغه تیاره کور ته بوځي او بیا یې له منځه یوسي.
له همدې امله مې فکر وکړ چې د خدای کور ته د مینا دننه کول له عشق اوسکس پرته بل دلیل لري او ستر کاهن نه غواړي له دغو نجونو سره څملي.
هر څومره چې وړاندې تلو هغه بوی چې موږ احساس کړی و، نور هم سختېده او نور نو د زغملو نه و.
داسې ښکارېده چې د انسانانو او حیواناتو سلګونو مړي خراب شوي دي او دغه سخت بوی یې رامنځته کړی دی.
یو وخت هغه لاره چې موږ د مشال په رڼا کې ترې تېرېدو روښانه شوه او ما وکتل چې له بهره ورته رڼا راځي.

ځو مره چې وړاندې تلو لاره روښانه کېده تر هغه د غار بلې خولې ته ورسېدو او سترګې مو پر شنه سمندر ولګېدې، په ساحل کې د سمندر د څپو غږ وا ورېدل شو. ګورم چې د اوبو پر سر د ژیو یو کتار یو په بل پسې تر سترګو کېږي.

موږ ولیدل چې دا ژي د یوه ستر مار د بدن راوتلې برخې دي چې مړ شوی، جسد یې بوین شوی او سر یې تر اوبو لاندې نه لیدل کېږي.

هغه وخت زه او کاپتا پوه شوو چې د کرت د خدای د وژل کېدا اوازه سمه ده او هغه ستر مار د ډېره موده کېږي چې مړ شوی دی.

څکه که ډېره موده نه وای وتلې جسد یې بوی نه کاوه، نو همدا د کرت د خلکو خدای و چې هغه یې د خلکو له نظره پټ ساته او هره میاشت یې یوه باکره پېغله او یا ځوان چې لا له کومې ښځې سره نه وي څملا ستلی دغه تیاره دهلیز ته راولي چې دغه څناروي. وخوري او هره میاشت یو انسان د دغه مار د خوړولو لپاره کفایت کاوه.

پېغلې او ځوانان په تیارې کې ناڅاپه د مار تر ستوني تېرېدل او تر دې وړاندې چې پوه شي څه وربانډې شوي د مار خیټې ته تلل.

له دې کبله چې په وچه کې دغه ډول څناور ژوند نه شي کولای طبیعي خبره ده چې په سمندر کې یې ژوند کاوه.

دغه مار د اوبو د څپو او یا کوم علت له کبله د کرت د ټاپو ساحل ته راغلی او د کرت خرافاتیانو په دې خیال چې هغه د سمندرونو خدای دی، پر دغه حیوان لارې بندې کړې چې تل په کرت کې پاتې شي.

دوی بیا د دغه مار د حرکت لپاره دغه کږې وږې لارې جوړې کړې دي، هره میاشت به یې یو هلک او یا یوه نجلۍ ورو ستل چې له لوږې مړ نه شي او له خپل ځایه د وتلو فکر ونه کړي.

خو کله چې مار مړ شو مجبوره شول دا سې وښیي چې هغه ژوندی دی او همغسې یې یوه نجلۍ او یا هلک دې کور ته راو ستل.

خو له دې کبله چې مار مړ شوی او نور ژوندی نه دی چې هغه ځوانان وخوري، نو باید پوه شو چې پر مینا یې څه کړي دي او له دې وروسته چې هغه دې کور ته ننوته هغه چېرته بېول شوې.

زه چې د مینا له پیدا کولو نهیلی شوی وم، هغې ته مې نارې کولې او زما غږونو په

دهليزونوکې انګازې کولې، تر دې پورې چې کاپتا په ګوته خمکه راوښوده او وې ويل وګوره! ما پر ځمکه د وينې څاڅکي وليدل چې وچې شوې دي او دغه څاڅکي د سمندر پر لور غځېدلي و.

کاپتا وويل ګورې دغه وينې د اوبو پر لور تللې نو غوره ده چې ورپسې ورشو.

کله چې د اوبو غاړې ته ورسيدو ما وکتل چې د مينا مړی د سمندر پر غاړه په اوبو کې پروت دی.

اوبه رنې وې، مړی يې ښکارېده، يو شمېر سمندري چنګاښان يې پر مړي راتاو شوي ول او غوښې يې خوړې.

ما چيغې کړې، په ګونډو شوم او که کاپتا نه وای زه هم له مينا سره يو ځای کېدم.

خو له دې کبله چې کاپتا متوجه شو چې ورځ شوې او ښايي ساتونکي يې د اپيمو له امله له خوبه راويښ شي، زه يې د هغه تار په وسيله چې غځولی يې و د کرت د خدای له کوره وايستلم.

چې راووتم د معبد پر لوري ولاړم، ومې ليدل د معبد ساتونکي چې تېره شپه په شرابو کې د ګډو اپيمو د خوړلو له امله ويده شوي ول همغسې ويده دي.

له دې پرته چې د خدای د کور په ځنګ کې دمه وکړو کاپتا زه ښار ته بوتلم خو زه داسې بېخوده وم چې په لاره کې د نشيانو غوندې روان وم.

کاپتا خلکو ته ويل چې زما د مستۍ علت دا دی چې د مينا د راستنېدا په انتظار کې مې ډېر شراب څښلي او تر نورو ډېر د کرت د خدای د کور پر وړاندې ايسار شوي و.

دغه پلمه هر چا منله، ددې لپاره چې پوهېدل زه بهرنی يم او نه پوهېږم چې هېڅوک د خدای له کوره نه دي راستانه شوي.

له دې وروسته چې مېلمستون ته راستانه شوو ما له غوسې او ډېرې نهيلۍ څخه ډېر شراب وڅښل او ويده شوم.

کله چې له اوږده خوبه راپاڅېدم متوجه شوم پر لوی کاهن چې مينا يې د خدای کور ته ننه ايستلې او بيا يې وژلې وه په غوسه نه يم.(زه پوهېدم چې په هغه وخت کې له دغه کاهنه پرته بل څوک هلته نه و، چې مينا يې وژلې وي).

ستر کاهن مجبور و چې د پخوا په شان وښيي خدای ژوندی دی او بايد ځوانان او پيغلې ورولي چې خپل پېغلتوب هغه ته ډالۍ کړي.

زما غوسه د کرت د خلکو دود او د ستور ته راتله، چې ولې ځوانان او پيغلې دغه ستر مار ته وراچوي.

زړه مې غوښتل چې پاځېږم او د کرت په واټونو کې وګرځم، خلکو ته ووايم اې احمقانو! دغه خداى چې تاسې يې عبادت کوئ يو مار و چې له څه مودې راهيسې مړی شوی او تاسې بايد له دې وروسته اجازه ورنه کړئ چې ځوانان او پېغلې مو د خدای کور ته بوځي ځکه چې هغوی وژني.

دوی يې د دې لپاره وژني چې بېرته د خدای له کوره راستانه نه شي.

خو متوجه شوم چې د حقيقت بيانول ډېر سخت دي او خلک چمتو نه دي چې حقيقتونه واوري ان که د هغوی په ګټه هم وي.

د خلکو عقل له خرافاتو او چټياتو سره داسې روږدی شوی و، چې هره چټي نظريه مني خو يو عقلي حقيقت نه مني.

تر دې ور ها خوا که زه خلک دغې تيارې کوټې ته بوځم او د ستر مار مړی ور وښيم نو هغوی به ما ووژني، او که خلک ما ونه وژني د کرت د دين خادمان او ستر کاهن چې له دې خرافاتو ډېره ګټه اخلي ما له منځه وړي.

ځان مې په دې ډاډه کاوه چې که د کرت د خلکو دين حقيقي وي، نو له دې کبله چې د کرت خدای مړ شوی، ډېر ژر به د کرت د خلکو قدرت او نېکمرغي له منځه ولاړه شي او يوه طبيعي بلا يا د نورو ملتونو حمله به کرت تباه کړي.

د کرت په کوڅو او واټونو کې به وينې وبهېږي او سلګونه بېړۍ به چې د کرت په بندرکې يې لنګر اچولی ډوبې شي.

له دې وروسته به يو وحشي ملت چې پر کرت يې حمله کړې ده د ځايي خلکو تاټوبی ونيسي او وحشيان چې له ښکلو حمامونو او تشنابونو استفاده نه شي کولای نو هغه به له منځه يوسي او د ځينو ښارونو چټلي به ټول ځايونه ونيسي.

بيا مې له ځانه سره وويل د کرت خدای په ما پورې اړه نه لري ځکه چې زه په دې ښار کې پردی يم او بايد ترې ولاړ شم.

زما او د مينا برخليک هم لکه چې د بابل ستور پېژاندي وايي د ستورو له لوري معلوم شوی، ځکه چې د ټولو کسانو برخليک ستوري ټاکي او له قضا او قدر سره زموږ جنګ د ازل برخه نه شي بدلولای.

ددې لپاره چې بېرته ویده شم. له کاپتا مې شراب وغوښتل، خو مریي مې د شرابو پر خای ډوډۍ راوړه، ما ورته وویل شراب غواړم، ډوډۍ نه، او که ما ته شراب رانه وړې هڅو کي به دې په لکړې مات کړم. کاپتا مجبوره شو چې ولاړ شي او ما ته شراب راوړي

له هغه وروسته چې به مې شراب څښل ارامېدم او کله چې به مې په شرابو کې افراط وکړ شیان به راته دوه- دوه ښکارېدل، ظاهراً به مې همداسې فکر کاوه باور مې نه درلود چې داسې دې وي.

یوه ورځ مې وغوښتل په دې اړه له کاپتا سره خبرې وکړم او هغه ته ووایم چې هر حقیقت همداسې دی.

انسان چې حقیقت ویني، د هغه په شتون کې شک نه کوي، په داسې حال کې چې پوهېږي هغه څه چې دی یې ویني یو مجاز دی.

خو کاپتا حاضر نه و، چې په دې اړه له ما سره خبرې وکړي

ما ته یې وویل سینوهه! ته د ډېرو شرابو د څښلو زور نه لرې او زه ډارېږم چې مړ به شې، بیا به زه په دې پردي وطن کې څه کوم؟ ستا مړی به څنګه طبس ته یوسم، څنګه به یې دارالممات ته وسپارم او ورته ووایم چې ستا مړی مومیایي کړي.

له دې سره سره چې کاپتا زه د ډېرو شرابو له څښلو منع کولم، خو اوس پوهېږم چې که په هغه وخت کې لیونی شوی نه وم او یا مې د لوی کاهن د وژلو تابیا ونه کړه، له دې امله و چې ډېرو شرابو زه سست او پر کاله کولم چې له هغه وروسته مې غوښتل ویده شم.

که شراب نه وای نو له دې کبله چې تل مې د مینا په هکله فکر کاوه یا به لیونی شوی وم یا دا چې د ستر کاهن د وژلو فکر مې کاوه او په دې کې به نو زه وژل کېدم.

څو ځله مې کاپتا ته وویل چې ولاړ شي او لوی کاهن هغه مېلمستون ته راولي چې موږ پکې دیره وو، خو هر ځل به زما مریيه له دې امره سرغړاوه او بیا به پوه شوم چې زما لکړه او وسپنیزه چاړه یې پټه کړې ده، چې هغه ژوبل یا مړ نه کړم او یا د ځان وژنې فکر ونه کړم.

یوه ورځ له خوبه راپاڅېدم ګورم چې کاپتا د کوټې په کونج کې ناست دی او ژاړي.

د شرابو منګی مې را واخیست، یو غړپ مې ترې وکړ او ومې ویل ولې ژاړې؟

ما له څه مودې راهیسې له کاپتا سره خبرې نه کولې، ځکه د هغه له غمجنې څېرې مې کرکه کوله او نه مې غوښتل چې غږ یې واورم. خو په دې ورځ، چې هغه وژړل ومې غوښتل پوښتنه وکړم چې ولې ژاړي.

کاپتا وویل، یوه بېړۍ له بندر څخه سوريې ته ځي او دا وروستۍ بېړۍ ده چې له دې ځایه سوريې ته ځي.
له دې وروسته د سختو توپانونو له امله په ژمي کې تر راتلونکي کاله بله بېړۍ سوريې ته نه ځي.
نارې مې کړې ورځه او بندر ته لاړ شه، په دې بېړۍ کې سپور شه او ما د خپل منحوس وجود له شره خلاص کړه، زه نور نه غواړم تا ووينم.
کاپتا وویل له دې سره سره چې اټکل کوم له دې خبرې وروسته به مې هډوکي مات کړې، خو بیا هم درته وایم چې زه هم ستا له ژونده چې د شرابو د خم په شاوخوا کې د میاشو د ژوند په شان دی، ستړی شوی یم.
ستا شراب څښلو او نشې دومره ستړی کړی، یم چې نور زما په خوله کې شراب مزه نه لري او زه چې شراب مې یوازینۍ هیله او خوښې وه نور شراب نه څښم.
سینوهه ! کله چې د پوهې خبرې کېږي ته پر ځان ویارې، چې په دار الحیات ښوونځي کې دې درس ویلی دی، پوه یې، زرګونه مړي دې کتلي دي، یا دې پخپل لاس د مړیو بدنونه څېرلي دي، خو لا هم نه پوهېږې چې کله څوک مړ شي بیا نه را ژوندی کېږي.
که ته هره ورځ لس منګي شراب هم وڅښې او که له سهاره تر بېګا پورې نارې سورې وکړې خو نه به هغه ښځه را ژوندۍ شي چې تا خپل ژوند د هغې لپاره داسې کړی دی او نه به یې ته ووینې.
یوازېنۍ نتیجه چې ته به یې ترلاسه کړې دا ده چې ته به هم له هغې سره یو ځای شې.
له دې سره سره چې ته ځوان یې، خو اوس دې د ډېرو شرابو له امله لاسونه داسې رېږدي چې نه شې کولای یوه کوپړۍ سورې کړې، یا یوه خېټه څېرې کړې او یا یو غاښ له خولې را وباسې.
څومره پیسې چې دې درلودې په شرابو دې ورکړې، یانې پر اوبو دې لاهو کړې، په سر کې چې ما وکتل تاد هغې صراحۍ په شان شراب څښل چې بېخ نه لري او زه له دې کبله خوشحاله وم چې د شرابو ملګری مې پیدا کړی دی.
ان د بندر په ساقي خانو کې مې ویل، داسې بادار لرم چې د شرابو په لاره کې چې څومره سره او سپین لري له لاسه یې ورکوي.
خو وروسته متوجه شوم چې هر سهار له خوبه راپاڅېږې نو داسې شراب څښې چې

ګڼي د ژوند وروستۍ ورځ دې وي، زه و ډار شوم پر تا مې زړه وسوځېد.

زه پوهېدم چې کله ته مړ شې زه به ازمیر ته ولاړ شم او د هغه لیک پر بنسټ به چې تا راته لیکلی، د بېړۍ چلونې له شرکتونو ستا سره او سپین واخلم او ستا کور به د ځان کړم دا غلا هم نه ده. ځکه چې تا راته ښنلي دي، خو دا زغم مې نه درلود چې ته د ډېرو شرابو له امله مړ شې او ستا د علم او پوهې سرچینه چې د روزي ګټلو وسیله ده وچه شي.

اوه...زما ګرانه باداره!....په خدایانو قسم کوم، له دې سره سره، چې ښکنځلې راته کوې او کله مې په لکړه وهې، خو پر ما ګران یې او له تا پرته ژوند نه شم کولای.

دغه دوستي د سرو سپینو او خوړو لپاره نه ده، ځکه ما درته وویل چې زما ګټه، په دې کې ده، چې ته مړ شې او ستا سره، سپین او د ازمیر کور زما شي.

خو له دې کبله چې را باندې ګران یې نه غواړم، زما ګران بادار د ډېرو شراب څښلو او بې ځایه فکر کولو له امله په داسې مرګ ومرې چې بېرته نه ژوندی کېږې.

د کاپتا خبرو پر ما ډېره اغېزه وکړه، ځکه همغه ډول چې ده ویل زه هم متوجه وم چې لاسونه مې رېږدي او د شرابو د څښلو له امله به مړ شم.

ما فکر وکړ چې د شرابو څښلو له امله به ټول هغه علمونه چې په مصر ،بابل ،سوریې او نورو ځایونو کې مې زده کړي، پر اوبو لاهو شي، ځکه چې زه به مړ شم او له دغو علمونو به استفاده ونه کړای شم.

زه پوه شوم چې په هر شي کې افراط، ان په خوشحالۍ او ساعت تېري کې افراط تاوان لري او لیونتوب دی.

خو نه مې غوښتل کاپتا ته ووایم چې خبرو یې پر ما اغېزه کړې، چې مریی مې مغرور نه شي.

ورته مې وویل: ستا خبرې زما په غوږونو کې د مچانو د بنګېدا په شان دي او زه ستا خبره نه خوښوم، خو له څو ورځو راهیسې مې فیصله کړې چې نور به شراب نه څښم، ځکه چې شراب څښل مې لاسونه رېږدوي او تل سستي احساسوم.

نو سر له ننه به شراب ونه څښم او له دې کبله چې نور نه غواړم په کرت کې پاتې شم، همدا نن له دې ځایه حرکت کوو، ورځه او له دې ځایه د ستنېدا وسایل برابر کړه.

کله چې کاپتا دغه خبره واورېده، له خوشحالۍ یې د ماشومانو په شان ټوپونه وهل او له کوټې ووت ولاړ، چې د ستنېدا وسایل برابر کړي

پر همغې ورځ ببېړۍ ته ولاړو او پارو وهونکو له بندره د کشتۍ د ایستلو او له سلګونو وړو او لویو ببېړیو د تېرولو لپاره پاروګان خوځول.

له دې وروسته چې سمندر ته ورسېدو د کښتۍ ماڼو د سمندر د خدای لپاره قرباني وکړه او بیایې د ببېړۍ بادبان پورته کړ.

کشتۍ د باد د فشار له امله په سمندر کې کږه شوه او د کشتۍ په تنې د څپو د لګېدا غږ واورېدل شو.

زموږ ببېړۍ د ختیز یانې د سوریې پر لور روانه شوه او بیا د کرت ټاپو د خوب د یوې منظرې په شان چې د انسان له وینېدا وروسته له منځه ځي زموږ له نظره ورک شو.

اوس نو له ویرې او پراخ سمندره پرته بل څه نه تر سترګو کېدل.

پینځه ویشتم څپرکی

له کرته ستنېدل او د ازمیر نوي حالات

په دې ډول له دریو کلونو وروسته چې په بابل، هاتي او کرت کې وم په سور یه کې د ازمیر په لور روان شوم.

زه پخوا ډېر خام وم خو په دغو دریو کلونو کې د ژوند درس زه پوخ کړی وم.

د سمندر باداو مستو څپو، د شرابو مستي او پخواني فکرونه راڅخه هېر کړل.

کله چې به مې د بېړۍ پر دېوال تکیه کوله او د څپو ننداره مې کوله نو د مینا څېره او اندام مې دیوه خواږه خوب په شان سترګو ته درېدل، داسې یو خوب چې پوهېدم هېڅکله به يې په ویښه ونه ګورم.

زه نیکمرغه وم چې مینا، او د غواییانو پر وړاندې مې، دهغې نڅا ولیدله او په دې هم خوشاله وم، چې و مې لیدل هغه يې د خدای په کور کې وژلې، ځکه چې بله تجربه مې تر لاسه کړې.

مقصد مې دا نه دی چې ووایم د مینا په مرګ خوشحاله یم او یا مې د هغې د مړینې هیله کوله.

بلکه هدف مې دا دی چې له دغې نجلۍ سره داشنایۍ له امله مې د کرت تاپو ولید.

دغه راز مې د هغه ځای حمامونه او تشنابونه ولیدل او ددغې سیمې د اوسېدونکو دودونه او رواجونه او پر خپل خدای د هغوی عقیده مې ولیدله او د خپل خدای لپاره مې د هغوی سربښندنه ولیده چې یوازې یو سمندري مار و.

ددغو شیانو د لیدو له امله مې ډېره تجربه تر لاسه کړه چې له دې پرته مې دغه تجربه نه په برخه کېدله.

تر هغه وخته چې انسان نوي شیان او پېښې نه وي لیدلې ځان بشپړ ګڼي خو له هغه

وروسته چې پوه شي، د هغه پر معلوماتو او علمونو سربېره په نړۍ کې ډېر نور علمونه او معلومات هم شته نو ځان ورته کوشنی ښکاري او همدغه وخت پخپل عيب پوهېږي
له همدې امله بې علمه او بې خبره کسان ډېر ژر مغروره کېږي، ځکه چې فکر کوي، په ټولو شيانو پوهېږي او په نړۍ کې تر ده لوړ او تکړه بل څوک نشته
له همدې امله کله چې ګورو يو نارينه يا ښځينه کبر لري او موږ ته په کمه سترګه ګوري، بايد پوه شو چې هغه ډېر احمق او ناپوه دی او له دې کبله چې په څه نه پوهېږي، تجربه نه لري، نو ځان تر نورو لوړ ګڼي.
څرنګه، چې ازمير ته ننوتم ومې ليدل چې کور مې پخپل حال دی، خو غلو مې د کور ټول سامان لوټ کړی دی.
ګاونډيانو زموږ له نه شتونه استفاده کړې، کور يې په ډېران بدل کړی او مړې زموږ په کورکې منډې وهي.
ګاونډيانو چې وليدو له موږ يې کرکه کوله او ورېدل مې چې ويل يې هغه مصری دی او زموږ ټولې بدبختۍ له مصره دي
د ګاونډيانو له کرکې حيران شوم، زه په مېلمستون کې استوګن شوم، چې کاپتا څو تنه کارګران ونيسي او کور پاک کړي
زه چې ازمير ته ولاړم نو سره او سپين مې نه درلودل ځکه درې کاله نه وم راغلی.
وروسته د سمندر کچ کوونې د شرکت پر لور وخوځېدم خو هم په شک کې وم او هم ډېر راسره ملګری و، ځکه هيله مې نه درلوده چې هغوی به زما سره او سپين چې په دغو شرکتونو کې مې پانګونه کړې وه بېرته راکړي
خو د سمندر کچ کوونې د شرکت مالکانو بې له ځنډه زما پانګه د هغې له ګټې سره يو ځای راکړه او دا هم راته معلومه شوه، په تېرو دريو کلونو کې چې زه نه وم او له دې سره سره چې څو بېړۍ ډوبې شوې دي بيا هم زما سره او سپين تر پخوا ډېر شوي دي.
د سمندر کچ کوونې د يوه شرکت مشر زه خپل کور ته وبللم او ويې ويل سينوهه! له دې سره سره چې پر موږ ګران يې، ځکه چې پوهېږو تکړه ډاکټر يې او زموږ د ناروغانو درملنه کولای شې، خو بايد درته ووايم چې د سوريې خلک له مصريانو ډېره کرکه کوي ځکه، هغه ماليات چې فرعون يې له موږ اخلي ډېر زيات دي.
څو ځله يې مصريان په لاره کې سنګسار کړل او د مصريانو کورونو ته يې د مړه سپيي

او پښيمان وراچولي.

له دې کبله چې پر موږ ګران يې دغه خبره مې درته وکړه، چې خانته پام وکړې او پوه شې چې په ازمير کې څه ډول چلند وکړې

زه په دې خبرې حيران شوم، ځکه درې کاله مخکې چې له دې ځايه تلم خلک له مصريانو سره ملګري ول او د مصريانو، د دودونو او رواجونو تقليد يې کاوه، همغه ډول چې موږ په طبس کې د سوريې د خلکو د دودونو تقليد کاوه.

کاپتا هم د هغو کوربنو خبرې تايد کړې چې مخکې يې ماته کړې وې او کله چې د سمندر کچ کوونې د شرکت له کوره خپل کور ته ستون شوم کاپتا وويل، داسې ښکاري چې موذي او شيطاني ارواوې د سريانيانو په سرونو کې ننوتې دي

دغه خلک لېوني شوي، نور نه غواړي چې په مصري ژبه خبرې وکړي او نن چې ما غوښتل خپله تنده ماته کړم، يوې ساقي خانې ته ننوتم چې يو جام شراب وڅښم، خو څنګه چې د ساقي خانې مشتريان پوه شول، زه يو مصری يم نو له هغه ځايه يې را وايستلم، ماشومان راپسې شول او زما پر لور يې د کارغانو فضله مواد او ګانې را ګوزار کړل.

کله چې پوه شوم په ازمير کې له مصريانو څخه کرکه کېږي، بلې ساقي خانې ته ولاړم او داخل مې هېڅ خبرې ونه کړې، يو نی مې را واخيست، په يوه جام کې مې ننيوست او شراب مې وڅښل. *(موږ وويل چې په دغه کتاب کې ټول راغلي مطالب د پخوانيو ملتونو د ژوند د حالاتو، دودونو او عقيدو په هکله دي او تاريخي اړخ لري افسانې نه ده.*

• تاسو دلته لولئ چې کاپتا د دې لپاره چې شراب وڅښي يو نی يا پايپ يې په جام کې اېښی او شراب يې څښلي دي چې دغه خبره هم تاريخي اړخ لري او موږ تصور کوو چې په پايپ يا نی سره د شرابو يا شربتو څښل يو نوی موږ دی چې له اروپا څخه ختيځ ته راغلی، په داسې حال کې چې څلور زره کاله مخکې په ختيځ کې په دې ډول شربت او شراب څښل کېدل او دغه موږ له ختيځه اروپا ته تللی دی. ژباړن•)

بيا زما مريي وويل، په ساقي خانه ډېر په تکليف وم ځکه کله چې زه د اوربشو اوبه (بيير) څښم او د خلکو په ټولي کې ناست يم، بايد خپله ژبه هم وکاروم او خبرې وکړم.

د ژبې تړل راته ډېر سخت ول، خو له دې سره، چې سر مې تېټ و، او په پايپ سره مې د اوربشو اوبه څښلې خو اورېدل مې چې خلکو د مصر په فرعون او مصريانو پسې خبرې کولې.

دوی مصریان رټل او ویل به یې پخوا ازمیر یو ازاد ښار و، چې مالیات یې نه ورکول. خو نن سبا باید ددې ښار ټول او سېدونکي فرعون ته مالیات ورکړي او زموږ بچیان له ماشومتوبه د فرعون په مریانو بدلېږي.

ماجرئت نه شو کولای چې ووایم د مصر فرعون د ازمیر د خلکو د ښیګڼې او خیر لپاره دغه ځای تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستی دی. پخوا چې ازمیر د فرعون په ولکه کې نه و، نو درست کال به د سوریې خلکو له یوه بل سره جنګونه کول او هغو پیشکو ته ورته ول، چې ټولې یې په یوې کڅوړې کې اچولې وي، نه شي کولای چې وتښتي او اړ وي چې له یو بل سره ونښلي او جګړه وکړي.

سوریانیان د خپل زور خبرې کوي او وایي چې که په سوریه کې موجود پاچاهان سره متحد شي داسې قدرت به رامنځته شي چې فرعون به ورسره مبارزه ونه کړای شي.

ایا داخبره د منلو ده چې یوه ورځ به دغه پاچاهان سره متحد شي؟ دوی هېڅکله هم نه شي سره متحد کېدای.

ما هغوی ته ځواب نه شو ورکولای او د دغو خبرو د اورېدو زغم مې هم نه درلود، په بېړه مې د اوربشو اوبه وڅښلې او له ساقي خانې څخه راووتم.

له دې وروسته چې ما د کاپتا خبرې واورېدې، نو سریاني کالي مې واغوستل او له کوره راووتم، متوجه شوم چې زما مریي سمه خبرې کړې وې.

خلکو له مصریانو داسې کرکه کوله او ورته غوسه ول، نو له همدې کبله مصریان مجبور ول چې له ځانه سره ساتونکي وګرځوي.

له دې سره سره چې خلکو به د مصریانو پر لورې د میوې پوستکي او خوسا کبان اچول، خو ما ته چا توجه نه کوله، ځکه چې ما سریاني کالي اغوستي ول.

ما خلکو ته غوږ ونیو چې دوی ولې شکایت کوي، خو وروسته پوه شوم چې ټول د هغو مالیاتو له کبله خپه او شکایت کوي چې فرعون یې له سوریې څخه اخلي.

دوی په دې نه پوهېدل چې فرعون ددې مالیاتو یوه ستره برخه په خپله د سوریې پر چارو لګوي او که د مصر غنم نه وي او یا ازمیر او د سوریې نورو ښارونو ته د مصر غنم ونه رسېږي نو خلک به له لوږې مړه شي.

له دې سره سره چې پوهېدم خلک د مصریانو په اړه بدبینه دي، نو پخپل کور کې مې کتنځی پرا نیست.

ځيني ناروغان ماته راغلل، ځکه کله چې خلک ناروغه کېږي او په دردونو اخته کېږي نو بيا د ډاکټر مليت ورته مهم نه وي، بلکې ددې پر خلاف دا وايي چې ايا ډاکټر تکړه دی او کنه؟ درملنه کولای شي او کنه؟

ځينو ناروغانو به شکايت کاوه چې مصر اوس د وينې زبېښونکي په شان دی او زموږ د وينې د زبېښولو له کبله چاغ شوی دی، په داسې حال کې چې موږ کال پر کال بېوزله کېږو.

د مالياتو د ترلاسه کولو لپاره د مصر پلمه دا ده چې موږ ته يې پوځي چوني جوړې کړي، چې امنيت مو وساتي، په داسې حال کې چې د مصر له لښکرو پرته هم موږ خپل امنيت ساتلای شو.

يو لوی توهين او سپکاوی چې موږ ته شوی دادی چې موږ نه شو کولای خپل پوځي برجونه ورغوو او نوې کلاګانې جوړې کړو، په داسې حال کې چې د نوې کلا د جوړېدا او د برجونو د رغولو لګښت موږ پخپله ورکوو.

که مصر له موږ ماليات نه اخيستلای، نو موږ به نيکمرغه او سوکاله ملت و، خو مصر د ملخانو د پوځ په شان پر سوريې پروت دی او ستاسې فرعون نيت لري چې خپل خدای پر موږ وتپي.

په داسې حال کې چې موږ د هغه د خدای غوښتونکي نه يو او د خپل خدای عبادت کوو.

ما وويل مصر ددې لپاره تاسې ته اجازه نه درکوي چې خپلې کلاګانې ورغوئ يا نوې کلاګانې جوړې کړئ، چې د غه استحکامات د مصر پر وړاندې جوړوئ او نيت لرئ له مصر سره وجنګېږئ.

تاسې مخکې ازاد واست، خو دا خبره مو هېره کړې ده، چې پر مصر د فرعون له، ولکې مخکې تاسې له يو بل سره جنګېدا ست او ستاسې پاچاهان په هر ولايت کې خپلواک ول.

دوی له تاسې سره هر هغه څه کول چې د دوی زړونو غوښتل او شتمن او بېوزله دواړه د هغوی له ظلمه په تنګ شوي ول.

خو نن سبا د مصر قوانين ستاسې ملاتړ کوي او ددې مخه نيسي چې د سوريې پاچاهان پر تاسې ظلم وکړي او شتمن او بېوزله د مصر د قوانينو تر سيوري لاندې دي.

ناروغانو به راته ويل د سوريې د پاچاهانو ظلم يو تور دی، چې مصريانو لګولی او جوړ کړی دی ځکه دوی غواړي چې موږ اړ کړي خپله پخوانۍ ازادي هېره کړو او د مصر مريبان شو.

خو که فرض کړو چې زموږ پاچاهانو پر موږ ظلم کاوه، بیا هم زموږ پاچاهان ول او دي موږ د پردیو تر ظلم د هغوی ظلم غوره ګڼو، خو نن سبا ټول د مصر د فرعون مریيان شوي یو او له دې پرته چې موږ له هغه سره کوم اړیکې نه لرو، هغه پر موږ ظلم کوي

ما وویل زه ستا سې په بدن کې د مریيانو داغونه نه وینم، تاسې ازاد یاست، تر پخوا چاغ شوي یاست او دغه چاغي ددې ښوونه کوي چې ښه ژوند کوئ.

که تاسې د پخوا په شان واست او د مصر قانون ستاسې ملا تړې نه وای، نو تل به موږ یو بل بېړۍ غلا کولې، ونې به مو غوڅولې ،د سوریې په لاروکې هېڅ یوه مسافر امنیت نه درلود.

خو نن سبا څوک ستاسې کشتۍ نه لوټي، ستاسې د مېوې ونې نه پرې کوي او له ګوابښه پرته د سوریې هر ځای ته چې وغواړئ سفر کولای شئ.

سریانیانو زما دلایل نه منل او له دې وروسته چې معالجه به شول خپله ډالۍ به یې په کاوړ ماته راکړه او د تلو په وخت کې به یې ویل، له دې سره سره چې تا د سریانیانو جامې اغوستې، خو بیا هم یو مصری یې! او هر مصری چې هر چېرته ژوند وکړي، یو ظالم دی، ښه مصری نشته مګر دا چې مړ شوی وي.

د خلکو له لوري له مصریانو عمومي کرکه ډېره شوې وه او زه متوجه شوم چې نور په ازمیر کې ژوند نه شو کولای.

ځکه چې که فرضاً خلکو زه نه وای وژلای دهغوی کرکې زما ژوند تریخ کړی و، داسې ښکارېدل چې یوه میلمه په یوه کورکې وي او کوربه ترې کرکه وکړي چې په دې حالت کې په دې کورکې سړی له اوسېدو څخه سخت بېزاره کېږي.

ما په ازمیر کې خپلې پیسې او پورونه راټول کړل او مصر ته مې د تللو نیت وکړ ځکه، له څوکلونو وروسته په پردیو هېوادونو کې ومنو مجبور وم، چې مصر ته ستون شم او د خپل ماموریت راپور د مصر قوماندان (هورم هب)ته ورکړم.

ځکه چې ما ته یې دنده سپارلې وه چې د نورو ملتونو او پاچاهانو له پوځي حاله معلومات راغونډ کړم.

یوه ورځ سهار چې کله په ازمیر کې خلک له خوبه راپاڅېدل متوجه شول، چې تېره شپه یې د یو مصري سپاهي سر پرې کړی دی. خلک له دې پېښې وروسته د فرعون له قهره سخت وېرېدلي ول، خپلو کورونو ته ولاړل، دروازې یې بندې کړې او له کوره راووتل.

دغه پېښه ددې سبب شوه چې د فرعون او مصريانو په اړه د خلکو غوسه سړه شي، خو زه پوهېدم چې دغه ارامي موقتي ده او له دې وروسته به د مصريانو پر خلاف د خلکو غوسه او قهر نور هم زيات شي.

همداسې هم وشول او ددغه مصري عسکر وژونکي پيدا نه شول.

دوه يا درې ورځې وروسته خلک له کورونو راووتل او داخل پر مصريانو نور هم په قهر ول، هېڅ مصري جرئت نه کاوه چې له وسلې پرته له کوره راووځي او سړکونو ته ووځي.

له دې کبله چې ما سرياني جامې اغوستې، نو له ډاره پرته له کوره ووتم او ځينې شپې به د ايشتار معبدت ته تللم چې تفريح وکړم.

ځکه چې ازمير ته له ستنېدا وروسته مې دتندې احساس کاوه او د يوه تږي سړي په شان وم، چې نه پوهېږي دغه څاه، چې له هغې او به څښي په چا پورې اړونده ده، ما هم غوښتل چې فقط وېې څښنم.

يوه شپه چې د ايشتار له معبده راستنېدم ځينې سريانيان مې وليدل.

يو يکې وويل داسې ښکاري چې دغه سړی مصری دی او که مصری وي بايد سم شي چې بيا زموږ معبد ته ولاړ نه شي، ځکه چې دا زموږ لپاره د شرم خبره ده چې يو سنت شوی سړی، زموږ له ښځو سره څملي او ساعت ورسره تېر کړي.

بيا ماته رانژدې شول او وېې ويل موږ غواړو تا معاينه کړو چې پوه شو، ايا مصری يې او کنه؟ ځکه هغه کس چې سنت شوی وي بايد زموږ له پېغلو سره ويده نه شي.

ما وويل ستاسې پېغلې يوازې په نوم پېغلې او باکرې دي او چې کله هغوی د سنت کېدا په هکله ستونزه نه لري او څه نه وايي نو تاسو ولې شکايت کوئ؟!

کله چې سريانيانو زما خبره واورېده پر ما يې حمله وکړه او زه يې پر ځمکه وغورځولم.

زما سر يې پر ځمکه وواهه، په دې ډول چې له ځانه سره مې وويل زما د عمر وروستۍ شپېبې رانژدې شوې دي.

خو ناڅاپه يوه يکې وويل اوه.... دا خو سينوهه ابن الحمار دی او د سوريې د پاچا ملګری دی.

نورو چې دغه خبره واورېده زه يې خوشې کړم، خپل مخونه يې په لمنو پټ کړل چې زه يې ونه ګورم او وېې نه پېژنم، په نارو سورو تښتېدل، زه هم له هغه ځايه پورته شوم او کور ته ولاړم.

شپږ ويشتم څپرکی

د يوه ماشوم ناروغي

دوه ورځې وروسته چې ما مصرته د تګ لپاره کالي راغونډول، په ځنګ کې مې د ناروغانو د رملنه هم کوله، نو يو کس چې پر يوه اس سپور و، او د باد په څير ګړندی روان و، زما د کور په مخکې ودرېد. په مصر او سوريې کې آس ځغلول دومره دود نه دي، ځکه چې آس داسې يو ياغي ځناور دی چې لوی او فرمان نه منونکی دی.

کله څوک پرې سپور شي نو د مخې دواړه پښې پورته کړي او سپور پر ځمکه وغورځوي، له همدې امله په مصر او سوريه کې خلک تل پر خره سپرېږي، چې بې ازاره او فرمانبرداره دی او ان جنګي ګاډی په خره پورې تړي.

که آس په جنګي ګاډي پورې وتړي خطرناک کېږي او داسې هيجاني کېږي چې تښتي، ګاډی هم ماتوي او سپرلی هم وژني.

د هغو ګاډيو چلول چې په آسونه پسې تړل شوي وي ډېر سخت دي، ډېره تجربه غواړي او بايد يو کس تل د آس پر ملا سپور وي چې خپله ګوته د آس پوزې ته وروړي چې په دې توګه آس رام شي. (*د سينوهه په وخت لا د آس قيضه نه وه اختراع شوې، چې د غه ځناور پرې رام کړي او د هغه په پوزه کې د ګوتې په ننه ايستو سره بې آس رام او فرمانبرداره کاوه. ژباړن*)

کله چې ما پر آس سپور کس ته وکتل له جامو يې پوه شوم چې د سوريې د غرنيو سيمو او سيدونکی دی او داسې ښکارېد، چې لوتمار وي، ځکه چې لوتماران، غله يا د غرنيو سيمو او سيدونکي په آسونو سپرلی کوي.

هغه سړي نارې کړې، سينوهه ابن الحمار! زه له ډېر لېرې ځايه او د(آمورو) له هېواده راغلی يم او د دغه هېواد پاچا چې تا پېژني يو زوی لري چې ناروغه شوی دی.

پاچا د خپل زوی د ناروغی له کبله داسې غوسه دی چې د داړونکي زمري په شان شوی او هېڅوک جرائت نه کوي چې هغه ته نژدې شي.

د ډېر ژر دې خپل طبي وسایل را واخله او له ما سره د امورو هېواد ته روان شه او زموږ د پاچا د زوی معالجه وکړه.

که ځنډ وکړې په دې چې سره به دې سر له بدنه بېل کړم او بې سره بدن به دې پر ځمکې ولوېږي.

ما ورته وویل که ته زما سره له تنې بېل کړې، نو ستا د پاچا زوی به معالجه نه شي، ځکه که مې سر په بدن پورې نه وي، لاسونه به مې ستاسو د پاچا د زوی معالجه ونه کړای شي.

زه د تګ او ستا د پاچا د زوی معالجې ته تیار یم، خو له دې کبله نه چې ستا له ګواښه وېرېدلی یم، بلکې د امورو پاچا زما ملګری دی او زه باید د هغه د زوی معالجه وکړم.

د آمورو پاچا همغه سړی و، چې ما څو کاله مخکې په سوریه کې د هغه د غابښونو معالجه کړې وه.

هغه زما ځوانه وینځه وغوښتله، غوښتل یې چې په بیه یې راخخه وپېري، خو ما هغه ورته ډالۍ کړه.

کاپتا ته مې وویل ولاړ شه او ماته یو راون تخت په کرایې ونیسه.

کله چې یې روان تخت راوست له آس ځغلونکي سره روان شوم تر هغه چې تر یوې هوارې ځمکې تېر شوو او غرنۍ سیمې ته ورسېدو.

هلته له روان تخته کوز شوم او په یوې جنګي ګاډۍ کې یې سپور کړم.

هغه اسان چې ګاډۍ یې کشوله فکر کوم وحشي ول، ګاډۍ یې داسې روانه کړه چې زه وېرېدم او فکر مې کاوه چې په اسمان کې د امون د خدای کشتۍ الوتې ده.

ما له وېرې نارې وهلې، خو ګاډیوانو زما وېرې ته پام نه کاوه، ګړندي روان ول، او څو شپې وروسته ګاډۍ ودرېده.

زه خوشحاله شوم، فکر مې کاوه چې سفر پای ته ورسېد، خو زه یې له هغې ګاډۍ کوز کړم او په بلې کې یې سپور کړم چې اسونه هوسا او تازه دمه ول.

کله چې ګاډۍ روانه شوه، ما نارې وهلې او ویل مې کرار کرار ولاړ شئ خو چا مې خبرې ته پام نه کاوه.

هر ځل چې به د ګاډۍ حرکت لږ ورو شو ما به وکړای شول خپل لاسونه د هغې له دېوالونو لیرې کړم.

یو ځل مې د چلونکي ملا ته سوکان ونیول، مګر هغه ماته هېڅ توجه نه کوله، هېڅ یې نه ویل چې ولې یې پر ملا وهم، هماغسې پر مخ روان و.

زه تر او سه نه پوهېږم چې څنګه په هغې غرنۍ لاره کې په یاغي اسونو پسې تړل شوې ګاډۍ نه اوښتې، نه ماته شوې او نه یې زه ووژلم.

تر دې وړاندې چې لمر د لودیځ افق ته نژدې شي په غرنۍ سیمه کې یوه ښار ته ورسېدو چې نوی دېوالونه یې درلودل او دروازې یې تړلې وې.

ساتونکو چې موږ ولیدو دروازې یې خلاصې کړې او زموږ ګاډۍ په همغې چټکتیا چې په غرنیو لارو کې راتله د ښار له واټونو هم تېره شوه.

په لاره کې ځینو نارینه وو او ښځو له میوې ډکې ټوکرۍ خوشې کړې او د ګاډیو له ډاره وتښتېدې، ځینې نورو بیا له اوبو ډک منګي وغورځول او مات شول.

کله چې ګاډۍ د امورو د پاچا د ماڼۍ په مخکې کې ودرېده زه یې له ګاډۍ کوز کړم.

د بدن غړي مې داسې ټوټې ټوټې ول، چې پر لاره نه تللی شوم او مریانو په غېږ کې ماڼۍ ته بوتلم.

د ماڼۍ په لوی هال کې یې لسګونه، ډوله وسلې، د زمریانو لکۍ او د مرغانو بڼکې ځوړندې وې.

زه چې ورننوتم د امورو پاچا د هغه زمري په شان چې ښکاري ژوبل کړی وي پر ما حمله وکړه.

د پاچا جامې شلېدلې او پر سر یې ایرې اچولې وې.

پاچا نارې کړې، لوټمارانو! ولې ناوخته راغلاست؟ آیا قصداً مو ځنډ وکړ چې زما زوی له ناروغۍ څخه مړ شي.

د امورو پاچا خورا غوسه و، پر ما چې یې راټوپ کړ نو هغه طلایي پټۍ چې ګاړګوټي رېره یې پرې تړلې وه خلاصه شوه.

خو د ګاډۍ چلونکي وویل موږ نن پر غرنیو لارو داسې ګړندي راغلو چې مرغان راپسې نه شو رسېدای.

ته باید د دغه مصري ډاکټر مننه وکړې، چې هر ځل به موږ ورو تلو هغه به پر ملا سوکان راکول چې ګړندي شو. داسې نارې به یې وهلې چې زموږ اسونه به یې لېوني کړل او ګاډۍ به نوره هم ګړندۍ شوه.

زموږ د پلرونو هم ياد نه دي چې د ازمير او امورو لاره دې دومره ژر وهل شوې وي په دې وخت کې د آمورو پاچا زه په غېږ کې ونيولم، ښکل يې کړم، ويې ژړل او ويې ويل، سينوهه! ته بايد زما زوی معالجه کړې او زه يې له تا څخه سلامت غواړم.

ومې ويل، لومړی اجازه راکړه چې زه ستا زوی ووينم او پوه شم چې کومه ناروغي لري، وروسته به يې معالجه کړم.

د آموور پاچا زه له ځان سره يوې کوټې ته بوتلم، په کوټه کې يو لوی منقل له اوره ډک ايښی ، او ماشوم په زانګو کې ويده دی.

خو په پشمي جامو کې يې داسې نغښتی و، چې رنګ يې تک شين شوی و، او له مخ او بدنه يې خولې بهيدې.

ماشوم په چيغو چيغو ژړل او ما چې وليد پوه شوم چې داسې کومه ناروغي نه لري چې د هغه د مرګ سبب شي، ځکه کله چې ماشوم د مرګ په حال کې وي داسې چيغې نه وهي.

شا و خوا مې وکتل که ګورم يوه سپينه او چاغه ښځه د کوټې پر غولي ناسته ده او په ژړا خپل سر په ځمکه وهي.

دستي مې وپېژندله چې دا زما هغه وينځه ده چې د آمورو پاچا ته مې ډالۍ کړې وه.

څو نورې ښځې هم د کوټې شاوخوا ته راټولې شوې وې، هغو هم ژړل او ځينو خو خپل مخونه سره او ژوبل کړي ول.

ورسته پوه شوم چې دوی د آمور پاچا له دې امله وهلې دي چې د ماشوم د ارامولو چل نه ورته.

ما د آمورو پاچاته وويل دومره نارامي مه کوه، ځکه چې ستا ماشوم نه مري، خو زه تر دې وړاندې چې ستا ماشوم معاينه کړم، بايد ځان پاک کړم، خو تاسې تر هر کار مخکې د اور دغه منقل له دې ځايه لېرې کړئ.

د ماشوم مور چې پخوا زما وينځه وه وويل، که منقل له دې ځايه لېرې کړي د ماشوم به يخ وشي.

ومې ويل نه.... ماشوم د پسرلي په دې هوا کې نه زکام کېږي او نه يې يخ کيږي، تاسې منقل لېرې کړئ او که يې ساړه وشول. يا زکام شو مسوليت يې زما پر غاړه.

ښځې زه وپېژندم موسکۍ شوه او ويې ويل آوه.... سينوهه! .... دا ته يې.... کله چې نوی راغلې ما ونه پېژندې، ځکه چې تا سرياني کالي اغوستي ول.

ما وویل ددې ماشوم د معالجې لپاره داسې په بیړه را روان شوم، چې دومره وخت مې ونه موند چې سریاني جامې وباسم او مصري هغه واغوندم.

د آمورو پاچا په داسې حال کې چې اوښکې یې په سترګو کې ډنډ وې وویل سینوهه! دا درې ورځې کېږي، چې زما زوی څه نه دي خوړلي او که یې خوړلي وي هغه یې بېرته راګرځولي دي.

ماشوم داسې چیغې او ژړاګانې کوي چې زه یوه شېبه هم ارامه نه شم پاتې کېدای.

ما وویل، دغه مریان او وینځې له دې کوټې وباسئ، ځکه یو روغ انسان چې دومره کسان وګوري هم ناري سورې به پیل کړي او ناروغ به شي، پاتې خو یو ماشوم شو.

د آمورو پاچا امر وکړ چې دغه کسان له کوټې ووځي بیا، مې ځان ووینځه، وروسته مې ویل د کوټې کړکۍ خلاصې کړئ!

بیا مې پشمي ټوکر د ماشوم د بدن له ګیر چاپېره لېرې کړل.

ماشوم چې تر هغه وخته ناري وهلې او ژړل یې، سمدستي غلی شو او خپلې چاغې پښې یې وښورولې.

ما وکتل چې ماشوم له دې سره سره چې وړوکی دی، خو د خپل پلار په شان تور او ګڼ وېښتان لري.

ماشوم ته ځیر شوم چې ناروغي یې معلومه کړم، ناڅاپه مې د هغه خولې ته پام شو، خوله چې مې ور خلاصه کړه، ومې لیدل چې یو کوچنی غاښ یې را شین شوی او دا هم راته معلومه شوه چې د ماشوم د ناروغي لامل هم همدا غاښ و.

د آمورو پاچا مې را وغوښت او د ماشوم غاښ مې ور وښود ومې ویل وګوره! ددغې بې اهمیته پېښې له امله د ې، د سوریې تر ټولو مشهور ډاکټر په وحشي آسونو پسې ترلې ګاډۍ کې دلته راوستی دی.

تا په غرنیو سیمو کې پنځوس ځله د مرګ له خطرې سره مخا مخ کړم، په داسې حال کې چې هر څوک لږه تجربه هم ولري، په دې پوهېدای شي چې کله د ماشوم غاښونه شنه کېږي، ماشوم بې تابي کوي او ښایي تبه هم وکړي، خو دغه تبه کوم خطر نه لري.

دا چې ستا ماشوم کانګې کړې دي دا طبیعي خبره ده، ځکه چې تا او د ماشوم مور پر له پسې غوړې شیدې ورکړي، په داسې حال کې چې د ماشوم معدې د هغو شېدو زغم نه درلود نو کانګې یې کړې دي.

اوس يې مور ته ووايه چې له دې وروسته پام کوي، ځکه ممکنه ده ماشوم د شېدو ورکولو پر وخت د هغې سينه پر خپل غاښ ژوبله کړي.

د ماشوم خوله مې د آمورو د پاچا په مخکې خلاصه کړه او هغه يې غاښ ولید.

پاچا چې د خپل ماشوم د ناورغی په علت پوه شو، ډاډه شو چې خطرناکه نه ده، نو په کوټې کې په نڅاشو او د ماشوم مور وويل هېڅکله يې دومره ښکلی غاښ نه دی ليدلی.

خو کله چې دې غوښتل خپل ماشوم په پشمي ټوکرنو کې تاو کړي ما يې مخه ونيوله او ومې ويل د کوشني لپاره د کتان يو ټوکر کفايت کوي چې پکې وېې نغاړئ.

د آمورو پاچا له دې کبله هېڅ خپه نه و، چې د يوې معمولي ستونزې لپاره يې زه له ازميره راغوښتی يم.

ده امر وکړ چې د هغه د دربار مشران او ملګري دې راشي او د کوچني غاښ دې وګوري.

هغوی ټول کوټې ته راننوتل او ټولو غوښتل خپل غتې، ګنده او په خاورو ککړې ګوتې د ماشوم خولې ته وروړي او غاښ يې وګوري.

خو ما پاچا ته وويل چې هغوی لېرې کړي، ګني کوچنی به يې په رښتيا ناروغه شي.

کله چې د پاچا درباريان او ملګري ولاړل، نو ويې ويل دغه ماشوم راته د سترګو تر لېمو نژدې دی او ګران دی او تر ټولو هغو شيانو ډېر ارزښت راته لري چې زه يې لرم.

له څو شپو راهيسې زه د هغه له زانګو سره نه يم ويده شوی.

زه چې وېرېدم زما زوی به مړ شي، بيا څوک به نه وي چې تر ما وروسته د آمورو پر هېواد پاچاهي وکړي.

خپل لاسونه يې زما پر سر کېښودل او ويې ويل سينوهه! پوهېږې چې زما له اوږو دې لوی بار لېرې کړ او زه دې ډېر پوروړی شوم.

بيا يې خپل کوشنی راوښود او ويې ويل تا خو ډېر هېوادونه ليدلي آيا کله دې دومره ښکلی ماشوم ليدلی دی؟

زما د کوشني وېښتان ګورې، د زمري په شان دي، چاغ نس يې يوې کوشنۍ پشکې ته ورته دی، چاغ لاسونه او پښې يې ښيي چې په راتلونکي کې به زما په شان قوي او غښتلی شي.

ورو ورو شپه شوه، څراغونه يې روښان کړل، خو زه د ډېر چټک او سخت سفر له امله ستړی وم، نو استراحت ته مې اړتيا درلوده، د پاچا خبرې مې نه شوې اورېدلی هغه ته مې وويل:

نن له سهاره تر مازیګره زه ستا د جنګي ګاډیو په منځ کې د باد په سرعت، په غرنیو لارو کې روان وم او اوس مې له ډېرې ستړیا د بدن ټول غړي خوږېږي، نو باید ډوډۍ وخورم او ویده شم.

خو ته ددې پر ځای چې خواړه راکړې او یا د خوب ځای راته جوړ کړې، پرله پسې خبرې کوې.

پاچا وخندل او ویې ویل ما هم له څو ورځو راهیسې له ډېر خپګانه څه نه دي خوړولي، خو نن شپه به ټولې تېرې ورځې جبران کړم.

بیا یې امر وکړ چې موږ ته خواړه راوړي

مریانو راته کباب شوی پسه او سېرلی راوړ او له دې وروسته چې ډوډۍ مې وخوړه فکر مې وکړ چې ستړیا مې کمه شوې ده.

زه څو ورځې د آمورو له پاچا سره پاتې شوم او هغه ګران بیه ډالۍ سره او سپین راکړل.

زه پوه شوم چې هغه د تېر ځل په پرتله ډېر شتمن شوی دی.

له پاچا مې پوښتنه وکړه چې دغه شته یې له کومه کړي، ځکه تېر وار چې مې ولیدې دومره شتمن نه وې.

هغه ځواب راکړ هغه ښځه چې تا راکړه په ما پورې یې قدم د ښو شو او ددې سبب شوه چې زه بډای شم.

له پاچا سره د مېلمستیا په څو ورځو کې، هغې ښکلې مېرمنې یانې هغې وینځې چې ما ورکړې وه، زما ښه میلمه پالنه وکړه او زه پوه شوم، چې دغه وینځه له دې سره سره چې چاغه شوې خو بیا هم غواړي چې چاغه شي.

په آمورو کې د مصر پر خلاف نارینه چاغې ښځې ډېرې خوښوي او هرڅومره چې ښځه چاغه وي، د ډېرو خوښېږي

له همدې کبله په آمورو ټول ان ماشومان داسې سندرې وايي چې پکې چاغې ښځې ستایل کېږي.

ما دغه سندرې واورېدې څو کلیمې وې، خو دوی بیابیا تکرارولې او نه ستړي کېدل.

د آمورو پاچا نورې ښځې هم درلودې چې د قبایلي مشرانو لونې وې.

دی یوازې له دغو ښځو سره د وفادارۍ د څرګندولو لپاره د هغو کورنو ته ورته پاچا راته وویل چې له دغو ښځو سره له ځملا ستو خوند نه اخلي، خو له دې کبله چې د

قبايلي مشرانو لوښې دي، بايد ورسره ځملي چې د هغه او قبايلي مشرانو ترمنځ كركه را ونه ټوکېږي.
د آمورو پاچا پوهېده چې ما ډېر سفرونه کړي او څو هېوادونه مې ليدلي، نو ضروري يې ګڼله چې ماته د ځان ډېر صفت وکړي چې زه پوه شم هغه تر نورو پاچاهانو کوشنی نه دی.
هغه د ځان د ستايلو په وخت کې ماته داسې خبرې وکړې چې زه ډاډه يم ، زما تر تګ وروسته به دی خپله هم پرې پښېمانه شوی وي چې ولې يې راته داسې خبرې کړې دي.
د ببلګې په ډول ده ويل په ازمير کې د هغه جاسوسان او ګمارل شوي کسان مصريان څوروي او پر هغې شپې چې پر ماحمله وشوه د هغه د ګمارل شويو کسانو له لوري ژوبل شوم، خو هغوی نه پوهېدل چې زه سينوهه يم ګني زه يې نه وهلم.
دغه راز ده ويل هغه مصري عسکر چې په ازمير کې وژل شوی،دده ګمارل شويو کسانو وژلی دی.
د امورو پاچا وويل د هغه له لوري د مصريانو ځورول به تر هغه دوام وکړي چې مصريان له سوريې ووځي او ولاړ شي.
پاچا ويل د ازمير او د سوريې د نورو بندرونو خلک ډارن او محافظه کاران دي، له خپلې ګټې پرته بل هدف او نظر نه لري ټول سوداګر دي.
له همدې کبله بايد يو زړه ور کس د مصري ضد غورځنګ مشري پر غاړه واخلي او مصريان له سوريې وباسي، چې سوريه د پخوا په شان بېرته ازادي ترلاسه کړي.
ما ورته وويل ولې د مصريانو په اړه په زړه کې دومره کينه لرې ، زه فکر نه کوم چې مصريان تر نورو ملتونو ډېر بد خلک وي.
د آمورو پاچا پر خپلې ګاړګوټې ږيرې لاس تېر کړ او ويې ويل، زه له ټولو مصريانو کرکه نه کوم، ته هم مصری يې او دا دی له تا کرکه نه کوم.
زه په ماشوموالي کې د فرعون په ماڼۍ کې اوسېدلی يم، هلته مې له مصريانو ډېر څه زده کړي دي . ما هلته ليک، لوست زده کړه او زما د ژوند مخينه داسې ده چې بايد مصريان را باندې ګران وي نه دا چې له هغوی کرکه وکړم.
سينوهه ! ته له دې سره سره چې يو ستر ډاکټر يې او ډېر هېوادونه دې ليدلي، خو پاچاهي دې نه ده کړې، له همدې کبله ته نه شې پوهېدای چې د يوه هېواد د مشر او پاچا له نظره کينه څه مانا لري؟

يو پاچا او د هېواد مشر له هېچا سره کينه او دښمني نه لري.
کينه ديوه پاچا او هېواد مشر له نظره يو قوي او ځواکمن عامل دی چې حتی تر وسلې.
ډېره اغېزه لري.

د آمورو پاچا وويل تر هغه چې خلک کينه ونه لري، که څه هم په لاس کې به يې توره او نيزه وي، خو پر چا يې نه شي پورته کولای.

دغه راز د يوه هېواد مشر چې پخپله له هېڅ هېواد سره کينه او دښمني نه لري، بايد په خلکو کې کينه او دښمني پيدا کړي، چې د کينې او کرکې له لارې خپل قدرت پراخ، مضبوط او کلک کړي.

زه هم د سوريې په خلکو کې د مصريانو پر ضد کينه اېشوم او د غه کينه او دښمني دومره زياتوم چې د سوريې هر او سېدونکی باور وکړي چې تر مصريانو به بل څوک بېرحمه ،تيټ ذاتي او چلباز نه وي. دغه کينه بايد دومره زياته او پياوړې شي چې کله کوم سرياني سړی او يا ښځه د مصريانو نوم واخلي، نوله کرکې يې وينه وايشېږي او په دې ايمان ولري چې مصريان تر ټولو وېرونکی ،خونړي او بېرحمه ملت دی.

کله چې له مصريانو سره د سوريې د خلکو کينه دې حد ته ورسيده بيا به دغه دښمني دومره سخته شي، چې غرونه له خپله ځايه وښوروي او هغه مهال به له سوريې څخه د مصري پوځ او واکمنانو ايستل اسانه کار وي.

ومې ويل تاسې پوهېږئ چې داسې نه ده او هغه څه چې تاسې وايا ست سم نه دي.

د آمورو پاچا وويل حقيقت هغه شی دی چې زه يې د خلکو په ذهن کې ځايوم او کله چې ما يو شی د هغوی په روح کې ورننه يو ست نو بيا دوی پرې باور کوي.

دوی بيا فکر کوي چې حقيقت همدا دی او دغه باور به په هغوی کې دومره کلک شي، چې که څوک د هغه پر خلاف کومه خبره وکړي نو دوی به يې ووژني.

زه د سوريې خلکو ته دغه ذهنيت ورکوم، چې هغوی بايد آزاد ژوند وکړي او آزادي هغه شی دی چې تر خوړو ډوډۍ، کور او ان تر ژوند ډېر ارزښت لري.

خلک زما د تلقيناتو پر بنسټ دغه حقيقت مني او له آزادۍ سره دومره مينه پيدا کوي چې چمتو دي، د آزادۍ په لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکړي.

هر څوک چې پر ازادۍ باور لري هڅه کوي چې نور هم قانع کړي او ډېر ژر به په ټولې سوريې کې يوازې يوه عقيده وي او هغه د آزادۍ عقيده !

د سوریې خلک نه پوهېږي چې دغه عقیده یې خیالي ده ، ځکه آزادي هغه شی دی چې د سوریې او نورو ملتونو لپاره نشته، بلکې هغه لاسوند دی چې په مرسته یې زه خلک غولوم چې په سوریه کې پاتې شم
کله چې تاسې هم سوریې ته راغلاست داخبره مو کوله چې غواړئ سوریه آزده کړئ خو په دې پلمه مو د سوریې ټول ولس پر خپلو مریيانو بدل کړی او له هغوی قلنګ اخلئ.
ومې ویل نو ته پر آزدای عقیده نه لرې؟
د آمورو پاچا وویل نه
ته چې یو ډاکټر یې نه شې پوهېدای چې هېڅ یو ټولواک په آزادۍ باور نه لري بلکې په دغو نومونو خلک غولوي چې خپل حکومت وکړي
زه د مصر خلک پوهوم چې باید آزاد شي، خو دغه آزادي تر هغه پورې نه شي ترلاسه کولای چې د مصر پر خلاف متحد شي
کله چې د سوریې خلک متحد شول نو دوی پخپل ګمان د ځان لپاره آزادي تر لاسه کوي خو خبره داسې نه ده، دوی دې ته لاره هواره وي چې زه پرې حکومت وکړم
هغوی باید د تل په شان زیار وګالي او قلنګ ورکړي، خو دومره به وي چې پخوا یې مصر ته قلنګ ورکاوه او له آزادۍ وروسته به یې زه ترې اخلم.
زه به دوی ته وایم چې تاسې د نړۍ تر نورو ملتونو نیکمرغه یاست، ځکه چې خپلواکي لرئ او هغوی به هم په دې خیالي نوم او پلمې خپل زړه خوشحالوي.
سینوهه ته پوهېږې چې یو ملت د پسونو دیوې رمې په شان دی او باید هغوی په ځینو شیانو بوخت وساتل شي چې حکومت پرې وکړای شي.
د ملت د بوختېدا یوه ښه لاره دا ده چې ورته ووایې ته آزاد یې او ددې لپاره رامنځته شوی یې چې آزاد ژوند وکړې.
خلک ساده دي هرڅه چې واوري مني یې او هغه حقیقت ګڼي، خو مهمه خبره دا ده چې یوه موضوع دومره دهغوی په غوږونو کې دومره وویل شي چې په روح کې یې ځای ونیسي.
ومې ویل آیا پوهېږې چې ستا خبرې څومره خطرناکې دي؟
که د مصر قوماندان پوه شي چې ته څه نیت لرې نو خپلې جنګي ګاډۍ به ستا د هېواد پر لور راولېږي، دغه ښار به وران کړي، تابه ونیسي او سر په څېرۍ به دې په دار وځړوي

يا دا چې طبس ته به دې بوځي او هلته به دې په دار کړي
د آمورو پاچا وويل د مصر فرعون پر ما اعتماد کوي، ماته يې د(حيات صليب) رالېږلی دی.
ما د هغه د خدای لپاره يو معبد جوړ کړی او هغه تر خپلو ځينو قوماندانانو پر ما ډېر اعتماد کوي.
اوس راځه، چې يو شی در وښييم چې ساعت دې پرې تېر شي.
د آمورو له پاچا سره د ښار د دېوال لوري ته روان شوم، هلته مې يو سړی وليد چې له دېواله يې سر په ځېږه راځوړند کړی دی.
د آمورو پاچا وويل دغه په دار شوی سړی مصری دی او که يې نه منې نو د هغه سنتېدل به دغه خبره ثابته کړي.
ومې پوښتل ولې دې دغه سړی سر په ځيږه ځوړند کړی دی.
پاچا وويل دغه سړی د مصر د فرعون د مالياتو محصل (يا ټولوونکی) و، او دلته راغلی و، چې له ما قلنګ وغواړي.
له څو کلونو راهيسې زما قلنګ ځنډېدلی او بايد د دغو څو کلونو قلنګ ورکړم.
ما ورته وويل د دغه سړي خون به ستا پر غاړه وي او ته به له سخت عذاب سره مخامخ شې، ځکه چې په مصر کې په هرشي لوبې کېدای شي خو د فرعون له محصل سره لوبې نه شي کېدای، ځکه چې هغه د مالياتو د راغونډولو کس دی.
پاچا وويل ما ورته چل برابر کړی او د دې پر ځای چې فرعون راتـه غوسه شي، له ما به خوشاله شي چې دغه مفسد محصل مې وژلی دی. ما په سوريه کې مصري واکمنانو ته لس پخې شوې لوحې لېږلې او ورته ويلي مې دي، دغه سړی چې له سوريې څخه زما هېواد ته راننوت نو په ښځو يې تېری وکړ.
دغه راز يې د سوريې خدايانو ته سپکې سپورې وويلې، زموږ په معبد کې يې ناسم کارونه وکړل.
خو زموږ په قوانينو کې يې ليکلي چې که يو سړی د ښځې له خوښې پرته پر هغې تېری وکړي او يا ورسره خپل ساعت تېر کړي، يا خدايانو ته سپکې سپورې ووايي او يا په معبد کې ګنده کارونه وکړي نو بايد ووژل شي.
څو مره چې ما د آمورو له پاچا سره خبرې کولې هغه د مصري سپاهيانو قوماندان هورم

هب ته ورته ايسېده چې ما ته يې دنده سپارلې وه له نورو هېوادونو څخه پوځي معلومات را غونډ کړم.

هغه توپير چې په دغو دوو کسانو کې و، دا و چې د آمورو پاچا د هورم هب په پرتله په عمر پوخ او تر هورم هب چلباز و.

څکه د آمورو پاچا په داسې هېواد کې واکمن و چې پخوا ددې سيمې پاچاهان د سوريې له نورو پاچاهانو سره په جنګونو بوخت ول او هغوی يې وژل.

له ګاونډيانو سره به يې دايمي اختلافات درلودل او دغه چارې پاچاهان د سياست په ډګر کې استادی ته رسوي.

له دې سره سره چې د آمورو پاچا چالاکه او زړور ښکارېده، خو ما فکر نه کاوه چې هغه دې پر ټولې سوريې د پاچاهی کولو وړتيا ولري.

هغه ته مې وويل دا منم چې په کوشنيوالي کې په مصر کې پاتې شوی يې خو د ماشومتوب له امله د مصر د فرعون پر عظمت او سترتوب نه يې پوه شوی.

تاته نه ښکاري چې فرعون ډېره شتمني لري او کولای شي ستا د هېواد پر لوري يو ستر پوځ راواستوي چې هېواد به دې درلوټې لوټې کړي.

ته بايد پر خپل قدرت مغروره نه شې، دا خيال ونه کړې چې کولای شې د مصر له فرعون سره پنجه نرمولای شې.

کله چې پر يوې کڅوړې تېل ومونښل شي، سوري يې وربند شي او بيا پکې باد پو کړای شي نو کڅوړه پړسېږي، د کڅوړې خاوند فکر کوي چې په لاس کې يې يو ستر شی دی، خو کله چې کڅوړه سوری شي او باد يې ووځي نو کڅوړه بېرته کوشنۍ شي.

ته هم د يوې کڅوړې په شان يې، له باده ډک يې، چې کله سوری شوې باد به دې ووځي.

پاچا وخندل او خپل طلايي غاښونه يې ماته راوښودل، ويې ويل که زه له باده ډکه کڅوړه يم نو د هاتي او بابل د پاچاهانو په شان متحدان لرم، چې له سوريې څخه د مصره د ايستلو لپاره زما ملګري دي.

ما ورته وويل د بابل او هاتي پر اتحاد مه تېروځه، څکه يو شغال ښايي د حيواناتو د ښکار لپاره له زمري سره يو ځای شي، خو له دې وروسته چې کوم ځناور ښکار کړي، نو د ښکار تر ټولو ښه برخه يې زمری خوري او د شغال لپاره له کولمو او لړي پرته بل شی نه پاتې کېږي.

دغه دوه پاچاهان چې له سوريې څخه د مصر د ايستلو لپاره له تا سره ملګري شوي، نيت يې دا نه دی، چې ته د سوريې پاچا شې، بلکې غواړي چې دوی پخپله د سوريې تا توبی ونيسي او په دې صورت کې ستا لپاره به د آمورو له تا توبي پرته بل شی پاتې نه شي.

د آمورو پاچا ډېر وخندل او ويې ويل سينوهه! زه غواړم ستا په شان تحصيل وکړم، چې عالم شم او ستا په شان نورو هېوادونو ته سفر وکړم چې د نورو هېوادونو د ملتونو له علمونو هم خبر شم.

خو له دې کبله چې بايد خپل هېواد اداره کړم، نو نورو هېوادونو ته د سفر فرصت نه لرم.

دغه خبرې چې ما له پاچا سره وکړې، زه يې پوه کړم چې بايد د هغه له هېواده ووځم.

ځکه چې که د مصر فرعون خبر شي چې د هغه د ماليې ټولوونکی يې وژلی نو پر آمورو به حمله وکړي او په داسې وخت کې په آمورو کې زما شتون مناسب نه دی.

ښايي د آمورو پاچا به له مصريانو سره د ډېرې کرکې له امله ما ووژني.

نو پر بله ورځ مې پاچا ته وويل څو ورځې کېږي چې ستا مېلمه يم او له دې زيات نه غواړم ستا له مېلمه پالنې ناسمه استفاده وکړم.

که ته يو روان تخت راکړې، زه به ازمير ته ولاړ شم، خو هلته به هم پاتې نه شم، بلکې مصر ته به ستون شم، ځکه چې د نيل د اوبو د څښلو هيله لرم.

ما رښتيا ويل فکر مې کاوه چې بايد مصر ته ستون شم او د پرديو هېوادونو په اړه د خپلو تحقيقاتو نتيجه د مصر د لښکر قوماندان هورم هب ته ورکړم.

د آمورو پاچا وويل هغه مرغه چې ځاله نه جوړوي هېڅکله ارام نه وي خو په نورو هېوادونو کې تر ګرځېدا او د نړۍ له سيله تېر شې او په آمورو کې پاتې شې.

او که ته غواړې دلته پاتې شې، زه به درته يو کور جوړ کړم او د دې ښار يوه ښکلې نجلۍ به درکړم چې هغه خپله مېرمن کړې.

ما په ټوکو ورته وويل د نړۍ تر ټولو بد هېواد آمورو دی او ستا د هېواد له ښځو د زړو وزو بوی راځي، زه نه غواړم چې په دغه هېواد کې پاتې شم.

پر دې سربېره ډېره موده وشوه چې له مصره لېرې يم، وطن را ياد شوی او غواړم ستون شم چې د نيل د غاړې د هيليو او غازانو آوازونه واورم.

د مصري خرما د ونو تر سيوري لاندې کېنم، د نيل د ماهوګانو سندرو ته غوږ ونيسم،

د مصر ګرم لمر مې پر ولیو ولګېږي او بیا دارالحیات ته ولاړشم، د مصر ځوان محصلین له خپلو طبي معلوماتو خبر کړم چې د دارالحیات علمي ارزښت وساتل شي چې د نړۍ تر ټولو ستر ښوونځی دی.

د آمورو پاچا وویل له دې سره سره، چې نه غواړم ته له دې ځایه ولاړشې او ته هم نه غواړې چې پاتې شې، نو ستا لپاره به روان تخت برابر کړم، یو شمېر عسکر به هم درسره واستوم چې تا ازمیر ته ورسوي، ځکه چې د مصریانو پر خلاف د سریانیانو غوسه دومره سخته شوې چې ښايي په لاره کې تا ووژني.

ما چې په جنګي ګاډيو کې سفر نه شو کولای نو په روان تخت کې د آمورو له پلازمینې روان شوم او د پاچا عسکرو ازمیر ته ورسولم.

ازمیر ته چې ورسېدم کاپتا ته مې وویل د هر ژر، دغه کور خرخ کړه، ځکه چې له دې وروسته د ازمیر او سوریې چاپېریال زموږ او نورو مصریانو لپاره خطرناک دی، موږ باید ستانه شو.

اوه ويشتم څپرکی

د هورم هب د ليدو لپاره مصر ته ستنېدل

زه مصر ته د ستنېدا لپاره د خپل سفر په اړه ډېر څه نه وايم ،يوازې دومره وايم چې کله بېړۍ حرکت وکړ، نو هر څومره چې مصر ته نژدې کېدو ما د بې صبرۍ ډېر احساس کاوه او کرار نه شواى پاتې کېدلاى او تل مې دبېړۍ پر غولي چکر واهه.

زما بيړه وه چې هرڅومره ژر وشي مصر ته ورسېږم کله چې بېړۍ دمصر په ساحلي ښارونو کې لنګر اچاوه، نو ما د هغو ښارونو د ژوند د حالاتو په اړه مطالعه نه کوله ځکه چې ستومانه شوى وم.

ان د سوريې د غرونو رنګ چې د لمر لوېدو په وخت ارغواني کېدل زه يې نه هيجاني کولم.

په سوريې کې پسرلى شوى و، توتکيو په اسمان کې الوتونه کول، سندرې يې ويلې او کله چې مو په بندري ښارونو کې دمه کوله نو د هغو غږ به مې احساساوه چې پر سر به مې ګرځېدلې.

د بعل د خداى (د سوريې د خداى) کاهنان د پسرلنيو شيانو د ټولولو لپاره په کوڅو کې نارې وهلې او مخونه يې شوګارې کول.

د دوى تر شا ځوانو نجونو او ښځو ګاډۍ راکاږلې او هغه ډالۍ به يې پکې اچولې چې خلکو به د بعل خداى لپاره ورکولې.

خو له دې کبله چې زه مصرته ستنېدم او دغو شيانو راته ارزښت نه درلوداو زړه مې نه غوښتل چې ان يو ځل دې هم دغه منظرې وګورم ځکه يو ځل مې پخوا هم ليدلې وې.

هغه مهال چې ما غوښتل مصر ته ستون شم، د هغه پوه په شان وم چې پر يوې ښځې مين شوى او بايد د هغې ښځې ليدو ته ور شي.

يا بايد همدغه ښځه دده کورته راشي او دغه پوه او عالم نور نه شي کولای د پاپيروس(مصري کاغذ چې له يو ډول بوټي جوړېده) پر پاڼو ليکلي شيان ولولي او که يې ولولي نو له هغو علمونو څه نه شي زده کولای چې پر دغو کاغذونو ليکل شوي وي او تر هغه وخته همداسې چې دغه ښځه ويني له هغه وروسته يې حواس متمرکزې شي او کتاب ولوستلای شي.

زه هم ددې لپاره چې مصر ته روان وم د خپل هېواد ليدو ته ورتلم نو د سوريې د ښارونو د منظرو او ددې سيمې د خلکو د دودونو او رواجونو له کتو بېزاره وم.

ما غوښتل خان طبس ته ورسوم او د شپې په پيلېدا سره د ښار په کوڅو کې قدم ووهم، د ختينو کورونو په مخکې تېر شم، هغه منقلونه وګورم چې د کورنو په مخکې يې ايښي او کبان پرې سره کوي.

زړه مې غوښتل چې ژورې ساګانې وکاږم او د کبانو بوی احساس کړم.

د مصر د شرابو جامونه تش کړم او د نيل او به بوی چې د چيکړو بوی يې ځي او دا بوی زما د پر زيات خوښېږي.

غوښتل مې د پر ژر مصر ته ورسېږم چې د نيل پر غاړه په شنو شويو پاپيروسونو ګامونه کېږدم او د نيل سيند پر ساحل د وحشي ګلانو خوږ ورږم احساس کړم.

کله چې لمر راخېژي او وړانګې يې د آمون د معبد پر رنګارنګ ستنو پرېوزي، نو زه د هغه الواني وړانګې وستايم.

لکه چې پخپل بر خليک کې مې ويلي له دې سره سره چې په طبس کې بدبخته شوی يم، خو د وخت تېرېدا پر دغې بدبختۍ د هېريدا دوړې پرې ايستې وې او هغه وخت چې مصر ته ستېندم نه مې ځان نيکمرغه احساساوه او نه بدمرغه، بلکې د وطن درد مې درلود او غوښتل مې ولاړ شم هغه ځای ووينم چې ما پکې ستر ګې پرانيستلې، پکې لوی شوی يم او ځان مې پکې پېژندلی دی.

کله چې د سينا صحرا ته ورسېدو، له دې سره سره چې پسرلی و، مګر بيا هم هغه باد چې د وچې له لورې پر سمندر لګېده، ګرم و او زموږ مخونه يې وسوځول، ځکه د سينا صحرا د نړۍ تر ټولو ګرمه سيمه ده.

له دې وروسته چې يوه موده مو د سينا د سور رنګه سواحلو په څنډه کې سفر وکړ ،هغه ځای ته ورسېدو چې د سمندر رنګ ژېړ شو.

مانوګانو پر پړي تړلې يو منګې سمندر ته ورکوز کړ او له هغې خوا يې پکې اوبه را وکښلې.
ما چې وڅښلې نو احساس مې وکړ چې اوبه خوږې دي او د نيل د سيند د چيکړو بوی يې خي.
کله چې د نيل خوږې او له چيکړو ډکې اوبه سمندر ته رسېږي نو له تروو اوبو سره ژر نه حل کېږي.
پر دې ورځ چې کله ما د نيل اوبه وڅښلې خپل مريي کاپتا ته مې وويل د غه اوبه زما له نظره د نړۍ تر غوره شرابو خوږې دي.
خو کاپتا وويل هر چېرته اوبه شته او که د نيل اوبه هم وي د شرابو ځای نه شي نيولای.
ما وويل زه د دې اوبو پر څښلو ځکه خوشحال شوم چې پوهېږم مصر ته را رسېدلي يو.
کاپتاوويل ، که مصرته ورسېدو زه تصور نه کوم چې زما د ژوند حالت دې بدل شي، ځکه زه يو مريی يم، که په مصر کې يم يا په بل ځای کې نو زما لپاره توپير نه لري.
ماوويل کاپتا زموږ اوږدو سفرونو سپين سترګی کړی يې، ان تر دې پورې چې کله مې هېر شوی يې، چې ګني ته زما مريی يې.
داسې ځواب راکوې چې هر څوک يې واوري فکر کوي چې دا ستا حق دی چې له ما سره همداسې خبرې وکړې.
که په مصر کې وای نو د نيل له څنډو مې يوه لښته راوړله او پر ملا او ولېو مې څو ګوزارونه درکول چې پوه شوی وای چې ته زما مريی يې او حق نه لرې چې له خپل بادار سره د غسې بحث وکړې.
کاپتا دواړه لاسونه پر زنګنو کېښودل او رکوع يې وکړه ، بيايې وويل زما باداره !: ته هم ډاکټر يې او هم هنرمند خطيب او وينا وال.
ته پوهېږې چې کله او څنګه له خولې خبرې وباسې او هغه څه چې تا اوس وويل ماته يې ستا لکړه او د نيل د څنډو د ونو لښتې راپر زړه کړې.
پوهېږم چې د لکړې او لښتې ګوزار د سيند له چيکړو اوبو ، د هيلېو له سندرو ، د سروشويو کبانو له بويونو او د طبس د معبدونو د بړاس له ښکلي بويه مشهوردی.
ځکه دا يو زړ کاله کېږي چې مريبانو ته په لکړو او لښتو سزا ورکوي، ددغو لښتو له زوره په مصر کې هرڅه پر خپل حال پاتې دي او هېڅ شی له خپل ليمځي څخه پښه نه غځوي

له دې سره سره چې د مصر د جوړېدا زر کاله کېږي، خو هېڅ شی په کې نه دی بدل شوی.

اوس پوهېږم چې باید د لښتې او لکړې ګوزارونه وخورم، ځکه اوس مې باور دی چې مصر ته رسېدلي یو.

زموږ اوږده سفرونه چې ما د ېر څه پکې زده کړل، پای ته ورسېدل... اوه... اې د نیل د څنډو د بانسونو لښتې، د مصر خدایان دې برکت در کړي، ځکه هر چاته ادب ور کولی شې چې تر خپل لېمځي پښې اوږدې نه کړي او ددې مخه نیسې چې څوک پر چاتېری وکړي.

له دې خبرو وروسته کاپتا له د ېر غمه په ژړا شو او بیا د بېړۍ په یوې څنډه کې کېناست او تر هغه وخته ویده و، چې زموږ بېړۍ بندر ته رسېده.

کله چې بېړۍ د نیل سیند ته ورسېده، د بندر په څنډه کې و درېده او زما سترګې پر مصري پنډیانو ولګېدې چې له یوه لنګ پرته یې بله جامه پر تن نه وه.

ما ولیدل چې ډېرې یې خریلې دي او دلته متوجه شوم چې د سریانیانو له اوږدو جامو او کاږګوټې ډېرو مې کرکه کېده.

سوریه کې نارینه او ښځې ټول چاغ ول، په داسې حال کې چې د مصر نارینه او ښځې ټول نري اندامونه لري. پر ما باندې ان د جوالیانو د بدن د خولو بوی خوږ لګېده.

همدا چې زما او کاپتا نومونه یې ولیکل کاپتا ځان د سوریې معرفي کړ، چې څوک ورته مزاحمت ونه کړي (ځکه چې کاپتا تښتېدلی و).

له بېړۍ چې راکوز شوو، ما خپلې پشمي سریاني جامې و ایستلې او د مصر کتاني جامې مې واغوستلې.

له دې وروسته چې دوه ورځې مو په بندر کې استراحت وکړ په یوې بېړۍ کې سپاره شوو چې طبس ته تله.

له هغه وروسته د نیل پر سیند زموږ سفر پیل شو.

موږ د ېره موده د نیل سیند منظرې نه وې لیدلې، نو پر همدغې ورځ مو له سهاره تر بېګا ښې او کیڼ لوري ساحل ته کتل.

د هیلیو او غازانو له اوازونو او دهغو لوخو کلیوالو له لیدو مو خوند اخیست چې خپل غوایي به یې دقولبې لپاره بیول.

کله چې به کشتۍ په یوه بندر کې و درېده، کاپتا به یوې ساقي خانې ته ولاړ او مصري

بير (داوربشو اوبه) به يې ځنبل. ده به ساقي خانه کې ناستو خلکو ته په نورو هېوادونو کې د خپلو سيلونو کيسې کولې او هغوی به د کاپتا خبرو ته داسې حيران شول چې د مصر خدايانو ته يې پناه وروړله.

څومره چې طبس ته نژدې کېدو د نيل د دواړو غاړو اوسېدونکي زياتېدل.

طبس ته نژدې کلي او باندې له يوه بل سره ننښتي ول.

يو وخت د نيل په ختيز کې درې غرونه راڅرګند شول، چې ته وا د طبس ښار درې ساتونکي دي، ورپسې د ښار ستر دېوالونه او له هغه ورها خوا د آمون ستر معبد او سپېڅلی ډنډ رابښکاره شول.

کله چې ما د نيل سيند په لوديزه څنډه کې د اموات (مړيو) ښار وليد خپه او غمجن شوم.

ومې ويل د مړيو ښار هغه ځای دی، چې کله مړي موميايي شول هلته يې ښخوي.

د مصر د ټولو فرعونيانو او ملکو قبرونه هلته ول او د هغوی په هديره کې سپين رنګه وداني ځېلېدې.

د مصر د هرې ملکې د قبر پر وړاندې يوه ونه کرل شوې چې د غه ونې د پسرلي په موسم کې (هغه فصل چې مور مصر ته ننوتو) ګلان کوي.

زه څکه د مړيو د ښار په ليدو خپه شوم چې خپل مور و پلار مې را ياد شول چې د غوايي په پوستکي کې د يوه فرعون قبر ته نژدې ښخ شوي دي.

ما د هغوی قبر د يوې حريصې ښځې د مينې له امله خرڅ کړی و او هغوی مې پخپل قبر کې نه شو خښولای.

ما دوی ته نوی قبر هم نه شو اخيستلای چې په بلې دنيا کې بې کوره نه وي.

په سوېل کې چې د نيل سيند کږېږي د فرعون مانۍ د شنو ونو په منځ کې ځلېږي چې طلايي رنګ.

زه شکمن وم چې ايا د مصر د لښکرو قوماندان هورم هب به لا هم په دې مانۍ کې اوسېږي او کنه؟

کله چې زه له مصره تلم هغه يو پياوړی سړی و، او فرعون ته ډېر نژدې و، خو هېڅوک له قضا او قدره خبر نه وي او نه پوهېږي چې هغه کس چې نن باچا ته نژدې دی سبا د غه نژدې والی له لاسه ورنه کړي؟

زموږ بېړۍ د طبس په بندر کې هغې سيمې ته نژدې و دربېده چې زه پکې لوی شوی وم. ما ناڅاپه داسې احساس وکړ چې زه ماشوم يم او ځان مې د ماشومتوب د هميشنيو منظرو په منځ کې ليده.

د کوچنيوالي او ځوانۍ د خاطرو را يادېدلو هم خوشحاله او هم خپه کړم.

د پلار و مور په حالت د پر خواشينی شوم، ځکه هغوی ټول عمر ځانونه له کړاو او مصيبتونو سره مخامخ کړل چې وکړای شي ماته سواد را زده کړي او ښوونځي ته مې ولېږي، خو د ځوانۍ او د يوې ښځې د وسوسې له امله ما له هغو سره خيانت وکړ او د هغوی قبر مې خرڅ کړ.

داسې وشرميدم چې غوښتل مې مخ پټ کړم، چې طبس مې ونه ګوري او ونه وايي چې دا دی هغه نمک حرامه سينو هه چې خپل مور و پلار يې په بله دنيا کې بې کوره کړل.

تر دې وړاندې چې طبس ته ننوځم په دې ښار کې د ژوند کولو لپاره مې خاص او معلوم پلان نه درلود، ځکه چې هلته زما ژوند کول په هورم هب پسې تړلی و چې ويې وينم او پوه شم چې هغه به زما د راپور له ترلاسه کولو وروسته څه ووايي؟

خو کله چې مې په ښار کې ګام کېښود، پوه شوم چې زه به بيا هم په دې ښار کې د پخوا په شان ډاکټر شم. خو يو مشهور او ستر ډاکټر نه بلکې هغسې ډاکټر چې د بېوزلو په سيمه کې ژوند کوي او د بېوزلو او خوارو کسانو معالجه کوي.

ما دانيت نه درلود چې په پرديو هېوادنو کې تر لاسه کړي معلومات د خپل شهرت او شتمنېدا و سيله وګرځوم، بلکې نيت مې کړی و چې د بېوزلو په سيمه کې ژوند وکړم او احساس مې وکړ چې خوشحاله او هوسا شوی يم.

که زما پر ځای بل ډاکټر وای او په نورو هېوادونو کې يې دومره معلومات ترلاسه کړي وای، نو طبس ته له ستنېدا وروسته يې په يوې شتمنې سيمې کې اړول او د خپل کور پر سر به يې يوه لوحه ځوړنده کړې او خپل نوم به يې پرې ليکلی چې ټول پوه شي دغه ډاکټر تر ټولو غوره دی او هغه کسان چې د معالجې لپاره ورځي بايد ګران بيه ډالۍ ورکړي.

ما غوښتل د بېوزلو په محله کې ژوند وکړم او نوم ورکی پاتې شم او له دې امله مې ځان راضي احساساوه.

دغه موضوع د دې ښوونه کوي چې ځينې وخت موږ د خپلې غوښتنې په اړه هم تېروتنې کوو او نه پوهېږو چې څه غواړو په ټوله نړۍ کې ګرځو او له يوه هېواده بل ته ځو، په سرو

او سپينو علم ترلاسه کوو، چې وطن ته له ستنېدا وروسته د يوه شتمن په شان ژوند وکړو او خپل دغه پرتم نورو ته هم وروښيو، خو له ستنېدا وروسته په حيرانۍ سره ګورو، هغه څه چې موږ هوسا او ارامولي نو د ښار په يوې څنډه کې ګمنامه ژوند کول دي.

د بندر جواليان پر موږ راتاو شول، چې له بېړۍ څخه زموږ بار راکښته کړي او يوه ميلمستون ته يې يوسي.

دوى تمه درلوده چې له موږ څخه ډېره اجوره واخلي، ځکه هر چېرته دود دا وي چې کله يُو مسافر کوم ښار ته ځي نو جواليان ترې ډېرې پيسې اخلي.

خو ما کاپتا ته وويل چې نه غواړم مېلمستون ته ولاړ شم او جواليانو ته ووايه چې زموږ بار. بسترہ له بېړۍ څخه نه باسي. کاپتا وويل، ايا ته نه غواړې چې په دې ښار کې پاتې شې؟

ومې وويل. ته بې له ځنډه ولاړ شه او د بېوزلو په محله کې يو کور راته واخله. دغه کور تر ډېره حده بايد زما د مور و پلار پخواني کور ته نژدې وي، کور بايد نن واخلې چې زه سر له سبا هلته طبابت وکړای شم.

کاپتا په دې خبرې ډېر خپه شو، ځکه چې تصور يې کاوه موږ به په يوه ميلمستون کې ايسار شو او مريبان به دهغه چوپړ کوي، خو نيو که يې ونه کړه، سر يې ښکته واچاو او ولاړ.

پر همغې شپه زه پخپل نوي کور کې چې پخوا د يوه مسګر کور و او د بېوزلو په سيمه کې و پر ځمکه کېناستم.

په شاوخوا کورونو کې او په چم ګاونډ کې ښځو د کورنو په مخکې په منقلونو کې کبان سره کول او له ټولې سيمې څخه د سرو کړيو کبانو بوى لتېده.

چې شپه پخه شوه د عمومي ځايونو چراغونه روښانه شول او له منځه يې د سريانو موسيقۍ سندرې واوريدل شوې.

د مستو ماڼوګانو غږونه پورته شول او چې اسمان ته به مې کتل نو د ښار د څراغونو د رڼا له کبله سور بخونه شوی و.

زه له اوږدو کلونو وروسته چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په سفر او د معلوماتو په ټولولو بوخت وم. خپل لومړني ځاي يانې خپل کور ته ستون شوى وم.

حيران وم چې په سوريې، بابل او کرت کې مې هغه ښکلې منظرې وليدې، معطره تېل

مې بوي کړل، خو ولې د سرو کړيو کبانو بدبوی او د ګاونډيانو د بېوزلۍ او لوږې منظرو خوند راکاوه.

د بلې ورځې پر سهار مې کاپتا ته وويل يوه ساده او بې انځوره لوحه زما پر کور ولګوه چې خلک پوه شي . دا ديوه ډاکټر کور دی.

هغو ته مه وايه چې زه يو مشهور ډاکټر يم بلکې يوازې زما نوم واخله او توضيح ورکړه چې دغه ډاکټر بېوزله ناروغان ګوري، هر څوک کولای شي له خپل وس سره سم فيس ورکړي.

کاپتا وويل زما باداره ! ته يو مشهور ډاکټر يې او نورو هېوادونو ته د سفرونو په ترڅ کې دې ډېر معلومات راغونډ کړي نو ولې ځان د بېوزلو ډاکټر جوړوې ؟

ما وويل کاپتا ! کومه خبره چې زه درته کوم، هغه ومنه ، زما امر اجرا کړه ګني زما له کوره بهر شه، هرډول چې غواړې ژوند وکړه.

زه پوهېږم چې له مادې دومره غلا کړې چې نن پرې کور اخيستلای شې او يوه ښځه پرې کولای شې.

کاپتا وويل زما باداره ! که ته تبه ونه لرې دغسې خبرې نه کوې.

بله دا چې زه داسې سړی نه يم چې ښځه وکړم ، تل په کورکې له هغې سره جنګ وکړم، دا زما ډوډۍ وخوري او د جنګ په وخت کې مې په لکړې او لښتې ووهي.

کله چې انسان کولای شي آزاد ژوند وکړي او په هوساينه کې وخت تېر کړي، زما په نظر ښځه کول لېونتوب دی.

خو له دې کبله چې ته زما باداريې که ته پر پوزي خملې زه به هم پر پوزي درسره خملم خو خپله خواشيني هم نه شم پټولای ځکه ستا کار ته چې ګورم نو لېوني ته پاتې کېږې.

يوازې لېونی. مرغلره تر خوشيو لاندې پټوي او ته هم خپل علم او پوهه د بېوزلو تر جنډو لاندې پټوې.

ما وويل کاپتا کله چې انسان نری، ته سترګې رڼوي، نو که خان وي او که بېوزله خو لوڅ لغړ وي ، او په نارغيو کې هم بېوزله او شتمن توپير نه لري دواړه کړاو زغمي او بايد دواړه معالجه شي.

کاپتا وويل هغه ډالۍ چې يو شتمن يې له معالجې وروسته ورکوي ديوه بېوزله له ډالۍ سره ډېر توپير لري.

که زه له فطري پلوه مريې واى او له زوکړې سره مريې ګڼل کېدای ستا دغه نظربه مې منلی و، خو له دې کبله چې لومړی ازاد وم او بيا غلام شوم دانه شم منلی چې بېوزله او شتمن د انسانانو له نظره يو شان دي.

ومې ويل کاپتا ! زه بېوزله او شتمن ناروغ ته په يوه سترګه ګورم او ستا د معلوماتو د زياتولو لپاره بايد ووايم چې که بې مور و بې پلاره ماشوم پيدا کړم نو هغه د خپل فرزندي اولاد په توګه روزم.

کاپتا ووېل، دغه کار ګټه نه لري ځکه چې بې مور و بې پلاره ماشومان په ځانګړو معبدونو کې ساتي.

هغوی تيټ رتبه کاهنان کېږي او ځينې، خو خصيان کوي او د شتمنو کورنو ته يې لېږي چې نوکران او يا د هغوی د ښځو ساتونکي شي.

دغه خصي ماشومان (خوجګان) د خانانو په کورونو کې هغسې ښه ژوند کوي چې که يې پلرونه ژوندي واى نو د هغوی په کورنو کې به يې نه درلود.

که ته کوم ماشوم غواړې نو واده مه کوه او له هېڅ يوې ښځې سره منګى مه ماتوه. ته له هغو پېغلو څخه چې له ورونو پرته بلار بېږې وغواړه چې له زوکړې وروسته خپل ماشوم تا ته درکړي.

هغه به لس ځله د آمون له خدايه شکر وکړي چې ته يې ورسره مخامخ کړې او ماشوم ترې غواړې او لو يوې يې.

که نه غواړې چې له يوې بې مېړه ښځې څخه د هغې زوي واخلې نو يوه ځوانه وينځه واخله چې هم درته بچى وزېږوي او هم له ما سره په کارونو کې مرسته وکړي.

ځکه چې زه بوډا شوی يم او د کور کارونه راته سخت شوي دي او کله کله مې لاسونه رېږدي ، که تا کومه وينځه واخيستله نو تر هغه وروسته به زه هم په کور کې کار کوم او هم به خپلې پيسې په کارو بار واچوم چې ګټه راته وکړي.

ما ورته وويل زه نه غواړم چې کومه وينځه وپېرم، خو ته کولای شې د کور د کارونو لپاره يو نوکر ونيسې او ته پخپله زما په کور کې استراحت وکړې.

دا به ستا د تېرو خدمتونو او وفادارۍ انعام وي.

زه پوهېږم ته به په دغه ښار کې ساقي خانې ته ولاړ شې ، او کولای شې هغه خبرې ماته هم راوړې چې ته يې هلته اورې ځکه چې له ساقي خانې پرته په هېڅ ځای کې خلک دومره

صمیمي مجلس نه کوي.

د هر کسان چې هېڅکله خپل باطن نه څرګندوي، خو کله چې شراب وڅښي په خبرو راځي او هغه څه وايي چې په زړه کې يې لري.

له دې خبرې وروسته زه له کوره ووتم چې يو پخواني ملګری پیدا کړم او د مصر د پوځ قوماندان هورم هب ولټوم.

په دې لړ کې هغې ساقي خانې ته ولاړم چې زما هنرمند ملګری توتمس به هلته ورته ما د هغه پوښتنه وکړه.

شراب پلورونکي راته وويل، نه پوهېږم چې هغه چیرته دی او څه کوي، ځکه چې له يوې مودې راهیسې دلته نه راځي، خو تر دې وړاندې چې ورک شي د پیشوګانو انځورونه يې ایستل.

ما په حیرانۍ سره وپوښتل، ولې يې د پیشو ګانو انځورونه ایستل؟

د ساقي خانې خاوند وویل هغه مجبور و، له دې لارې يې پیسې ګټلې، ده په هغو کتابونو کې د پیشوګانو انځورونه ایستل چې ماشومان يې په ښوونځي کې لولي.

زه له ساقي خانې را ووتم او د عسکرو کور (پوځي چوڼۍ ـ ژباړن) ته ولاړم چې هلته هورم هب ووینم.

خو هلته چې ورغلم ومې لیدل چې د سپاهیانو په کور کې لږ کسان اوسي.

اوس د پخوا په شان عسکر په انګړ کې نه پهلواني کوي او نه نښې ولي.

په انګړ کې يو افسر ولاړ و، پوښتنه يې راځخه وکړه چې دلته څه غواړې او ولې راغلی يې؟

ما ترې پوښتنه وکړه، چې آیا هورم هب هلته دی او که دلته نشته چیرته يې پیدا کولای شم.

صاحب منصب چې کله د هورم هب نوم واورېد سر يې ټیټ کړ او زه دده له درناوي ځخه پوه شوم چې هورم هب لا هم د پوځ مشر دی.

له هغه مې پوښتنه وکړه چې ایا هورم هب لا هم د پوځ قوماندان دی کنه؟

صاحب منصب وویل هو ! هغه د پخوا په شان د مصري سپاهیانو مشر دی خو اوس دلته نشته او کوش ته تللی دی چې د هغه ځای چوڼۍ له منځه یوسي او هغه سرتېري رخصت کړي چې په دې چوڼۍ کې دي، خو دا معلومه نه ده چې کله به راستون شي.

ما د غه صاحب منصب ته یوه کړۍ سپین زر ورکړل او هغه د سپینو زرو د دې کړۍ په لیدو حیران شو. نور یې کبر پرېښود ما ته یې وخندل او ویې ویل، هورم هب یو ستر قوماندان دی او پرې چې پوهېږي چې عسکر څه غواړي او څه ډول چلند ورسره وکړي؟

خو فرعون د یوه پسه په شان دی، د عسکرو له حالاتو خبر نه دی او پام ورته نه کوي.

له همدې امله کله چې اوس هورم هب دلته نشته، نو لکه چې ګورې د عسکرو کور تش دی، عسکر تللي چې خیرات ټول کړي او خپله خېټه مړه کړي.

له دې کبله چې زه تر ټولو ټیټ رتبه افسر یم، د ګدایي لپاره نه شم تللی، زه له آمونه غواړم چې د سپینو زرو د دې کړۍ له امله تا بختور کړي.

ځکه ځو میاشتې کېږي چې زه ساقي خانې ته نه یم تللی، چې د وربشو اوبه وڅښم. خو نن به شراب پلورنځي ته ځم او هلته به ښه ډېر وڅښم.

تر دې وړاندې چې یې موږ عسکري ته راوستو نو ژمنه یې راسره وکړه چې که سپاهیان شوو، ډېر سره او سپین به ترلاسه کړو او ځومره ښځې چې وغواړو موږ ته به رسېږي، خېټې به مو تل له خوړو او د اوربشو له اوبو ډکې وي.

د سپاهیانو له کوره چې راووتم دارالحیات ته ولاړم، چې هلته د فرعون د کوپړۍ سورۍ کوونکي ووینم. خو هلته یې راته وویل چې کوپړۍ سورۍ کوونکی دوه کاله مخکې مړ شوی او مړی یې د اموات (مړیو) په ښار کې ښخ کړی دی.

په دارالحیات کې چې له ما سره کومې خبرې وشوې، پوه شوم چې فرعون د خپل خدای په پیروۍ چې اتون نومیده، هغه عسکر چې دده پلار اجیران کړي ول رخصت کوي.

د فرعون استدلال دا و چې وایي په سوله او ورورګلوۍ کې به ژوند کوي او عسکرو ته اړتیا نشته.

ددې ژوند لیک په پیل کې مې ویلي ول، چې دارالحیات د آمون په معبد کې دی او له دې کبله چې په معبد کې وم، غوښتل مې د معبد حالت هم وګورم، چې د ځوانۍ خاطرې را په زړه کړم.

هلته مې ولیدل چې کاهنانو خپل خرېیلي سرونه غوړ کړي، سپینې جامې یې اغوستې او وارخطا دي.

کله چې یې خبرې کولې شا وخوا یې کتل او داسې ښکارېده چې وېرېږي، ځوک یې خبرې وانه وري.

دوی چې زه ولیدم نو په شکمنو سترګو یې تېز تېز راته وکتل او ښایي فکر به یې کړی وي چې ګني زه جاسوس یم.

زه په آمون معبد کې د مصر د پخوانیو مجسمو تر مخې تېر شوم او د معبد وروستۍ برخې ته ورسېدم او هلته مې په حیرانۍ سره ولیدل چې یو نوی معبد یې جوړ کړی دی.

کله چې زه دآمون په معبد کې وم، هغه مهال دغه عبادتځای نه و، نو راته معلومه شوه چې دغه معبد له طبس څخه زما له تلو وروسته جوړ شوی دی.

کله چې دغه معبد ته ننوتم ومې لیدل، چې دېوال نه لري بلکې یو تش انګړ دی چې شا و خوا یې لوړې ستنې درولې دي، د انګړ یوه خوا خلاصه ده یانې ستنه نه لري او د معبد محراب همغلته دی.

محراب ته نژدې شوم ومې لیدل ددې پر ځاي چې قرباني شوی پسه او نور سپېڅلي شیان په محراب کې کېږدي، هلته یې ګلان، میوه او غنم ایښي دي.

پر محراب یې یو ډبرین حکاکي شوی انځور کېښل شوی چې د آتون خدای یې د یوې دایرې په شان ښودلی. له دایرې څخه شاوخوا ته وړانګې تللې، په یوه لاس پای ته رسي او هر لاس د حیات صلیب کلک نیولی دی.

ددې معبد کاهنانو سپینې جامې اغوستې وې، سرونه یې هم نه و خریيلي او ټول ځوانان ول.

کله چې زه دې معبد ته ننوتم کاهنان د محراب شاوخوا ته را ټول شوي و او سپېڅلې سندره یې ویله.

غوږ مې ونیو ګورم چې د سندرې ټون مې په غوږونو کې اشنالګېږي او هغه مې د سوریې په اورشلیم کې اورېدلې وه.

خو ددغه معبد په ټولو شیانو کې تر ټولو عجیب شی د فرعون مجسمه وه چې د ستنو په سر کې لیدل کېده.

ما ستنې وشمېرلې، ومې لیدل چې شلو ښت ستنې دي او په هرې ستنې د فرعون داسې ډبرینې مجسمې جوړې شوې چې دده تر بدن لویې دي.

مجسمې یې داسې جوړې کړې چې فرعون دواړه لاسونه پر سینې ایښي دي، په یوه لاس کې یې متروکه او په بل کې یې سلطنتي لکړه ده. مجسمې ټولې محراب ته ګوري او زه نه پوهېدم چې کوم مجسمه جوړونکي دغه طرحه ورکړې او هغه یې د خپلو شاګردانو

په وسيله جوړې کړې دي.

خو په دې پوهېدم چې مجسمه جوړونکي قصداً د فرعون د اندام ټولې نيمګړتياوې اپوته ښودلې دي.

مثلاً، فرعون د ښګر لاسونه او پښې لري خو په مجسمې کې يې لاسونه او پښې هومره غټې غټې جوړ کړي چې ته وا د فرعون لاس او پښې ژې دي او له باده ډک شوي دي.

چې د بدن له غړو ورتېر شو مجسمه جوړونکي د فرعون څېره، هم مسخ کړې وه.

ټولو پخوانيو مجسمه جوړونکو او هنرمندانو چې د پخوانيو فرعونيانو مجسمې يې جوړې کړي، هڅه يې کړې وه، چې مجسمه د هغه له اصل سره يو شان وي.

څوک چې زړکاله وروسته هم دغه مجسمه ګوري پوهېږي چې دغه فرعون څه ډول و؟ خو هغه هنرمند چې د دې معبد مجسمې يې جوړې کړې، نو دې ورته والي ته يې هېڅ توجه نه ده کړې.

کله چې څوک فرعون په لويو او کوچنيو زاويو، وتليو غومبورو او اوږد مخ وګوري نو ترې ډارېږي.

که زما ملګرى توتمس دلته واى او دغه مجسمې يې ليدلې واى نو ويل به يې چې، دا نوى هنري مکتب دى او په نوي هنر کې د خلکو او شيانو انځور او شکلونه بايد د هغوى له اصل سره توپير و نه لري بلکې هنرمند چې يو شى او يا يو کس هر ډول ويني بايد انځور او مجسمه يې هم هماغسې وباسي.

يوه بل شي چې زه يې حيران کړم، دادى چې څه ډول د مصر فرعون (څلورم آمن هوتپ) موافقه کړې چې د هغه مجسمې داسې جوړې شي. ايا هغه خپل ځان همداسې ليده، ځکه خو يې پر مجسمه جوړونکو نيوکه نه ده کړې او هغه يې د هغو کسانو په شان چې کفر يې کړى دى په دار نه دى پورته کړى؟

زه پوه شوم چې په نوي معبد کې ليدونکي ډېر نه دي او نندارچيان په دوو ډلو وېشل شوي دي.

يو شمېر هغه کسان دي چې د کتان جامې يې اغوستې او د سرو زرو زنځير يې په غاړه کې دى.

دا د مصر درباريان ول، دوى پوهېدل چې فرعون نوي معبد ته توجه کوي نو د چاپلوسۍ او غوړه مالۍ لپاره دغه معبد ته راتلل.

دویمه ډله نندارچیان او عام خلک دي چې په حیرانۍ سره یې د کاهنانو سندرو ته غوږ نیولی و، ځکه چې د هغو په مانا نه پوهېدل او د سندرې تون او اهنګ ورته عجیبه ښکارېده.

دوی له ماشوموالي راهیسې له هغو سندرو سره عادت شوي ول چې د مصر په معبدونو کې د هرمونو له جوړېدا راهیسې ویل کېدې دغه سندرې د دوي په ارواوو کې داسې اخښل شوې وې، چې که یې په خوب کې هم اورېدې نو په مانا یې پوهېدل خو نوې سندرې د هغوی د روح او غوږونو لپاره نا اشنا وې

له دې وروسته چې سندرې وویل شوې یو سړی چې له ظاهري څېرې کروندګر او له بیدیا راغلی ښکارېد، کاهنانو ته ورنژدې شو او له هغوی یې پوښتنه وکړه، ایا شونې ده یو طلسم او یا د قرباني شوي پسه او غویي سترګه چې خطر لېرې کوي ده ته په ارزانه بیه چې له ځان سره یې یوسي او له خطرو خوندي شي.

کاهنانو د هغه سړي په ځواب کې وویل، د آتون خدای طلسم او د قربانۍ سترګه نه خرڅوي او هغو ته اړتیا نه لري، بلکې هر څوک چې پرې عقیده وکړي، د هغه ملاتړ کوي او بې له دې چې ډالۍ ورکړي هغه ساتي.

کله چې سړي دغه خبرې واورېدې د څېرې رنګ یې بدل شو او بېرته ستون شو.

ما اورېدل چې سړی له ځانه سره غرمبېده، ویل یې د آتون خدای د درغو خدای دی، بیا د آمون د معبد پر لور روان شو چې د دغه معبد له کاهنانو د قربانۍ سترګه او یا طلسم تر لاسه کړي.

یوه عامه ښځه ځوان کاهن ته نژدې شوه ویې ویل، مګر د آتون په نوم ستاسې خدای د قربانۍ پسونه او غویي نه تر لاسه کوي؟ څوک ورته قرباني نه کوي چې تاسې غوښه وخورئ او چاغ شئ؟ که ستاسې خدای همغه ډول چې وایئ ځواکمن وي نو د هغه کاهنان باید چاغ او غوښن وي، نه داسې ډنګر او بې وسه لکه تاسې چې یاست.

ستاسې خواري او ناتواني دا ښیي چې خدای مو هم ناتوانه دی، په داسې حال کې چې آمون غښتلی دی، خپلو کاهنانو ته غوښې ورکوي له همدې امله ټول چاغ او غوښن دي.

یوه مشر کاهن وویل آتون له قربانۍ کرکه کوي، نه غواړي چې د څناورو وینه د هغه لپاره توی شي.

ته باید په دې معبد کې د آمون نوم وا نه خلې، ځکه چې آمون د دروغو خدای دی او

ډېر ژر به د هغه د خدايي تخت نسکور او معبد وران شي.

ښځه دوه ګامه شاته شوه ويې ویل اې امونه! خبر اوسه چې ما د غه خبره نه ده کړې بلکې د غه سړي دا خبره وکړه او ستا لعنت باید پر هغه شي نه پر ما.

ښځه له نورو مېرمنو سره چې هلته وې ولاړه او کاهنانو په ټوکو او خندا ورته وویل ورځئ ورځئ.

اې بې ایمانه خلکو پوه شئ، چې آمون د دراغو خدای دی او ډېر ژر به د هغه څواک د هغو وښو په شان چې له منځه ولاړ شي چې د لور په وسیله رېبل کېږي

په دې وخت کې یو سړی تېښت شو، یوه ډبره یې له ځمکې را واخیسته، د کاهنانو خوا ته یې ور وویشته.

ډبره دیوه کاهن پر مخ ولګېده، مخ یې ژوبل شو، کاهنانو د معبد ساتونکي راوغوښتل، چې هغه سړی ونیسي، خو سړی وتښتېد او هغوی بریالي نه شول چې ویې نیسي.

په دې وخت کې زه کاهن ته نژدې شوم او په ادب مې ورته وویل، زه یو مصری یم چې یوه موده له هېواده لېرې وم.

تر دې مخکې چې له مصره ولاړ شم د (آتون) خدای نوم مې اورېدلی و، خو پام مې ورته نه کاوه. وروسته بیا له مصره د لېرې والي له امله مې ددې خدای په هکله معلومات تر لاسه نه کړای شول. اوس راغلی یم غواړم، پوه شم چې د آتون خدای څوک دی، څه وايي او څه ډول باید د هغه عبادت وشي؟

کاهن لږه شېبه راته وکتل چې پوه شي، زه ملنډې وهم که جدي خبرې کوم.

کله چې کاهنان پوه شول، زه جدي یم، یوه پکې وویل آتون یو واقعي خدای دی.... ټول خدایان چې له آتون مخکې راغلي د درواغو ول او هغه چې له آتون وروسته راځي هغوی به هم د درواغو وي.

آتون ځمکه، اسمان، د نیل سیند او ټول ژوي وپنځول او تل موجود و، او وي به. اوس پخپل زوی فرعون کې ځرګند شوی او باید ټول د هغه عبادت وکړي.

دغه خدای د نورو خدایانو پر خلاف چې ټول د درواغو دي له خلکو څخه ډالۍ نه اخلي او دې شیانو ته لېوالـه نه دی.

بېوزله او شتمن ته په یوه سترګه ګوري، هر څوک چې پرې عقیده وکړي هغه به پخپلې

پناه کې وساتي.
آتون د نورو جعلي خدایانو په شان نه دی چې ومري، دی په هرځای کې شته او د هغه له ارادې پرته هیڅ کار هم نه کېږي.
ما وویل دغه کاهن چې اوس ددې ځوان کاهن پر مخ ولګېد او هغه یې ژوبل کړ د آتون د ارادې په اساس و، ځکه چې ته وایې هیڅ کار د هغه له ارادې پرته نه شي کېدای.
کله چې کاهنانو دغه خبره واورېده یوه بل ته یې وکتل ویې ویل، داسې ښکاري چې ته پر موږ ملنډې وهې.
خو هغه کاهن چې په مخ لګېدلی و، په لوړ غږ وویل هو ! دغه پېښه د آتون د ارادې له مخې وشوه، ځکه چې زه د هغه لیاقت نه لرم. دغه پېښه آتون را منځته کړه.
دا چې آتون له دې پېښې سره مخامخ کړم علت یې دا و، چې زه پخپل روح کې له فرعون سره د ډېر محبوبیت له امله مغرور شوی وم، آتو ن مې هېر کړ او پر فرعون ځکه ګران یم چې ډېر ښه غږ لرم او سندرې ویلای شم.
کله چې فرعون پوه شو زه چمتو یم د هغه په خدای ایمان راوړم، زه یې معبد ته ولېږلم نو دې ځای ته ورسېدم.
ومې ویل، بیا نو آتون خدای دغه توانایي لري، چې فرعون اړ کړي یو کس ناڅاپه له خاورو پورته کړي او معبد ته یې راولي چې کاهن شي.
یوه کاهن وویل زموږ فرعون د خلکو مادي او ظاهري اړخ ته توجه نه کوي، بلکې له هغه څو اکه استفاده کوي چې آتون ورکړی.
دی د نورو له زړونو خبرېږي او پوهېږي چې آیا دغه کس ترقي کولای شي او کنه؟
ومې ویل، فرعون څنګه د نورو خلکو له زړونو خبرېدای شي او د خلکو زړونه لوستلای شي. ځکه چې یوازې (اوزي ریس) دغه قدرت لري او ددې وس لري، چې د نورو له زړونو خبر شي. *(اوزي ریس د مصر یو مشهور خدای و، دغه خدای د اروپایانو په تاریخونو کې چې د مصر په هکله لیکل شوي ډېر راغلی دی نو له همدې کبله د مصر په خدایانو کې تر نورو ډېر مشهور دی ژباړن)*
کله چې ما دغه خبره وکړه کاهنانو پخپلو کې خبرې وکړې او مشوره یې کوله چې ماته څه ځواب راکړي؟
یوه یې وویل: (اوزي ریس) د دویمې، دریمې، بلکې د څلورمې درجې او هغه هم

خیالي خدای دی.

اوزي ریس نشته ، یوازې د عامو خلکو خیالونو هغه رامنځته کړی خو ددې پر خلاف آتون موجود دی ، ناڅرګند او همېشنی خدای دی او فرعون په عین حال کې چې یو انسان دی د آتون اصلیت هم لري.

ځکه خو په یوه وخت کې څو شخصیته درلودلای شي.

دا چې د خلکو زړونه ویلای او له هغو خبریدای شي، علت یې دادی چې په یوه وخت کې څو شخصیتونه لري. داسې چې یو انسان د څو کسانو غوندې کېږي او همدا لامل دی، هغه مجسمې چې هنرمندانو جوړې کړې او ته یې پر ستنو برسېره وینې داسې جوړې شوې چې هم ښځې دي او هم نارینه.

ځکه چې د خدای اصلیت په فرعون کې شته، او هغه ددغه اصلیت له امله هم نارینه او هم ښځینه ځواک لري.

ما مې سر په دواړو لاسو ونیو او ومې ویل، زه د همدغې ښځې په څېر -چې اوس له دې ځایه ولاړه- ساده سړی یم، ستاسو د خبرو په معنا نشم پوهېدای زما عقل دا نه مني، چې یو کس دې هممهالی هم نر وي او هم ښځه، هم نطفه دې جوړه کړي او هم دې د ماشوم زېږولو او پاللو توان ولري. بله دا چې تاسې پخپله هم د آتون په خدای سره جوړ نه یاست. تاسې لکه چې نه پوهېږئ هغه څوک دی او څه وایي؟ ځکه کله چې زه له تاسو پوښتنه وکړم تاسو یې له سلا مشورې وروسته ځواب راکوئ.

کاهنانو پر دې خبرې اعتراض وکړ ویې ویل نه ! داسې نه ده ! موږ د آتون د خدای په اړه هېڅ شک هم نه لرو ، هغه بشپړ خدای دی، هېڅ نیمګړتیا نه لري تل و او همېشه به وي خو موږ نیمګړي یو.

له دې کبله چې کمی لرو ، د آتون خدای ښه نه شو پېژندلی، خو څومره چې فکر او مطالعه وکړو ، هغه به ښه او ډېر وپېژنو.

حتماً څو کاله وروسته، به د آتون خدای ښه وپېژنو ، شل کاله وروسته به زموږ پېژندګلوي د اوس په پرتله ډېره وي

خو اوس یوازې یو کس آتون ډېر ښه پېژني او هغه د مصر فرعون دی، ځکه چې هغه د آتون له ذاته دی او د آتون روح د هغه په بدن کې وي.

له دې سره سره چې دې خبرې قانع نه کړم خو پر ما یې ډېر اغېز وکړ، ځکه زه متوجه

شوم چې دغه خبرې له ډېر صمیمیته ډکې دي
زه پوهېدم چې د کاهنانو په دې خبرو کې ممکنه ده یو لوی حقیقت وي، هغه دا چې مورږ نه خدایان یو او نه پوهېږو.
له دې کبله چې زموږ عقل کم دی او ناپوه یو، نو فکر کوو چې نور نادان او نا پوهان دي.
پوه شوم چې ښایي په نړۍ کې داسې حقیقتونه وي چې زموږ سترګې یې نه ویني، زموږ غوږونه یې نه اوري، لاسونه یې نه لمس کوي، خو له دې سره سره دغه حقیقتونه شته.
کله چې موږ د څه شي په اړه نه پوهېږو نو باید له هغه شي منکر هم نه شو او داسې ونه وایو چې دغه شی نشته.
ښایي فرعون هم داسې حقیقت موندلی وي چې هغه ته آتون وایي خو زه چې سم درک او پوهه نه لرم، نو پر دې نه پوهېږم چې آتون څوک دی؟
له دې کبله چې خپل اشنایان مې پیدا نه کړای شول، بېرته کورته راستون شوم، ومې لیدل چې کاپتا زما د حکم پر اساس پر کور یوه لوحه ځوړنده کړې او دی پخپله په کورکې ناست دی ،د اوربشو یو منګی اوبه یې ځانته ایښې او غوړپ ترې کوي.
زما په کور کې څو ناروغان ناست او زما دستنېدا په تمه ول.
ما په سر کې هغه مور را وغوښتله، چې خوار ماشوم یې په غېږ کې نیولی دی. ښځې راته وویل، ورځ پر ورځ زما زوی خوار او ډنګرېږي خو ما ولیدل چې نه یې مور او نه هم ماشوم ناروغ دی.
د ماشوم مور ته مې وویل، ستا د ماشوم ناروغي له دې امله ده چې ته کافي ډوډۍ نه خورې، که پوره خوراک وکړې نو ماشوم ته به پوره شېدې ورکړې او هغه به چاغ شي.
له دې وروسته چې ښځه ولاړه یو مریې مې معاینه کړ، چې ګوتـه یې د ژرندې تر ډبرې لاندې شوې او ژوبله شوې وه.
د هغه پر ټپ مې درمل کېښودل او ومې تاړه.
بیا مې یو سړی معاینه کړ، چې کاتب و، د هغه دستوني په منځ کې د یوه موټي په اندازه یوه غده پیدا شوې وه، ده ته مې هغه درمل ورکړل چې له یو ډول سمندري بوټي تر لاسه کېږي.

و مې ویل دغه غده باید ستا له ستوني وایستل شي او ته باید له هغه وروسته یوه موده استراحت وکړې، چې تپ دې ښه شي.

هغه ته مې وویل ، ایا ممکنه ده چې زه ستاسې کور ته درشم او هلته ستا له ستوني څخه دغه غده را وباسم.

سړي وویل هو ! وروسته مو پرېکړه وکړه چې زه به پر بله ورځ د هغه کور ته ورځم او دغه غده یې له ستوني راوباسم.

کله چې سړي غوښتل ولاړ شي دوه کړی مس یې له خپل جیبه را وایستل چې د فیس په بدل کې یې راکړي.

ما ورته وویل، ما لا نه یې معالجه کړی چې له تا کوم شی واخلم.

هغه وویل، تا درمل را کړل، باید د هغو پیسې واخلې !

ما ورته وویل، له دې پرته چې له تا ډالی واخلم ستا علاج به وکړم خو په بدل کې ، چې زه کله کتابت ته اړ شم نو ستا له هنره به استفاده کوم.

له هغه وروسته یوې ځوانې ښځې چې هلته څېرمه یې په یوه عمومي کور کې ژوند کاوه، خپله سترګه را وښودله ویې ویل ، زما سترګه خوږېږي.

ما د هغې په سترګه کې درمل واچول، ښځې غوښتل خپل فیس د هغو ښځو په شان چې ځان ارزانه خرڅوي راکړي.

ما ورته وویل، ناروغ یم او نه شم کولای چې له ښځو سره څملم.

دغه راز مې د ښځې پر خپه دوه دانې هم لېږې کړې چې خپلو مشتریانو ته ښه ښکاره شي.

خو پر دغې لومړۍ ورځ ما له خپلو ناروغانو څخه ان یوه کړی مس هم وانه خیستل.

کله چې هغوی ولاړل کاپتا ماته خواړه راوړل او ویې ویل باداره ! تا نن له خپل کاره دومره ګټه هم پورته نه کړه چې په دې خوړو کې د اچول شوې مالګې بیه پوره کړي.

زما مریي کاپتا ، دغه خواړه چې یوه سره شوې هیلۍ وه د طبس له یوه خوړنځایه را اخیستې او ګرمه کړې وه.

په طبس ښار کې هیلۍ او غازان داسې سره کوي چې ما یې ساری په هېڅ بل هېواد کې نه دی لیدلی.

زموږ په ښار کې هیلۍ او غازان په یوه فلزي لوښي کې ږدي او دروازه یې بندوي ، بیا

دغه لوښی په یوه داش کې ږدي، په نتیجه کې هیلۍ او غاز داسې پخېږي چې د خوړو ټول مایعات په خوړو کې پاتې کېږي او نه ضایع کېږي.

دغه ډول پخلی په هېڅ یوه هېواد کې نشته او یوازې په طبس کې دغه ډول خواړه پخوي.

(د سینوهه د برخلیک په دې برخه کې ثابتېږي چې په داش کې د ډوډۍ او خوړو پخول چې مورږ فکر کوو د رومیانو اختراع ده او له هغه ځایه اروپا ته غځېدلې ده، خو دا د مصریانو نوښت دی او د طبس د ښار خلکو دغه ډول خواړه پخول)

کاپتا پر دې شپه پر ما خوندور شراب وڅښل او له دې سره سره چې پر دغې ورځ مې له چا فیس نه و اخیستی، خو داسې خوشحال وم چې ته ګنې یو شتمن سوداګر مې معالجه کړی او هغه ماته د سرو زرو یوه غاړکۍ راکړې وي.

دا خبره به هم وکړم، هغه مریی چې ما یې څو ورځې مخکې ګوته معالجه کړه، کله چې یې څو ورځې وروسته ګوته ښېخې ښه شوه، نو ما ته یې یوه پیمانه اوره راوړل او ویل، دغه اوره یې له یوې ژرندې پټ کړي چې د فیس په بدل کې یې ماته راکړي.

په دې مانا چې د لومړۍ ورځې طبابت ګټه یوه پیمانه اوره شول، خو ما له دغه مریي څخه اوره وانه خیستل او ومې ویل دادې ستا وي. پر بله ورځ زما مریی چې له کوره بهر ته تللی و، راستون شو ماته یې وویل سینوهه! زه تصور کوم چې نن او سبا به ډېر ناروغان ولرې، ځکه کله چې بهر ولاړم او ږدل مې چې خلکو سره ویل، پرون یو ډاکټر راغلی او د پخوانی مسګر په کور کې یې اړولي او له فیسه پرته ناروغانو معالجه کوي او پر دې سربېره بېوزله ناروغانو ته د مسو کړۍ هم ورکوي.

کاپتا ویل بېوزلو یو بل ته سپارښتنه کوله چې ډېر ژر دې دغه ډاکټر ته ورشي چې هم خپله ناروغي معالجه کړي او هم له هغه څخه مس ترلا سه کړي.

دوی ویل دغه ډاکټر چې خلک بې فیسه معاینه کوي او بیا مس هم له ځانه ورکوي نو ډېر ژر کېدای شي مفلس شي، دغه کور وپلوري او له دې ځایه به ولاړ شي.

ځینو ویل ښایي دغه سینوهه ناروغ او لیونی شوی دی، او که یې لیونتوب همداسې پاتې وي نو هغه به په یوې کوټې کې واچوي او وینه زبېښونکي به یې پر سر کېږدي چې لېونتوب یې له منځه ولاړ شي.

کاپتا زیاته کړه. ماچې دغه خبرې له خلکو واورېدې د هغوی پر حماقت مې وخندل،

څکه چې پوهېدم چې ته بډای سړی یې.

ما ستا د حکم پر اساس ستا ټول فلزات په کار اچولي، ته د خپلې طلا له ګټې ښه ژوند کولای شې او هره شپه د نن شپې په شان هیلې او غازان خوړلای شې.

بیا زما مریي وویل، خو زه له یوه شي وېرېږم هغه دا چې ته عادي سړی نه یې او له همدې امله ممکنه ده، یوه ورځ هڅه وکړې چې خپل ټول سره او سپین لېږې غوزار کړې او دغه کور له ما سره یو ځای چې ستا مریی یم، خرڅ کړې

څکه تا یو ځل مخکې هم دغه کار کړی او خپل کور دې له ما سره یو ځای پر هغې ښځې پلورلی و چې ته پرې مین شوی وې.

که زه نه وای تښتېدلی نو اوس به د هغې ښځې مریی وای.

نو غوره ده چې په یوه کاتب یو کاغذ ولیکي چې زه سر له سبا ازاد یم او پخپله خوښه چې هرچېرته وغواړم تللی شم، څوک نه شي کولای چې نور ما واخلي یا وپلوري.

زه له دې امله له تا څخه دغه ډول لیک غواړم چې خبرې له منځه ځي، خو لیکنه تر ابده پاتې کېږي څکه چې پاپیروس (مصري کاغذ ژباړن) له منځه نه ځي.

اته ویشتم څپرکی

د راتلونکي لپاره د طبس د خلکو اندېښنه

پر هغې شپه چې کاپتا د غه خبرې وکړې زه له دې لامله، چې بې وزلي مې وړیا معالجه کړي ول خوشحاله وم او خوړو او شرابو مې خوشحالي نوره هم زیاته کړه.

پسرلی و. او د اکاسي ګلونو، هوا له خوږو عطرو ډکه کړې وه.

د نیل له بندره د سوریې د شیانو بوی راته. له عمومي کورونو د سریاني موسیقۍ غږونه پورته کېدل. کونګانو سندرې ویلې او ما خپل روح خوشحاله لیده.

له همدې لامله مې کاپتاته اجازه ورکړه چې په یوه ختین لوښي کې د ځان لپاره شراب واچوي.

هغه ته مې وویل کاپتا تر دې وړاندې چې ته له ماوغواړې چې تا آزاد کړم، ما په باطن کې ته ازاد کړی وې.

ستا ازادي له هغې ورځې پیل شوه چې ما او تا غوښتل له دې ښاره وتښتو. ما سره او سپین نه درلودل او تا د خپل ټول عمر بسپنه ماته راکړه چې وکړای شو وتښتو.

پر دې ورځ ما فیصله وکړه چې که شتمن شوم، تا به ازاد کړم. بیا به تاته وایم چې له ما سره د یوه مریې په شان نه بلکې د یوه نوکر په شان ژوند وکړې هر چېرته چې غواړې ولاړ شه.

اوس درته وایم چې ته ازاد یې. خو ستا د ډاډ لپاره به سبا د کاتب په وسیله یو لیک ولیکم چې ته پر خپلې ازادۍ ډاډه شې.

خو له دې کبله چې تا وویل زه به د خپلو سرو زرو په ګټې وټې ژوند وکړم. ته راته ووایه سره او سپین ماته څه ډول ګټه رسولای شي. ایا تا زما طلا ګانې د آمون په معبد کې په امانت نه دې ایښې؟

کاپتا پخپلې یوې سترګې راته وکتل او ویې ویل نه سینوهه! اوس چې ازاد یم تا ته

وایم چې ما ستا امر نه دی اجرا کړی او ستا طلا مې د آمون په معبد کې امانت نه ده ایښې، ځکه چې ستا حکم له عقله لېرې و.

زه هغه امر نه منم چې له عقله لېرې وي او له دې کبله چې ممکنه ده ناځاپه غوسه شې د احتیاط لپاره مې ستا لکړه هم پټه کړې ده، چې پر ملا او ولیو مې ونه وهې.

خو ددې لپاره چې پوه شې ولې مې ستا امر نه دی اجرا کړی، وایم چې یوازې احمقان خپل سره او سپین په معبد کې امانت ږدي، ځکه چې په معبد کې د سرو زرو ایښودل دوه عیبه لري.

لومړی دا چې کاهنان او په پایله کې د مصر فرعون ستا له شتمنۍ خبرېږي او پوهېږي چې ته څومره زر لرې؟

یو کار چې د لېونتوب دلیل دی، دا دی چې سړی د خپلې شتمنۍ له اندازې خلک خبر کړي.

دویم عیب دا دی چې کله خپله طلا معبد ته وسپارې، چې د معبد په خزانه کې پاتې شي، باید هر کال یوه اندازه سرو یا سپینو زرو د ساتلو په بدل کې معبد ته ورکړې او په نتیجه کې کال په کال ستا سره زر کمېږي.

له همدې امله کله چې ته له کوره ووتې په ښار کې وګرځېدې او خپل پخواني ملګري دې لیدل، نو زه په ښار کې وګرځېدم، چې پوه شم له طلا څخه بې له دې چې سړی زیار وباسي او یا کار وکړي، څه ډول استفاده کېدای شي چې ګټه هم وکړي.

زه پوه شوم چې په طبس کې نور هېڅوک خپل سره او سپین د آمون معبد ته نه ورکوي، ځکه دوی اوس پر معبد باور نه کوي او ډارېږي چې طلا به یې له منځه ولاړه شي.

له دې کبله چې د سرو او سپینو د سپارلو لپاره پر معبد اعتماد نه شي کېدای، نو په ټول مصر کې ډاډمن ځای نشته چې انسان وکړای شي خپله طلا هلته ورکړي.

پر دې سربېره د هغو معلوماتو له مخې چې ما ترلاسه کړي د آمون خدای خپلې ځمکې خرڅوي.

ما ورته وویل دروغ وایې او د آمون خدای یعنې د آمون معبد هېڅکله ځمکې نه خرڅوي، بلکې تل ځمکې اخلي او هر کال خپل جایداد زیاتوي.

کاپتا وویل خو اوس د آمون معبد په پټه خپلې ځمکې خرڅوي او په بدل کې یې سره او سپین اخلي او پخپلې خزانې کې یې ږدي.

له دې کبله چې د آمون معبد ډېرې ځمکې خرڅې کړي او سره و سپین یې اخیستي او س په مصر کې سره او سپین کم شوي دي.

ومې ویل آیا تا زما سره ورکړل او ځمکې دې واخیستې ؟

کاپتا وویل نه باداره ! ما ستا سره او سپین نه دي ورکړي ، ځکه نه زه او نه ته په کرنیزو کارونو پوهېږو.

که ستا سره او سپین مې ورکړي وای نو ناظرانو ،کروندګرو او هغو مریيانو به چې په کروندو کې یې کار کاوه ستا د پټيو محصولات غلا کول ، دا په داسې حال کې ده، چې زه په طبس کې پخپله غلا کوم یانې نور دوکه کوم.

پردې سربېره ما احساس وکړ چې د آمون د معبد له لوري د ځمکو خرڅول به د هغه معبد له لوري چې له سلو کلونو زیات وخت یې ځمکې اخیستي دي بې دلیله نه وي.

دغه معبد پوهېږي چې په راتلونکي کې د نوي خدای پر وړاندې مقاومت نه شي کولای نو باید له منځه ولاړ شي، ځکه خو وار له مخه خپلې ځمکې خرڅوي چې دغه ځمکې د نوي خدای په برخه نه شي. د آمون د معبد له لوري د ځمکو خرڅول خطرناک کار دی ، ښایي نوی خدای ادعا وکړي چې د پخوانی خدای ټولې هغه ځمکې چې پر خلکو خرڅې شوې، په هغه پورې اړه لري ، او ټولې ځمکې چې د امون معبد اخیستې دي له دې پرته چې خلکو ته یې تاوان ورکړل شي ، هغه به ضبط شي.

ما ورته وویل دا بېلابېلې او جزیې مسلې دي، زه له تا پوښتنه کوم چې زما سره او سپین دې څه کړل، چیرته دې ولګول چې وایې ګټه به یې ماته ورسېږي.

کاپتا وویل له دې کبله چې د امون معبد خپلې کرنیزې ځمکې خرڅوي سره او سپین اخلي، لکه چې ومې ویل په مصر کې سره او سپین کم شوي دي.

دغه چاره ددې سبب شوې چې د استوګنې د کورونو او د سوداګریزو ودانیو بیه کمه شي، نو کله چې ماولیدل د کورونو بیه ټیټه شوې ده، ستا د سرو او سپینو یوه برخه مې ورکړه او تا ته مې څو کورونه او تجارتي ځایونه واخیستل.

ته به دغه کورونه او ځایونه په کرایې ورکړې، هرکال به یې کرایه ترلاسه کړې، ستا کورونه به تل موجود وي او ګټه به درته کوي.

له دې کبله چې زه پوهېدم د دغو کورنو د پېرودلو لپاره ستا له لوري بشپړ اختیارات لرم . نو ستا له مهره پرته مې کورنه واخیستل او که اخیستونکي د ډالۍ په توګه ماته کوم

شی راکوي، هغه په تا پورې اړه نه لري. دا پخپله د هغوی حماقت دی.
ځکه په دې عمل کې زه له تاڅخه کوم شی نه پټوم، بلکې له اخيستونکو څخه ډالی تر لاسه کوم او که ته هم و غواړې خپل پخواني مريي ته ډالی ورکړې هغه به هم ومنم.
ومې ويل کاپتا زه به تا ته ډالی درنه کړم ځکه په دې کار کې تا خپلې ګټې ته پام کړی دی او اټکل کوې چې د کرايو د ترلاسه کولو او دغه راز د کورنو د جوړلو او بيارغولو لپاره د خرڅې دبېلولو په پلمه له ما څخه ډېره غلاوکړې.
کاپتا وويل تېروتی يې.
که ته يو کنجوس او ظالم بادار وای ما به دغه فکر کړی و. او اټکل به مې کاوه چې په راتلونکې کې له دغو کورنو څخه څه ډول استفاده وکړم.
خو ته ډېر مهربانه او زړه خوږی بادار يې. هيڅ اړتيا نشته چې زه له ځان سره دغسې حسابونه وکړم، ځکه هرشی چې ته يې لرې زما تر لاس لاندې دي.
زه ستا شتمني خپله شتمني بولم، کله چې ستا ګټو ته پام کوم، په دې مانا ده چې خپلې ګټې ته توجه کوم، ځکه مې ستا په سرو زرو يوه اندازه غله دانه هم اخيستې ده.
ما وويل کاپتا ولې دې غله اخيستې ده؟
کاپتا وويل دغه لانجه چې اوس د خدايانو ترمنځ په مصر کې پيل شوې، حتماً د مصر د ملت لپاره خرابې پايلې لرلای شي.
ددې لپاره چې کله خدايان له يوه بل سره جنګونه کوي، نو لکه مشران چې له يوه بل سره ونښلي تاوان يې خلکو ته رسېږي.
ملت بايد د مشرانو او خدايانو د لانجو لپاره قرباني ورکړي. زه فکر کوم چې د مصر ددغو دوو خدايانو د لانجې له امله به ګډوډي رامنځته شي. بې نظمي او ګډوډي به کروندې پر شاړو ځمکو بدلې کړي. پر دې سربېره نن سبا چې هر څوک سره او سپين لري د خدايانو د لانجې له وېرې پرې ځمکه اخلي.
خلک پوهېږي چې سره او سپين غلا کېدای شي خو ځمکه تر څوک نه شي په اخيستلای.
هغه کسان چې ځمکې اخلي تول، يا سوداګر، درباريان او کاهنان دي. دغه کسان له معبدونو ځمکې اخلي چې دغه ځمکې د معبد له منګولو تر لاسه او د ځان يې کړي.
خو په دغو کسانو کې هيڅ يو کروندګر نه دی او ځمکه نه شي کرلای چې په نتيجه کې

به د کروندګرو ټولې ځمکې شاړې پاتې کېږي.

د ځمکې محصولات لکه غنم او نوره غله به ډېره کمه شي. مصر به د خوراکي توکو له کمښت سره مخامخېږي او په دې وخت کې به هغه غله په ښه بیه خرڅولای شو چې موږ اوس اخیستې ده.

زه پوهېږم ته فکر کوې چې غله د ډېرو په شان نه وي، چې زر کاله یې وساتو بلکې موږکان، غله دانه خوري او مرییان غلا ترې کوي خو ترڅو چې انسان تاوان ونه کړي ډېره ګټه نه شي کولای.

نو ددغو اخیستل شویو کورونو یوه برخه مې د غلو دانو په ګودامونو بدل کړي چې اخیستل شوي غنم او نوره غله هلته وساتو.

پام به کوو چې نه موږکان غنم وخوري او نه یې مرییان غلا کړي.

کله چې مو غله خرڅه کړه ګودامونو ته به اړتیا ونه لرو. دغه کورونه به سوداګرو ته په کرایه ورکړو چې خپل شیان هلته کېږدي او یا تجارتخانې ترې جوړې کړي.

ومې ویل کاپتا! زه ستا پر خلاف. هیله من نه یم چې دغه کار دې ګټه وکړي خو دا چې اوس دې معامله کړې زه کوم شکایت نه لرم، په دې شرط چې په راتلونکې کې ما په کرار پرېږدې او ددغو کورونو د اداره کولو یا دغلو دانو د خرڅولو لپاره ما په تکلیف نه کړې.

کاپتا وویل. ما یو بل فکر هم کړی چې هغه هم ستا د شتمنېدا لپاره ډېره ګټه لري.

زه په کرنې ډېر نه پوهېږم خو د مرییانو په پېر او پلورکې ډېر تکړه یم له همدې امله باید د مریانو یو بازار واخلو.

زه پوهېږم چې باید څنګه مرییان په ارزانه بیه واخلو او له پېرودونکو څخه یې عیبونه پټ کړو. همدغه راز. پوهېږم چې څه ډول د لرګیو او متروکو په وسیله مریان فرمانبرداره کړو. ځکه چې پخپله مریی وم او څوک چې مریی وي د مریانو د خرڅولو په ټولو چلونو پوهېږي.

زه ډاډ درکوم چې که موږ دغه بازار واخلو په څو کلونو کې به د مصر یو شتمن کس شې.

ومې ویل کاپتا له دې سره سره چې د مرییانو پلور و پېر ډېره ګټه لري، خو زه نه غواړم چې مرییان خرڅ کړم. ځکه چې د مرییانو پلورل ډېر ګنده او له کرکې ډک کار دی.

زه په دې پوهېږم چې ډېر شتمن کسان دغه کار کوي. ټول د مریانو پېر پلور کوي او ټول مریانو ته اړتیا لري.

ماهم پخوا ته او هغه وینځه چې تا راته راوستې وه اخیستي واست . خو نن سبا نه غوارم چې د مریانو پلورونکی واوسم.

کاپتا سور او سویلی ویوست اوویې ویل، زه نه پوهېږم چې ته ولې داسې یې او ولې نه غواړې د نورو په شان په لنډه موده کې بې زحمته شتمن شې؟

که مو د مریانو یو بازار او څو عمومي کورونه (فاحشه خانې) واخلو ښکلې وینځې به د مریانو له بازاره عمومي کورونو ته بیا یو او هره شپه به له هره کوره ډېر سره او سپین تر لاسه کړو.

خو څه وکړم چې خدایانو داسې بادار راکړی دی، چې سلیقه یې له نورو سره بېخي توپیر کوي.

اوس چې نه غواړې د مریانو بازار او عمومي کورونه واخلې نو زما یو بل وړاندیز ومنه.

ومې پوښتل ستا وړاندیز څه دی؟

کاپتا وویل له دې کبله چې نن دې آزاد کړی یم، زه غوارم چې له دې امله یو جشن جوړ کړم او له دې سره سره چې زما غوښتنه به ستا له نظره بې ادبي وي، خو غوارم له ما سره ولاړ شې او یو ځای د سیند پر غاړه په بندري سیمه کې د(تمساح لکۍ)په ساقي خانه کې شراب وڅښو. دا شراب هم د تمساح لکۍ نومېږي او ډېر قوي شراب دي چې تر نورو یې نشه ډېره ده.

له دې سره چې د کاپتا غوښتنه له ادبه ډېره لېرې وه او یو مریی او نوکر باید له خپل باداره ونه غواړي چې له هغه سره شراب خانې ته ولاړشي او هلته کوم شی وڅښي، خو ما د کاپتا غوښتنه ومنله، ځکه چې پر دې شپه ډېر خوشحاله وم او فکر مې کاوه چې ساقي خانې ته تګ او هلته ساعت تېري کول په یوه مناسبت دي.

پر دې سربېره مې داهم پر زړه ول، چې کله مو پېه کرت کې و ، کاپتا چمتو شو چې له ما سره د خدای کور ته ننوځي په داسې حال کې چې پوهېده څوک تر اوسه پورې د خدای له کوره نه دي راستانه شوي.

زه هم باید نن د هغه وړاندیز ومنم او له هغه سره میخانې ته ولاړشم ، ځکه چې ساقي خانې ته تګ تر دې ډېر اسانه دی، چې انسان پوه شي داسې ځای ته ورځي چې نور ترې نه شي راستنېدای.

کله چې کاپتا وویل او ما یې وړاندیز ومانه ، نو ډېر خوشحاله شو ، ولاړ زما بالا پوش

او لګړه چې تر دې مهاله یې پټه کړې وه ښېرته راوړه. بالا پوش یې زما پر اوږو واچاو، له کوره راووتو او د (دتمساح لکۍ) شراب خانې ته ولاړو.

د(تمساح لکۍ) شراب خانه د بندري سیمې په مرکز کې د دکورونو په منځ کې وه او تر دې وړاندې چې شراب خانې ته ننوځو، پام مې شو چې د ساقي خانې پر سر یې یوه ستره وچه شوې تمساح ځوړنده کړې وه، چې شیشې ته ورته سترګې یې وې او تر خلاصې خولې یې تېره غاښونه ښکارېدل.

کله چې ساقي خانې ته ننوتو ومې لیدل چې پنډ دېوالونه لري، د غټو دېوالونو ګټه دا وې چې په دوبي کې کوټه یخه او په ژمي کې ګرمه ساتي.

د کاپتا د ننوتو له حالته پوه شوم، چې لږ تر لږه یو ځل دلته راغلی دی او له چاپېریال سره بلد و.

کله چې کېناستو نو ومې لیدل چې د ساقي خانې د دېوالونه او غولی د اشرافو د کورونو په شان په لرګو فرش شوي او پر دېوالونو د لرګیو بېلابېل انځورونه کښل شوي دي.

کاپتا چې ولیدل، زه د ساقي خانې لرګیو ته ګورم، ویې ویل ،دغه لرګي چې وینې له زړو بېړیو یې جوړ کړي، هرلرګی د یوې بېړۍ خو باد او باران یې رنګونه ور بدل کړي دي.

په ساقي خانه کې ناستو مشتریانو ماته په څېره خو ځغلند وکتل او بیرته پر خپلو کارونو بوخت شول.

کاپتا امر وکړ چې، زموږ لپاره د(تمساح لکۍ) شراب راوړي او د ساقي خانې مشر ته یې وویل چې شراب دې پخپله دی جوړ کړي؟

ماته داسې ښکاره شوه چې د تمساح لکۍ شراب داسې شراب دي چې باید جوړ شي، یانې د نورو شرابو په شان نه دي، چې بې له ځنډه یې له منګیو او صراحۍ څخه په جامونو کې تش کړي او رایې وړي.

وروسته مې ولیدل چې د یوې ښځې دوه پیالې په لاس کې دي، زموږ خواته راغله او داسې معلومېده چې د میخانې نوکره وي.

دغه ښځه ډېره ځوانه نه وه، خو د مصر په شان هېواد کې چې ښځې لوڅې پکې ګرځي، دې ښځې جامې اغوستې وې، په غوږونو یې د سپینو زرو لښتۍ او په لاسونو کې یې دوه بنګړي ول.

چې څومره رانژدې کېده هغه مې نوره هم ښکلې لیده، کله چې مونږ ته را ورسیده ومې لیده چې نرۍ او قوسي شکله وروځې يې وې او غنم رنګه جذابې سترګې يې درلودې.

ما د هغې سترګو ته وکتل، هغې د نورو ښځو غوندې چې سرا ړوي مخ. وانه ړاوه. بلکې زما سترګو ته خیره شوه.

یوه پیاله ترې ما واخیسته او بله کاپتا.

ما ورته وویل اې ښکلې ښځې نوم دې څه دی؟ ښځې وویل زما نوم (مریت) دی.

ما څوک ښکلې ښځه نه بولي. خو له دې کبله چې تا په دې نوم یاده کړم، زه پوهېږم چې ته با حیا سړی یې او د یوه نوي ځوان په شان یې چې په دې ډول خبرو سره ځانته جرئت ورکوي چې وکړای شي خپل لاس د یوې ښځې پر لاس کېږدي.

ته هم ځانته جرئت ورکوې چې خپل لاس زما پر لاس کېږدې.

بیایې پوښتنه راځخه وکړه. ایا ته ډاکټر نه يې او ستا نوم سینوهه نه دی؟

ومې ویل همداسې ده... دې وویل که غواړې په دې ساقي خانه کې بیا مونږ پخپلو لیدو خوشحاله کړې ما ته د ښکلې ښځې غږ مه کوه او ما مه سپکوه.

له هغې مې پوښتنه وکړه، چې ته څه ډول پوهه شوې چې زه سینوهه یم؟

مریت وویل ستا شهرت تر تا ژر دې میخانې ته را رسېدلی دی. ان تر دې چې ته ساقي خانې ته ننوتې ما وپېژندې. اوس را ته معلومه شوه چې ستا شهرت بې دلیله نه و.

کله چې مریت له ما سره خبرې کولې موسکۍ وه. خو زه پوه شوم چې موسکا يې له زړه نه ده او خوشحاله نه ده. بلکې د غه موسکایې د یو غم ښودنه کوي او د ښځې له سترګو هم دغه احساس کېده.

ومې ویل مریت! که تا زما ستاینه د کاپتا له خولې اورېدلې وي چې زما پخوانی غلام دی، اوس مې ازاد کړی او دلته ناست دی. نو په دې پوه شه چې په هغه اعتماد نه شي کېدای.

ځکه چې دغه سړئ خپل خاص طبیعت لري. د هغه طبیعت داسې دی چې د هغه ژبه د دروا غو او رښتیا ترمنځ توپیر نه شي کولای او درواغ ډېر وایي.

زه له دې سره سره چې یو ډاکټر یم خو د هغه دغه مرض مې معالجه نه کړای شو. زما د لکړې ګوزارونو هم پر دې معالجې اغېز ونه کړ.

مریت له غمجنې موسکا سره وویل سینوهه! درواغ ډېر ځله تر رښتیا ښه وي. ځکه

چې درواغ انسان ته هیله ورکوي انسان خوشحاله کوي، په داسې حال کې چې رښتیا خبره سړی نهیلی کوي

مثلاً. کله چې ته ماته وایې (اې ښکلې مېرمنې) له دې سره سره چې پوهېږم درواغ وایې، زه زړه یم، خو بیا هم په دې درواغو خوشحالېږم.

زه غواړم د تمساح لکۍ دغه شراب چې ما درته راوړي ویې څښې او ماته ووایې چې ایا دغه شراب قوي دي. که نور هغه شراب چې په بهر کې د څښلي دي.

له دې پرته چې زه له مریت څخه سترګې واړم. د دغو شرابو یو غوړپ مې وکړ.

خو له هغه وروسته مې ونه کړای شول هغې ته وګورم. ځکه چې ستوني او نس مې وسوځېد ناڅاپه. مې وینه په بدن کې واېښېدله.

کله چې ارام شوم د شرابو نشه ښکاره شوه. ومې ویل که څه هم کاپتاه هر درواغ وایي خو هغه څه چې د دې شراب خانې د شرابو په هکله یې ویلي سم دي. ځکه چې ستا شراب تر هغو ټولو شرابو قوي او اغېزناک دي چې ما په بهر کې څښلي دي.

دغه راز تود وخه یې هم تر هغو تورو تېلو زیاته ده چې د بابل خلک یې له ځمکې څخه تر لاسه کوي او په څراغونو کې یې سوځوي.

(له تورو تېلو څخه د لیکوال هدف نفت یا تېل دي. ژباړن)

لکه څنګه چې یو حقیقي تمساح د خپلې لکۍ په زور یو قوي سړی پر ځمکه ویشتلی شي. ستا شراب هم یو مضبوط او قوي سړی له پښو غورځولی شي.

زما له خولې د څو ډولونو خوش بویه بوټو او مسالو بوی احساسېده. ځان راته تاند او خوشحاله ښکارېده. زړه مې غوښتل له مریت سره نوري خبرې هم وکړم. هغې ته مې وویل:

مریت زه نه پوهېږم چې دې شرابو زه دومره ښاد کړم که ستا شتون زما روح خوشحاله کړی دی؟

همدومره پوهېږم چې خوشحاله یم. زړه مې غواړي. خپل لاس ستا پر لاسونو کېږدم. که له دې حرکته خپه کېږې، پر ما نیوکه مه کوه. ځکه چې ستا د تمساح لکۍ ما ته دا جرئت راکړی دی.

ښځه لږ وروسته ولاړه او ویې ویل: زه د دې ساقي خانې خاونده نه یم. دلته نوکره یم. خو دغه شراب زه جوړوم.

یوازینی ډالۍ چې پلار ماته راکړې ده، د دې شرابو د جوړلو چل یې را زده کړی دی.
دې شرابو د خلکو پام داسې ځانته را اړولی، چې ان ستا مریی چې ته وایې اوس دې ازاد کړی، ځان زما لیواله او پر ما مین ښیي چې ددې شرابو د جوړولو چل له ما زده کړي.
کله چې ستا مریی بریالی نه شو چې ما خپله خور کړي فیصله یې وکړه دغه ساقي خانه په سروزرو واخلي او دغه راز غواړي ددې شرابو دجوړلو چل له مازده کړي.
کله چې کاپتا دغه خبره واورېده ښځې ته یې اشاره وکړه چې، غلې شي، خو زه چې نشه وم ومې ویل مریت! اوس چې ما د تمساح لکۍ شراب څښلي او ځان خوشحاله احساسوم، فکر کوم چې کاپتا حق لري پر تا مین شي او زه یې نه ملامتوم، چې غواړي تا خپله خور کړي
خو زه دغه خبرې له ډېرې نشې کوم او سبا چې هوښیارشم ښایي خپله خبره بېرته واخلم او ایا دا خبره سمه ده چې کاپتا زر ورکړي دي چې دغه میخانه واخلي.
تر دې مخکې چې ښځه څه ووایي کاپتا ماته وویل سینوهه! ما نه غوښتل چې ته په دې ډول ددې شراب خانې له اخیستو خبر شې، بلکې غوښتل مې چې پخپله زه دغه خبره درته وکړم.
خو اوس چې دې ښځې دغه راز افشا کړ باید ووایم چې دغه میخانه ما په خپلو سرو او سپینو اخیستې ده، په هغې طلا چې په څو کلونو کې مې له تاپټه کړې وه، ځکه چې د یوې ساقي خانې د اداره کولو وړتیا لرم، پوهېږم چې دا اسانه کار دی، ستونزې پکې نشته، د ځوانۍ ځواک هم نه غواړي.
ما په ساقي خانو کې د فلزاتو له ورکولو پرته دومره شراب او د اوربشو اوبه څښلې چې اوس د یوه اخیستونکي په لیدو سره پوهېږم چې ایا هغه د خپلو شرابو بیه ورکولای شي کنه؟
ایا په پور یې ورکولای شو کنه؟ د شرابو خرڅول اسانه او خوندور کار دی، ځکه چې انسان په ساقي خانه کې ډول ډول کسانویني، له هر یوه څخه نوې خبرې اوري.
زه یو کونجکاو سړی یم او غواړم له هر څه خبر شم نو دا زما لپاره ډېره ګټه لري.
په دې وخت کې کاپتا خپله پیاله پر سر واړوله او په خوشحالۍ یې وویل:
زما باداره! یوازنی کار چې هېڅکله له دوده نه لوېږي شراب خرڅول دي، ځکه تر هغه چې نړۍ شته نو خلک به شراب څښي.

ممکنه ده فرعونيان نه وي ، د مصر خدايان له خپلو ګډيو کښته ګوزار شي او له منځه ولاړ شي خو د شرابو خرڅلاو به بند نه شي، ځکه کله چې خلک خوشحاله او نيکمرغه وي هم شراب څښي او کله چې خپه او خوابدي وي نو د خپل وير او بدبختۍ د کمولو لپاره ميخانې ته راځي او شراب يا د اوربشو اوبه څښي.

کله چې يو کس مينېږي، خپله مينه په شراب څښلو سره پياوړې کوي او په کور کې له خپلې ښځې سره جنجال کوي، بيا هم د زړه تنګۍ د کمولو لپاره شرابو ته پناه ور وړي.

کاپتا خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ويې ويل:

سينوهه ! ښايي ته چې يو غير عادي کس يې، زما دغه فکر خوښ نه کړې او ووايې چې انسان بايد زيار وګالي او خپله روزي وګټي، خو زه وايم، هغه کسان هوښيار ان دي چې له تکليف پرته د نورو له کار و زياره ګټه اخلي.

په داسې حال کې چې نور خلک د زيار او کړاو له ګاللو سره سره وږي دي او دوی ارام ژوند کوي.

زما په اند دهغو ښځو له دندې پرته چې ځان خرڅوي ترټولو آسانه کار د شرابو خرڅول دي په دې توپير چې ځان پلورونکې ښځې پانګې ته اړتيا نه لري ځکه چې دهغوي پانګه دهغوي په بدن کې ده که لږ بسپنه وکړي دعمر په پای کې به په هغه کور کې ژوند وکړي چې په خپله يې جوړ کړی دی او سوکاله به وي.

زه ښښنه در څخه غواړم چې ډېر غږېږم، دغه ډېرې خبرې له دې امله دي چې لا د تمساح لکۍ په شرابو نه يم عادت شوی، ددې شرابو يوه پياله مې داسې مستوي چې خپله ژبه مې هم په واک کې نه وي.

زما خبرې ددې ساقي خانې په اړه وې.

دغه ميخانه زما ده او زه وايم چې اوس به يې ددې ميخانې له پخواني مالک سره په ګډه د مريت په مرسته چلوم او ګټه به يې سره وېشو.

ددې ميخانې پخواني مالک چې له دې وروسته به زما کارګر شي د مصر په زرو خدايانو قسم خوړلی چې، له نيمايي ډېره ګټه به نه اخلي او له ما به غلا نه کوي.

زه باوري يم چې هغه به غلا ونه کړي ځکه هغه ديندار سړی دی او ځينې کاګان يې د معبد کاهنان دي.

دوی ښه مشتريان دي او ډېر د تمساح لکۍ شراب څښي ، لامل يې دا دی چې کاهنان د

آمون د معبد د تاکستان شراب څښي او هغه کسان چې د غه شراب وڅښي ، بیا د تمساح په یوې یا دوو پیالو نه نشه کېږي او بل له دې امله ددې شراب خانې ډېر ګاکان د معبد کاهنان دي، چې شراب پلورونکی فکر کوي د کسب ګټه د مذهب له ګټې سره اړونده کړي چې لومړی ګټه له دویمې هغې خړوبه شي او تر ننه همداسې شوي دي.

خو داسې ښکاري چې زه ډېرې خبرې کوم او بیا وایم چې زما د ډېرو خبرو علت دادی چې نن زما د ژوند خوشحاله ورځ ده.

باور وکړه چې زما د خوشحالۍ اصلي علت دادی چې ګورم ته ما ته غوسه نه یې او ما د پخوا په شان خپل نوکر بولې.

دا په داسې حال کې ده چې زه نن ازاد یم او شراب پلورل مې پیل کړي او دا له دې سره سره چې ځینې فکر کوي شراب خرڅول ښه کار نه دی.

له دې خبرې وروسته کاپتا له ډېرې نشې وژړل. خپل سر یې زما پر څنګنو کېښود ، ما په زور د هغه سر له خپلو څنګنو لېرې کړ ، ومې ویل پورته شه په میخانه کې دغسې سپک کارونه مه کوه. ځکه که مشتریان وګوري چې ددې شراب خانې نوی مالک دومره بې حیا او سپک دی . پر تا بدبینه کېږي او نور به دلته رانه شي.

له دې وروسته چې کاپتا خپل سر پورته کړ ما ترې پوښتنه وکړه زه پر یوه خبره نه پوهېږم هغه ددغې میخانې د پلورلو مسله ده.

ځکه که دغه ساقي خانه هغسې چې ته وایې ښه چلېږي نو ولې یې خاوند راضي شو. چې پر تایې خرڅه کړي او بیا د شاګرد په توګه له تا سره کار وکړي او په ګټه کې شریک شي.

کاپتا چې لا یې اوښکې نه وې وچې شوې وویل: سینوهه ! ته خاص استعداد لرې او غواړې پخپلو دلایلو چې له افسنطین درملو ترخه دي زما خوښی زهرجنې کړې.

که زه درته ووایم چې زه او دغه شراب پلورونکی د ماشومتوب ملګري یو او د یو بل په غم او ښادۍ کې شریکان و ، بیا به یې ومنې. چې هغه د پخوانۍ ملګرتیا له امله چمتو شو چې خپله شراب خانه پر ما خرڅه کړي.

خو زه پوهېږم، دغه خبره هم تا نه شي قانع کولای ، نو مجبور یم ومنم چې زه هم پر دې دلیل قناعت نه شم کولای او باید ووایم چې ددې شراب خانې په خرڅولو کې پخوانی شراب پلورونکی یو راز لري

زه تصور کوم چې دغه راز له پخواني خدای آمون سره د مصر د نوي خدای په جنګ پورې تړاولري.

ځکه چې د مصر په هره بلوا کې لومړنی ځای چې حمله پرې کېږي شراب خانې دي، خلک برید پرې کوي چې وکړای شي شراب او د اوربشو اوبه وڅښي.

صراحي او جامونه ماتوي پخپله شراب پلورونکی په نیل سیند کې ډوبوي. نو له همدې کبله ددې شراب خانې مالک ډارشوی دی.

ددې شراب خانې مالک د امون کلک پلوی دی او دومره تعصب يې ښودلی چې نن سبا نه شي کولای له پخواني خدایه منکر شي او پر نوي خدای عقيده وکړي.

له همدې کبله هېڅوک نه مني چې هغه خپله عقيده بدله کړې وي او د نوي خدای پيروي يې پيل کړې وي.

له بلې خوا د ساقي خانې دغه مالک پوه شوی چې د امون خدای سخت وبرېدلی دی، تر دې حده چې د آمون معبد خپلې ځمکې خرڅوي ځکه فکر کوي يوه ورځ به دغه ځمکې ترې واخلي.

ما چې وليدل، شراب پلورونکی ډار شوی نو داسې خبرې مې وکړې چې د هغه ويره او ترهه مې نوره هم زياته کړه، ورته مې ويل، ډېر ژر ځان له دې شراب خانې خلاص کړه، ځکه که کومه ستونزه او بلوا پيل شوه خپله پانګه به په دې ميخانې کې له لاسه ورکړې.

هغه هم چې سخت ډار شوی و، ومنله او ساقي خانه يې پر ما خرڅه کړه.

له دې کبله چې زه پوهېدم، هغه د ميخانې د اداره کولو وړتيا لري او تر هغه به بل تکړه شاګرد پيدا نه کړم نو له هغه او مريت څخه مې وغوښتل چې په دې ميخانې کې پاتې شي.

ما وويل کاپتا زه نه پوهېږم چې ته به له دې ميخانې استفاده وکړې کنه؟

خو په دې پوهېږم چې تا پر يوې ورځې ډېر کارونه کړي دي او که زه وای پر يوې ورځې مې دغه ټول کارونه نه شوای کولای.

بيا پورته شوو او له ساقي خانې ووتو.

ما احساس وکړ چې کاپتا ډېر مست دی سم په لاره نه شي تللی او د تمساح يوې لکۍ خراب کړی دی.

نهه ويشتم څپرکی

په مصر کې د يوې لويې فتنې سريزې

زه د طبس ښار د بېوزلو په سيمه او د پخواني مسګر په کور کې د بېوزلو ډاکټر شوم او لکه چې کاپتا يې اټکل کړی و، هغسې ډېر ناروغان راته راتلل.

ما د دغو ناروغانو له درملنې استفاده نه کوله او اپوته يې ماته تاوان پېښاوه، ځکه چې ناروغانو ته مې وړيا درمل ورکول.

ځينې وخت خو به لا مجبور شوم هغوی ته خواړه هم ورکړم، ځکه چې کتل به مې د يوه ناروغ معالجه په دې پسې تړلې چې ښه دوډۍ وخوري نو ډېر ځله مې د درملو پر ځای دوډۍ ورې خوړله.

هغه ډالۍ چې ځينو ناروغانو راکولې بې ارزښته وې، خو له دې کبله چې په اخلاص يې راکولې زه يې خوشحالولم.

زه له دې کبله ډېر خوشحاله وم چې خلکو زما نوم مبارک ګاڼه او داسې يې يادولم چې ګنې د نړۍ يو ستر او نيک کس يم.

کاپتا چې د بوډاتوب او شتمنۍ له کبله نور زما خدمت نه شو کولای نو د کور د کارونو لپاره مو يوه بوډۍ ښځه وګمارله چې هم يې له نارينه وو کرکه کوله او هم يې ژوند ته هيله نه وه.

خو له دې چې باید انسان تر هغه چې ژوندی وي کار وکړي، نو هغې هم زموږ په کور کې کار کاوه.

دغه ښځه که څه هم ډېره زړه وه، خو ښه خواړه يې پخول او ما هېڅکله د هغې د لاس له خوړو شکايت نه و کړی.

بله خبره دا چې دې ښځې د هغو بېوزلو له بده بويه کرکه نه کوله چې د درملنې لپاره

زمونږ کور ته راتلل، په داسې حال کې چې کاپتا اوس له دغه بويه سخته کرکه کوله.

دغه ښځه به تل حاضره وه، خو ما به نه ليدله او هغې ته مې (موتي) ويل.

د شپې مهال د طبس ښار د څراغو په رڼا روښانه کېده، ميخانې او عمومي ځايونه به له مشتريانو ډک شول، خو هر چا چې لږ عقل هم درلود اتکل يې کولای شو چې کومه خبره کېدونکې ده.

څکه چې د آتون په نوم د نوي خدای او د مصر د پخواني خدای آمون تر منځ مبارزه سختېدله.

دوه درې مياشتې تېرې شوې، په طبس کې خلک د دوو خدايانو د مبارزې له بالقوه پايلو اندېښمن ول او د مصر د پوځ قوماندان هورم هب هم مصر ته راستون نه شو.

د ورځې له پلوه د لمر تودوخه ډېره وه، او څينې وخت به له ډېرې تودوخې او ستومانۍ څخه له کاپتا سره د(تمساح لکۍ)ميخانې ته تلم، خو هلته مې هغه سوزنده او تېز شراب نه څښل، بلکې لږ د اوربشو اوبه به مې څښلې چې يوازې تنده کمه او ستوماني لېرې کړي او په دې ډول به نه نشه کېدم.

له دې کبله چې په ميخانه کې ګرمي کمه وه زه به هلته هوسا شوم او د مريت د ښکلا له ننداري به مې خوند اخيست.

کله چې به د هغې سترګې زما په سترګو کې ښخې شوې ،احساس مې کاوه چې زړه مې چاکېکښلی دی او زړه به مې غوښتل چې د هغې لاس پخپل لاس کې ونيسم.

له دې وروسته چې څو ځله دې ميخانې ته ولاړم متوجه شوم چې ددې ميخانې مشتريان خاص کسان دي او هرڅوک هلته نه پرېږدي،

يا داچې د ميخانې حالت داسې و، چې بهرزله کسان نه شي کولای هلته شراب او د اوربشو اوبه يا د تمساح لکۍ شراب وڅښي.

کاپتا ورو راته وويل ددې ميخانې په ګاکانو کې داسې کسان هم شته چې د مړيو د ښار له لوټماريو يې شتمني ترلاسه کړې ده.

خو کله چې دې ميخانې ته راځي د اشرافانو په شان چلند کوي او هېڅکله به سپک سپک چلند ونه کړي.

دغه راز هغه ويل ، ددې ميخانې ټول مشتريان هغه کسان دي چې يو بل ته اړتيا لري

او د نورې مادې راکړې ورکړې لپاره دلته راځي يو اځې د تمساح لکۍ شرابو لپاره نه راځي.

يو اځيني ګاک چې څوک ورته اړتيا نه لري زه وم. ځکه چې ما نه کوم شی اخيستل او نه پلورل.

نه مې سره او سپين پور ورکول چې سود يې واخلم. نه د پورونو اخيستونکی وم.

خو تول پوهېدل چې زه د کاپتا ملګری يم. له همدې کبله به يې ميخانې ته پرېښودم. مګر له دې سره سره د ډېر صميميت يې راسره نه درلود ځکه پوهېدل چې زه کوم ګټه نه شم وررسولای.

ما په دې ميخانې کې د مصر او طبس د حالاتو او د هېواد د پېښو په اړه ډېر معلومات ترلاسه کول.

يوه ښېلګه يې وايم. يوه شپه په ميخانه کې وم. چې د سپاندو او په اورکې د نورو سو ځېدونکو خوشبويه نباتي دانو سوداګر ميخانې ته راننوت.

هغه خپلې جامې شکولې او پر سر يې ايرې توی کړې وې.

ميخانې له راننوتو سره سم يې يوه پياله د تمساح لکۍ شراب وڅښل او ويې ويل. هيله کوم چې دغه فرعون دې تر قيامته پورې ملعون وي. ځکه دغه فرعون نه غواړي د عقل پيروي وکړي او هرڅه چې يې په مازغو کې وګرځي هغه عملي کوي.

هغه وويل تر ننه پورې زما ژوند د سپاندو او نورو خوشبويه دانو پر خرڅلاو چلېده. چې له لېرې پرتو هېوادونو مې راوړل.

هر کال په دوبي کې يو شمېر بېړۍ له دې ځايه د ختيځ پر لور ځي او هر کال به لږ تر لږه له لسو بېړيو څخه د ختيځ له شيانو او سوځېدونکو دانو سره بېرته راستنېدلې.

سږ کال چې بېړيو غوښتل د ختيځ سمندر پر لور ولاړې شي. ناڅاپه فرعون بندر ته راغی. زه حيران شوم چې دغه سړی ولې په ټولو کارونو کې لاسوهنه کوي؟ په داسې حال کې چې دغه ډول کارونه په ده پورې اړه نه لري او بله دا چې په طبس کې دومره څارونکي او کاتبان څه کار کوي؟ ايا د هغوی دنده څارنه نه ده. چې هر کار له قانون سره سم تر سره شي؟

کله چې فرعون بندر ته راغی. مانو ګانو په بېړيو کې زاری کولې ښځو او ماشومانو يې په ساحل کې اوښکې تويولې او خپل مخونه يې شکول. ځکه پوهېدل چې يو شمېر

ماڼو ګان به بیرته ستانه نه شي.

ټول پوهېدل چې دوی به په سمندر کې ډوب شي خو دا یو دود دی، کومه نوې خبره نه ده.

هر ځل چې بېړۍ روانېږي، د ماڼو ګانو ښځې او ماشومان زارۍ کوي او ساندې وایي ،خو داځل چې ملعون فرعون د ښځو زارۍ، نارې سورې او د ماڼو ګانو زارۍ ولیدې، امر یې وکړ چې باید نور د ختیځ پر لور کشتۍ ولاړې نه شي.

هر څوک چې سوداګر دی پوهېږي چې د فرعون دغه امر او مخنیوی د سوداګرو د نابودۍ د امر په مانا دی.

له دې سره د ماڼو ګانو ښځې او ماشومان تباه کېږي، ځکه تر هغه چې بېړۍ د ختیځ پر لور ولاړې نه شي ، سوداګر به ګټه ونه کړي او د ماڼو ګانو ښځې او ماشومان به وږي پاتې شي.

هرڅوک چې په مصر کې ژوند کوي پوهېږي چې باید هېڅکله د یوه ماڼو لپاره چې په کښتۍ سفر کوي خواشیني ونه کړي، ځکه هېڅوک پخپله خوښه نه ماڼو کېږي.

هغه محکومین چې قاضیانو محکوم کړي او ورانکاري دي مجبورېږي، چې ماڼو ګان شي، په دغسې حالت کې باید ولې د هغو د ډوبېدو له امله خواشیني شو؟

ایا د څو تنو هغو کسانو مړینه چې محکوم شوي او مجبور دي چې ماڼو ګان شي ډېره دخواشینۍ خبره ده، که د سوداګر د پانګې تباه کېدل د تاسف وړ دي چې کشتۍ یې جوړه کړې او هغه یې سنبال کړې ده.

ځکه چې کشتۍ خو پخپله نه جوړېږي، بلکې باید پانګه پرې ولګول شي ،جوړه شي او بیا له کافي خوړو سره د ختیځ سمندر پر لوري واستول شي.

زما زړه پر مصري سوداګرو سوځي چې دوی پخپله په لېرې پرتو سیمو کې دي، ښځې او ماشومان یې په مصر کې دي او دغې ښځې او ماشومان به هېڅکله خپل مېړونه او پلرونه ونهویني.

هغه سوداګر چې په نورو سیمو کې دي، نورې ښځې یې کړې او وایي هغه ماشومان چې دوی زېږولي د بدن پر پوستکي ټاپې لري

یوه شپه دغو سوداګرو همداسې شکایت وکړ او پر فرعون یې لعنت وایه ، هغه ته یې ښېراوې کولې او ویل یې چې دغه سړی به ټول سوداګر له ګټې وتې وباسي.

دغه راز به هغه سوداګر هم تباه کړي چې په لېرې پرتو سیمو کې دي او مصر ته شیان را استوي.

له دې وروسته چې درې پیالې د تمساح لکۍ شراب یې وڅښل هیجان یې کم شو . او پر دې یې ښښه وغوښته چې فرعون ته یې سپکې سپورې ویلې وې.
ده وویل له ډېره خپګانه یې دغه ډول خبرې وکړې او زیاته یې کړه ، ما فکر کاوه چې د فرعون مور (تي) به وکړای شي. خپل زوی سم کړي او عقل ور وښيي. خو هغه هم په دې فکر کې نه ده.
دغه راز ما تصور کاوه چې د فرعون د نوي معبد مخکښ (آی) به د هغه لپاره زړه سواندی نصیحت کوونکی وي خو دغه سړی هم یوازې په یوه فکر کې دی او هڅه کوي پخوانی خدای آمون له پښو وغورځوي.
تر دې مخکې چې فرعون ښځه وکړي، نو ما فکر کاوه چې دی به له دې کبله بې پروا وي چې واده یې نه دی کړی . خو چې (نفر تي تي) د هغه خور شوه بیا هم د هغه بې پروایي ختمه نه شوه.
له هغه وروسته چې نفر تي تي د مصر ملکه شوه په جامو کې یې حیرانوونکي موډونه را وایستل چې د دربار ښځې د هغې پیروي کوي او اوس د دربار ښځې د نفر تي تي په شان د خپلو سترګو شا و خوا رنګوي.
دوی د سورېې د ښځو په شان جامې اغوندي. د هغوی جامې داسې دي چې مخکښی برخه یې ښخې خلاصه ده.
کاپتا وویل ما دغسې جامې په هېڅ هېواد کې نه دي لیدلې. خو ایا ته باوري یې، هغه ښځې چې نوی موډ کالي اغوندي، د بدن هغه برخه چې باید پټه یې کړي د نورو د ننداري لپاره لوڅه پرېږدي؟
ایا، تا پخپله د ښځو د بدن دغه برخه لیدلې ده؟
سوداګر وویل زه خور لرم، له خپلې خور څخه څو بچیان لرم، ځان یو شریف سړی ګڼم خو کله چې ما هغه ښځې ولیدې چې د بدن مخکښنی برخه ببخې لوڅه ده، نو د هغوی له نامه ښکته برخې ته مې ونه کتل.
په دې وخت کې د میخانې نوکرې مریت خبرې پیل کړې او سوداګر ته یې وویل، که ته بې سلیقې سړی یې ، نو دا د ښځو ګناه نه ده، ځکه چې په دوبې کې له دې موډه پیروي ډېره ښه ده او ښځې ښکلې کوي.
مریت سوداګر ته وویل ، هغه جامې چې ته پرې نیوکې کوې داسې نه دي ، بلکې ښځې

له دغو جامو سره . پر هغه ځای د کتان یوه ټوټه تړي چې باید پټه وساتل شي.

د ډېرو تېزو سترګو نارینه هم نه شي کولای تر دغې ټوټې لاندې بدن ووېني.

سوداګر غوښتل ځواب ورکړي، خو د ډېرې نشې کبله یې ونه شو کولای.

ده خپل سر په دواړو لاسونو کې ونیو او د ښځو د جامو د نوي موډ . د لېږې سمندرونو پر لور د بېړیو د مخنیوي او د خیتځو سیمو د شیانو له ګټو څخه د سوداګرو پر راګرځېدو یې وژړل.

په دې وخت کې د آمون د معبد یو کاهن چې سر یې خریلی او معطر تېل پرې موښلي ول، په خبرو کې راګډ شو او په لوړ غږ یې وویل:

زه د ښځو د نویو جامو په هکله څه نه وایم ځکه چې د امون خدای د جامو او موډ په هکله څه نه دي ویلي. خو هغه څه چې ټول شیان له منځه وړي. د ختیځ لوري ته د فرعون له لوري د بېړیو د تګ مخنیوی دی.

ځکه که دغه بېړۍ ولاړې نه شي . نو څوک په اور کې سوځېدونکې معطرې نباتي دانې نه شي راوړلای او که دغه دانې رانه وړي نو زموږ خدای. آمون به زموږ د قربانۍ پر وخت له ښه بویه محروم شي.

دا په داسې حال کې ده چې آمون ته ښه بوی ډېر خوند ورکوي او له آمون سره شوې دغه دښمني د مصر د ملت لپاره ستره بدبختي ده.

له هغې ورځې راهیسې چې هرمونه جوړ شوي د چا نه یادېږي، چې د مصر ملت دې داسې بد بخته شوی وي.

زه یقین لرم له دې وروسته چې هر مصری د فرعون د نوي خدای یو پیرو هم وګوري نو نارې به ور تو کړي.

د نوي خدای پیروان پر خپلو جامو د نوي خدای نښه تومبي چې یو صلیب دی.

ستاسې له ډلې که نن شپه هرڅوک ولاړ شي او خپل لوی ضرورت (جواب چای) د نوي خدای په معبد کې رفع کړي، زه به پرې څو پیالې د تمساح لکۍ شراب وڅښم.

دغه کار سخت هم نه دی، ځکه د آتون په نوم دغه ملعون خدای معبد دېوال هم نه لري او که یې څوک ووېني نو د معبد له ساتونکو څخه په اسانه تښتېدلی شي.

زه پخپله هم دغه کار کولای شم خو له دې کبله چې د آمون د معبد کاهن یم. نو ښه نه ده چې ما وګوري او دا کار د آمون د سپکاوي سبب شي.

په دې وخت کې يو سړی چې پر مخ يې د کوي يا چيچک نښې وې، د ميخانې له يوه ګوټه را ولاړ شو، کاهن ته نژدې شو او ورو يې ورسره خبرې وکړې.

کاهن دغه کس پخپل څنګ کې کېناوه او پر هغه يې د تمساح لکۍ، شراب وڅښل.

سړی چې کله شرابو ګرم کړ، نو په لوړ غږ يې کاهن ته وويل، زه دغه کار ته چمتو يم او ځم.

زه پر آمون عقيده لرم او دا نه شم منلای چې بل خدای دې د آمون ځای ونيسي، ځکه له هغې ورځې چې زېږدلی يم، تر ننه پورې د آمون عبادت کوم.

کاهن وويل که ته نن شپه ولاړ شې او د آتون د معبد په محراب کې خپل ضرورت رفع کړې، زه به تا وبښم.

ان که ستا جنازه موميايي هم نه شي، بيا به هم تر مړينې وروسته د لوېديز نيکمرغه ټاټوبي ته ورسېږې. ځکه هر څوک چې د آمون لپاره مړ شي او يا که په سمندر کې ما ټوګان ډوب شي بيا به هم د لوېديز ټاټوبي ته ورسېږي.

نشه کاهن د ډېرې نشې له کبله په ميخانه کې ناستو کسانو ته وويل، که تاسې د آمون په لاره کې قتل او غلا وکړئ، کورونه وسوځوئ او هر بد عمل وکړئ، زه به تاسې وبښم او ان که فرعون ووژلاست هم تاسې به وبښم.

کله چې د کاهن خبرې دې ځای ته ورسېدې نو د کاپتا شاګرد او د ميخانې چلوونکي سړي راپورته شو کاهن يې پر سر په يوه لرګي وواهه.

کاهن پر ځمکه ولوېد او شراب پلورونکي وويل، دغه کار هم زه د آمون لپاره کوم، ځکه چې پوهېږم آمون ويلي هېڅوک بايد د هغه زوی يانې فرعون ونه وژني.

ټولو مشتريانو د شراب پلورونکي خبره تاييد کړه، خو له دې کبله چې شونې ده د يوه کاهن وهل ناوړه پايلې ولري، نو ما او کاپتا د نورو مشتريانو په شان غوره وبلله چې له ميخانې راووځو شو.

مريت زما د بدرګې لپاره را سره روانه شوه، کله چې د ميخانې تياره دهلېز ته ورسېدو ما خپل لاس د هغې پر لاس کېښود او ومې ويل، ستا له سترګو داسې ښکاري چې ته هم ما غوندې يوازې يې او ورور نه لرې (يانې مېړه نه لرې ځکه چې په مصر کې د ورور او خور ودونه روا ول ژباړن) زه غواړم چې يوه ورځ دې د نوي موډ په کاليو کې وګورم او باوري يم، چې ته به په دې جامو کې ښايسته شې ځکه چې ستا خېټه کوچنۍ او ښو يېيه ده.

مریت زما لاس ټېل نه واهه او ویې ویل، شوني ده زه یوه ورځ دغه جامې وا غوندم او له تاڅخه چې ډاکټر یې ،وغواړم، زما د بدن د ځینو غړیو په هکله نظر راکړې
دا به راته وو ایې چې دې ته ورته غړي دې په خپل طبي مسلک کې کتلي کنه؟
اوس زما بر خلیک دې ځای ته رسېدلی دی.
باید ځینې شیان یاد کړم چې کله زما دوو سترګو لیدل نو له کر کې رېږدېدم، خو د دغو پېښو د مخنیوي لپاره مې کومه وسیله نه درلوده.
زه باید هغه شیان بیان کړم چې ته، یا هغه څوک چې دغه کتاب زما له مرګه وروسته لولې نو پر هغو به باور وکړې، ځکه زه اټکل کوم دغه ډول پېښې به ستا په وخت کې هم وشي.
څرنګه، چې ددې کتاب په پیل کې مې وویل په نړۍ کې هر شی بدلېږي، یوازې د بشریت حماقت دی چې نه بدلېږي او تر کومه چې دا دنیا وي د خلکو له حماقته به استفاده کېږي.
د دوبي په نیمایي کې د مصر د سپاهیانو قوماندان هورم هب د مصر په سوېل کې د کوش له ټاټوبي راستون شو.
د ګرمۍ له کبله تو تکۍ نه الوتې او غږ یې نه اورېدل کېده.
په ډنډونو کې او به نه خوسا کېدلې او خلک د ورځې له پلوه له سیند څخه را وتل، یوازې هغه کسان پاتې کېدل چې مجبور ول، د طبس په بندر کې کار وکړي او یا په بېډیا کې په پټیو کې کار کوي
خو د شتمنو کسانو باغونه تل ساړه او له ګلانو ډک ول او تل د باغونو په لښتیو کې او به رواني وې.
په دې دوبي کې فرعون د تېرو کلونو پر خلاف په طبس کې له خپلې ماڼۍ راونه ووت، چې کوز مصر ته ولاړ شي او د هغه ځای له سړې هوا استفاده وکړي
له دې کبله چې فرعون ساړه بڼ ته نه و تللی ټول پوه شول چې سترې پېښې کېږي.
یوه ورځ خلک خبر شول چې هورم هب راغلی او له کورونو راووتل چې د فرعون عسکر وګوري
هغوی ولیدل له ټولو هغو لارو چې له سوېله طبس ته راغځېدلې په دوړو پټ تورپوستي عسکر په داسې حال کې ښار ته راننوځي چې د نېزو مسي څوکې یې ځلېدې.

تور پوستو چې توري ستر ګې او سپين- سپين غاښونه يې درلودل . شا و خوا يې حيران -حيران کتل او معلومېده چې د طبس د ستر او ښکلي ښار ليدو حيران کړي دي.

پر همدې وخت چې تور پوستي عسکر طبس ته ننوتل د فرعون جنګي بېړۍ هم بندر ته ورسېدې.

له بېړيو څخه جنګي ګاډۍ او اسونه . وچې ځمکې ته ولېږدول شول او خلکو وليدل چې د ګاډيو چلونکي او د اسونو پالونکي ټول د شردن ټاټوبي او سپدونکي يا تورپوستي دي.

(شردن هغه سيمه ده چې اوس يې ليبيا بولي. ژباړن)

بايد ووايم چې پخوا يې په مصر کې ګاډۍ په خرو پسې تړلې . او په اسونو پسې د جنګي ګاډيو د تړلو دود له شردون څخه مصر ته ورغلی دی.

کله چې تور پوستي عسکر ښار ته ننوتل د شپې مهال يې په څلور لارو کې د پيرې دروازې ودرولې او د شمال او جنوب تر منځ يې د سيند لاره بنده کړه.

دوی لاره داسې بنده کړه. چې هېڅوک د مصر د قوماندان له اجازې پرته جنوب يا شمال ته د تللو لپاره د نيل سيند له لارې استفاده ونه کړي.

پر همدې ورځ چې تورپوستي. طبس ته ننوتل خلک داسې وار خطا شول. چې په کارخانو ، ژرندو . دوکانونو او بندر کې کارګر رخصت شول.

د طبس کسبګرو د خپلو هټيو په مخکې اېښې توکي له وېرې بېرته دوکانونو ته ننه ايستل او دروازې يې پسې راوتړلې.

د عمومي ځايونو خاوندانو . يو شمېر بې تربيته او پياوړي کسان وګمارل. چې که کومه خرابه پېښه وشي، نو ددې مخه ونيسي چې پر ميخانو يا عمومي ځايونو بريد ونه شي.

د طبس خلکو به يوازې په بېړنيو حالاتو کې، معبد ته د تګ پر وخت سپينې جامې اغوستې. خو اوس ټولو سپينې جامې واغوستلې او د آمون د معبد پر لور روان شول چې په حقيقت کې يو ښار دی.

د آمون د معبد د پراخوالي د بيانولو لپاره همدا کفايت کوي چې ووايو . دار الحيات د آمون د معبد يوه موسسه وه.

پر همدې ورځ چې تور پوستي سرتېري. ښار ته ننوتل او کارونه رخصت شول . نو

داسې اوازه خپره شوه. چې تېره شپه دآمون خدای د سیال آتون د معبد محراب ککړ شوی دی. یو مړ سپی چا په محراب کې اچولی او د معبد د ساتونکي سر یې غوڅ کړی دی.

خلکو ددې خبرو په اورېدو سره ظاهراً خواشیني وښودله. خو په باطن کې ټول خوشحاله ول. ځکه چې ولس له نوي خدای سره مینه نه درلوده چې عجیبې غریبې خبرې یې کولې.

پر دې ورځ کاپتا راته وویل باداره! خپل طبي وسایل او شیان بر سېره کېږده. زه اټکل کوم چې سبا یا بل سبا باید دومره کار وکړې چې د ډوډۍ خوړلو لپاره به وخت پیدا نه کړې.

د تور پوستي د راتګ پر ورځ ما واورېدل چې هورم هب هم ښار ته راننوتی دی.

زه ولاړم چې هغه ووینم. خو هلته له رسپا. و سره راته معلومه شوه چې هورم هب تر ټولو وروسته یانې پر بله ورځ ښار ته راځي.

پر دې شپه تورپوستي عسکر په طبس کې ول. له دې پرته له چې د پوځ قوماندان موجود وي، دوی څو دوکانونه لوټ کړل او پر څو عمومي کورونو یې حمله وکړه.

خو د پوځ سپین پوستو مصري ساتونکو دوی د خلکو په مخکې ووهل، مګر ددې سزا د عمومي ځایونو د مالکانو تاوان جبران نه کړای شو او د هغوی غوسه یې سړه نه کړه.

پر بله ورځ مازیګر، هورم هب په یوې جنګي بېړۍ کې طبس ته راننوت او ما په بېړه ځان بندر ته ورساوه چې هغه ووینم.

ما تصور نه کاوه چې هغه به دومره په آسانۍ سره ولیدای شم. خو کله چې یې هغه ته خبر ورکړ چې سینوهه ستا کتو ته راغلی نو دستي یې امر وکړ چې ما بېړۍ ته ورولي.

تر هغه وخته ما د مصر د کومې جنګي بېړۍ منځ نه و لیدلی. خو کله چې بېړۍ ته ننوتم د یوې جنګي او سوداګریزې بېړۍ ترمنځ ډېر توپیر نه و.

یوازې دا چې جنګي بېړۍ د اور اچولو لپاره وسایل لري. بادبانونه یې رنګارنګ او ښکلي وي او د بېړۍ مخه او شا یې سینګار کړې وي.

کله چې مې هورم هب ولید متوجه شوم. چې د هغه د متو عضلات مضبوط شوي او د پوځ د عمومي قوماندان سینې داسې راوتلې وې چې ته وا د یوې ښځې سینې دي.

د هورم هب په لاس کې یوه مترکه وه. چې د سرو زرو لاستی یې و. او زري غاړکۍ یې په غاړه او پر تټر پرته وه.

کله چې د هغه مخې ته ورغلم. دواړه لاسونه مې پر زنګونو کېښودل. ورته ټیټ شوم.

هورم هب وخندل ویې ویل اې ابن الحمار سینوهه! په ډېر ښه وخت راغلې.
خو له دې کبله چې ډېر غټ شوی و، زه یې ښکل نه کړم او ما هم جرئت ونه کړ چې هغه ښکل کړم.

د هورم هب تر څنګ یو چاغ او ټیټ سړی ولاړ و، چې د ګرمۍ له کبله یې خولې خولې و.

زه نه پوهېدم چې هغه څوک دی او ناڅاپه او په حیرانۍ سره مې ولیدل، چې هورم هب خپله متروکه چې د قوماندانۍ نښه ده، هغه سړي ته ورکړه.

ده له خپلې غاړې څخه زري غاړکۍ راوکښله او هغه ته یې ورکړه او ورته یې وویل، دغه طوق پر غاړه کړه او سر له نن د مصر د پوځ د قوماندانۍ مسولیت پر غاړه واخله، ښه به وي چې د مصر د ملت وینه ستا په ګنده لاسونو وبهېږي، نه زما په لاسونو.

زه له پخوا د هورم هب د خبرو له لهجې سره بلد وم او پوهېدم چې هغه تل د زړه خبره کوي، نمایشي خبرې نه کوي، ان ما اورېدلي دي، چې له فرعون سره هم داسې خبرې کوي چې کله کله د شخړې په شان وي.

په زړه پورې دا وه چې ده هېڅکله له ما سره داسې چلند نه کاوه، نه یې له ما سره بد چلند کړی او نه کله بده او چټي خبره راته کړې ده.

کله چې یې خپله متروکه او غاړکۍ دغه سړي ته ورکړه، نو مخ یې راواړوه، ویې ویل سینوهه! ما چې درته وویل پر سم وخت راغلې لامل یې دا دی چې زه حاضر یم ستا کور ته ولاړ شم، ځکه چې له دې مېزانې (ساعته) وروسته د مصر د پوځ قوماندان نه یم. *(مېزان چې نن یې مونږ ترازو بولو په هغه وخت کې د دابو د ساعت نوم و، لکه چې اوس مونږ وایو له دې ساعته وروسته مصریانو به ویل له دې میزانه وروسته. ژباړن)*.

که ستا په کور کې یو پوزی هم وي غواړم پرې ویده شم، د مه وکړم او تر دې زیات نور له لیونو سره خبرې ونه کړم.

بیا یې خپل لاس د همغه چاغ او ټیټ سړي پر اوږه کېښود او ویې ویل: سینوهه! دغه سړي ته ښه ځیر شه، هغه وپېژنه، ځکه دغه سړی هغه څوک دی چې له دې مېزانه وروسته به نه یوازې د طبس بلکې د ټول مصر بر خلیک ور سره وي.

دی د مصر پوځ نوی قوماندان دی او فرعون هغه زما ځای ناستی کړی دی. ځکه چې ما فرعون ته وویل چې لیونی دی او که ته دغه سړي ته ښه ځیر شې، نو پوه به شې چې فرعون به بیا ماته محتاج شي.

د پوځ نوي قوماندان چې خولې پرې راماتې وې ویل، هورم هبه ! پر ما غوسه نشې، ځکه چې ته پوهېږې، مانه غوښتل ستا ځای ونیسم. زه د جنګ سړی نه یم او فکر کوم زما د باغ چوپتیا ، او په دغه باغ کې له خپلو پیشو ګانو سره لوبې کول د جنګ د ډګر تر شور ماشوره ماته غوره وي.

خو له دې وروسته چې فرعون زه د پوځ د نوي قوماندان په توګه وټاکلم، د هغه د ارادې بې احترامي مې نه شوه کولای، په تېره بیا دا چې وېې ویل، نه به کوم جنګ وشي او نه به وینه تویه شي، بلکې آمون به پخپله نسکور او له منځه ولاړ شي.

هورم هب وویل د فرعون یوه لوی عیب دا دی چې کله کومه هیله کوي ، نو خوب ویني چې هغه هیله یې پوره شوې ، بیا تصور کوي هغه څه چې ده یې فکر کړی په رښتیا عملي شوي دي.

د آمون په هکله هم همدا غلط فکر کوي، خیال کوي چې له وینې بهېدو پرته د آمون خدای پرځولی شي او د آتون خدای یې پر ځای کېنولی شي.

هورم هب ورته وویل ، له دې کبله چې پوهېږې پر تا پیشو ګانې ګرانې دي او له جنګه کرکه کوې، نو د آمون د خدای ختمول یې تاته سپارلي دي.

خو زه درته وایم چې له وینې بهېدا پرته دغه کار شونی نه دی. ته باید د هر کسان وو ژنې چې وکولای شې د آمون خدای رانسکور کړې. خو هغه وینه چې ته یې بهوې له دې کبله چې ستا خپله وینه نه ده نو تاوان به و نه کړي.

له دې وروسته هورم هب هغه سړی پر ملا وواهه ، سړی دده د لاس تر ګزار لاندې کړوپ شو او بیا یې ماته وویل راځه چې له دې بېړۍ څخه ولاړ شو .

کله چې موږ غوښتل له دې بېړۍ څخه ووځو ، هلته ناست سرتېري را ولاړ شول ، نېزې یې څنګ ته کېښولې، هورم هب ته یې سلام وکړ.

هغه عسکرو ته په لوړ اواز وویل: زه له تاسې سره خدای پاماني کوم خو پوهېږم چې یوه ورځ به بیرته تاسې ته راستون شم.

تر هغې ورځې چې زه نه یم راغلی تاسې ددغه سړي پیروي کوئ، چې اوس مو قوماندان دی او نظم او دسپلین ته پام وکړئ.

که مو داسې و نه کړل نو له ستنېدا وروسته به پر ملا دومره متروکې او لرګي وخورئ چې د بدن د غوښو ټوټې مو جلا شي.

عسکرو وخندل او هورم هب وويل، زه خپل شيان له بېرې څخه نه باسم ځکه چې پوهېږم دلته به خوندي وي

بيا يې زما پر غاړه کې لاسونه را واچول او ويې ويل سينوهه! زه نن شپه غواړم ځان بوخت کړم.

ومې ويل په دې ښار کې يوه ميخانه شته چې د تمساح لکۍ يې بولي يو ډول معطر شراب لري، چې په هېڅ ځای کې حتی په بابل او کرت کې يې ساری نه موندل کېږي.

خو ډېر قوي دي، بايد په خوړلو کې يې احتياط وشي. ايا غواړې هلته ولاړ شو چې ته دغه شراب وڅښې؟

هورم هب وويل، هو! غواړم چې دې ميخانې ته ولاړ شم.

ومې ويل، نو امر وکړه چې يو ټولی عسکر ستا د ساتلو او د بې نظمۍ د مخنيوي لپاره دغې ميخانې ته ولاړ شي.

له دې سره سره چې هورم هب نور د پوځ قوماندان نه و. نوي مشر ته يې داسې امر وکړ چې ته وا هغه سړی لا هم دده تر امر لاندې دی.

هغه ته يې وويل، يو شمېر باوري سپاهيان د تمساح لکۍ شراب خانې ته واستوه چې نن او په نورو ورځو کې ميخانه وساتي او چا ته اجازه ورنه کړي چې هلته بې نظمي جوړه کړي

زه ددې دهغه د امر له کبله خوشحال شوم. ځکه چې اټکل مې کاوه، که ناسمې پېښې وشوې. نو د تمساح لکۍ به تر بل هرځای ژر له حملو سره مخامخ شي.

دا ځکه چې ټول پوهېږي. ددې ميخانې تر شا ځينې کوټې د هغو کسانو د معاملې ځای دی چې د امواتو د ښار له قبرونو غلاوې کوي او يا غلا کړي سره او سپين پخپلو منځو کې ويشي.

دغه راز ځينې کسان خبر ول. چې که کومه پېښه وشي نو پر دغې ميخانې به حتماً حمله وشي او کاپتا ته به سخت تاوان ورسوي

خو ميخانې ته د هورم هب له امر سره سم د عسکرو تر رسېدلو وروسته دغه خطر له منځه ځي.

ما هورم هب ته لارښونه وکړه، هغه مې د تمساح لکۍ شراب خانې ته بوت او په يوې کوټې کې مې کېناوه.

مریت موږ ته مخصوص شراب راوړل.

هورم هب په یو وار پر سر واړول او ویې څکل. خو څو شیبې وروسته یې وغوښتل چې یو بله پیاله شراب هم ورته راوړي.

مریت بیا جام ورته ډک کړ او هورم هب هم وڅښل.

ماته یې وویل دغه ښځه ډېره ښکلې ده. ایا له تا سره ملګرې ده؟

ما ورته وویل. له دې ښځې سره زما دوستي عادي ملګرتیا ده او خصوصي اړخ نه لري.

زه په تمه وم چې هورم هب به خپل لاس د مریت لاس کې کېږدي. خو هغه په ادب سره مېرمنه رخصت کړه او له دې وروسته چې هغه ولاړه ماته یې ویل: سینوهه! سبا هغه ورځ ده چې په طبس کې به وینه وبهېږي.

فرعون فیصله کړې چې خپل خدای. د آمون پر ځای کېنوي. له دې کبله چې فرعون پر ما ګران دی. نو د هغه د دغه اقدام مخه نه نیسم.

زه پوهېږم که مې د فرعون مخه نیولې وای نو هغه به داسې خپه شوی و. چې ممکنه ده له غمه مړ شي.

ته پوهېږې زه هغه کس یم. چې کله فرعون ولیعهد و. ما ستا په شتون کې هغه پخپلو جامو کې پټ کړ چې ساړه یې ونه شي. له هماغه وخته پر ما ګران شو.

زه پوهېږم چې د خدای د بدلولو لپاره به د فرعون اقدام ډېرې وینې توی کړي نو ځکه مې د مصر پوځ له قوماندانۍ مې استعفي ورکړه چې د خلکو د وینې بهېدا مسوولیت را پر غاړه نه شي.

زه پوهېږم که دغه مسوولیت پر غاړه واخلم نو په راتلونکې کې به د مصر د ملت له کرکې سره مخ شم.

سینوهه! کله چې زه او ته په سوریه کې سره بېل شو. نو له هغه تر اوسه پورې د نیل له بستره ډېرې اوبه تېرې شوې. څو وارې دغه سیند مست شوی دی. ساحل یې تر اوبو لاندې شوی او راز په دې هېواد کې ډېرې نورې پېښې هم شوې دي.

سره له دې. چې د فرعون د امر پر اساس مې د هېواد جنوب ته سفر وکړ. چې ټولې پوځي چونې ختمې کړم او ټول تورپوستي عسکر طبس ته راولم او اوس د مصر په جنوب کې هېڅ عسکر نشته. ټولې چونۍ تشې دي او دغه کار په سوریه کې هم تکرارېږي.

بې له شکه سوریه به بلوا وکړي او بنایي هغه وخت به فرعون پخپل لېونتوب پوه شي

او په دې به هم پوه شي چې هېواد له عسکر و پرته نشي ساتل کېدای.

له هغې ورځې چې فرعون فيصله کړې، د خپل خدای د غوښتنې پر اساس عمل وکړي له هغه وروسته د مصر له کانونو څخه پامور شيان نه راوځي ددې لپاره چې وايي مرييان خوشې کړئ، هغوی تنبلان دي په کانونو کې کار نه کوي

له دې سره سره چې زه عسکر يم او له خدايانو سره مې کار نشته خو د فرعون نوي خدای اند ښمن کړی يم، ځکه ګورم چې دغه خدای نيت لري د وينې بهېدا په وسيله د بل خدای ځای ونيسي.

زه د خدايانو په کارونو ډېر نه پو هېږم خو په دې پوهېږم چې خدای ددې لپاره رامنځته شوی دی چې خلک نيکمرغه کړي. نه دا چې د هغو وينه تويه کړي

له سياسي پلوه زه د فرعون له دې اقدام سره موافق يم، خو دا روده سمه نه ده چې دی غواړي آمون را نسکور کړي.

د فرعون د اقدام سياسي ګټه دا ده چې د آمون خدای په مصر کې ډېره موده خدايي کړې، ډېر چاغ شوی دی، کروندې ،باغونه ،تاکستانونه ، پادې او ژرندې لري او کله چې فرعون دغه خدای را نسکور کړي د امون د خدای ټوله شتمني به دده شي.

خو په کوم ډول چې فرعون غواړي دغه کار تر سره کړي په طبس کې به ډېره وژنه او وراني رامنځته کړي.

ما وويل هورم هب ! زه له اصولي پلوه د امون له پرځولو سره موافق يم ، ځکه آمون هغه خدای دی، چې حريص او بې رحمه دی او د خلکو له آزاديو سره جوړ نه دی.

ده د خپلو کاهنانو په وسيله يې خلک داسې په ناپوهۍ کې ساتلي دي چې په دې هېواد کې هېڅوک نه پوهېږي چې څه کېږي؟

که څوک پوهېږي هغوی خپله خبره نه شي کولای، ځکه چې کاهنان به يې له منځه يوسي.

خلک تل له آمونه په وېره کې وي.

خو آتون هغه خدای دی چې تمه نه لري ،سوله او ازادی غواړي او هڅه يې دا ده چې خلک له وېرې وژغوري.

هورم هب وويل زه ستا له عقيدې سره موافق نه يم او هغه خدای چې وېره او ترهه ونه لري خطرناک بولم، ځکه له وېرې پرته ملت نه شي اداره کېدای.

نوی خدای له دې سره سره چې مهربان او سوله غوښتونکی دی، مګر د مصر لپاره تر پخواني هغه خطرناک دی.

خو له دې سره د آمون د راپرځولو لپاره له تا سره موافق یم، زه هم وایم چې باید د غه خدای له منځه ولاړ شي خو په داسې ډول نه لکه چې فرعون یې غواړي.

هورم هب وویل، که فرعون د دغه کار اجازه را کړي، زه به د آمون خدای داسې له منځه یوسم چې حتی په دې ملت کې به د هیچا وینه هم تویه نه شي.

ما پوښتنه ترې وکړه، چې ته به څه وکړې؟

هورم هب وویل، ما په یوې شپې کې له دې پرته چې د آمون خدای کاهنان خبر شي د لومړۍ لیکې ټول کاهنان وژل او نور کاهنان مې د کانونو د استخراج لپاره معدنونو ته استول.

په دې ډول چې کله خلک سهار له خوبه راپاڅېدل نو هیڅ کاهن به یې نه و، لیدلی او دغسې به د آمون خدای له منځه تللی وای.

ځکه د آمون قدرت په کاهنانو پورې تړلی دی، که کاهن و نه لري آمون هم قدرت نه لري.

خلک هم چې کله وګوري خدای نه لري، نو هر خدای دې چې ور وړاندې کړې، د هغه عبادت کوي، ځکه چې د خلکو شعور په دې حد کې نه دی چې د یوه او بل خدای ترمنځ توپیر وکړي.

خو له دې کبله چې فرعون غوښتل دغه کار په ښکاره وکړي، نو نن په طبس او د مصر په ډېرو ښارونو کې حتي ماشومان هم پوهېږي چې فرعون نیت لري آمون له منځه یوسي.

له همدې امله کاهنانو خلک د طبس او نورو ښارونو په معبدونو کې راټول کړي، هغوي هڅوي چې مقاومت وکړي او د خلکو د مقاومت له امله به وینه تویه شي.

له دې خبرې وروسته هورم هب د تمساح لکۍ یو بل جام شراب وغوښتل او ویې څښل.

دریيم جام مست کړ سر یې پر دواړو لاسونو کېښود او د مصر د ملت لپاره یې وژړل چې د بدبختۍ له کبله وژل کېږي.

ما غوښتل د هغه د ژړا مخه ونیسم خو یو وخت مې وکتل چې هورم هب ویده شوی دی.

دیرشم څپرکی

د طبس په ښار کې وژنه

ما پر دې شپه په هغې خصوصي کوټه کې د هورم هب د ساتلو مسولیت پر غاړه واخیست. ځکه چې که مې خوشې کړی وای او تللی وای ممکنه ده د مصر د پوځ نوي قوماندان وژلی وای.

خو د ساقي خانې له عمومي انګړه تر سهاره پورې د هغو عسکرو د شور او مستۍ غږ راته. چې میخانه یې ساتله.

کاپتا او د هغه شاګرد چې د ناوړه پېښو اټکل یې کاوه . د عسکرو د دوستۍ جلبولو لپاره یې هغوی ته د اوربشو اوبه او ډوډۍ ورکوله.

پر دې شپه نه یوازې زه ویده نه شوم. بلکې په طبس کې د فرعون له عسکرو او افسرانو پرته ټول خلک ویښ ناست ول او ما وروسته واورېدل چې پخپله فرعون هم پر دې شپه ویښ و.

ځکه خلک پوهېدل سبا به د طبس د خلکو په ژوند کې یوه ستره ورځ وي ځکه قوي احتمال لیدل کېده چې د مصري پوځ او د ښار د هغو اوسېدونکو ترمنځ به شخړه وشي چې د آمون په ستر معبد او د معبد په مخکې راټول شوي ول.

پر دې شپه د آمون د معبد کاهنانو قرباني وکړه او پر هغو کسانو چې په معبد او له هغه د باندې ول . ډوډۍ او غوښه ووېشل شوه. ما پخپله په خصوصي کوټه کې هم د خلکو نارې سورې اورېدای شوې.

کاهنانو شپه په شپه د آمون نوم اخیست او ویل یې هر څوک چې د آمون په لاره کې قرباني شي. حتماً به تلپاتې نیکمرغي ور په برخه شي.

زه باوري یم چې که کاهنانو خلک نه وای پارولي نو په راتلونکې او نورو ورځو کې به

وینې نه وای بهېدلې.

څکه که کاهنان تسلیم شوي وای، نو فرعون چې سوله غوښتونکی سړی و، له وینې بهېدا یې کرکه کوله او هغوی یې نه ځورول.

ښايي د آمون د کاهنانو د ځمکو ،سرو او سپینو یوه برخه یې هم بیرته هغوی ته ورکړې وای چې پاتې عمر په خوشحالۍ کې تېر کړي.

خو کله چې یو څوک تل په قدرت او شتمنۍ کې عادت شي نو بیا داسې مینه ورسره پیدا کوي چې د قدرت او شتمنۍ په لاره کې ځانونه هم قربانوي.

کاهنان پوهېدل چې که جنګ وشي، نو خلک به له شکه له فرعونه کرکه وکړي، څکه چې د جنګ د پیلیدا په وخت کې به تور پوستو عسکرو خلک قتل عام کړي و.

که څه هم ددې وینې بهېدنې له امله به د آمون مجسمه نسکوره شوې وای. خو آمون به د وینې میثاق د خلکو په زړونو کې ځای کړی و، چې هېڅکله به یې هېر کړی نه وای او ترقیامته به یې فرعون ته سپکې سپورې ویلې.

هغه ته به یې ښېراوې کولې چې ولې یې تورپوستي عسکر د خپل ملت یانې مصریانو پر ضد درولي دي.

په حقیقت کې کاهنانو هیله کوله چې د مقاومت په وسیله او د قتل عام له لارې آمون تلپاتې خدای کړي. ان که یې مجسمه را وپرځول هم شي او معبد یې بند شي.

کله چې ورځ شوه د لمر تودوخې ډېر ژر د شپې ساړوبې له منځه یوړه او بیا په څلور لارو او چوکونو کې د نغارو غږونه واورېدل شول.

څو جارچیان له یوه چوکه بل ته تلل او د پاپیروس کاغذ له مخې یې د مصر د فرعون فرمان لوست.

د فرمان مضمون دا و، چې آمون د دروغو خدای دی باید هغه را وپرځول شي، باید تر ابده پرې لعنت وویل شي.

ددې جعلي خدای ټول معبدونه په لر او بر مصر کې او د غه راز د هغه ټولې ځمکې،مریيان ،مالونه، سره او سپین د مصر د فرعون او د هغه د خدای آتون په واک کې راځي او له دې وروسته به بېوزله خلک هم په هغو حوضونو کې حمام کولای شي چې مخکې په جعلي خدای پورې اړوندول.

دغه راز به دوی کولای شي چې ددغو حوضونو او به وڅښي.

فرعون د دغه جعلي خدای ځمکې ټولو هغو کسانو ته ورکوي چې ځمکه نه لري او د آتون د خدای د شکرانې په توګه هلته فصلونه وکري.

کله چې د دغه فرمان د آتون د معبد پر وراندې ولوستل شو، خلک په سر کې غلي شول، چې پوه شي فرعون پخپل فرمان کې څه وايي؟

کله چې فرمان هغه ځای ته ورسېد چې د آمون ټولې ځمکې، څاروي، مريان، سره او سپين د فرعون او د هغه د خدای له لوري ضبط کېږي، نو کاهنانو چيغې کړې، خلکو هم د هغوی په پيروۍ داسې چيغې پيل کړې چې تا به فکر کاوه، د کورونو او واټونو خښتې او ډبرې هم نارې وهي.

د تورپوستي عسکر سره او سپين رنګونه خوښېږي، له همدې امله يې پرخپلو مخونو سره او سپين رنګونه موښلي ول.

دوی چې دغه غږونه واورېدل وار خطا شول، شا و خوا يې کتل، له دې سره سره چې شمېر يې زيات و، خو بيا هم وېرېدل چې که طبسيان پرې حمله وکړي نو مړه به شي.

خلکو داسې چيغې وهلې چې چا د فرعون د فرمان وروستۍ برخې وانه ورېدې او پوه نه شول چې فرعون فيصله کړې د آمون لعنتي نوم هم له منځه يوسي او په ځان يې هم د اخناتون (د آتون غوښتونکي) نوم ايښی دی.

کله چې يې د آمون د معبد په مخکې فرمان لوستل کېده زه هلته نه وم او کيسه مې وروسته واورېده، خو خلکو داسې چيغې وهلې چې غږونه يې د تمساح لکۍ ميخانې ته هم را رسېدل.

هورمهب د خلکو په غږ را ويښ شو کېناست او ويې ويل سينوهه! هغه شراب چې تا بېګاه راکړل ډېر قوي و، او تر سهاره ويده شوم.

هورمهب د خلکو د نارو سورو له امله او دغه راز په دې خاطر چې خلکو د آمون نوم اخيست، روانې پېښې چې د خوب او نشې پر وخت هېرې‌ېږي، بېرته ور ياد کړې او روان شو.

زه هم په هغه پسې روان شوم او له خصوصي کوټې د ميخانې انګړ ته ور ووتم.

د ميخانې د انګړ په يوه ګوټ کې يو شمېر هغه عسکر چې بېګا يې ډېر شراب څښلي ول د نشې له کبله پراته او لا ويده ول.

هورمهب سر د اوبو په يوه ډک تشت کې دننه کړ چې د خوب پرکالي يې ورکه شي

بيا يې له ميخانې څخه د اوربشو يو منګى اوبه او يوه ډوډۍ واخيستله او په تشو کوڅو کې د آمون د معبد پر لور روان شو.

کله چې معبد ته نژدې شوم، هغه لنډۍ او چاغ سړى چې د مصر د پوځ نوى قوماندان، او پيت آمون نومېده پر خپل روان تخت سپور و او عسکرو ته يې داسې وويل: اې د کوش د تاتوبي عسکرو ! او اې د شردن د هېواد زړورو، فرعون امر کړى چې د غه ملعون آمون ونړوئ او له تاسې سره ژمنه کوم چې انعام به ترلا سه کړئ!

له دې وروسته د مصري پوځ نوى قوماندان، چې ته وا دنده يې پاى ته رسېدلې پر خپل روان تخت وغځېد او د ګرمۍ له امله مريانو ورته پکى واهه.

د ټوليو مشرانو خپلو ټوليو ته امر وکړ چې د حملې لپاره چمتو شي.

زه او هورم هب په داسې ځاى کې ولاړو، چې د معبد مخه او انګړ مو ښه ليدلاى شو.

موږ وليدل چې د معبد انګړ له سپين پوښه نارينه وو، ښځو او ماشومانو ډک دى او لا هم ځينې ماشومان له خوبه نه و، پاڅېدلي او داسې ښکارېدل چې ټولو شپه د معبد په انګړ او يا د هغه مخې ته په خوب تېره کړې ده.

تورپوستي عسکر ناڅاپه روان شول، جنګي ګاډۍ هم روانې شوې او غوښتل يې د آمون معبد ته ننوځي.

عسکرو د نيزو د لرګيو په زور خلک له لارې لېرې کړل چې د معبد دروازو ته ځان ورسوي.

کله چې جنګي ګاډيو غوښتل معبد ته ننوځي، نو خلکو د آمون آمون نارې کړې او په يوه وار يې پرې حمله وکړه.

له دې کبله چې دوى له تکړه عسکرو سره جنګ نه شو کولاى نو ځانونه يې تر جنګي ګاډيو لاندې واچول او د خپلو مړيو په زور يې لاره داسې بنده کړه چې ګاډۍ ودرېدې، اسونه وترهېدل، لاس و پښې يې وهلې او د ښځو او ماشومانو غړونه اسمانونو ته پورته شول.

خلک داسې هيجاني او په قهر ول چې که تورپوستو عسکرو تر وروستي کسه پورې هم وژلي واى، نو دوى له مقاومته لاس نه اخيست.

خوله دې کبله چې افسران پوهېدل، فرعون امر کړى چې بايد وينه ونه بهول شي نو يې خپلو سرتېرو ته د شاتګ امر وکړ.

کله چې خلکو ولیدل سپاهیانو شاتګ وکړ، نو له دې سره سره چې یو شمېر پکې مړه او ژبل شوي ول ،خو د خوشحالۍ نارو یې ځمکه او اسمانونه ولړزول.

ما او هورم هب چې دغه منظره لیده متوجه شو ، چې افسران د پوځ د قوماندان روان تخت ته نژدې شول او هغه ته یې وویل، اې پیت امونه ! موږ له وینې بهېدا پرته مخکې نه شو تللی او له بلې خوا فرعون ویلي ، باید وینه ونه بهول شي، موږ اوس څه وکړو؟

د پوځ قوماندان چې کله واورېدل فرعون خپل نوم بدل کړی، نو هڅه یې وکړه، خپل نوم هم بدل کړي او ویې ویل، زه پیت آمون نه پیژنم، زما نوم پیت آتون (یعنې له آتونه برکت اخیستونکی) دی.

د پوځ یوه قوماندان چې د زرو کسانو مشر ښکارېده او زرینه متروکه یې په لاس کې وه وویل، زه نه له آمون سره کار لرم ، نه له آتون سره او نه د آتون له برکت موندونکو سره، بلکې له تا څخه پوښتنه کوم چې زموږ دنده څه ده او موږ باید څه وکړو ؟

د آمون معبد موږ ونیسو کنه؟

د پوځ قوماندان وویل، هر ډول چې فرعون امر کوي همغسې وکړئ له دې کبله چې هغه ویلي باید وینه ونه بهول شي، تاسې هم له وینې بهېدا پرته معبد ونیسئ او د آمون مجسمه رانسکوره کړئ !.

د پوځ د قوماندان د روان تخت په څنګ کې دغه جنګي شورا داسې مهال جوړه شوې وه، چې خلکو د انګړ او سړک ډبرې شکولې او تورپوستي یې پرې ویشتل.

یوه ډبره راغله او د پوځ د قوماندان د روان تخت د یوه آس پر پښه ولګېده او ور ماته یې کړه او یوه کس د آس یوه سترګه هم ور ړنده کړه. کله چې پیت آتون ولیدل ، آس یې ړوند او ګوډ شو ، غوصه شو ، له روان تخته راکوز او یوې جنګي ګاډي ته ور وخوت.

آتون له دې سره امر وکړ چې پر معبد حمله وکړي.

کله چې جنګي ګاډیو حرکت وکړ ، د ګاډیو چلونکو او په هغو کې ناستو عسکرو به خلک او چت کړل او بې له ځنډه به یې په ګاډیو پورې له ستوني ځوړند کړل.

دوی به ویل په دې ډول د فرعون له امره سرغړونه هم نه کېږي، موږ وینه نه بهوو او څوک چې خپه کېږي وینه یې پر ځمکه نه تویېږي.

تورپوستو عسکرو له لیندو څخه کړۍ جوړې کړې او د خلکو په منځ کې یې منډې وهلې.

هر څوک چې به یې مخې ته ورغلل تر ستوني به یې نیول ساه به یې وربندوله ، ان هغوی له ماشومانو او ښځو سره هم داسې چلند کاوه.

خلکو له هر لوري څخه عسکر په کاڼو ویشتل چې عسکرو به هڅه کوله د زغرو په مرسته ځانونه ترې وساتي ، خو کله چې به یو تور پوستی د خلکو لاس ته ورغی هغه به یې ټوټه کړ.

هورم هب چې د اوربشو د اوبو صراحي یې په لاس کې وه او ډوډۍ یې ترملا تړلې وه د معبد په مخکې پر هغې مجسمې ودرېد چې بدن یې د زمري او سر یې د قوچ و.

ده غوښتل له همدغه ځایه د جنګ ډګر ښه ولیدلای شي ،ده په همدې حال کې ډوډۍ هم خوړله او کله به مې چې د شرابو منګی چې مخکې ما ترې اخیستی و، ورکړ یو ګوټ به یې وڅښي.

د مصر د عسکرو قوماندان پیت آتون د خپلو سپاهیانو په مخکې لټه کوله چې معبد ونیسي، خو د خلکو د سخت مقاومت له امله بریالی نه شو.

د هغه د روان تخت په څنګ کې به د اوبو ترازو ژر ژر تشېده او هغه به پوه شو چې وخت ډېر ژر تېرېږي.

یو وخت مې واورېدل چې خو تنه افسرانو ته یې ناري کړې، هغوی یې روان تخت ته نژدې ور وبلل او ویې ویل، زه په کور کې یوه ښایسته پیشکه لرم او نن یې د لنګون ورځ ده، نو زه باید کور ته ستون شم.

له تاسې غواړم چې ډېر ژر دغه معبد ونیسئ او د آمون مجسمه رانسکوره کړئ، ګني په آتون قسم ،چې ستا سې له غاړو به د سرو زرو غاړکۍ لېرې کړم او ستاسې د مترو کو لاستي به مات کړم .

پوځي قوماندانان پوه شول چې که معبد ونه نیسي، نو له دندې به لېرې شي، نو خپل عسکر یې راټول کړل او د پوځي کړنلارو پر اساس یې هغوی ته د حملې حکم وکړ.

له دې وخته وروسته نور چا د فرعون امر ته توجه نه کوله، چې وینه دې نه بهول کېږي، بلکې تور پوستو عسکرو خپلې نېزې د نارینه وو ، ښځو او ماشومانو په خېټو، ټټر او سینو کې ډننه کولې.

نېزې د خلکو پر وینو تکې سرې وې او د معبد په مخکې دومره وینه وبهېده، چې پخپله تورپوستي عسکر به پکې ښوییدل او پر ځمکه لوېدل.

خو چې هر څوک به ولوېد و بـه وژل شو او کله چې کاهنانو وليدل چې عسكرو سخته حمله پيل کړه نو د آمون د معبد دروازې يې خلاصې کړې او خلک ترهېدلي وتښتېدل.

تور پوستو عسكرو تښتېدونكي كسان په غشو ويشتل، ځينې يې پر خاورو مړه اچولي ول او جنګي ګاډي په تښتېدلو كسانو پسې روانې وې.

کله چې تښتېدلي كسان د نوي خداى آتون معبد ته ولاړل له ډېرې غوسې يې د نوي معبد د کاهنانو او په معبد كې ډېره وينه توى شوه.

کله چې جنګ پاى ته ورسېد او وژل شوي كسان يې وشمېرل سل ځله يې سل كسان شمېرلي ول چې وژل شوي ول.

که څه هم د آمون د معبد کاهنانو د معبد خارجي دروازې خلاصې کړې، چې خلک وتښتي، خو داخلي دروازې يې بندې کړې وې او عسكر د مسي دروازو او د معبد د سترو دېوالونو ترشا و درېدل.

دا هغه عسكر دي چې تل په بيدياو كې جنګېدلي او له بانګسونو څخه په جوړو کورونو يې حملې کړې دي.

دوى نه پوهېدل چې څه ډول پر هغو کلاګانو حمله وشي چې پنډ او لوړ دېوالونه لري.

كاهنانو او د معبد نورو ساتونكو، له پاسه پر عسكرو د وړو نېزو او غشو ګوزارونه کول او ډېر شمېر عسكر د دېوال په څنګ كې ووژل شول.

په وينو باندې ډېر مچان راغونډ شوي ول، د پوځ قوماندان وويل سپاندې او عود راوړئ او ويې سوځوئ، چې د وينې کړوونکی بوى له منځه ولاړ شي او مچان لېرې شي.

له دې وروسته چې سپانده او عود يې وسوځول د پوځ نوي قوماندان افسرانو ته وويل، تاسې ډارېږئ، چې فرعون به غوسه شي ځکه چې هغه تاسې ته ويلي ول، د آمون مجسمه داسې رانسكوره کړئ چې وينه و نه بهېږي.

خو تاسې د هغه د حكم پر خلاف عمل کړى، د خلكو وينه مو بهولې خو د ملعون خداى آمون مجسمه مو له منځه نه ده وړې.

اوس خو دغه كار شوى او چاره نه لري، خو زه به يوازې هڅه وکړم چې فرعون په تاسې غوسه نه شي.

همدا اوس هغه ته ورځم او ممکنه ده، چې خپل کور ته هم ولاړ شم چې وګورم ايا زما پيشكې بچې زېږولې دي كنه؟

تاسې زما په نه شتون کې تورپوستو عسکرو ته خواړه او شراب ورکړئ او ورته ووایئ چې ځانونه دې نه ستړي کوي.

د هغوی هڅه بې نتیجې ده، ځکه چې موږ اوس ددې معبد د نیولو لپاره چې پر یوې کلابدل شو، وسایل نه لرو.

زه یو تکړه قوماندان یم او پوهېږم، هر څومره چې ددې معبد د نیولو هڅه وکړو ګټه نه کوي.

خو زه له دې امله ګرم نه یم، ځکه فرعون ماته نه و، ویلي چې دغه کلا محاصره او بیا یې ونیسم نو ځکه ما له ځانه سره ددې کلا د نیولو وسایل نه دي راوړي.

پر دې ورځ بله کومه خاصه پېښه ونه شوه او افسرانو، تورپوستو او د شردن (اوسنی لیبیا :ژباړن) عسکرو ته امر وکړ چې د آمون معبد له دېوالونو لېرې شي او له هغو مړیو سره هم واټن پیدا کړي چې د طبس د دوبې په ګرم لمر کې ډېر ژر پړسېږي.

پر دې ورځ د لومړي ځل لپاره خلکو ولیدل چې کارغان او مردار خواره له دښتو او غرونو څخه د طبس ښار پر لور راغلل چې د وژل شویو کسانو مړي وخوري، په داسې حال کې چې تر هغه وخته چا نه و، لیدلي چې دغسې مرغانو پر طبس یرغل کړی وي.

له دې وروسته چې عسکر د معبد له دېوالونو لیرې شول د خوراکي توکو ګاډي راغلې او پر هغو یې خوراکي توکي او شراب ووېشل.

د شردن عسکرو چې تر تورپوستو هوښیاران ول، ددې پر ځای چې تر لمر لاندې پاتې شي، د معبد شا و خوا کورونه یې ونیول چې زیاتره یې د شتمنو ول.

دوی په یخوبیو (مخصوص ساړه ځایونه ول، چې شراب او نور خنباک به یې پکې ایښودل ژباړن) کې یې د شرابو او نورو مایعاتو په منګیو او چاټیو بریدونه وکړل.

تورپوستي تر یوه وخته په لمر کې پاتې شول، خو وروسته چې پوه شول شا و خوا کورونه نیولای او ژوند پکې کولای شي، نو پاتې کورونه دوی ونیول چې استراحت پکې وکړي.

پر دې شپه په طبس کې څراغونه روښانه نه شول او د نیل غاړه او کوڅې تیاره وې.

پخپله د شردن عسکرو او تور پوستو سپاهیانو اورونه لګولي ول، پر کورنو به یې حملې کولې، چې هرڅه به یې ګوتو ته ورتلل وړل یې او ښځې او نجونې به یې خپلې خوښندې کړې.

خلکو د عسکرو له وېرې خپل کورونه پرېښودل او په واټونو کې تيت و پرک شول په دې وخت کې چې به عسکرو هر څوک وليدل، نو پوښتنه به يې ترې کوله چې د آمون پلوی دی که د آتون.

خو هېڅ جرئت نه کاوه چې ووايي د آمون پلوی دی، ټولو ځانونه د آتو ن پلويان ښودل. عسکرو به ورته ويل، نه دروا غ وايې او موږ نن د آمون په معبد کې وليدې .څو شېبې وروسته به يې سر ترې بېل کړ او د هغوی جامې، سره او سپين به يې ولوټل.

ټولو غوښتل له ښاره ووځي او له طبسه وتښتي، خو دا کار ډېر ستونزمن و، ځکه چې عسکرو د ښار ټولې لارې بندې کړې وې او د نيل په لاره کې يې هم جنګي بېړۍ درولې وې.

دوی به ويل، فرعون ويلي چې له ښاره د خلکو د تېښتې مخه ونيسئ، چې کاهنان او د آمون پيروان د ملعون خدای له معبده سره او سپين له ځان سره ونه باسي.

يوه ورځ وروسته د ښار هوا د معبد په مخکې او د ننه د مړيو د بويونو له امله بيخي ککړه شوې وه، څوک نه پوهېدل چې له دغو مړيو سره څه وکړي او څه ډول يې موميايي کړي؟

د امواتو کور (مرده خانه) چمتو نه و، چې د وژل شويو کسانو مړي ومني. يوازې يو وخت يې منل چې ستر قاضي به د مړيو په کور کې د هغوی له موميايي کولو سره موافقه وکړه.

ددي لامل دا و، چې ډېر ځله ښايي ځينې کسان خلک ووژني او بيا يې مړي په دې ځای کې موميايي کړي، له همدې امله يو مصری ډاکټر بايد دا خبره تصديق کړي چې ژوبل شوی کس د جراحي عملياتو له کبله مړ شوی، نه دا چې چا وژلی وي.

او يا دا چې ستر قاضي بايد امر وکړي چې وژل شوی کس د مړيو په کور کې موميايي شي.

فرضاً که ستر قاضي چې د نوي خدای مخالف و، امر کړی وای چې د وژل شويو کسانو مړي دې د مړيو په کور کې موميايي کړای شي بيا هم دمړيو کور دغه کار نه شو کولای. ځکه د مړيو حوضونه کوچني دي او دومره ځای نه لري چې سل ځله سل مړي د موميايي کولو لپاره ومنل شي .

بله خبره دا چې د مړيو د کور کارکوونکو له نوي خدای سره مخالفت کاوه ځکه چې

اوازه وه، نوی خدای غواړي د مومیایي کولو بیه کمه کړي.

لکه چې مخکې مې توضیحات ورکړل، څوکاله مخکې تر دې وړاندې چې زه خپل ستر سفرونه پیل کړم. کله چې مې د خپل مور و پلار مړي د مومیایي کولو لپاره د مړیو کور ته ورووړل کارکوونکو شکایت کاوه چې مزد او اجوره یې کمه ده.

داپه داسې حال کې و، چې دوی به له هر شي غلا هم کوله خو بیا یې هم ویل چې باید اجوره یې زیاته شي او دې ته خو په هېڅ ډول چمتو نه ول چې دغه لږه اجوره یې نوره هم کمه شي.

د پوځ افسرانو د فرعون له وېرې د مړیو حپلو خپلوانو ته اجازه ورنه کړه چې د مړیو جنازې پورته کړي او د مړیو کورته یې یوسي.

د یوې پخوانۍ رودې پر اساس به هر سهار د مړیو کور فرعون ته یو راپور ورکاوه چې تېره ورځ څو تنه مړه هلته وروړل شوي دي.

او که اوس فرعون پوه شوی وای چې ناڅاپه ولې دومره مړي زیات شوي، نو پوهېده چې د پوځ افسرانو د حکم پر خلاف ډېر شمېر کسان وژلي او د ډېرو وینې یې بهولي دي.

په داسې حال کې چې جنازې د معبد او واټونو په شاوخواکې پرتې وې هره ورځ او شپه یې شمېر نور هم زیاتېده، ځکه چې تورپوستو عسکرو او د شردن سپاهیانو د وینې د بوی، د لوټمارۍ د خوند او د شرابو او ډوډۍ د خوړلو له لامله نظم او ډسپلین تر پښولاندې کړی و، او افسرانو د هغو مخه نه شو نیولای.

یو شمېر غله او سړي وژونکي چې پخوایې د آمون د ګزمو له وېرې جرئت نه شو کولای چې کورونو او قبرونه ولوټي او پر ښځو تېری وکړي اوس نو د نیل غاړې له لېرې پرتو سیمو او جونګړو راوتلي ول، هر یوه پر خپله سینه د نوي خدای صلیب ټومبلی و او په دې نوم چې د نوي خدای پیروان دي د کورنو په لوټمار، وژنو او د قبرونو په غلا و بوخت ول چې ان د فرعون قبرونه یې هم لوټ کړل.

د آمون د معبد کاهنانو له بالاحصاره فرعون او نوي خدای ته ښېراوې کولې او ویل یې دغه سړي لیوني دي او تر ده زیات یې لیوني خدای داسې حالت رامنځته کړی چې تر پېنځوسو کلونو پورې دغه ورانۍ نه شي جبرانېدای.

هره شپه د طبس له کورنو څخه د اور لمبې پورته کېدې څوک نه و، چې دغه اورونه مړه کړي.

هغه سيمه چې زموږ کور پکې و، يانې د بېوزلو محله د ډېرو نارينه وو، ښځو او ماشومانو پټنځای و، ځکه چې خلکو اورېدلي ول، هورم هب زما په کور کې مېشت دی، له همدې امله دې سيمې ته راغلل چې د هورم هب په سيوري کې د غلو او د تورپوستو سپاهيانو او د شردن د جنګياليو له شره خلاص وي.

له دې سره سره چې عسکرو هېڅ شي ته پام نه کاوه خو له خپل قوماندان څخه به يې سترګه سوځېده او ترې ډارېدل.

د هغه له ډاره به يې جرئت نه شو کولای چې زموږ پر سيمې حمله وکړي يا ښايي پوهېدل چې دا د بېوزلو سيمه ده، نو که يې لوټ هم کړي څه به لاس ته ورنه شي.

هورم هب زما په کور کې ورځ تر بلې ډنګرېده، له دې سره سره چې (موتي) ورته ښه خواړه پخول او د هغې خواړه يې خوښېدل خو اشتهايې نه درلوده.

هورم هب راته وويل سينوهه! که له دې توپانه وروسته د نيل سيند هم توپاني شي، نو له نظم او ډسپلينه د وتليو عسکرو مخه به ونه نيول شي.

ما څو کاله زيار وايست چې زما عسکر نظم پيدا کړي او د وحشي ځناورو په شان نه وي، خو دغه نوي او احمق قوماندان چې يوازې د خپلو پيشکوفکر کوي په څو ورځو کې زما عسکر د داړونکو ځناورو په شان کړل.

اوس که زه هم وغواړم چې نظم او ډسپلين ټينګ کړم بايد سلګونه عسکر ووژنم، له دې پرته بله لاره نه لرم، ځکه چې په بله لاره نظم او انضباط نه شو ټينګولای.

په دې ورځو کې چې په طبس کې عام وژنه او لوټمار روان و، کاپتا بډای او چاغ شو او اورېدل مې چې په دې حالت خوشحاله دی.

کاپتا راته وويل باداره! که دغه حالت د نيل سين تر مستيدا (د منی ترپيله) دوام وکړي زه به د مصر لوی شتمن شم، ځکه چې عسکر لوټ شوي سره او سپين او ګرانه بيه شيان ميخانې ته راوړي او د شرابو په بدل کې يې ماته راکوي.

اوس زما د ميخانې څو خصوصي کوټې له غلاشويو شيانو ډکې دي او نيت لرم چې کله له طبسه وتل آزاد شي، دغه سره او سپين د بېړيو په وسيله له هېواده دباندې ولېږدوم او هلته يې خرڅ کړم. (که د افغانستان د تېرو کلونو ناوړه حالاتو ته توجه وشي دا خبره به بې ځايه نه وي چې وويل شي، زموږ ځينې مشرانو هم د کاپتا په شان فکر کاوه، خو هغه درې زره کاله پخوا اوسيده او مسلمان هم نه و. ژباړن)

هېڅ یوه تورپوستي عسکر او د شردن سپاهي، غلو او ورانکارو د کاپتا له میخانې غلا نه شوه کولای او نه یې وړیا شراب څښلای شوو.

ددې لپاره چې پوهېدل دغه میخانه د هغو عسکرو له لوري ساتل کېږي چې هورم هب دنده ورسپارلې ده.

مستو غلو او عسکرو به د شرابو تر څښلو مخکې کاپتا یا مریت ته د هغو بیه ورکوله او بیا به هغوی شراب ورکول.

کاپتا هم د عسکرو ډېره ښه پالنه کوله، ځکه چې شراب خانه یې ورته ساتله، تل به یې ماړه او نشه ساتل چې د صمیمت له مخې د هغه میخانه وساتي.

د وژنو پر دریېمه ورځ په طبس کې د ډېرو مړیو له امله ناروغي پیدا شوې او ماته دومره ناروغان راغلل چې زما درمل خلاص شول او درمل مې نه شوای چمتو او تر لاسه کولای.

ناروغانو ته مې وویل چې ستاسې د معالجې لپاره درمل نه لرم خو کولای شم داسې لاربښونه درته وکړم چې که عمل پرې وکړئ، ښایي درملنه مو وشي.

پر څلورمه شپه، زه ډېر خپه وم او د خپګان له کبله د کاپتا میخانې ته ولاړم.

د شرابو تر څښلو وروسته هلته ویده شوم او سهار مریت له خوبه راپاڅولم.

ما هغې ته وویل، ژوند هغې سړې شپې ته ورته دی، چې انسان د ځان د ګرمولو لپاره اور ونه لري.

په دې سړه شپه کې دوه بې کسه او غمجن ژوي چې د یوه بل تر څنګ پاتې شي ممکنه ده د یو بل د بدن له تودوخې استفاده وکړي او ګرم شي، ان که د هغوی سترګې په دروغو له یو بل سره دوستي څرګنده کړي.

مریت وویل سینوهه! ته څنګه دا خبره کوې، چې زما سترګې تا ته دروغ وایي؟

که ما درته دروغ ویلي او له تاسره مې مینه نه وای، بېګا له دې وروسته چې ته ویده شوې، زه ستا په څنګ کې نه ویدېدم.

زه تا ته دروغ نه وایم خو له دې کبله چې ته یو ځل یوې ښځې دوکه کړی یې او دروغ دې ترې اوریدلي، نو نه غواړې ومنې چې ممکنه ده پر یوې ښځې ګران یې، زه فکر کوم داستا خېل دی.

مریت وویل سینوهه! له هغې ورځې راهیسې چې ما ولیدلې احساس کوم چې ته پر

ښځو بې باوره يې او دغه بدګماني دې له دې امله ده چې په سرو او سپينو يوې مينې ښځې له تا سره خيانت کړی دی. هغې له تا څخه ستا ټول شته اخيستي دي، ته يې اړ کړې يې چې له مصره ولاړشې او څو کاله په نورو هېوادونو کې ژوند وکړې.

خو اوس چې په دې ښار کې هرڅه بدل شوي او د کوټې چت د کوټې غولي ته راغلی، دروازې اپوټه خلاصېږي، ايا له هغې ښځې سره حساب کتاب نه شې کولای، چې په دې ډول له ښځو سره ستا بد بيني ورکه شي؟

ما په هغه وخت کې مريت ته ځواب ورنه کړ او کورته راغلم چې له درملو پرته د ناروغانو درملنه وکړم.

کله چې له ميخانې راووتم او کورته را ورسېدم نو د هغې ښځې دې خبرې بيخي بدل کړم.

زه په هغه وخت کې د کور او شتمنۍ په فکر کې نه وم. ان د خپل پلار و مور د شتمنۍ فکر مې نه کاوه، خو د يوه شي له کبله ډېر خپه وم او هغه دا چې نفر نفر حتی زما د مور و پلار قبر راڅخه واخيست.

زما کم بخته مور و پلار له دې وروسته چې ټول عمر يې زما د روزلو لپاره زيار وايست، دوی بې قبره پاتې شول او دغه درد زما لپاره ډېر سخت و، هېڅ ارام يې نه درلود، هرڅومره هڅه چې مې وکړه خو دغه درد مې هېر نه شو.

په لاره کې تر کوره ژړېدم ځکه نه پوهېدم چې ايا له نفر نفر څخه خپل غچ واخلم کنه؟

زما لپاره له هغې ښځې څخه غچ اخيستل سخت کارنه و، او که مې څو تنو عسکرو ته لږ فلز ورکړي وای هغوی تلل هغه ښځه يې وژله، خو ما نه غوښتل چې هغه ښځه ووژل شي، ځکه چې د هغې قتل ماته د غچ اخيستو لپاره يو کوچنی او بې اهميته قصاص و.

هر ځل چې به رایاد شول چې د مور و پلار د مړيو د موميايي کولو لپاره مجبوره شوم، يوه موده د مړيو په کور کې پاتې شم او له دې سره سره چې د دارالحيات فارغ التحصيل ډاکټر وم، خو ما هلته شاګردي وکړه او تر ټولو چټل او سخت کارونه مې وکړل.

د دغو ټولو بدبختيو مسوله نفر نفر وه، دغه شيان چې به راپه زړه شول په بدن کې به مې وينه وا يشېدله.

زه له انتقامه تېرېدای شوم، خو په دې ډول به ستا په شان (چې دغه کتاب لولې) يو

انسان نه بلکې ستا د خدای په شان کېدم او زه ستا خدای نه شم کېدای.

ځکه هغه څوک چې انسان دی روح لري او څوک چې روح لري د نورو د خورولو او کړولو له کبله کړېږي او په زړه کې له هغوی سره کینه ساتي. دغه دښمني نه شي هېرولای او یوازې خدایان دي، چې کړاو او زیار کتلای او ګالل شي، خو کینه په زړه کې نه ساتي.

په داسې حال کې چې ما فکر کاوه، په څه ډول له هغې ښځې څخه غچ اخیستلای شم چې د ځوانۍ په حال کې زما په شان نور ځوانان ونه غولوي، د طبس حالات نور هم خراب شول.

عسکر چې تر هغه وخته پورې خلکو پرې اعتراض کاوه داسې سپین سترګي شول، چې پخپلو افسرانو یې حملې کولې، د هغوی له لاسونو به یې متروکې اخیستلې، پر سرونو به یې وهل او د هغوی له غاړو څخه یې د سرو زرو غاړکۍ ایستلې.

یو افسر لټه وکړه چې د خپل زري طوق د اخیستو لپاره جګړه وکړي، خو تور پوستي عسکر په نیزه وواهه او څو شېبې وروسته مړ شو.

پر همدې ورځ د فرعون له لوري یو کس زما کورته راغی او هورم هب ته یې وویل، فرعون غوښتی یې، راشه او له ما سره د هغه ماڼۍ ته ولاړ شه.

هورم هب ولاړ شو، ځان یې ووینځه او د سلطنتي ماڼۍ پر لور روان شو.

زه د فرعون او هور م هب له مذاکراتو څخه هغه مهال خبر شوم چې وروسته هورم هب راته کیسه وکړه.

کله چې فرعون هورم هب ولید، هغه ته یې وویل، د طبس او سېډونکي د هیلیو په شان وژني او پر زیاترو ښځو د تور پوستو عسکرو له لوري تېری شوی دی.

او س خبره دې ځای ته رسېدلې، چې سپاهیان خپل افسران وهي، هغوی وژني او د هغوی د مخنیوي لپاره د پوځ قوماندان هېڅ هم نه کوي، زه د پخوا په شان تا د مصر د پوځ قوماندان ټاکم چې امنیت او نظم ټینګ کړې.

هورم هب وویل اې اخناتونه! تا پخپله غوښتل چې همداسې وشي او همداسې وشول.

فرعون وویل، ما نه غوښتل چې داسې وشي او مانه و ویلي چې خلک ووژني، شتمنۍ یې لوټ کړي او پر ښځو تېری وکړي، بلکې ویلي مې و، چې له وینې بهېدا پرته آمون نسکور کړئ.

هورم هب وویل کله چې ته یوه کس ته وایې چې یو منګی شراب وڅښه، خو مه نشه

کېږه دا به داسې خبره وي چې له عقل سره اړخ نه لګوي.

ځکه کله چې یو څوک یو منګی شراب وڅښي نشه کېږي او په کوم ډول چې تاغوښتل ، آمون نسکور کړې، نتیجه به یې همداوي چې ته یې ګورې.

اخناتون وویل، اوس ولاړ شه او نظم ټینګ کړه.

هورم هب وویل، دغه کار زه نه شم کولای، مګر دا چې د لسو ورځو لپاره ماته د ځان په شان بشپړ اختیار او واک راکړې.

فرعون وویل، ایا د آمون خدای به راپرځوې؟

هورم هب وویل، د آمون پرځول ستا د پاچاهۍ لپاره اړین دي، ځکه که ته هغه نسکور نه کړې، نو له دې وروسته به په مصر پاچاهي ونه کړای شې.

د څو ورځو پېښو داسې حالت رامنځته کړی، چې یا باید ته حکومت وکړې او یا آمون پاتې شي او پاچاهي وکړي.

فرعون وویل، نو کله چې د آمون پر معبد حمله کوې، پام کوه چې د معبد کاهنان ونه وژل شي.

هورم هب وویل، زه تر دې وړاندې چې پر معبد حمله وکړم باید هغه عسکر سم کړم، چې وحشیان شوي دي.

له دې وروسته چې پر آمون د حملې وار راغی، تاته به ووایم چې څه کوم؟

فرعون د قوماندانۍ متروکه او امیل هورم هب ته ورکړل او امر یې وکړ چې د هغه مخصوصه ګاډۍ د پوځ د قوماندان د سپرلۍ لپاره ځانګړې کړي.

تر دې مخکې چې هورم هب خپل کار پیل کړي، سل تنه پېژندل شوي عسکر یې د جلادانو په توګه وګمارل، هر یوه ته یې توره ورکړه او د ښار پر بېلابېلو سیمو یې وویشل او په دې ډول هرې سیمې ته پېنځه جلادان ورسېدل.

وروسته یې امر وکړ چې سرنی ووهي او ټول عسکر احضار کړي ځینې عسکرو چې هورم هب ته وفادارو، له دې وروسته چې خبر شول هغه د پوځ قوماندن شوی دی، د سرني د غږ په اورېدو سره د هورم هب پر شا وخوا راټول شول او هغه پېنځه سوه عسکر پیدا کړل.

دغو پېنځه سوه عسکرو جنګي ګاډۍ هم درلودې او هورم هب ور سره روان شو.

هر عسکر چې به یې د لوټمار په حال کې ولید پر همغه وخت کې به یې د جلادانو په

وسیله په لرګي پورې وتاړه او هر عسکر چې به قتل وکړ، بې له ځنډه به یې سر ترې جلا کړ.

څومره چې هورم هب په ښار کې ورانډې تلو، د عسکرو هغه ټولي به ورسره یوځای کېدل چې له لوټ تالانه به راګرځېدل او له ده سره به یوځای کېدل.

هغه به تر شا په واټونو او څلورلارو کې چوني او پوستي جوړولې او ویل به یې چې غله او ورانکاري دې، ونیول شي او قاتلین دې بې له ځنډه ووژل شي.

هورم هب تر سهاره پورې د طبس په کوڅو کې ګرځیده او څومره چې به وړاندې تلو په محلو کې به امنیت ټینګېده.

سهار چې نژدې کېده نو د غلو او ورانکارو ډلې د تورې شپې په شان کمېدلې.

د هورم هب تر شا چې کوم قوماندان هغه ګمارلی و، هر وژونکی چې به یې ولید وبه یې واژه او غله به یې په لرګیو ترل.

کله چې ورځ شوه هورم هب د جارچي په وسیله اعلان وکړ، چې تېره شپه یوازې هغه کسان ووژل شول چې قتل یې کړی و، خو له دې ورسته که څوک غلا وکړي او یا په کومې ښځې تېری وکړي هم وبه وژل شي.

د ورځې تر نیمایي پورې هم جلادانو د تورپوستو عسکرانو سرونه جلا کول، ځکه چې تورپوستي عسکر دې ته نه و چمتو چې د حالاتو بدلون ومني.

دوی ذا نه منله چې د خپل سریو وخت تېر شوی خو له نیمې ورځې وروسته تورپوستي سپاهیان هم پوه شول چې له تسلېمدا پرته بله چاره نه لري او باید د عسکرو کور (چوني) ته ستانه شي.

له دې سره سره کله چې به عسکر چوني ته ورسېدل هغوی به یې معاینه کول، که به یې جامې په وینو وې، جلاد ته به یې وسپارل چې سر ترې پرې کړي.

زه یقین لرم چې هورم هب، یوازې ددې لپاره تورپوستي عسکر نه وژل چې امنیت او نظم راولي بلکې ددې لپاره چې یو مصری و، او له دې کبله چې تورپوستو مصریان وژلي ول، نو له غوسې به پر ځان راتاو شو او غوښتل یې چې غچ واخلي.

په دې ورځ چې کله شپه شوه پر طبس امنیت او نظم حاکم شو، خو وژنو او لوټماریو خلک داسې اغېزمن کړي ول، چې څراغونه یې روښانه نه کړل او له عمومي کورونو د سریاني موسیقۍ غږونه نه اورېدل کېدل.

خو میخانې چې په دې بلوا کې نه وې ورانې شوې، پر دې شپه یې ډېر څه وګټل او کاپتا سمه خبره کړې وه، چې د هغه دنده داسې کسب دی، چې هېڅکله نه رخصتېږي، ځکه چې خلک هم د خوښیو او هم د غمونو او بدبختیو پر وخت شراب څښي.

د بلې ورځې له سهاره هورم هب نجاران او بېړۍ جوړونکي احضار کړل او ډېر شمېر کارګران یې وګمارل چې د شتمنو کسانو د ورانو شویو کورونو یوه برخه ورانه کړي او زړې کشتۍ هم پرزه پرزه کړي چې د کورنو او بېړیو له لرګیو پوړۍ، خوځنده برجونه او منجنیق جوړ کړي.

هورم هب پوهېده، چې له دې وروسته د آمون د معبد کاهنان پوه شول چې فرعون ناکام شو او د هغوی معبد او خدای یې ور نسکور نه شو کړای.

دی پوهېده چې له هغوی سره خبرې ګټه نه لري، ځکه چې داسې مغروره شوي ول، چې د تسلیمېدا امکان یې موجود نه وو.

له دې پرته بله چاره نه وه، چې د جنګ په رودو سره پر معبد حمله وشي او د دغه معبد دېوالونه ونړوي.

د بلې ورځې تر سهاره پورې د طبس له ښاره د کولنګ او څټک غږونه اورېدل کېدل او ځومره چې کارګرانو له ودانیو او بېړیو څخه لرګي راوړل ترکاڼانو او بېړۍ جوړونکو ترې پوړۍ، خوځنده برجونه، منجنیقونه او د قوچ سرونه جوړول (د قوچ سر هغه لوی دوه درانه تیرونه او ستنې وې، چې سر به یې د قوچ یا غویي د سر په شان تراشو او لسو یا شلو کسانو به لېږداوه، چې په منډه به یې په زور سره په لویو دروازو وهل چې ماتې یې کړي او کلاګانو ته ننوځي. ژباړن)

په یوه شوا روز کې یې پېنځه خوځنده برجونه، یوه اندازه پوړۍ او څلور منجنیقونه (د پخوانیو جنګونو وسله وه چې کلاګانو او دېوالونو ته به یې اور پرې ور ویشت) جوړ شول او پر بله ورځ د هورم هب عسکر له پېنځو لورو د آمون پر معبد برید پیل کړ.

د معبد کاهنانو چې د معبد د کلابندي اټکل یې نه و کړی نو هېڅ شی یې نه درلودل خلک په دغسې وخت کې د برجونو او کلاګانو له پاسه پر حمله کوونکو جوش شوي تېل او اوبه راتویوي، خو دوی نه جوش شوې اوبه درلودې او نه ګرم شوي تېل.

کله چې د قوچ د سر (لویې ستنې) په وسیله معبد ولړزېد کاهنان پوه شول، چې مات به شي، نو سرنی یې وواهه چې خلک خبر کړي چې نور مقاومت پرېږدي.

دوی پوهېدل چې آمون کافي قرباني تر لاسه کړې او پاتې خلک باید ژوندي پاتې شي، چې په راتلونکې کې بیا د آمون خدای را ژوندی کړي.

د دوی په باور که د آمون ټول پیروان له منځه ولاړ شي، نور به د هغه د بېرته را ژوندي کولو لپاره څوک پاتې نه وي.

له دې وروسته چې کاهنانو مقاومت پرېښود، د معبد دروازې یې پرانستلې او هغه خلک چې په معبد کې ایسارېدو تنګ کړي ول، په ډېرې خو شحالۍ سره خپلو کورنو ته ستانه شول.

په دې ډول هورم هب له وینې بهېدا پرته معبد ونیو او د دارالحیات ډاکټران یې ښار ته واستول چې ناروغان معالجه کړي.

خو د مړیو کور ته چې د معبد یوه موسسه وه ورنه غی. ځکه چې له کارګرو پرته نور ژوندي کسان باید د مرګ کور ته ولاړ نه شي.

دغه راز هغه کسان هم ورتلای شي چې خپل مړي دغه کور ته وړي او یا مومیایي شوي مړي تر لاسه کوي.

له دې وروسته چې د معبد دروازې خلاصې شوې کاهنانو د معبد له یو شمېر ساتونکو سره یو ځای په هغه ځای کې مقاومت وکړ چې د آمون مجسمه اېښودل شوې وه.

په دې وخت کې د معبد د کاهنانو د ساتونکو او د هورم هب ترمنځ جنګ پیل شو او دغه جنګ تر مازیګره پورې روان و.

د معبد ټول ساتونکي ووژل شول، ځینې کاهنان هم ختم شول او یوازې د لومړۍ درجې کاهنان پاتې شول.

وروسته هورم هب نغاره ووهله جنګ یې بند کړ او کاهنانو ته یې وویل، زه ستاسې له خدای سره دښمني نه لرم. ځکه چې یو عسکر یم او له خدایانو سره نه دوستي کوم او نه دښمني.

زه فکر کوم که ستاسې د خدای مجسمه په دې معبد کې تر لاسه نه شي دا به غوره وي او تاسې پخپله د هغه مجسمه له منځه وړلای شئ او په دې ډول به زه ستاسې د خدای په وژلو تورن نه شم.

زه د یوې میزانې (ساعت) په اندازه وخت درکوم، چې په دې اړه فکر او فیصله وکړئ او زه به له هغه وروسته حمله پیل کړم.

ددې لپاره چې زه عسکر یم او باید د فرعون امر اجرا کړم او که تاسې یو ساعت وروسته خپله مجسمه له منځه یوړه او له معبده مو و ایسته نو هېڅوک به ستاسې مزاحمت ونه کړي.

موږ یوازې دې ته ځیر یو چې تاسې له معبده څخه سره او سپین یو نه سیء چې د فرعون د خدای مال دی.

کاهنانو وویل سمه ده، موږ یو ساعت وروسته تاسې ته ځواب درکوو.

کله چې یو ساعت تېر شو کاهنان له خپله ځایه راووتل او هورم هب ته یې وویل، چې ور ننوځي.

هغه چې کله ور ننوت نو د آمون مجسمه یې ونه لیدله او پوه شو چې کاهنانو ماته کړې او ټوټې یې له ځان سره له معبده د باندې وړې.

دا کار یې ددې لپاره کړی و، چې بیا وو ایي آمون غیبت کړی و او په راتلونکې کې به راښکاره شي.

هورم هب د معبد د خزانې دروازې لاک و مهر کړې، حجارانو ته یې دنده وسپارله چې پر کاڼو د آمون لیکل شوی نوم پاک کړي او پر ځای یې د آتون نوم ولیکي.

بیا یې د جارچیانو په وسیله اعلان وکړ چې آمون له منځه تللی او له دې وروسته د هغه پر ځای آتون د مصر خدای دی.

خلک چې پوه شول، جنګ او وینې بهېدل پای ته رسېدلي، نو له خپلو کورونو را ووتل او د شپې مهال طبس هغسې په څراغونو ښکلی شو لکه چې یو وخت د امن او ټیکاو پر مهال و.

له دې وروسته چې امنیت ټینګ شو او د آتون خدایي پیل شوه، د تور و سپین تو پیر له منځه ولاړ او ما پخپله په وار وار ولیدل چې شتمنو به تورپوستي خپل کور ته ور بلل.

پر همدې شپه چې کور ته د ستنېدا پر مهال په یوه بازار کې تېرېدم، دوه پېښې مې ولیدې چې هېڅکله به یې هېرې نه کړم.

یوه داچې د اشرافي پرګنې یوه سړي په کوڅه کې یوه تورپوستي ته بلنه ورکوله چې د هغه کور ته ورشي او له هغه سره ډوډۍ وخوري.

بله داچې د آمون د معبد یو ساتونکی مې ولید چې د واټ په څنګ کې ژوبل پروت و، او د آمون نوم یې اخیست، خلک پرې را ټول شول او مازغه یې په ډبرې ور باد باد کړل او

ښځې بیا د هغه د مړي شاو خوا ته ګډېدلې.

لس ورځې مخکې که چا آمون ته سپکاوی کړی وای نو هغه به یې وژلی وای نو دغو کسانو د آمون د نوم اخیستلو په ګناه یو سړی وواژه.

زه چې کور ته تلم دغه دوه منظرې مې ولیدې او سر مې په دوارو لاسونو ونیوه په سوچونو کې ډوب شوم، ځکه چې پوهېدم امکان لري یوه ورځ داسې خدای راشي، چې د خلکو جهالت او حماقت له منځه یوسي.

په همدې فکرونو کې وم او د کور پر ځای د تمساح د لکۍ د میخانې پر لور روان شوم.

دا هغه شپه نه وه، چې زه دې وکړای شم، کور ته ولاړ شم، ځکه چې د بشر جهالت او د هغه سستې عقیدې سخت غمجن کړی وم، نو د تمساح لکۍ دمیخانې پر لور روان شوم هر چې د شرابو په ځښلو او له مریت سره په خبرو ځان ډاډه کړم.

کله چې هلته ورسېدم هغه عسکر چې میخانه یې ساتله او له هورم هب سره زما په ملګرتیا خبرول پر ما راټول شول ویې ویل، مریت مور ته ویلي، چې ته باید له یوې ښځې غچ واخلې او له دې کبله چې پوهېږو ته د هورم هب نژدې ملګری یې او دغه میخانه ستا د پخواني مریي کاپتا ده، نو مور هم چمتو یو ستا غچ واخلو.

ما له مریت ځخه پوښتنه وکړه، تا دوی ته ویلي چې د انتقام د اخیستو لپاره ماته ځانونه وسپاری؟

مریت وویل، هو زه باوري یم چې که نن شپه تېره شي او تا له هغې ښځې ځخه چې ته یې تېر ایستلی یې خپل غچ وانه خیست، بیا به دغه فرصت ونه لرې

ددې لپاره چې سر له سبا به د طبس حالت عادي شي، خو نن شپه لا غیر عادي ده او هر څوک چې له بل چا سره دښمني لري له هغه ځخه غچ اخیستلای شي.

عسکرو ته مې وویل له ماسره ولاړ شئ، خو پام کوئ، چې تاسې نن شپه د هورم هب امر ته ژمن یاست او که د امر پر خلاف کوم کار وکړئ ستاسې سرونه به له تنه بېل شي.

زه نن شپه یوازې د هورم هب امر پر تاسې اجرا کوم.

دا خبره مې ځکه وکړه چې عسکر ووېرېږي او زما له امره سر غړونه ونه کړي.

عسکرو وویل، ډاډه اوسه چې مور به ستا د امر پر خلاف کوم کار و نه کړو، ځکه پوهېږو ستا د هورم هب امر دی.

و مې ویل، بله خبره دا چې باید څوک ما ونه ګوري او ومې نه پېژني، تاسې هم اړ نه

ياست چې زما نوم واخلئ، بلکې که له تاسې څخه کومه توضيح وغوښتل شوه ورته وواياست، چې د آتون د خدای له لوري راغلي ياست چې د هغه له دښمنانو غچ واخلئ.

خو اوس لږ صبر وکړئ، چې يو روان تخت راولي، زه پرې سپور شم او له تاسې سره ولاړ شم.

زما پخواني مريي کاپتا يو کس په روان تخت پسې واستاوه او يو ساعت وروسته له روان تخت سره راغی، زه پرې سپور، له عسکرو سره يوځای روان شوم او د نفر نفر کور ته ورسېدم.

هلته مې عسکرو ته وويل، په دې کور کې يوه ښځه ده، چې هلته تر نورو ښځو ډېره ښکلې ده.

تاسې به دغه ښځه په لومړي نظر د هغې له ښکلا او پرتم څخه وپېژنئ، په دې شرط چې د هغې د خرېيل شوي سر په ليدو سره پرې مين شئ.

ولاړ شئ او هغه راولئ، که يې مقاومت وکړ د نېزې په لرګي يې ووهئ چې غلې شي او مقاومت پرېږدي، خو پام کوئ چې بد چلند ورسره ونه کړئ.

که هورم هب پوه شي چې تاسې له دې ښځې سره بد چلند کړی او د هغې ښکلا مو له منځه وړې نو ټول به ووژني.

د نفر نفر د کور له منځه د ساز او سندرو غږ راته او ځينې نشه مشتريانو په دې عمومي کور کې نارې سورې وهلې.

کله چې عسکرو دروازه وټکوله د کور نوکرانو، نه غوښتل چې دروازه خلاصه کړي، ځکه فکر يې کاوه چې دغه عسکر له ښځو سره د تفريح په بدل کې د فلز د ورکولو وس نه لري.

خو عسکر په زور کور ته ننوتل او هغه کسان چې په دې کور کې په ساعت تېري بوخت ول، وتښتېدل.

لږه شېبه وروسته ما وليدل چې يو عسکر نفرنفر په يو تور ټوکر کې تاو کړې او زما د روان تخت پر لور يې راولي.

کله چې ما دغه ښځه په تور ټوکر کې وليده خيال مې وکړ، چې مړه شوې او عسکرو د هغې مړی ما ته راوړی دی.

خو کله چې يې ښځه زما پر روان تخت کېښوله او ما معاينه کړه، ومې ليدل چې ژوندی

خو بې هوشه شوې، د پخوا په شان ښکلې ده او خړپیل شوی سر یې ځلېږي.
هر عسکر ته مې لږ څه سره او سپین ورکړل او هغوی مې رخصت کړل، نیت مې دا و، چې عسکر پوه نه شي، زه چیرته ځم؟
بیا مې د روان تخت مریبیانو ته وویل چې د پخواني خدای آمون معبد ته نژدې زما کور دی، هلته مې ورسوئ.
زما کور هلته نه و، خو غوښتل مې مریبیانو ته ناسم ادرس ورکړم او بیا هغوی رخصت کړم.
د آمون پخواني معبد ته نژدې مې په واټ کې روان تخت ودراوه او مریبیانو ته مې وویل چې پر ځمکه یې کېږدي.
له روان تخته کوز شوم، نفر نفر مې چې په تور ټوکر کې تاو شوې وه، له روان تخته را کوزه کړه، د مریبیانو اجوره مې ورکړه او هغوی مې رخصت کړل.
له دې وروسته چې دوی ولاړل ما نفر نفر چې لا بېهوشه وه، را اوچته کړه او د مړیو د کور پر لور روان شوم.
کله چې هلته ورسېدم دروازه مې وټکوله او د مړیو د کور کارکوونکو دروازه خلاصه کړه.
دوی ولیدل چې ما ظاهراً یو مړی راوړی، نو یې ښکنځلې پیل کړې ویې ویل، په دې ورځو کې زمونږ کار کم و، چې تا هم مونږ ته مړی راوړی؟
ومې ویل، دغه مړی چې ما درته راوړی، له نورو مړو سره توپیر لري، راشئ ویې ګورئ.
د مړیو د مومیایي کولو کارکونکي مشال را اوړ، کله چې یې نفر نفر ته ورنژدې کړ، خورا خوشحال شول او ویې خندل.
ما چې له کلونو وروسته د مړیو د کور خندا اورېده، دهغوی له خندا و رېږدېدم.
یو یکې نفر نفر ته نژدې شو او د هغې پر سینه یې لاس کېښود، ویې ویل، پر آمون قسم چې دغه ښځه لا ګرمه ده.
ومې ویل، که غواړئ په آسوده ډول کار وکړئ او څوک دربانديې اعتراض ونه کړي د آمون نوم مه اخلئ.
ددې لپاره چې د آمون خدای نشته او د هغه پر ځای آتون پر مصر خدایي کوي

ګورئ دغه ښځه لا ګرمه ده او زه یې تاسې ته پر پرېږدم، چې ښه یې وساتئ، بدن یې داسې مومیايي کړئ چې ژر خراب نه شي او د هغې زري غاړکۍ او ګاڼه ستاسې د اجورې لپاره کفایت کوي

خو د مرګ د کور نوکران پوه شول چې هغه ښځه ژوندۍ ده او په دې هم وپوهېدل چې زه څه وایم.

یوه پکې وویل اې ناپېژانده! که زه پوه شم چې ته د مصر د نوي خدای پیروي کوې، زه به هم د نوي خدای عبادت وکړم، ځکه له هغې ورځې چې ځان مې پېژندلی دی، همدلته اوسېږم او تل له هغو ښځو سره څملم چې بدن یې تر ژمي هم سوړ وي

هېڅکله داسې نه دي شوي چې له یوې ژوندۍ ښځې سره تفریح وکړم.

دا ده اوسه چې اویا ځله، اویا ورځې به هغه دلته وساتو او که یوه ورځ څوک له مورې پوښتنه وکړي، چې ولې مو یوه ژوندۍ ښځه دلته ساتلې وبه وایو چې مورې مړه ترلاسه کړه، خو له دې ورسته چې مورې د مالګې ا وبو ته کوزه کړه پوه شو چې ژوندۍ ده.

زه پوهېدم، د مړیو د کور کارکونکي چې ټول عمر یې له ښځو سره تفریح نه وه کړې نفر نفر به هېڅکله پرېږدي، چې له دغه ځایه راووځي.

ځکه د هغوی له بدنه ډېر بد بوی لتېږي او هغوی په طبس کې عمومي کورونو ته نه پرېږدي چې له ښځو سره تفریح وکړي.

په دې ډول ما له نفر نفر څخه د مورو پلار غچ واخیست، او اوس پوهېږم له دې سره سره چې غچ اخیستل خوند لري او داسې شراب دي چې انسان نشه کوي، خو مستي یې ډېره ژر له منځه ځي.

نه پوهېږم ولې له دې وروسته چې غچ واخیستل شي، سړی پښېمانېږي او بیا ځانته وايي، کاشکې مې غچ نه وای اخیستی.

په دې وخت کې چې ما نفر نفر د مرګ د کور کارکونکو ته سپارله، د دې لپاره چې ځان ډاډه کړم نو له ځان سره مې وویل، زه دغه کار د راتلونکو ځوانانو د ژغورلو لپاره کوم، ځکه تر هغه وخته پورې چې دغه ښکلې او آزاده ښځه وي، زما په شان با حیا او ساده هلکان به بدبخته کړي، لکه چې زه یې په هلکوالۍ کې بد بخته کړی وم.

له دې وروسته چې د تمساح لکۍ میخانې ته ولاړم مریت زما پر لور راغله، زما لاس یې ونیو، ویې ویل سینوهه! ولې غمجن یې؟

ومې ویل، څکه چې ښځې تل زموږ د بدبختۍ سبب کېږي.
کله چې موږ پر ځان مینان کړي، له تورو خاورو سره مو خاورې کړي او کله چې موږ ترې غېږ اخلو بیاهم ځان بدبخته ګڼو.
مریت وویل، ستا دغه فکر له دې امله دی، چې لا دې داسې ښځه نه ده موندلې چې وغواړي تا سوکاله او نېکمرغه کړي.
ومې ویل، زه د مصر له خدایانو او د ټولو هغو ملتونو له خدایانو چې سفر ورته مې کړی، غواړم د هغو کسانو له خطرې دې ما وساتي چې نیت لري خلک نیکمرغه کړي.
ځکه چې فرعون هم غوښتل د مصر ملت نېکمرغه کړي او اوس د وژل شویو کسانو مړیو د طبس فضا له بویونو ډکه کړې ده.
په دې وخت کې مریت د تمساح لکۍ یو جام شراب راکړل او ویې ویل دا وڅښه... چې غمونه دې هېر کړي.
ما د تمساح لکۍ شراب وڅښل، چې څنګه مې له ستوني ښکته شول احساس مې وکړ، چې فکر مې بدل شوی او نور مې د نفرنفر فکر ونه کړ، بلکې د مریت په فکر کې وم.
هغې ته مې وویل، مریت زه نن شپه تاته ډېره اړتیا لرم، هغه غم چې ما له هغې ښځې واخیست له هغې سره یې زما حساب کتاب پاک کړ.
مریت وویل که غواړې پوه شې پر یوې ښځې ګران یې کنه؟ هغه په سرو او سپینو او هغو ډالیو سره وآزمایه چې په راتلونکې کې به یې ورکوې.
ممکنه ده یوه ښځه نن له تا څخه سره او سپین وانه خلي، خو له تا سره تفریح وکړي، ددې لپاره چې په راتلونکې کې سره او سپین ورکړې، یا دا چې د نفرنفر په شان تا اړ کړي چې خپل ټول شیان هغه ته ورکړې.
د یوې ښځې د مینې د امتحان یوازینۍ وسیله دا ده چې هغه نه یوازې اوس د تفریح په بدل کې له تا سره او سپین ونه غواړي بلکې په راتلونکې کې هم له تا څخه د کوم شي د ترلاسه کولو تمه ونه کړي.
ایا ته پخپل ژوند کې له داسې ښځې سره مخامخ شوی یې او هغه چمتو شوې، چې له تا سره تفریح وکړي؟
ومې ویل هو .... زه په ژوند کې له یوې ښځې سره اشنا شوم، چې له ما یې سره او سپین ونه منل، خو چمتو نه شوه چې له ما سره تفریح وکړي

مریت وویل، بیا نو پر هغې ښځې ګران نه وې
ومې ویل پر هغې خپل خدای د پر ګران و، ویل به یې چې باید خپل پېغلتوب خپل خدای ته ډالۍ کړي.

مریت پر دې شپه زه د میخانې یوې خصوصي کوټې ته بوتلم او بیا یې خپل پوزی وغوړاوه چې زه و کړای شم پرې څملم.

خو نارینه داسې وي چې کله پر یوې ښځې مین شي، نو خپل ځان هم هېروي او بد لېږي او په یاد یې نه وي چې پخوا یې ژمنې کړي، چې له هېڅ یوې ښځې سره به تفریح نه کوي.

ایا داسې څوک به وي چې ووایي، یوه ښکلې ښځې یې لیدلې، چې پر هغې ښځې ګران هم وي، خو بیا پر خپلې هغې ژمنې ولاړ وي، چې مخکې یې کړې وي.

زه فکر کوم همغه ډول چې تېل کمزوری اور تېز او غړغړانده کوي یو ښکلې ښځه هم، د نارینه اور داسې زیاتوي، چې هغه په دې اورکې ټولې هغه پخوانۍ ژمنې سوځوي چې پخوا یې د ښځو په هکله کړې وي.

ما فکر کاوه چې که کومه ورځ فرعون راته ووایي سینوهه ! ته خپل علم ماته راکړه او یو جاهل سړی شه او زه به یې په بدل کې د پاچاهۍ تخت او تاج درکړم، نو زه به دغه معامله ونه منم، ځکه چې پوهېدم په ناپوهۍ کې ژوند کول، که انسان فرعون هم وي ارزښت نه لري.

خو که مریت راته ویل، چې سینوهه ! ټول علم دې ماته راکړه او له دې وروسته یو ناپوه کس شه، خو زه یې په بدل کې ټوله شپه له تا سره وید ېږم، زه به دغه معامله ومنم، ځکه چې پوهېږم تر ټولو لویه نیکمرغي له هغې ښځې سره ژوند کول دي چې پر دې نارینه ګران وي او پر هغه دا ګرانه وي.

پر دې شپه مې فکر وکړ چې بې ځایه مې له سمندرونو اخوا سفرونه وکړل او بې ګټې سوریې او بابل ته ولاړم چې هلته نېکمرغي ترلاسه کړم.

هغه نېکمرغي چې زه ورپسې وم، نه په سمندرونو کې وه او نه په بابل، هاتي او نورو ځایونو کې، بلکې دغه نېکمرغي له یوې ښځې سره او سېدل و، چې زما په ښار طبس کې یې ژوند کاوه.

خو دا خبره هم د کولو ده، چې انسان باید له سمندرونو ورآخوا سفر وکړي، نور هېوادونه ووینې، چې پوه شي، هغه نیکمرغي چې دی ورپسې دی، په بل ځای کې نشته

بلکې د هغه پخپل هېواد کې پیدا کېږي.

تر هغه چې انسان په مزلونو کې، همغه ډول ستړی نه شي لکه چې زه په بابل کې د تېښتې پر وخت ستړی شوم د ناستې او استراحت په قدر نه پوهېږي.

د داسې ښځې د مينې تر لاسه کول، چې نارینه له زړه پرې ګران وي دې ته اړتیا لري چې تر هغه مخکې انسان محرومیت وګالي.

پر بله ورځ چې زه له خوبه را ویښ شوم، مریت راته موسکی شوه او راته یې وویل: سینوهه! که د سرو او سپینو له امله راباندې ګران وای او ستا فلزاتو ته مې اړتیا درلودای، ویل به مې، چې له دې ځایه مې خپل کور ته بوځه چې هلته آسوده ژوند وکړای شم.

خو زه فلزاتو ته اړتیا نه لرم او تا د سرو او سپینو لپاره نه غواړم له همدې امله دلته پاتې کېږم.

ومې ویل مریت! که زه درباندې ګران یم، ولې زما کورته نه راځې چې تل همغلته واوسې.

ښځې وویل، په دوو دلیلونو ستا کورته نه درځم، یو دا چې زه د غه ځای چلوم، زه د تمساح لکۍ شراب جوړوم، بل څوک دغه ډول شراب نه شي جوړولای او د جوړولو راز به یې هم چاته ونه وایم چې سوداګریز سیال ونه لرم، نو له دې ځایه نه شم تللی.

بله دا چې دا خبره تجربه شوې، چې کله یوه ښځه او نارینه له مادي اړتیاوو پرته پر یو بل ګران وي، نو بیا غوره ده چې له یو بله لېرې ژوند وکړي چې د دوی د مینې اور هېڅکله خاموشه نه شي.

که زه ستاسې په کور کې ژوند وکړم له یوه او یا دوو فصلونو وروسته به ستا د کور په یو شي بدله شم.

له هغه وروسته چې کله ته کور ته راځې زړه به دې نه غواړي، چې راته وګورې. خو که له یو بله لېرې ژوند وکړو تل به پر تا ګرانه یم.

یو دېرشم څپرکی

اخناتون د مصر فرعون

پر دې ورځ هورم هب فرعون ته ورغی او هغه ته یې وویل د آمون خدای را وپرځول شو او له منځه ولاړ، د هغه پر ځای د آتون خدای واکمن شو.

فرعون هغه په ثابته توګه د مصر د پوځ مشر کړ او هغه ته یې وویل، نیت لري سبا د آتون د معبد زیارت ته ولاړ شي، خو نن شپه به په سلطنتي مانۍ کې د خپلو ملګرو هرکلی وکړم.

هورم هب زما په اړه له فرعون سره خبرې وکړې او ویې ویل، دا هغه ډاکټر دی، چې کله ته ولیعهد وې، له تا سره په بېدیا کې پاتې و، له هغه وروسته زه فرعون ته ور په زړه شوم.

هورم هب ته یې وویل، نن شپه چې په میلمستیا کې د ګډون لپاره راځې هغه هم له ځان سره راوله.

بیا هورهب زما په هکله فرعون ته معلومات ورکړل، چې ځینې برخې یې پکې لافې وې او ویې ویل، دغه مصری ډاکټر په نړۍ کې ساری نه لري.

د مصر او بهر ټول طبي علوم یې زده کړي ،تر اوسه یې سلګونه ناروغان او ژوبل کسان له مرګه ژغورلي دي.

اخناتون *(د دغه فرعون لومړنی نوم څلورم (آمون هوتپ) و او لومړنی نوم د دې نبودنه کوي ، چې آمون پرې ګران و ، خو وروسته یې په آتون عقیده پیدا شوه او خپل نوم یې اخناتون کېښود چې د آتون لېوالۍ او خوښوونکي ته وایي.*

نوموړي فرعون آتون واحد او نالیدلی خدای باله او د واحد او نالیدلي خدای عبادت کاوه. ژباړن)

فرعون ډېر لېوال شو ،چې ما وویني او په دې ډول ما د لومړي ځل لپاره د یوه میلمه په توګه د فرعون په میلمستیا کې ګډون وکړ.

کله چې د فرعون مانۍ ته ننوتم د لومړي ځل لپاره مې مصري ښځې د اوړي په نوي موډ کاليو کې وليدې.

دغه موډ ډېر ښکلی و، ښځو خپلې جامې داسې ګنډلې وې، چې په زړه پورې ښکارېدې، بلـه دا چې پـه دې مېلمستيا کې ښځو د سترګو شاوخوا شنې کړې وې ،غومبوري او شونډې يې هم سرې وې.

هورم هب فرعون ته ور وستم ،ما وليدل چې اخناتون لوی شوی دی، ما هغه ته بيا هم د يوه ماشوم په سترګه کتل او فکر مې کاوه چې اوس هم ماشوم دی، خو هغه لوی شوی و، مګر سترګې يې برېښنده او مخ يې ډنګر و.

اخناتون د کتان جامې اغوستې وې، چې سلطنتي کتان بلل کېده. کله چې يې زه وليدم ويې ويل، سينوهه ! ما هغه وخت ليدلی وې، چې وليعهد وم.

نن هورم هب ستا د علم په هکله له ما سره خبرې وکړې ويې ويل، په مصر او نورو هېوادونو کې دې د طب زده کړې کړې دي

بيا يې د خپل طبيعت په هکله خبرې وکړې ويې ويل، يوه موده کېږي چې زه د سر خوږ لرم.

هر وخت چې څوک د داسې مسلې په هکله خبرې کوي چې زما په خوښه نه وي، سر مې په درد شي او داسې مې کړوي چې نه ډوډۍ خوړلای شم او نه خوب راځي.

ډاکټران زما سرخوږۍ په مخدره توکو کراروي خو زه له دغو درملو کرکه کوم، ځکه چې پوهېږم مخدره توکي تمرکز له منځه وړي او ددې مخه نيسي چې زه په آسودګۍ د خپل خدای په هکله فکر وکړم....سينوهه !.... ايا ته آتون پېژنې.

هغه پوښتنه چې فرعون له ما وکړه ډېره خطرناکه وه او بايد په احتياط سره مې ځواب ورکړی وای.

هغه ته مې وويل هو !آتون پېژنم .فرعون وپوښتل، ځنګه هغه پېژنې ما وويل، آتون زما او د ټول بشريت له پوهې لوړ او ستر دی.

فرعون پر دې ځواب خوشحال شو او ويې ويل سينوهه ! هغه ځواب چې تا ماته راکړ له ټولو هغو ځوابونو ښه دی، چې نور يې راکوي، خو اوس دا راته ووايه چې د جمجمې په سوري کولو سره زما معالجه کولای شې؟

ومې ويل، اخناتونه ! ستا د سر خوږ دکوپړۍ سوري کولو ته اړتيا نه لري، خکه چې يو

ډاکتر په بل ډول هم تامعالجه کولای شي او ډاکټران تر هغه وخته د سر د کوپړۍ له سوري کولو ډډه کوي، چې له دې لارې پرته بله معالجه نه وي.

فرعون وويل هورم هب ستا داسې ستاينه کړې او زه هم د آتون په هکله ستا له خوابه داسې راضي شوی یم، چې غواړم تا ته يوه څوکۍ او مقام درکړم.

ته پوهېږې چې سلطنتي سر سوری کوونکی بوډا و، او چې مړ شو نو ځای يې خالي پاتې شو.

ما تر اوسه د هغه پر څوکۍ څوک نه دي ټاکلي، خو ته به له دې وروسته درباري سر سوری کوونکی شې او د (سپي د ستوري) له ورځې به ددې څوکۍ له امتيازاتو ګټه اخلې.

زه وايم چې دارالحيات تا په همدې نوم وپېژني (په پخواني مصر کې ورځې د اسمان د ستورو په نوم يادېدې او د سپي له ستوري هدف د هغو ستورو ټولګه ده، چې کلب اکبر يې بولي، او دا په پخوانی مصر کې د يوې ورځې نوم و.) له دې خبرې وروسته هورم هب زه له فرعونه لېرې کړم او بل تالار ته يې د ډوډۍ خوړلو لپاره بوتلم.

هورم هب وويل، د درباري کوپړۍ سوري کوونکي ځای د فرعون په ښي اړخ کې وي، نو زه او هورم هب هلته کېناستو.

د ډوډۍ خوړلو په وخت کې ما وليدل، چې فرعون د هيلۍ غوښه، د غاز، پسه او غويي غوښه او کبان نه خوري، بلکې يوه ډوډۍ يې نيمه کړې او خوري يې او د شرابو پر ځای يې د هغه په جام کې اوبه واچولې او ويې څښلې.

له دې ورسته چې موړ شو، ويې ويل، د مصر ملت ته ووایاست چې د فرعون اخناتون خواړه ډوډۍ او اوبه سوله او حقيقت دي.

د هغه خواړه د مصر له بېوزلو او مريانو سره توپير نه لري، خو له هغې شپې وروسته پوه شوم، بلکې ومې ليدل، چې فرعون د هيلۍ، غاز، پسه او غوايي غوښه نه خوړله، خو منظم خوراکي رژيم يې نه درلود، کله نا کله به يې هوس وکړ، چې وچه ډوډۍ له اوبو سره وخوري او کله به يې ډوډۍ نه خوړله.

ميلمانه له ډوډۍ وروسته بلې کوټې ته ولاړل، ما هلته وليدل چې يو چاغ سړی رانژدې شو، ما په لومړي نظر ونه پېژاند، خو له دې وروسته چې د هغه سترګو ته مې وکتل ومې ليدل چې زما پخوانی هنرمند ملګری توتمس دی.

د هغه په ليدو ډېر خوشحال شوم، هغه مې په غېږ کې ټينګ ونيو او ښکل مې کړ.

ورته مې وويل، توتمس زه ستا د کتو لپاره هغې ساقي خانې ته ولاړم چې پخوا به مې هلته ليدلې، خو هلته يې راته وويل چې توتمس نور دې ساقي خانې ته نه راځي.
توتمس وخندل او ويې ويل، سينوهه! زه د دربار مجسمه جوړونکی يم او زما حيثيت ددې مخه نيوله چې هغې ساقي خانې ته ولاړشم.
اوس مې داسې ملګري پيدا کړي چې تل مې د خوندورو خوړو او شرابو د څښلو لپاره خپلو کورونو ته ميلمه کوي او دې ته اړتيا نه پېښېږي چې د شرابو د څښلو لپاره هغې ساقي خانې ته ولاړ شم.
ومې ويل توتمسه! له دې کبله چې ته درباري مجسمه جوړونکی يې، حتماً د آتون په معبد کې پر ستنو د فرعون مجسمې تا جوړې کړې دي؟
توتمس وويل موږ يو شمېر مجسمه جوړونکي يو، چې په ګډه کار کوو او له حقيقي هنره همغه ډول چې په کرت کې ورته توجه کېږي الهام اخلو.
کله چې د آمون درواغجن خدای پر مصر واکمن و، موږ مجبور و، چې د هنرونو اصول تر پښو لاندې کړو او د مجسمو په جوړولو او د انځورونو په طراحۍ کې د درواغجن خدای پيروي وکړو.
که به لږ منحرف شوو دغه جعلي خدای کاهنانو به کافران بللو او موږ به يې وژلو.
هغوی به ويل هر ډول هنر چې د آمون خدای له قوانينو سره په ټکر کې وي کفر دی.
هغه هنرمند چې يوه مجسمه جوړه کړي يا انځور وباسي، خو د آمون له هنري اصولو سره اړخ ونه لګوي و به وژل شي.
موږ حقيقي هنرمندانو چې د هنر په آزادۍ باوري يو له دې کبله چې له دغه ډول چاپېريال سره ځان نه شو برابرولای او د پخواني خدای د حماقت پيروي مو نه شوه کولای، نو لوږې به مو تېرولې او کله به حتی يو جام د اوربشو اوبه هم نه را رسېدې.
خو نن سبا ازاد يو په آزادۍ سره د خپل هنر لپاره کار کوو، هر هغه شی جوړولای شو چې غواړو يې.
ما توتمس هورم هب ته ور وپېژاند او هغه ته مې وويل دغه سړی چې ته يې ګورې يو نابغه هنرمن دی، فرعون يې هم په قدر پوهېږي ځکه خو هغه درباري مجسمه جوړونکی دی.
هورم هب د درباري مجسمه جوړونکي په کتو خوشحاله شو، خو د خپل مقام له امله

يې ډېره خوشحالي څرګنده نه کړه او کله چې توتمس د هورم هب اندام او څېرې ته وکتل هغه ته يې وويل:

ډېر مې زړه کېږي چې ستا مجسمه وباسم او د نوي خداى آتون په معبد کې يې کېږدم، ځکه چې ته د آتون ژغورونکى او د پخواني خداى نابودونکى يې او ددې وړتيا لرې چې ستا مجسمه په نوي معبد کې کېښودل شي.

هورم هب پر دې خبره داسې خوشحال شو، چې مخ يې له خوشحالۍ پړقېده.

زه پوه شوم چې د هغه د خوشحالۍ علت دا دى چې تر دې ورځې پورې چا د هغه انځور يا مجسمه نه ده ايستلې او توتمس د لومړي ځل لپاره په کاڼي کې د هغه مجسمه جوړوي.

کله چې موږ د هورم هب د مجسمې په هکله خبرې کولې، ما وليدل چې هغه ناڅاپه پورته شو، دواړه لاسونه يې پر زنګنو کېښودل او رکوع يې وکړه.

موږ هغه لوري ته وکتل چې کوم لوري ته هورم هب رکوع کړې وه، ګورم چې د مصر ملکه او د اخناتون مېرمن (نفر تي تي)را روانه ده، نو موږ هم پورته شوو او د مصر ښکلې ملکې پر لور مو رکوع وکړه.

نفر تي تي د درباري ښځو د نوي موډ جامې اغوستې وې، چې موږ ته را ورسېده لاسونه يې پر سينې کېښودل.

ما وليدل چې هغه ګوته او ښګړي نه لري، ځکه چې نه يې غوښتل خپله ښکلا په ګوتو او ښګړيو پټه کړي.

ملکې ماته وويل سينوهه! زما لاسونه د يو زوى د روزلو لپاره بې طاقته دي، ځکه چې فرعون زوى غواړي چې له هغه وروسته پر تخت کېني.

زه او هغه دواړه له دې کبله اند ېښمن يو چې ما زوى نه دى زېږولى او دواړه له جعلي خداى آمون څخه وېرېږو.

که څه هم هغه اوس راپرځول شوى، خو موږ پوهېږو چې په کمين کې راته ناست دى.

ما دوه لونې زېږولي، خو تر اوسه مې زوى نشته.

ما اورېدلي چې ته ستر ډاکټر يې او په بهرنيو هېوادونو کې دې ډېر معلومات راغونډ کړي، ما ته ووايه چې کله به زوى پيدا کړم.

هغې ته مې وويل: اې د فرعون مېرمنې! غوره دا ده چې ته د زوى د پيدا کولو په فکر کې ونه اوسې، ځکه چې ستا د بدن وروستني غړي لږ سور لري او هغه مېرمنې چې د بدن

خلفي غړي يې لږ سور ولري كه زامن وزېږوي، ممكنه ده چې د لنگون پر مهال مړې شي.

نفر تي تي وويل، له دې سره سره زه يو زوى غواړم او ته بايد داسې طبابت وكړې چې د زوى خاونده شم.

ومې ويل اې نفر تي تي! له آتون پرته بل هېڅوک نه شي كولاى له زېږېدو مخكې د يوه ماشوم جنس معلوم كړي او ما په نورو هېوادونو كې داسې ډاكتران وليدل چې ادعا يې كوله كولاى شي د يوې ښځې لپاره هلک يا نجلۍ وزېږوي، خو ډېرو به تېروتنه كوله او كله چې به يې تېروتنه ثابته شوه رحم يې ملامتاوه، چې د هغوى د حكمونو په اساس يې عمل نه دى كړى.

هغوى پوهېدل، هغه لارښوونې چې دوى يې مېرمنو ته كوي دومره دقيقې او سختې دي چې ښځو به پر ټولو عمل نه شو كولاى او بيا به يې همدا دليل راوړ، چې پرخپلې ناپوهۍ پرده واچوي.

خو زه تاته دروا غ نه وايم، اعتراف كوم چې داسې درمل په تا نه شم خوړلاى چې تا ته زوى دركړي.

خو له دې كبله چې تا نجلۍ زېږولې احتمال يې شته چې زوى وزېږوې او ستا درېيم اولاد به هلک وي، مگر له دې سره سره په دې برخه كې هم درسره ژمنه نه شم كولاى.

نفر تي تي چې په موسكا يې زما خبرې اورېدې، زما د خبرو تر خلاصېدو وروسته، خپه شوه او زه پوه شوم چې زما خبرو پر كاله كړه.

كله چې توتمس وليدل چې ملكه پر كاله او خپه شوې، نو په خبرو كې راګډ شو او ويې ويل اې نفر تي تي! ولې د نجونو په زېږولو خپه كېږې؟

ته د نړۍ تر ټولو ښكلې ښځه يې، دا به غوره وي، چې ته تل لور وزېږوې، چې ستا لونې هم ستا په شان ښكلې وي او ستاسې ښكلا دنيا ته روښانه كړي.

ما ستا مشره لور ليدلې، پوهېږم چې څومره ښكلې ده؟

نن سبا د مصر د دربار ټولې ښځې هڅه كوي داسې ځانونه سينګار كړي چې هغې ته ورته شي او زما ډېر زړه كېږي ستا مجسمه وباسم چې ستا له مړينې زر كاله وروسته، خلک ستا ښكلا وګوري، هغه وستايي او د نفر تي تي نوم تل په نړۍ كې د ښكلا نوم وي.

(د مصر د ملكې دغه مجسمه چې توتمس جوړه كړې، اوس هم شته او د برلين په موزيم كې ساتل كېږي. د مصر لومړني پاچا لومړي فواد د جرمني له حكومته وغوښتل

چې دغه مجسمه چې اروپايي لرغون پوهانو موندلې وه، بېرته مصر ته ستنه کړي، د جرمني حکومت هم دغه مجسمه مصر ته ورکړه او اوس باید دغه مجسمه د مصر په یوه موزيم کې وي ژباړن)

نفرتيتي موسکۍ شوه او معلومه شوه چې د درباري مجسمه جوړونکي له خبرو يې خوند اخيستی، بيا له موږ څخه لېرې شوه.

پر بله ورځ ما مريت د تمساح لکۍ له ساقي خانې را وايسته او له ځان سره مې بوتله، چې د آتون نوي معبد ته د فرعون د تګ سيل پرې وکړم.

مريت نوې موږه جامې واغوستلې.

له دې سره سره چې د يوې ميخانې نوکره ګڼل کېده، خو کله چې زه له هغې سره له ميخانې ووتم او د طبس په واټونو کې ورسره روان وم نو خجالت نه وم، ځکه چې مريت ډېره ښکلې او مودبه وه.

زه له مريت سره د نوي معبد پر لور روان شوم او د معبد په مخکې په هغه ځای کې کېناستم، چې د فرعون نژدې کسانو ته جوړ شوی

مريت خپل لاس زما پر اوږه کېښود او د خلکو د ټولي په سيل بوخته شوه.

زه ګمان کوم، پر دې ورځ د طبس ټول اوسېدونکي د معبد په مخکې او په هغو واټونو کې راټول شوي ول، چې فرعون پرې تېرېده او د قوچ واټ په دواړو غاړو کې (له دې چې د واټ دواړو غاړو ته داسې مجسمې جوړې وې، چې سرونه يې د قوچ ول، دغه واټ ته يې قوچ وايه) له ګلانو ډک لوښي ايښي ول، چې فرعون راشي، خلک پرې ګلان وشيندي.

له دې وروسته، چې زه او مريت پخپل ځای کې کېناستو، متوجه شوم، چې حالات غير عادي دي او کله چې ځير شوم وپوهېدم، چې دغه غير عادي حالت له دې امله دی چې خلک غلي دي.

کله چې په يوې سيمې کې بېوزله خلک راټولېږي، له دې کبله چې ټول خبرې کوي او خاندي يو ډول زوږ او رېدل کېږي، خو پر دې ورځ هلته چا خبرې نه کولې.

داسې چوپتيا واکمنه وه، چې انسان يې خپه کاوه او يوازې د کارغانو او بازانو اوزاونه اورېدل کېدل چې په اسمان کې الوتل، ځکه چې کارغان او بازان د مړيو په خوراک داسې ماړه شوي ول، چې نه يې غوښتل له دې ځايه ولاړ شي.

کله چې فرعون پر روان تخت راغی، ما وليدل، چې يو شمېر تورپوستي، عسکر يې

شاته روان دي، چې مخونه یې په رنګونو رنګ کړي ول.
پر دغې ورځ د فرعون د بدرګې لپاره د تورپوستو عسکرو حرکت لویه تېروتنه وه، ځکه په نندارچیانو کې داسې څوک نه و، چې د تورپوستو عسکرو له لوري یې د طبس په لوتمار او وژنو کې تاوان نه وي لیدلی.
لا هم د ښځو په مخونو د اوښکو لارې ښکارېدې، د خلکو ټپونه نه و رغېدلي او ډېرو خلکو کورونه نه درلودل ځکه چې تورپوستو ور سوځولي ول.
فرعون پر دې ورځ دوه پوړیز تاج پر سر ایښی و او له دود سره سم یې لاسونه پر ټټر ایښي ول، (فرعونیانو به خپل لاسونه د چلیپا په ډول پر ټټر اېښودل) په یوه لاس کې یې لنډه لکړه او په بل کې یې متروکه نیولې وه. فرعون د یوې مجسمې په شان و، چې نه ښوري، دا دود دی، په رسمي وختونو کې چې فرعون د خلکو په منځ کې تېرېږي باید ونه ښوري.
کله چې عسکرو فرعون ولید نېزې یې اوچتې کړې او د خوشحالۍ نارې یې وکړې.
درباریانو او شتمنو کسانو هم د عسکرو په شان د خوشحالۍ نارې وهلې، خو دغه نارې د خلکو د چوپتیا په منځ کې د مچانو بنګېدا ته ورته وې، چې د ژمي په یوې ورځې کې بنګېږي.
هغو کسانو چې د خوشحالۍ نارې یې وهلې کله چې متوجه شول خلکو خپله چوپتیا وساتله، وشرمېدل او خولې یې پټې کړې.
په دې وخت کې د مصر فرعون اخناتون د پخوانیو دودونو پر خلاف، چې باید فرعون د خلکو له منځه د یوې مجسمې په شان حرکت وکړي، لاسونه یې له ټټره لېرې کړل، لکړه او متروکه یې وښوروله چې خلکو ته سلامونه وکړي.
ناڅاپه خلک ولړزېدل او د هغوی له ټولي د توپان د غږ په شان غږ پورته شو چې ویل یې (مونږ آمون غواړو)...(آمون زمونږ خدای دی)...(آمون د خدایانو پاچا دی)
د خلکو شور او زوږ دومره لوړ و، چې ته وا د طبس ټولې ډبرې او خښتې نارې وهي.
آمون غواړو.... اې جعلي فرعونه.... ولې دې زمونږ خدای نسکور کړ؟
دغو غږونو د فرعون د روان تخت لېږدونکي داسې وډارول، چې ودرېدل، خو افسرانو بېرته حرکت ته اړ کړل او روان تخت د نوي معبد د دروازې پر لور روان شو.
په دې وخت کې خلکو د زمریانو په څېر زوروري نارې وهلې او روان شول د فرعون د

روان تخت مخه یې ونیوله.

له دې وروسته حالات داسې ګډ وډ شول چې معلومه نه وه څوک په کوم ځای کې جنګېږي؟

تر کومه ځایه چې سترګو کار کاوه او د لیدو وس و، معلومېدل چې د خلکو تورپوستو او سپین پوستو ترمنځ سخت جنګ روان و، چې ډېر بې رحمانه و.

عسکرو په تورو او نېزو باندې نارینه او ښځې وژلې، خلکو په ډبرو او چاقوګانو جنګ کاوه، چې تورپوستي او سپین پوستي عسکر به لاس ته ورغی ځای پر ځای به یې وواژه.

خو له دې ټولو سره هېڅا د فرعون پر لور ډبره نه ګوزاروله، فرعون د خپلو نیکونو په شان له لمره پیدا شوی و، چا جرئت نه کاوه چې د فرعون پر لور حتی یوه ډبره هم وولي.

ما لیدل چې پخپل روان تخت کې پاڅېد، خپل مقام او شخصیت ته له پامه پرته یې عسکرو ته وویل صبر وکړئ او خلک مه وژنئ! خو عسکر په جنګ او وینې بهیدا کې داسې بوخت ول، چې د فرعون غږ یې نه اورېده.

فرعون چې پوهېده هېڅ ډول خطر یې نه ګواښي او څوک یې د وژلو هڅه نه کوي نو له وېرې پرته یې د خلکو او عسکرو ترمنځ د جنګ سیل کاوه.

د(آمون غواړو) غږ یوه شېبه هم نه کرارېده، خلک داسې غوسه ول چې د فرعون د نژدې کسانو او ملګرو د کمپ پر لور یعنې د هغه ځای پر لور چې موږ ناست و، را روان شول او غوښتل یې موږ ووژني.

کله چې هورم هب ولیدل، درباریان، چې ډیرې ښځې هم پکې وې په خطر کې دي نو امر یې وکړ، چې نغارې وغږوي.

کله چې نغارې ووهل شوې په فرعي کوڅو کې ولاړو جنګي ګاډیو حرکت وکړ.

هورم هب د احتیاط لپاره جنګي ګاډي په کوڅو کې درولې وې، چې خلک یې په کتلو سره ونه پارېږي، دغه راز که کومه بلوا وشي ډېر ژر به امنیت ټینګ شي.

د جنګي ګاډیو په مخکې د جنګ په ډګر کې غشي او لورونه لګوي، خو پر دې ورځ دغو ګاډیو غشي او لورونه، نه درلودل او هورم هب ویلي و، هغه دې پورته کړي چې خلک ونه وژل شي.

ګاډي په چټک او منظم حرکت سره راغلې، زموږ د کېناستو ځای یې کلابند کړ او

ځینې د فرعون د روان تخت په شاوخوا کې ودرېدې. خلکو هڅه کوله چې مقاومت وکړي خو پوه شول چې د ګاډیو تر ارابو لاندې به وځپل شي، ځکه یې لاره پرانستله او د فرعون روان تخت حرکت وکړ.

فرعون معبد ته داخل نه شو، بلکې له معبده تېر او ان نیل ته ورسېد، له روان تخته کوز او په سلطنتي بېړۍ کې کېناست، څو جنګي بېړیو بدرګه کاوه او ولاړ.

کله چې فرعون ونه کړای شو، د نوي خدای معبد ته ولاړ شي او په بېړۍ کې کېناست او ورک شو، نو خلکو د خوشحالۍ نارې وکړې عامو خلکو د شتمنو په کورونو بریدونه وکړل، د هغوی شتمنۍ یې لوټ کړې او پر ښکلو ښځو یې تېری وکړل.

له همدې کبله هورم هب مجبوره شو چې یو ځل بیا د طبس په واټونو کې حرکت وکړي، په هرې محلې کې یو جلاد وټاکي، هر څوک به یې چې د لوټمارۍ او قتل په حال کې لیده وژل به یې.

مازیګر مهال د جلادانو له لوري د سرونو د پرې کولو په بدل کې په طبس کې امنیت ټینګ شو.

د لمر تر لوېدو مخکې کارغان، بازان او مردار خواره راکوز شول چې په واټونو په تېره بیا د قوچ په واټ او د نوي معبد په مخکې پراته مړي وخوري.

د مصر فرعون اخناتون تر هغې ورځې پورې پخپلو سترګو د ملت مقاومت او وینې بهیدل نه و لیدلي خو کله چې یې دغه حالت ولیدنو د طبس پر خلکو سخت غوسه شو چې د نوي خدای او هغه پر وړاندې یې مقاومت کړی و.

ده امر وکړ چې هر څوک که د آمون خدای نوم واخلي او یا د آمون خدای انځور د خپل کور پر لوښو انځور کړي، نو له طبسه به جلا وطن شي او کانونو ته به د اجباري کار لپاره ولېږل شي، خو خلک غلي ول او هېچا د بل کس شیطاني ونه کړه.

پر بله ورځ فرعون پوښتنه وکړه، چې د آمون څو تنه پیروان جلا وطن شول؟

مامورینو وویل څوک نه دي جلاوطن شري، ځکه چې هېچا د آمون د خدای نوم نه دی اخیستی.

فرعون وویل نو هغه کسان چې پرون یې نارې وهلې چې آمون غواړو څوک دي؟ آیا هغوی نه نیسئ او کانونه ته یې نه لېږئ؟

مامورینو وویل پرون د خلکو شمېر زیات و، موږ ونه توانېدو چې ټول وپېژنو او نه

پوهېږو چې څوک د جعلي خدای پلویان دي.

دا وخت فرعون له ډېرې غوصې یو حکم وکړ، چې زه یې ډېر خپه کړم.

هغه وویل که څوک یو کس په ګوته کړي چې د آمون عبادت کوي، نو د آمون پرست شتمني، د هغه کېږي.

له دې سره سره شریف کسان چمتو نه شول چې د آمون پیروان معرفي کړي، خو اپوته یو شمېر غلو او ډاکوانو ځینې کسان په دې نوم چې د آمون عبادت کوي حکومت ته معرفي کړل او مامورینو هم بې له ځنډه د شاقه کارونو لپاره کانونو ته واستول او غلو او ډاکوانو ددغو کسانو شتمني خپله کړه.

په داسې حال کې چې په طبس کې دغه ظلم او ناروا روانه وه، د نوي معبد له پېښې وروسته پر دریمه شپه، هغه وخت چې زه پخپل کور کې ویده وم، د فرعون له ماڼۍ یې ماته یو روان تخت را واستاوه او زه یې احضار کړم. کله چې زه ماڼۍ ته ننوتم هغه ناروغي چې کله نا کله به فرعون ورسره مخامخ شو، بیا پرې راغلې وه، او دارالحیات یو شمېر ډاکټران هم هلته موجود ول.

معلومه شوه چې ډاکټران د فرعون له معالجې وېرېدل او زه یې ددې لپاره ورغوښتی وم چې له دوی سره په معالجه کې شریک شم.

دغه راز د فرعون ددرملنې مسولیت ووېشل شي او پردې سربېره زه درباري کوپړۍ سوری کوونکی وم او زما شتون یې اړین باله.

زه فرعون ته نژدې شوم، د هغه نبض مې وکوت ومې لیدل چې نبض یې کمزوری دی او د اخناتون لاسونه او پښې سړې دي.

بیا مې د هغه د سترګو بانه پورته کړل، ومې لیدل چې سترګې یې ژوندۍ او ځلانده دي او د هغو کسانو په شان نه دي چې ځنکدن یې وي.

ډاکټرانو ته مې وویل باید د فرعون لړ وینه وبهول شي چې په هوش راشي.

د دارالحیات ډاکټرانو وویل، موږ دغه معالجه نه شو کولای، ځکه چې فرعون ډنګر دی، وینه یې کمه ده او که یې وینه وبهول شي مړ به شي.

ما وویل که دغه بېخودي دوام وکړي فرعون به مړ شي، ځکه چې ورو ورو یې نبض کمزوری کېږي.

خو باید دهغه وینه داسې وبهول شي، چې کله هغه ویښ شي پوه نه شي چې وینه یې

بهول شوې ده.

د دارالحیات ډاکټرانو وویل، آیاد دغه کار مسولیت منلای شې؟ ومې ویل، هو منم یې! ځکه چې باوري یم ددې بې هوشۍ دوام خطرناک دی.

ډاکټرانو وویل، هرڅه چې غواړې ترسره یې کړه.

ما د طبابت د وسایلو له صندوقه خپله ستن را وایسته او په اور کې مې کېښوده، وروسته مې له اوره را وایستله چې سره شوه نو هغه مې د فرعون په رګونو کې دننه کړه او وینو یې داړې وکړې.

څو شېبې وروسته فرعون خوله خلاصه کړه او ژوره ساه یې واخیستله، ما ډېر ژر د وینې مخه ونیوله، د فرعون لاس مې وتاړه او هغه لوښی مې پټ کړ چې وینه پکې وه.

فرعون بېخي په هوش کې راغی، پاڅېد او کېناست.

د دارالحیات ډاکټران چې یې ولیدل ور په زړه شول چې دارالحیات د آمون په معبد کې دی او د هغې کرکې له امله چې له آمونه یې کوله امر یې وکړ، چې دغه ډاکټران له مانۍ وباسي.

له دې وروسته چې دغه ډاکټران ولاړل ویې ویل، سینوهه! ولاړ شه او زما بېړیو ته خبر ورکړه، چې د حرکت لپاره چمتو شي او پارو وهونکو ته خبر ورکړئ چې زه د سفر نیت لرم.

له هغه مې پوښتنه وکړه،چیرته ځئ؟

ویې ویل، زه نور په دې ښار کې ژوند نه کوم، له خپلو بېړیو سره حرکت کوم او روانیږم، تر هغه پورې به ځم چې داسې ځای ته ورسېږم چې د نوي ښار د جوړولو لپاره مناسب وي.

هلته به یو نوی ښار جوړ کړم، پکې مېشت به شم او بیا به طبس ته ګام هم را وانخلم، ځکه چې ددې ښار اوسېدونکي د باطل او جعلي خدای آمون پیروان دي.

زه به د آتون پر وړاندې د هغوی چلند هېڅکله هېر نه کړم زه باوري یم چې په هېڅ پړاو کې زما نیکونه د طبس د خلکو له لوري داسې بې عزته شوي نه ول.

له همدې لامله باید ولاړ شې او هورم هب ته ووایې، چې زه همدا نن شپه له طبسه په بېړیو کې ځم او پر هرچا چې ګران وم له ما سره به ولاړ شي.

د مصر د پوځ قوماندان هورم هب چې د فرعون د حرکت وسایل یې برابرول، ماته وویل سینوهه! همداسې ښه ده، ځکه چې هم د طبس خلک خپلې هیلې ته رسېږي او هغه څه

ترلاسه کوي چې غواړي يې او هم فرعون له دې پرته چې جګړه وشي هغه څه ترسره کوي چې غواړي يې.

اخناتون له طبسه وتلو ته دومره بېړه درلوده، چې دومره صبر يې هم ونه کړ، چې سلطنتي کورنۍ سفرته چمتو شي.

ويې ويل زه ځم او هغوی دې پخپلو بېړيو کې راسپاره شي او په ما پسې دې راشي.

هورم هب يو شمېر جنګي بېړيو ته دنده وسپارله، چې د فرعون د بدرګې لپاره له هغه سره حرکت وکړي.

زه هم له فرعون سره ولاړم او په باطن کې له دې سفر سره موافق هم وم، ځکه پوهېدم چې د آب و هوا بدلون د هغه لپاره ګټه لري.

د شمال پر خوا مو د نيل سيند له بهير سره سم حرکت وکړ، طبس ته مو شاه کړه او ورو ورو ترې لېرې شو.

د فرعون د بېړۍ ارغواني بادبانونه يې پورته کړل، چې حرکت نور هم زيات کړي.

له لنډې مودې وروسته د طبس سلطنتي ماڼۍ، دېوالونه، ډبريني ستنې (هدف هغه ستنې دي چې په عمودي توګه يې په ځمکه کې ښخې کړې دي او د هغو له سيوري يې د ورځې حساب کاوه چې کوم وخت دی. ژباړن) او درې ګوني غرونه له نظره ورک شول.

خو د مصر د پلازمېنې يادګار له موږ سره و، ځکه چې کله به د نيل تمساح ګانو په اوبو کې حرکت کاوه، نو د هغوی اوږدې او ځواکمنې لکۍ به ښورېدلې.

دوی داسې ښکارېدل چې ګڼې هغه مړي خوري چې نيل يې له ځان سره له طبسه راوړي.

ځېنې مړي د اوبو پر سر ګرځېدل او بوی يې کړی و، چې دغه ناوړه بوی ټوله فضا نيولې وه.

په کشتۍ کې يې د فرعون په کوټه کې سپانده او عود سوځول چې دغه خراب بوی ورک کړي.

لس ورځې وروسته هغې سيمې ته ورسېدو چې نور پکې مړي نه ښکارېدل، فرعون له خپلې کوټې راوت، د بېړۍ په غولي کې ودرېد او د نيل سواحلو ته يې کتل.

د نيل سيند په دواړه غاړو کې ځمکه ژېړ رنګه وه، کليوال د فصلونو په ټولولو بوخت ول، کليو ته يې وړل او مالونه يې د نيل غاړې ته راوستل چې اوبه وڅښي.

شپنو به خپلې شپېلۍ وهلې.

کله چې خلکو د فرعون بېړۍ ولیده د خرما د ونوله څانګو سره له خپلو کلیو د نیل د غاړې لور ته په منډه را روان شول او څانګې یې ښورولې، نارې یې وهلې او خوشحالي یې کولې.

فرعون ددې خلکو په لیدو تاند او خوشحال شو، خندل به یې او کله به یې امر وکړ چې کشتۍ ودروي.

ساحل ته به ولاړ او له کلیوالو سره به یې خبرې کولې د ښځو او ماشومانو پر لور به یې لاس ونه ښورول.

کله به د نیل ساحل پر غاړه پسونه فرعون ته ورنژدې شول او د هغه لمنه به یې بویوله او یا به یې هغه وڅاټه، فرعون به د ماشومانو په څېر خوشحال شو او خندل به یې.

زه د اخناتون د روحیې په بدلون خوشاله شوم، خو په یوه کار یې خپه وم، هغه دا چې ویل به یې، د هغه خدای لمر دی.

دی به د بېړۍ پر غولي کېناست، بدن به یې د خدای په مخکې لوڅ کړ، خو دغه خدای په دوبي کې ډېر خطرناک کېده او انسان به یې له ډېرې ګرمۍ ناروغه کړ.

فرعون هم له دې امله چې ډېر تر لمر لاندې درېده تبه به یې شوه، سترګې به یې ځلېدې، خو د شپې مهال به یې حالت ښه و.

دی به د شپې هم د بېړۍ پر غولي ناست و، ستورو ته به یې کتل او ماته یې ویل، زه به د پخوانی خدای ټولې ځمکې پر هغو کرندګرو خرڅې کړم، چې تر اوسه پورې یې ځمکې نه درلودې او په لږو یې ګوزاره کوله.

دوی به بیا وکولای شي چې ډېر غنم تولید کړي او ډېر پسونه او غواګانې وروزي.

د ومره ډوډۍ وخوري چې بچیان یې چاغ او ښځې یې ښکلې شي او بیا له یوه بل سره کینه ونه لري.

زما خدای اتون به د بېوزله او بډای تر منځ توپیر له منځه یوسي او داسې کار به وکړي، چې نور مریان مجبور نه وي، چې د ډوډۍ خوړلو لپاره ټول عمر د خپل بادار لپاره زیار وګالي.

سینوهه! زه له طبسه ځکه راوتلی یم، چې پوهېدم طبس هغه ښار دی چې د بېوزلو او شتمنو توپیر پکې ډېر زیات دی.

ډېر کسان چې بېوزله دي، باید ټول عمر د مریانو او یا نوکرانو په توګه کار وکړي، تل

به بېوزلي وږي وي او هر څو مره زيار چې ګالي ټول به د شتمنو جېب ته ځي.

زه له طبسه ځکه کرکه کوم، چې او سېدونکي يې د پخواني خدای عبادت کوي، ځکه چې پخوانی درواغجن خدای د بېوزلو بدبختي او شتمنو لا شتمني غوښتله.

خپل ټول اصول يې داسې برابر کړي ول، چې شتمن ورځ پر ورځ شتمن کېدل او بېوزلي به نور هم بېوزلي شول او په لوږې او بدبختۍ کې به پاتې شول.

زه پوهېږم چې د طبس له خلکو بايد دا تمه ونه کړو چې داسې ژر له پخواني خدايه لاس واخلي، ځکه چې هغوی خوندونه ،لتې، عياشي درک کړي او دا ټول پر پخواني خدای د عقيدې له برکته دي.

زما هيله له هلکانو او ماشومانو څخه ده، ځکه يوازې دوی دي، چې په آتون به عقيده ولري او د مصر د ملت راتلونکی پسرلی به رامنځته کړي.

کله چې ماشومانو او ځوانانو پر آتون عقېده وکړه، بيا به چمتو نه شي چې بېرته آمون ته ګروهمن شي او له دې وروسته چې دغه نسل لوی شو له آتون پرته به بل خدای نه پېژني.

ددې لپاره چې زه خلک، آتون ته ګروهمن کړم، نيت لرم چې پخواني ښوونکي له ښوونځيو وباسم او د هغوی پر ځای نوي ښوونکي وټاکم.

دغه راز مې هوډ کړی، چې د مصر خط بدل کړم، ځکه چې د بېوزلو او شتمنو تر منځ د توپير، يو لامل همدا مصري خط دی.

ما فکر کړی چې د ليکلو لپاره ضروري نه ده، چې موږ د هر شي بڼه انځور کړو، بلکې په بله بڼه هر هغه شی ليکلی شو چې غواړو يې.

د مصر ننی خط ډېر سخت دی او بېوزلي نه شي کولای ډېر کلونه ددې خط د زده کولو لپاره زده کړې وکړي.

يوازې شتمن کسان يې زده کولای شي، له همدې امله شتمن خلک ليک لوست لري او تر بېوزلو غوره دي.

خو کله چې خط آسانه شي نو ټول به ليک لوست کولای شي او شتمن به ليک پر بېوزلو د برلاسي په توګه نه کاروي.

زه د فرعون له دې خبرې وويرېدم، ځکه پوهېدم چې نوی خط څه ډول دی او پوهېدم چې دغه خط اسانه، خو ډېر بدرنګه دی.

ټول کاهنين به ترې کرکه کوي، نو فرعون ته مې وويل ،دغه کار مه کوه او د مصر خط

مه بدلوه.

فرعون وويل ولې ؟

ومې ويل ددې لپاره چې د مصري خدايانو ټول قوانين پر همدې خط ليکل شوي او دغه خط سپيڅلی دی.

فرعون وويل کله چې نوی خط هم دود شي او خلک پرې د خدايانو قوانين وليکي، هغه به هم سپيڅلی شي.

ومې ويل د مصري خط بدلون يو بل تاوان هم لري.

فرعون وپوښتل بل کوم تاوان ؟ومې ويل که د خط زده کول آسانه شي او هر څوک وکولای شي چې زده يې کړي نو بيا به څوک پر خپلو لاسونو کارنه کوي.

په کروندو کې به کرنه کېږي ،کانونه به نه استخراجېږي او بيا به دغه آسانه خط د هغه ملت لپاره څه ګټه ولري چې له لوږې مري ؟

د فرعون سترګې ددې خبرې په اورېدو سره وبرېښېدې او ويې ويل. سينوهه ! زه له طبسه ددې لپاره راووتم چې غوښتل مې د پخواني خدای د دودونو له پلويانو وتښتم ، خو اوس ګورم چې د پخواني خدای د زړو او ناچلو عقيدو يو پلوی، له ماسره ملګری او زما په څنګ کې دی.

سينوهه ! ته حقيقت نه وينې، خو زه داسې بينا يم ، چې حقيقت په راتلونکو کلونو کې داسې ګورم، لکه چې په رڼو اوبو کې يو شی پروت وي.

کله چې ټول خلک ليک او لوست وکړای شي ، نو ټول به پخپلو لاسونو کار وکړي او د ورونو په شان به د کرنې ،مالدارۍ، د کانونو د ايستلو، صنعت او سوداګرۍ کارونه سره وويشي.

په هغې دنيا کې، چې زما خدای آتون به يې رامنځته کړي، کينه به نه وي او په هغې نړۍ کې به څوک د بل چاله لاسه ږوږۍ وانه خلي، بلکې هر څوک به خپله ږوږۍ په بل چا وويشي.

په دې دنيا کې چې هر څوک به لوستي او پوه وي، د شتمن او بېوزلي تر منځ به توپير ختم شي.

نه به بېوزله وي او نه شتمن، ځکه څوک به نه شي کولای، چې د خپلې برلاسۍ په زور بل څوک کار او نوکرۍ ته اړباسي.

هېڅوک به چاته ونه وايي چې اې ګنده سریانیه ورک شه! یا اې ناولیه تورپوستیه ورک شه.

هر څوک به یو بل ته د ورور پر سترګه ګوري او له دې کبله چې بېوزله او شتمن نه وي، نو کینه به هم نه وي او جنګ به نه رامنځته کېږي.

فرعون د دې خبرو په وخت کې داسې هیجان درلود چې سږی یې ډاراوه.

زه پوه شوم چې هغه بیا په میرګي مرض اخته شوی او هغه مې د بېرې په غولي کې پر پوزي څملاوه او مسکن درمل مې ورکړل چې ارام شي.

خوله دې وروسته چې فرعون ویده او کرار شو، متوجه شوم چې که څه هم اخناتون، کله لېونی کېږي، خو د هغه لېونتوب ساري دی او زه هغه مهال د نوموړي خبرو اغېزمن کړم.

ما ډېر ملتونه لیدلي او پوه شوم، چې ټول ملتونه سره یو شان دي، ما ډېر ښارونه هم لیدلي ول او په دې هم پوهېدم چې ټول ښارونه سره ورته دي او د دېوالونو لنډوالی او اوږدوالی او یا د کورنو رنګونه د ښارونو د اختلاف لامل نه وي.

زه ډاکټر یم او د یوه ډاکټر له نظره د یوه مصري او یو سریاني او یا یوه تورپوستي او سپین پوستي ناروغی توپیر نه لري.

دوی یو پر بل غوره نه دي، د ډاکټر دنده دا ده، چې درې واړه معالجه کړي.

زه د خپلې پوهې له کبله د فرعون خبرو اغېزمن کړم، له ځان سره مې وویل. که څه هم دغه سړی لیونی دی او لیونتوب یې نورو ته هم غځېږي، خو کله چې ساري لېونتوب چاته غځېږي خوندور وي.

پخپل زړه کې مې احساس کاوه، چې فرعون یو ستر حقیقت ته اشاره کوي او که څه هم د هغه حقیقت په څمکنۍ نړۍ کې نه اجرا کېږي او یوازې په لوېدیزه نړۍ کې هغه اجرا کېدای شي. (په مصر کې لوېدیزه نړۍ د مړیو نړۍ او هم د بیا ژوندي کېدا او تلپاتې ژوند دنیا وه. ژباړن) خو باید داخبره تاید کړم چې که انسانان وکړای شي، داسې ژوند وکړي چې د بېوزلو او بډایانو توپیر به ختم شي او ابدي نېکمرغۍ ته به ورسېږي.

زه پوهېدم چې له فرعون پرته بل هېڅ دغه ډول ستر حقیقت نه و ویلی او له هغه وروسته به یې هم څوک ونه وايي.

زه پر دې هم پوهېدم چې د بېوزلو جهالت د فرعون دغه حقیقت نه شي منلای، ډېرې وږنې به وبهېږي (همغه ډول چې په طبس کې د وینو ویالې روانې شوې) او ښایي د فرعون

لوړ او پرتمین حکومت له منځه ولاړ شي.

خو هغه څه چې فرعون یې وايي داسې شی دی، چې چا له هغه مخکې ورته نغوته نه ده کړې او له هغه وروسته به هم ونه ویل شي. که څوک یې ووایي د اخناتون نه تقلید به یې کړی وي.

له هغه وروسته مې د اسمان ستورو ته کتل او له ځان سره مې وویل، ته هغه سړی یې چې نه پوهېږې له کوم ځایه راغلی یې او مور و پلار دې څوک دي؟

له دې وروسته چې لوی شوې وادې وربدل، یوې ښځې او مېره یې، چې سړی د طبس د بېوزلو ډاکټر و، ته په زوی والي ومنلې.

په سیند کې یې ستا کجاوه پیدا کړه، ته یې لوی کړې او تر اوسه هم ته د طبس د بېوزلو ډاکټر وې.

له هغو دې د سرو او سپینو تمه هم نه کوله او هغوی دې معالجه کول، بیا نو که د نوي فرعون دغه حقیقت ترقي راولي او د شتمن او بډای تر منځ توپیر له منځه وړي، نو تا ته یې څه تاوان رسېږي؟

په دې ډول ولې د فرعون د نوي خدای د حقیقت پلویتوب نه کوې او اخناتون نه هڅوې چې دغه حقیقت په مصر کې اجرا کړي.

سینوهه! ته په دې پوهېږې، هغه کار چې فرعون یې غواړي تر سره یې کړي، د نړۍ په هیڅ یوه هېواد کې عملي کېدای نه شي او په هیڅ ځای کې د بېوزلو او شتمنو توپیر او د مریي او بادار توپیر نه شي ختمېدای.

خو له دې کبله چې مصر ډېر بډای هېواد او ډېرې حاصلخېزې ځمکې لري، ښایي دلته دغه حقیقت پلی شي.

کله چې دغه حقیقت دلته پلی شو بې له شکه به له دې ځایه ټولې نړۍ ته وغځېږي.

په ټولې نړۍ کې به د بېوزلو شتمنو مریانو او بېوزلو توپیر ختم شي او بیا به په ټولې دنیا کې یو نوی نړیوال کال پیل شي.

(مصریان لومړني کسان دي چې یوه شول ځمکه د لمر کېر چاپېره را تاوېږي او په هرو ۲۷ زرو کلونو کې یو ځل د یوه خاص ستوري پر وړاندې درېږي او دغه اوو ویشت زره کلن پړاو یې نړیوال کال باله. ژباړن)

زه پوه شوم چې انسان ته تر دې ښه فرصت هېڅکله نه دی ور په برخه شوی چې وکړای

شي ځان د تل لپاره نیکمرغه کړي، ځکه چې تر اوسه پورې یو فرعون هم داسې نه و، چې ووایي د بېوزلو، شتمنو، نوکرو او بادار تر منځ توپیر نشته.

ښایي په راتلونکې کې داسې مریان او نوکران پیدا شي، چې هڅه وکړي د شتمنو او بېوزلو توپیر ختم کړي، خو څوک به د هغوی خبرو ته غوږ کېنږدي او که غوږ ورته و هم نیسي نو د هغوی خبره به عملي نه شي، ځکه چې شتمن به د مزدورانو او مریيانو ځواک ختم کړي.

خو کله چې د مصر فرعون اخناتون وایي چې باید د بېوزلي او شتمن تر منځ توپیر نه وي او له دې کبله چې خبره یې اغېزه لري قدرت ، سره او سپین ورسره دي، نو ممکنه ده، چې خپله خبره عملي کړي.

فرعون چې وایي ددغو پرګنو تر منځ دې توپیر ختم شي، باید د بشر د نېکمرغۍ لپاره دغه یوازېنۍ فرصت له لاسه ورنه کړل شي، ځکه چې ناشونې ده، له دې وروسته دې په مصر ،بابل او سوریه کې داسې پاچا پیدا شي، چې د بېوزله او شتمن د توپیر د ختمولو غوښتونکی وي.

زه د بېړۍ په څنګ کې ودرېدم او ستورو ته مې کتل، په دې فکرونو کې وم، چې د نیل ساحل د پخو شویو غنمو بوی مې احساس کړ.

ناڅاپه مې خپل مریي کاپتا ته پام شو، چې اوس په طبس کې د یوې میخانې خاوند او شتمن کس دی ، فکر مې وکړ چې که دلته وای او د فرعون خبرې یې اورېدلې وای څه به یې ویل ؟

له دې سره سره چې کاپتا نه و، خو زه پوهېدم چې هغه به د فرعون د خبرو له اورېدو وروسته څه ویلي ول.

هغه به ویل سینوهه ! فرضاً که فرعون وکړای شول چې د شتمن او بېوزلي توپیر ختم کړي، نو ټول خلک به باسواده شي.

نور به نه مریی وي، نه بادار ،نه به ټیکه دار وي ، نه کارګر او ټول به لکه ورونه کروندې کري ، صنعت او تجارت به وکړي.

له هغه وروسته به د بشر ټولې بد بختۍ ختمې شي او بیا به څوک د بل د خواریو له لارې شتمن نه شي.

پر داسې ورځ به بیاهم ځینې کسان هوښیار او ځینو احمقان وي..... ځینې به چالاک او

ځينې نور به سادګان وي.

هغه کسان چې هوښيار او چالاک وي، د احمقانو او سادګانو جيبونه به تش کړي او يا به په بېلابېلو چلونو او. کيسو سره هغوی اړ کړي چې د دوی لپاره کار وکړي، تل به همداسې و او همداسې به وي.

ځکه کله چې انسان پوه شي چې بل غولولای شي امکان نه لري چې ترې تېر شي.

دغه راز هغه کس چې نورو ته تاوان رسولای شي هغه به تاوان او ګوزار ورکوي او په انسانانو کې هغه کسان چې د تاوان رسولو ځورولو او غولولو وس نه لري هغه مړي دي.

همدا ستا فرعون چې غواړي د شتمن او بېوزلي تو پير ختم کړي وګوره له خلکو سره يې څه کړي دي ؟

هغه حقيقت چې ستا فرعون او د هغه خدای يې پلويتوب کوي، يوازې څو ډوله مرغانو او حيواناتو لکه کارغانو، مردار خورو او تمساحګانو ترې استفاده کړې او نورو ټولو ته يې تاوان رسېدلی دی.

خو له دې سره سره پر دې هم پوهېدم چې که کاپتا وای نو نيوکې به يې کولې.

بله ورځ چې کله فرعون د خپل خدای او د هغه د حقيقت په هکله خبرې کولې، ما يې له نظر يې سره موافقه کوله او هغه به خوشحاله شو.

له طبسه د راوتلو پر پينځلسمه ورځ د فرعون بېړۍ هغه ټاټوبي ته ورسېده چې په هېڅ خدای پورې اړونده نه وه.

دغه ځمکه د نيل په څنډو کې اواره ځمکه وه او لږ لېرې ترې څو غونډۍ وې چې ونې يې نه درلودې.

څو شپنو هلته خپل پسونه پوول.

فرعون له بېړۍ څخه راکوز شو او دغه ځمکې يې د آتون په ولکه کې ورکړې ويې ويل، دلته به يو ښار جوړ کړم او نوم به يې د(آتون د افق ښار) کېږدم.

(په ځينو اروپايي متنونو کې له دې کبله چې ځينو يوناني مورخانو آتون خدای په آتوم ياد کړ، نو دوی هم آتون ته د آتوم کليمه کارولې ده. ژباړن)

د فرعون له بېړۍ وروسته په هغه پسې رواني نورې بېړۍ هم ساحل ته ورسېدې او پکې ناست کسان پلي شول.

فرعون خپل معماران راوبلل او ويې ويل دلته بايد يو ښار جوړ شي او هر هغه کس ته

يې د کور لپاره يوه يوه ټوټه ځمکه ورکړه چې له ده سره ملګري ول.

په دې ښار کې د اخناتون د نقشې پر اساس بايد له شماله جنوب ته پېنځه واټونه او پېنځه نور له ختيځه لوديځ ته جوړ شي.

په هره ټوټه ځمکه کې يو کور جوړېده چې له ګاونډي سره يې توپير نه درلود، د فرعون د امر پر اساس د هېڅ، يوه کور لوړوالی بايد تر نورو کورونو زيات نه وي او په هر کورکې بايد يو شان کوټې او پخلنځي جوړ شي.

فرعون غوښتل چې په دې ښار کې ټول له نورو سره ځان يو شان وبولي او د آتون له ښاره خوشحاله وي او شکر وکړي، چې دغه مساوات ورته رامنځته شوي دي.

کله چې ښار جوړېده، ما ليدل چې هېڅ يوه کس، چې کور يې جوړاوه له آتونه مننه نه کوله او اپوټه يې هغه او فرعون ته ښېراوې کولې، چې ولې فرعون له طبسه لېرې کړي او داسې ځای ته يې راوستي دي چې نه پکې ابادي شته او نه ميخانه.

يوه ښځه هم له هغه کوره خوشحاله نه و، چې د ښځې او د بچيانو د ژوند کولو لپاره يې کور جوړاوه، ځکه چې هرې ښځې غوښتل د خپل کور په مخکې اوربل کړي او ډوډۍ پخه کړي، خو د نوي ښار په کورونو کې يې نغري په کورونو کې دننه جوړ کړي ول.

هغوی په طبس کې په هغو کوټو کې ويده کېدل، چې ځمکه يې په کلکې ختې کاګل شوې وه، خو کله چې يې وليدل د نويو کورنو غولي يې په خښتو فرش شوي ناخوښه و.

دوی ويل خښتې له ډېرو موښلو وروسته په غبار او ګرد بدلېږي او ستونزې پېښوي.

دغه راز د دې سيمې له متمې ختې ځخه هم په تنګ ول او ويل به يې چې دغه خټه له دې وروسته چې پخه شي او لوښي ترې جوړ کړو درز کوي او ماتېږي.

د دې ښار اوسېدونکو غوښتل، د خپلو کورنو په مخکې ترکاري او سبزيانې وکري، خو فرعون د سبزيانو کرل بند کړي ول او هر کور ته يې يوه ټوټه ځمکه له ښاره بهر ورکړې وه، چې هلته سبزيانې وکري.

د ښار اوسېدونکو شکايت کاوه، چې د دوی ځمکې له نيل سينده لېرې دي او کروندو ته له سينده د اوبو راوړل سخت کار دی.

ښځو د نوي ښار د سړکونو په منځ کې طنابونه تړلي ول، چې کالي پرې وچ کړي خو فرعون دغه کار هم منع کړی و.

فرعون ويلي ول، چې د نوي ښار اوسېدونکي، بايد په کورونو کې پسونه او وزې ونه

ساتي، خو ښځو دې خبرو ته توجه نه کوله او په نويو کورونو کې يې پسونه او وزې ساتلې.

که څه هم طبس يې هېر نه کړ خو ورو ورو خلک له نوي ښار سره روږدي شول او زه متوجه شوم چې که هغوی ته وويل شي چې اوس دې طبس ته ولاړ شي نو ستنيدا ته نه چمتو کېدل.

بيا د نيل سين د مستېدا وخت راغی، د مني فصل را ورسېد، موږ تصور کاوه، چې د نيل سيند د مستېدا او د اوبو د زياتېدا له امله به فرعون طبس ته ستون شي، خو هغه پخپلې بېړۍ کې پاتې شو او له هغه ځايه يې د آتون د افق ښار او د کورنو جوړولو کار څاره.

هره ډبره چې به پر بلې کېښودل شوه فرعون به ورته خوشحاله و او ما ليدل چې کله به يې ليدل چې يو کور بشپړېږي نو خندل به يې.

فرعون د هغو سرو او سپينو يوه برخه چې د آمون له معبده يې لوټ کړې وه، د نوي ښار په جوړولو ولګوله او د پخواني خدای ټوله ځمکه يې پر هغو بېوزلو ووېشله چې کروندو ته لېوال ول.

اخناتون ددې لپاره چې د طبس سوداګر تر فشار لاندې راولي، د هغو ټولو بېړيو سامان او شيان يې واخيستل، چې د نيل سيند پورته برخې او طبس ته تللې.

د نوي ښار جوړلو ته د فرعون د بېړۍ له کبله، د ډبرو او لرګيو بيه زياته شوه او که به چا يو ځل د نيل سيند له لوړې آبشاره، چې د سترو ځنګلونو په خوا کې و، د آتون د افق ښار ته چارتراش راوړل نو شتمن کېده.

د آتون افق ښار ته ډېر کارګران راغلل او د نيل تر څنګ يې په هغو جونګړو کې ژوند کاوه چې له بانګسونو يې جوړې کړې وې.

له سهاره تر ېګا پورې يې خښتې وهلې، هغه به يې پخولې، لارې به يې جوړولې او يا به يې د ځمکو او بولو لپاره لښتي او ويالې جوړولې.

د نيل د سيند له طغيانه وروسته يې له شاو خوا سيمو څخه زرګونو ميوه لرونکې ونې نوي ښار ته راوړې، ويې کرلې او ځينو په بل کال ميوه هم وکړه چې پخپله فرعون له همدغو ونو څخه مېوه ټوله کړه.

په داسې حال کې چې کارګران، ممعاران او ختګران په کار اخته ول او بېړيو

چارتراش او ډبرې راوړلې، ما هم ډېر کارونه درلودل.

ځکه چې د ښار د اوبو رسولو سیستم لا نه و جوړ شوی او ډېر کارګران به د خوسا اوبو د څښلو له امله ناروغان شول.

يو ښه کار چې وشو هغه د نوي ښار د بندر جوړېدل و، ځکه چې له هغه وروسته بار وړونکي د تمساح له خطره خلاص شول.

تر دې مخکې چې بندر جوړ شي بار وړونکي مجبوره ول، چې اوبو ته ننوځي او د بېړۍ پېټې ساحل ته ورسوي، خو په دې وخت کې به يوه ناري کړې او بل به متوجه شو چې تمساح يې ملګرى خوړلى دى.

د هغې منظرې ليدل چې د يوه باروړونکي نيمايي بدن د تمساح په خوله کې دى، ډېر دارونکى دى او تر دې مخکې چې څوک يې مرستې ته ورشي تمساح به سرى تر اوبو لاندې کش کړ چې په يوه سوري کې يې ځای کړي.

تمساح به د جوالي مړى تر هغو ساته چې خراب به شو او بيا به يې خوړ.

له همدې امله دوی مجبور شول چې د تمساح يو شمېر ښکاريان راولي ، سره او سپين زر ور کړي چې د تمساح خطر کم کړي.

هغوی په لنډه موده کې تمسا ح ګانې ختمې کړې خو له دې سره سره د بندر تر جوړېدو پورې د تمساح د داړلو خطر موجود و.

ما اورېدل هغه تمساح ګانې چې د آتون د افق په ښار کې وې، هماغه تسماحګانې وې چې د خوراک په تمه يې له طبسه تر دغه ځايه د فرعون بېړۍ تعقيب کړې وې.

زه په دې نه پوهېدم چې د تمساح ، د فرعون د بېړۍ او د نوې نمرې د پيدا کېدا ترمنځ به څه اړيکى وي؟

خو له ډېرو مې اورېدلي ول، چې تمساح ډېر ځيرک حيوان دى له همدې امله له دې وروسته چې ښکاريان راغلل او يو شمېر يې ووژلې نو تمساحګانې پوه شوې چې دلته پاتې کېدل خطر لري او که پاتې شي وبه وژل شي.

دوی د آتون د افق ښار تر پرېښودو وروسته بېر ته طبس ته ولاړې، ځکه چې پوهېدې چې طبس د قوماندانۍ مرکز دى ، هورم هب هم لا په دغه ښار کې دى او ښايي بيا له دې ښاره د ډېرو کسانو مړي راووځي او او به يې خراب کړي، چې دوی يې وخوري.

کله چې د نيل اوبه له طغيانه وروسته کېناستې او شاته ولاړې د مصر د پوځ قوماندان

هورم هب د آتون د افق ښار ته راغی.

فرعون هورم هب ته دنده وسپارله، چې پوځ به کموي، تورپوستي عسکر او د شردن ځواک به رنګوي، خو زه پوهېدم چې هغه به د فرعون د دغه امر په اړه سستي کوي.

هورم هب ځکه دغه پوځ نه رنګاوه، چې پوهېده یوه ورځ به سوریه بلوا وکړي او مصر د سوریې د بالقوه بلوا د له منځه وړلو لپاره پوځ ته اړتیا لري.

خو فرعون د سوریې پر بلوا باور نه درلود او ویل به یې سوریه به بلوا ونه کړي نو غوره دا ده چې تورپوستي عسکر او شردن ځواکونه رخصت کړي، ځکه چې په مصر کې ترې کرکه کېږي او باید نور خوک دغه عسکر ونه ویني.

له هغې ورځې چې هورم هب نوي ښار ته ننوت هر ځل چې به له فرعون سره د پوځ د رنګېدا خبره کېدله، نو دواړو به په دې مضمون بحث کاوه:

هورم هب به ویل، د سوریې حالات ډېر خراب دي او مصریان هلته کمزوري دي، که کومه بلوا کېږي د سوریې مصریان به په لومړۍ ورځ له منځه ځي، نو ته باید یو پوځ ولرې چې د سوریې د بلوا مخه ونیسي.

اخناتون به ځواب ورکړ، ایا تا په دې ښار کې زما د ماڼۍ انځورونه کتلي دي؟ او ایا پوهېږې چې انځورګرانو زما پر ماڼیو د کرت د ټاپو په شان تصویرونه ایستلي دي؟

که ته زما پر ماڼیو ایستل شوي انځورونه وګورې معلومه به شي چې ما هلته داسې انځورونه کښلي، چې تصور کوې کبان په اوبو کې ګرځي او هیلۍ په هوا کې الوزي.

خو د سوریې په اړه زه باور نه لرم چې هلته دې بلوا وشي، ځکه د دې سیمې ټولو پاچاهانو ته مې د حیات صلیب لېږلی او په سوریه کې د آمورو د هېواد پاچا له ما سره دومره نژدې ملګرتیا کوي چې د آتون لپاره یې یو معبد جوړ کړی دی.

آیا تا د آتون ستر ارګ چې ما د خپلې ماڼۍ په مخکې جوړ کړی لیدلی دی؟

(د بریالیتوب د ارګ یا طاق ظفر جوړېدل چې د رومیانو له پړاوه وروسته د بریالیو کسانو د ویاړ سمبولونه شول، د رومیانو نوښت نه و، بلکې رومیانو دغه دود له مصر او کرت څخه زده کړی وا او په مصر او کرت کې یې د خدایانو په ویاړ ارګ یا طاق ظفر جوړاوه. ژباړن).

زه تا ته وایم چې دغه ارګ وګوره ځکه چې په لیدو ارزي او معمارانو ډېر ښه جوړ کړی دی.

ما ته دي غوښتي چې آتون د خدای د ارګ جوړولو لپاره مریان له کانونه د برې راوباسي او کړاو وزغمي، ددې پر ځای مې دستور ورکړ چې د آتون ارګ له خښتو جوړ کړي.

هورم هب به ویل زه چې هر ځل ستا مانۍ ته ننوځم د آتون ارګ ګورم، خو ته د آمورو له پاچا ځان ساته.

اخناتون به ځواب ورکړ، زه غواړم چې ته هغه لوحې وګورې چې نوموړي ماته را استولې دي او ته به پوه شې چې دغه پاچا څنګه د آتون مرید شوی او د هغه په اړه له ما پوښتنې کوي، چې پر آتون یې عقیده نوره هم پخه شي.

هورم هب به ځواب ورکړ، زه لوحې ته دومره اهمیت نه ورکوم. ځکه پر کومه ورځ چې کوم پاچا وغواړي بلوا وکړي هر ډول لوحه او ژمنه به تر پښو لاندې کړي.

له زور پرته هېڅ شی یو پاچا دې ته نه شي مجبورولای، چې ستا فرمانبرداره وي، اوس چې ته غواړې پوځ منحل کړې، لږ تر لږه دا موافقه وکړه، چې په سرحدونو کې یو شمېر عسکر پاتې شي، چې د مصر پر خاورې د بهرني تېري مخه ونیسي.

همدا اوس هغه قبایل چې د مصر په جنوب کې ژوند کوي، ددې لپاره چې خپل مالونه د مصر په ورشو ګانو کې وپیايي، ستا خاورې ته ننوځي او د تورپوستو کورونه سوځوي.

په داسې حال کې چې دغه تورپوستي ستا متحدین دي، د هغوی کورونه هم د بانګسونو دي، ډېر ژر اور اخلي.

اخناتون به ځواب ورکاوه، دغه قبایل چې د مصر په جنوب کې ژوند کوي له بېوزلۍ څخه دغه کارونه کوي، که وکړای شي پخپلو ټاټوبو کې خپل مالونه ماړه کړی نو مصر ته نه ننوځي.

خو له دې کبله چې څړ ځایونه، نه لري مجبور دي، چې د خپلو مالونو د مړولو لپاره مصر ته ننوځي.

نو که د مصر په جنوب کې تورپوستي زغم و لري او موافقه وکړي چې د هغوی مالونه د تورپوستو په څړځایونو کې وڅري هېڅکله به د هغوی کورنو ته اور ورته نه کړي.

هو رم هب وویل ته ما ته امر کوې، چې پوځ منحل کړم او عسکر رخصت کړم چې خپلو ولایتونو ته ولاړ شي، خو ایا پوهېږې چې تر رخصتېدا مخکې باید په مصر کې کلک او

مضبوط امنيت رامنځته کړې او ګزمې ودروې.

ځکه هغه عسکر چې رخصتېږي او خپلو کورونو ته ځي، نو په لاره کې به زرګونه کورونه لوټ کړي او پر زرګونه ښځو به په زور تېری وکړي.

فرعون وويل دا ستا ګناه ده چې زما له عسکرو سره دې د آتون په هکله خبرې نه دي کړي، ځکه که هغوی آتون وپېژني او پوه شي چې هغه سوله غواړي، د مينې او محبت خدای دی، نو پر ښځو د تېري او لوټماريو فکر يې نه کاوه.

نن سبا چې په دې ښار کې خلک آتون پېژني هېڅکله کومه پېښه نه کېږي.

زما لور مريتاتون يوازې له يوې غرڅې سره ګرځي او بل کوم ساتونکی او ملګری نه لري، خو څوک پرې تېری نه کوي.

زه باوري يم، پر دې سربېره چې بايد عسکر رخصت شي، جنګي ګاډي هم بايد له منځه ولاړ شي، ځکه چې د جنګي ګاډيو درلودل په دې مانادي چې نورو پاچاهانو ته وښيو چې موږ جنګ غوښتونکي يو. خو که جنګي ګاډي ونه لرو نو هغوی به پوه شي چې موږ د جنګ نيت نه لرو.

هورم هب په ملنډو وويل، غوره نه ده چې جنګي ګاډي خرڅ کړو، ځکه چې فکر کوم د آمورو هېواد او په سوريه کې هاتيان چمتو دي، چې ستا جنګي ګاډي واخلي او يوه ورځ يې ستا پر خلاف وکاروي.

دغه بحث د فرعون او د هغه د قوماندان تر منځ څو ورځې روان و، خو بالاخره هورم هب چې مقاومت يې کاوه فرعون يې د دوو شيانو منلو ته چمتو کړ، يو دا چې د مصر په سرحدونو کې چونۍ وساتي او بله دا چې په مصر کې دننه دې يوه ګزمه رامنځته کړي، چې په هېواد کې دننه امنيت وساتي.

فرعون وويل، زه له دې شرطونو سره موافقه کوم، چې ګزمه جوړه شي، خو له ګزمې دې کومه ورځ د پوځ په شان استفاده ونه شي.

ددې لپاره چې ګزمه د پوځ په شان نه شي فرعون وټاکله، چې دهغوی وسلې دې يوازې نيزه او هغه هم له وسپنيزې څوکې پرته وي.

هورم هب دغه امر ومانه خو کله چې د يوې ګزمې په جوړولو بوخت و، چې کورنۍ امنيت وساتي، بيا پوځ رنګ کړي او عسکر کورونو ته واستوي، نو په دې وخت کې دوه قاصدان يو پر بل پسې له سوريې څخه راغلل.

دوی خبر ورکړ، د آمورو پاچا له دې وروسته چې په طبس کې یې د پخواني او نوي خدای تر منځ د جګړې او له طبسه د فرعون د وتلو او نوي ښار د جوړلو خبرې واورېدې، اوس نیت لري چې بلوا وکړي.

ده هغه کړې چې د مصر دوه ښارونه چې د هغه هېواد ته نژدې پراته و، ونیسي. یو ښار پکې (مژیدو) و او اوس په مژیدو ښار کې مصري عسکر او چوڼۍ محاصره دي او له فرعونه مرسته غواړي.

فرعون له دې خبرې وروسته هورم هب ته داسې وویل:

زه تصور نه کوم چې د آمورو پاچا دې په سوریه کې له کوم علت پرته بلوا کړې وي، زه باوري یم چې مصري مامورینو هغه سپک کړی دی او پاچا غوسه شوی دی.

تر هغه چې پوه نه شم، ددې سړي بلوا د مصریانو له پارولو پرته شوې د هغه د سزا کولو لپاره به ونه کړم.

خو دې پېښې متوجه کړم چې ما د سوریې په هکله هغسې پام ونه کړ چې باید کړی مې وای او را په زړه شول چې تا (هورم هبه!) کله چې په اورشیلم کې وې هلته دې د آتون لپاره معبد جوړ نه کړ او اوس هغه وخت دی چې زه په اورشیلم کې د آتون لپاره یو ښار جوړ کړم چې د سوریې پلازمېنه شي.

څنګه چې مژیدو کرار شو، هلته به هم د آتون لپاره ښار جوړ کړم، ځکه چې مژیدو یو ستر سوداګریز مرکز او د کاروانونو په لاره کې پروت دی، که په دې ښار کې د آتون لپاره ښار جوړ کړو دغه ښار به ډېر اباد شي.

کله چې هورم هب د فرعون دغه ځواب واورېد، داسې غوسه شو چې د خپلې متروکې لاستی یې مات کړ او ټوټې یې د فرعون تر پښو لاندې پر ځمکه وویشت.

له هغه ځایه راووت او ماته یې وویل، دغه سړی لېونی دی، ددې پر ځای چې پوځ واستوي، چې د آمورو پاچا نسکور کړي، دی وایي نیت لري په اورشیلم کې د آتون د خدای لپاره معبد جوړ کړي او هغه د سوریې پلازمېنه کړي.

په هغو ورځو کې چې هورم هب به د افق په ښار کې و، زما د مسافرتونو په هکله یې ډېرې خبرې وکړې او غوښتل یې، پوه شي چې ایا ما د هغه د سپارښتنو پر اساس په نورو هېوادونو کې پوځي معلومات راغونډ کړي کنه؟

کله چې ما خبرې پیل کړې او راټول شوي پوځي معلومات مې ورته ویل، په ډېرې

ځیرتیا سره یې ورته غوږ نیولی و.

یوه ورځ مې هغه چاړه هم وروښوده چې په هاتي هېواد کې یې ماته راکړې وه.

کله چې ده دغه چاړه ولیده ډېر حیران شو او ویې ویل یې سینوهه ! زموږ مسي چړې ددغه چاقو پر وړاندې چې ته وایې له اوسپنې جوړ دی، د لرګي په شان ښکاري.

هورم هب د نورو ملتونو د پوځي وسایلو او عسکرو په هکله داسې پوښتنې راځخه کولې چې زما له نظره د ماشومانو د پوښتنو په شان وې.

خو وروسته پوه شوم، چې هورم هب یو عسکر دی، ځکه دغسې پوښتنې کوي.

مثلاً ویل به یې، چې کله د بابل عسکر حرکت کوي لومړی ښي پښه مخکې کوي ،که کینه؟ یا دا چې په هاتي کې هغه اسونه چې د جنګي ګاډیو د ذخیرې لپاره دي، پخپله له ګاډیو سره یوځای حرکت کوي که د هغوی ترشا روان وي؟

یابه یې دا سوال کاوه، چې د بابل د جنګي ګاډیو ارابې څو شعاع ګانې لري او آیا د څرخ شاوخوا یې په فلزاتو پوښلې ده کنه فلزي پوښ نه لري؟

یو بل شی چې هورم هب ورته ډېر پام کاوه دا و، چې غوښتل یې پوه شي په هاتي ،میتای او بابل هېوادونو کې د پلونو حالت څه ډول و.

هره ورځ به یو کاتب راته او هغه څه چې ما د نورو هېوادونو د عسکرو د شمېر، لارو ،پلونو او بندرونو په اړه ویل، هغه به یې له ځان سره لیکل، ددې لپاره چې کله هورم هب وغواړي له دغو معلوماتو څخه استفاده وکړي.

خو هغه معلومات چې ما د نورو هېوادونو د خدایانو ، مجسمو ،عمارتونو او د کرت د حمامونو او تشنابونو په هکله ورکول هورم هب ورته چندانې توجه نه کوله.

کله چې هورم هب په کاوړ خپله متروکه ماته کړه او ولاړ، غوښتل یې چې د مصر د پوځ له قوماندانۍ استعفا وکړي، نو وروسته اخناتون چې هورم هب پرې ګران و زه ورپسې واستولم او ویې ویل، هغه ته ووایه چې راشي او له ماسره پخلا شي، ځکه زه نه غواړم چې هغه له ما خپه او جلاوي.

خو له دې سره چې فرعون او هورم هب پخلا شول او اخناتون بله متروکه ورکړه، بیا هم هورم هب ونه کړای شول فرعون قانع کړي، چې د آمورو پاچا دوهلو لپاره سوریې ته عسکر واستوي.

له دې وروسته چې هورم هب ولاړ فرعون ماته وویل سینوهه ! که آتون غوښتي وي چې

سوریه د مصر له لاسه ووځي ، نو غوره ده چې د آتون اراده عملي شي، ځکه چې پر سوریې سلطه د مصر لپاره له تاوانه پرته بل څه نه دي ورپه برخه کړي .

ومې ویل اخناتونه! تر هغه ځایه چې زما یاد پرېږي او له نورو مې اورېدلي دي ، پر سوریې د مصر سلطه تل د مصر په ګټه وه، ځکه چې مصر د سوریې له ډېرې شتمنۍ څخه استفاده کړې ده.

فرعون وویل، شتمني هغه شی دی چې ملت فاسدوي، ځکه چې ملت تنبل او بې رحمه کېږي.

د مصر ملت زیارکښ، قانع او صبرناک ملت و ، خو کله چې یې سوریه ونیوله او د سوریې شتمني مصر ته ننوته نو تنبلي ،عیاشي او د سریانیانو ځینې ناسم او خراب عادتونه هم مصر ته راغلل.

کله چې سوریه د مصر له لاسه ووځي نور به له مصریانو څخه تنبلي، عیاشي او د سریانیانو خراب عادتونه هم کډه وکړي.

له دې سره سره چې زه پوهېدم فرعو ن لیونی دی، خو تمه مې نه کوله چې دغه خبرې د یوه پاچا له خولې واورم.

ځکه چې یو پاچا د خپل قدرت د ساتلو لپاره باید اجازه ورنه کړي چې بل هېواد د هغه سیمې لاندې کړي.

هغه ته مې وویل: اې اخناتونه! زه یوه موده په سوریه کې وم او په ازمیر او (مژیدو) ښارونو کې مې ژوند کړی.

په ازمیر کې د مصري چونۍ قوماندان یو زوي درلود چې رامسس نومېده او دغه هلک چې په هغه وخت کې لس کلن و ، د سوریې تر ټولو ښکلی هلک ګڼل کېده.

ده به تل په مرد کیو او لولک لوبې کولې، خو کله چې ناروغ شو ماته یې راوست، زه پوه شوم چې د معدې چینجی لري او هغه مې معالجه کړ.

په مژیدو کې یوه مصری ښځه وه چې هېڅ سړي نه شوای کولای، هغه یوځل وګوري، ځکه که دوه ځله یې هغه لیدلې وای حیران شوی به و.

دغه ښځه یې هم یو ورځ ماته راوستله چې خېټه یې پړسېدلې وه، ما ورته وویل باید خېټه دې سوری کړم ، چې ناروغي دی معالجه شي.

یوه ورځ یې کورته ورغلم د خیټې له څیرلو وروسته مې معالجه کړه.

فرعون وپوښتل ولې ماته دغه خبرې کوې ؟

ومې ویل ددې لپاره یې تا ته وايم چې هماغه مصری هلک به اوس د سرياني عسکرو په چړو ټوټه شوی وي او هغه ښکلې ښځه به د سوریې د نشه عسکرو منګولو ته لویدلې وي او هغوی به د ښځې ژړاګانو ته له پامه پرته، پر هغې تېری کوي.

ایاد غه پېښې تاته اهمیت نه لري او ته دا خبره منلای شې چې په سوریه کې مصري ماشومان او سړي ووژني او پر ښځو یې تېری وکړي؟

فرعون ماته وکتل او ویې ویل سینوهه ! ته وایه زه څه وکړم ؟

ایا حکم وکړ م چې په سوریه کې بلوا شوې او لس یا سل مصریان وژل شوي دي، نو زما عسکر دې سل ځله سل سرياني عسکر ووژني؟

ایا ستا په نظر دا سم کار دی؟

ایا هغه سریانیان چې د یو شمېر وژل شویو مصري عسکرو د وژلو لپاره وژل کېږي ځانونه ،ښځې او ماشومان نه لري؟

که زه بدی ته په بدی ځواب ورکړم نتیجه به یې بدي نه وي ؟

خو که د بدی سزا په نیکی ورکړم، که څه هم له دې امله به بدي رامنځته شي، خو تر هغې بدی به ډېره کمه وی، چې وغواړو بدي په بدي سره جبران کړو.

که ته زما ډاکټر یې او نه غواړې چې ستا په خبرو ناروغ شم ، نو په دې اړه خبرې مه کوه، چې باید په سوریه کې د مصریانو د وژلو غچ له خلکو واخلو، ځکه چې ستا دغه خبرې ما ډېر ځوروي.

د آمون د خدای په پړاو کې به یې وینه پر وینو وینځله او د یوه مصري د وژلو لپاره به یې د نورو هېوادونو سل تنه وژل.

له همدې امله به رخه او کینه سخته شوه، ځکه چې هغو سلو کسانو زامن ښځې او خپلوان درلودل او هغوی به هم غچ اخیست.

خو آتون وایي، باید په وینې بهېدنې سره انتقام وانه خیستل شي، ځکه چې که د وژنې په بدل کې وژنه وشي، هېڅکله به رخه او کینه ختمه نه شي.

له همدې امله تاته وايم چې نور په دې اړه له ما سره خبرې ونه کړې. پرېږده چې زه له خپل حقیقت سره ژوند وکړم ،د رخې او کینې پر ځای د آتون له لوري په خلکو کې مینه رامنځته کړم.

دوه د ورېښم څپرکی

نوی ښار چې فرعون جوړ کړ

ما نور څه ونه ويل خو د مڅيدو د ښار پر دروازو مې د لويو ستنو د وهلو پر غړونو سترګې نه شوای پټولای.

زه پوهېدم، په دې ښار کې چې هره مصري ښځه د سرياني عسکرو لاس ته ورشي پرې تېرې به وکړي خو بيا هم کله چې ما ليدل يو ليونی دومره نيکې خبرې کوي خوشحاله وم.

ما تر او سه پورې د درباريانو د ژوند په هکله چې له طبسه دغه نوي ښار ته راغلي ول څه نه دي ويلي.

هغوي له فرعون سره يو ځای رانه غلل، ځکه چې اخناتون له طبسه داسې ګړندی را ووت چې درباريان بريالي نه شول له هغه سره يو ځای حرکت وکړي نو ځکه وروسته د آتون د افق ښار ته راغلل.

د درباريانو ژوند له دې پرته بل څه نه درلودل، چې تل له آتون سره نژدې ول.

کله چې به هغه وخندل، دوی به هم خندل او کله چې به فرعون غمجن و، هغوی به هم ځانونه غمجن ښودل.

د درباريانو پلرونه هم د پخوانيو فرعونيانو په دوران کې همدا کارونه کړي ول او اولادونو ته يې هم دا له پلرونو څخه په ميراث پاتې ول.

که څه هم ډېری درباريانو به هېڅ خاص کار نه درلود، خو رسمي دندې يې درلودې، هغه به يې له يو بل سره پرته کولې او هر چا هڅه کوله وښيي چې دنده يې د درناوي وړ او ستره ده.

ځيني وخت چې به د يوه درباري دنده د نورو په پرتله کوچنۍ ښکاره شوه داسې يې ښودل چې که څه هم د هغه دنده ظاهراً وړه ده، خو په مانا کې يې دنده د درناوي وړ ده، او د دغه سړي ملګرو به هم داسې ښودل چې ګني ملګری يې سم وايي.

د فرعون د درباريانو دندې په دې ډول وې: د دربار د بوټونو مسول، د دربار خيمه لرونکی او نانوای، د دربار د جامو مسول يا د شرابو مسول، خو هغوی په ټول عمر کې يو ځل هم د فرعون بوټان يا چترۍ نه وې لېږدولې.

دغه راز يې يو ځل هم هغه ډوډۍ نه وه پخه کړې، نه يې ورته شراب په لاس کې ورکړي ول، ځکه چې ټول د دربار شخصيتونه ول او پر دغه کار شرمېدل.

دغه دندې د نورو پر غاړه وې، چې زياتره يې مريان او نوکران ول د اخناتون په دربار کې حتی درباري سنت کوونکی هم موجود و، زه هم د دربار سر سوری کوونکی شمېرل کېدم چې د فرعون د ځانګړي ډاکټر نوم و.

زه فکر کوم د ټولو درباريانو په منځ کې يوازې ما کار کاوه، چې تل به مې د فرعون طبيعت ځاره چې ناورغ نه شي.

پر هغې ورځ چې درباريان له طبسه په بېړيو کې راورسېدل او د آتون د افق ښار ته رانژدې شول، نو د آتون خدای سندره يې پيل کړه، چې وښيي د فرعون پر نوي خدای عقيده لري.

له هغه وروسته يې په کېږديو کې واړول، چې د نيل پر غاړه درولې شوې وې.

تر هغه چې د افق د ښار کورونه جوړېدل نو دغو خلکو به هلته خوړل، څښل او له ژونده يې خوند اخيست، ځکه چې د مصر ژمی ښځې ختم شوی و، پسرلی و او مرغانو به سندرې ويلې.

درباريانو به دومره مريان او نوکران درلودل، چې د هغوی د اوسېدو ځای پخپله يو ښار ګڼل کېده، ځکه چې هغوی له مريانو او نوکرانو پرته ژوند نه شو کولای.

ځينو خو به ناسته پاسته هم پخپله نه شوای کولای، بايد مريانو تر لاس نيولي، پاڅولي او کېنولي وای.

خو يو شی به يې هيڅ کله نه هېراوه، هغه دا، هر چېرته چې به فرعون و، همغلته به دوی هم ول، چې اخناتون يې وګوري او نوم وڅېره يې ترې هېره نه شي.

هغوی چې کله وليدل فرعون غواړي نوی ښار ډېر ژر جوړ شي نو ختګري يې هم پيل کړه.

ما ليدل چې د دربار ځينې ښکلې ښځې به پر ځمکه ناستې وې او خښتې به يې وهلې او ځينو درباري نارينه وو به، په داسې حال کې چې مريانو يې پرې چترۍ نيولې وې چې

لمر یې ونه سوځوي پر د ېوالونو ځنبتې اېښودلې.

اصلي ختګران د غه کار سخت تنګ کړي ول ، ځکه چې درباریان د کورونو په جوړېدا نه پوهېدل او اصلي ختګران او معماران مجبور ول چې دغه ودانۍ بېرته یې ونړوي او له سره یې جوړې کړي.

خو درباریانو به تل پر خپلو کارونو ویاړ کاوه او خپل تناکې لاسونه به یې فرعون ته ورښودل چې هغه پوه کړي، د فرعون د خدای د ښار د جوړولو لپاره یې څومره زیار ګاللی دی.

له څو ورځو وروسته درباریان په ختګرۍ ستړي شول او په کار کې د تنوع لپاره ، د نیالګیو په اېښودلو او باغوانۍ اخته شول.

په دې وخت کې د باغوانانو وار شو ، چې له ډېرې غوسې به یې د مصر خدایانو ته پناه یوړه ، ځکه هر څومره نیالګي او بوټي چې به یې وکرل درباریانو به وچ کړل ،تنکي نیالګي به یې له منځه یوړل او د اوبو لښتي به یې خراب کړل.

باغوانانو به په ښکاره فرعون ته د درباریانو شکایت نه شو کولای چې په دغو کارونو کې د هغوی د لاسوهنې مخه ونیسي.

خو درباریانو به فکر کاوه چې له باغوانانو سره مرسته کوي ، مګر په حقیقت کې یې هغوی ته ستونزې راتو کولې.

څه موده وروسته درباري مېرمنې او نارینه له باغوانۍ څخه هم ستړي شول ، د بوټو اغزیو به ځورول ، د شپې به حشراتو تنګول او سبا به ماته راغلل چې معالجه یې کړم .

ځینې به پټ په پټه طبس ته ستانه شول ، چې هلته ساعت تېري وکړي ، خو ځینې چې نه شوای تلی او ځان یې باید فرعون ته ورښودلی وای هغوی به په نوي ښار کې پاتې ول.

دوی به خپل وخت د شرابو پر څښلو او د کمسایي پر لوبو کې تېراوه.

خو د افق د ښار جوړېدل پر مخ ولاړل ، کورونه ورځ په ورځ لوړېدل او له ښاره د باندې ځمکه له ګټورو بوټو ډکېدله .

زه نه پوهېدم چې د اَتون د افق پر ښار ، څومره سره او سپین ولګېدل خو دومره خبر شوم ، چې ټول هغه سره او سپین چې فرعون د پخواني خدای له معبده تر لاسه کړي ول، ددغه ښار په جوړلو یې ولګول او بیا هم کمی احساس شو.

خو دا خبره هم باید وکړم چې د آمون ټول سره او سپین د فرعون لاس ته ورنه غلل،